فتاوی رحیمیه

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاری مفتی سید عبدالرحیم لاجپوری

خطیب بڑی مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خلیل

حضرت مولانا غلام ربی

مکتبه فاروقیه
محله جنگی پشاور
Ph 091 2217181
Mob 0300-9007550

فتاوی رحیمیه

(نهم جلد)

کتاب الایمان والنذور، کتاب الوقف. کتاب الصلح، کتاب اللقطه، کتاب الاجارة. کتاب لهبة

افادات

حضرت مولانا قاري مفتی سید عبدالرحیم لاجپوری رحمة الله علیه
خطیب بړی جامع مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه :

مولانا محمد خلیل

مکتبه فاروقیه محله جنگی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

د کتـــاب پېژندنه :

د کتاب نوم : فتاوی رحیمیه

جلد : نهم

ترجمه : مولانا محمدخلیل

کمپوزر : عبدالشافي

ناشر : مکتبه فاروقیه

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ توکه

فهرست

کڼه	عنوان	صفحه

صفحه	عنوان	گڼه
۲۸۰	که په خرڅ شوي دوکان کې خريدار شراب خرڅه کړي	۲۳۱
۲۸۱	د دوکان پګړي	۲۳۲
۲۸۱	د تصنيف او د چاپ د حق په اړه څو سوالونه	۲۳۳
۲۸۴	د سينما په ذريعه د تجارت اشتهار ورکول	۲۳۴
۲۸۵	د غلا توټو نه د جوړ شويو خوليو اخستل	۲۳۵
۲۸۶	په غلا سره د مارکيټ د چلولو حکم	۲۳۶
۲۸۶	د سودا نه کيدو په وجه د بيعانه پيسې اخستل	۲۳۷
۲۸۷	ايا احتکار له تجار سره مخصوص دی ؟	۲۳۸
۲۸۸	له بائع سره سازباز کولو سره زيات بل ليکل	۲۳۹
۲۸۹	د بيع فسخ کول	۲۴۰
۲۸۹	د بيع او سودا مکمل کيدو نه وروسته بايع په خپله خوښه نشي فسح کولی	۲۴۱
۲۹۰	که بيع فاسد شي نو د بيع د فسخ کولو حق چاته دی ؟	۲۴۲
۲۹۴	باب القرض	۲۴۳
۲۹۴	په کومو حالاتو کې د سودي قرض اخستلو اجازه ده ؟	۲۴۴
۳۰۳	د سب سيډي لروونکي د قرض اخستل حکم	۲۴۵
۳۰۵	له اضطراري حالت نه پرته سودي قرض اخستل	۲۴۶
۳۰۶	د مجبوريت په حالت کې د بانک نه سودي قرض اخستل	۲۴۷
۳۰۷	د سودي قرض په اړه د شريعت حکم څه دی ؟	۲۴۸
۳۰۸	سودي قرض اخستل کله روا دی ؟	۲۴۹
۳۱۰	باب الربوا	۲۵۰
۳۱۰	له سود نه د بچ کيدو په خاطر حيله کول څنګه دي ؟	۲۵۱
۳۱۰	په سودي پيسو باندی ګټه اخستل څنګه دي ؟	۲۵۲
۳۱۱	د بانک سود په متعلق بحث	۲۵۳
۳۱۴	خپل ژوند بيمه کول څنګه دي ؟	۲۵۴
۳۱۶	د سود په باره کې د انډين ويوز فتوه	۲۵۵
۳۲۲	د قرآن کريم تصريحات	۲۵۶
۳۲۸	د سود دويمه بدي	۲۵۷
۳۲۹	د مقاله نګار صاحب جدت	۲۵۸
۳۳۰	د جوارو په بدله کې د باجرې اخستل څه حکم لري ؟	۲۵۹

د قسمونو او نذرونو باب

په دروغو سره دقسم خوړلو کفاره څه ده

[1] پوښتنه: يو سړي په عدالت کې د دروغو قسم په خوړلو سره ګواهي ورکړې ده نو ددې څه کفاره ده؟ ايا د هغه امامت سمې دی او که نه؟ په دې باره کې معلومات راکړئ اوځواب ترلاسه کړئ.

ځواب: په دروغو سره قسم خوړوونکی سړی په لوی ګناه کې اخته شوی دی. هغه لپاره کفاره نشته بلکې، هر وخت دی دالله په دربار کې توبه وباسي او بخښنه دی وغواړي. د هغه امام جوړول جايز نه دی او لمونځ ورپسې مکروه دی.[1]

که چا د اوياوړه رکعتونو دنفل لمونځ نذر په ځان ايښی وي نو هغه دی څه وکړي؟

[2] پوښتنه: زما خلمې زوی قمر حسين زما دخطرناګه ناروغۍ نه دويريدو له کبله نذر منلی دی چې زما دروغيدو وروسته به اوياوړه رکعته نفل اداکوي خرنګه چې هغه له بدن نه کمزوری دی او تول ورځ کارونه کوي نو څکه هغه دغه نفلي لمونځونه د اتو رکعتونو په کولو سره تول تر ۲۴ رکعتونو پوری اداکولی شي په دې ترتيب سره د اداکولو په صورت کې تقريباً ۸- ۹ کاله وخت لګيږي، ايا په داسې صورت کې ددغو نفلي لمونځونو پرځای بل کوم کفاره ورکولی شي. ياداچې دغه نفلي لمونځ د کور نور حلک هم دهغه پرځای کولی شي؟ تاسې په دې اړه مونږ ته معلومات راکړئ الله دی ته اجر درکړي؟

ځواب: نفلي لمونځ په زندان کې د رکعتونو د تعداد په مطابق هره شپه او ورځ چې څومره رکعتونه په ولاړه اداکولی شي نو ادا دی کړي په دې کې د مودې تعين نشته خو کوشش دی وکړي چې ژر تر ژره يې اداکړي. دې لپاره بله کفاره نشته[2]

---

[1] - فالغموس هو الحلف على امر ماض يتعمد الكذب فيه فهذه اليمين ياثم صاحبا لقوله عليه السلام حلف كاذبا ادخله الله النار ولا كفارة فيها الاالتوبة والاستغفار. هدايه كتاب الايمان ج۲ ص ٤٨٧.

[2] - ومن نذر نذرا مطلقا او معلقا بشرط وكان من جنسه واجب... وهو عبادة مقصودة خرج الوضوء وتكفين الميت ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحديث من نذر وسمى فعليه الوفاء بما سمى كصوم وصلاة وصدقة ووقف واعتكاف در مختار مع الشامي مطلب في احكام النذر ج ۳ ص ۷۳۵.

والله اعلم بالصواب

د ولي په نوم د وزګري د حلالولو نذر منل

سوال یوسړي داسې نذر وسله چې ای فلانکی ولي! که چیرته زما فلانکی کار وشي نوزه به ستاپه نوم وزګری حلالوم، ستاپه مزار کې به اولته خان خوړند کرم. بیادهغه کار وشو نو وزګری يې هم حلاله کړه او پخپله خان يې هم سو ساعته اولته خوړند کړ. دهغه نخه ورسره زیارت ته نه تلله خوپه زوره يې له خانه سره ويو وړه. اوس پوښتنه داده چې داسې سړی‌مسلمان پاتی کیدای شي اوکه نه؟ ایاله ښځې سره يې نکاح پاتې ده اوکه نه؟ که نکاح يې نه وي ماته شوې ایا دوباره نکاح به تړي اوکه نه؟ اوکه نکاح يې نه وي ماته شوی نو دداسې سړي په شریعت کې څه حکم دی؟ ایا ددې پشان نذر منل. په زیارت کې دوزګري حلالول، او خپل خان اولته خوړنده ول جائز دی؟ په دې باره کې معلومات راکړئ اوثواب ترلاسه کړئ.

جواب په مذکوره سوال کې نذر صحیح نه دی. ځکه چې دا ګناه ده اود ګناه نذر منل نه صحیح کیږي. دداسې نذر پوره کول روانه دي، په در مختار کې دي :وانّ لایکون معصیة لذاته در مختار ج ۳ ص۹۲)

شاه محمد اسحاق محدث دهلوي رحمه الله وايي:

(سوال) نذر کردن باین طور که اگرحاجت من بر آرد به درگاه فلان ولي این قدر از نقد وجنس طعام پخته برسانم یابه نام او شان سبیل کنانم چه حکم دارد. جائز یا گناه کدام گناه؟

جواب نذر کردن باین طور که اگر حاجت من خدا را بر آرد بمز ارفلان ولی این قدر از نقد وجنس طعام پخته برسانم درست نیست زیرا که در نذر کردن خدای تعالی چند شروط است اگر همه متحقق شوند نذر لازم می شود والآ لازم نیست.. الی قوله

چهارم آنکه منذور فی نفسه گناه نباشد اگر گناه خواهد شد اصلاً درنذرکردن بر ولازم نخواهد شد چنانچه در فتاوی عالمگیری مرقوم است الاصل ان النذر لایصح الا بشروط... الی قوله... والرابع ان لایکون المنذور معصیة باعتبار نفسه انتهی چون از ین عبارت معلوم شد که درنذر کردن چند شروط ضرور است. پس درسوال که مرقوم است که بدرگاه فلان این قدرطعام پخته برسانم رسانیدن طعام جای عبادت نیست پس نذر صحیح نخواهدشد. الخ (مائه مسائل ۸۱ تا ص۸۴ فارسی)

دسوال ترجمه: داقسم نذر او نیاز منل چې که الله زما حاجت پوره کړي نو دفلانکي ولي په زیارت کې دومره نقدي پیسې او دودي رسوم یابه دهغه په نوم د اوبو سبیل ولګوم. داسې کول څنګه دي؟ ایاجائز دي اوکه ناجائز؟ که ګناه وي نوداڅه دول ګناه ده؟

دځواب ترجمه: دا دول نذر اونیاز منل چې که الله زما حاجت پوره کړي نودفلانکي ولي مزار ته به دومره نقدي پیسې او پوخ خواړه ورم روا نه دي. ځکه چې الله ته د نذر منلو لپاره څو شرطونه دي که داټول شرطونه پکې وموندل شي نو نذر لازمېږي اوکه پوره نشي نو نه لازمېږي څلورم شرط پکې دادی چې کوم څيز په نذر او نیاز کې ومنل شي هغه پخپل ذات او فی نفسه ګناه نه وي. که هغه کار ګناه وي نو د نذر پوره کول ورباندی لازمېږي لکه چې په عالمګیري کی دي. قاعده داده چې نذر ترهغه نه صحیح کیږي ترڅو پورې چې شرایط يې نه وي موجود شوي. څلورم شرط دادی چې کوم شی نذر اینودل شوی دی هغه فی نفسه ګناه نه وي. انتهی لدی عبارت څخه معلوم شو چې په نذر منلو کی څو شرطونه ضروري دي. نوپه سوال کی چې کوم صورت لیکل شوی دی چې دفلان ولي مزار ته به دومره نقدي پیسې اوپخه خواړه ورم نو مزار ته خواړه رسول څه عبادت نه دی نوځکه دانذر صحیح نه دی اوکه داسې وویل شي چې که الله تعالی زما فلانکی کار پوره کړ نو دفلانکي زیارت فقیرانو ملنګانو او مجاورو ته دوډۍ ورکوم نو نذر صحیح کیږي اوپرهغه وفا کول ضروري دي. لیکن د مزار فقراء اود مجاورانو تخصیص کول دنذر پوره کولو لپاره ضروري نه دی. هریو فقیر ته چې ورکړي نذر يې صحیح کیږي. اوکه داسې ووايي چې که زما حاجت پوره شو د دفلان ولي په نوم دومره نقدي پیسې یانور څیزونه ورکوم نو داسې نذر منل بالاتفاق باطل دی اودهغه خوړل هم حرام دي. لکه چې په معتبرو کتابونو کی لیکل شویدي اوکه څوک دا ووايي چې داڅیز دفلاني ولي اویا سیدپه نوم دی نوداهم حرام دی، په عالمګیري کی دي: کوم نذرونه چې زیاتره خلک يې په ځان مني او وایي چې فلان مزار ته ځم او هلته دقبر غلاف پورته کوم او ورته وایم چې ای بابا که تا زماحاجت پوره کړه نو زه به ستا قبر باندی دومره دومره مال واچوم نو داسې ویل بالاجماع حرام دي.

کله چې ته پدی پوه شوی نو په دی خبره هم ځان پوه کړه چې کوم مال اوشیان چې د اولیاؤ قبرونو ته دثواب لپاره وړل کیږي هغه هم بالاجماع حرام دي، ترڅوپورې چې

ژوندي محتاجو د ضرورت دپوره کولو اراده ونه کړی شي . اوپدی باندی ټول متفق دي

، عالمګيري ، بحر الرائق کی دي . کوم نذرونه چی زیاتره خلک یی مني هغه داسی وي چی د کوم ورک سړي یا ناروغ لپاره اویاهم پخپله حاجت من وي نود اولیاو مزارته ورځي هلته دقبر غلافونه پورته کوي او وايي ای زما فلان آقا! که چیرته زما ورک سړی راشي. یا زما ناروغ جوړ شي اویا زما حاجت پوره شي نو ستا په نوم به دومره مال دومره دوډۍ یا دومره اوبه. یادومره تیل اویاشمعه دلته راوړم. نوداسی نذر او نیاز د څو وجوهاتو له کبله بالاجماع باطل او حرام دی. لومړی خوپه دی خاطر چی دا نذر د مخلوق لپاره منل شوی دی او مخلوق لپاره نذر منل په هیڅ صورت کی جائز نه دی ځکه چې نذر او نیاز عبادت دی او عبادت مخلوق لپاره له سره نه کيږي او بل په دی وجه چی که دا ګمان یی وي چی له الله نه پرته په دنیاوي کارونو کی مړي هم تصرف کولی شي نو داسی عقیده لرل کفر دی الی اخره. (امداد المسائل ترجمه مأة مسائل ص ۹۰- ۹۱).

په مالا بد منه کی دي : سجده کردن بسوی قبورانبیاء واولیاء و طواف ګردقبور کردن ودعا از آنها خواستن ونذر برای آنها قبول کردن حرام است بلکه چیز ها از ان به کفر می رسانند پیغمبر ﷺ بر آنها لعنت ګفته ، واز آن منع فرموده وګفته که قبر مرابت نه کنند-یعنی- د انبیاء او اولیاء د قبرونو په طرف سجده کول اوله هغوی نه سوال کول او نذرونه ورته منل حرام دي. بلکی ځینې ځیزونه خو مسلمان کفرته هم رسوي. محمد صلی‌الله علیه وسلم په داسی ځیزونو باندی لعنت کړی دی او ویلي یې دي چی زما له قبرنه بت مه جوړوئ ملابد منه صفحه ۸۰.

نوځکه داسی نذر منل چی ای ولي !که زما دا کار وشي نو ستا په نوم به وزګړی حلالوم اوستا په مزارکې التبه خان خوړندوم حرام او ګناه ده، بلکی یو شرکي کار دی، داسی نذر له سره نه صحیح کیږي اودادجهالت په وجه.ترینه صادرشوی دی نو ځکه پرهغه توبه اواستغفار کول لازم دي اوپه دی صورت کی احتیاطاً او زجراً د تجدید نکاح حکم ورکول کیږي .

په شامي کی دي :

نــعم سیذکره الشارح ان مایکون کفرا اتفاقا یبطل العمل والنکاح ومافیه خــلاف یؤمر بالا ستغفار ولتوابة وتجدید النکاح وظاهره انه امراحتیاط الخ (شــامی ج ۳ص ۳۹۹ باب المرتد) فقط والله اعلم بالصواب .

دکوم خاروي د ذبح کولو نذر چی چا منلی وي ایا دهغه خاروي پرځای بل خاروی حلالولی شي ؟

(۴- سوال) له مسنون سلام نه وروسته دیـوې مسئلي پـه اړه پوښتنـه کـوم هغـه داچـی یوسړی دا نذر ومانه چی که زمافلانکی کار وشي نوزه به دخپلې له دوه وزګړو څخه یـو وزګړی صدقه کوم. تراوسه پوری لاکاریی نه دی شوی خوامید دی چی کاریی وشـي. نوایا دغه وزګړی قربانی کولی شي دهغه خیال دادی چی ددغو وزګـړي قیمـت یعنـی پیسې له ځان سره امانت وساتي اوچی کله کاریی پوره شي نو په دغو پیسو بـل وزګـړی واخلي او صدقه یی کړي او کوم وزګړی چی اوس ورسره موجود دی هغه قربانی کړي ایا شرعاً دداسی کولو ورته اجازه شته؟ معلومات راکړئ او ثواب حاصل کړئ؟

(ځواب) په مسئوله صورت کی دا غوره ده چی له دغو دواړو وزګړو څخه چی هریو ښه وي هغه وساتې او بل دې خرڅ کړي او یادی قربانی کـړي اوداهـم صـحیح دي چـی دواړه خرڅ کړي اویایی قربانی کړي کله چی دهغه کار وشي نو دیـو وزګـړي قیمـت دی صدقه کړي او یا دی په دغو پیسـو بـل وزګـړی واخلـي او صـدقه دی کـړي دواړه صورتونه روا دي. د داډول سوال په باره کی حکیم الامت حضرت مولانـا اشـرف علـی تهانوي قدس سره داسی لیکلي دي : هغه ته دا اختیار شـته چـی هغـه حـلال کـړي او بیایې خیرات کړي اویاهم دهغه قیمت صدقه کړي اوکه خرڅ یی کړي نو بیا هم اختیـار لري چی بل وز ګړی آخلي او هغه صدقه کوي اویا دهغه قیمت صدقه کوي.

(امداد الفتوی ج ۲- ص- ۴۹٦). فقط والله اعلم بالصواب یکم ذی الحجه ۱۳۹۴.

ایا د روژې د نذر په صورت کی فدیه ورکولی شي اوکه نه ؟

(۵-سوال). زید په ځان نذر کیښود چې که زمـا نـاروغ ورور صـحت منـد شـو نـو زه بـه دیرش ورځي روژې وي اوس دزید د ورور طبیعت ښه شوی دی هغه غواړي چـې خپـل نذر پوره کړي خو زید تاجر دی هغه ته روژه نیول ګـران کـار دی او پابنـدي وربانـدی نـشي کولي نو آیا هغه ددغو روژو فدیه ورکـولی شـي اوکـه نـه ؟ پـه دی اړه معلومـات راکړئ او اجر ترلاسه کړئ .

خواب   ددغې مسئلې په صورت کې دزید د وروړ صحت نه کیدو نه وروسته به زید یوه میاشت روژې ضرور نیسي خو مسلسل نیول وربانډی ضروري نه دي متفرق او جلا جلا هم نیولی شي

دعالمګیري په فتوه کې دي

وقدروی عن محمد قال ان علق النذر بشرط یرید کونه کقوله ان شفی الله مریضی او ردغائبی لایخرج عنه بالکفارة کذافی المبسوط ویلزمه عین ما سمی کذا فی فتاوی قاضی خان .

امام محمد فرمایي که نذر یې له داسې شرط سره معلق کړ چې هغه ته ددې دپوره کیدو امید وي لکه چې داسې ووایي : که چیرته الله تعالی زما ناروغ ته شفاورکړي. یازما ورک څیز پیداکړي نو زه داکارکوم. پرهغه همغه څه کول ضروري دي چې نذر یې منلی دی اودهغه کفاره ورکول صحیح نه دي. (فتاوی عالمګیر ج ۳-ص-۲۴) (هدایه اولین ص ۴۶۳).

په بل ځای کې فرمایي :

ولوقال الله علی ان اصوم شهرامثل شهر رمضان ان نوی المماثلة فی التتابع یلزمه صوم شهر متتابعاً و ان نوی المماثلة فی العدد او لمیکن له نیة یلزمه ان یصوم ثلثین یوماً ان شاء صام متفرقا وان شاء متتابعاً کذا فی المحیط .

یعنې که داسې نذر یې ومانه چې زه به دروژې د میاشتې پشان یوه میاشت روژه نیسم نو پر هغه په پرله پسې توګه دیوې میاشتې روژې نیول ضروري او لازم دي اوکه نیت یې د روژې د میاشتې د روژو هومره ورځې روژې وي ، یایې هیڅ نیت نه وي کړی نو پرهغه دیرش ورځې روژې لازمي دي برابره خبره ده چې جلا جلا یې نیسي یاټول یوځای په مسلسل ډول . لکه چې په محیط کې دي . (فتاوی عالمګیري ج ۱- ص- ۱۴۵ کتاب الصوم الباب السادس فی النذر). فقط و الله اعلم بالصواب.

د قسم کفاره یوازې یو مسکین ته ورکول صحیح دي اوکه نه ؟

(٦-سوال) دقسم او خوړکند په کفاره کې دغنم یادهغه قیمت دسو مسکینانو پرځای یو مسکین ته ورکول صحیح دي اوکه نه ؟ معلومات راکړئ اوثواب ترلاسه کړي.

حواب یوسړي ته په یوه ورځ کې پوره کفاره ورکول صحیح نه دي خو یو مسکین ته ترلسو ورځو پورې د صدقه فطر په برابر غنم یادهغه قیمت ورکړي یایومسکین ته سهار او

ماښام تر لسو ورځو پورې خواړه ورکړي نودا صحيح دی او کفاره يې اداکيږي په شامي کی دي

(قوله عشرة مساكين) اى تحقيقا او تقديرا حتى لو اعطى مسكينا واحدا عشرة ايام كل يوم نصف صاع يجوز ولو اعطاه فى يوم واحد بدفعات فى عشر ساعات قيل يجزى وقيل لاهو الصحيح لانه انما جاز اعطانه به فى اليوم الثانى تنزيلا له منزلة مسكين آخر لتجدد الحاجة من حاشية السيد ابى السعود (شامى ج ۳- ص ۸۲ مطلب كفارة اليمين) فقط والله اعلم بالصواب .

خاوند ښځې ته وويل چی که چیرته له فلانکي سړي سره خبرې وکړې نو تاته د طلاق قسم دی :

(۷-سوال) زيدخپلې ښځې هندی ته وويل : که چيرته ته زما د خور کورته لاړې يادې ورسره خبرې اترې وکړې نوتاته د طلاق قسم دی مګر هنده لاس وانخست اوزيد چی له کومو خلکو سره دخبرو کولونه منع کړی وه له هغو ټولو سره یی خبرې وکړې اودزيد خور کره هم لاړ نو هنده دزيدپه نکاح کې پاتی کیدی شي او که نه ؟ ايا پرهغی طلاق واقع شوی اوکه نه ؟ په دلايلو سره مسئله واضحه کړئ. په فتاوی رحيميه ص ۲۷۵ ج نمبر۵ کی په دی اړه د طلاق رجعی د واقع کيدو فيصله کړيده د مسئوله صورت حکم به څه وي معلومات راکړئ.

ځواب : تاسی چی په مسئوله صورت کی فتاوی رحيميه ص ۲۷۵ ج ۵ دسوال او ځواب حواله ورکړی ده، په دی دواړو کی فرق دی. د فتاوی رحيميه دسوال نوعيت داسی دی

خاوند ته دهغه ښځې وويل چې تاسی جواري پريږدئ او زما د طلاق قسم وخورئ. دښځې خاوند وويل چې ماته د طلاق قسم قبول دی. د خاوند د ځواب په وجه دقسم د انعقاد اودهغه په مخالفت کولو يعنی د جواري کولو په صورت کی د يو رجعي طلاق د واقع کيدو حکم لګول شوی دی مګرپه مذکوره مسئله کې صرف د خاوند دا وينا بيان شوی چی که ته زماد خورکورته لاړې يا زما له خور سره دی خبرې وکړې نو تاته د طلاق قسم دی دلته دقسم نسبت دښځې په طرف دی اوپه سوال کی دښځې ځواب نه دی بيان شوی نوځکه په مسئوله صورت کی نه دښځې په حق کې قسم منعقد کيږي

اونه هم د خاوند په حق کې البته که چیرته بنځې په خواب کې داوئیلي وايي چې هو مانه داسطور دی نو دبنځې په حق کې داقسم منعقد کیده په در مختار کی دي ولو قال علیك عهد الله ان فعلت كذا فقال نعم فالحالف المجيب په شامي كی دي (قوله فالحالف المجيب) ولايمين على المبتدى وان نوى اليمين خانية وفتح اى لاسناده الحلف الى المخاطب فلا يمكن ان يكون الحالف غيره (در مختار و شامي ج ۳ ص ۱۹۱ كتاب الايمان . قبيل كتاب الحدود) فقط والله اعلم بالصواب.

که څاهره جمعه د روژې نذر ومانه نو ایا یوازی دجمعې په ورځ روژه ضروري ده؟ اوکه په څه وجه سره د جمعې په ورځ یې روژه ونه نیوله نو څه حکم یې دی؟

۸- سوال زید ناروغ و، هغه په ځان نذر کینبود چې که زه روغ رمټ شوم نو هره جمعه به روژه نیسم الله ورته صحت ورکړ، ایا زید باندی صرف د جمعې په ورځو کې روژه نیول ضروري دي ؟ یاپه هفته کې چې هره ورځ روژه ونیسي نذر یې اداکیږي؟ ایا ټول عمر به هره جمعه روژه نیسي؟ په داسی حال کی چې هغه پخپل نیت کې دټول عمر ټولې جمعې ورځې شاملې کړې وې که چیرته دڅه عذر په وجه د جمعې په ورځ روژه ونه نیول شوه نو ایا دهغې قضاءنیولی شي اوکه نه ؟په دی اړه معلومات راکړئ او اجر ترلاسه کړئ؟

جواب حامدا و مصليا و مسلماً، په مسئوله صورت کی چې زید دجمعې ورځ په تخصیص کولو سره د روژو نیولو نذر منلی دی او نیت یې هم دجمعې په ورځ د روژو نیولو دي نود شرط دپوره کیدو په صورت کی به پر هغه یوازی دجمعې په ورځ روژه نیول لازم وي، په نورو ورځو کې یې روژه نه صحیح کیږي اوکه چیرته دکوم عذر یا مجبوري له کبله دجمعې په ورځ روژه ونه نیولی شوه نو بله ورځ دی دهغې قضا روزي. څرنګه چې زید هره جمعه ویلې دي اوټول عمر د روژې نیولو نیت یې کړی نو پرهغه ټول ژوند د جمعې په ورځو کې روژه نیول لازم دي. او کله چې ډیر بوډا شي یاداچې درزق ګټلو مجبوريت مخې ته راشي اود سخت مزدوري په وجه دا روژې نشي نیولی نوبیادی دهغوی فدیه اداکړي اوکه چیرته د غریبۍ په وجه فدیه هم نشي ورکولې نو استغفار دی وکړي.

فتاوی عالمګیري کې دي

و ذا نذر بصوم کل خمیس یاتي علیه فافطر خمیسا واحدا فعلیه قضاء ه. کذا فی المحیط ولو اخر القضاء حتی صار شیخا فانیا وکان النذر بصیام الأبد فعجز لذلک اوباشتغاله بالمعیشة لکن صناعته شاقة له ان یفطر ویطعم لکل یوم مسکینا علی ماتقدم وان لم یقدر علی ذلک لعسرته یستغفر الله انه هوالغفور الرحیم ولو لم یقدر لشدةالزمان کالحر له ان یفطر وینتظرالشتاء فیقضی. کذا فی فتح القدیر (فتاوی عالمگیری ص ۱۳۵ ج۱ الباب لسادس فی النذر).

و ان جعل علی نفسه ان یصوم الیوم الذی یقدم فیه فلان وجعل علی نفسه ان یصوم الیوم الذی یعافی فیه فلان ابدا فعوفی فلان فی الیوم الذی قدم فیه فلان فعلیه صوم ذلک الیوم وحده ابداً ولا شئ علیه غیرذلک، کذا فی المحیط (عالمگیری ص ۱۳۴ ج ۱ باب نمبر ۶ فی النذر) فقط والله اعلم بالصواب. ۲،۱ ذی الحجه ۱۴۰۵ ه.

د یو کاروباري سړي دانیت کول چې خپلو خپلوانو ته به له خپل کاروبار نه څه ټاکلی پیسې ورکوي

۹-سوال) یوسړی دا نیت کوي چې پخپل کاروبار کی روزانه څومره ګټه کوي دهغې یوه فیصد ګټه به خپلوانو، دوستانو اومشرانو ته ورکوي شرعاً ددغوپیسو څه حکم دی؟ معلومات راکړئ او ثواب ترلاسه کړئ.

(ځواب) دایوازې یوه اراده ده نه نذر اونیاز.لهذا دی ته دالله په نوم خیرات ویل کیږي هر ضرورت مند انسان ته اګرکه د زکات مستحق نه وي داپیسې ورکولی شی. فقط والله اعلم بالصواب.

کتاب الحدود والقصاص والدیات

دحدود ، قصاص او دیتونو باب

دقومي فساد په وخت کې د مسلمان د قتل کیدو په عوض کې دکافر قتلول

(۱۰-سوال) په فساداتو کې چیرته مسلمان وژل کیږي نو دهغه دقاتل لټه کول ګران دي که چیرته مسلمان ددې پرځای بل کوم کافر پخپل علاقه کې راګیر کړي او ویې وژني نو ایا په شریعت کې ددی ګنجائش شته؟ معلومات راکړئ او اجر ترلاسه کړئ.

خواب: که چیرته کافر مخامخ ولاړ وي یایې مسلمان وژلې وي یاله هغه نه ویره وه. یا د قاتلینو مرسته کوي نو په دی صورت کی دهغه وژل روا دي اوکه چیرته بې ګناه وي نو وژل یې ناروا دي همدغه راز دهغې ښځې وژل هم روانه ده چې د مسلمانانو په مقابله کې شریکه نه وي. لدینه پرته د بوډا کافر او ماشوم وژل هم روانه دي. مګر داچې د مسلمانانو په خلاف فساد کې شریک وي یا مشیر وي اوله دښمنانو سره مرسته کوي په هدایه اولین کی دي:

ولا یقتلوا امرأة ولا صبیًا ولا شیخاً فانیًا ولا مقعداً ولا اعمی لان المبیح للقتل عندنا هو الحراب ولا یتحقق منهم ولهذا لایقتل یابس الشق والمقطوع الیمنی والمقطوع یده ورجله من خلاف .... الــی قوله .... الا ان یکون احد هؤلاء ممن له رأی فی الحراب او تکون المرأة ملکة لتعدی ضررها الی العباد و کذا یقتل من قاتل من هؤلاء دفعاً لشره ولان القتال مبیح حقیقة ولایقتلوا مجنوناً لانه غیر مخاطب الا ان یقاتل فیقتل دفعاً لشره (الخ هدایة اولین ص ۵٤۲ ج ۲، کتاب السیر، باب کیفیة القتال).

په در مختار کی دي:

ونهینا (عن قتل امرأة وغیر مکلف وشیخ) خر (فان) لا صیاح ولانسل له فلا یقتل...) واعمی مقعد) وزمن و معتوه وراهب واهل کنائس لم یخالطوا الناس (الا ان

يكون احدهم ملكا) او مقاتلا (او ذارأى) او مال(فى الحرب ولوقتل من لايخاف قتله) ممن ذكر (فعليه التوبة والاستغفار فقط) كسائر المعاصى الخ.
(درمختار مع الشامى ص ۳۱۰، ص ۳۱۱ ج ۳. كتاب الجهاد مطلب فى بين نسخ المثله).

په حصن حصين کی دي : کله چی کوم سردار دکوم لښکر امير وټاکل شي نو لومړی دی هغه ته لـه الله تعالى څخه د ويريدو، اوبيا خپل لاس لاندی له مسلمانو سپاهيانو سره دښيګڼې اوښه سلوک کولو وصيت وکړي او بيا دی ورته ووايي :
(۲) انطلقوا بسم الله وبالله وعلى ملة رسول الله ولاتقتلوا شيخاً فانياً ولا طفلاً ولا صغيراً ولا امرأةً ولاتغلوا وضموا غنائمكم واصلحوا واحسنوا ان الله يحب المحسنين.
لاړشئ د الله په نوم اودهغه په مدد سره اودرسول په دين قائم واوسه. بوډاګان، ماشومان او ښځي مه وژنئ، د غنيمت په مال کې خيانت مه کوئ، بلکې په يوځای کی يی راجمع کړئ او له تقسيم نه وروسته خپله برخه واخلئ. خپل منځي کارونه صحيح وساتئ اوله يو بل سره ښه سلوک وکړئ. بيشکه الله تعالى ښه سلوک کوونکي دوست ګڼي.
(ف) په حديث شريف کی راغلي دي چې کله به رسول الله صلى‌الله عليه وسلم کوم سرې دلښکر امير جوړاو اولښکريې ليږلو نو همدغه نصيحت به ورته کاو اودعاګانې به ورته کولې (حصن حصين عربی) (حصن حسين ص ۱٦۸، ص ۱۷۰ اردو) فقط والله اعلم بالصواب.

په ټکر او حادثه کې پيسې اخستل روا دي اوکه نه ؟

(سوال -۱۱) ديوموټر سيکل سوار اولاری ترمنځ ټکر وشو. لاری هغه ته ټکر ورکړ چې دهغې په وجه سکوټر ته هم نقصان ورسيداودسکوټر چلوونکی لاسونه او پښې هم ماتې شوې عدالت له مجرم يا بيمه کمپنی څخه څه پيسې هغه ته ورکوي اويا ددغو پيسو اخستل جائز دي اوکه نه ؟ اوکه اخستل يی جايز وي نوپخپله دی استعمال کړي يابل چاته صدقه ورکړي؟ اوکه چيرته د موټر سيکل خاوند مړشي او عدالت دهغې کورنی ته پيسې ورکړي نو ددی څه حکم دی؟ بينوا تو جروا.

جواب که چیرته دا ثابت شي چې دسکوټر یا موټر سایکل چلوونکی بی گناه و اود لاری دریور سلامت و نوکه عدالت له مجرم نه څه پیسې را واخلي او هغه ته ورکړي نو هغه ته دنقصان په اندازه پیسې اخستل روادي. اودمړکیدو په صورت کی شرعاً د مجرم په عاقله باندی دیت لازمیږي، کوم خلک چې دهغه هم پیشه او هم کسبه وي هغه ټول دهغه عاقله دي. که چیرته د موټر سائیکل چلوونکی گنهگار وي نو دهغه مسئولیت او ذمه واري د لاری په ډریور باندی اچول صحیح نه دي.

په هدایه آخیرین کی دي:

ومن قاد قطاراً فهو ضامن لما اوطا. فان وطی بغیر انساناً ضمن به الدية على العاقلة لان القائد عليه حفظ القطار كالسائق وقد امكنه ذلك وقد صار متعديا بالتقصير فيه والتسبيب بوصف التعدی سبب الضمان الا ان ضمان النفس على العاقلة فيه (ای فی التسبيب) وضمان المال فی ماله (هدايه اخيرين ص ۵۹۷ باب جناية البهيمة والجناية عليها. اوپه هدايه کی دی الراكب- ضامن لما اوطأت الدابة ما اصابت بيدها او رجلها او رأسها او كدمت او خبطت وكذا اذا اصطدمت....والاصل انالمرور فی طريق المسلمين مباح مقيدبشرط السلامة لانه يتصرف فی حقه من وجه وفی حق غيره من وجه لكونه مشتركابين كل الناس فقلنا بالا باحة بما ذكر نا ليعتدل النظر من الجانبين. الخ (هداية اخيرين ص ۵۹٤ ايضاً).

په در مختار کی دي (وضمن عاقلةكل فارس) اوراجل (دية الاخر ان اصطدماوماتامنه) فوقعا على القفا (در مختار).

په شامی کی دي:

(قوله ان اصطدما) ای تضارا بابا لجسداه در منتقی وهذا ليس على اطلاقه بل محمول على ما اذا تقابلا لما فی الاختيار سار رجل على الدابة فجاء راكب من خلفه فصدمه فعطب المؤخر لاضمان على المقدم وان عطب المقدم فالضمان على المؤخر وكذا فی سفينتين (درمختار و شامی ص ۵۳۳ ج ۵، كتاب الجناية، باب جناية البهيمة).

په الاختيار کی دي

فی نواد رابن رستم رجل سار علی دابة فجاء راکب من خلفه فصدمه فعطب المؤخر لاضمان علی المقدم. و ان عطب المقدم فالضمان علی المؤخر. وکذا فی السفینتین. ولو کانا دابتین وعلیهما راکبان قد استقبلت واصطدمتا فعطبت احد هما فالضمان علی الاخر. (الاختیار لتعلیل المختار ص ٤٩، ص ٥٠).

دیت شرعاً په عاقله باندی لازمیږي لیکن په دی زمانه کې په عاقله باندی لازمول ډیر ګران کار دی. دی لپاره شرعي قاضي پکار دی چې د نافذه قوت ورسره وي په دی زمانه کې زمونږ دعلم په مطابق عدالت داپیسې له بیمه کمپنی نه ورکوي که چیرته له بیمه کمپنی نه ورکوي نو څرنګه چې دبیمه کمپنی امدني او ګته زیاتره دسودي کاروبار له لارې ترلاسه کیږي نو څکه که چیرته دهغه وارثان زیات محتاج او ضرورت مند وي نو هغوی لپاره دبیمه کمپنی څخه د پیسو اخستل اود ضرورت په اندازه استعمالول یې جائز دي. له ضرورت نه زیاتې پیسې دی غریبانو ته ورکړي اوکه پخپله محتاج نه وي نو تولې پیسې دی غریبانو ته اومسکینانو ته ورکړي فقط والله اعلم بالصواب.

د زهرو په ورکولو سره د چاوژل څنګه دي ؟

(۱۲-سوال) د زید ښځه بدکاره ده څوکرته ورته سزا ورکړه خو بیاهم له بدکارۍ نه لاس په سرنه شوه خاوند پخپله په خپلو دوه سترګو په بدکاري ولیدله، چون په دی زمانه کې دسنګسار سزا ورکول ډیر ګران کار دی نو که زهر ورته ورکړي او مړه یې کړي نو ګناه خوبه ورته ونشي ایاپه زهرو ورکولو سره وژل یې روا دي؟ (بینوا.تو جروا).

خواب خاوند له پاره روانه ده چې خپله بده کاره ښځه دزهرو په ورکولو سره مړه کړي شرعي سزا رجم دی اودا حد یو مسلمان حاکم جاري کولی شي. ورکنه اقامة الامام اونائبه فی الاقامة،فتاوی عالمګیری کتاب الحدود ج۲ ص ۱۳٤.

خاوند ته یې داحق نشته چې هغه ووژني هغه چې خپله ښځه په بدکاري کې لیدلې ده نو ورته پکار دي چې طلاق یې کړي اوکه مهر ورباندی پاتی وي هغه دی هم ورته ورکړي فقط والله اعلم بالصواب.

په دارالکفر کې زنا کوونکو ته به دسزا ورکولو څه ضرورت وي؟

(۱۳- سوال) له مانه ډیر لوی جرم شوی دی اوپرهغه زه ډیر سخت پښیمانه یم،له زړه نه غواړم چې ددی جرم سزا په محمدي شریعت کې چې هرڅه وي ماته راکړی شي

ترخو په آخرت کی له سزانه په امن کی پاتی شم. او نور هم په دی سره پند او عبرت واخلي ترخو دداسې جرم ترسره کولو همت او جرئت ونکړي. ګناه رانه داشوی ده چی ما له یوې خوانې پیغلې سره چی زما خپلوانه هم ده زنا کړی ده، ددغې ګناه چی کومه سزا وي هغه راته ولیکئ اوداهم ولیکئ چې دغه سزا پرماباندی څنګه او چیرته تطبیق کړی شي، ماخپله کیسه خپل دوست ته کړی ده، زه ددی پروانه لرم چی خلک ما ملامت کړي زه خو صرف دا غواړم چې په دنیا کې پاک شم امید دی چی تاسی به زما دسوال ځواب ضرور راکوئ. بینوا تو جروا.

ځواب ددا‌سې جرم او ګناه لپاره دوه څیزونه دي لومړی خالص اوسوچه توبه په یواځې حالت کې دالله په وړاندی په عاجزي سره ژړا کول اوپخپل ګناه باندی پښیماني ښکاره کول او راتلونکی لپاره د ګناهونو دنه کولو عهد او پیمان کول. که چیرته په رښتونی زړه توبه وباسي نو صادق مصدوق محمد صلی‌الله علیه وسلم فرمان واجب الاذعان یعنی د آوریدو وړ دی چی په توبه کولو سره ګناه داسی محوه کیږي لکه چی لـه سره یې کړی نه وي .التائب من الذنب کمن لا ذنب له.الحدیث. دویم څیز دشرعي حد نافذول دي. مګرپه هندوستان کی دهغه نفاذ ممکن نه دی په دار الاسلام کی نافذ کیدای شي خوپه دار الحرب کی د اسلام پاچاهم شرعي حدود نشي نافذولې.

حضرت مولانا کفایت الله صاحب رحمه الله ددا ډول پوښتې په ځواب کې لیکي:

ځواب شرعي حدود په دار الاسلام کی نافذیدای شي په دار الحرب کی داسلام پاچاهم شرعي حدود نشي نافذولې. پس هندوستان دارالحرب دی دلته حدود ممکن نه دي د امت پر علماو لازم دي چی زاني او زانیه ته د خپل وس په مطابق هغه سزا ورکړي چې دهغه وخت له قانون سره متصادم نه وي مثلاً د مقاطعې حکم ورکړي یعنی ترڅو پوری چی زاني او زانیه توبه ونه باسي ترهغه دی څوک ورسره ناسته ولاړه ونه کړي. (کفایت المفتی ص ۱۷۹ ص ۱۸۰ جلد دویم).

دیوبل سوال په ځواب کی لیکي :

سوال دادی چی یوسړی له خپلو محرماتو یعنی له خپل خور،مور او ترور سره زنا کوي دهغه په باره کې دشریعت څه حکم دی. ایاکافر شوی دی اوکه مسلمان پاتی دی دهغه ګناه د کومې درجې ګناه ده؟

۲- سوال دادی یوسړی له یوی فاحشې سره دزناجرم کړ ددغې ښځې یوه لور هم دد حو دانه دد معلوم چی هغه ددی له نطفې څخه ده اوکه دبل چاله نطفې نه. لنډه داچې دغه سړی له دواړو یعنی مور اولور سره زنا کوي، دداسی زاني په باره کی دشریعت څه حکم دی؟

ځواب ۱۹۳ دکبیره ګناه په کولو سره څوک کافرکیږي نه بلکې فاسق کیږي څوکه چیرته څوک له مور او نورو محرماتو سره زنا حلال وګڼي نو کافریږي لیکن داخبره له څه قوي دلیل نه پرته مسلمان ته نشي منسوبولې. همدغه شان دبل صورت ځواب هم دی چی په دغو دواړو صورتونو کې زاني فاسق دی په محمدي شریعت کی پرهغه حد لازم دی. مګر اوس دحدودو د قائمولو زمانه نه ده، نو ځکه پر مسلمانانو لازم دي چې زجرا او توبیخاً له داسی سړي سره سلام کلام اوناسته ولاړه ترک کړي، اوترڅو پوری چې هغه توبه ونکړي اودهغه توبه له قرائنو نه ثابت نشي نو ترهغه دی ورسره ناسته ولاړه ونه کړي. والله اعلم بالصواب. کفایت المفتی ج ۲ ص ۱۷۸ کتاب الحدود والجنایات فقط و الله اعلم بالصواب.)

له مرتد کیدونه وروسته اسلام قبلول

(۱۴- سوال) یوسړی په مسلمانه کورنی کی پیداشو او تر۴۵کلونو پوری په اسلام کی پاتی و اود مؤذن فرائض یې هم ترسره کړیدي، لدینه وروسته معاذ الله هغه مرتد شو او دبدهه مذهب لوی پیشوا جوړشو. شپږ کاله یی بدی تیاره کی تیری کړی. بیا ناخاپي بیرته مسلمان شو کوم کافر چې اسلام قبول کړي نو دهغه ټول ګناهونه بخښل کیږي لیکن داچې یو مسلمان مرتد شي او شرکي اعمال وکړي حرام غذا وخوري د بدهه مذهب تبلیغ وکړي مګر اوس دوباره مسلمانیږي نو ایا دداسې سړي ګناهونه هم بخښل کیږي؟

ځواب کوم سړی چی کافر وي او اسلام ومني نودهغه ټول ګناهونه معاف کیږي دکفر په حالت کی داسړی واجب القتل نه دی. مګرارتداد ډیره لویه ګناه ده خصوصاً په دغه مذکوره صورت کی، که چیرته هغه ته داسلام پیش کولو اودهغه دشبهاتو په لری کولو سره سره بیاهم توبه ونه باسي نو په اسلامي حکومت کی داسی سړی واجب القتل دی په مسئوله صورت کی که هغه سړی د زړه له کومی پخپل ګناه پښیمانه شي اوله باطلو ادیانو څخه بیزاري اعلان کړي، دشهادت کلمې په ویلو سره د زړه په مینه ایمان

راوري. تول عمر پخپل پدی گناه باندی نداست او زړا وکړي نوامید دی چې الله تعالی دهغه توبه قبوله کړی او گناهونه یی وبخښي. په درمختار کی دي:

(من ارتد عرض) الحـــاکم (علیه الاسلام استحباباً) علی المذهب وتکشف شبهته ویحبس ثلاثة ایام ان استمهل فان اسلم فیها والاقتل) لحدیث من بدل دینه فاقتلوه(واسلامه ان یتبرأ عن الادیان) سوی الاسلام (او عما انتقل الیه) بعد نطقه بالشهادتین (درمختار مع الشامی ج ص ۳۹٤، ج ۳ ص ۳۹٥ باب المرتد) فقط والله اعلم بالصواب.

کتاب الاماره

ښځه دهیواد سربراه جوړول څنګه دي ؟ (یوه تفصیلي فتوه)

(۱۵-سوال) په کوم ملک او هیواد کې چې قانون جوړوونکې پارلمان، موجـود وي اود هیواد صدر او جمهور رئیس هم مسلمان وي. همدغه راز د هیواد د مهمـو کـارونو لپـاره دپارلمان، تما، جمهور رئیس او لـه خپل وزارتي کابینې څخه منظوري اخلـي او همدغـه کابینه زیاتره ملکي کارونه ترسره کوي او صدر اعظم یوازی د نفاذ یوه ذریعـه وي نوپـه داسـی هیواد کې دښځینه صدر اعظم جواز شته که نه ؟ حق ځواب راکړئ خادم او دعـا غوښتونکی داوود کوکسي ۵۸ اے بلاک این نارتھ ناظم اباد کراچی نمبر۳۳.

ځواب: حامداً مصلیا او مسلماً ! څومره چې دښځو او سړو ترمنځ اختلاط اوبوځـای والی کم وي اوښځې دخپلو کورونو ښکلا وګرځي نو همغومره په دنیـا کـې فتنـه اوفسـاد هـم کمیږي بی حیایي اوله دینه پیداکیدونکی بی شـمیره غلـط او خطرنـاک کارونـه بـه نـه ترسـره کیږي. دښځو عفت اوعصمت به محفوظ پاتی کیږي. دسړو د نظرونـو او خیـالاتو حفاظت به کیږي اوپه دی سره به یوه صالحه ټولنه منځ تـه راځـي. نـو ځکـه دقـرآن او حدیث په ګڼو ځایونو کې ښځو ته ددی خبرې حکم ورکول شوی‌دی چی هغوی پخپلو کور کی واوسي له شرعي او طبعی ضرورت نه پرته دی بیرون نه اوځـي همـدا وجـه ده چې په اسلام کې پرده ضروري ګرځول شوی ده اوکـه چیرتـه ښځـه دشـرعي اوطبعـی ضرورت له کبله بیرون وتلو ته مجبوره شي نوداسی پـرده کـی دی ووځـي چـې غلطـو خلکوته دهغه په طرف د کتلو موقع پیداشـي اودهغـې عصـمت او عفت محفـوظ پـاتی شي اوکه چیرته ښځه په تنګو فیشني اوښکلو جامو کې بهر ووځي نو په دی سره فتنـه او فساد پیداکیږي، نوله همدی کبله سړی هـم دالله تعالی لعنت اوسـخت وعیـد لانـدی راځي اوښځه هم دالله تعالی د لعنت مستحقه ګرځي په دی لړ کې دقرآنکریم څو ایتونـه او نبوي احادیث ولولئ.

په قرآنکریم کی دي

وقرن في بیوتکن ولاتبرجن تبرج الجاهلیة الاولی.

یعنی تاسی پخپلو کورو کې واوسئ اودپخوانی جاهلې زمانې پشان بی ستره مه ګرځـئ. (الاحزاب : پاره نمبر۲۲).

دا حکم د محمد صلی الله علیه وسلم د پاکو ښځو په باره کې دی چې دټولو مومنانو د مورګانو په درجه کې دي کله چې هغوی ته داحکم شوی دی نو نورو ښځو ته خو په طریق اولی داحکم دی

۲-واذا سألـتموهن متاعا فاسئلوا هُنَّ منْ ورآء حجاب.

کله چې تاسی له هغوی، یعنی پاکو بیبیانو څخه، څه څیزغواړئ نوله پردی نه بهر یې وغواړئ داخبره، همیشه لپاره، ستاسې د زړونو او دهغوی د زړونـو دپـاک کیدو لپاره غوره ذریعه دد (سوره احزاب پاره نمبر : ۲۲).

داهم دپاکو بیبیانو په باره کې هدایت دی چې کله لـه هغـوی نـه دڅـه څیز دغوښتلو نوبت راشي نو په بی پردګي سره مه غواړئ بلکې د پردې لــه شـانه یی وغـواړئ یقینا چې داحکم د نورو ټولو ښځو لپاره هم دی.

(۳) یآیها النبی قل لازواجك و بناتك ونسآء الـمؤمنین یدنین علیهن من جلابیبهن.

ای پیغمبره ! خپلوښځو ، لورګانو او مومنانو ښځو ته ووایه چې پړونی دی پخپلـو سینو باندی واچوي

دشریعت غرض او منشاداده چې سړي اوښځې پخپلوکې یوله بل سره پردی‌نه پرته ونه ګوري اوله یوبل سره خبرې اترې ونه کړي او له یو بل سره اختلاط ونه کړي په سړو او ښځو کې په فطري ډول یو دبل په طرف جاذبیت او جنسي میلان موجـود دی، شـیطان ښه ډیر کوشش کوي چې هغوی په ګناه کې ککړکړي نوځکه دالله تعالی حکم دی چې سړی دی هم خپل نظرونه ښکته وساتي او ښځې هم په دی سـره دهغـوی زړونـه پـاک پاتی کیږي او دګناه په طرف میلان نه کوي همدغه راز لـه غلطو جـذباتو او خیـالاتو نـه هم محفوظ پاتی کیږي الله تعالی فرمایي :

قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ. (النور ۳۰).

ای محمده ! مومنانو ته ووایه چې خپل نظرونـه ښکتـه وسـاتي اودخپلـو شـرم ګاهونو حفاظت وکړي داستاسې لپاره د زړه د صفایي اوپاکوالی ذریعه ده بیشکه الله پاک دخپلو بندګانو له کارونو څخه خبردی.

همدغه راز دښځو په باره کی فرمایي :

قُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ. (النور: ۳۱).

موسو ښخوته (هم) ووایه چې خپل نظرونه ټیټ وساتي اودخپلو شرمګاهونو حفاظت وکړي
په حدیث شریف کی ذي :
قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم لعن الله الناظر والمنظور الیه .
دالله تعالی لعنت دی پرهغو خلکو چی نامحرمو ښځو ته ګوري اوپرهغو ښخو هم چې ورته کتل کیږي. (مشکوه ص ۲۵۰). باب النظر الی المخطوبه.
همدغه راز په یوبل حدیث کې دي :
العینان زنا هما النظر والاذنان زنا هما الاستماع واللسان زناه الکلام والید زنا هما البطش والرجل زنا ها الخطی والقلب یهوی ویتمنی ویصدق ذلك الفرج ویکذبه.
سترګې زنا کوي اودهغې زنا پردیو ته کتل دي، غوږونه زنا کوي دهغوی زنا دنوروخبرې اوریدل دي، لاسونه زنا کوي اودهغوی زنا د پردیو نیول اولمس کول دي، پښې زنا کوي اودهغوی زنا تلل دي،زړه خواهش او تمنا کوي او شرمګاه دهغه تصدیق یاتکذیب کوي. (مسلم ص۳۳٦ ج ۲ باب القدر علی ابن ادم خطبه من الزنا وغیره).
همدغه راز په حدیث کی دي :
عن جریر بن عبدالله قال سألت رسول الله صلی‌الله علیه وسلم عن نظر الفجاۃ فأمر نی ان اصرف نظری.
د حضرت جریر رضی‌الله عنه بیان دی چی ماله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم نه پرنامحرمه ښځه باندې د ناڅاپي نظر پری وتو په باره کې پوښتنه وکړه نو محمدصلی‌الله علیه وسلم ماته وفرمایل ته فوراً خپل نظر ښکته کړه. (مشکوه شریف ص ۲۷۸ باب النظر الی المخطوبه).
همدغه راز په حدیث کی دي :
قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم لاتتبع النظرۃَ النظرۃ فان لك الاولی ولیست لك الاخرۃ. (ابوداود بحواله مشکواۃ شریف ص ۲٤۹).
له حضرت بریده رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی محمدصلی‌الله علیهوسلم وفرمایل:
ای علی ! دیوځل کتلو نه وروسته بیامه ګوره. لومړی ځل کتل چی له ارادې نه پرته وي دبخښنې وړدی او دویم ځل کتل چی قصداً وي هغه نه بخښل کیږي.
په احکام القران کی په دی حدیث باندی دکلام په ترڅ کې ویلي دي :

قـال ابوبکر انما اراد النبی صلی‌الله علیه وسلم بقوله لك النظرة الاولـی اذالم تکـن عن قصدفاما اذا کانت عن قصد فهی والثانیة سواء.

یعنی لـه لوبړي نظر نه هغه نظر اوکتل مـراد دی چـی لـه قصـد او ارادې نـه بغیر پـه چاولګیږي لیکن کله چې له شرعي اجازې نه پرته په قصد سره وي نو څرنګه چـې دویم نظر د مواخذې قابل دی همداسی لومړی نظر هم د مواخذې وړ دی. (احکـام القـران ص ۳۸۸ ج ۴سوره النور باب مایحب من غض البصر عن الـمحرمات).

همدغه رازپه حدیث کې دي :

قـال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم النظر سهم مسموم من سهام ابلیس فمن ترکها خوفامن الله اعطاه الله ایماناًیجدحلاوته فی قلبه.

نامـحرم ته کتل د ابلیس له غشو نه یو زهرجن غشي دی، څوک چې داد الله له ویرې نه پریـږدي نـو الله هغـه تـه داسـی ایمـان ورکـوي چـی خونـد یـې پخپـل زړه کـې محسوسوي.(مشکوه شریف ص ۲٦٧ باب النظر الـی المخطوبه).

دعیسی علیه السلام مبارک فرمان دی :

ایاکم والنظر فَاِنَّهَا تزرع فی القلب شهوة وکفی به فِتْنَةً.

پردیو ښځو ته لـه کتلو نه ځان ساتئ په دی سره په زړونـو کـې دشـهوت تخـم زرغونیږي اود فتنې دپیدا کیدو لپاره همدا بـس دی. (احیـاء العلـوم ص ۹۸ ج ۳بیـان علی علی المریدفی ترک التزویج وفعله).

حضرت داود علیه السلام خپل زوی حضرت سلیمان علیه السلام ته وفرمایل :

مار او زمري پسې خو لاړشه مګرښځې پسې مه زه (ځکه چـې دا پـه فتنـه کـې دکګرولو لپاره له مار او زمري نه هم زیات خطرناکه ده).

قـال لابنه یابنی امش خلف الاسد والاسود ولاتمش خلف المرأة (احیاء العلـوم ص ۹۸ ج ۳ بیان علی المرید فی ترالتزویج وفعله.

له حضرت یحیی علیه السلام نه پوښتنه وشوه چې دزنا پیل له کوم ځای نه کیـږي؟ هغه ووېل نامحرم ته په کتلو او حرص کولوسره، اوحضرت فضیل وینا ده چې: ابلیس وایـي چې پردیو ښځو ته کتل زما پخوانی غشی دی چی کله هم خطا نه ځي.

وقیل لیحیی علیه السلام مابدء الزنا قال النظر و التمنی. وقال الفضیل یقول ابلیس هو قوسی القدیمة وسهمی الذی لا اخطئی به یعنی النظر. (احیاء العلوم ص ۹۸ ج ۳.).
په مجالس الابرار کی دي
فالمرأة لما كانت مخفية من الرجال كان دينها اسلم لما روى انه عليه السلام قال لابنته فاطمة اى شئ خير للمرأة قالت الاترى رجلاً ولايراها رجل واستحسن قولها وضمتها اليه وقال ذرية بعضها من بعض وكان اصحاب النبى صلى‌الله عليه وسلم يسدون النقب والكوى فى الحيطان لئلا تطلع النساء على الرجال.
یعنی ترخو پورې چې ښځه له سړونه پټه وي دهغی دین محفوظ دی، ځکه چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم خپل لور سیده فاطمه رضی‌الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې ښځي لپاره تولونه ښه څیز څه شی دی؟ فاطمه رضی‌الله عنها وویل: داچې هغه نامحرمو سړوته ونه ګوري او پردي سړي هغی ته ونه ګوري. د محمدصلی‌الله علیه وسلم دا ځواب ډیرخوښ شو او ویی فرمایل: دپلار اثر په اولاد کې راځي. اصحابو کرامو به د دیوالونو سوري بندول ترڅو ښځې سړو ته ونه ګوري. (مجالس الابرار ص ۵۴۳ مجلس نمبر ۹۸).
په حدیث شریف کی دي:
عن جابررضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ان المرأة تقبل فى صورة شيطان و تدبير فى صورة شيطان.
یعنی نامحرمه ښځه کله چې مخامخ راځي نو دشیطان په شکل کې راځي او چې شا روي نو هم دشیطان په شکل کې وي. (مشکوه شریف ۲۶۸ نمبر حدیث باب النظر الی المخطوبه).
حضرت شا ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي:
ان لا تخرج المرأة بيتها الا لحاجة منها لا تجد منها بداً قال صلى‌الله عليه وسلم المرأة عورة فاذا خرجت استشرفها الشيطان.
له شدیداو سخت ضرورت نه پرته باید ښځه له کوره باهر ونه اوځي. محمد صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دي چې ښځه عورت ده (یعنی دپټولو څیز ده) کله چې هغه له کور نه اوځي نوشیطان هغی پسې کیږي اودخلکو په زړونو کې خراب خیالات او غلط

حالات پیداکوي چې دهغه په وجه دهغې په عزت او ابرو کې دخطرې ویره پیداکیږي (حجت الله البالغه ترجمه نعم الله السابغه ص ۳۶۵ ج ٦ من ابواب تدبير المنزل لاتخرج المروه من بيتها).

نوځکه یکاردي چې ښځه له څه شرعي ضرورت نه پرته له خپل کور نه بیرون لاړه نشي او که حرته دکوم شرعي ضرورت په وجه بیرون وتلوته مجبوره شي نو بیا دې په پوره پرده کې ووځي رئيس المفسرين حضرت عبدالله بن عباس رضی‌الله عنهما آیت شریف

يا ايُها النبيُّ قل لازواجك وبناتك ونساء المــؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن ذلــك ادنى ان يعرفن فلايؤذين. په تفسیر کی وايي.

تغطي وجهها من فوق رأسها بالجلباب وتبدى عيناًواحدا.

یعنی الله پاک مسلمانو ښځو ته حکم ورکړی چې خپل سرونه اومخونه پټ کړي او یوازې یوه سترګه دې ښکاره کړي (ترڅو په هغې لاره وګوري). (تفسیر روح المعانی ص٨٦ ج ٢٢).

له حضرت عبيده سلمانی رحمه الله څخه ددی ایت د تفسیر په اړه پوښتنه وشوه نو هغه عملاً خپل سر او مخ په څادر سره پټ کړ او ښي سترګه یی ښکاره کړه، او ویی ویل چې دادی ددغه آیت تفسیر او مراد.

عن محمد بن سيرين قال سئالت عبيدة السلماني عن هذه الاية فرفع ملحفة كانت عليه فتقنع بها وغطى رأسه، كله حتى بلغ الحاجبين وغطى وجهه، واخرج عينه. اليسرى من شق وجهه الايسر (روح المــعانى ص ٨٩ ج ٢٢) (تفسیر مظهری ص٢٥٢ ج ١٠ اردو) (تفسیر مواهب الرحمن ص ١١٣ ج ٥ سوره احزاب).

دپاکستان شيخ الاسلام حضرت مولانا شبير احمد عثمانی لیکي:

په روایتونو کې راغلي دي چې کله دېردې دا آیتونه نازل شول نـو مسلمانو ښځـو ته خپل بدنونه او مخونه پټول او بهرته په داسی حالت کې وتلې چې صرف یوه سترګه به یی دلارې کتلو لپاره ښکاره پرېښوده. لدینه ثابت شو چې دفتنې په وخت کې بایـد آزاده ښځه هم خپل مخ پټ کړي (فوائد عثمانی ص ٥٦٨ پ سوره احزاب).

په احیاء العلوم کی امام غزالي فرمايي: والنساء يخرجن متنقبات.

ښځې به د محمد صلی‌الله علیه وسلم اواصحابو کرامو په زمانه کې په پردې کولو سره بهر وتلې ، احیاء العلوم ص ۲۸ ج ۲ ذکر العورات (لاتخرج المرأةمن بیتها الا لضرورة)
په احکام القرآن کې دي
قال ابوبکر فی هذه الآیة دلالة علی ان المرأة الشابة مامورة بستروجهها عن الاجنبیین).
دغه آیت په دغه خبره دلالت کوي چې خوانې ښځې لپاره ضروري ده چې له پردیو سرونه خپل مخ پټ کړي . (احکام القران ص ۴۵۸ ج ۳ للجصاص باب ذکر حجاب النساء).
د ام المومنین حضرت عائشه صدیقه رضی‌الله عنها بیان دی چې کله په حجت الوداع کې سرې زموږ مخې ته راتلل نو موږ به پخپلو مخونو باندی څادر خوړندوله او چې کله به آخوا شول نو څادر به مو له مخ نه لرې کاو خکه چې د احرام په حالت کې دمخ پټول منع دي.
عن مجاهد عن عائشة قال کان الرکبان یمرون بنا و نحن محرمات مع رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فاذا حاذو بنا سدلت احدانا جلبا بها من رأسها علی وجهها فاذا جاوزنا کشفناه (ابوداود شریف ص ۲٦١ ج ١).
په مجالس الابرار کی دي :
وان خرجت من بیت زوجها بغیر اذنه یلعنها کل ملك فی السماء وکل شئ الا الانس والجن فخروجها من بیته حرم علیها قال ابن الهمام حیث ابیح لها الخروج فانما یباح بشرط عدم الزینة وتغییر الهیأة الی ما لایکون داعیاً الی نظر الرجال واستمالهم.
یعنی که چیرته ښځه له څه شرعي ضرورت نه پرته دخپل خاوند له اجازې نه بغیر اوځي نو د اسمان او زمکې هره پرښته اوله هرڅای نه چې تیریږي هغه څایونه پرهغې لعنت وایي ماسوا د انسان او پیري نه.
او علامه ابن همام فرمایي کوم څای ته چې دښځو د تللو اجازه ده نو په دی شرط سره ورته اجازه ده چې په زیب او زینت سره نه وي، او په داسی جامو اولباس کې دی لاړه شي چې سړو ته دهغې په طرف کتلو ته رغبت پیدانشي. (مجالس الابرابر ص ۵٦۲ مجلس نمبر ۹۸)

په حدیث کې دي چې کومه ښځه عطراو خوشبوئ لګوي او بیا بیرون اوځي هغه زانیه ده. (احکام القران ص ۱۰۳).

د پورتني بحث لنډیز او خلاصه دا را اوځي چې دښځو او سړو ترمنځ اختلاط څومره کم وي نو دهر یو دین همغومره محفوظ پاتې کیږي او څومره چې پکې اختلاط زیاتیږي په دین کې یې نقصان پیداکیږي اوپه دنیا کې فتنه او فساد سر اوچتوي اودښځو فتنه له تولونه سخته ده لکه چې په حدیث کې دي:

ما تَرکتُ بعدی فتنة اضرُّ علــیالرجال من النّساء.

له مانه وروسته سړو لپاره هیڅ یوه فتنه دښځو له فتنې نـه زیـات مضره نـه ده. (مشکوه شریف ص ۲٦۷ کتاب النکاح).

په یو بل روایت کې دي: واتّقُوا النساء فان اول فتنة بنی اسرائیل کانت فی النِّسَاء.

له ښځو نه وویریږئ ځکه چې په بنی اسرائیلو کې له ټولو نه لومړی فتنه دښځو په وجه پیدا شوی وه. (مشکواه شریف ص ۲٦۷ کتاب النکاح).

په داسې وختونو کې چې له کور نه وتل ضروري وي اوله سړو سره د اختلاط ویره وي نو په داسې وخت شریعت ښځه نه ده مکلف کړی مثلاً:

(۱) پرښځو باندې دجمعې او اخترونو لمونځونه نه دي واجب کړي.

(۲) پرښځو باندې په جمعې سره لمونځ کول واجب نه دي بلکې پـه کـور کـې یـواځې لمونځ لوستل دجمعې له لمونځ نه زیات بهتر دی.

(۳) کومه ښځه چې محرم نه لري نوهغې ته یوازی حج ته تلل جائز نـه دي. کـه چیرتـه محرم ورته پیدانشي او مرګ ورته راشي نو دحج بدل وصیت دی وکړي.

(۴) پر ښځې باندې جهاد فرض نه دی.

(۵) له جنازې سره په تللو مکلفې نه دي.

(٦) دقبرونو زیارت لپاره د تللو اجازه ورته نشته آن چـې دخپـل مـور او پـلار، اولاد او نورو خپلوانو قبرونو ته تلل هم ورته جائز نه دی.

اوس نو تاسې غور وکړئ چې شریعت دښځې د عصمت او عفت څـومره خیـال سـاتلی دی.له دغو ټولو خبرو څخه ثابتیږي چې دشریعت مقصد او منشا داده چـې ښځـه لـه شرعي ضرورت نه پرته له کورنه ونه اوځي اوله سړو سره دهغوی اختلاط نه وي.

که چیرته ښځه دیو هیواد سر براه او وزیر اعظم جوړیږي نوقدم پـه قـدم لـه سـړو سـره اختلاط راځي. دخپل سنطنت د... لپاره به ... نورو خایونو ته ورځـي. په

مسکونو او شوری کانو کې به کډون کوي. په بحث او مباحثو کی به شرکت کوي له سرو سره به خبرې کوي حاضرین به دهغی په طرف متوجه کیږي هر چیرته به سرو سره خبرو ته اړکیږي ایاداټول کارونه شرعا رواکیدلی شي ؟
له پورتني الهی ارشاداتو اونبوي لاربنوونو په رڼا کې ددغو خبرو خواب ډیر ښه معلومیدلی شي.
همدغه راز په حدیث کی دي :
عن ابی بکر قال لما بلغ رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ان اهل فارس قد ملکوا علیهم بنت کسری قال لن یفلح قومه ولوا امرهم امرأة. (رواه البخاری).
ترجمه: له حضرت ابوبکر صدیق رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی کله محمد صلی‌الله علیه وسلم ته داخبر ورسید چی دفارس خلکو دکسری لور پاچا مقرره کړیده نو محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل .هغه قوم هرګز فلاح نه ترلاسه کوي چې پخپل ځان ښځه حاکمه کړی ده.(مشکواه شریف ص ۳۲۱ کتاب الاماره والقضاء ترمذی شریف جلد۲ ص ۵۰-۵۱.
شیخ التفسیر حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله ددی حدیث په تشریح کې دشرح السنه په حواله لیکي:
قوله ولوا امرهم امرأة فی شرح السنة لا تصلح المرأة ان تکون اماماً ولا قاضیاً لان لامام والقاضی محتاجان الی الخروج للقیام بامر المسلمین والمرأة عورة لاتصلح لذلك اه اخ.
په شرح السنه کی دي چی په ښځه کې دا صلاحیت او قابلیت نشته چی هغه امام دحکومت مشره او قاضي جوړه شي ځکه چې د مسلمانانو مشر ته دهغوی د کارونو دترسره کولو لپاره بهر ته دوتلو ضرورت پیداکیږي، لدینه پرته هغه خپل مسئولیت اوذمه واري نشي ترسره کولې. بل داچی ښځه د پټولو څیزده اوهغه ددې صلاحیت او قابلیت نه لري. (التعلیق الصبح علی مشکواه المصابیح صفحه ۲۰۱ جلد ۴).
همدغه راز په حدیث کی دي :
عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اذا کانت امرأکم خیار کم واغنیاء کم سمحاء کم و امور کم شوری بینکم فظهر الارض خیرلکم من بطنها و اذا

کانت امراء کم شرار کم و اغنیائکم بخلائکم و امور کم الی نساء کم فبطن الارض خیر لکم من ظهرها.

ترجمه له حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل کله چې ستاسی امرا ستاسې له غورو خلکو څخه وي اوستاسې مالدارستاسې له سخي خلکو څخه وي اوستاسی کارونه پخپلو کی په مشوری سره کیږي نو دزمکې سردهغه له ګیډې نه ښه دی.

اوکله چې ستاسی امراء ستاسی له بدترینو خلکو څخه وي اوستاسی مالدار بخیل وي او ستاسی کارونه ستاسی ښځو ته حواله وي نو دزمکې ګیډه (یعنی قبر) ستاسی لپاره دهغې له سرنه بهتروي (ترمذی شریف صفحه ۵۲ ج۱، ابواب الفتن، قبیل ابواب الرویا) په قرآنکریم کی دي:

الرجال قوامون علی النساء بما فضل الله بعضهم علی بعض وبما انفقوا من اموالهم.

سړي پر ښځو حاکمان دي لدی کبله چې الله تعالی ځینې (یعنی سړي) په ځینو نورو یعنی پرښځو قدرتي فضیلت ورکړی دی. اوبل په دی وجه چی سړو پرښځو باندی له خپل مال (یعنی په نان او نفقه کی) خرچه کړی ده. (قرآن مجید سوره نساء آیت نمبر۳۴ پاره نمبر ۵).

حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب د آیت شریف الرجال قوامون علی النساء په باره کی فرمایي:

قوام، قیام، اوقیم په عربي کی هغه شخص ته ویل کیږي چې دکوم کار یا نظام ذمه وار او مسئول وي نو ځکه په دی‌آیت کی دقوام معنی عموماً په حاکم سره شویده یعنی سړی پرښځو حاکمان دي مراد داچې د هر اجتماعي نظام لپاره عقلاً او عرفاً دا ضروري وي چې دهغه څوک سربراه، امیر اوحاکم وي ترڅو د اختلاف په وخت دهغه په فیصله کار وکړی شي لکه څنګه چې دیو ملک ، سلطنت او ریاست لپاره دحاکم ضرورت تول مني. همدغه راز په قبائلي نظام کې هم ددې ضرورت همیشه لیدل شوی دی اویو څوک دهغه سردار او مشر منل شوی دی، بالکل همدی پشان دغه عائلی نظام کی هم چی ورته کورنی نظام ویل کیږي په دی کی هم دیو امیرا و مشر ضرورت وي. دښځو او ماشومانو په مقابل کې الله تعالی دغه کار لپاره سړي غوره کړل ځکه چې دهغوی عملي او علمي قوت دښځو په نسبت زیات دی، اودا

داسي ندیهي اوښکاره معامله ده چې هیڅ یوه هوښیاره ښځه او سړی له دېنه انکار نشي کولی (معارف القرآن صفحه ۳۹۵- ۳۹٦ جلد۲).
شیخ التفسیر حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله لیکي:
په دغو آیتونو کې په مطلق ډول پرښځو د سړو فضیلت بیان شوی دی. الله تعالی ذاتي او عرضي دواړه قسمه فضیلتونه سړوته ورکړي دي اوپر ښځو یې حاکم ګرځولي دي لکه چې الله تعالی فرمایي: سړي پرښځو باندې په دوه وجوهاتو سره حاکم اوقائم دي یوه وجه خو داده چې الله تعالی ځینو ته پر ځینو بزرګي او فضیلت ورکړی دی، یعنې په ذاتي توګه الله تعالی سړو ته پرښځو په ډیرو خبرو کې فضیلت ورکړی دی او ددې فضیلت غوښتنه داده چې سړي پرښځو حاکم وي او ښځې محکومې وي الله تعالی دښځو په نسبت سړوته عقل،علم، حلم، فهم، ښه تدبیر، نظري قوت، علمي قوت او جسماني قوت زیات ورکړی دی، همدغه راز نبوت، امامت، خلافت،بادشاهت، قضاء، شهادت، جهاد، دجمعې او اختر لمونځونه، آزانونه او خطبه، په جمعې سره لمونځ، په میراث کې زیاته برخه، دنکاح مالکیت، له یوې نه زیاتو یعنې له څلورو ښځو سره نکاح کول، دطلاق اختیار، له نقصان نه پرته دلمونځ او روژې پوره کول، حیض، نفاس اوله ولادت نه محفوظ پاتې کیدل داټول فضائل الله تعالی سړوته ورکړي دي. د همدغو فضائلو او خصوصیاتو په وجه په حدیث کې راغلي دي چې محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: که چیرته ماچاته د سجدې کولوحکم ورکولای نوښځې ته به مې حکم کړی و چې خپل خاوند ته سجده وکړي.
په جسماني قوت کې هم ښځې دسړو مقابله نشي کولی. ښکاره خبره ده چې کمزوری او ناتوان ته په قوي باندې نه دحکومت کولو حق شته اونه هم کولی شي قضا او قدر دښځو په سرشت او خټه کې برودت او نزاکت ایښی دی او په سړو کې حرارت او قوت ایښی دي، نو ځکه په جنګ وجدال، قتال، شجاعت، بهادري او دجنګ په میدان کې دخپل دین او خاورې ددفاع لپاره چې څومره سخت کارونه مخې ته راځي هغه ټول سړي ترسره کوي.
دسړي جوړښت دهغه په فضیلت او فوقیت باندې دلالت کوي، اودښځې فطري نزاکت، دهغې حامله کیدل، ولادت دهغې د کمزورۍ اولاچارۍ ښکاره د لیل دی معارف القرآن ادریسی ص ۷۰-۷۱ جلد دوم.

له پورتنی آیت او د دواړو مفسرینو د تفسیر څخه دا ثابتیږي چې مشري او حکمراني سرو سره ښه ښکاري، اوهغه ددی وړدې چې دابار اوچت کړي. الله تعالی په هغه فطري دول ددې قابل ګرځولی دی. ددی برعکس دښځې سر براه او حکمران جوړول برعکس کار دی، ښځه په فطري توګه کمزوري ده او پرهغې دومره لویه ذمه واري او مسئولیت آچول له فطرت نه خلاف دی. الله تعالی په یوه کورني او خاندان کې په انتظامي کارونو کی سړی قیم او حاکم ګرځولی دی او ښځه یی محکومه ګرځولی ده نو دټول قوم سربراه او مشره ګرځول څنګه صحیح کیدای شي؟

دامامت دوه ډولونه دي: یو امامت صغری اوبل امامت کبری یعنی دحکومت سربراه کیدل. او امامت صغری یعنی دجمعي په لمونځ کی دسړو امام کیدل ښځه د امامت صغرا قابله نه ده هغه نشي کولې چې دسړو امامه شي. په درمختار کی دي.

(ولا یصح اقتداء رجل بامرأة)وخنثی (اوصبی مطلقا) ولوفی جنازة ونفل علی الاصح(درمختار مع رد المختارج ۱ ص ۵۳۱ باب الامامة)

کله چې ښځه د امامت صغری قابله نه ده نود پوره حکومت امامت کبری څنګه حواله کیدی شي؟ په درمختار کی دامامت کبری شرائط داسی بیان شویدي.

ویشترطُ کونه مُسْلماً حرًّا ذکراً عاقلاً بالغًا قادراً. په رد المختار شامی کی دي چې:

وَلاَنَّ النساء امرنَ بالقرار فی البیوت فکان مبنیٌّ حالهن علی الستر والیه اشار النبی صلی الله علیه وسلم حیث قال کیف یصلح قومه تملکهم امرأة.

داشرط دی چې دحکومت سربراه اومشر باید نر، آزاد او عاقل وی اود احکامو په جاري کولو اود مصالحو په قائمولو قدرت ولري، دنر شرط څکه لګول شوی دی چې ښځو ته په کورو کې داوسیدو حکم ورکول شوی دی، لهذا ښځو لپاره مناسب همدادي چې په کور کې واوسي محمدصلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې هغه قوم به څنګه فلاح ترلاسه کړی شي چې ښځه دهغوی دکارونو سربراه وي. (درمختار و رد المختار ص ۵۱۲ جلد ۱، باب الامامه).

کوم سړي چې د ملکه بلقیس واقعه دښځې دسربراهي د جواز لپاره د دلیل په توګه وړاندې کوي نودهغه په اړه حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي لیکي:

زمونږ په شریعت کې دښځو دسربراه جوړولو کی منع راغلی دی، هیڅوک دی دبلقیس له کیسې نه استدلال نه کوي ځکه چی یو خو دا کار دمشرکانو و . دویم داچې که چیرته د سلیمان علیه السلام په شریعت کې هغه مشره هم مقرره کړی وي نوپه محمدي شریعت کې ددی منع راغلی ده اودهغی قصه مونږ لپاره دلیل نشي کیدلي

(بیان القران ص ۸۷ ج ۸ سوره نمل پاره نمبر ۱۹) **فقط والله اعلم بالصواب**.

کتاب الوقف

ایا دقبرستان شنه گیاه لیلامولی شو او کنه ؟

(۱۶- سوال) ایا دقبرستان شنه گیاه لیلامولې شو اوکه نه ؟ مونږ دقبرستان لـه څلورو طرفونونه اغزن تار تاو کړی دی او گیاه مو ساتلی ده ایا هغه مونږ خرڅولی شو؟

ځواب هغه گیاه چې پخپله دچاله خواري نه پرته شنه شوی وي هغه مباح الاصل وي او هرڅوک لـه هغه نه گټه اخستلی شي. پرهغه دهیچا ملکیت ترهغه وخته پوری نشته ترڅو پورې چې ریبدلی نه وي اوپخپل قبضه کی یی نه وي راوستی. د اغزن تار په تاوولو سره شنه گیاه نه دچا په قبضه کی راتلی شي او نه هم په ملکیت کې. همدغه راز دقبرستان گیاه هم مباح الاصل دی ځکه چی هغه د چا ملکیت نه دی چی خرڅ یې کړي خو له ریبدلو نه وروسته یی خرڅولی شي. مگر دقبرستان نه دشنه گیاه ریبدل منع دي ځکه چی مړي د هغه د تسبیح له گټونه محرومیږي. البته د وچې گیاه د ریبدلو ممانعت نشته په نور الایضاح کی دي .

وقلع الحشیش والشجر من المقبرة ولا بأس بقلع الیابس منهُما، یعنی د قبرستان شنه گیاه له بیخه ویستل اودونو وهل مکروه دي خوکه دواړه وچ وي نو مکروه نه دي. (ص۱۴۲ کتاب الجنایز فصل فی زیاره القبور).

د قبرستان د شنې گیاه ریبدل

۱۷- سوال : که چیرته د قبرستان شنه گیاه ونه ریبدل شي اود برسات تر ختمیدو پورې همداسی پرینبودی شي بیاله وچیدو نه وروسته وریبدل شي نو هغه ډیر خراب شوې وي ځکه چې گیاه ډیره گنیږي او اوردیږي زیات باران چې وشي نو دگیاه بیخونه گنده کیږي او بیا دداسې گیاه قیمت ډیر کم وي. په باران کی هم خرابه شوی گیاه شنه نه ښکاري بلکی لـه یخ نه خراب ښکاري صرف پورتنې حصه یې شنه ښکاري نوپه داسې وخت کې دقبرستان گیاه یوځل ریبدلی شو یا نه ؟

(ځواب) د قبرستان د گیاه ریبدل ځکه منع دي چې مړو ته دهغې د تسبیح کومه گټه رسیږي له هغه نه مړي محروم پاتی کیږي مگر د قبرونو له شاخوا نه هغه گیاه ریبدل چې دباران داوبو په وجه گنده کیږي نو که هغه دلارې دصفا کولو په خاطر وریبدل شي نو څه مضائقه او حرج پکې نشته همدغه راز د گیاه داصلاح او درستی لپاره دقبر

له سرنه یو دوه خلي د ګیاه ریبدل څه ګناه نه لري خود مړو د فایدې په خاطر نه ریبدل یې ښه دي. خوله وچیدونه وروسته یې په ریبدلو کې څه حرج نشته په کبیری کی دي چې دقبرله سرنه دشنې ګیاه ریبدل مکروه دي خو د وچې ګیاه ریبدل څه باک نلري.

ویکره قطع النبات الرطبة من اعلاه دون اليابس (ص ۵۶۳ فصل فى الجنائز) فقط والله اعلم بالصواب.

ایا د مقبرې پیسې په مشاعره کې لګولې شو؟

۱۸-سوال: ایا د روضو او مقبرو پیسې په مشاعرو کې خرچولې شو؟

ځواب: کله چې دیو وقف پیسې په بل وقف کې شرعاً د استعمالولو اجازه نشته نو هغه په مشاعره کې، ددی مصرفول څنګه جایز کیدای شي[1] فقط والله اعلم بالصواب.

ټول عمر په موقوف کور کې داوسیدلو شرط:

(۱۹- سوال) زماد ښځې په نوم یو کور دی اولاد یې نشته، هغه وایي چې کله زه مړه شم نو په دې کور کې دې زما خاوند اوسیږي اودهغه له مړکیدو نه وروسته به کور دمسجد لپارد وقف وي اوکه زه مخکې مړشم اوبیاله مانه وروسته زمانځه مړه شي نودهغې له مرګ‌نه وروسته به داکور دمسجد لپاره وقف وي، مونږ همداسې وقف نامه لیکلې ده. په دې کې دشریعت څه حکم دی؟ دښځې په وارثانو کې دهغې درې ورونه هم شته بینوا توجروا.

ځواب: په وقف نامه کې له وفات نه وروسته وقف کول لیکل شوی دی، نودا وصیت دی او وصیت په ثلث کی جاري کیږي لهذا د کور صرف یو ثلث وقف کیږي اوله مرګ نه وروسته نه بلکې کوم وخت چې وقف کولی شي صفا خبره داده چې کور دی وقف کړی شي اوپه وقف کې دی داشرط ولګول شي چې زه او زما خاوند تر آخري ژوند

---

[1]- وقف مصحفا على اهل المسجد للفقراء ان يحصون جاز وان وقف على المسجد جازو يقرأ منه ولايكون محصورا على هذا المسجد قال فى الشامية تحت قوله ان الحصول هذا الشرط مبنى على ماذكره شمس الائمة من الضابط وهو انه اذا ذكر للوقف مصرفا لا بدان يكون فيهم الخ كتاب الوقف مطلب متى ذكر للوقف مصرفا لا

پورې کور استعمالوو، بیا زمونږ له مرګ نه وروسته دی دمسجد په ضروریاتو کې وقف کړی شي، د دا ډول وقف کولو سره وقف صحیح کیږي اود خپل ژوند تر آخري ورځو پورې په دی کور کې د اوسیدو حق لري. ضروري خبره داده چې داخیال دی وکړی شي چې کله سبا ته په ترکه کې همدا یو کور دی نو ددی دوقف کولو مطلب دادې چې شرعي وارثان محروم ساتلی شي ، لـه څه شرعي عذر نه پرته د ورثاو محروم کول یاد هغوی حق ته نقصان رسول ګناه ده. دالله تعالی رسول فرمایلی دي : ځینې خلک خپل ټول ژوند د الله په عبادت او اطاعت کې تیروي لیکن دمرګ په وخت ترکه کې وارثاو ته نقصان رسوي، دهغه اثر داکیږي د جهنم اور هغوی لپاره لازمیږي.

عـــن ابی هریرة رضی‌الله عنه عن رسول الله صلی‌الله علیه وسلم قال ان الرجل لیعمل والمرءة بطاعة الله ستین سنة ثم یحضر هما الموت فیضار ان فی الوصیة فتجب لهما النار .(مشکوة شریف ص ۲٦۵ باب الوصایا).

په هرحال که چیرته په دی شرط سره وقف کړی شي نو وقف صحیح کیږي مګردا خیال دی ضرور وساتلی شي چې وقف فی الواقع وي، دپردې ترشا د وارثانو محروم کولو او هغوی ته د نقصان رسولو کوشش نه وي ځکه چې په دی سره نیکي برباد او ګناه لازمیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

په قبرستان کی دکور او جونپړې جوړول څنګه دي؟

(۲۰- سوال) یو قبرستان چی پنځو کلو راهیسې بند دې اوپه هغه کې خلکو کورونه او جونپړې جوړې کړي دي. ځینو خلکو چې دهغوی په دې کار اعتراض وکړ نو هغوی وایي چې په دې کې دمړو هډوکي او نور اثار نشته ایا دهغوی دا دلیل صحیح دی او په قبرستان کې دکورونو جوړول جائز دي مهرباني وکړئ ځواب یې راکړئ.

ځواب : په وقف قبرستان کې کور او جونپړه جوړول جائز نه دي، اګر چې پدې کې خلک مړي نه ښخوي او قبرونه خراب شوي وي او هډوکي ترینه نه اوځي[1] فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] – ویکره ان بنی علی القبر أو یقعد او ینام علیه او یو طأعلیه الخ. فتاوی عالمګیری کتاب الجنائز فی القبر و الدفن والنقل الخ ج ۱ ص ۱٦٦

په قبرستان کې دوکانونه جوړول :

(۲۱- سوال : زمونږ په ښار کې په یوه ورکوټې زمکه کې یوه ورکوټې غونډې باغچه او څو قبرونه وو او دهغه لـه څلورو طرفونو نه دیوالونه تاو شوي وو. حکومت دغه زمکه دښار بلدیات ته په دې شرط ورکړه چې هغه دباغچې په شکل کې وساتي لیکن بلدیات یا میونسپلټی ډدغه شرط هیڅ پروا ونه کړه او دوه میاشتې وړاندې هلته د دوکانونو جوړولو کار شروع کړ. کله چې دبنیادونو ویستل شروع شو نو هلته د مړو هډوکي ووتل اوپدې سره په مسلمانانو کې اشتعال او غصه پیدا شوه او احتجاج یې وکړ. په عدالت کې دعوه دائره کړه هغوی دغه کار بند کړ. سوال دادې چې بلدیاتي دفتر یا میونسپلټی کار پوریشن ، یاکومه ډله او فرد په داقسم زمکه کې چې پکې قبرونه وي دکانونه جوړولې شي ؟ نن هم په دې زوړ قبرستان کې دقبرونو نښې موجودې دي. د اسلامی شریعت په دې باره کې څه حکم دې؟ مهرباني وکړئ مونږ ترینه خبر کړئ ځکه چې داندغه ښار د مسلمانانو عامه مسئله ده بینوا توجروا.

ځواب: د زمکې دغه حصه به یا وقف وي اویابه دکوم مسلمان ملکیت وي نوځکه حکومت یا بلدیاتي اداره او کومه ډله او فرد ذاحق نه لري چې په دې باندې دوکانونه جوړ کړي. ځکه چې په دې سره دمړو بې احترامي کیږي. لهذا پر مسلمانانو دالازم دي چې په دی باندی مظاهرې وکړي او غوښتنه وکړي چې لـه قبرونو سره غرض ونه کړي او دېخوا پشان دی دباغچې په شکل کې پریږدي.[1] و الله اعلم بالصواب.

وقف شوی زمکه په کوم صورت کې خرڅیدی شي؟

۲۲ سوال : یو سړي ۴۲ بیگهه زمکه مسجد ته وقف کړیده له مسجد سره دومره پیسې نشته چې داړبو خور لپاره تیوب ویل وباسي نوځکه د فصل ټول دار مدار دباران په اوبو سره دی، نو ځکه کلنی عایدات بالکل کم ترلاسه کیږي، لدینه ۱۰۰ روپۍ په ټیکس کې خي نو ځکه اوسني منتظمین غواړي چې زمکه خرڅه کړي او په دغو پیسو باندی یو کور جوړ کړي یا په بیع بی واخلي ترڅو آمدن زیات شي، په دی نیت سره دغه وقف شوی زمکه خرڅولی شي اوکه نه؟ بینوا تو جروا.

---

[1]- ویکره ان بنی علی القبر أو یقعد او ینام علیه او یو طأعلیه الخ. فتاوی عالمگیری کتاب الجنائز فی القبر و الدفن والنقل الخ ج ۱ ص ۱۶۶

خواب : که چیرته وقف کوونکي په وقف نامه کې دخرځولو اجازه ورکړی وي یا وقف
په دې حالت کې وي چې لدینه هیڅ ګټه ترلاسه نشي نو بیا دخرځولو اجازه ورته شته
اوکه چیرته څه ګټه ترینه حاصلیده نو بیا شرعاً دهغې دخرڅولو اجازه نشته په شامي کې
دي :

(قوله وجاز شرط الاستبدال به الخ) اعلم به ان الاستبدال على ثلاثة وجوه الاول ان يشترطه الواقف لنفسه او لغيره فالا سبتدال فيه جائز على الصحيح وقيل اتفاقاً والثاني ان يشترط سواء شرط عدمه اوسكت لكنه صار بحيث لا ينتفع به بالكلية بان لا يحصل منه شيئ اصلاً او لا يفي بمونته فهو ايضاً جائز على الاصح اذاكان باذن القاضي ورأيه المصلحة فيه والثالث ان لا يشرطه ايضا ولكن فيه نفع في الجملة وبدله خير منه ريعاً ونفعاً وهذا لا يجوز استبداله على الاصح المختار كذا حرره العلامة قنالى زاده في رسالته الموضوعة في الاستبدال الخ (شامى ج ٣ ص ٥٣٥ تحت مطلب في استبدال الوقف وشروطه) فقط والله اعلم بالصواب.

د وقف علــی الاولاد یو صورت:

(٢٣- سوال) یو سړی خپل کور وقف کړ او ویې ویل چې دازما د نژدې آل اولاد لپاره وقف دی نو اوس په دې کور کې دهغه دلورګانو حق شته اوکه نه ؟ بینوا تو جروا.

(ځواب) د قریب او نژدې اولادونو کې لورګانې یې هم شاملې دي .

رجل قال ارضى هذه صدقة موقوفة على ولدى كانت الغلة لولدصلبه يستوى فيه الذكر والانثى. الخ (فتاوى عالمگيرى ج ٣ ص ٢٠٦ كتاب الوقف الباب الثاني الفصل الثاني) فقط والله اعلم بالصواب . ٤ شعبان ١٤٠٠ ســـــــه.

دشيعه آغاخاني پل پيژندونکي د وقف ځيز منتظم مقررول

(٢٤- سوال ، دیوسړي په سورت ښار کې یو تعمیر دی په دغه تعمیر کې دهغه په شمول ١٦ تنه کرایه دار اوسیږي، هغه دخپل مرګ نه وړاندې دتعمیر د آمدنې لپاره یوه خیراتي اداره قائمه کړیده او وصیت یې کړی دی چې ددې تعمیر څومره آمدني وشي نو لومړی دې په دې سره ددغه تعمیر مرمت وکړي او بیاچې څه پیسې ترینه پاتې شي هغه دې د محلې په څلورو مسجدونو کې وویشل شي ددغه تعمیر ټول پنځه کسان

منتظمين دي، په دوی کی يوه شيعه آغاخانی پل پيژندونکی هم دی ايا مونږ اهل سنت والجماعت حنفی المسلک داسی سړی دمنتظم په توګه منلی شوو او که نه ؟ تسلی بخش خواب راکړئ بينوا تو جروا.

(خواب) وقف کوونکي مشخص غلطی کړی ده چې له سني منتظمينو سره آغاخاني يې هم منتظم جوړ کړی دی اوس که ددې په وجه وقف ته نقصان رسيږي اود وقف مقصد ختميږي نوهغه بدلولی شي که چيرته دقانون لـه لارې هغه بدل کړی شي نو دابه نبه وي ترڅو فتنه سر اوچت نه کړي.

په مذکوره صورت کې دسني تنظيمونو اکثريت دی که چيرته يو کس مخالفت وکړي نو هغه نه شي کاميابيدای څکه چې فيصله د را يو په اکثريت سره کيږي په هر حال نه مار بچ شي او نه امسا ماته شي په پاليسی دی عمل وکړی‌شي فقط والله اعلم بالصواب. ۵ ذيقعده ۱۲۹۹ هـ کال.

دطلبه و په چاندې سره د جوړ شوي انجمن شرعي حيثيت :

(۲۵- سوال ، په يوه مدرسه کې حالات خراب شول، هغه وخت دهغه ځای انجمن صدارت له ماسره و، دمدرسې مجلس شوری په انجمن باندی دقبضې کولو حق مهتمم ته ورکړی دی حال داچې دا انجمن د طلبه و لپاره و اوپه دې کې کافي کتابونه او نور ځيزونه هم نته، انجمن د طلبه و په پيسو جوړ شوې و د انجمن دغه حساب دی چاته ورکړی شي؟ دمجلس شوری فيصله ترکومه حده پورې صحيح ده؟ د مجلس شوری اعلان دادی :

طلبه و ته خبر ورکول کيږي چې د ۴ جون ۱۹۷۴ ع کال د مجلس شوری غونډه د جامعه د طلبه و په نوم کوم انجمن جوړ کړی دی هغه غير قانوني ګرځول کيږي، لدينه بره نور انجمونه هم غيرقانوني ګرځول کيږي، دجمعيه الطلبه د کتابونو او نقد سامان د ضبطولو اختيار مهتمم صاحب ته ورکول کيږي.

۲- زما څه ذاتي مال هم د مدرسې په کوټه کې پروت دې پرهغه هم مهتمم صاحب قبضه کړيده آيا شرعاً دهغه دا قبضه جائزه ده؟ په خواب ورکولو سره مونږ خوشاله کړئ. بينوا تو جروا.

خواب : (۱) د جمعيه الطلبه حيثيت عرفاً دوقف دی ، دطلبه و ذاتي اداره او ذاتي کتابخانه نه حسابيږي کله چې طلبه فارغيږي او ترينه خي نو دکتب خانې کتابونه او سامان له ځانه سره نه وړي بلکې نو يو راتلونکو طلبه و ته يې پريږدي د انجمن داد

ستور په دی باندی دلالت دی چی کتابونه او سامان ذاتی نه دی نو خکه طلبه د مطالبي هیڅ حق نه لري، نوي راتلونکي طلبه به ترینه ګټه اوچته کړي تول حساب او کتاب دی مهتمم صاحب سره وکړی شي فقط والله اعلم بالصواب.

(۲) داچې په کمره کې ستا ذاتي کتابونه او نور سامان پروت دی نو تاسی دهغوی مطالبه کولي شئ خکه چې هغه ستاسی حق دی. فقط والله اعلم بالصواب.

دقبرستان د ونو په پری کولو سره دمسجد او مدرسې لپاره په هغو لرګو خښتې پخول

(۲٦- سوال) یو قبرستان دی چی خلور کلي پکې شریک دي او هغه قبرستان صرف دیو کلي اصلي ملکیت دی مګر هغه نورو دریو کلیو ته دخپلو مړو د خښولو اجازه ورکړی ده په دغه قبرستان کې ډیری لوی لوی ونې دي ایا دهغو ونو په وهلو سره دهغه په لرګیو د مسجد او مدرسې لپاره دخښتو دپخولو اجازه دهغه کلي خلکو ته شته اوکه نه ؟ چی د دغه قبرستان مالکان دي. بینوا تو جروا.

خواب: که چیرته قبرستان وقف وي بلکې دچا خپل ملکیت وي نودهغوی په اجازه داسی کول جائز دي او که قبرستان وقف وي نو دغیر ضروري ونو په وهلو او دهغوی په پیسو سره د مدرسې کوټې جوړول یا دمدرسې مرمت کول ، پخول همدغه راز دقبرستان صفایي او د ونو لګولو او نورو خیریه کارونو کی لګول صحیح دي. چاته هسې مفت ورکول جائز نه دي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد لپاره وقف شوی ځیز له کرایه نه پرته کومی اداري ته ورکول:

(۲۷-سوال) د مسجد څه وقفي ځمکه ده ایا هغه کومی اداري ته دمدرسې د چلولو لپاره ورکولی شو اوکه نه ؟ بینوا تو جروا.

[1] --مقبرة علیها اشجار عظیمة فهذا علی وجهین اما ان کانت الا شجار نابتة قبل اتخاذ الارض مقبرة او نبت بعد اتخاذ الارض مقبرة ففی الوجه الاول المسالة علی قسمین اما ان کانت الارض مملوکة لها مالك او کانت مواتا لا مالك لها و اتخذها اهل القریةمقبرة ففی القسم الاول الا شجار با صلها علی ملك رب الارض یصنع بالاشجار و اصلها ماشاء الخ ، فتاوی عالمګیری المسائل التی تعود الی الاشجار التی ف المقبرة الخ. ج ۲ ص ۳۷۳.

خواب د مسجد لپاره وقف شوی زمکه د مسجد دګټې لپاره ده نو څکه کومې اداري ته مفت ورکول یې جایز نه دي[1] کرایه دی ترینه خامخا واخستلی شي او هغه دی د مسجد دګټې لپاره استعمال کړی شي و الله اعلم بالصواب.

د مسجد لپاره د وقف شوي قرآن خرڅول :

(٢٨- سوال ، یوسړي په مسجد کې د لوستلو لپاره قرآنکریمونه وقف کړل مګریو بل سړي د پیسو په بدله کې هغه قران شریفونه واخستل هغه وایي چې داسی کول صحیح دي. مهرباني وکړئ په دې باره کې ولیکئ چی ایا د مسجد قرآن خرڅول جائز دی؟ بینوا تو جروا.

خواب: کوم قرآن چی د مسجد لپاره وقف شوی وي دهغه خرڅول جائز نه دي څوکه چیرته له ضرورت نه زیات وي او هسې پراته وي څوک یی نه لولي نو نژدی بل مسجد ته دی ورکړی شي که چیرته ضرورت یی نه وي نو پکار دی چی بالکل وای نخلي[2] (والله اعلم بالصواب).

قبرستان د احاطې جوړولو لپاره دسود اوډ زکوات پیسو لګول :

(٢٩-سوال) مونږ غواړو چې له قبرستان نه چاردیوالي تاو کړو، په دې کې دې کومې پیسې استعمال کړی شي؟ ایا په دې کې دزکات، جواري او سود پیسې استعمالولی شوو؟ بینوا تو جروا.

(خواب) دی لپاره چې دقبرستان توهین اوبی ادبي ونشي دقبرستان نه دیوال تاوول ضروري دي پکاردی چی دی لپاره د حلالې ګټې پیسې ولګولی شي، په دې کې دزکات پیسې لګول جائز نه دي او زکات یی نه اداکیږي، د جواري پیسو لګول هم جائز نه دي. دخپلو مړو له بی ادبي نه دحفاظت په خاطر پکار دي چې دخپل طاقت په مطابق پیسی جمع کړي او چار دیواري دی ورباندې جوړه کړي څوکه وس یې نه درلود نو دمجبوریت په وجه کولی شي لکه بانک نه په سود سره اخستلی شدې پیسې

[1]- باجر السمل فلا یجوز بالاقل ولو هو المستحق قارئ الهدایة الا بنقصان یسیر قال في الشامیة تحت قوله فلایجوز بالاقل ای لا یصح اذا کان بغبن فاحش. مطلب لا یصح ایجار الوقف باقل من اجرة المثل .شامی ج ٤ ص ٤٠٢

[2]- وعن الثانی ینقل الی المسجد آخر باذن القاضی و مثله. فی الخلاق المذکور حیشش المسجد وحصره معا لاستغناء عنها در مختار مع الشامی مطلب فیمالو خرب المسجد اوغیره ج ٤ ص ٣٥٩.

وړباندی ولګوي او چار دیواري دی ترینه تاو کړي فقط والله اعلم بالصواب. ۲۵ شعبان المعظم ۱۳۹۹ ھ کال

د خومره مال وقفول جائز دي ؟

(۳۰- سوال) له یوې کونډې ښځې سره دپنځه ویشتو زرو روپو زمکه، یوکور اوپنځلس تولی سره زر دي هغه ښځه غواړي چې پخپل ژوند کې دخپلو خپلوانو او خپل خان لپاره صدقه جاریه وکړي. هغه خومره مال وقف کولی شي؟ دښځې هیڅ اولاد نشته خو ورونه یې شته. (بینوا و تو جرو).

خواب د ورثاو محروموول لویه ګناه ده. دغې ښځې ته اختیار دی چې له خپل مال نه دخپلوانو او خپل خان ته دثواب په خاطر خیراتونه ورکړي، په دی شرط چې د ورثاو محروموول یا ورته نقصان رسول یې مقصد نه وي. د وقف کولو صورت دادی چې دخپل مال دریمه حصه وقف کړي او که ضرورت وي نو داشرط پکې لګولی شي چې زه به تر مرګه پورې لدینه ګټه اوچتوم، زماله مړکیدو نه وروسته د وقف متولی پخپل قبضه کې اخستی شي فقط والله اعلم بالصواب.

په صلبی اولاد باندی یی یوځیز وقف کړ نو په هغه کې د اولاد اولاد حق لري اوکه نه ؟

(۳۱- سوال) یوسړي پخپل اولاد باندی جایداد وقف کړی دی اوپه وقف نامه کې یې داسی لیکلي دي: ((زه خپل جایداد پخپل صلبی اولاد باندی وقف کوم)) وقف کوونکی سړی مړ شوی دی، دهغه دوه زامن او دوه لورګانې وې، له هغوی نه دوه زامن اویوه لور یی مړه شوی دي صرف یوه لور یی ژوندۍ پاتی ده، دهغه دیو زوی نه دوه هلکان او درې جنوکیانې پاتی دي ښځه یې هم ژوندۍ ده اوس پوښتنه داده چې په دې مسئله کې دهغه د مړ زوی اولاد د وقف په آمدنی کې حق لري او که نه؟ په موجوده صورت کې دې د وقف آمدني او ګټه څنګه تقسیم کړی شي ؟ کومه لور یې چې ژوندۍ ده هغې ته څومره حصه ورکول پکار دي؟ په پوره وضاحت سره ځواب راکړئ. (بینو تو جروا).

(خواب) که چیرته وقف نامه یادهغه نقل مو لیږلی وای نو ښه به و. تاسی په سوال کې دوقف نامې دا عبارت نقل کړی دی:

زه خپل جایداد خپل صلبی اولاد ته وقف کوم. په محاوره کې له صلبي اولاد نه مراد اوله کیده وي د اولاد اولاد ترینه مراد نه وي.لهذا په مذکوره صورت کی ترڅو پورې چې له صلبي اولاد نه کوم یو ژوندی وي همغه د آمدني مستحق دې او ټوله آمدني په نارینه او ښځو اولادو باندی یو برابر تقسیمیږي ترڅو پورې چې څلور واړه اولادونه یی ژوندي وي نو څلور واړه برابر حقدار دي لدینه وروسته چی کوم یو مړشي دهغه اولاد حق نه لري، کله چی له صلبي اولادنه یو هم ژوندې پاتی شي نو دوقف آمدنی دی په فقیرانو وویشل شي د اولاد اولاد په کی حق نه لري خوکه هغوی غریبان وي نو د غربت په وجه هغوی ته هم ورکولی شي نه دحقدار کیدو په وجه.لهذا په صورت مسئوله کی دهغه له صلبي اولاد نه یوازی یوه لور یی ژوندۍ پاتی ده نو د ټول آمدني حقداره همغه ده د مړ زوې اولاد پکې هیڅ قسم حق نه لري.

په درمختار کی دي:

کجعله لولده ولکنّ یختص بالصلبی ویعم لانثی مالـم یقیده بالذکر و یستقل به الواحد فان انتفی الصلبی فللفقراء دون ولد الوالد....

په شامی کی دي:

(قوله ولکن یختص بالصلبی) ای بالبطن الاول ان وجد فلاید خل فیه غیره من البطون لان لفظ ولدی مفرد و ان عمّ معنی بخلاف اولادی بلفظ الجمع علی مایأتی.

په اردو کې له صلبي آولادنه خپل سکني اولاد چې دخپلې ښځې له کیدې نه پیداشوی وي.مراد دې نه د اولادو اولادونه یعنی لمسیان او کړوسیان، په دی صورت کې صرف خپل اولاد یې حقدار ګڼل کیږي نه دهغوی اولاد.

(قـوله ویعم الانثی) ای کالذکر اسم الولد ما خوذ من الولادة وهی موجودة فیهما (قوله ویستقل به الواحد) بان کان له اولاد حین الوقف فما توا الا واحدة. اولم یکن له الا واحد. فان ذلك لواحد یأخذ جمیع غلة الوقف لان لفظ ولدی مفرد مضاف فیعم.(درمختار وشامی ص ۶۰۲ ج ۳ فصل فیما یتعلق بوقف الا ولاد).

د عالمګیري په فتاوی کی دي:

رجل قال ارضی هذه صدقة موقوفة علی ولدی کانت الغلة لولد صلبه یستوی فیه الذکر والانثی واذا جاز هذا الوقف فما دام یوجد واحد من ولد الصلب کانت الغلة

له لا غير فان لم يبق من البطن الاول تصرف الغلة الى الفقراء . ولا يصرف الى ولد الولد.... الخ (فتاوى عالمگيرى ص ٢٠٦ ج ٣. كتاب الوقف، باب ٣،فصل نمبر٢) فقط والله اعلم بالصواب.

يوسړي خپل كور په صلبى اولادو باندى وقف وكړ، دهغه آمدني څنګه ويشل كيږي، كه كوم يو يكې مړشي نو دهغه د حصې حقدار به څوك وي؟

(۳۳- سوال ، يوسړي خپل كور پخپلو صلبى اولادو باندى وقف كړ. هغه دشريعت د دريو پابندو ګواهانو په مخكې داسى اقرار وكړ چې زه خپل دا كور پخپلو زامنو هريو محمد على. محمد انس. محمد جنيد، فاطمه بيګم او ميمونه بيګم باندى وقف كوم وقف كوونكې مړشوى دى، دهغه ټول اولادونه ژوندي دي، دوقف آمدني دى پرهغوى څنګه ويشل كيږي؟ كه چيرته وروسته لـه دغو پنځو اولادو څخه كوم يو مړشي نو دهغه اولادونه او لمسيان په دى وقف كې حق لري اوكه نه؟ لـه مذكوره اولادو څخه يو غواړي چې دغه موقوفه كور خـرڅ كړي او ددى پيسې په حقدارو باندى برابر وويشي ددې څه حكم دى ايا هغه داسى كولى شي؟ مهرباني وكړئ ځواب راكړئ (بينوا توجروا).

(ځواب) د مفتى به قول په مطابق په خوله وقف كول هم صحيح دي.

ثـم ابا يوسف يقول وقفاً بمجرد القول لانه بمنزلة الاعتاق عنده و عليه الفتوى (شامى ص ٤٩٤ ج ٣. كتاب الوقف) (فتاوى دارالعلوم قديم ص ٢٤٩، ٢٥٠ ج ٥ نيز ص ٢٤٠ ج ٥ / ٦ ، عزيز الفتاوى .

په صورت مسئوله كى مرحوم واقف چې څه په ژبه ويلي دي اوپرهغه عادل ګواهان هم موجود دي نوكه مرحوم داسى بل كوم شرط چې دوقف دصحت مانع نه وي لګولى نو دهغه دا وقف صحيح دى . واقف خپل كور صرف پخپلو صلبىاولادو باندى وقف كړى دى اودهغوى نومونه يې هم آخستى دي چې زه خپل كور محمد على، محمد انس. محمد جنيد، فاطمه بيګم او ميمونه بيګم باندى وقف كوم نود مرحوم واقف د منشا په مطابق داكور په همغو خلكو باندى وقف كيږي او همدغه اولادونه دوقف د آمدني حقدار دي ترڅوپورې چې داپنځه واړه ژوندي وي نو دوقف ټوله آمدني به

ددوی ترسنځ یو برابر ویشل کیږي دسخو او سړو ترمنځ به هیڅ قسم فرق نه کیږي لدینه وروسته که کوم یو سړ کیږي نو دهغه حصه په غریبانو باندی به ویشل کیږي دهغه ژوندي ورونه . خویندې او اولادونه دهغه په برخه کې هیڅ حق نه لري چی څه ترینه واخلي. البته که کوم یکې غریب او کمزورې وي نو د غریب په حیثیت سره ورته ددې له آمدنی نه ورکول صحیح او جایز دي.

په درمختار کی دي :

ولو قال علی اولادی ولکن سماهم فمات احدهم صرف نصیبه للفقراء.

په شامی کی دي

(قوله ولکن سماهم)فقال علی فلان وفلان وفلان وجعل آخره للفقراء دررفلو کان اولاده اربعة وسمی منهم ثلثة لم یدخل المسکوت عنه ... الخ (قوله صرف نصیبه للفقراء لانه وقف علی کل واحد منهم بخلاف ما اذا وقف علی اولاد ثم للفقراء ولم یسم الاولاد فمات بعضهم فانه تصرف الی الباقی لانه وقف علی الکل لا علی کل واحد افاده فی لتّدر(در مختار و شامی ص ٦٠٦ ج ٣ فیما یتعلق بوقف الاولاد).

په عالمګیري کی دي :

ولووقف علی اولاد وسما هم فقال علی فلان وفلان وفلان وجعل آخره للفقراء فمات واحد منهم فانه یصرف نصیب هذا الواحد الـــی الفقراء کذا فی فتاوی قاضی خان(فتاوی عالمگیری ص ۲۰۸ ج ۳ کتاب الوقف باب ۳فصل نمبر۲).

کله چی په مسئوله صورت کی دوقف صحت ثابت شي نودهغې خرڅول هرګزنه صحیح کیږي اوکه څوک یی خرڅ کړي نو بیع یې نه صحیح کیږي او خرڅوونکی سخت ګنهګاریږي.

په درمختار کی دي :

(فاذاتـــم ولزم لایملك ولایملك ولایعار ولا یرهن) شامی کی دي: (قوله فاذاتم ولزم) لزومه علی قول الامام باحد الامور الا ربعة المارة وعند هما مجرد القبول ولکنه عند محمد لایتم الا بالقبض والافراز والتابید لفظًا وعند ابي یوسف رحمه الله بالتابید فقط ولومعنی کما علم مامر (قوله لا یملك) ای لایکون مملوکًا لصاحبه ولا یملك ای

لایقبل التملک لغیر بالبیع ونحوه لا ستحالة تملیک الخارج عن ملکه (در مختار و شامی ج۳ ص ۵۰۷ مطلب فی شرط واقف الکتب الاتعارو لایرهن ج ۳ ص ۵۴۵).

پس کله چې وقف دشرایطو په اجتماع اود مواقع په ارتفاع تمام شو نو هغه نه مملوک کیږي اوپه دی نه تملیک شته اونه هم رعایت او رهن (غایة الاوطار ص ۵۶۸ جلد۲. کتاب الوقف) فقط والله اعلم بالصواب.

که څوک د وقف شوي زمکې د خرڅولو کوښښ وکړي نوپه هغه وخت د مسلمانانو څه مسئولیت دی ؟

(۳۳-سوال)یوه زمکه په اولاد باندی وقف شوی ده او دکلي ټول خلک دهغه په وقف کیدو باندی خبر هم دي. مګر دا وخت د واقف له اولاد څخه یوتن د رشوت په ورکولو سره د حکوست په ذریعه هغه زمکه له وقف نه آزاده کړیده اوس هغه دغه وقف شوی زمکه په یو نا مسلمانه سړي باندې خرڅول غواړي. خلکو هغه ډېر پوه کړ خو هغه په خرڅولو اصرار کوي په دی صورت کې دکلي مسلمانانو ته څه کول پکاردي پرهغوی باندی څه قسم شرعي زمه واري او مسئولیت دی؟. بینوا توجروا.

(جواب) د وقف علی الاولاد د باطل کولو اودهغه د خرڅولو حق نه اولاد ته حاصل دی نه حکوست او قضاته. په درمختار کی دي:

(فاذا تم ولزم لایملک ولایملک ولایعار ولایرهن) پهِ شامي کی دي: (قوله لایملک) ای لایکون مملوکاً لصاحبه ولا یملک ای لا یقبل التملیک لغیره بالبیع ونحوه لاستحالة تملیک الخارج عن ملکه (درمختار و شامی ایضاً۳/ ۵۰).

په هدایه کی دي:

واذا صح الوقف لم یجز بیعه ولا تملیکه اما امتناع التملیک فلما بینا ای ماروی من حدیث تصدق باصلها لا یباع ولایوهب. (هدایه اولین ص ۶۲۰ ،ص ۶۲۱، کتاب الوقف).

په شرح الوقایه کی دي:

فاذا صح الوقف لایمک ولا یملک... الـــی قوله....والا صح انه لایجوز فان الوقف بعد الصحة لایقبل الملک کالحر لایقبل الرقیة (شرح الوقایه ص ۴۱۱ ج۲ کتاب الوقف).

په مسوله صورت کی د واقف له اولادی څخه یوتن نه غواړي چې وقف پاتی وساتی هغه د واقف د منشا او غوښتنې مخالفت ته یی ملاتړلی ده او پر نامسلمانه سړي باندی یی خرڅول غواړي نو مسلمانانو ته پکاردي چې هر رنګه وي وقف پخپل حال کی دپاتی کولو کوشش وکړي او هغه دیته پرینږدي چی وقف شوی زمکه خرڅه کړي. په دی کی دی له غفلت او لټې نه کار نه آخلي. اوکه خدای ناخواسته دهغه په مخنیوی کی کامیاب نه شي نو بیادی دمجبوري په صورت کی هغه ته څه پیسې ورکړي او موقوفه زمکه دمرحوم واقف پاتی اولادوته پدی شرط سره ورکړي چې هغوی د وقف پوره ذمه داري سره حفاظت وکړي اود واقف د منشا په مطابق عمل وکړي اوکه داصورت مشکل وي نو یوه کمیټی دی جوړه کړي اودا وقف شوی زمکه دی دهغو انتظام ته وسپاري او هغه کمیټی دی ددی آمدني په غریبانو باندی خرج کړي. اوکه چیرته داسی هم نشي کولې نو آخري کاردی داوکړي چې موقوفه زمکه دی کوم مسجد یا مدرسی ته وسپاري. غیر مسلم ته دی په هیڅ حالت کی نه پریږدلي چی وای خلي. لدینه مقصد د وقف شوي زمکې اخستل نه دي بلکې ددی دبچ کولوپه خاطر فقهي اصول ((من ابتلی ببلیتین فلیختراهونها)) په نظر کی نیولو سره د اخف صورت د خپلولو مشوره ورکول شوی ده فقط والله اعلم بالصواب.

دقبرستان زمکه دخارویو دساتلو لپاره ورکول

(۳۴) ایا د قبرستان زمکې په دی خاطر چاته ورکولی شوو چی خاروي پکې وساتي:

(ځواب) د قبرستان زمکه دمړو دخښولو لپاره وقف کیږي لهذا دقبرستان زمکه دې په هغه کار کې استعمال کړی شي چې دکوم مقصد لپاره وقف کړی شوی ده، له هغه نه پرته دبل کار لپاره دهغه استعمالول جائز نه دي.

په درمختار کی دي : شرط الواقف کنص الشارع. درمختار ۳/ ۵۷۵، کتاب الوقف)

په شامی کی دي: عـلی انهم صرحوا بان مراعاة غرض الواقفین واجبة شامي ۵۸۵/۳ کتاب الواقف.

لهذا دقبرستان زمکه د خاروو د ساتلو لپاره چاته ورکول جائز نه دي. که چیرته زمکه همداسې هواره وي نو دهغه شاوخوا دی دیوال تاو کړی شي ترڅو حفاظت یی وشي فقط والله اعلم بالصواب.

که لـه غیر وارث ترکی نه څه زمکه د مسجد لپاره وقف کړي نو وقف نه صحیح کیږي:

(۳۵- سوال) یوسړی مړشو دهغوی په وارثانو کی دوه ښځې درې هلکان یو جلی او پنځه ورونه دي. دهغه له مړکیدونه وروسته د مرحوم ورونو دهغه له ملکیت نه څه حصه د کور، زمکې مسجد او قبرستان لپاره وقف کړ، سوال دادی چی اصل وارثان دهغه زامن لورګانې اوښځې دي، دهغوی په موجودګي کې دهغوی له رضا او اجازې نه پرته ورونو چې کومه زمکه وقف کړی ده ایا هغه صحیح کیدای شي؟ که چیرته د مرحوم ښځې او اولادونه دغه وقف ونه مني نوهغوی هغه وقف شوی زمکه واپس اخستلی شي یانه؟

(ځواب) هو الموفق. دمرحوم په وارثانو کې دوه ښځې درې هلکان یوه جلی او پنځه ورونه موجود دي نو په مذکوره صورت کې دهغه دمال او ملکیت حقدار دهغه دوه ښځې اودهغه درې هلکان اویوه جلی ده، دمرحوم ورونه په هغه کې هیڅ حق نه لري که چیرته ورونه یی شرعاً وارث وای نو په خپله حصه کې د دا ډول تصرف کولو حقدار وو، لهذا په صورت مسئوله کې د مرحوم ورونو ته د مرحوم په ترکه کې د تصرف او وقف کولو هیڅ حق نشته که چیرته د مرحوم ورونو لـه خپل ځان نه څه زمکه او کور وقف کړی وي مګر نه مرحوم پخپله دهغوی د وقف کولو وصیت کړی وي او نه هم دهغوی شرعي وارثانو اجازه ورکړې وي نو دهغوی دا وقف صحیح نه دې، نو کله چې وقف صحیح نه شو نو دکور او زمکې اصلي وارث دابیرته اخستلی شي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

د اوږدې مودې لپاره د موقوفه زمکې دکوم مصلحت په خاطر کرایه باندی اخستل یا ورکول څنګه دي؟

(۳٦- سوال) په یو کلي کې یوه عربي مدرسه ده په هغه کې ۳۵۰ شاګردان دهدایه اولین پورې سبقونه وایي ۳۰ استاذان او ۲۰ پکې درسي کوټې دي، مسجد پکې هم شته په دارالاقامه کې ۲٦ کوټې، د استاذانو کورونه او اشپزخانې موجودې دي مدرسه

---

[1] وشــرط دسائر التبرعات افادان الواقف لابدان یکون مالکا وقت الوقف ملکا باتاولوبسـت فاسد ان لایکون محورا عن التصرف لو وقف الغا المغصوب لم یصح شامی کتاب الوقف. مطلب قدیثبت الوقف بالضرورة.

چې په کومه زمکه جوړه شوی ده هغه زمکه د مدرسې مملوکه زمکه نه ده بلکې ددغه کلي د يو مسجد وقفي زمکه ده. په دی زمکه باندی له نن نه ۲۲ کاله وړاندی د علاقې دسخت ضرورت په وجه دغه مدرسه جوړه کړی شوه، د مدرسې د جوړيدو په وخت کې ددی سيمې له مشهور او معروف مفتي صاحب نه دفتوه په اخستلو سره کرايه مقرره شوی ده تر ننه پورې مدرسه دکلي مسجد ته ددغه وقفي زمکې کرايه ورکوي اوس مدرسه غواړي چی هغه زمکه په پيسو واخلي ايا شرعاً دی لپاره دجواز کوم صورت وتنی شي اوکه نه ؟ که چیرته شرعاً د آخستلو اجازه نۀ وي نو مدرسه دا زمکه ديوې اوږدې زمانې لپاره په داسې طريقې سره په کرايه اخستلی شي چې دده کرايې ټولې پيسې يوځای پیشکي ورته ورکړي ايا داصورت جائزدی اوکه نه؟

داخبره دی واضحه وي چې داکار ديوخاص مصلحت په خاطر کولې شي يوداچې په دغه زمکه باندی دمدرسې کافي کوټې جوړې شوي دي بل داچې د مسجد کميټه فی الحال اطمنان بخش ده . وړاندی خطره ده چی دکميتی دبدليدو په صورت کې به هغوی ددغې زمکې د واپس کولو غوښتنه وکړي او مدرسه ـله سخت مالي او تعليمي بحران سره مخامخ شي. اميد دې چې تاسې په دې اړه زمونږ رهبري وکړئ. الله پاک دی تاسوته په دواړو جهانونو کې ښه اجر درکړي آمين . بينوا تو جروا.

(ځواب) هوالموفق: د وقف څيز خرڅول خو باطل دی نوځکه ددغې موقوفې زمکه خرڅول او اخستل جائز نه دي. همدغه راز فقهای کرامو داهم منع کړی دي چې وقف زمکه تراوږدې مودې پورې په کرايه ورکړی شي ځکه چې په دی کار سره د زمکې دضايع کيدو ويره ده، د زمانې په تيريدو سره يا هغه پخپله د زمکې وارث ځان ګڼي اويا دهغه اولادونه هغه زمکه خپل ملکيت ګڼي او وربانديی قابض کيږي.

مګر په مذکوره صورت کی چون په دغې زمکې باندی د مدرسې عمارت او کوټې دي اوله هغه ځای نه د کوټو او تعمير به لرې کولو سره مدرسه زيات نقصان سره مخامخ کيږي همدغه راز هغه مصلحت هم ـله نظره نشي غورځيدلې چی تاسی ليکلي دي نوځکه په صورت مسئوله کې که داشکل جوړيدی شي چی مسجد د مدرسې ټول عمارت او کوټې واخلي او بيا مدرسه په دې کې د کرايه په توګه پاتی شي نودا صورت او شکل دی غوره کړی شي اوکه دا صورت هم ګران وي او مدرسه تراوږدې مودې پورې په کرايه واخلي او کرايه ټول پيشکي يو موټې ورکړي اوپه دی کی وقف ته څه ضرر هم نه وي نو بياداسی هم کيدای شي اوپه دی باندی مدرسه اودکلي مشران هم

گواه ونیول شي او سرکاري ستامپ باندی ولیکلی شي چې دا عربي مدرسه په کو
زمکه باندی جوړه شویده هغه زمکه دکلي د مسجد وقفي زمکه ده د مدرسې خپل
مملوکه زمکه نه ده او مدرسې دا ددومره وخت لپاره په کرایه نیولي ده ترڅو
راتلونکی لپاره ددغې وقفي زمکې دضیاع کیدو ویره بالکل پاتی نشي.
په درمختار کی دي :
(و بثلاث سنین فی الارض) الا اذا كانت المصلحة بخلاف ذلك وهذا مما يخلف زمانا
وموضعا (درمختار) په شامي کی دي : (قوله الا اذا كانت المصلحة بخلاف ذلك) هذا
احد الاقوال الثمانية وهو ماذكره الصدر الشهيد من ان المختـــار منه انه لايجوز في
الدور اكثر من سنة الا اذا كانت المصلحة فی الجواز وفی الضياع يجوز الى ثلث سنين
الااذا كانت المصلحة فی عدم الجواز و هذا امر يختلف باختلاف الواضع و اختلاف
الزمان ٥١ (درمختار و شامی ج٣ ص ٥٤٩ فصل يراعى شرط الوقف فی اجارته).
فتاوی دارالعلوم قدیم کی دي :
(الــجواب) قال فی رد الــمختار عن الامام ابی حفص البخاری انه كان يجيز اجارة
الضياع ثلاث سنين فان اجر اكثر اختلفوا فيه وقال اكثر مشائخ بلخ لايجوز وقال
غيرهم يرفع الا مر الى القاضی ثم قال قول المتقدمين عدم تقدير الا جارة بمدة ورجحه
فی انفع الـــمسائل و الـــمفتی به ماذكره الـــمصنف خوفا من ضياع الوقف. ثم قال
تحت قول الدر الا اذا كانت المصلحة بخلاف ذلك، واشار الشارح الى انه لايخالف
مافی المتن لان اصل عدول المتاخرين عن قول المتقدمين بعدم التوقيت انما هو بسبب
الخوف على الوقف فاذاكانت المصلحة الزيادة او النقصان اتبعت وهو توفيق حسن
انتهی (شامی ص ٤٣٣ ج ٣). وقال فی اتحاف الا خلاف فی احكام الاوقاف
فجوزت مسئلة الا جارة الطويلة فی الاوقاف خلافاً للقياس لمسيس الحاجةوسوع
الـــمستاجرون تلك الاوقاف بكثير من المـــنافع والفوائد (ص ١٢٧).
له مذکوره عبارتونو څخه ثابت شو چې که دوقف متولي دا وګوري چې د اوږدې
زماني لپاره په اجاری ورکولو کې ګټه ده اوپه نه ورکولوکې نقصان دی نو هغه ته حق
اجازه ده چې وریې کړي. اوپه مسئوله صورت کی چون دیو کال اجاره او دسلو کال

اجاره د حکومت په قانون کی برابر دي اوسل دوه سوه کلو اجاره کې فائده ده نو ځکه دا اجاره جائزه ده پدی شرط چی وقف ته څه ضرر نه وي.
فتاوی دارلعلوم قدیم ص ۲۷٦ و ص ۲۷۷ جلد نمبر ۵-٦ امداد الـمفتی کتاب الوقف
فقط والله اعلم بالصواب.

د سرکاري قانون په مرسته د موقوفه زمکې مالک جوړيدل څنګه کار دی؟

(۳۷- سوال) هندوستاني حکومت یوداسی قانون جوړ کړی و چې په کوم کور کې څوک اوسیږي داد همغه کور دی او کومه زمکه چې څوک کري دا زمکه دهمغه ده. له دی قانون نه مسجدونه او مدرسې هم مستثنی نه وو د حکومت له طرف نه چی ادارو لپاره کوم مقدار ټاکل شوی و بس په همدومره اندازه زمکه به د اداری لپاره ساتل کیده له دی نه زیاته زمکه دسرکاري قانون تر زدلاندی د راتلو په وجه هغه زمکه یابه حکومت پخپله آخستله او یا به له چاسره چی وه همغه ته به د ورکولو اختیار درلود، زمونږ دکلي مسجد او مدرسې سره هم کافی زمکه وه چی خلکو ته یی د کرلو لپاره ورکړی وه. له قانون نه چی کومه زمکه زیاته وه د هغه په اړه دامشوره وشوه چی لـه کومو خلکو سره د مسجد او مدرسې وقفی زمکه د کرلو لپاره موجوده ده، صرف حکومت ته دښودلو لپاره دهغه په نوم وکړی شي خو اصل ملکیت به لـه مسجد او مدرسې سره وي، بیابه په مناسب وخت کی بیرته مسجد او مدرسې ته حواله کیږي. د زمکې لـه دهقانانو سره په ژبه همدا معاهده وشوه او زمکه دهغوی په نوم کړی شوه.دهقانانو هم عهد وکړ چی په مناسب وخت کې به مونږ دا زمکه لـه خپل نوم نه کټ کوو او بیرته به مسجد او مدرسې ته ورکوو.
که چیرته مونږ په هغه وخت کې داسی کار نه وای کړی نو دازمکې به بالکل ضائع او له لاسه وتلې وې خو کاله پهدی حالت کی تیرشول، اوس نوی حکومت جوړشوی دی ددی خانته پالیسی ده اوپه دی قانون کې ترمیم یی کړی دی او هغه پخوانی ترمیم یی‌له منځه وړی او ختم کړی دی په دی وخت چی مونږ د زمکې دهقانانو ته له هغوی سره شوی معاهده ورپه یادکړه اود زمکې د واپس کولو غوښتنه مو وکړه نو هغوی صاف انکار کوي. نو اوس سوال دادې چې په مذکوره صورت کی د حکومت دقانون په

مرسته وقفي زمکه باندې قبضه کول جائز ده اوکه نه؟ مدلل او صحیح ځواب راکړئ. بینوا توجروا

(ځواب) حامداً و مصلیا ومسلماً. کوم سړی چې خپله زمکه د مدرسې یا مسجد لپاره وقف کړي او شرعي اصولو په مطابق وقف تام او لازم شي نو هغه زمکه ترقیامته پورې وقف ده، په هیڅ وخت او هیڅ حالت کی دا وقف نشي ختمولې او هیڅوک دهغه مالک نشي جوړیدې. همدغه راز د موقوفه زمکې خرڅول. ګرو کول، چاته هبه کول هم جائز نه دي. دفقهی په کتابونو کې په دی اړه واضح دلائل موجود دي.

په درمختار کی دي

(فاذا تم ولزم لایملك ولایملك ولایعار ولایرهن په رد المختار کی دي (قوله لا یـملك) ای لایکون مملوکا لصاحبه ولا یملك ای لایقبل الـتملیك لغیره بالبیع ونحوه لا ستحالة تملیك الخـارج عن مالکه (در مخـتار ورد الـمختار ۳/ ۵۰۷ مطلب فی شرط واقف الکتب ان لاتعار ولایرهن).

په هدایه کې دي:

و اذا صح الوقف لـم یجز بیعه ولا تـملیکه اما امتناع الـتملیك فلما بینا ای ماروی من حدیث تصدق باصلها لایباع ولایوهب (هدایه اولین، ص ۶۲۰، ۶۲۱ کتاب الوقف).

په شرح الوقایه کی دي :

فاذا صح الوقف لا یملك ولایملك.... والاصح انه لایجوز فان الوقف بعد الصحة لایقبل الـملك کالحر لا یقبل الرقیة (شرح الوقایه ص ۴۱۱ ج۲ کتاب الوقف).

په مسئوله صورت کی د کومو خلکو په قبضه کې چې دمسجد او مدرسې زمکه ده د معاهدې په مطابق باید هغه زمکې بیرته مدرسې او مسجدته ورکړي، اوکه دسرکاري قانون په مرسته پردغو زمکوباندی پخپله مالک جوړیدل غواړي نوداهغوی لپاره قطعاً حرام او ناروا دي ځکه چې د حکومت دقانون په وجه وقف نشي ختمیدلې اوپه هیڅ حالت کی هغوی ددغې زمکې مالکان نشي کیدلې هغوی ته پکاردي چې فوراً خپل قبضه ختمه کړي او زمکې بیرته مدرسه او مسجد ته وسپاري که نه نو سخت ګنهګار دی اوله دغې زمکې نه چې هغوی هرڅه خوري هغه ورته حرام دي. د ایمان تقاضا داده

چې سرکاري قانون که هرځنګه وي دهغه په مرسته باید په وقفي زمکه باندی قبضه ونه کړی شي اوکه چیرته په کوم وجه په موقوفه زمکه یاکور او نورو څیزونو باندی دچا قبضه شوی وي نو مسلمانان دی دخپل وس په مطابق کوشش وکړي اودهغوی له قبضې نه دا راوباسي په اسلام کې دوقف ډیر لوی اهمیت دی او ددی حفاظت کول اسلامی فریضه ده

حضرت مولانا محمد برهان الدین سنبلی صاحب لیکي:

که چیرته د مسجد او قبرستان پر زمکه د کفارو غلبه هم وشي نو بیا هم هغه زمکې شرعاً مسجد یا قبرستان پاتی کیږي .

په هندوستان خصوصاً په یوپی کې د زمینداری د خاتمې لـه قانون نه وروسته یوه خصوصي مسئله دا راپیدا شوه چې کومې زمکې موقفه وي، که پرهغه باندی د هندوستان د حکومت نوی قانون له مخې کوم مسلمان یا غیر مسلم پرهغه مالکان شي او قبضه ترلاسه کړي نو ایا هغه زمکې دهغوی په ملکیت کې راتلی شي اوکه نه؟ استیلاء کفار علـی اموال المسلمین دمشهور فقهی اصول لـه عموم نه په استدلال کولو سره ظاهراً ددی ګنجائش را اوځي چې دا هم په ملکیت کی راتلی شي، مګر داصرف یوه مغالطه او غلط فهمی ده. ځکه چی چیرته دا اصول ترلاسه کیږي هلته ددې خبرې صراحت هم موجود دي چې دکفارو د استیلا په وخت کی چی هغوی دمسلمانانو مال واخلي نو دا غلبه پرهغو ځایونو کې دملکیت سبب جوړیږي چیرته چی د ملکیت د منتقل کیدو شرعاً ګنجایش موجود وي. لیکن په داسی ځایونو کې چی هلته شرعاً دملکیت د منتقل کیدو امکان نه وي نو هلته د هیڅ یوکافر غلبه مخکینی حالت نشي بدلولې. په هدایه کی دي:

لا يملك علينا اهل الحرب بالغلبة مدبرينا و امهات اولادنا، باب استلاء الكفار ج ۲ ص ۵۸۲ .

که د غلبې په ترلاسه کولو سره حربي کافر د مسلمانانو ام ولد یامدبر ونیسي اوله ځان سره یوسي نو هغه هم مالک نشي جوړیدلې ددې وجه د هدایه مشهور شارح او محقق ابن همام رحمه الله دالیکلي ده : لان النسب... يفيد الـملك لمايرد عليه فى محله المال الـمباح ايضاً. د کفارو په غلبې سره دهغه ملکیت هلته قائمیږي چیرته چې دهغه اهلیت وي یعنی په مباح مال کی (چیرته چی دچا د ملکیت منتقل کول جائز وي).

اودا خبره معلومه ده چې وقف شوی مال د چاپه ملکیت کی نشي راتلی نو څکه د مذکوره اصل په وجه که چیرته حکومتی قانون له کبله په موقوفه زمکه د چا قبضه وشي نو هغه شرعا هیڅ اعتبار نه لري اوهغه زمکه په شرعي لحاظ سره دمځکینی پشان موقوفه ده، نوځکه هیڅ یو مسلمان ته جائز نه دي چې موقوفه زمکې خپل ملکیت وګرځوي. اوکه چیرته په دی موقوفه زمکه باندی د حکومتی قانون له مخې دکوم کافرقبضه شوې وي نو مسلمانان دې په پوره توان کوشش وکړي چې له هغه نه دازمکه بیرته واخلي. د حضرت تهانوي رحمه الله علیه هم داسی یوه فتوه موجوده ده، دهغه دافتوه عربي فتوه بوادر النوادر ص ۴۷۱- ۴۷۲جلد۲ کې موجوده ده زه دهغه له دی فتوی نه وروسته خبرشوم خو لدینه مخکې ماخپل رای وړاندی کړی وه نوځکه په قدرتی توګه په دی توافق سره زیات خوشاله شوم.

په دی سلسله کې یو اوږد علمی بحث کال ۱۹۷۵ ع ۱۳۵۳ هجري کی ((اخبار الجمعیه)) ډهلی کی خپورشوی دې، په هغه کې ماهم ګډون درلود، دهغه خلاصه او لنډیز هم همدادې چې پورته بیان شو (دموجوده زمانې د مسائلو شرعي حل ص ۸۹-۹۰) فقط والله اعلم بالصواب.

یو سړي دغصې په حالت کې خپل مشترکه حصه وقف کړ اوس دهغې پرځای دهغه قیمت ورکول غواړي :

(۳۸- سوال) زه خپل درې زامنو او دوه لورګانو سره خپل پلرنې کور په لاندیني منزل کې اوسیږم زما ټول اولادونو ودونه کړي دي، د کور لاندینی منزل زما په قبضه اوملکیت کی دې او پورته بالاخانه کې زما مرحوم ورور محمد اشرف اوسیدو او هغه واده نه و کړې مخکې زما او زما د ورور کار اوبار شریک وُ، بیامو په خوشالي سره خپل کارو بار جداکړ، لـه نن نه تقریباً ۷ کاله وړاندی زمادښځې او زما د ورور ترمنځ جګړه وشوه چې دهغې په وجه خبرې اترې او تعلقات ختم شول. په دغه وخت کې چې مونږ مرور وو او خبرې مونه کولې نو زما ورور د کور پورتنی حصه چې پخپله ورباندی قابض و دمحلې دیو مسجد لپاره وقف کړ، دا واقعه تقریباً ۱۹۸۷ ء کال ده. زما ښځه په کال ۱۹۹۱ کې له دی دنیانه رخصت شوه، زمادښځې له مړ کیدونه وړاندی له ورور سره زمونږ تعلقات او اړیکې بیرته ښې شوې وې. په کال ۱۹۹۴ ع کې زما ورور ددغه مسجد منتظم ته وویل چې زه له خپل وریندار سره د خفګان په وجه په غصه کې راغلم او

دخپل ورور او وریرونو حق مې تلف کړ اود مسجد په نوم مې خپله حصه وقف کړې وه اوس چې زما وريدندار مړه شوې ده او زما اړیکې له خپل ورور او وریرونو سره ښې دي نو اوس زما هیله او خواهش دادې چې زه خپله حصه چې دمسجد په نوم مې وقف کړې ده لـه مسجد نه واپس واخلم دخپلو وریرونو په نوم ولیکم. د مسجد منتظم راته وویل صحیح ده لومړی به راندیر ته لاړشو او هلته به له مفتی صاحب نه ددې مسئلې په باره کې پوښتنه وکړو چې آیا مسجد په نوم وقف کړی شوی څیز واپس اخستل کیږي او که نه ؟ راندیر ته د راتلو اراده وه خو دځینو خنډونو لـه کبله پاتې شوم، زما ورور لـه منتظم صاحب سره دوه درې ځلې خبرې کړې دي لدینه علاوه د مسجد منشي صاحب سره هم چې د کلونو کلونو راهیسې د مسجد حساب او کتاب لیکي خبرې اترې او مشوره کړیده.

راندیر ته د راتلو اراده یې درلوده خوپه دی وخت کې زما ورور په یوه حادثه کې مړشو اوستاسی په خدمت کې لـه حاضریدونه پاتې شو، اوس زه اود مسجد منتظم ستاسې محترم ته عرض کوو چې زما ورور کومه حصه وقف کړی وه دهغه څه وکړی شي؟ زما ورور چې کوم وقف نامه لیکلې وه هغه هم حاضره ده ایا دا وقف صحیح دی، ایا موږ دخپل مرحوم ورور دهیلې او خواهش په مطابق لـه مسجد نه موقوفه جایداد واپس آخستلی شوو؟ موږ ته لاربنوونه وکړئ. جزاکم الله، بینوا توجروا.

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم. حامداً و مصلیاً ومسلما، وهو الموفق.

مرحوم محمد اشرف په سوال او وقف نامه کې دخپل ناویشل شوی ملکیت نیمه حصه پخپل ژوند کې د محلې یو مسجد ته وقف کړی ده او وقف نامه یې هم لیکلې ده، په وقف نامه کې لیکلي دي چې زه د ژوند تر آخرنیو سلګیو پورې په دغه کور کې د اوسیدو او ددې آمدنې د ترلاسه کولو دحق برقرار لرلو سره سره خپل دغه جایداد د محلې مسجدته وقف کوم. دغه وقف د امام ابویوسف په قول صحیح دی نو څکه هغه نشي باطلیدای. اوس د محلې ددغه مسجد متولیانو ته پکاردي چې دغه کور د مرحوم محمد اشرف او دهغه ورور ادریس ترمنځ وویشي او مرحوم محمد اشرف په برخه کې چې کوم نیم کور راشي هغه دې د مسجد موقوفه جایداد وګڼي.

مرحوم چې پخپل ژوند کې داوسیدو کوم شرط په وقف نامه کې لیکلې دې، هغه صحیح دې داسې شرط لګیدی شي. په درمختار کی دي:

(کما) صح وقف (مشاع قضی بجوازه) لانه مجتهد فیه فللحنفی المقلدان یحکم بصحة وقف الــمشاع وبطلانه لاختلاف التوجیه و اذا کان فی المسئلة قولان مصححان جاز الافتاء والقضاء باحدهما بحر و مصنف (درمختار مع ردالــمختار،۳/ ۵۱٦، ۵۱۷ مطلب فی وقف المشاع المقضی به).

په درمختار کی دي:

(وجاز جعل غلة الوقف) او الولایة (لنفسه عند الثانی) وعلیه الفتوی(قوله وعلیه الفتوی) کذا قاله الصدر الشــهید وهو مختار اصحاب الــمتون ورجحه فی الفتح و اختاره مشایخ بلخ وفی البحر عن الحاوی انه الــمختار للفتوی ترغیباً للناس فی الوقف وتکثیر اللخیر.(مطلب فی اشتراط الغلة لنفسه ردالــمختار۳/ ۵۳۵).

(ځواب) د مشارع وقف د امام ابویوسف په نزد صحیح دی اوپه همدی فتوه ده،له وقف کولو نه وروسته دی د وقف شوي حصه جلا اوتقسیم کړی شي، برابره خبره ده چې دا تقسیم دخپلې خوښې او رضاپه نتیجه کې وشي اویا هم د عدالت په ذریعه(فتاوی دارالعلوم قدیم صفحه ۲٦۹ جلد۵-٦ عزیزالفتاوی).

همدارنګه د دارلعلوم په فتوه کی دي چې کوم سړی د وقفِ آمدني ترخپل آخرني ژوند پورې پخپل نوم کول غواړي نو دهغه دا وقف صحیح دی په دی کی دهغه بو وارث هم څه حق نشته.

قال فی الدر الــمختار من الوقف وجاز جعل غلة الوقف او الولایة لنفسه عند الثانی وعلیه الفتوی(فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۲٦۷ ج ۵، ٦).

مرحوم په وقف نامه کې ښه په وضاحت سره لیکلي دي چې د جایداد د ویشلو په وخت کې زمایه حصه چی متولي حضرات څه ترلاسه کړي نوکه چیرته ددغه جائداد د خرڅولو ضرورت محسوس کړي نو هغه دی خرڅ کړي او نقدې پیسې دې واخلي او دادې هم وقف کې حساب کړي، نوددغه وضاحت او تصریح په وجه که د مسجد متولي خرڅول غواړي نو خرڅولی شي، دخرڅولو په وخت کې چې دبازار کوم نرخ وي هغه دی په نظر کی ضرور ونیول شي. په څومره قیمت چی خرڅ کړي په همغو پیسو دی د مسجد لپاره په بل ځای کی غیرمنقوله جایداد واخلي اودغه جایداد د اصلي وقف قائم

مقام کنل کیږي په دی تول کار کې دې ددې لحاظ وسائل شي چې دوقف نقصان ونشي

په درمختار کی دي:

وجاز (شرط الاستبدال به) ارضاً اخری (او) شرط بیعه ویشتری بثمنه ارضا اخری اذا شاء فاذا فعل صارت الثانیة کالا ولی فی شرائطها وان لم یذکرها ثم لا یستبدلها) بثالثة لانه حکم مثبت بالشرط والشرط وجدفی الاولی لا الثانیة. (درمختار).

په شامي کی دي:

قوله وجاز شرط الاستبدال به الخ اعلم ان الا ستبدال علی ثلاثة وجوه، لاقل ان یشترطه الواقف لنفسه او لغیره او لنفسه وغیره فالا ستبدال فیه جائز علـــی الصحیح وقیل اتفاقاً ویجب ان یزاد اخر فی زماننا وهو ان یستبدل بعقار لا بدراهم ودنانیرفاناقد شاهدنا النظار یأکلو نها وقل ان یشتری بدلا ولم نر احداً من القضاة فتش علی ذلك مع کثرة الاستبدال فی زماننا(درمختار وردالـــمختار ص ۵۳۵، ص ۵۳۶، ص ۵۳۷ ج۳ مطب فیاستبدال الوقف وشروطه).

فتاوی دارالعلوم قدیم کی دي : لـه حکومت نه چې دکومې موقوفې زمکې معاوضه ترلاسه کړي نو ضروري ده چې په دغو پیسو نور جایداد واخلي او موقوفه جایداد کې حساب کړي او دغه پیسې دې په نورو کارونو کې بالکل نه لګوي الخ.(فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۳۳۹).

عزیز الفتاوی فقط والله اعلم بالصواب ۳ ربیع الثانی کال ۱۴۱۵ ه ۴/ ۵/ ۱۰.

د رفاهي ادارو په دستور کی داسی بدلون چی له اصلي مقصد نه مخالف وي

(۳۹- سوال) زمونږ یوه اداره ده چې نوم یې ((ګجرات مسلم ایسوسی ایشن)) دی. خوکاله وړاندی د ((انجمن تعلیم المسلمین)) الحاق زمونږ لـه ادارې سره وشو، مونږ دانجمن مالي تعاون کوو د انجمن مسئولین او ذمه داران له مونږ نه په مهمو کارونو کې مشوره آخلي او زمونږ دمشورو احترام هم کوي. اوس یوه مهمه خبره مخې ته راغلې ده دهغې په اړه د انجمن ذمه دارانو مونږ ته یو خط لیکلې دې چې دارنګه دی :

انجمن په کال ۱۹۶۸ کې جوړ شوی دی، دهغه تر نظر لاندی انجمن هایي سکول جوړولې شي د انجمن اصل مقصد دغریبو مسلمانانو د ماشومانو دیني او دنیاوي تعلیم ورکول او هعوی ته کار اوکسب ور زده کول دي. دهندوستان حکومت یوقانون جوړ کړی دې چې په هغه کې لـه رفاحي اداره نه د ټیکس رعایت ختم کړی دی یعنی د ترسټ په آمدنی باندی د ټیکس ورکولو قانون لګولی دی له دغه قانون نه دبچ کیدو په خاطر د مذکوره انجمن مسئولو د انجمن په دستور کی ترمیم کړی دی. دانجمن په دستور کی دادي: ((دمسلم قوم غریبو ماشومانو لپاره)) له ترمیم نه وروسته یې د مسلم قوم پرځای یې سیکولرلیکلی دی، ددغې ترمیم په وجه دهریو قوم ماشومان به په دې کې داخلولی شي. البته ددې ترمیم په وجه مذکوره اداره د ((انډین ګورنمنټ انکم ټیکس)) له قانون نه مستثنی کیږي نو آیاپه دستور کې دداسي ترمیم کولو شرعاً څه جواز شته او که نه ؟ یوه بله خبره داده چې کوم وخت د مذکوره انجمن لـه طرف نه دچندې اپیل شائع شوې و په هغه کې هم د انجمن المسلمین دقیام مقصد دمسلمانانو د نادارواو غریبوماشومانو لپاره د تعلیم انتظام ښودل شویدی. تاسی مهرباني وکړئ د دی پوښتنې ځواب راکړئ او مونږ ته لارښوونه وکړئ الله تعالی دی تاسو ته په دواړو جهانو کې ښه اجر درکړي. امین فقط والسلام بینو وتوجروا.

(ځواب) باسمه تعالی حامدا مصلیا و مسلماً.

په مسئوله صورت کی انجمن تعلیم المسلمین خالص د مسلمانانو دغریبو ماشومانو د دیني تعلیم اوضرورت په اندازه دنیاوي تعلیم یا کسب د ښودلو لپاره جوړ شوې و، اود همدغه مقصدونو په نظر کې نیولو سره لـه خلکو نه د چندې ورکولو غوښتنه شوې ده او خلکو هم دهمدغه مقصد لپاره چنده ورکړی ده همدغه راز تقریبا یو نیم کاله وړاندی دابتدایي.مکتب د جوړولو لپاره هم انجمن دچندی اپیل کړی و چی په هغه کې دمولا اجمیري ، زما او نور علماو دستخطونه وو، په هغه کې ما د ذمه دارو کسانو توجه دی طرف ته اړولی وه چې دابتدایي ښونځي د انجمن اصل مقصد دیني تعلیم دې، خوله دیني تعلیم سره سره دی ماشومانو ته دنیاوي تعلیم هم وښودل شي، زماله دغې خبرې سره د انجمن ذمه دارانو هم توافق کړی و کله چې ددغه انجمن اصل مقصد دیني تعلیم او ورسره ورسره دضرورت په اندازه دنیاوي تعلیم هم دی اوپه دستور کې هم تردی حده پورې وضاحت موجود دی چې :کله دا اداره په مالي لحاظ سره خودکفاشي نو په لومړی فرصت کی دی هغه ته د دارلعلوم په څیر شکل او بڼه ورکړی

شي او اوس ددی بالکل برعکس په نوي سکیم او منصوبه کې اصلي مقصد له منځه وړل کیږي کویا په اصل دستور او مقصد کې بدلون راوړل کیږي نو ځکه دداسې بدلون اجازه نشي ورکول کېدې. لنډه داچې اداره او انجمن د کوم مقصدونو لپاره جوړ شوی دی دهمغو مقصدونو پرځای ساتل ضروري دي، په هغه کې دې باید بدلون ونکړی شي او خلکو چې دکوم مقصد لپاره چندې ورکړي دي دهغوی له منشاء نه مخالفت ونه کړی شي[1] همدغه راز په اصل دستور کې د ترمیم په صورت کی به دحکومت فشار لاندی کارته مجبوریږو او لـه شریعت نه مخالف کارونو کولو ته به مجبوریږو. نولهذا پکاردي چې په اصل دستور کې د ترمیم کولو فکر ونه کړی شي فقط و الله اعلم بالصواب ۲۰ جمادی الاولی کال ۱۴۱۴ هجري (۶/ ۱۱/ ۹۳).

په موقوفه قبرستان کې د آمدني لپاره دکانونه جوړول او په قبرستان کی دموجود مسجد نوی کول:

(۴۰-سوال) زمونږ د جماعت قبرستان ډیر زیات خراب حالت کی دی د جماعت زیاتره خلک د قبرستان د احاطه کولو په نیت او غرض هلته د آمدني لپاره دوکانونه جوړول غواړي. آیاداسې آمدنی ترلاسه کول جائز دی؟ اوکه جائز وي نو دا باید چیرته اوپه څه کی ولګول شي؟

(۲) په قبرستان کې یو زوړ مسجد و چی هلته هیچا لمونځ نه لوست، دهغه د ورانیدو په وجه ایا هلته دی نوی مسجد جوړ کړی شي او که همداسی هواره زمکه پریښودل شي؟ ځکه چې هلته کوم لمونځ کوونکي نه اوسیږي او هلته د مسجد د جوړولو ضرورت هم نشته.

(۳) د موقوفه قبرستان د آمدني هیڅ ذریعه نشته نو دداسی قبرستان لپاره د آمدني د ترلاسه کولو لپاره کومه لاره او ذریعه غوره کړی شي؟ پخوا دا قبرستان ډیر لوی و، لیکن حکومت هغه په قانوني پیمانه کې آخستی او دهغه په وجه ډیر ورکوټې شوی دی.

(خواب) بسم الله الرحمن الرحیم، حامدا و مصلیا ومسلماً.

---

[1] قوله قولهم مشرط الواقف کنص الشارع فی الخیریة قد صرحوا با الاعتبار فی الشروط لما هو الواقع لا لما کتب فی مکتوب الوقف فلو اقیمت بینة لم یوجد فی کتاب الوقف عمل بها بلا ریب لأن المکتوب خط مجرد ولا عبرة به لخروجه عن الحج الشرعیة شامی مطلب فی قولهم مشرط الواقف کنص الشارع ج ۷ ص ۴۳۳

(۱-۳) په قبرستان کی زمونږ خپل نیکونه پلرونه او نور خپلوان خښ شوي دي چی په هغوی کی دالله تعالی ډیر نیک بنده ګان ددین علماء او بزرګان شامل دي پخوانیو نیکانو ډیرې زیاتې زمکې وقف کړي دي، نوځکه پرمونږ دا واجب دي چې دهغو موقوفه زمکو د ساتلو لپاره پوره کوشش وکړو او خپل دیني فرض اداکړو، په دی کی غفلت او سستی کول بالکل نامناسب دي واقف چې دکوم مقصد لپاره زمکه وقف کړی ده دهغه په مطابق عمل کول ضروري دي او مخالفت یی جائز نه دی په شامي کي دي:

شرط الواقف كنص الشارع (شامی ۳/ ۵۷۵ ثم صرحوا بان مراعاة غرض الواقفين واجبة شامي ٤/ ٥٨٥.

قبرستان دی مقصد لپاره خلک وقفوي چی پکې مسلمانان خښ کړی شي، نو ځکه دقبرستان د ازمکه باید همدغه مقصد لپاره استعمال کړی شي ، لدینه پرته دنورو کارونو لپاره باید استعمال نه کړی شي. نولهذا د قبرستان پر زمکه د دوکانونو جوړول جائز نه دي، که چیرته له قبرستان نه د دیوالونو تاوول ضروري وي نو دی لپاره دی چنده وکړی شي، که چیرته د ځایی حضراتو په چنده کار نه کیږي نو له نورو نیکو خلکو څخه دی چنده واخستلی شي، د ضرورت په وخت د چندې په خاطر نورو ځایونو ته هم سفر کیدای شي کوم خلک چې په دی نیک کار کې برخه آخلي الله به ورته لوی اجر ورکړي، دقبرستان لپاره د دایمي آمدني ضرورت نشته که د معمولي خرڅې لکه(حفاظت، صفایی او نورو کارونو لپاره) څه ضرورت مخې ته راشي نو دهغه لپاره دی هم انتظام وکړی شي. فقط.

(۴) په قبرستان کی چی له پخوانه کوم مسجد موجود دی هغه شرعي مسجد دی اوس چې هغه له زمکې سره زمکه شوی او هلته مسلمانان هم نه اوسیږي، نو په داسی حالت کې له توهین او بی عزتی نه دهغه د محفوظ ساتلو لپاره دی له هغه نه داسی بوه احاطه تاوکړی شي چې کوم انسان یا ځناور د مسجد بی حرمتی ونکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب ۲۳/ محرم الحرام کال ۱۴۱۵ هـ (۷/ ۳/ ۱۹۹۴ء).

د موقوفه زمکې خرڅول جائز نه دي اګرکه وقف کوونکې دخرڅولو اجازه ورکړي:

(۴۱- سوال) (۱) وقف شوی زمکه په کومو حالاتو کې خرڅولی شوو.

(۲) که چیرته له موقوفه زمکې نه څه ګټه او آمدني نه ترلاسه کیږي او هغه زمکه دهیڅ یو کار لپاره نه استعمالیږي نوله هغه سره څه وکړی شي؟
(۳) که وقف کوونکی ژوندی وي ایا دهغه په اجازه موقوف څیز خرڅولی شو یانه؟
(ځواب) (۱-۲) باسمه تعالی، حامداً مصلیاً و مسلماً فتاوی رحیمیه کی دي چی یوسړی ۴۲جریبه زمکه مسجد ته وقف کړیده خوله مسجد سره دومره پیسی نشته چې ارهټ وربانډی وباسي او دزمکې فصل خروب کړي، دفصل دار اومدار دباران په اوبو باندی دی نو ځکه کلنی عایدات او ګټه ډیره کمه کیږي، لدینه ۱۰۰ روپۍ په ټیکس کې هم ورکول کیږي، نو ځکه منتظمین غواړي چې دغه زمکه خرڅه کړي اوپه دغو پیسوباندی یو کورجوړ کړي او یا واخلي ترڅو کلنی عایدات زیات شي، ایادغه مقصد لپاره دازمکه خرڅولی شوو او که نه ؟
(ځواب) که چیرته وقف کوونکی په وقف نامه کې دخرڅولو اجازه ورکړی وي، یاوقف په داسی حالت کی وي چی له هغه نه هیڅ ګټه نه ترلاسه کیږي نودهغه د خرڅولو اجازه شته او که څه ګټه ترینه ترلاسه کیده نو بیا شرعاًدهغه خرڅول جائز نه دی.(شامی جلد۳ ص ۵۳۵ مطلب فی استبدال الوقف).[1]
له مذکوره ځواب نه ثابتیږي چې که واقف په وقف نامه کې د خرڅولو اودهغه پرځای د بلې زمکې داخستلو تصریح کړی وي یا موقوفه زمکه داسی حالت ته ورسیږي چې ګټه ترینه بالکل نه کیږي یاپرهغه خرچه له آمدني نه زیاتیږي نوپه داسی صورت کې دهغه خرڅول اوپرځای بله زمکه آخستل جایز دي اوکه چیرته عایدات او ګټه یی کاوه نو یوازی د ګټې او عایدات دزیاتولو په خاطر خرڅول یی جایز نه دي.
(۳) په شرعي لحاظ سره له وقف کیدونه وروسته دو اقف د اجازې هیڅ اعتبار نشته لهذا که واقف اجازه هم ورکړي نو بیا هم خرڅول یی جائز نه دی فقط والله اعلم. ۲۲صفر ۱۴۱۴ هجري کال.

د وقف شوي څیز خرڅول کله جائز دی ؟

(۴۲- سوال) دیوی مدرسې زمکه تقریباً لس جریبه ده ، دلاندینی ضرورتونو له کبله غواړو هغه خرڅه کړو؟

---

[1]- د جدید ترتیب په مطابق په همدی باب کی (موقوفه زمکه په کوم صورت کې خرڅیدلی شي ترعنوان لاندی وګورئ).

(۱) دا زمکه بیروج ښار ته بالکل نژی ده.
(۲) ددغې زمکې شاوخوا ټول کافران اوسیږي.
(۳) پردغه زمکې باندی حکومت قبضه کول غواړي.
(۴) که چیرته حکومتورباندی قبضه وکړي نو مدرسې ته لوی تاوان رسیږي، نو ښکه د حکومت په معرفت سره په خرڅولو کې چې کوم قیمت ترلاسه کیږي نو پخپله د خرڅولو په صورت کی له هغه لس چنده زیات قیمت ترلاسه کیږي.
(۵) فی الحال له دغې زمکې څخه عایداتو هم څه صورت نشته.
(٦) ددغې زمکې وقف کوونکې ژوندې نه دې البته دهغه وارثان ژوندي دي، مونږ غواړو دا زمکه خرڅه کړو او پرځای بله زمکه واخلو اود مدرسې د عایداتو لپاره کورونه ورباندی جوړ کړو او خلکو ته په کرایه ورکړو. فی الحال د کم آمدني په وجه داستادانو تنخواهم په صحیح توګه نشو ورکولې اولوی مشکل سره لاس او ګریوان یو. که چیرته دا زمکه خرڅه کړو نو په دی سره د مدرسې عایدات زیاتیږي او استاذانو معاشونه هم زیاتولې شو. دپورتنیو حقایقو په نظر کې نیولو سره دشریعت له نظره یو مناسب حل مونږ ته و ښایئ.
(ځواب) باسمه تعالی ، حامداً مصلیا و مسلما وهو الموفق.
په بنیادي توګه دې داخبره په یاد وساتل شي چې دموقوفه زمکې، کور او یادبل څیز خرڅول جائز نه دي اودا باطله بیع ده یعنی بیع یې صحیح نه ده، همدغه راز د وقف مال بدلول هم جائزنه دي. که چیرته واقف په وقف نامه کې دخرڅولو اجازه ورکړي وي یاهغه موقوفه زمکه داسې حالت ته ورسیږي چې بالکل څه ګټه نه ورکوي، یاپرهغه خرچ دهغه له آمدني نه زیات وي نو په داسی حالت کی د موقوفه زمکې بدلول جائز دي اودهغه پرځای دی داسی غیرمنقوله جایداد واخلي چې دهغه حفاظت وشي، که چیرته لـه موقوفه زمکې نه ګټه ترلاسه کیږي نو پدی خاطر چې داګټه کمه ده او هغه دزیاتې ګټې د ترلاسه کولو په خاطر خرڅه کړي نودا جائز نه دی. شامي جلد۳ص۵۳۵ بحواله فتاوې رحیمیه اردو جلد ٦ ص ۷۳ په همدی باب کې ددغه سوال ترعنوان لاندی دی وګوري چې موقوفه زمکه په کوم صورت کی خرڅیدلی شي وګوري). په مسئوله صورت کې که چیرته داخبره واقعاً صحیح وي چې حکومت په مذکوره زمکه باندی قبضه کوي اوډیر کم قیمت اداکوي اوپدی سره وقف ته دلوی ضرر ویره ده، اوهغه زمکه په داسی ځای کی پرته ده چې مسلمانان هلته نه اوسیږي او نه هلته دغه

زمکه کرلې سي بلکې هروخت خطره وي نو په داسی حالت کې هغه موقوفه زمکه خرخولې. اوبه عوض کې بله زمکه آخستلی شي ترڅو وقف قایم پاتی شي څکه چی دوقف قایم ساتل ضروري دي. فقط والله اعلم بالصواب. ٢٢ صفر ١٤١٤ هجري کال.

دمسجد لپاره د وقف شوي پلاټ خرڅول او اخستل یی :

(٤٣- سوال) یوڅا د زمکې یو خالي پلاټ د مسجد لپاره وقف کړی دی مګردانه دی معلوم چا لـه خوا او کله وقف شوی دی ؟ په دی باره کی هیڅ صحیح او تحقیقي معلومات نشته له نن نه تقریباً خلویښت ، پنځوس کاله وړاندی زما نیکه دا پلاټ په کرایه اخستی وو، لـه هغه نه وروسته دغه پلاټ زما پلار په کرایه واخست ، په دی وخت دیوبل سړي نیت خراب شو هغه غوښتل چې داپلاټ هضم او پخپل نامه یی کړي. په کال ١٩٥٢ ع کې دوقف قاعده او قانون جوړ شو اوددغه قانون په مطابق همدغه پلاټ دمسجد په ملکیت کې ولیکل شو. زما پلار ددغه وقف منیجنګ ترسټی..... و، او اوس هم دی. هغه د چیریټي کمشنر نه ددی په اړه تپوس وکړ چی اوس څه وکړي؟ ایا دپلاټ بل چاته د ٩٩ کلو لپاره په کرایه ورکړی شي اوکه اوسنی کرایه دار لپاره هم همدغسې په کرایه اخستل صحیح دي؟چیریني کمشنر ورته ووېل نه بلکی داپلاټ دی خرڅ کړی شي او یا دی پخپله کرایه دار په پیسو واخلي. په هر حال دسرکاري قانون په مطابق ددی درخرڅولو اعلان وشو، د حکومت له خوامقرر شوی قیمت په مطابق بلکی لدینه هم په زیات قیمت سره دغه پلاټ یی زما په نوم په بیع واخست. اوس پوښتنه داده چې ایا شرعاً دهغه بیع او خرڅول جائز دي؟ اوپه استعمال کی راوستلیی څنګه دي؟

دویم داچی زما پلار خو کرایه داری دی ایا اوس ددغه پلاټ جوړول او خپل ځان لپاره استعمالول صحیح دي که نه؟ دا مقصد می نه دی چی وزباندی تجارت وکړي.

(٣) داچی هر چا استعمال کړی هغوی ټول تباه او برباد شوي دي اوس زه داڅنګه په استعمال کی راوړم ؟ بینوا و توجروا.

(څواب) حامدا ومصلیا و مسلما. مذکوره پلاټ ترننه وقف ګڼل شوی دی او دوقف پشان ورباندی عمل هم شوی دی،لهذا اوس دی هم داد مسجد وقف وګڼل شي، د وقف خرڅول باطل دي څرنګه چې تر ننه پورې په کرایه ورکول شوی دی لدینه پس دی هم په کرایه باندی ورکړی شي ترنن پوری چی څوک په کرایه اوسیدلی همغه کرایه دار دی اویا دی بل چاته په کرایه ورکړي ل لیکن په کرایه کی دی هم داسی قانوني

صورت او شکل خپل کړی شي چې کرایه دار پرهغه قبضه ونه کړی شي او وقف ضائع نشي. د۹۹ کلونو تر مودې پورې کرایه ورکولو کې ظاهراً دضائع کیدو ویره موجوده ده.لهذا لږ لږ وخت لپاره دی په کرایه ورکړي او یادی کرایه دار وخت په وخت بدل کړي یا دی په دغه پلاټ باندی دکور جوړولو لپاره چنده وکړی شي او ددغه کور کرایه دی په مسجد باندی خرچ کړی شي. غرض داچې ددغه پلاټ خرخول او اخستل ناجایز او بیع یې باطله ده، ددغه پلاټ آخستونکی شرعاً ددی مالک نشي جوړیدی اونه ورباندی د تصرف کولوحق لري. که چیرته اخستونکی دغه پلاټ واخلي او ورباندی خپل ملکیت ثابتول غواړي نو دتباهی سبب به وګرځي لکه څنګه چې تاپه سوال کی لیکلي دي:

فاذا تم ولزم لایملك ولایملك ولا یعار ولایرهن (درمختار) قوله (لایملك) ای لایکون مملوکا لصابه ولایملکای لایقبل التملیك لغیره بالبیع ونحوه (شامی ص ۵۰۷ج۳ مطلب فی شرط واقف الکتب ان لاتعارولایرهن)فقط والله اعلم بالصواب.

دقبرستان پر زمکه دعوایدو لپاره تعمیر جوړول:

(۴۴- سوال)دلته د کلونو کلونو زړه اداره ده چې دهغی لاندی دیو مسجداو قبرستان انتظام کیږي، دا اداره له خلکونه چنده راغونده وي اوپه غریبانو، مسکینانو، د مدرسې اود مکتب شاګردانو، لاوارثو مړو او کنډو ښځو سره مرسته کوي. د مذکوره داري مالي حالت د کمزوري کیدو په سبب د اداری اراکینو دهغی تر انتظام لاندی موقوفه مسجد چې خیمو (جونګړو) والا پر هغه قبضه کړیده او پر پاتی نوره حصه باندی هم دهغوی دقبضی کولوویره ده نو په دی خاطر په دغی زمکې باندی د کورونو جوړولو په وجه دانجمن ارکانو اوغړو له بلډرز سره معاهده کړیده . او اوس دا اطلاع هم رسیدلی چې دانجمن دوه غړو له بلډرز (څوک چې تعمیرونه جوړوي) پنځه لکه روپۍ د د لالي اخستلو سودا کړی ده او دغه لائف ممبران نه ښکاره دا وايي چې هغوی له کونټراکټر څخه لـه انجمن سره ددغه سودا کولو لپاره دلالي اخستی دي ایاددغو پیسو اخستل جائز دي حال داچې د کمپیوټیشن یعنی د تعمیرونوجوړولو لپاره کوم حریف نه و بل طرف ته د انجمن مالي حالت هم کمزورې دی، انجمن به دغه زمکه باندی د جوړ شوي مسجد انتظام هم کوي، مهرباني وکړئ په دی اړه زمونږ راهنمایي وکړئ.

خواب حامداً ومصلیا و مسلما. پدی خبره باندی خان پوه کړی شي چې واقف دکوم مقصد لپاره خپل زمکه وقف کړی ده دهغه وقف شوي دی زمکې استعمال باید د واقف د منشا په مطابق وکړی شي. پدی کی تبدیلي کول اود وقف دمنشا په خلاف پکې کار کول جائز نه دي په شامي کی دي:
شرط الواقف، کنص الشارع شامی ۳/ ۵۷۵ همدغه راز په شامی کی دي. صرحوا بان مراعاة غرض الواقفین واجبةٌ شامی ۳/ ۵۸۵ .
د قبرستان زمکه دی لپاره وقف شوی وي چې هلته د مسلمانانو مړي خښ کړی شي نو ځکه دقبرستان ټوله زمکه دی دهمدغه مقصد لپاره استعمال کړی شي نه دبل کوم کار لپاره.
په مسئوله صورت کی چون دازمکه دقبرستان لپارهِ وقف شویده نودا ټول د مسلمانانو مړو دخښولو لپاره استعمالول ضروري دي، ددغې زمکې خرخول یاپه کرایه ورکول جائز نه دي. دانجمن په مسئولو کسانو باندی لازم دي چې دقبرستان د زمکې لـه ترلاسه کولو نه وروسته شاخوا ترینه دیوالونه تاو کړي اوپه دی کی دی د مسلمانانو مړي خښ کړي ترخو زمکه د واقف د منشا په مطابق استعماله شي کله چې شرعاً داحکم دی نو ذمه دارانو او مسئولو کسانو ته ددغې زمکې په سر ددلالي په توګه پیسی اخستل څنګه روا کیدلی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

مسجد ته هبه شوی کور وقف کی حسابیږي پدی شرط چې قرائن موجود وي:

(۴۵- سوال) مونږ لـه خپلې پوښتنې سره هغه سند هم لیږلی دی چې زید په هغه کې دخپل ټول ملکیت دهبې یادونه کړیده او وقف کړی یی نه دی. دسند په دریمه صفحه کې لیکلي دي پوره ملکیت دی نه خرڅ کړی شي اونه د هم رهن او ګرو کړی شي. اوس پوښتنه داده چې دهغه پوره ملکیت ډیر کمزوری او غورځیدوته نژدی شوی دی او دمرحوم بل څه داسی عواید او آمدنی نشته چې په هغه باندی ددی مرمت وکړی شي او زمونږ له جماعت سره هم دومره پیسې نشته چې په هغه باندی ددې مرمت وکړی شو. ددغو مشکلاتو په نظر کې نیولو سره مونږ دا فیصله کړی ده چې دهغه پوره ملکیت خرڅ کړو او دهغه په پیسو د آمدني یوه بله ذریعه قایم کړو او د مرحوم د خوښې

په مطابق داپیسې مصرف کړو. ایا په داسې صورت کې مونږ دهغه ملکیت خرڅولی ش
او که نه ؟ بینو توجروا.
ځواب: حامدا ومصلیا و مسلماً په مسئوله صورت کې چې مرحوم مسجد ته دهبې کو
سند ورکړی دی دا ملکیت په وقف کې حسابیږي، که قرائن وي نودهبې او بخشش ب
لفظ سره هم وقف صحیح کیږي په دارالعلوم قدیم کې هم د حضرت مفتي عزی
الرحمن صاحب همداسې یوه فتوه موجوده ده چې تاسوته یې وړاندې کوو.
یوې ښځې خپل غیرمنقوله جایداد مسجد ته هبه کړ او سند یې ولیکلو او هغه یې پ
حکومت کې رجسټر هم کړ ایا دهغې دا جایداد مسجد لپاره وقف شو اوکه نه؟
(ځواب) هو بالکل وقف شوی دی لکه چې دعالمګیري له عبارت نه معلومیږي.
ولو قال وهبت داری للمسجد او اعطیتها له صح ویکون تملیکاً فیشترط التسلیم کما
لو قال وقفت هذه... لـلمسجد یصح بطریق التملیك اذا للقیم... الخ فقط والله تعالی
اعلم. کتبه وقفت هذه.... للمسجد یصح بطریق التملیك اذاللقیم... الخ فقط والله
تعالی اعلم. کتبه عزیز الرحمن عفی عنه(فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۲۳۷، ج ۵، ۶).
اوس په مذکوره هبه کې چې کوم شرطونه یې لیکلي دي اودغه راز دا الفاظ چې دا
کور به نه خوک خرڅولی شي اونه به ګرو کولی شي اونه به بدلولی شي نوددغو
شرطونو په مطابق عمل کول ضروري دی نولهذا مذکوره ملکیت نشي خرڅیدای،
تاسې کوشش وکړئ اودهغه د مرمت انتظام وکړئ فقط والله اعلم بالصواب.

(۱) د مسجد په نوم وقف شوی پلاټ چې لرې پروت دی، که چیرته دهغه پرځای مسجد ته نژدې پلاټ واخستل شي په داسې حال کې چې واقف مړ شوی دی.(۲) اوکه په مسئوله صورت کې واقف ژوندی وي نوبیایي څه حکم دی ؟

(۳۶- سوال) یوسړي له مسجد نه لرې دکور لپاره یو ځای (پلاټ) وقف کړی دی، او
وقف کوونکی سړی وفات شوی دی، دهغه وارثان نشته، خوپه خاندان کې لرې وارثان
لري اوس که ددغه پلاټ پرځای چې له مسجد نه لرې دی مسجد ته نژدې کوم کور
پیداشي ایا ددغو دواړو ترمنځ تبادله شرعاً جائزه ده ؟

ځواب: حامدا و مصليا و مسلما. که چيرته واقف د استبدال اجازه ورکړی وي نو بيا بالکل جائز دی او که د استبدال په اړه هيڅ قسم وضاحت نه وي کړی نو دمسجد متوليان له استبدال نه څه مقصد لري ؟
که چيرته له موجوده پلاټ نه مسجد لپاره څه ګټه او عوايد ترلاسه کيږي مګر هغوی له دينه هم د زياتې ګټې ترلاسه کول غواړي نو دی لپاره ددی استبدال جائز نه دی خوکه چيرته له دی خالي فلاټ نه في الحال څه ګټه نه ترلاسه کيږي او استبدال صرف د مسجد د ګټې لپاره کيږي مثلا داچې مسجد ته نژدی وي نو ترينه لوی مسجد جوړولی شي ، يا داچې په آينده کې به ترينه د مسجد دپراخولو لپاره کار واخستل شي، يا داچې په دغه ځای باندی اودس خانی ، غسل خانی يا امام لپاره کوټه جوړه کړی شي نو بيا استبدال جائز دی.
(۲- سوال)همداسی يوبل سړی هم خپل کور وقف کړی دی او هغه اوس ژوندی دی ايا دهغه په اجازې سره لری کور چې هغه پخپله وقف کړی دی دهغه په بدل کی مسجد ته نژدی يا د مسجد په څنګ کی بل کور اخستل شرعاً روا دي ؟ اوپدی سره وقف کوونکي ته پوره پوره اجر رسيږي اوکه نه ؟
(ځواب) له سوال نه معلوميږي چې دا تيار کور دی او ممکن دی چې لدينه مسجد لپاره ګټه او آمدني هم ترلاسه کيږي نو دزياتې ګټې په خاطر ددی ځای بدلول جائز نه دي شامي بحواله فتاوی رحيميه اردو ص ۷۲- ۷۳ جلد٦ (په دی باب کی موقوفه زمکه څنګه خرڅيدی شي؟ تر عنوان لاندی دی وکتل شي. مرتب).
خوکه چيرته واقف د وقف کولو په وخت کی دبدلولو اجازه ورکړی وي نو په دی صورت کی بدلول يی جايز دي اوکه چيرته واقف د استبدال په اړه څه نه وي ويلي او هسی د مسجد د زيات آمدني په خاطر يی بدلول نوداسی کول جائز نه دي. البته که هغه کور تراوسه پوری هسی بيکاره اوبی ګټې پروت وي نو د لومړی ځواب په مطابق د مسجد دګټې په خاطر بدلولی شي فقط والله اعلم بالصواب. ۲۵- ربيع الثانی کال ۱۴۱۷ھ

دقبرستان لپاره موچنده وکړه خو اوس مناسبه زمکه نه ترلاسه کیږي نو ایا دغه پیسې په مسجد او مدرسه کې لګولی شو؟

(۳۷ـسوال) زمونږ خلک قبرستان ته ضرورت لري. دزمکې د آخستو لپاره مو پیسې راټولې کړي دي د زمکې یوه ځای مو هم خوښ کړی ده مګر دا خستلو په وخت کې څه مشکلات او خنډونه مخې ته راغلل اوله اخستلو نه پاتې شوو، د بل مناسب ځای د اخستلو لپاره کوشش روان دی، په دی وخت څه خلکو خپلې پیسې بیرته واخستلې او مدرسې ته یې ورکړې داچې زمکه به کله ترلاسه کیږي نو ایا مونږ خپل دغه جمع شوی پیسې په مسجد او مدرسه کې دلګولو لپاره ورکولی شو یا نه؟ د ځینو خلکو خیال دی چې داپیسی دی په مسجد او مدرسه کی خرچ کړي شي تاسی مهرباني وکړئ په دی باره کی زمونږ رهنمایي وکړئ.

(ځواب) قبرستان داسی یو ضرورت دی چې له دی نه پرته کارنشي چلیدی. که چیرته قبرستان نه وي نو مړي به چیرته خښوو؟ لوی مشکل مخې ته راځي لهذا کومې پیسې مو چې جمع کړي دي هغه له یو امین سړي سره امانت کیږدئ، که چیرته د ضائع کیدو ویره وي نو بیاپه بانک کی کیږدئ ترڅو دخلکو اعتماد او اطمنان وشي، په اهتمام سره خپل چندہ جاري وساتئ، د یو مناسب ځای د ترلاسه کولو لټه وکړئ کله چې زمکه پیداشي نو فوراً یې واخلئ. جمع شوی پیسې په نورو کارونو کې مه خرچوئ.[1]

---

[1] – قوله قولهم شرط الواقف کنص الشارع.... ولا عبرة به بخروجه عن الحج الشرعیه شامی، مطلب قوله شرط الواقف کنص الشارع ج ۷ ص ۷۳۳ فقط والله اعلم بالصواب.

احکام المساجد و المدارس

د مسجدونو او مدرسو احکام

دمسجد حق متولي معاف کولی شي اوکه نه ؟

(۴۸-سوال) که چیرته د چاپه غاړه د مسجد حقوق وي (لکه پیسې یاداسې نورشیان) نودمسجد متولی هغه معافولی شي او که نه ؟

ځواب : متولي ته دمعاف کولو هیڅ حق نشته.[1]

مسجد ته دداخلیدو په وخت کی دی سلام اچوي یانه ؟

(۴۹-سوال) په مسجد کی دداخلیدو په وخت کی دی سلام اچوي یانه؟

ځواب: په مسجد کې د دننه کیدو په وخت باید سلام واچوي په دی شرط چی خلک پکې ناست وي اوپه تلاوت ، درس او نور ذکر او اذکار کی مشغول نه وي ، که چیرته مشغول وي نو سلام دی ورباندی نه آچوي.

په شامي کی دي :

قوله ذاکر فسره بعضهم بالواعظ لانه یذکر الله تعالی بای وجه کان رحمتی (شامی ج ۱ ص ۵۷٦ مطلب فی احکام المسجد) . که چیرته په مسجد کی څوک نه وي خو په لمونځ کې مشغول وي نو په دی صورت کی دا لاندیني الفاظ ووایي :

السلام علینا من ربنا وعلی عباده الله الصالحین. ان حرمة المسجد خمسة عشر اولها ان یسلم وقت الدخول اذاکان القوم جلو ساغیر مشغولین بدرس ولا بذکر و ان لم یکن فیه احد او کانوا فی الصلوة فیقول السلام علینا من ربنا وعلی عبادالله الصالحین. (نصاب الاحتساب قلمی باب ۱۵ ص ۳٤).

---

[1] -یفتی بالضمان فی غصب عقار الوقف وغصب منافعه او اتلافها کما لو سکن بلا اذن أو اسکنه المتولی بلا أجر کان علی الساکن أجر المثل، کتاب الوق مطلب سکن المشتری دارالوقف. ج ٤ ص ٤٠٧.

مسجد او مدرسې لپاره له حکومت نه پور اخستل څنګه دي؟

(۵۰- سوال) د سیلابونو په وجه مسجد ته نقصان رسیږي نو دمسجد او مدرسې د بچ کولو لپاره له حکومت نه پور اخستل څنګه دي ؟

(ځواب) له حکومت نه داسې قرض اوپور اخستل چې په کې سود وي حرام دی.[1]

د مسجد او مدرسې لپاره له کافرونه امداد آخستل :

(۵۱-سوال) د مسجد او مدرسې لپاره له یوداسې فنډنه پیسې اخستل څنګه دي چې په دی کی دکافرانو پیسې هم وي ؟

ځواب : که چیرته د مسجد یامدرسې عمارت ته څه نقصان رسیدلی وي نو امداد اخستل ترینه جایز دي، دغه پیسې بیت الخلاء، غسل خانې اوداسې نورو ځایونو کې لګیدلی شي چې له مسجد نه باهر وي.[2]

دمسجدمتولي باید څنګه وي ؟

(۵۲- سوال) زمونږ په خلکو کې دمسجدونو د انتظام لپاره دادستور دی چې دمحلی یو امین دیندار او لمونځ ګذار متولي وي او هغه له تنخواه نه بغیر په پوره ایمانداري سره د مسجد کارونه کوي، په غټو غټو کارونو کې له لمونځ ګذارانو سره هر وخت مشورې هم اخلي . دیو متولي په صورت کی د خیانت کولو ویره هم نه پاتی کیږي، حساب په باقاعدګي سره ورکوي. خوپه ځینو ځایونو کې دا رواج پیدا شوی دی چې څلور پنځه تنه د مسجد متولیان جوړیږي دغه دپنځو تنو دمتولیانو کمیټی د مسجد دټولو کارونو په باره کې فیصله کوي. ددغې کمیټې د انتخاب لپاره د چا دیانت ایمانداري او امانت داري ته نه کتل کیږي بلکې بې نمازه سړی هم ددی کمیټې متولي جوړیږي اوله یوبل سره د مروت په خاطر پخپلو کی هم خیاله جوړیږي، په کمیته کې یو صدر یو سکرتر او نور یې ممبران جوړیږي په مذکوره دواړو طریقو کې ښه اوبهتره کوم یوه طریقه ده؟

---

[1]- فی هلال رحمه الله تعالی انه وقفه اذا استرست الصدقة ولیس فی ید القیم مایرمها فلیس له ان یستدین عسیها فتاوی عالمگیری ولایة الوقف وتصرف القیم فی الاوقاف الخ ج ۲ ص ۴۲۴.

[2]- قوله و ان یکون قربة فی ذاته.... فتعین ان هذا شرط فی وقف المسلم فقط بخلاف الذمی لمافی البحر و غیره ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عند ناو عندهم کالو قف علی الفقراء او علی مسجد القدس، شامی کتاب الوقف ج ۴ ص ۳۴۱.

خواب: كه د كميټې زياتره اركان او ممبران غيرديندار او دوقف له احكامو نه خبر نه وي نود وقف د احكامو په خلاف به فيصلې كوي نو ځكه له داسې كميټې نه يوازې يو متولي چې د وقف له احكامو نه خبرداري وي افضل دى، كه كار زيات وي او يوازې يې نشي كولى نو متولي يو معاون له ځانه سره ساتلى شي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

مسجد ځ، ته ويل كيږي ؟

(۵۳- سوال) يوسړى وايي چې مسجد لپاره عمارت او ابادي ضروري شرط دى له عمارت نه پرته خلاص ځاى او صحن مسجد نه دى،لهذا په دى باندى د مسجد احكام نه ثابتيږي اي دادليل صحيح دى؟

خواب: مسجد ديو داسې ځاى ، داسې زمكې او داسې عمارت نوم دى چې كوم مسلمان هغه د الله خالص عبادت ، او فرض لمونځ اداكولو لپاره وقف كړى.وي پرهغه دعمارت، تعمير، ديوالونو او چتونو شرط نشته، د حنفي مذهب معروف ،معتبر او مستند كتاب طحاوي شرح درمختار كې دي:

واعلم انه لايشترط فى تحقق كونه مسجداً البناء. يعنى پوه شه چې د مسجد دتحقق لپاره پرهغه دتعمير شته والى شرط نه دى طحاوي ج ۲ ص ٥٣٦ . كتاب الوقف، احكام مسجد(قاضى خان جلد ۴ ص ۷۱۲).

كه ځاى زيات وي نو دمسجد دوه حصې وي يو عمارت يعنى ديوالونه اوچت ولري اوبل هغه ځاى چې همداسې خلاصه وي.

په بند مسجد كې دژمي او باران په وخت كې لمونځونه لوستل كيږي اوبل خالي ځاى كې چې د مسجد صحن دى داوړي په ګرمئ كې بكې لمونځونه لوستل كيږي ، دا دواړه حصې په مسجد كې شاملې دي. دحنفي فقهي مشهور معروف او مستند كتاب شامى كې دي: و ان كان للمسجد موضعان مسجدشتوى او مسجد صيفى (ج۱ ص ٦٧١ مطلب فى احكام المسجد).

---

[1]- قوله غير مامون قال فى الاسعاف ولا لولى الا امين قادر نفسه او بنائه لأن الولآية مقيدة بشرط النظر وليس من النظر تولية خائن لأنه يخل بالمقصود و كذا تولية العاجز لأن المقصود لايحصل به، شامى مطلب فى شروط المتولى ج ٤٠ ص ٣٨٠ فى الجواهر القيم اذا لم يراع الوقف يعزله القاضى ايضا مطلب فيما يعزل به الناظر

په دی عبارت کې ذکرېږي او يخني د دواړو مسجدونو ذکر موجود دی او دواړوته مسجد ويل شويدي

دمسجد ځاه استعمالول څنګه دي ؟

(۵۳- سوال) زمونږ په مسجد کی د اوبو يوکوهی دی ددغه کوهی بانی او متوليان مړه شوي دي. د مسجد له کارونو نه پرته په نورو کارونو کې ددغې کوهي داوبو استعمالولو ارنه استعمالولو په سلسله کې اوسنی متولي ته هيڅ معلومات نشته نو په داسی صورت کی داکوهی د عامو خلکو لپاره داستعمالولو اجازه ورکول جائزه ده اوکه نه ؟

(ځواب) د مسجد په حدودوو کې دکيدو په وجه د مخکيني دستور په خلاف دغه کوهي وقف عام نشي کيدې، په دی کی يوه خرابي داهم ده چی دلته دماشومانو او نحو هجوم جوړيږي اود مسجدحرمت ته نقصان رسيږي.

دمسجد پېسې چيرته استعمال کړو؟

(۵۵- سوال) مونږ دخپل کلي د مسجد لپاره چنده راغونډوو. دمسجد په نوم پخوانی زمکه چی پکی د متيازو لپاره ځای جوړ شوې و، اوس هلته د مسجد په پيسو بيت الخلاء غسل خانی او وبالې جوړول غواړو. ايا مونږ ددغه مسجد له همغه کوهي نه چی په پورتني سوال کی دهغه په اړه پوښتنه شويده د مشين په ذريعه اوبه کلي ته دنلونو په ذريعه رسولی شوو اوکه نه؟

(ځواب)له مذکوره کوهي نه د مسجد بيت الخلاء، غسل خانه او داسی نورو شيانو لپاره اوبه رسول څه ګناه نه لري او هيڅ قسم حرج پکې نشته مګر کومې پيسې چې د مسجد په نوم مو جمع کړي دي په دی پيسو سره کلي ته د اوبو رسولو لپره داوبو ذخيره او ټينکی نشی جوړولې اګرچی هغه د مسجد په احاطه کی جوړ کړی شي.[1] والله اعلم بالصواب.

د روژې په مياشت کې د مسجد بنايسته کول:

(۵۷- سوال) د روژې په مياشت کې خلک له ضرورت نه زيات بلپونه او څراغونه بلوي اودا کار دزيات ثواب باعث ګڼي ، ددې څه حکم دی ؟

١- ... ذكر لموقف مصر فلا بدان يكون فيهم تنصيص على الحاجة. شامى كتاب الوقف ج٤ ص ٣٦٥.

(ځواب) د روژې په میاشت کې لمونځ ګزاران د پخوانه زیات دتراویح د اداکولولپاره راځي نو که دهغوی دضرورت په خاطر په رڼا کې زیات والی وکړی شي نو څه بدي پکې نشته بلکې ښه کار دې خو یوازې د مسجد ښکلا او ښایست لپاره له ضرورت نه زیات بلبونه لګول ناروا اوسخت منع دي. ځکه چی په دې کې یو خو فضول خرڅي ده او بل دهندوانو رسم چی ((دیوالي ورته ویل کیږي)) مشابهت دی. په دی سره د مجوسیانو د شعار څرګندونه کیږي، مسجد هسې دتماشی ځای ګرځي. د تراویح په وخت زیات ماشومان راجمع کیږي اود هغوی دشور په وجه لمونځ ګذاران پریشانه کیږي.(الاعتصام جلد۲ ص ۲۷۳). له شریعت نه مخالف کارونو سره دمسجد ښکلا نه زیاتیږي بلکې بی عزتي یی کیږي د مسجد ښکلا په دی کی ده چی مسجد صفا او خوشبو وساتلی شي. ډیر لمونځ ګذاران پکې لمونځ وکړي، لمونځ ګذاران ښه او صفا جامې واچوې او په خشوع او خضو سره لمونځ ولولي. غلی او با ادبه کیني. فقط والله اعلم بالصواب.

له مسجد نه مسافر خانه مه جوړوئ :

(۵۸- سوال) زیاتره وخت خلک په مسجدونو کې ویده وي، مونږ هغوی لدینه منع کوو خو بیاهم نه منع کیږي او وایي چی بیاله مونږ نه دجمعی لمونځ پاتی کیږي هغوی کورونه هم لرې مهرباني وکړئ ددی خبرې وضاحت وکړئ چی کوم سړی په مسجد کې ویده کیدلی شي ؟

(ځواب) په مسجد کې معتکف او مسافرو ته د ویده کیدو اجازه شته د کلي خلک هم د جمعی د انتظار اود اعتکاف په نیت ویده کیدلی شي مګر هسې په مسجد کې اخوا دیخوا په بسره باندی ویده کیدل اوله مسجد نه مسافرخانه جوړول روانه ده په هر حالت کی باید د مسجد دادابو خیال وساتل شي. ویکره النوم والاکل لغیر المعتکف (فتاوی عالمګیري ج ۵ ص ۳۲۱ کتاب الکراهه الباب الخامس فی آداب المسجد الخ).

په مسجد کې دنیاوي خبرې کول :

(۵۹- سوال) زیاتره خلک په مسجد کې راغونډیږي او دنیاوي خبرې کوي ایا داسی کول جائزدي، اوکه نه ؟

ځواب : په مسجد کې دنیاوي خبرې کول خطرناک کار دی په دی اړه محمد صلی‌الله علیه وسلم دیارلس سوه کاله وړاندی پیشګوي او وړاندوینه کړی ده او فرمایلي یی دي

چې داسې یوه زمانه به راځي چې په مسجدونو کې به دنیاوي خبرې کیږي له هغوی سره به کیني الله تعالی ته د داسې خلکو هیڅ ضرورت نشته. (مشکواه جلد۱ ص ۷۱باب المساجد ومواضع الصلواه)

محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په مسجد کې دنیاوي خبرې کول نیکیاني خوري اوله منځه یې وړي (کـــما تأکل النار الحطب او کماقال) لکه چې اور لرګي خوري یعنی سوځوي یې په یو حدیث کې دي چې کله څوک په مسجد کې دنیاوي خبرې کوي نو پرښتې هغه ته وایي : ای دالله ولي؟ غلی شه، که بیا خبرې کوي نو پرښتې ورته وایي ای دالله دښمنه غلی شه که بیا خبرې کوي نو پرښتې ورته وایي پرتادی د الله لعنت وي غلی شه.

روی عنه الصلوة والسلام انه قال اذا اتی الرجل الـــمسجد فاکثر من الکلام تقول الملائکة اسکت یاولی الله فان زاد تقول اسکت یا بغیض الله فان زاد تقول اسکت علیك لعنة الله (کتاب الـــمدخل ج ۲ ص ۵۵).

که چیرته په مسجد کې دخبرو په نیت کیني خو اتفاقاً کومه ضروري دنیاوي خبره په کلاره وکړي جوړېدی کې څه بدي نشته خو لدینه هم ځان ساتل ښه کار دې.

ایا د تلاوت په خاطرد مسجد ډیوه له ځانه سره وړی شوو؟

(۶۰-سوال) : د روژې په میاشت کې دشپې له تراویح نه وروسته زیاتره ځوانان دمسجد په صحن کې دثواب په نیت دقرآنکریم تلاوت کوي په دی کې دډیوې رڼاته ضرورت وي که چیرته یو تن د قرآنکریم تلاوت وکړي او نور خلک یې واوري نو په دی کې هره ورځ یو نیم ساعت وخت لګیږي. لدینه وروسته چایونه څکی اوخپلوخپلوکورونو ته ورځي. هغوی دقرآنکریم دا تلاوت په دی نیت نه کوي چې دا فرض اویا واجب دې بلکې مستحب یې ګڼي. اوداکار څکه کوي چې لـه هسې خبرونه دقرآنکریم تلاوت ډیرښه کار دې. تاسې‌مهرباني وکړئ اوموږ ته معلومات راکړئ چې داموجب ګناه ؟یابدعت خونه دی؟.

خواب: د روژې په میاشت کې شپې او ورځې د قرآنکریم په تلاوت کې مشغولیدل لوی فضیلت لري. په دی کې داهم ثابت دي چې یو یې‌ولولي او نور ناست خلک دی واوري، تلاوت دی باید داسې وکړی شي چې لمونځ ګذارانو او ویده خلکو ته تکلیف ونه رسیږي. که چیرته داسې تلاوت نه وي نو بیا ممنوع دی.په مسجد کې چې همیشه

څومره ډیوې، بلیږي په همغه اندازه د مسجد په څراغ سره تلاوت کولی شئ[1] که چیرته داصحن دمسجد وي نو دمسجدپشان ددې هم اداب او احترام لازم دی، په دی کې خبرې اترې او چای څښکل د مسجد له اداب نه مخالف دی لهذا له هغه نه ډډه کول ضروري دي.

ایاپه صحن کی دتراویح لمونځ لوستلی شو اوکه نه؟

(٦١- سوال) زمونږ په څنګ کی یو زوړمسجد دی، له مسجد سره پراخ صحن هم شته.د ګرمي په موسم کی همیشه فرض لمونځ او تراویح لمونځونه پکې په جمعې سره اداکوو.دجنازې لمونځ لپاره جلا ځای دی، خوناخبره خلک کله کله په صحن کې اداکوي خو خبردار اوپوه خلک هلته نه لولي اوس دامسئله پیښه شویده چې تراویح په صحن کې نښي لوستل کیدې اولوستونکي ګنهکاردي اعتکاف یې هم ماتیږي. خبره ترد یحده رسیدلی ده چیدخلکو ترمنځ په دی مسئله کې جګړه راپیښیدونکي ده. په تاکید سره تفصیلي ځواب راکړئ.

ځواب: دمسجد لپاره داضروري نه دي چی پرهغه چت یا څپره وي، طحاوي شرح مختار کی دي و اعلم انه ، لا یشترط فی تحقق کونه مسجدا البناء ج ۲ صفحه٦٣٥ کتاب الوقف. په دی خبره ځان پوه کړه چې مسجد لپاره پرهغه عمارت اوچت ضروري نه دی. کله چی دمسجد ځای لوی او پراخ وي نو مسجد دوه حصې کیدی شي.(۱) یوه هغه حصه چی چت ورباندی وي او بل هغه حصه چې چت ورباندی نه ړي او په ګرمي کې خلک پکې لمونځونه کوي. څرنګه چې په یخ موسم کې په چت لروونکی مسجد کې ، اوپه ګرم موسم کې په بی چته صحن کې فرض لمونځونه اداکولې شو همداغسی په دواړو موسمونو کې د مسجد له چت نه بغیر صحن کې هم تراویح او وتر لمونځ لوستلی شوو ، لکه چې ستاسې په علاقه کې معمول دی څکه چې دا دواړه حصې په مسجد کې حسابیږي دمنیه شرح کبیری کی دي :ان کان هناك مسجد ان صیفی وشتوی ج ۱ ص ٦٧١ احکام المسجد.

---

[1] - ولو وقف علی دهن السراج للمسجد لایجوز و ضعة جمیع اللیل بل بقدر حاجة المصلین... ان اراد انسان ان یدرس الکتاب سراج المسجد انکان سراج المسجد موضوعا فی المسجد للصلاة لاباس به الخ عالمگیری قبیل الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد الخ ج ۲ ص ٤٥٩.

په مذکوره عبارت کې ديخښي او ګرمي مسجد يادونه شوی ده لدينه ثابتيږي چې سناسی په علاقه کی له وراندی نه په ګرمي موسم کې فرض، وتر او تراويح لمونځونه سوبه جمعی سره دمسجد په صحن کې لوستلی دي بد کار مونه دی کړې بلکې ښه مو کړي دي په اعتكاف کی هم څه نقصان نه راځي. د جنازې لمونځ چې دناپوهي په حالت کې دمسجد په صحن کې ولوستل شي نوداد مسجد له صحن نه خارج نه دی بلکې په مسجد کې داخل دیالبته دکوم مسجد چې یوه حصه وي اوصحن (خالی) حصه له وراندینه له مسجد نه خارج وي او هلته له وراندینه فرض لمونځ په جمعی سره نه لوستل کيږي هلته که دجنازی لمونځ څوک کوي يانه . نوپه داسی صحن کې لکه څنګه چې دفرض لمونځ صحيح نه دی همداغسې په جمعی سره د تراويح لمونځ لوستل هم غلط دي. هرڅوک چې د تراويح لمونځ پکې کوي نو دمسجد د پرينبودلو ګناه ورباندی، لازميږي اودا ګڼل کيږي چې د جمعی لمونځ يې په مسجد کې نه دی اداکړې

ان الجماعة فی المسجدسنة علی سبيل الكفاية (الی قوله) ان صلی احد فی بيته بالجماعة حصل لهم ثوابها وادر كوافضلها ولكن لم ينالو افضل الجماعة التی تكون فی المسجد لزيادة فضيلة المسجد(كبيری ص ٣٨٤ صلاة تراويح) وان صلی احد فی البيت بالجماعة لم ينالوافضل جماعة المسجد وهكذا فی المكتوبات (الی قوله) وظاهر كلامهم هنا ان المسنون كفاية اقامتها بالجماعة فی المسجد حتی لو اقاموها جماعة فی بيوتهم ولم تقم فی المسجد اثم الكل(شامی ج١ ص ٦٦٠ صلوة تراويح).

د زيات اطميان لپاره دا لاندينی سوال ته وګورئ .

(سوال) که څيرته دګرمي په ورځو کې دسختی ګرمی په وجه د مسجد د حجرې په چت باندی د ماسختن لمونځ په جمعی سره ولوستل شي نو داجائز دی اوکه نه؟.

خواب لمونځ خو کيږي مګر د مسجد ثواب ورته نه ورکول کيږي، فتاوی دارلعلوم مکمل مدلل ج ٢- ص ٥٧).

که غواړي چې دمسجد نه بهرپه صحن کی فرض لمونځونه ياتراويح لمونځ په جمعی سره اداکړي نود مسجد د ټولي محلې خلک دی اتفاق وکړي چې داصحن په مسجد

کې دمه وشماري اوپه دی نيت پکې لمونځ ولولي چې داد مسجد حصه ده خوشرط دادی چې د دې ځای ادب اواحترام به دمسجد په برابر کوي.

د مسجد او مدرسې لپاره داسې يو مهتمم او متولي پکار دې چې هغه ديانتدار اوشريعت پابند وي د نا اهله سړي توليت نه صحيح کيږي.

۶۲- سؤال: په قريه او قوم کې د علم خاوندان، مولويان، حافظان او قاريان موجود وي خو جاهل خلک، تارک صوم وصلواة، تارک جماعت او ږيرکلي کسان يوازې دهغوی دمالداري په خاطر د مسجد متولي او دمدرسې مهتمم جوړوي، ددې څه حکم دی؟ متولي او مهتمم بايدڅنګه سړی وي؟ ويل کيږي چې علماء غريبان وي مفت کار نشي کولي اود امانت په حواله کولو کې خيال کول پکار دي. مهرباني وکړئ تفصيلي ځواب راکړئ؟

(ځواب) په کوم ځای کې چې عالمان د لمونځ او روژې پابندي کوونکي او پرهيزګار کسان موجود وي هلته د بی علمو بی عملو، فاسقو او فاجرو کسانو متولي ګرځول صحيح کار نه دی ځکه چې هغوی دتوليت او ددينې قيادت اهل نشي کيدلې، ددې صحيح حقدارد قرآن حاملين اود شريعت پابندخلک دي. دحضرت امام مالک ارشاد دی: دمسلمانانو رهنمايي هغه څوک کولی شي چې دهغوی ژوند د محمدصلی‌الله عليه وسلم داسوه حسنه نمونه او مثال وي. دحضرت حافظ ابن تيميه بيان دی چې امت پدې خبره اتفاق دی چې د مسلمانانو د سياست اوقيادت کولو اهليت هغه څوک لري چې با عمله عالم وي که چيرته داسې سړی پيدانشي نو بيادا منصب مجبوراً له دوه کسانو څخه يوکس ته سپارلې شي لومړی فاسق عالم يعنې بی عمله عالم ته دويم جاهل متقی يعنې بی علمه باعمل ته (کتاب السياسة الشرعية ص۱۷).

په حديث کې له ابن عباس نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی‌الله عليه وسلم وفرمايل

چاچې له جماعت اوډلې نه کوم شخص عامل وګرځاو په داسې حال کې چې په دغه ډله کې داسې سړی موجود وي چې هغه له لومړ ي سړي نه زيات غوره اومتقي وي نو هغه له الله اودهغه له رسول سره خيانت وکړ (ازالة الخفاء ج۲ص۳۶عمدة الطابع).

دابن تیمیه په فتاوه کی دي:
ولا يجوز تولية الفاسق مع امكان تولية البر. يعني كه چيرته دنيک سړي دپيدا کيدوامکان
وي نو دفاسق سړي مشر جوړول ناجائزدي(جلد ۱ ص ۱۵۰).
په حديث کی، دي چي چی هريو کار بايد دهغه اهل ته وسپارل شي. او محمدصلیالله
علیه وسلم فرمايلی دي :
اذا وسد الامر الی غير اهله فانتظر الساعة. ((يعنی کله چی مهم کارونه نا اهلو ته
وسپارلشي نو دقيامت انتظار وکړئ)) يعنی وګڼه چې قيامت نژدی شوی دې.(بخاري
شريف جلد۱ صفحه ۱۴ کتاب العلم باب من سئل عن علم الخ).
محـمدصلیالله عليه وسلم د قيامت د نښو د بيانولو په ترڅ کی وفرمايل : يوه نښه داده
چې لوی لوی کارونه نا اهلوکسانو ته وسپارل شي اودقوم سرداربه فاسق وي.(مشکواه
ص ۴۷۰ وساد القبيلة فاسقهم وکان زعيم القوم ارذلهم الخ باب اشراط الساعة).
اوکوم اختياري امور چې دقيامت د علامو اونښوڅخه دي هغه د ګناه کارونه دي،
نوځکه حکيم الامت حضرت تهانوي فرمايي : حضرت ګنګوهي ماته په خواب کی
وليکل نا اهل ته کار سپارل خيانت دی، په داسی کولو سره مونږ نيول کيږو چې کار مو
ولې نا اهل سړي ته سپارلی دی، اصل مقصدالله تعالی رضا ده نه مدرسه، پاتیشوه
داخبره چې بيا مدرسه نه چليږي نوالله تعالی مونږ په دی نه نيسي بلکه هغه خلک به
نيول کيږي چې دهغوی په وجه مدرسې ته نقصان رسيږي.
په دی باندی، حضرت تهانوي وويل : هرڅومره کار چی وي هغه بايد د صحيح اصولو
اودشرعي حـدودو مطابق وي، ځکه چې د الله تعالی رضا ترلاسه کول مقصد دی، پکار
ده چې مسلمان هميشه د الله تعالی درضا ترلاسه کولو کوشش وکړي، مدرسه پاتی شي
ياپاتی نشي څه خبره نه ده، مدرسه نيک نامه وي يا بدنام، چند دی جاري وي يابنده
شي. شاګردان پکې زيات وي يالږ، لنډه داچې هرڅه وي د صحيح اصولو تابع پکار
دی(ملفوظ ص ۷۳۸جلد۵ ص ۴۲۴) او ويی فرمايل چې نا اهل سړی ممبر نشئ
جوړولی (جلد ۵ صفحه ۴۰۲). يواځې د مالدار کيدو يا مدد کولو په وجه انسان اهل
نشي کيدلی)
حضرت مولانا عبدالحی کفلتيوي سواتی رحمه الله فرمايي : اګرکه د مدرسي مهتمم
مالدار دی اودنيا په لوړو ژورو پوهيږي ، ليکن داچې هغه نه مدرسې ليدلي وي او نه

دهغوی لـه قوانینو او انتظام نه خبروي نو هغه څنګه کولی شي چې دمدرسینو له مشورې نه پرته مدرسه په پوره آزادي او استقلال سره وچلوي ، دداسې انتظام آخري نتیجه دا راوځي چې په مدرسه کې داسې بد نظمي پیداکیږي چې دعلم د ترقی خومره دروازې دي ټولې بندیږي.(سوانح علوم الاسلامیه ص ۳۸ مطبع نظامي کانپور).
لنډه داچې ،متولی او مهتمم باید داسې سړی وي چې هغه با عمله عالم وي که چیرته داسې سړی پیدا نه شي نو دلمونځ او روژې پابند، امانتدار، د وقف په مسایلو پوهیدونکې خوش اخلاق، رحم دل، منصف مزاج، علم دوست او د علماو عزت کوونکی وي په هر چا کې دا صفات زیات وي همغه دی متولی او مهتمم جوړ کړی شي.

نا اهله متولي او مهتمم خپل لاس لاندی کارکوونکي علماء خپل نوکران ګڼي :

علامه کفلیتوي رحمه الله فرمایي : ددی ځای خلک څرنګه چې مدرسین په ظاهره خادمان ګڼي، همداسې په حقیقت کې هم خادم ګڼي، تردې چې ورباندی داسې جابرانه حکومت کوي لکه چې په یوادنی نوکر باندی نوپه داسې حالت کی له مدرسینو نه دمدارسو د ترقی امید ساتل څومره دتعجب خبره ده؟ اوراتلونکی لپاره په کوم امیدسړې ته دعلم د زده کولو شوق پیداکیدای شي؟ (سوانح علوم اسلامیه ص ۳۸ مطبع نظامي کانپور).
هره ورځ نوي نوي قوانین جوړیږي شاګردان اومدرسین تنګولی شي، درخصتیو په ورځو کې تنګي، په رخصت ورکولوکې سختی کول، چاپلوسانو سره د درګذر سلوک اونه کوونکو سره درګذر نه کول اونیک نامي په چاپلوسي پوری موقوف دی وګورئ چې علامه کفیلتوي فرمایي د خلکو په طبعیتونو کې دچاپلوسي ماده دومره زیاته شویده چې ددې باوجود علماء زیات بزرګګڼل کیږي مګر دهغوی تعظیم اوله هغوی سره سلوک کول ،دهغوی له خوشامد او چاپلوسي پوری موقوف ده لیکن کوم خلک چې د لریو لریو ملکونو سفر د علومو د زده کولو لپاره کوي اوله علم نه ډک راځي د علم په دولت باندی قناعت کوي اوله چاپلوسي نه ډډه کوي مګر بیاهم دهغوی د تنګولو لپاره دومره اسبابونه پیدا کولی شي چې هغوی د اسلامي علومو دترقي لپاره څومره فکرونه کوي هغه ټول خاورې سره خاوره کیږي. (ص ۳۷).

هغه زیاتوي د مدرسینو نیک نامي او بدنامي دلته صرف خوشامد او عدم خوشامد (چاپلوسي) باندی مبنی ده، که مدرس څومره هم قابل وي او په سبق ښودلو کې څومره کوشش کوي لیکن ترڅو پورې چې چاپلوسي او خوشامدي نه کوي نو دهغه په شهرت کې نه ترقي کیږي اونه دنیک نامي تمغه ورته ورکول کیږي. (سوانح علوم اسلامیه ص ۳۸ مطبع نظامي کانپور).

فاسق او بی علمو خلکو ته دداسې عزت منو څوکیو سپارل دالازموي چی دهغوی قدر او عزت وکړی شي حال داچې فاسق واجب الاهانت دی اود تعظیم حقدار نه دی. (شامي جلد ۱ ص ۵٦۰).[1]

دفاسقانو او ناهلانو لاندی کار او د هغوی تابعداري کول دالازموي چې دقرآن عالمان او عاملان ذلیل شي لکه چې دښځو لاندی په کار کولو کې دسړي عزت کمیږي اوهغه ذلیل ګڼل کیږي . په حدیث شریف کی دي :

اذاکان امرائکم شرار کم واغنیائکم بخلائکم وامور کم الـــی نساء کم فبطن الارض خیر لـــکم من ظهر (مشکوة ص ٤٥٩ باب تغیر الناس).

یعنی کله چې، ستاسی مشران فاسق وي او ستاسی د ولتمند بخیل وي، اوستاسی کارونه ستاسی دښځو په حکم سره کیږي نو بیاستاسې لپاره دزمکې ګیډه (یعنی قبر) له هغه شانه بهتره ده، چې تاسی پکې اوسیږئ .(مشکوات ص ۴۵۹ باب تغیر الناس).

دنبی کریم صلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی چې : (اکـــرموا حملة القران فمن اکرمهم فقد اکرمنی ، دقرآنکریم دحاملینو عزت وکړئ بیشکه هرچاچې دهغوی عزت وکړ هغوی زمونږ عزت وکړ.(الـــجامع الصغیر للامام الحافظ السیوطی مطبع خیریه مصر ج۱ ص ٤٥) په یو بل حدیث کی دي : (حامل القـــران حامل رایة الاسلام من اکرمه فقد اکرمه الله ومن اهانه فعلیه لعنة الله) .

دقرآن حاملین داسلام علمبردار دی چاچی دهغوی عزت وکړ هغوی د خدای تعظیم وکړ او چاچی، دهغوی تذلیل وکړ پرهغه دالله تعالی لعنت دی.(الجامع الصغیر للسیوطی ج ۱ ص ۱۲۲ مطبعه خیریه مصر).

---

[1] – واما الفاسق فقد عللوا اکراهة تقدیمه بانه لایهتم لأمر دینه وبأن ف تقدیمه للامامة تعظیمة وقد وجب علیهم اهانته شرعا باب الامامة. قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام).

کله چې متولي او مهتمم نا اهله وي نوترهغوی لاندی اماان، موذنین او مدرسین حضرات هم نا اهل کیږي هغوی ددغو علماو قدر نشي کولې چې غیرت مند او خود داره وي، دډې نتیجه به داکیږي چې کوم خلک علماء دي هغوی بد زړه کیږي اولدینه لرې کیږي اوپرځای یې نا اهل خلک راځي. په کومه اداره کې چې وراني وي هلته نه تعلیم کیږي اونه هم د تبلیغ کار، لکه چې لیدل شویدي، اوس پاتی شو دا سوال چې علماء دغریب کیدو په وجه د متولی اومهتممي کار مفت نشي کولې نودهغه ځواب دادې چې په مذکوره حالت کی هغوی د تنخوا حقدار دي.

ومــــن کان غنیا فلیستعفف ومن کان فقیرا فلیأکل بالــــمعروف (قران کریم).

اوځوک چې غنی وي هغه دی خپل ځان وساتي یعنی نه دی آخلي اوځوک چی ضرورت مند وي هغه په مناسب مقدار کې دضرورت په مطابق اخستلی شي. اسلامي حکومت کی دعلم خاوندان خصوصاً د قران حافظانوته له بیت المال نه معقوله وظیفه ورکول کیده په جامع صغیر کې روایت دی:

حامل کتاب الله تــــعالی له فی بیت مال الــــمسلمین فی کل سنة مائتا دینار.

ترجمه: دقرآنکریم حاملینو ته به هر کال د مسلمانانو له بیت المال نه دوه سوه دنیاره ورکول کیدلې. (جلد ۱ ص ۱۲۲). یودینار عموماً دسروزرو یومثقال یعنی څلورنیمی ماشې کیږي. پاتی شو د امانت داري سوال؟ نوله قرانکریم له حاملینو نه زیات امانتدار بل څوک نشي کیدلې. په قرانکریم کی دي:

انما یخشی الله من عباده العلماء. بیشکه په خلکو کې چی څومره زیات عمل او علم وي همغومره هغوی له الله نه ویریږي.

حضرت عمر بن عبدالعزیز یوځل عالمانو ته ولیکل : زمونږ په کارونو باندی دی لــه حافظانو نه علاوه بل څوک مقرر نه کړی شي عالمانو دهغه په ځواب کې ولیکل: مونږ هغوی مقرر کړل خو هغوی خائنان ثابت شول. هغه یوځل بیاورته ولیکل چې نه دقرانکریم له حافظانو نه علاوه بل څوک مه مقرروئ که په هغوی کی خیرا و ښیګڼه نه وي نو له هغوی نه پرته به په نورو کې بالکل نه وي. (مکارم الحفظ ص ۴۷).

علامه شامي دیو بزرګ شخص قول نقل کړیدی : خیرهم خیر من غیر هم وشرهم خیر من شر غیرهم. یعنی دعلم دخاوندانو ښه سړی د نورو لــه ښه سړیو نه بهتر دی او

دهغوی خراب سړی دنورو لــه خراب سړو نه بهتر دی.(شامی ج ۵ ص ٦٦١).
کتاب الکراهیة فصل فی البیع.

خو هر وخت زمونږ د مشرانو دامشوره ده چې علماء دی دامانت مسئولیت او ذمه واري پخپل سرنه قبلوي، خو ددین کار دی دهغوی اهل یعنی حافظ، قاري او دینداره خلکو ته وسپارل شي او عوامو باندی فرض دي چې له هغوی سره هرقسم مرسته وکړي. د مسجد او مدرسې کاردی هم دکورد کارونو پشان دیوبل په مرستې سره ترسره کړي.

په محراب کې دلمر تصویر جوړول :

(٦٢ – سوال) زمونږ په کلي کې یو نوی مسجد جوړ شوی دی په محراب کی نقش و نګار اود لمرتصویر جوړ شوی دی. دهغه په مخامخ لمونځ کول خو څه ګناه نه لري؟ که ګناه نه لري نو افتاب پرستي او بت پرستی کې څه فرق دی . مهرباني وکړئ جامع ځواب له حوالی سره راکړئ چی په محراب کې دداسی تصویر جوړول څنګه دي؟

(ځواب) په محراب کې نقش او نګار اود لمر تصویر جوړول منع اوبدکار دی ځکه چې په دی سره د لمونځ کوونکو په خشوع او حضوع کی نقصان راځي. لیکن دلمر د تصویر په وړاندی ودریدل او لمونځ کول له افتاب پرستي سره تشبیه نشي ګڼل کیدی ځکه چې دلمر د تصویر پرستش خوک نه کوي بلکی دهغه د ذات کوي د دواړو ترمنځ ښکاره فرق دی. په درمختار کی دي: اولغیرذی روح لانها لا تعبد یعنی که چیرته دغیر ذي روح تصویر وي نو مکروه نه دی ځکه چی دهغه عبادت خوک نه کوي. په شامي کی دي :

ان قیل عبدالشمس والقمر والکواکب والشجر الخضر قلنا عبد عینه لاتمثاله.

یعنی که داوویل شي چی لمر، سپوږمی، ستوري او دشنو ونو پرستش کیږي، نو مونږ وایو چې دهغوی د ذات پرستش کیږي نه دهغه دتصویر، لهذا د کومو شیانو دذات چی پرستش کیږي دهغه په وړاندی لمونځ کول مکروه دي خود هغه د تصویر په وړاندی مکروه نه دي. (درمختار، شامی ج ۱ ص ٦٠٧ مکروهات الصلواه.).

لهذا دهغوی د تصویر په وړاندی په لمونځ کولو سره دپرستش اومشابهت حکم ورباندی نه لګیږي، مګر په خشوع او خضوع کی دخلل اچولو په وجه دلمونځ ګذارانو په مخکې دداسې تصویرونو جوړول ممنوع او مکروه دي.

د خدای کور باید نه نفیس اومضبوط جوړ کړی شي خودساد کي خیال دی پکې وساتل شي ګلونه ، بوټي، ګل کاري اونقش نګار جوړول بالخصوص محراب اود قبلې په دیوال کې جائز نه دي. په حدیث شریف کی دي :ماشاء عمل قوم قط الا زخرف مساجد هم یعنی دکوم قوم چی عملي حالت خرابیږي نو هغوی د مسجدونو ظاهري ښکلا خپل لوئی ګڼي. (سنن ابن ماجه ج ۱ ص ۱۴۵ابواب المساجد والجماعات باب تشیید المساجد) اود محمد صلی‌الله علیه وسلم خادم حضرت انس رضی‌الله عنه وړاندوینه ده. یتباهون بهاثمّ لایعمرو نها الاقلیلاً یعنی د مسجدونو ظاهري شان او شوکت ډیر فخر کوي اوپه اصلي معنی کی ډیر کم ابادوي صحیح بخاریج۱ ص ۶۴کتاب الصلواة باب بنیان المسجد. همدغه راز محمد صلی‌الله علیه وسلم پیش ګوبي او وړاندوینه کړی ده زه وینم چې ډیر ژر به تاسی مسجدونه لوړ لوړ جوړ کړئ لکه چی یهود او نصاری خپلې کلیسا، ګرجاګانې اوچرچونه او چت اوچت جوړوي(سنن ابن ماجه ج ۱ ص ۱۲۴۴ ایضاً).

نبوي فرمان دی:

لاتقوم الساعة حتی لا یتباه الناس فی المساجد.

ترڅو پوری چې په خلکو کې داخبره نه وي پیدا شوی چی دخپل خپل مسجدونو په لویي اوشان شوکت باندی فخرونه کړي نو قیامت نه راځي.(سنن ابی داود ج۱ص۱۶۷۱ ابن ماجه ج۱ ص ۲۴۴ ابواب المساجد والجماعاتباب تشیید المساجد).

دمحمد صلی‌الله علیه وسلم په مبارکه زمانه اود ابوبکر صدیق او عمررضی‌الله عنهما د خلافت په زمانو کې نبوي مسجد بالکل ساده و. د عمر رضی‌الله عنه په زمانه کې د توسیع او پراخولو ضرورت مخی ته راغی. هغه رضی‌الله عنه مسجدپراخ کړ مګرمقصد یی دا بیان کړ چې :اکن النّاس من المطر وایاك انتحمر وتصفر لتفتن الناس. زه له باران نه ږغوم، داسی هرګز مه کوئ چی په دی کی سوز او زیړ رنګ ولګوئ او خلک په فتنه کې واچوئ. (بخاری شریف ص ٦ باب بنیان المسجد).

د حضرت عثمان رضی‌الله عنه د خلافت زمانه ډیره دخوشالي زمانه وه ډیرلوی لوی محلونه جوړ شول خو هغه رضی‌الله عنه هم نبوي مسجد په نوی شان سره جوړ کړ او ډیر تاوان یی وربانده وکړ ددی مقصد داو چې خلک مسجد ته د کورونو په مقابله کی په کمه سترګه ونه ګوري، هغه چی کوم مسجد جوړ کړی و په هغه کی ګلونه او نقش

نکارو نه وو، د اعتدال ترحده پوری په ښکلا اونفاست کی زیاتوالی وکړه خو اصحاب کرام په دی باندی هم خفه وو.لدینه وروسته دبني امیه په حکومت کی ولید بن عبدالملک په خلافت کی دسجد نبوي د تعمیر په وخت کی ګل کاري اونقش نګار کی ډیر زیات والی وشو، دتعمیر له جوړیدونه وروسته چی خلیفه ولید بن عبدالملک د معائنی لپاره لاړ هلته د حضرت عثمان رضی‌الله عنه یو زوی موجود و. خلیفه هغه ته وویل وګوره ستاد پلار په وخت کی جوړ شوي مسجد او اوسنی مسجد کې څومره لوی فرق دی؟ هغه ورته ځواب ورکړهو زماپلار چی کوم تعمیر جوړ کړی و هغه مسجد و اوستاسی دا تعمیر دیهودو او نصاراو د کلیسا اوګرجاپه څیر دی. (جذب القلوب الی دیار المحبوب فارسی ۱۲۰).

داو د صالحو سلفو مبارک خیالات د مسجد د ښکلي کولو په باره کې.

دلمونځ روح خشوع او خضوع دی لدینه پرته لمونځ بی روحه دی، د مسجد دیوالونه خصوصاً محراب او دقبلې په طرف دیوال اوبني او ګڅ لاس په طرف دیوالونو باندی ګلکاري او نقش نګاري کول یقینا دلمونځ ګذار خشوع خرابوي. په حدیث کی دي.

عن انس رضی‌الله عنه قال کان قرام لعائشة رضی‌الله عنها سترت به جانب بیتها فقال النبی صلی‌الله علیه وسلم امیطی عناقرامك هذا فانه لاتزال تصاویره تعرض فی صلاتی (بخاری ج /۲ ج۱ ص ٥٤ باب من مصلی فی‌ثوب مصلب او تصاویر(الخ).

محمد صلی‌الله علیه وسلم د عائشه رضی‌الله عنها په دروازه کې دښکلې پردی په لیدلو سره وویل ته داخیل ښکلې پرده له دی ځایه لری کړه. ددی بوټي او نقش نګار زما په لمونځ کې خلل پیداکوي. (بخاری شریف جلد۱ ص ۵۴).

محمد صلی‌الله علیه وسلم هغه څادر هم ځان لپاره نه و خوښ کړی چی په هغه کې ګلکاری شوی وه او فرمایلی وو چې دا څادر ما ته په لمونځ کی غفلت پیدا کوي.(صحیح مسلم ج۱ ص ۲۸).[۱]

امام نووي رحمه الله علیه ددی حدیث په شرح کی لیکي:

۱–عن عائشة قلت قام رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یصلی فی خمیصة ذات اعلام فنظرالی علمها فلما قضی صلوته قال اذهبوا بهذه. الخ. باب کراهیة الصلوة فی ثوب له علام).

فقه الحث علی حضور القلب وتدبرما ذکرناه ومنع النظر من الامتداد الـــی ما شغل و ازالة مایخاف اشتغال القلب به وکراهیة تزیین محراب الـــمسجد و حائطه ونقشه و غیر ذلک من الشاغلات لان النبی صلی‌الله علیه وسلم جعل العلةفی ازالة الخمیصة هذا المعنی(نووی شرح مسلم ج۱ ص ۲۰۸).

یعنی دمسجد زینت او ښکلا اود دیوالونو نقش و نګار کراهیت ځکه دی چی داځیزونه د لمونځ ګذارانو خیال او توجه خرابوي او محمد صلی‌الله علیه وسلم د ګلونو څادر د غورځولو په وخت همدا علت بیانکړی و چی دغه نقش او نګار زما توجه له لمونځ نه وګرځاوه (نووي شرح مسلم).

حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی فرمایي : په حدیث شریف کی دي چی له مسجد نه خس او دخاشاک لری کول او جارو وهل د جنت د حورو مهر دی. لیکن په دی کار کی دی دا احتیاط وکړی شي چی دزینت نوبت دی له حد نه وانه وړي اود سرو زرو په اوبو دی نه ښکلې کوي، په هغه دی ګلان اوبوټي جوړنه کړی لاجورد او په نوروشیانو سره دی نه ښایسته کوي ځکه چی په دی شیانو سره دمسجد حکم نه پاتی کیږي او د خلکو دسیل او تماشا ځای‌جوړیږي. نوځکه کله چی عمر رضی‌الله عنه مسجد نبوی له نوی سره جوړ کړ نو معمار ته یی لاربنوونه وکړه چی اکن الناس من المطر وایاك ان تحمر وتصفر لتفتنن الناس. یعنی د مسجد بنادومره محکم جوړه کړه چی داوبو دنوتو ویره ختمه شي. او خبردار چی دامسجد په سرو او زیړو سره مه رنګوئ ځکه چی په دی سره سړی په فتنه کې اخته کیږي او دعبادت په وخت کی نقش او نګار په طرف متوجه کیږي اوپه عبادت کی یی نقصان راځي. (تفسیر عزیزی اردو ج ۱ ص ٦٦٥ سوره بقره فارسی ج ۱ص ۴۴۲).

د فقه مشهور او معروف کتاب په البحر الرائق کی دي :

والاولـــی ان تکون حیطان الـــمسجد البیض غیر منقوشة ولامکتوب علیها. ویکره ان تکون منقوشة بصورا و کتابة.

بهتره داده چی دمجسد ورونه او دیوالونه ساده اوسپین وي اوله نقش او نګار نه پاک وي پرهغه هیڅ قسم لیکنه نه وي شوی. په تصویر اولیکنې سره منقش کول مکروه دي.(ج۵ ص ۲۵۱ فصل فی احکام المسجد قبیل قوله و من جعل مسجدا الخ).

که څه هم د زمانې په مطابق ځینو علماو په خو شرطونو د مسجدونو دښکلې اوښایسته کولو اجازه ورکړې ده ځرنګه چې خلک پخپلو کورونو کې غیر معمولي تکلفات کوي نو د ښتو او ختو نه جوړ شوی مسجدونه دهغوی په نظر کې ښه نه ښکاري او پدی‌سره دعقائدو او خیالاتو د خرابیدو خطره ده نو لدی نه د محفوظ پاتې کیدو په خاطر یې اجازه ورکړی ده چې تر مناسب حد پورې دی ښکلی کړي خو افسوس دادی چې خلک عالی شان مسجدونه جوړول خو کافی ګڼي مګر دهغوی د حقیقي ابادي فکر نه کوي.

دمسجد ابادي د لایق عالم د امام مقررولو اود شریعت پابند خوش اواز موذن ساتلو او دلمونځ ګذارانو زیاتوالی اوباقاعده لمونځ لوستلو او زده کولوسره کیږي نوپکاردی چې په هرمسجد کې یوه مدرسه جوړه کړی شي اوقابل استاذان دی پکې مقرر کړی شي ترڅو د اولادونو دیني تعلیم او روحاني ترتیب پوره بندوبست وکړی شي که نه نومونږ به د محمدصلی‌الله علیه وسلم دهغه وعید دپیش ګوی مصداق وګرځوو چې فرمایلی دي:مـــساجد هم معمورة وهی خراب یعنی دهغوی مسجدونه په ظاهره اباد وي مګر په حقیقت کې برباد (معاذ الله). الله تعالی دی مونږ ته په سیده او نیغه لاره د تللو توفیق راکړي.

کوم کور چې ځینې وخت دمسجد په توګه استعمالیږي دهغه څه حکم دی :

(٦٣- سوال) دلته په یوه غره باندی چې دهوا خوري ځای دی او هلته عیسویان اوسیږي، هلته د مسلمانانو ښکلې د ډومس پشان جوړ شویدي . هلته دکانونه شته کله چې په مکتبونو کې دوه میاشتې رخصتی وي نو ددوه میاشتو لپاره د مسلمانانو کورنی دهوا خوري او تفریح لپاره ځي. لیکن سړي نه ځي. صرف هفته کې یوه دوه ورځې لپاره رازي یوسړی دلته خپل کور دلمونځ دلوستلو لپاره د مسجد په توګه استعمالولو هغه هم هره ورځ نه بلکې په هفته کې یوه دوه ځلې لپاره ورکړی دی ایا دی کور ته د مسجد په حکم کې دی اوکه نه؟

(ځواب) دغه د لوی زړه خاوند چې خپل کور په هفته کې یوځل یوه دوه وخته دلمونځ لوستلو لپاره ورکړی دی دا ډیر ښه او مبارک قدم دی که دایی پخپل ملکیت کې ساتلی وي او هسی تش لمونځ کولو لپاره یی اجازت ورکړی وي نو دادشرعي مسجد په حکم

کی نه راځي اونه ورباندی د مسجد حکم جاري کیږي خوداځی پکې د جمعی لمونځ لوستل کیږي نو دجمعی لمونځ ثواب ورته ورکول کیږي اګر چی په مسجد کې د جمعی لمونځ هومره ثواب یی نشته. البته که چیرته هغه له خپل کورنه د مالکانه حقوق نه لاس په سر شوی وي او دایی عامو مسلمانانو لپاره مسجد ګرځولي وي نو بیا داشرعي مسجد دی اود مسجد احکام ورباندی‌جاري کیږي. کله چی په غره کی مسلمانان اوسیږي اوهلته د مسلمانانو خپل کورونه او دکانونه یی دي او خلک هلته دهوا خوري او سیل لپاره ورځي نو هلته د مسجد خاص ضرورت دی،لهذا پکار دي چی دغه نیک سړی‌نور هم له اخلاص نه کارواخلي او خپل دا کار همیشه لپاره وقف کړي دابه دهغه لپاره صدقه جاریه اوډیر لوی خیروي.

په حدیث شریف کی دي :

عـــبیدالله الخولانی انه سمع عثمان بن عفان رضی‌الله عنه یقول الناس فیه حین بنی مسجد الرسول صلی‌الله علیه وسلم انکم اکثرتم وانی سمعت رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یقول من بنی مسجداً قال بکیر حسبت انه قال یبتغی به وجه الله بنی له مثله فی الجنة.(بـــخاری شریف ج ۱ ص ٦٤ باب من بنی مسجداً).

څوک چی مسجد جوړ کړي او مقصد یی د الله تعالی رضا ترلاسه کول وي نو الله تعالی دهغه لپاره په جنت کې دهغه پشان محل جوړوي.

دهغه ځای پر مسلمانانو باندی لازم دي چی د مسجد صفایي او ابادي خیال وساتي. داسی امام دی وساتي چی پنځه وخته لمونځ ورکړي، ماشومانو ته سبق وښایي ځوانانو او سپین ږیرو ته وعظ او نصیحت وکړي اوله هغوی نه پاخه لمونځ ګذران جوړکړي.

(سوال)ددین علماء په دی مسئله کی څه وایي: دیوبنار په بازار کې یو مسجد چی دچوره مسجد په نوم مشهور دی دهغه دقبلې په طرف دیوال ته متصل شاته دکانونه وو چی دسړک په پراخولو کې څه حصه یی په لاره کی لاړه او څه حصه یی پاتی ده چی د کان پکې نشي جوړیدلې. د وقف کمیتی مشر دا اراده کړی ده چی د مسجد آمدني د زیاتولو لپاره د مسجد ددیوال نه دوه فټ زمکه لـه هغه سره یوځای کړی شي اودکانونه دی ورباندی جوړکړی شي، ددی څه حکم دی ؟ ایا د مسجد دیوال په دکان کې شاملولی شو اوکه نه ؟ که چیرته وقف کمیتی مشر دغه تهوله ګناه پخپل غاړه

اخلي اود کمیټی نور ارکان ورسره خپل رضا ښکاره کړي نو په دی باره کی څه حکم دی؟ د مسجد مخکینی دیوال به د مسجد په حکم کی شامليږي اوکه له مسجد نه خارج. که چیرته لدینه ددکانونو د جوړولو لپاره ورکړی شي نو داجائز دی اوکه نه؟
اسماعیل خط استوونکی بابو بهايي او عبدالرحمن بهايي منصوري ناتهو بهايي. شکور بهايي. لال دروازه بازار بسنکرو ایا احمد اباد ضلع مهسانه.

خواب: هو الموفق للصواب. دمسجد آمدني د زیاتولو لپاره د مسجد دیوال په لری کولو سره د دکانونو جوړول صحیح او جائز کار نه دی، دمسجد مخکیني دیوال هم د مسجد په حکم کی دی دهغه يوه حصه هم د مسجد له حد نه خارجه نه ده او نه هم دمسجد کوم جزء په کرایه ورکولی شي، دهغه بی حرمتی د مسجد بي حرمتي ګڼل کیږي ددی مسئولیت او ذمه واری پخپل سر اخستل څه عقل مندي نه ده که چیرته بیروني خای د دوکانو لپاره بس نه وي نو هغه دی د مسجد پشته جوړه کړی شي يادی هغه خای په څه خيز سره محفوظ او محصور وګرځولی شي.

فمن بنی بیتا علی جدار المسجد وجب هدمه ولایجوز الاجرة وفی البزازیة ولایجوز للقیم ان یجعل من المسجد مستغلا ومسکنا(البحر الرائق ج۵ ص۲۵۱ فصل فی احکام المسجد تحت قوله ومن جعل مسجد الخ).

ولایوضع الجزع علی جدار المسجد وانکان من اوقافه(البحرالرائق ج ۵ ص۲۵۱ ایضاً) بنی فوقه بیتا للامام لایضر لانه من المصالح امالوتمت المسجد یته ثم اراد البناء منع ولوقال عنیت ذلك لم یصدق تتارخانیه فاذا کان هذافی الواقف فکیف بغیره فیجب هدمه ولو علی دار المسجد ولا یجوز اخذالا جرة من ولا ان یجعل شیئا منه مستغلا ولاسکنی بزازیه. (درمختار کتاب الوقف مطب فی احکام المسجد ج ۴ص ۳۵۸).

د مسجد له کومې حصې نه لاره جوړول

(۶۳- سوال) د لاندینی مسئلې په باره کې علماء کرام او مفتیان عظام څه وايي؟
په سورت کی ادهنه دروازې ته نژدې يو مسجد دی چی هلته پنځه وخته لمونځ په جمعی سره اداکیږي. دهغه څه حصه بلدیات والا دلارې د پراخولو لپاره ورانول غواړي. ایا دمسجد کوم خای د بل کوم کار لپاره استعمالولی شو؟ خيني وايي چی

صرف جماعت خانه د مسجد په حکم کی دی، صحن ، غسل خانې او نورې حصې په مسجد کې داخلې نه دي ایا داخبره صحیح ده د کتابونو په حواله خواب راکړئ.
(خواب) کوم ځای چی یوځل د مسجد په حکم کی راشي بیاکه دهغه عمارت پاتی شي یانه. پرهغه ځوک لمونځ کوي یانه هغه ځای ترقیامته پوری د مسجد په حکم کی راځي له عبادت نه علاوه هغه دبل کار لپاره نشي استعمالولې، دهغی کومه حصه خرڅول، په کرایه ورکول ، ګرو کول اودهغه وارثانو ته ورکول جائز نه دي.لهذا په دی مسئوله صورت کی د مسجد یوه حصه هم دلارې لپاره نشي آخستل کیدې. په شامي کی دي:
لایجوز ان یتخذ المسجد طریقاً دمسجد هیڅ یوه برخی نه لاره جوړول جائز نه دي.
لان المسجد لایخرج عن المسجدیة ابدا ځکه چی مسجد کله هم دمسجد له حکم نه نشي وتلی.(ص، ۵۳۰، ج ۳ کتاب الوقف مطلب فی جعل شیئ من المسجد طریقا)
فقهای کرام تردی لیکي چی متولی لپاره جائز نه دي چی د مسجد په حد او دهغه په احاطه کی دکانونه جوړ کړي . (بحر الرایق ج ۵ص ۲۴۹).[1]
پس کله چی د مسجد دګټې لپاره د مسجد حدودو او دهغه په احاطه کې دوکانونه نشي جوړولې نود مسجد حصه په لاره کې ځنګه شاملولې شي ؟ مسجد دهغه ځای نوم دی چی کوم مسلمان هغه خالص د الله تعالی د عبادت لپاره وقف کړی وي مسجد لپاره چی کوم ځای وقف شوی وي دهغه پرهره حصه باندی د مسجد اطلاق کیږي اودهغه پر هر حصه باندی دوقف احکام جاري کیږي یعنی څرنګه چې دمسجد د محراب اومنبر ځای په کرایه ورکول جائز نه دي همدغه راز د مسجد غسلخانه، بیت الخلاء او نورو ځایونو هم په کرایه ورکول جائز نه دي، ځکه چې د مسجد موقوف ځای د الله دعبادت او عبادت لپاره د تیاري له اسباب او ذرائعو څخه دی، یوازی د لمونځ کولو ځای مسجد نه بلکې دهغه صحن او برانډه هم مسجد کې راځي اودهغه احاطه هم په مسجد کې راځي چی هلته د ګرمی اویخنی په وخت کې لمونځونه کولې شي.(بحر الرائق ج ۲ ص ۷۴، باب ادراک الفریضه تحت قوله ومن خاف فوت الفجر شامی ج ۱ ص ٦٦، مطلب فی احکام المسجد امداد الفتاوی ج ۲ ٤٨٦).

---

[1]- وفـی الـمجتبی لا یجوز لقیم المسجد ان یبنی حوانیت فی حد المسجد اوفنائه فصل فی احکام المسجد).

که چېرته دمسجد صحن په مسجدکې داخل نه وای نوپه ګرمي کې دمسجدپه صحن کې په جمعې سره مولمونځ ولی کاو اوهغه ته مودمسجد صحن یامسجد صیفي اومسجدخارجې ولې ویل کیږي؟ دفقهه په کتابونوکې دي چې دتلوار راتلو لپاره له مسجدنه لاره جوړول مکروه دي (فتاوه سراجیه ص ۷۱)
په مسجدکې دننه داوبوکوهی ویستل مکروه دي ځکه چې په دی سره په صفونو کې خلل پیداکیږي . (فتاوی سراجیه ۷۱)
په مسجد کی دننه دوني لګول هم مکروه دی ځکه چې په دی سره په صفونوکی نقصان راځي په مسجد کې دننه اودس کول مکروه دی خوکه دمجسد دجوړیدو په وخت کوم ځای داودس لپاره جوړ کړی شي نودامکروه نه د ی (بحر الرائق ج ۲ ص۳۳)
په دغو ټولو مسائلو کی چې هر چېرته دمسجد لفظ راغلی دی لدینه له مسجد نه علاوه بل څه مراد کیدلې شي ؟ په کوم ځای کې چې لمونځ کیږي او ورته جومات ویل کیږي هلته خوددی هیڅ ګنجائش نشته البته دمسجد په صحن کی داسې کار کیدې شي نوځکه دممانعت ضرورت مخې ته راځي. لدینه ثابت شو چې دفقهاو په نزد دمسجدصحن هم مسجددی، یوه حصه دلمونځ اعتکاف اونوروعبادتونو لپاره اوبله حصه داعتکاف اولمونځ ته دتیاري لپاره وي مثلاً

(۱) که دمتیازو حاجت وي نو له هغه نه دفراغت نه وړاندی دلمونځ کولو اجازه نشته نوځکه په مسجد کې دمتیازو لپاره ځای ضروري دی .

(۲) که چېرته دقضای حاجت ضرورت وي نو له هغه نه دخلاصیدونه پرته دلمونځ لوستلو اجازه نشته نو ځکه دبیت الخلا ضرورت دی..

(۳) دجنابت په حالت کې مسجد ته ننوتل روانه دی نو ځکه دغسل خانې ضرورت دی .

(۴) له اودس نه پرته لمونځ نشي لوستل کیدی نو ځکه په مسجد کې داودس کولو ځای ته ضرورت دی .

نوټ اعتکاف دلسو ورځو یاد پوره میاشتې وي . په هغه کی خوراک ، څښاک ، ویده کیدل نول په مجسد کې ترسره کیږي لهذا دغسل خانې اودنورو مذکوره شیانو ضرورت مخې ته راځي

فقط والله اعلم بالصواب

ددیس نګر دمسجد مسئله

(۶۵ سوال) ددیس نګر په مسجد کې دهغه دقبیلې په طرف ددیوال په باره کې دامشوره کیږي چې هغه دی لره کړی شي اوپرځای دی دکانونه جوړ کړی شي . حضرت مولانا مفتي سید عبدالرحیم صاحب دهغه معائنه وکړه او خپله تبصره یې واوروله چې په لاندې ډول ده .

دمفتي لاجپوري صاحب دامت فیوضهم معائنه او تبصره یې :

نحمده ونُصلي علی رسوله الکریم _ اللهم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه وارنا الباطل باطلاً وارزقنا اجتنباه .

مادجون په اتمه نیته ۱۹۶ ع کال دچهار شنبې په ورځ ددیس نګر چوره مسجد معائنه کړه هلته مې هغه دیوال پخپلو سترګو ولید چې له زمکې سره جوخت دی اوپرهغه دمسجد ددیوال په شمول دکان جوړول ترمشورې اوتجوزیر لاندی دی ، له لیدلو او معائنې نه وروسته دی نتیجې ته رسیدلې یم چې ددغه مسجد دقبلې په طرف ددیوال یوه حصه هم په دوکان کې شاملول جائزنه دی .

فمن بنی علی جدار المسجد وجب هدمه ولایجوزالاجرة وفي البزازیة ولایجوز للقیم ان یجعل شیئاً من المسجد مستغلا ومسکنا (بحرالرائق ج۵ص۲۵۱ فصل في احکام المسجد تحت قوله ومن جعل مسجداً)

ولایوضع الجذع علی جدار المسجد وان کان اوقافه الخ (ج ۵ ص۲۵۰ ایضاً) لوبني بیتاً للامام لایضر لانه من المصالح امالوتمت المسجدیة ثم اراد البناء منع ولوقال عنیبت ذلك لم یصدق (تتارخانیه) فاذا کان هذا في الواقف فکیف لغیره فیجب هدمه ولو علیجدار المسجدولا یجوز اخذ الاجرة منه ولا ان یجعل شیئاً منه مستغلاً ولاسکني بیزازیه(در مختار کتب الوقف مطلب في جعل شئی من المسجدطریق ج ٤ ص ۳۵۸ .)

یعنې که واقف دمسجد ددیوال لپاسه دامام لپاره کوټه جوړه کړه نوخه ضرر نه لري خکه چې داهم د مسجد له عمومي مصالحو څخه ده. داهله چې ددی مسجد کیدل

پوره شوی وي ، فقط په قول سره چې پرهغه فتوه ده ياپه هغه کي لمونځ کولو سره ، بيا واقف دمسجد لپاسه دکوټې جوړولو اراده وکړه نو هغه به لدينه منع کولی شي اوکه دمسجد باني ووايي چې ماله مخکې نه ددی نيت کړی و نو دهغه داخبره نه منل کيږي کذافي التتار خانيته. کله چې پخپله دواقف په باره کې داخبره ده چې نه هغه ته ددی دجوړولواجازه شته اونه دجوړولوپه اړه دهغه دنيت اعتبار دی ، نو غير واقف ته دا اجازه څنګه او کله کيدلی شي ؟لهذا ددی غورځول واجب دي . اګر که داکوټه دمسجد په ديوال باندی وي (نه په چت باندی) اود دی ديوال کرايه آخستل هم جائز نه دی اونه هم داجائز دی چې دمسجد کومه حصه داسې وګرځول شي چې ورباندی کرايه واخستل شي يا ورباندی داوسيدو کور جوړشي بزازيه بحواله درمختار ـ ځينو فقهاو دمسجدحصې نه دکرايه ورکولو اجازه ورکړې وه خو هغه يې صحيح ندې ګڼلې بلکې په کلکه يې رد کړی ده .
غاية الافطار ج ۲ ص۲۷۰.

وقوله ولو على جدار المسجد مع انه لم يأخذ من هواء المسجدشيئاً الخ ونقل في البحر قبله ولا يوضع الجذع على جدار المسجد وان كان من اوقافه الخ قلت وبه علم حكم مايضعه بعض جيران المسجد من وضع جذرع على جداره فانه لايحل ولودفع الاجرة (قوله ولا ان يجعل الخ) هذا ابتداء عبارة البزازيه والمراد بالمستغل ان يوجرمنه شئى لاجل عمارته وبالسكنى محلها عبارة البزازيه على مافي البحر ولا مسكنا وقدرد في الفتح مابحثه ف الخلاصة من انه لو احتاج المسجد الى نفقة تو جر قطعة منه بقدر ماينفق عليه بانه غير صحيح . (شامي ج۳ ص ۵۱۲. ۵۱۳ كتاب الوقف مطلب في احكام المسجد)

قيم المسجد لايجوز له ان يبني حوانيت في حد المسجداوفي فنائه لانه المسجد اذا جعل مسكنا تسقط حرمته ، وهذا لايجوزوالفناء تبع المسجد فيكون حكمهٗ حكم المسجد كذا في المحيط السرخسي (فتاوی عالمگيري ج۲ ص۴٦۲ الفصل الثاني في الوقف على المسجد على)

يعني دمسجد متولی ته دمسجد په حد او فنا کې دکانونه جوړول جائزنه دی ، ځکه چې ددوکانونو په وجه دمسجد حرمت نه پاتې کيږي

لايجوز لقيم المسجد ان يبني حوانيت في حد المسجد وفي فنائه (بحر الرائق ج ۵ص۲٤۹ فصل في احكام المسجد)

له فقهي رواياتو نه واضح شو چې دمسجد ديوار يادهغه هيڅ يوه حصه په دوکان کې نشي شاملولې فقهاو رحمهم الله تصريح کړی ده چې د مسجد ديوالونه بايد د کوم کوريادوکان له ديوالونوسره دی شريک نه وي اګر چې هغه کور اودوکان په دغه مسجد باندی وقف وي لهذا متولی باندی لازم دي چې دمسجد ديوال دی پخپل اصلي حالت باندی جوړکړي، دديوال هيڅ يوه حصه دی‌په دوکان کې نه شاملوي . دکعبې حطيم په کعبه کې داخل دی . ليکن دعوامو د لحاظ ساتلو اوله نزاع نه دمحفوظ پاتې کيدو په خاطر دکعبې حيطم يې په عمارت کې شامل نه کړ اوو يې فرمايل :

ای عائشې ! زه ويريږم چې هسې نه ستادقوم زړونه ددی خبرې له منلو نه انکاروکړي چې زه حطيم په کعبه کې شامل کړم .

ولولا ان قومك حديث عهدهم بالجاهلية فاخاف ان تنكر قلوبهم ان ادخل الجدار في البيت وان الصق بانه في الارض (صحيح بخاري شريف پ ٦ ج۱ ص ۲۱۵ كتاب المناسك باب فضل مكة)

په فتح الباري کې دي چې لدې حديث نه معلوم شو چې که دمستحب امر په متعلق داويره وي چې خلک په پوره توګه پدی نه پوهيږي اوداهسې اوږه ګڼلو سره په شکونو کې غورځيږي نوغوره خبره داده چې دامستحب کار پريښودی شي . (فقط والله اعلم بالصواب)

ايا مسجد بل ځای ته منتقل کيدی شي اوکه نه ؟ ايا ددی قيمت اخستل کيدی شي يانه ؟ .

(٦٦ سوال) دجنوبي افريقې حکومت يو قانون جوړکړی دی چې نو م يې ګروپ اير يا ايکټ دی يعني دهر قوم دی جلا جلا کلې جوړ کړی شي اوپه هرکلي کې دی دهغه قوم خلک واوسولی شي دسپين پوستو جلاکلې او تورو پوستوجلاکلې ،

دجشیانو جلا کلي اوهندوانو جلاکلي، ددغه قانون په مطابق هندوستاني قوم به خپل مخکيني ټول کلي او کور پريږدي او نوي کلي ته تللو ته به مجبور ولې شي . هندوستان خلک چې اوس په کوم ځای کې اوسيږي او هلته کورونه لري حکومت هغه ټول دقانون له مخکې په بيع آخلي . ددغه قانون ترز دلاندی مسجدونه او عبادت خانې هم راغلي دي ، مونږ هندوستاني مسلمان چې په کوم ځای کې اوسيږو دهغه ځای نوم بيتهال دی او هلته دعلاقې دګروپ قانون نافذ شوی دی ، دعلاقې دګروپ دقانون له مخې حکومت ددی ځای دمسجدونو داخستلو خبرداري ورکړې دی اودهغه قيمت يې هم درې زره پونډه مقرر کړی دی . اوس سوال دادی چې ايا دمسجد قيمت معلومول صحيح دی او که نه .

(۲) ايا مسجد بل ځای ته منتقل کيدی شي يانه، اګرکه دمجبوريت لـه کبله وي حکومت په زوره مسجد په پيسو اخستل غواړي نو آيا هغه چې کوم قيمت مقرر کړيدی هغه مسلمانان اخستلی شي او که نه؟ په دی سلسله کې داخبره هم د لحاظ وړ ده چې که چيرته مسلمان د مسجد د قيمت له اخستلو نه انکار وکړي نو حکومت هغه پيسې پخپل کوم مذهبي فنډ يا شفاخانو کې مصرفوي.(۴) که مسلمانان د مسجد د قيمت پر ځای حکومت ته دا ووايي چې که تاسی له مونږ نه په زوره دمسجد دآخستلو قصد مو کړی دی نو ددی مسجد پرځای زمونږ په نوي کلي کی دحکومت په خرچ سره همغسی مسجد مونږ ته جوړکړئ چې زمونږ په مخکيني کلی کی و ايااله حکومت نه داسی غوښتنه کول جائز ده يانه؟

(ځواب) هو الموفق للصواب. په کوم ځای کی چې مسجد جوړ شوی دی اودکومی زمکې رقبه چې د مسجد په نوم نومول شوی ده، پرهغه ځای باندی مسجد قائم پاتی وي يا وران شي، په هغه کې خوک لمونځ وکړي ياونه کړي، دهغه ځای کلی آباد وي ياوران،په هر حال هغه ځای ترقيامته پوری مسجد پاتی کيږي، د نورو زمکو پشان نه فنا کيږي بلکی جنت ته رسول کيږي.

دمحمد صلی‌الله عليه وسلم ارشاد دی :

قد ذهب الارضون کلها يوم القيامة الاّ الـمساجد فَاِنَّها يتضم بعضها الـی بعضٍ.

یعنی دقیامت په ورخ ټولې زمکې فنا کیږي ماسواد مسجدونونه چې هغوی پخپلو کې ضم کیږي . (جامع الصغیر امام سیوطی ج۱ ص ۱۰۹).

نوځکه فقهاء رحمهم الله فرمایي :ولوْ خرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجدا عند الامام والثاني ابداً الى قيام الساعة (وبه يفتى) حاوى القدسى (درمختار).

یعنی که د مسجد اطراف وران شي او دمسجد هیڅ حاجت پاتی نشي نو بیاهم د امام اعظم او امام یوسف په نزد هغه ځای ترقیامته پورې جاری پاتی کیږي اوپه همدی باندی فتوه د.ه.

په شامي کی دي :

فلا يعود ميراثاً ولايجوز نقله ونقل ماله على مسجد اخر سواء كان يصلون فيه اولا وهو الفتوى (ايضاًفيه) ولو حرب المسجد وماحوله وتفرق الناس عنه لايعود الى ملك لواقف عند ابى يوسف فيباع نقضه باذن القاضى ويصرف ثمنه الى بعض المساجد الخ (ايضًا فيه) قال فى البحر وبه علم ان الفتوى على قول محمد فىالات المسجد وعلى قول ابى يوسف رحمه الله فى تابيد المسجد اه والمراد بآلات المسجد نحو القنديل والحصير بخلاف انقاضه لما قد مناه عنه قريبًا من ان الفتوى على ان المسجد لايعود ميراثًا ولايجوز نقله ونقل ماله الى مسجد (آخر. ج ۳ ص ۵۱۳ كتاب الوقف مطلب فيما لوخرب المسجد او غيره).

لهذا پکار دي چې په پوره توان دی کوشش وکړی شي چې دامسجدونه پخپل اصل حالت کی پرېښودلی شي ترڅو له بی ادبی نه محفوظ پاتی شي. که چیرته دسامان دضائع کیدلو خطره وي نو هغه دی بل مسجد ته منتقل کړی شي، که چیرته د مسجد د خرابیدو او یا ماتولو خطره وي نو دهغه ټول حساب دی هم بل مسجد ته منتقل کړی شي خو اصلي ځای دی محصور کړی شي ترڅو له بی حرمتی نه په امن پاتی شي او که چیرته حکومت نه غواړي چې د مسجد اصل زمکه پاتی شي نو که څه هم د مجبوریت له کبله پرهغوی دخرڅولو جواز شته خوپه دی سره د مسجدونو د خرڅولو یو مثال جوړیږي، بیا د نور ځای حکومتونه او قومونه لدینه ناجائزه ګټه اوچتوي، لهذا

که چیرته نقصان د زغملو ترحده پوری وي نونه خرخول یی بهتر او مصلحت ته نژدی دی والعلم عند الله.

لہم تحویل المسجد الی مکان اخر ان ترکوہ بحیث لایصلی فیه ولهم بیع مسجد عتیق لم یعرف بانیه وصرف ثمنه الی مسجد اخر(شامی ج ۳ص ۵۱۲). ان المسئلة فیها خلاف بین الائمة الا سلاف فقال ابویوسف رحمه الله یبقی مسجدا ابدا الی قیام الساعة لایعود میراثاً ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد اخر سواءً کانوا یصلون فیه اولا وعند محمد یعود الی صاحبه ان کان حیاً والی ورثة ان کان میتاً وان کان لایعرف بانه او عرف و مات ولا وارث لهاواجتمع اهل المحلة علی بیعه والاستعانه بثمنه فی المسجد الاخر فلا باس به وتصرف او قافه الیه (الیٰقوله) والفتوی علی قول ابی یوسف(الی قوله) وصحح قوم قول محمد وفی الواقعات للصدر الشهید المسجد اذا خرب وهو عتیق لایعرف بانیه وبنی اهل المسجد مسجداً اخر وباع اهل المسجد الاول.... واستعانوا بثمنه فی بناء المسجد الثانی علی قول من یری جواز هذا البیع وان کنا لا نفتی به جاز وفی الخلاصة والبزازیة عن الحلوانی اذا خرب مسجد وتفرق الناس عنه تصرف اوقافه الی مسجد اخرو فی النوازل کثیر من الکتب انه لاباس به وهذا کله علی قول محمد فتحرر من هذا التقریر ان المسئلة اجتهادیة وللا ختلاف فیها مجال وللا جتهاد فیها مساغ فاذا توفوت شروط الحکم علی قول الامام الثالث الذی رویت موافقته. فیه لقول الامام الاعظم بعد النظر فی المصلحة للمسلین والاعانة للمتعبدین فلاشك فی صحته و نفاذه وارتفاع الخلاف فیه فانظر الی قوله فی الواقعات و ان کنا لا نفتی به جاز وما ذلك انه قدتکون المصلحة فیه متعنیه فاذآ علم الله سبحانه وتعالی خلوص النیة وصفاء الطویة وقصد الدار الاخرة والا جور الوافرة والا خذبما بما هو یسرو طرح ماهو عسر فهو خیر محض ونفع صرف فانه الدین کله یسروان خشی عاقبة سوء و انقلاب موضع. فالعمل بما علیه الفتوی اولی والا مور لمقاصدها وکم من شیٔ واحد یکون طاعة

بالنية الخيرية ويكون معصية بالنية الشرية والله اعلم(فتاوى خيرية ج ۱ ص ١٦٤)
حاصله انه يعمل بقول ابي يوسف حيث امكن والافبقول محمد تامل (شامى ج ٣ ص ٥٢٩ كتاب الوقف فيما لو خرب المسجد او غيره).

د مجبوریت په حالت کی دامنظور او منل کیدی شي چی حکومت ددغه مسجد پرځای بل مسجد جوړ کړي. فقط والله اعلم بالصواب.

دیو وقف خېز پیسې په بل وقف خیز کی مصرفول:

(٦٧- سوال) ایا دمسجدونو د وقف پیسې دوقف په نوم یتیم خانې ته ورکولې شو؟

ځواب د مسجدونو وقف پیسې یتیم خانې ته دوقف په توګه نشئ ورکولې، دیو وقف خیز پیسې په بل وقف کې استعمالول جائز نه بلکې ممنوع دي. په درمختار کی دي:
وان اختلف احدهما بان بنى رجلان مسجدين اورجل مسجداً اومدرسة ووقف عليهما اوقافا (لا) يجوز له ذلك (اى الصرف المذكور).

یعنی دوه کسان جلا جلا مسجدونه جوړوي او یا یوکس مسجد او مدرسه جوړوي او دواړو لپاره جلاجلا پیسې وقف کړي نو قاضي ته داحق نشته چی دیو وقف پیسې په بل وقف کې خرج کړي.(درمختار مع الشامي ج ٣ ص ٥١٥ مطلب فی نقل القاضی المسجد).

خوکه واقف پخپل وقف نامه کی لیکلي وي چی له ضرورت نه زیاتې پیسې د ضرورت په وخت له نورو غریبو او نادارہ وقفونو سره مدد وکړي اوپه خیر کار کی دی خرج کړي، نو دواقف دشرط په مطابق د نورو وقفونو سره مدد کول او خرچ کول صحیح دی، البته که چیرته کوم وقف مالدار وي او بل کمزوری وي نو دقرض په توګه ورکولی شي.
اما المال الموقوف على المسجد الجامع لو تكن للمسجد حاجة للمال فللقاضى ان يصرف فى ذلك لكن على وجه القرض فيكون دينا فى مال الفئ (فتاوى عالمگيرى ج ٢ ص ٤٦٤ قبيل الباب الثانى عشر فى الرباطات و المقابر و الخانات الخ).

که چیرته دکوم وقف په خزانه کې پیسې دومره زیاتی وي چې نه ورته فی الحال ضرورت لري اونه ورته اینده ضرورت لري اوداپیسې هسې ضایع کیږي یا بی ځایه ناجائز استعمالیږي او دوقف مقصدضائع کیږي نو په داسی حالت کی نژدی بل ضرورت من

اوقافوته زیاتې پیسې د مدد په توګه نه دقرض په ډول ورکول جائز دي. مګر په دی صورت کی دی ددې خیال وساتل شي چی د مسجد زیاتې پیسې دې نژدی ضرورت مند مسجد ته او د مدرسې زیاتې پیسې دې نژدی ضرورت مندې مدرسې ته ورکړی شي دیتیم خانې، سرای او نورو اوقافو هم همدا حکم دی. او دی لپاره چی د مسجد په آبادی کی زیاتوالې راشي دهغه په خوا کی ددیني تعلیم مدرسه هم جوړولی شي فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجدونو پیسې په دنیوي تعلیم کې لګول :

(٦٨- سوال) ایا د مسجدونو او مقبرو پیسې د دنیوي تعلیم کوونکو شاګردانو ته د مرستې او مدد په توګه ورکولې شوو یانه ؟.

خواب د مسجدونو او مقبرو پیسې ددنیاوي تعلیم زده کوونکو لکه دلیسو او مکتبونو شاګردانو دامداد په توګه ورکول جائز نه دي. د در مختار حواله بالا و ان اختلف احدهما الخ والله تعالی اعلم.

دمدرسې کورپه کرایه ورکولې شوو یانه؟

(٦٩- سوال) زمونږ په علاقه کې عربي او دیني مدرسه نه وه، یو سخی سړي پخپلو پیسو دلته مدرسه جوړه کړه لیکن د ماشومانو د تعداد دزیات والي له کبله مدرسه ناکافي شوه، د ماشومانو په کیښنولو کې تکلیف و چی دهغه په وجه مو نوی لویه مدرسه جوړه کړه في الحال ماشومان په دغه نوی مدرسه کې سبق وایي مخکینۍ مدرسه چی سخی شخص جوړه کړی وه هغه بنده پرته ده، ایا هغه په کرایه باندی ورکولی شوو او که نه؟ ایا دهغه دکرایه پیسې په نوي مدرسه کې لګولې شوو او که نه ؟.

خواب: پخوانی مدرسه چې سخي او مالدار شخص د کوم مقصد لپاره جوړه کړی وه دهغه باید خیال وساتل شي او ترڅو چې ممکن کیدی شي نوله هغه نه دی همغه کار واخستل شي چی دکوم مقصد لپاره هغه جوړه کړی وه. که هاکان نه وي نو دجنوکیانو مدرسه ترینه جوړه کړئ، که چیرته ددی هم ضرورت نه وي او هسې بی کاره پرته وي نوپه کرایه باندی ورکولې شئ او دهغه پیسې د مدرسې په خرچه کې اچولی شئ. فقط والله اعلم.

ایا دمسجد او مدرسې پیسې په نورو مسجدونو او مدرسو کې لګولی شوو؟

(۷۰ - سوال) زمونږ دکلي مدرسه فی الحال له سخت نازک حالت نه تیریږي څکه چې د مدرسینو د تنخوا لپاره پیسې نشته او ګرانه ښکاري چې استاذان خپلو وظیفو ته حاضر شي.آن چې مدرسه بندیدو ته نژدی شوی ده. د مدرسې آمدني د زمکې په پیسو سره کیږي خو د مدرسې خرچه د زمکې له آمدن څخه زیاته ده داځو کاله خو زمکه بالکل حاصلات نه ورکوي او مدرسې ته پیسې نه راځي. اوس پوښتنه داده چې زمونږ د کلي په مدرسه کې یوه کتابخانه ده هلته لـه ضرورت نه زیاتې پیسې دي، همدغه راز د قبرستان پیسې هم لـه مونږ سره زیاتی پرتی دي ، زما اراده ده چې دغو پیسو نه استاذانو ته معاشونه ورکړم خو سوال دادی چی ایا زه په داسی کولو سره دغه مدرسه چی خلکو ته یی زیاته ګټه او فیض رسیږي جاري ساتلی شم اوکه نه؟ بل داچې که دغه پیسې مفت نه شم اخستلې نود قرض په توګه یې اخستلی شم او که نه؟په دی اړه مونږ ته صحیح لاربنوونه وکړئ.

ځواب: د وقف احکام ډیر زیات نازک دي، د وقف غرض او مقصد لحاظ اودهغه دشرائطو خیال ساتل ډیر ضروري دي.

اوس اصلي مسئله داده چې د یو وقف پیسې بل وقف کې مصرفول جائز دي اوکه نه؟ په دی باره کې در مختار کی دي :

وان اختلف احدهما بان بنی رجلان مسجدین اورجل مسجداً و مدرسة ووقف علیهما اوقافا لایجوز له.

یعنی که دوه سړو جدا جدا دوه مسجدونه جوړ کړي یوسړی یو مسجد او یوه مدرسه جوړه کړی او دواړو لپاره جدا جدا وقف ورکړي وي نو قاضی صاحب ته داحق نشته چې دیو وقف مال په بل وقف کې ولګوي : (درمختار مع الشامی جلد ۳ ص ۵۱۵ کتاب الوقف مطلب فی نقل القاضي المسجد).

خوکه چیرته واقف پخپل وقف نامه کې دضرورت په وخت کې د بل کوم نیک کار لپاره د زیات آمدني د خرچ کولو اجازه ورکړي وي نو دشرط په مطابق په نورو نیکو کارونو کې دهغوی خرچول جائز دي اوکه اجازه یي نه وي کړی نو خرچول یی جائز نه دي. البته وروستي علماو دومره ګنجائش ویستلې دی چې که چیرته له کوم وقف

سره پیسې زیاتې وي یعنی په هغه کې نه کافي خرچ کولو باوجود بیاهم ترینه دومره پیسې زیاتې شوي وي چې هغوته نور ضرورت نه وي اوبل وقف ضرورت مند اومحتاج وي نو هغه ته قرض ورکولی شي. اوکه وقف دومره مالدار وي چې دغو زیاتو پیسو ته نه في الحال څه ضرورت لري اونه وروسته اوکه خرچ نه کړی شي نو وروسته د ضائع کیدو امکان دی یعنی هسې ناجائز او بې ځای استعمالیږي اود واقف مقصد نه پوره کیږي نوبیاپه داسې‌صورت کې نژدی محتاج وقف ته د مرستې په توګه ورکولی شي. (فتاوی عالمګیري ج ۲ ص ۴۶۴). په مذکوره صورت کې ددی خبرې خیال ساتل هم پکار دي چې د مسجد زیاتې پیسې نژدی بل حاجت مند مسجد کې اود مدرسې زیاتې پیسې دی خواکې نژدی بل ضرورت مند مدرسې کې استعمال کړي، که چیرته د مسجد په آبادي کې زیاتوالی مقصد وي نو په زیاتو پیسو سره دی مسجد ته نژدی مدرسه هم خلاصولې شي ددغه تفصیل په رڼا کې تاسې‌پخپله پوهیدلی شئ اوله غور نه وروسته پخپله فیصله کولی شئ چې ستاسې کومه مسئله ده دهغه څه حکم دی؟ فقط والله اعلم.

ایا د مسجد پخوانۍ زمکه ګرو کولی شو؟

(۷۱- سوال) په شاهي زمانه کې چې کومه زمکه په مسجد کې وقف وي ایا متولي هغه خرڅولی یا ګرو کولې شي ؟.

(ځواب) د وقف ګروکول صحیح نه دي، همدغه راز د وقف شوی ځیز د خرڅولو په باره کې دهغه د حقیقت ترښکاره کولو اوله معتبر عالمه نه دفتوه ترلاسه کولوپورې په هغه زمکه کې دتصرف کولو حق ورته نشته، متولي په هغه وقف کې تصرف کولی شي چې شریعت دهغه اجازه ورکړی وي.[1]

د مسجد په پیسو سره د اوبو ګرمولو لپاره د ډبرو سکرو اخیستل اوپه هغه اوبو سره اودس کول څنګه دي ؟

(۷۲-سوال) د مسجد په پیسو سره اخستل شوی ډبرو سکرو سره دسهار په وخت اوبه ګرمولې شي په دغو اوبو سره اودس کول څنګه دي ؟

[1] - فاذا تم ولزم لایملك ولا یملك ولایعار ولا یرهن فبطل شرط واقف الکتب الرهن شرط کما فی التدبیر در مختار مع الشامی مطلب فی شرط واقف الکتب ان ل تعار ولایرهن ج ۲ ص ۳۵۲.

خواب که چیرته دا سکاره د وقف په پیسو اخستل شوې وي اوپه وقف نامه کې ددی اجازه موجوده وي نو جائزدی اوکه نه وي نو جائز نه دی.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

د قبرستان ځای په مسجد کې شاملولی شو اوکه نه ؟

(۷۳- سوال) دمسجد قبلې طرف ته څو زاړه قبرونه دي غواړو چې د قبرونو دغه ځای په جماعت کی دننه کړو ایا دداسې کولو اجازه شته اوکه نه ؟

(خواب) که چیرته د قبر ځای د مسجد ملکیت وي یا چا دمسجد لپاره ورکړی وي ، په هغه کې قبرونه دومره پخواني وي چی مړي پکې خاوری شوي وي نو داسی ځای په مسجد کې دننه کول جائز دي او لمونځ پکې صحیح کیږي، په دی کی د مړو توهین هم نه کیږي، که چیرته کوم قبرستان وقف وي نودهغه یوه حصه هم په مسجد کې شاملول جائز نه دي خو ځینو فقهاو په هغه صورت کی په مسجد کې د قبرونو دننه کولو اجازه ورکړی ده چی قبرستان غیر مستعمل وي نه پکې څوک مړي خښوي اونه آینده پکې دمړي خښولو توقع وي،لهذا د سخت ضرورت په وخت کی په دی باندی دعمل کولو گنجایش موجود دی.(شامی او عمده القاری)[2]. فقط والله اعلم.

د محلې مسجد بندول او په جامع مسجد کې لمونځ کول څنگه دي :

(۷۴- سوال) زمونږ په قریه کې اته محلې دي اوپه هغه کې اته مسجدونه موجود دي. یو پکې شامي مسجد دی چې پکې دشپږو محلو خلک دجمعې لمونځ کوي، د دوه محلو خلک ورته نه راځي. هغوی ته چی دا وویل شي چی تاسی هم دلته راشئ نو هغوی وايي چې په دی سره زمونږ مسجدونه بند پاتې کیږي او د مسجدونو بی حرمتي کیږي. آیا په دی سره واقعي دهغوی د مسجدونو بی حرمتي کیږي اوکه نه ؟

---

[1]- مسجد له مستغلات و اوقاف اراد المتولي ان يشترى من غلة الوقف للمسجد دهنا او حصيرا او حشيشا او اجرا او جصا لفرش المسجد او حصى قالو ان وسع الواقف ذلك للقيم وقال تفعل ماترى من مصلحة المسجد كان له ان يشترى للمسجد ماشآء فتاوى عالمگیری، الفصل الثانى فى الواقف على المسجد الخ.

[2]- وقال الزيلعى ولو بلى الميت وصار تراباً جاز دفن غيره فى قبره وزرعه والبنآء عليه ... قلت لكن فى هذا مشقة عظيمة فالا ولى اناطة لا جواز بالبلاء... وان بقى من عظامهم شئ تنبش وترفع وتتخذ مسجدا لماروى ان مسجد النبى صلى الله عليه وسلم كان قبل مقربة للمشركين فينشت شامى كتاب الجنائزمطلب فى دفن الميت (ج ۲ ص ۲۳۳).

(جواب) د محلې په مسجدونو کې دپنځه وخته لمونځ د لوستلو لپاره حاضري ضروري ده. دمحلې د خلکو لپاره د خپلې محلې په مسجد کې لمونځ کول په ثواب کې دجامع مسجد هومره ثواب لري. له شرعي عذر نه پرته دهغه پرېښودل جائز نه دي، که یو لمونځ گذار هم وي نو بیادې هم دمحلې په مسجد کې لمونځ ولولي. البته دجُمعې لمونځ لپاره دمحلې مسجد بندول او جامع مسجد ته د ورتلو اجازه وه. که چیرته په یو مسجد کې خلک نه ځایدل یالرې وي او خلکو ته په تلو راتلو کې تکلیف وي نو بیا دجُمعې لمونځ په مختلفو مسجدو کې لوستل صحیح دي له څه عذر نه پرته د محلې په مسجد کې دجُمعې دورځې لمونځ کول د شریعت مقصد، مصلحت او اسلامي شان اوشوکت ختموي ،لهذا په مسئوله صورت کی دمحلې مسجد بندول اود جُمعې لمونځ دلوستلو لپاره جامع مسجد ته په تللو سره د مسجد په احترام کې هیڅ قسم کمې او خلل نه راځي لکه چې داختر په ورځو کې د جامع مسجد په بندولو سره عیدگاه ته د تللو په صورت کی د جامع مسجد په احترام کې څه خلل نه راځي. بلکې په دې سره داسلام په شان اوشوکت کې زیاتوالې راځي اودلوی فضیلت حقدار کیږي په دغې طریقې باندی، د عمل کولو ثواب ترقیامته پورې رسیږي. د محمد صلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی :

من سن فی الاسلام سنة حسنةً فله اجرها واجر من عمل بها من بعده . یعنی چاچې په اسلام کې نبه سنت جاري کړ نو هغه ته دهغه اجر او ثواب رسیږي اولدینه وروسته چې څوک په دی باندی عمل کوي دهغه اجر هم ورته رسیږي اوداسی عمل کوونکو خلکوپه ثواب کې هیڅ قسم کمې نه راځي. (مکشواه ص ۲۳ کتاب العلم) والله تعالی اعلم بالصواب.

په مسجد کې د ځای د معلومولو په اړه څه حکم دی ؟:

(۷۵- سوال) یوسړی داسی کوي چې موذن ته نژدی خپلې ټوپۍ یا ځادر ږدي او اودس لپاره ورځي ترځو اودس نه وروسته راشي او په دی ځای باندی کیني ایا داځای دهغه لپاره مخصوص گرځي ؟

جواب: له اودس نه مخکې که خپله ټوپۍ یا ځادر پخپله ږدي اویا په بل ځاباندی ږدي په دی کار سره هغه ته ځای نه مخصوصیږي ، دځای حقدار هغه څوک دی چې دلمونځ په اراده هلته کیني اوبیا اتفاقاً د اودس یابل څیز ورته ضرورت پیداشي هلته

خپل ځادر یا بل څه کیږدي او دژر راتلو په اراده لاړشي نوپه داسې صورت کې هغه ددې ځای یقیناً حقدار دی او بل ڇاته دهغه پرځای دناستې حق نشته.
و تخصیص مکان لنفسه ولیس له ازعاج غیره منه (در مختار قلت وینبغی تقییده بما اذالم یقم عنه علی نیة العود بلامهلة کمالو قام للوضوء مثلاً ولا سیما اذا وضع فیه ثوبه لتحقق سبق یده تامل وفی شرح السیر الکبیر للسرخسی وکذا کل مایکون المسلمون فیه سواء کالنزول فی الرباطات والجلوس فی المساجد للصلوة والنزول بمنی او عرفات للحج حتی لو ضرب فسطاطه فی مکان ینزل فیه غیره فهو احق ولیس للاخزان یحوله الخ (شامی ج ۱ ص ۶۲۰ مطلب فی احکم المسجد).

له لمونځ نه وروسته د مسجد په صحن او څلور لاره کې کیښناستیدل او خوشې خبرې کول :

(۷۶- سوال) په مسجد کې لمونځ کوونکي حضرات ماسپښین، مازیګر، ماښام اوماسختن لمونځونو له لوستلو نه وروسته له مسجد نه باهر په صحن کې اویا مسجد ته نژدې څلورلارو کې کیني او اته ساعته په خوشې خبرو اترو کې تیروي، په داسې لغویاتو او فضولیاتو کې وخت تیرول څنګه دي؟

(ځواب) د مسجد په صحن او څلور لاري کې کښیناستیدل په دنیاوي خبرو او ګپ شپ کې قیمتي وخت ضائع کول له تاوان نه پرته بل څه نه دې په قرآن کریم کې الله تعالی په قسم خوړلو سره ددې اهمیت بیان کړی دی وګورئ د العصر سوره ، چې دهغه مفهوم داسې دی :

قسم دی پر زمانه، د انسان ژوند یو قیمتي خیز دی چې د واورې په شان ویلې کیږي، الله تعالی انسان په دنیا کې دایمان او یقین اود صالحو اعمالو دنجات لپاره لیږلی دی، له هغه سره به حساب کیږي چې ژوند دی چیرته مصرف کړي، لهذا یوه شیبه او یو ساعت هم غنیمت وګڼلې شي له الهي عبادت نه علاوه په لغویاتو کې ضائع دی نه کړی شي، محمد صلی‌الله علیه وسلم فرمایي :

من حسن اسلام المرء ترکه مالا یعنیه او کما قال علیه السلام.

دالله نیک خلک دوخت ډیر زیات قدر کوي.

حضرت رابعه بصریه خو د شیطان په غیبت کې هم وخت نه ضائع کاو او ویل به یې چې څومره وخت دشیطان په غیبت کې تیروم دومره وخت دالله په ذکر کې ولې تیر نه کړم؟ مرګ همیشه دسړي سرته ولاړ دې، په ژوند باندې هیڅ بروسه نشته، هیڅا ته نه دي معلوم چې ژوند څومره دی؟ هوښیار انسان هغه څوک دی چې له فضولو خبرونه خان وساتي او خپل ژوند دالله په یاد کې تیرکړي، که نه نو بیابه افسوس کوي خو هیڅ ګټه به نلري، په قرانکریم کې دي :

فیقول رب لولا اخرتنی الی اجل قریب فاصدق و اکن من الصالحین.

نو انسان به وایي ای زما ربه ! ماته لږ غوندې مهلت ولې رانه کړ چې ما خیرت کړی وای اوصالح جوړ شوي وای.

هغه ته به دا څواب ورکول کیږي :

ولن یؤخر الله نفساً اذاجاء اجلها.

کله چې تاکلی وخت راشي نو هیچاته هم الله تعالی دیوی شیبې لپاره مهلت نه ورکوي. (سوره منافقون). یعنې خپل ژوند ضائع کوونکې له مرګ نه وروسته پښیمانیږي او افسوس کوي. په سوره سجده کې دي :

رَبَّنَا ابصرنا وسمعنا فارجعنا لعمل صالحاً انا موقنون.

ای زموږ ربه ! زموږسترګې او غوږونه واز شول، موږ دوباره دنیاته ولیږه موږ صالح اعمال کوو موږ ته یقین شوی دی.

شیخ سعدي رحمه الله علیه فرمایي :

جـــزیاد دوست هرچه کنی عمر ضائع است
جـــــز سرعشق هر چی بخوانی بطالت است

یعنې دالله تعالی له ذکرنه علاوه چې هرڅه وکړی شي هغه دعمر ضائع کولو په برابر وي او دالهي عشق له راز نه علاوه چې هرڅه ولوستل شي هغه بې کار او بې‌معنی ده.

خیری کن ای فلان و غنیـمت شمار عـــمر
زان پیشتر کـــه بانګ بـــر آید فلان نماند

یعنې‌ای انسانه ! د نیکي په کارونو کې مشغول واوسه او دژوند چې کوم ساعتونه پاتیدي هغه غنیمت وګڼه ، لدینه مخکې چې ستا دمرګ چرچې وشي چې فلان سړی مړشو.

فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد لـه صحن نه لاندې حصه کې يو ډنډ جوړ شوی دی دهغه په اړه:

(۷۷- سوال) ددين علماء په لاندينۍ مسئله کې څه وايي ؟
دګودهرا په ښار کې د ابرابر په نوم يو مسجد دی تقريبا شپيته کاله وړاندی د مسجد باني په څنډې سره جوړ کړی او هغه يې په دوه برخو کې ويشلې ۇ لومړی مسقف چې په هغه کې دپنځه شپږو صفونو انتظام و اوپنځه وخته باجماعت لمونځ پکې لوستل کيده نن هم همغسې دې، دويم غير مسقفه حصه چې په هغه کې دخلورو پنځو صفونو انتظام دی او هغه ته صحن ويل کيږي په دی کی خلک سنت او نفل لمونځونه اداکوي، جمعه او د اخترونو لمونځونه هم ، د اوبو چاتې او منګي هم همغلته ايښودل کيږي، دروژې په مياشت کې لمونځ ګذاران روژه هم همغلته ماتوي، تبليغي اجتماع هم همغلته کيږي، لـه همدې کبله نن هغه ته دمرکز مسجد ويل کيږي دلمونځ ګذارانو د د زياتوالي له کبله په مسجد کې تنګوالي راغلې دې، دمسجد متوليانو چنده جمع کړی اود مسجد غربي حصه يې پراخه کړی ده چې پکې تقريباً اته نور صفونه ځايدلی شي او جديده حصه داسی ملحق شوی ده چې منبر او محراب دنوي قبلې ديوال ته منتقل کولو سره په پوره مسجد کې د۱۴ صفونو انتظام شوی دی هغه غير مسقف حصه چې صحن ورته ويل کيږي دهغه لاندې يو ډنډ دا رنګه جوړ شوی دی چې دهغه يوطرف ته قبله نما نښتونه دي، دلمونځ ګذارانو د زيات والي لـه کبله زياتره وخت يوه يادوه رکعته لمونځ فوت کيږي ځکه چې په دې کې تقريباً له ۱۹ نه تر شلو کسانو پورې کسان په يو وخت کې اودس کولې شي، نو ځکه دلمونځ ګذارانو د ضرورت په خاطر د مسجد متوليان غواړي چې د مسقف صحن جنوبي او شمالي طرفونو ته پنځه شپږ فټه ځای مات کړي او د اودس کوونکو لپاره ځايونه زيات کړي اياداسې کول جائز دي اوکه نه بينوا و توجروا.

ځواب: عموماً د مسجد دوه حصې وي يو مسقف چې چت ورباندی جوړ شوې وي اوبل غير مسقف يعنی د مسجد صحن چې په ګرمي کې خلک لمونځونه پکې کوي،لهذا که ستاسې په نزد له مسجد نه دصحن د خارج کيدو په اړه څه تصريح نه وي نوداپه مسجد کې داخل ګڼل کيږي اوپه هغه کې داسی تصرف کول نه دي پکار چې د مسجد

احترام نه نقصان رسيږي البته د مسجد له صحن نه لانديني حوض والا خاى چې د مسجد د جوړولو په وخت حوض پکى جوړ شوى دى نو ځکه هغه خاى له مسجد نه خارج دې په دغه خاى كې تصرف كول جائز دي او هلته د اودس لپاره نور نشتونه او څوكى جوړول جائز دي. په دې شرط چې د صحن په پراخوالي كې څه نقصان رانشي او پخپل حالت كې پاتې شي. كه نه نو بيا جائز نه دى.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد په لاندينى او پورتنى حصه كې د دكانونو جوړول څنګه دي؟

(۷۸-سوال) زمونږ دكلي خلك غواړي چې زوړ مسجد شهيد كړي او دوباره يې په نوي شكل سره جوړ كړي. مونږ غواړو چې د مسجد بنيادونه ښه اوچت كړو او په لانديني حصه كې د مسجد د آمدني لپاره دكانونه جوړ كړو چې لاره به يې له باهر طرف نه وي، د مسجد دننه طرف ته به ورته لاره نه وي دداقسم دوكانونو جوړول څنګه دي جائز او كه ناجائز؟ بينوا توجروا.

(جواب) كه چيرته په اول سركې د مسجد د جوړولو په وخت د مسجد باني دانيت وكړي چې د مسجد په لاندينى حصه كې به د مسجد دمفاد او آمدنى لپاره دكانونه اود مسجد لپاره په چت كى به امام او موذن لپاره كوټې جوړوو. يعنى د مسجد د ابتدايي تعمير په وخت كې دهغه په نقشه كې دوكانونه او كوټې هم شاملې وي اوداد مسجد دمفاد لپاره وقف وي نو بياداقسم دوكانونه پكې جوړولې شئ، دابه له شرعي مسجدنه خارج ګڼل كيږي دلته به د حائضه ښځې په شمول جنب خلك هم راتلى شي. (شامي ص ۲۱۵ جلد ۲).

مګر كله چې يو ځل مسجد جوړ شو او په ابتدايي نقشه كې د مسجد په لاندينى حصه كې د دوكانونو او د مسجد لپاسه د كوټو جوړولو نقشه نه وي نو د مسجد پورتنى حصه تر اسمانه پورې اولاندينى حصه تحت الثرى پورى د مسجد تابع او حكم دى، اوس دهغه هيڅ يوه برخه له مسجد نه خارج نه ګڼل كيږي او هلته دكانونه نشي جوړيدلي

[1] - لو بنى فوقه بيتا للامام لايضر لأنه، من المصالح امالو تمت المسجدية ثم اراد البناء منع.... ولا ان يجعل شيئا منه مستغلا ولا سكنى قال فى الشامية قال فى البحر و حاصله ان شرط كونه، مسجدا ان يكون سفله وعلوا مسجدا الخ در مختار مع الشامى كتاب الوقف مطلب فى احكام المسجد ج ٤ ص ٣٥٨.

ددغه ځای احترام به د مسجد د احترام پشان کولي شي او دلته به جنب او حائضه ښځي تګ او راتګ نشي کولي

تزیـــی فوقه بیت للامام لا یضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدیة ثم اراد البناء منع.
(در مـــختار مع الـــشامی ج ۳ص ۵۱۲ کتاب الوقف مطلب فـــی احکام المسجد).
فقط والله اعلم بالصواب

دیو مسجد صف په بل مسجد کې استعمالول جائز دي اوکه نه ؟

(۷۹ سوال) په کلي کې د تبلیغي اجتماع فیصله شویده ایا د نورو کلیو د مسجدونو صفونه دغه مسجد ته راوړلي شو او که نه؟ ظاهراً خو په شرعي توګه حرج ښکي نه سکاري ایا درې خلور ورځو لپاره د نورو مسجدونو صَفونه استعمالولي سوو یانه جواب راکړئ!

(جواب) په مسئوله صورت کي دنوروکلیود مسجدونو صفونه او بوریي راوړلو اجازه شرعاً نشته دزیات اطمنان لپاره مفتي اعظم مو لانا عزیز الرحمن رحمه الله علیه فتوه وګورئ.

(۸۰ سوال) دجامع مسجد د وقف په پیسو جنازه اخستل څنګه دي ؟

(جواب) فقهاء لیکي چې له اوقاف مسجد څخه نه جنازه ګاه جوړولي شئ اونه هم آخستلې شئ، که واقف هم اجازه ورکړې وي نوبیاهِم صحیح نه دی څکه چې دداسی خبرو اجازه معتبره نه ده، په فتاوی سراجیه کی دي.

ولیس لـــقیم الـــمسجد ان یـــشتری جنازة وان ذکرالواقف ان القیم یشری جنازة.
یعنی متولی لپاره جائز نه دی چی د مسجد له وقف نه جنازه واخلي اګر چې واقف ددی اجازه ورکړی وي (فتاوی عالمګیري ج ۲ ص ۴۶٦).

په مسجدونو کې تبلیغي تعلیم :

(۸۱- سوال) زمونږ په مسجد کی هره شپه د ماښختن لمونځ وروسته تبلیغي تعلیم کیږي کوم خلک چې ذکر اذکار کوي یا نور خلک وروسته لمونځ ته راځي نو هغوی ته تکلیف راپیښیږي، په دې وجه تعلیم کوونکو ته داوویل شول چې هغوی دی د مسجد د حوض په تخت باندی تعلیم وکړي، خو هغوی په ځواب کی وایي چې هلته عام خلک کیني او هلته په تعلیم کې مشکل پیداکیږي. مونږ څه وکړو؟ په دی کی شرعي حکم څه دی؟.

(خواب) کله چې لمونځ ګذارانو او ذکر کوونکو لپاره څه حرج او مشکل وي نو بیاداسی تعلیم کول مکروه دي.[1] خو دفضائل اعمال او نورو فقهي مسئلو نه د خلکو خبرول هم زیات ضروري دي لهذا داسې څه صورت دی وکتل شي چې دواړو ته څه شکایت پیدانشي، ددی آسان اوښه صورت دادی چې دلمونځ کولوځای دی پریږدي اود مسجدپه برنډه یا صحن کې دی خپل تبلیغ شروع کړي، که چیرته داسی ځای نه وي نو دمسجد په کومه ګوښه کی دی خپل تعلیم او درس جاري وساتي په دی ترتیب دواړه کارونه کیدلې شي پکار دي چې ددین تعلیم خامخا جاري وساتل شي اوخلک دی په دې کې ګډون وکړي، دقرانکریم او لمونځ صحیح لوستل زده کړي ددی بندول صحیح نه دي، په تاریخ ګجرات او یا د ایام کی دي چې دتعلیم زړه طریقه داوه چې استاد به مسجد ته راغی او هلته به کیناست شاخوا به دشاګردانو حلقه دعلم د زده کړی لپاره کیښناستیده. الخ (ص ۳۴). فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد متولي څنګه پکار دی؟

(۸۲- سوال) مسجدلپاره څنګه متولی پکار دی ؟

(څواب) د مسجد متولی باید عالم او باعمله وي، که عالم نه وي نو لږ ترلږه دیندار او دیانت دار خو ضرور وي جاهل اوفاسق سړي متولي جوړول جائز نه دي . الله تعالی فرمايي :

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ (التوبة۱۸).

یعنی دالله مسجدونه صرف هغه خلک ابادوي چې الله اود اخرت په ورځ باندی ایمان راوړي او د لمونځ پابندي وکړي. زکات ورکړي او لـه الله نه پرته لـه بل چانه ونه ویریږي.امید دی چې داخلک به (دفلاح او کامیابي) لاره موندونکي وي.

دمذکوره آیت په تفسیر کې امام لهند مولانا ابوالکلام ازاد لیکي : په دی کی دا حقیقت یی هم واضح کړ چې د الله تعالی دعبادتخانو د تولیت حق متقی انسان ته دی اوهمغوی ابادولې شي، لدینه داخبره هم معلومه شوه چې فاجر اوفاسق سړی د مسجد متولی نه شي کیدلې څکه چې د دواړو ترمنځ هیڅ قسم مناسبت نه پاتې، کیدی بلکې

[1] - اجمع العلمآء سلفا و خلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم اومصلی او قاری الخ شامی مطلب ف رفع الصوت بالذکرج ۱ ص ٦٦٠.

متضاد خبرې پکې جمع کیږي هغه داچې مسجد د الله تعالی لپاره د عبادت او پرستش ځای دی او متولي له خدای پرستی نه نفرت کوي. (ترجمان القران) حضرت امام مالک فرمایي چې د مسلمانانو لاربنونه هغه څوک کولې شي چې د چاژوند د پیغمبر صلی‌الله علیه وسلم د اسوه حسنه نمونه وي. فقط والله اعلم بالصواب.

په متولي باندی په ناحقه سره د مسجد قرض بارول :

(۸۳- سوال) د مسجد په پخوانی متولي باندی د مسجد پیسې پاتی دي داخبره د مسجدنوی منولي کوي، حال داچی پرهغه د مسجد هیڅ قسم پیسې نه دي پاتې پخوانی متولي مړ دی دهغه لـه ورثاو نه پیسې ترلاسه کوي او د مسجد په پیسو کې یې شاملوي، ایا دهغه وارثان دمسجد قرضدار دي او که نه ؟

(ځـواب) که چیرته داخبره صحیح وي چی پخوانی متولی باندی د مسجد پیسې نه دي پاتی نو دهغه له وارثانو نه دپیسو آخستل بنکاره ظلم دې اووداسی پیسو په مسجد کې لګول یا امام موذن ته ورکول بالکل صحیح نه دي بلکی ناجائز او حرام دي. لهی ارشاد دی : (ولاتأکلو اموالکم بینکم بالباطل) (سوره بـقره). تاسی خپل مالونه پخپلو منځو کې په ناحقه سره خپل مالونه خورئ. فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجدونو صفونه په پښو سره راغونډول او خلاصول :

(۸۴- سوال) یو سړي د مسجد صفونه په پښو سره خلاصوي او راغونډوي، ایاداسی کول په بی ادبي کی رځي او که نه؟

(ځواب) دمسجد هغه صفونه چی ورباندی لمونځ لوستل کیږي باید په لاسونو سره خلاص کړی شي نه په پښو سره همدغه راز کله چی دلمونځ لپاره اوارولې شي نو هغه دی هم په لاس سره اوار کړي نه په پښو سره داسی کول بی ادبي ده. فقها رحمهم الله عنهم لیکي : د مسجد خس و خاشاک دې په ناپاک ځای کی وانچول شي ځکه چی هغه د تعظیم وړ دی.

" ولا ترمی برایة القلم الـــمستعمل لاحترامه کحشیش الـــمسجد وکناسة لایلقی فی موضع یخل بالتعظیم ".

ترجمه : یعنی د قلم براده او بور د تعظیم وړدی هغه بایدخراب ځای کی ونه غورځول شي همدغه راز د مسجد هغه ګیاه چې لاندی اچول کیږي هغه دی په داسی ځای کی

نه احول کېږي چې دهغه بې ادبي کيږي ، درمختار مع الشامی ص ۱۶۵ ج ۱ کتاب الطهارة والله اعلم بالصواب

د مدرسې په پیسو سره د میلمه عزت کول :

(۸٦- سوال) کله کله مدرسې ته کوم عالم راغوښتل کېږي یا پخپله تشریف راوړي، همدغه راز کله کله دمدرسې کوم همدرد نه د مدرسې دګټې په خاطر بلنه ورکول کیږي نوپه دغو میلمنو باندې د مدرسې له خرایې به خرچ او مصرف کولې شوو او که نه؟ کله کله مدرسې ته راتلونکي بزرګ او عالم څخه ددیني علوموو استفادی په نیت څه خلک هم راځي نو ایا دغو خلکوته د مدرسې ډوډۍ ورکولې شوو اوکه نه؟ بینوا توجروا

ځواب په امداد الفتاوی کې دي چې دمدرسو پیسې وقف نه دي مګر دمد رسې په خلکو باندې ، لکه د بیت المال عمال د ورکوونکو او اخستونکو له طرفه نه نه وکیلان دي لهذا نه پر هغه زکات واجبیږي او نه معطین (ورکوونکي) واپس اخستلې شي. (امداد الفتاوی ج ٦ ص ۲۷۳).

په بل ځای کې د ي :

(سوال) د سنبل د مدرسې په دروازه باندې یوه تخته لګیدلې ده پرهغه باندې د مدرسې نوم لیکل شوې دی د ځینو صاحبانو رای ده چې داد مدرسې کار نه دی نوځکه ددې قیمت د مدرسې له پیسونه ورکول جائز نه دي په دې باره کې ستاسې څه رای ده ؟

ځواب فقهای کرامو یوه قاعده لیکلې ده چې د مسجد نقش او نګار کول د مسجد له وقف مال نه جائز نه دي لیکن استحکام جائز دی، پس په همدغه نظیر سره د مسئوله صورت حکم دادی چې که چیرته ددغې تختې په ځوړندولو سره مدرسې ته کومه ګټه رسیده نو دمدرسې مال په دې کې لګول جائز دي اوکه څه خاصه ګټه یې نه وه هسې دګټې احتمال یې وي نود خپل ځان نه دې پیسې و لګول شي . (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۵۵۲)

له دغو پورتنیو عبارتونو څخه دا مستفاد کیږي چې که په مسئوله صورت کې دغو ورکوونکو اجازه او رضا ښکاره یا دلالتاً وي نو دهغوی مخصوصو خلکومیلمه پالنه چې دهغوی په وجه مدرسې ته دکافي ګټې امید وي د مدرسې په پیسو جائز دی اوکه څه

ګټه یې نه وي نو د مسجد متولی اوشوری غړي دی له خپلو جیبونو نه خرچ کړي. والله اعلم بالصواب. (۷ جمادی الثانی ۱۴۰۱ ه.

د مدرسې غسل خانې استعمالول:

(۸۷- سوال) زمونږ دکلي څه ماشومان په بل ځای کی سبقونه وایي کله چی د رخصتیو په ورځو کې خپل کلي ته راځي نو دکلي په مدرسه کې چی کومې غسلخانې دي هغه استعمالوي، هغوی لپاره ددغو غسلخانو استعمالول جائز دي او که نه؟ بینو توجروا.

ځواب: د مدرسې دځیزونو استعمالول دهغو شاګردانو لپاره جائز دي چی په مدرسه کې داخل دي یا دوه ورځو لپاره د میلمنو په توګه راغلي وي، داچی څوک داد مسافر خانې په توګه استعمال کړي نو جائز نه دي. فقط والله اعلم بالصواب.

په کلني اجلاس کې د میلمنو د ډوډۍ مسئله:

(۸۸- سوال) په مدرسو کې کلني انعامي غونډه کیږي په دی کی چی کوم خلک راغونډیږي هغوی د مدرسې په پیسو ډوډۍ ورکول کیږي، ددی څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

ځواب: د واقف د تصریح او چنده ورکوونکو له صریح اجازی نه پرته دمدرسې په پیسو سره میلمنو ته ډوډۍ ورکول جائز نه دی، که ضرورت وي نودی لپاره دی جلاچنده وکړی شي.

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله لیکي:

ددغې مدرسې په غو نډه کې یو خصوصیت دامعلوم شو چې داخل په مدرسه کې د میلمنو غونډه وشوه دهغوی د رابلنې،ډوډۍ او نورو ټولو مصارفو له پاره له خصوصي دوستانو څخه چنده راغونډه شوې وه د عامې چندې له پیسو نه ورته ډوډۍ نه ده ورکول شوې اوداخبره ډیره دخوشالي ده، زما له همیشه نه همدا رای ده چی میلمانه باید د مدرسې په پیسو ډوډۍ ونه خوري ځکه چې داد چاد زوی شخصي واده نه وي بلکې دا یو قومي اودیني کار وي، میلمنو ته پکاردي چې کله دلته راځي نو په بازار کې دی خوراک څښاک وکړي لکه چې په عامو قومي غونډو کې دخوراک څښاک خرچه هرڅوک پخپله کوي اوکه داسی نه کوي نوبیا پکار دي چې خصوصي چنده دی جمع کړي او چنده ورکوونکي دی په دی پوه کړي چې په دغو پیسو راتلونکو میلمنو ته ډوډۍ ورکول کیږي. له عامو چندونه دی ډوډۍ نه ورکوي ځکه چې عام چنده

ورکوونکي زیاتره پدی خیال چنده ورکوي چې زمونږ دا پیسې به په تعلیم باندې خرچیږي، په دی سره به شاګردانو ته لباس او غذا ورکوي او پدی سره زیاتره چنده ورکوونکي خوشالیږي هم،لهذا زمایه نزد د عامو چندو په پیسوسره دکلني غونډې خلکو ته ډوډی ورکول له شک اوشبهې نه خالي نه دی داسې شبه چې ډیره قوي هم ده. وعظ المسمی به الهدی المغفره ص ۲۹ ص ۴۰. فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد د نقشې لـــه مکمل کیدونه وروسته مسجد لاندې دکانونه جوړول :

(۸۹- سوال) یوسړي د خپلې زمکې څه حصه د مسجد د جوړلو لپاره ورکړه، او دهمدغه کورنی خلکو د مسجد پلان، نقشه او نور کاغذونه یې تیار کړل او پرزمکه باندی دمسجد د حدود نښې ولګولې د مازیګر لمونځ نه وروسته دښار د علماو په لاس د مسجد بنیادونه یې کینبودل اودماښام لمونځ پکې په جمعې سره ولوستل شو. سباته یې دلومړي ورځې نقشه بدله کړه او بله نقشه یې داسې جوړه کړه چې چون د مسجد زمکه تتیته پرته ده نوله سړک نه دهغه د اوچتولو لپاره باید داسې وکړی شي چې لاندی ګودام یادکانونه جوړ کړی شي اوهغه د مسجد د آمدنی لپاره په کرایه ورکړی شي او بره په مسجد کې لمونځ وکړی شي. اوس سوال دادی چې کله یوازی د مسجد نقشه جوړه شوی وي او يوځل پکې دجمعې لمونځ هم شوی وي مګر بنیادونه او نور تعمیري کارپکې نه وي شوې نو په داسې وخت کې د ګودام یا دکان جوړول اوپه کرایه ورکول اودهغه لپاسه مسجد جوړول څنګه دي؟ بینو توجروا .

(خواب) کله چې د نقشې په مطابق د مسجد د تعمیر د بنیادونو کیندنه شروع شوی ده اود یو وخت لمونځ پکې هم په جمعی سره لوستل شوی دی نو هغه ځای د نقشې په مطابق مسجدشو اوس دهغه یو ځای هم له مسجدنه بهر نشي کیدلې که چیرته په مسجد کې اوبو راتلو ویره وي نو دی لپاره یو ګز او چتیدلی شي لیکن په لاندی حصه کې ګودام یا دوکان جوړول او بیا دهغه کرایه ورکول جایز نه دي که چیرته داکار له شروع کیدونه مخکې په پلان کې لاندیني حصه له مسجد نه خارج ګرځول شوی وای او هلته دوکانونه جوړ کړی شوی وای نوپه دی صورت کې دهغه ګنجایش و خو اوس یې هیڅ امکان نشته.

لــو بنی فوقه بیتاً للامام لایضر لانه من الـــمصالح اما لو تمت المسجد یة ثم اراد البناء منع (درمختـــار مع الشامی ج ۳ ص ۵۱۲ مطلب فی احکام الـــمسجد) **فقط والله** اعلم بالصواب. ۲٤ ربـــیع الاول ص ۱۳۹٤ء.

له عید گاه نه مسجد جوړول :

(۹۰ – **سوال**، **محترم او مکرم جناب مفتی صاحب مدظله سلام مسنون، مهرباني وکړئ دلاندینی مسئلې خواب راکړئ.**

زمونږ وطن ته نژدی یو بل وطن دی چې‌نوم یې سورینام دی هلته د مسلمانانو ډیرې دلې دي له هغوی نه یوی دلې پخپل علاقه کې یو مسجد او یو عیدگاه جوړه کړی ده لدینه وروسته دهغوی ترمنځ داسی بی‌اتفاقي پیداشوی چی له یوبل سره ناسته ولاړه نه کوي او دهغوی ترمنځ د اتفاق او روغې جوړې هم چانس نه دی پاتی لردی چی مسجد او عیدگاه یې تقسیم شوي دي ځینو خلکو له مسجد رسیدلې او ځینو نوروته عیدگاه. کومو خلکو ته چی عیدگاه رسیدلې ده هغوی غواړي چې لدینه مسجد جوړ کړي دا عیدگاه له وړاندی نه د مسجد په شکل کی ده. مگرپه هغه کی صرف داخترونو لمونځونه اداکیدل. اوس پکې دپنځه وخته لمونځونو د اداکولو اراده ده، ایا داپه مسجد کې حسابیږي اوکه نه ؟

د مسجدکومو باني حضراتو چی په گډه مسجد جوړ کړی و دهغوی ترمنځ سخت اختلاف دی ځینی په یوه پارتی کی دي او ځینې په بله پارتی کی ، د دوی د اختلاف په وجه ځینې نه غواړي چې لـه عیدگاه نه مسجد جوړکړي نوایا دیوې پارتی په نیت کولو سره چی عیدگاه پخپل نیت کی مسجد وگڼي مسجد کیدی شي اوکه نه؟

بینوتوجروا . ویسټ انډیز باربادوز.

(**خواب**) له هریو ښار نه بهر دیو عیدگاه شته والی ضروري دی ځکه چې داخترونو د لمونځونو اداکول موکد سنت دي نوځکه پکاردي چی عیدگاه دی پخپل حالت کی پریږدي او په یو بل ځای کی دی مسجد جوړ کړي اوکه چیرته عیدگاه دښار منځ ته رغلي وي او ټوله ډله د هغی د مسجد جوړولو نیت وکړي نو لـه دی نه شرعي مسجد جوړیدلې شي خودبل عیدگاه جوړول دهغوی په سرپاتی‌کیږي لـه باني نه مراد هغه شخص دی چی‌چاد مسجد لپاره زمکه وقف کړی وي، اوکه څو کسانو د چندې په کولو سره زمکه اخستی وي اوبیایی‌وقف کړي او مسجد ورباندې جوړ کړي نو دټولو کسانو

نیت نه اعتبار ورکولی شي. که چیرته خوکسان ترینه جلاشول او مسجد او عیدګاه یې تقسیم کړ نو دچاپه حصه کې چې عیدګاه راغلی ده د هغوی نیت کافي دی لیکن که چرته باقاعده عیدګاه وي یعنی لـه ښار نه بهر وي نو بیادی هغه پخپل حالت کې پریږدي او مسجد لپاره بل ځای واخلي. فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد کې دننه پایدان ایښودل اوپه هغې سره د پښو پاکول:

(۹۱- سوال) د ((شریعت یا جهالت)) په نوم کتاب کې صفحه نمبر۵۲ کې دامسئله لیکل شوې ده. په مسجد کې دننه پوزی، ګیاه یا ټاټ په دی خاطر هوارول چې خلک په دی باندی خپلې پښې وسولوي نوداد ائمه او مشایخو په نزد مکروه دي. (عین الهدایه ج ۴ ص ۳۲۳).

زمونږ په مسجدونو کې فرشونه ډیر قیمتي دي دی لپاره چې هغه لـه ګندګي نه پاک وساتل شي په مسجد کې دننه پایدان ایښودل شوی او کله پوزی هم هواروليږ شي، لدینه مطلب داوي چې خلک په دی باندی خپلې پښې وسولوي اوپه فرش باندی تیرشي ایا داسې کول مکروه دي؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) په فتاوی عالـمګیري کې دي:

وان مسح بتراب فـي الـمسجد فان كان الـتراب مجموعاً. لابأس به وان كان منبسطاً يكره وهو الـمختار و ان مسح بخشبة موضوعة فـي الـمسجد لا بأس به كذا فى الـمحيط السرخسى. فتاوی عـالـمګیری ج ۱ ص ۷۰ قبيل الباب الثامن فى صلاة الوتر.

له دی عبارت نه معلومیږي چې د مسجد دفرش د حفاظت لپاره په مسجد کې پاندان، پوزې او داسې نور شیان ایښودل اوپرهغوی باندی دپښو ایښودل جائز دي. ځکه چې کله پښې لامدې وي اوپه دی سره د مسجد فرش باندی داغ جوړیږي نوپه مسجد کې دپاندان په ایښودلو سره داخطره له منځه ځي. فقط والله اعلم بالصـواب.

دمسجد دپراخولو لپاره د قبرونو هوارول اوپه مسجد کې داخلول:

(۹۲- سوال) زمونږ په کلي کې یو پخوانې مسجد دې، خلک غواړي هغه شهید کړي اودوباره یې جوړ کړي دمسجد غرب طرف ته متصل دسیدانو دوه قبرونه دي. دخلکو اراده ده چې، دمسجد د پراخولو لپاره دغه دوه قبرونه وران کړي اوپه مسجد کې دننه کړي، ایاداسې کول شرعاًجایز دي، په دی اړه معلومات راکړئ بینوا توجروا.

(خواب) د مسجد دپراخولو په خاطر که دررو قبرونو دننه کولو ضرورت وي نو دننه کولي شئ په دی سره دقبرونوسپکاوی نه کیږي بلکې دقبرونو دمړو لپاره سعادت او نیک بختی ده په حرم شریف کی مطاف (دطواف په خای کی) هم دانبیاء علیهم والسلام قبرونه شته په مسجد کې چې کوم قبرونه شامل کړی شي پرهغود نښو ودرولو هیڅ ضرورت نشته بلکې هوار دی کړی شي [1] فقط والله اعلم بالصواب.

د وران شوي مسجد پرخای مدرسه جوړول :

(۹۳- سوال) زمونږ په محله کې یو زوړ مسجد دې چې بالکل وران ویجاړ پروت دی اوس صرف زمکه یې پاتی ده. دمسجد کومه نښه وربانډې نه ښکاري خلک ددغې زمکې بی حرمتي کوي آن چې هلته تشی او غټې میتازی کوي. که چیرته په دی‌خای باندی مدرسه جوړه کړی شي نو څه حرج به پکې وي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) د مسجد پرزمکه باندی دیوالونه پاتی وي یانه هغه ترقیامته پوری د مسجد په حکم کی پاتی کیږي. په در مختار کی دي :

(ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام والثانی) ابداً الـــی قیام الساعة (وبه یفتی) (درمخـــتار مع الشامی ج۳ص ۵۱۳ احـــکام الـــمسجد).

لهذا د هغه ادب او احترام واجب او بی احترامي یې حرام ده، ترڅو پورې چې د مدرسې لپاره بل خای نه وي،نودمسجد له خای نه علاوه په بل خای کی ماشومانو ته سبق ښودلی شی که چیرته مسجد وربانډی نه شئ جوړولې نو لږ ترلږه چاردیوالي خودی ترینه تاو کړئ چې د مسجد بی حرمتي ونشي. که داسی ونه کړئ نو د مسجد شاخوا پرته ټول مسلمانان ګنهکاریږي اوپه کوم افت او مصیبت کی د ککړیدو قوي امکان دی، د مسجدپر زمکه د مدرسې جوړول شرعاً جایز نه دي. والله اعلم بالصواب.

[1] - وقـــال الزیلعـــی و لو بـــلی الـــمیت وصار ترابا جاز دفن غیره فـــی قبره وزرعه والبنآء علیه.... ان مـــسجد النبی صلی الله علیه وسلم کان قبل مقبرة للـــمشرکین فنبشت شامی مطلب ف دفن الـــمیت ج۲ ص ۲۳۳.

که چیرته په یو غیر آباد زمکه باندی د مسجدبنیاد چا کېښود د ځای مسجد دی:

(۹۴-سوال) له نن نه تقریباً لس کاله وړاندی سورت شهر ته نژدی دیوکلي په خوا مسلمانانو ته د کورونو جوړولو لپاره یوه ټوټه زمکه چې تقریباً شپاړلس زره مربع ګزه واخستله اوله هغونه پلاټونه اونمرې جوړې کړې اودخلکو په نوم ولیکلې، په دغو ن کې مو دوه نمرې مسجد لپاره پرېښودې. کله چې دلته د کورونو د جوړولو کار مو شر کړ نو په هغه وخت کی د یو بزرګ شخص په مبارکو لاسونو صرف دمسجد بنیادي د کېښودلې شوه، لدینه وروسته د پیسو دنشتوالي له کبله د مسجد نور کارونه ودریدل دډېر کوشش باوجود آبادي پکې جوړه نه شوه بالاخر د مجبوریت دلاسه مودافیه وکړه چې ټوله زمکه دی خرڅه کړی شي، دازمکه په یوه داسی موقعیت کې پرته چې شاخوا تر لریو لریو ځایونو پورې مسلمانان نشته او نه هم نژدې راتلونکی وخ لپاره ددی امید کیدی شي چې دلته دی مسلمانان آباد شي نو ځکه داهم مشکل د چې کوم مسلمان دی داځای واخلي یوه غیره مسلمانه ډله ددغې زمکې د آخستو لپا تیاره شوی ده خو دلته دهغو دوه پلاټونو مسئله ده چې مسجد لپاره موعلیجده کړ وو،داخبره دې واضحه وي چې په دغو پلاټونو کې نه آذان شوی دی اونه هم لمون بلکې دبنیاد ډبره ایښودل شوی ده، اوس دازمکه بالکل وړانه دشته ده اوس که داځا غیرمسلمانان یې واخلي نو یقیناً چې د مسجد په پلاټونو کې هم خپل کورونه جوړو ددغو پورتنیو مسائلو په نظر کې نیولو سره ددغو دوه لاندینو مسئلو ځواب مونږ ا راکړئ.

(اول) ایا دغه دمسجد دوه پلاټونه په غیر مسلمو باندی خرڅول جایز دي اوکه نه؟

(دویم) که چیرته د مسجد دغه دوه پلاټونه خرڅ نه کړی شي او همې خالي زمکه دې پرېښودلی شي او شاه خوا دغیر مسلمو کورونه جوړ شي نوپه دی صورت کی ددغ پلاټونو ساتنه څنګه وکړی شي؟ ددغو دواړو تپوسونو ځواب راکړئ. بینوا توجروا.

ځواب: حامداً مصلیا ومسلما! په غیر آباد بیابان او ځنګل کې په دی خاطر زمکه اخسلل چې هلته مسلمانان کورونه جوړ کړي اوپه هغه کې دوه پلاټه زمکه د مسجد په نوم مه کړې وه هلته د ی لپاره چې د کورنو ابادي شروع شي تبرکاً د مسجد بنیادي ډبره مه کینودل شوه ، لس کاله تیرشول خوهلته د مسلمانانو کورونه جوړ نه کړی شول اونه مه

ددی توقع شته چی راتلونکی نژدې زمانه کې به د مسلمانانو کورونه جوړ شي اونه هم داسی څه قرائن اواثار ښکاري چی مسلمانان به هلته آباديږي، نه دهغې ځای شاخواته د مسلمانانو نوراو کلي شته اونه هم مسلمانان دغه ځای ته څه ضرورت لري نو يوازی د مسجدد بنيادي ډبرې په ايښودلو سره چی نه پکې آذان شوی او نه هم لمونځونه نو په دې ځای باندی دشرعي مسجد حکم نه جاري کيږي.

په فتاوی عالمګيري کی دي :

من بنى مسجداً لم يزل ملكه عنه حتى يفرزه عن ملكه بطريقه ويأذن بالصلوة فيه، اما الا فراز فلانه لايخلص لله تعالى الا به كذا فى الهداية. الى قوله . واما الصلوة فلانه لا بد من التسليم عند ابى حنيفة ومحمد هكذا فى البحر الرائق. التسليم فى المسجد ان يصلى فيه بالجماعة باذنه وعن ابى حنيفة فيه روايتان. وفى رواية الحسن عنه يشترط اداء الصلوة بالجماعة باذنه اثنان فصا عداً كما قال محمد و الصحيح رواية الحسن كذا فى فتاوى قاضى خان و يشترط مع ذلك ان يكون الصلوة باذان و اقامة جهراً لا سراً حتى لوصلى جماعة بغير اذان او اقامة سرا لا جهراً لا يصير مسجداً عندهما كذا فى المحيط والكفاية. (فتاوى عالمگيرى ج ۳ ص ۲۳۸ كتاب الوقف الباب الحادى عشر). اوپه بل ځای کی دي: رجل بنى مسجداً فى مفازة بحيث لايسكنها احدو قل مايمر به انسان لم يصر مسجدا لعدم الحاجة الى صيرورته مسجداً كذا فى الغرائب (فتاوى عالمگيرى ج ٦ ص ۲۱٤ كتاب الكراهية الباب الخامس).

دزمکې د قحطي په زمانه کې د مسلمانانو د مفاد او ضرورت څيز په لاس راغلی دي هغه دی باید پری نښودی شي. که چیرته پخپله مایوس شوي وي نو نوز مسلمان دی تيار کړی شي ترڅو د پلان او نقشې په مطابق ورباندی عمل وشي اوکه داسی هم نه کيده نو مجبوراً په غير مسلم خلکو باندی خرڅ کړئ . فقط والله اعلم بالصواب. ۱۲ جمادی‌الاول ۱۳۹۹ هـ.

دمسجد د ځمکې په فضاء کې پرچال جوړول څنګه دي ؟:

(۹۵- سوال ، زمونږ په کلي کې مسجد او مدرسه دواړه بالکل متصل دي، دمدرسې تعمیر نوی جوړیږي دمدرسې یو دیوال دمسجد د صحن په طرف دې. دمدرسې له دیوال نه وروسته دمسجد صحن په طرف د مدرسې یو انچ ځمکه هم نشته، لیکن دخلکو خواهش دی چې په دی دیوال کې یوه کړکۍ جوړه کړی شي او دهغې د حفاظت لپاره دصحن له پاسه دکړکۍ په سریوه پرچاله جوړه کړی شي. داپوره پرچاله به دمسجد دځمکې له پاسه وي لیکن په دی سره مسجدته هیڅ نقصان نه رسیږي. ځکه چې دا مسجد او مدرسه دواړه دیوې محلې دي اودیوې کمیټي ترنظارت لاندې دي هر کله چې وغواړي داپرچال ورانولې شي اوس سوال دادې چې په مذکوره صورت کې د کړکۍ جوړول اوپرهغه پرچال جوړول صحیح دي اوکه نه؟ بینو توجرو (راجستان).

ځواب: د مسجد په طرف په هغه صورت کې چې لمونځ کذارانو ته خلل نه پیداکوي نو د مدرسې په دیوال کې دکړکۍ جوړولو ګنجایش شته لیکن داچې پرچال د مسجد دځمکې د پاسه جوړیږي او لمونځ ګذارانو لپاره تکلیف پیښوي، همدغه راز دوخت په تیریدو سره د جنګ او نزاع باعث هم جوړیدلې شي نو لهذا دپرچال دجوړلو اجازه نشته.

په شامي کی دي :

(قوله ولو علی جدار المسجد) مع انه لم یأخذ من هواء المسجد شیئا اه او نقل فی البحر قبله ولایوضع الجذع علی جدار المسجد وان کان من اوقافه (شامی ج ۳ص ۵۱۲ کتاب الوقف). قبیل مطلب فیمالو خرب المسجد او غیره) فقط والله اعلم بالصواب.

د فرقه اثنا عشریه له کوم سړيٓ نه د مسجد لپاره چنده آخستل :

(۹٦- سوال) یوسړی چې د اثنا عشریه لـه فرقې څخه دې د مسجد په چنده کې څه پیسې ورکړي دي ایا دهغه پیسي مسجد یا دمسجد دملکیت په تعمیر باندی خرچولې شو؟ بینو توجروا.

جواب: داهل سنت والجماعت او فرقه اثنا عشریه دخلکو د عقائدو ترمنځ ښکاره فرق دې،لهذا په دیني او مذهبي کارونو کې دی لـه هغوی نه چنده وانخستل شي ، که چیرته هغه په‌ټپله ورکول غواړي نو کوم سني مسلمان ته دی هبه کړي او بیاکه هغه له

خپل طرف ته په مسجد کې دخرچولو لپاره ورکول غواړي نو ورکولې شي او تاسی تریه احستلی شی
چون په مسئوله صورت کې هغه پیسې ورکړی دي اوبیرته ورکول نا مناسب غوندی ښکاري نو دهغه داپیسې د مسجدپه بیت الخلاء، غسل خانه او د متیازو په ځای کی استعمالولی شی فقط والله اعلم بالصواب.

مسئوله صورت کی د مسجد زمکه چاته ورکړی شي؟

(۹۷- سوال) زمونږ د مسجد په یو آزاد ځای کی څه زمکه ده، دمسجد متولی غواړي دغه ځای یو چاته په کرایه ورکړي او دکرایه پیسې هم معلومې شوې دي، لدینه وروسته دمحلې یو بل سړي غوښتنه وکړ چی داځای دی ماته په کرایه راکړی شي، داسړی کرایه هم زیانه ورکوي. په دی صورت کی دویم کس ته د مسجد د زمکې کرایه ورکول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

ځواب: له عهد او وعدې نه وروسته له څه شرعي وجې نه پرته مخالفت کول صحیح کار نه دی په مذکوره صورت کی متولي دقوم د مسئولو او ذمه وارو کسانو په مشورې سره یاله وړاندې نه ورته دقوم لـه خوا سپارل شوی اختیارپه وجه داکار کړی دی نو اوس ددی مخالفت کول ناجائز دي اوکه چیرته متولي محض پخپل رای او فکر سره داکار کړی وي او نورو خلکو ورسره اتفاق نه دی کړی نو دمتولي معامله هیڅ اعتبار نه لري.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

دمحلې د مسجد د اوبو له ډیکې نه اوبه وړی شو اوکه نه ؟

(۹۸- سوال) زمونږ په مسجد کې د اودس کولو لپاره داوبو مشکل و. څو نیکانو خلکو داوبو لپاره په زمکه کې بورنګ وکړ او د اوبو د ویستلو لپاره یې مشین ولګاو، ددغه مشین په ذریعه داوبو ډیکی ډکولې شي، د برق مصرف دمسجد لـه پیسو نه ورکول کیږي، دمحلې خلک له دغه ډیکی نه خپلو کورو ته اوبه وړي شي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

---

[1] - که چیرته د محل وقوع په مطابق متولي زمکه په کرایه ورکړي وي او اوس بل سړي دزیاتې کرایې ورکولو پیش کش کوي نوپه داسې صورت کی لـه مخکیني کرایه دار سره معامله ختمول جائز نه دي، که چیرته د محل وقوع په مطابق کرایه د وقف لپاره نقصاني وي نولومړی شخص سره معامله ختمول اوبل سړي ته په کرایه ورکول جایز دي. (ویؤجر بأجر المثل فلایجوز بالأقل ولو هو مستحق قاری الهدیة الا بنقصان یسیر قال فی الشامیة تحت قوله، فلا یجوز بالا قل ای لایصح اذا کان بغبن فاحش، در مختار مع الشامی کتاب الوقف مطلب لا یصح ایجار الوقف باقل من اجرة المثل . الخ ٤ز ص ٤٠٦.

ځواب ددېګی اوبه مسجد لپاره خاص دي د محلې خلکو ته لـه دې ډېکی نه د اوبو ورلو اجازه ورکول صحیح نه دي ځکه چې په دې کې د خلکو ترمنځ جګړه هم راپیښېدای شي فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد ورانول او پرځای لاره جوړول:

(۹۹- سوال) ستاسی محترم خدمت ته عرض دادی چې دسینګاپور په یوښار کې دننه څو مسجدونه دي. دسنګا پور حکومت غواړي لدینه یوښکلې ښار جوړکړي نوځکه سړکونه پراخوي. په دغو لارو کې مسجدونه، مندرونه، ګرجاګرونه اودخلکو کورونه اباد دي حکومت هغه ورانوي اوپرځای نور ځایونه ورکول غواړي . په یوځای کې یې دوه مسجدونه وران کړي او په بدله کې صرف دیو مسجد هومره ځای راکړی دی. نو ایا د مسجد ورانول اودهغه پرځای په بل ځای کی مسجد جوړول شرعاً روا اوجائزدې؟ بینوا توجروا.

ځواب کوم ځای چې یوځل دمسجد په حکم کی راشي بیادهغه تعمیر پاتی شي یانه په هغه کې خلک لمونځ اداکوي یانه، هغه ځای ترقیامته پورې د مسجد په حکم کی پاتی کیږي. هغه دعبادت نه پرته دبل کوم کار لپاره استعمالول جائز نه دي، دهغه کومه حصه خرخول. په کرایه ورکول اوپرچا ګرو کول جایز نه دي،لهذا په مسئوله صورت کی د مسجد هیڅ یوځای د لارې جوړولو لپاره نشي ورکول کیدی. په شامي کی دي:

لان الـــمسجد لایخرج عن الـــمسجدیةابداً. ځکه چې مسجد کله هم دمسجد لـه حکم نه نه اوځي (شامي ج ۳ ص ۵۳۰، ۵۳۱ کتاب الوقف مطلب فی جعل شئ من الـــمسجد طریقاً).

دزیات تفصیل لپاره وګورئ فتاوی رحیمیه اردو ج ۲ ص ۱۸۲ . په همدی باب کی دا عنوان چې مسجد بل ځای ته منتقل کیدی شي اوکه نه؟ دهغه قیمت اخستل کیدی شي یانه؟ اوبل د مسجد له کومې حصې نه لاره جوړول تر عنوان لاندی . فقط والله اعلم بالصواب

دمسجد لاندینی حصه مدرسه اوله دویم چت نه مسجد جوړول:

(۱۰۰-سوال) زمونږ په عـــلاقه کې مسجد دې، د کمیټې کسانو دا اراده ده چې هغه دوه منزله جوړ کړي برنی منزل د مسجد لپاره او لاندینی حصه د مدرسې لپاره خاص کړي دلته د واده په وخت دا رواج دی چې هلک د نکاح ترلو لپاره مسجد ته راوړي نوله

هغه سره ښځې هم راځي دښځو محفل په مدرسه کې جوړیږي د نکاح لـه ترلو نه وروسته هلک دښځو محفل ته ورځي اوښځې هغه ته سلامي پيسې ورکوي. کله چې لاندینۍ حصه مدرسه شي نو په هغه کې داټول خرافات ترسره کيږي. دکميټی دکسانو دافکر صحيح دی اوکه نه؟ بينوا توجرو.

خواب لـه مسجد نه مدرسه اود واده حال جوړول بالکل جائز نه دي. په دی سره دمسجد بی عزتی کيږي، دکميټی دکسانودا خيال اوفکر صحيح نه دی[1] فقط والله اعلم بالصواب ۱۰ شوال المکرم ۱۳۹۹هـ.

مسجد غربا نوم اېښودل جائز دي :

(۱۰۱-سوال) په سورت کی تقريباً شلور سوه کلوراهيسې يومسجد وران پروت و. دوه مياشتې وړاندی مو هغه دوباره مرمت اوآباد کړ او پرهغه مو مسجد غربا نوم اېښی دی، ځکه چې ددی مسجد شاخوا خلک ډير غريبان دي، خو زيات خلک په دی نوم باندی اعتراض کوي ايادانوم صحيح دی اوکه نه؟بينوا توجروا.

خواب د تعارف په خاطر په مسجدباندی داسی نوم اېښودل جايز دي ځکه چې ددی ځای زياتره خلک غريبان دي او دا مسجد غريبانو جوړ کړی دی اويا داچې داد غريبانو مسجد دی. نو مسجد غربا نوم په اېښودلو کې هيڅ قسم شرعي قباحت نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

کوټې ته دتللو لپاره د مسجد له چت نه لاره جوړول :

(۱۰۲-سوال) د مسجد ديوال ته نژدی متصل کوټه ده اوداکوټه د مسجد ملکيت دي هلته دتللو لپاره مستقله لاره نشته، د مسجد له چت نه ورته لاره ده، په داسی کمره کې د مدرسې د مدرس لپاره اوسيدل څنګه دي؟ بينوا توجروا.

(خواب) د مسجد کوټه د مسجد خادم استعمالولې شي نور خلک يې نشي استعمالولې. خوکه مدرسه دمسجد وي نوبيا مدرسين هم استعمالولې شي هله چې دمسجد خادم ته ددی کوټې ضرورت نه وي او هسې خالي پرته وي، له څه شرعي عذر نه پرته د مسجد په چت باندی ختل ممنوع او مکروه دي.لهذا د کوټې لپاره دی ځانله لاره جوړه کړی

---

[1]- لوبنى فوقه بيتا للامام لا يضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدية ثم اراد البنآء منع ولوقال عنيت ذلك لا يصدق. در مختارمع الشامى كتاب الوقف مطلب فى احكام المسجد.

شي او ترڅو پورې چې سو لاره نه وي جوړه کړي نود مسجد له چت نه ورته تلل جائز دي
په درمختار کی دي
(وکره تحريما الوطء فوقه والبول والتغوط) لانه مسجد الى عنان السماء(و اتخاذه طريقاً بغير عذر) الخ (در مختار مع الشامی ج ۱ ص۶۱۴ فی احکام المساجد) فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد کې دقبرونو شاملول :

(۱۰۳-سوال) زمونږ د محلې په مسجد کې دلمونځ گذارانو تعداد زيات شوی دی، دمحلې خلک غواړي چې مسجد پراخ کړي، نوځکه د مسجد پخوانی زمکه چې پکې څو زاړه قبرونه يوه کوټه او ورکوټې باغچه ده په مسجد کې مو دننه کړي دي، فی الحال لمونځ په همغه زوړ مسجد کې کيږي ليکن د جمعی لمونځونه او د روژې په مياشت کې د تراويح لمونځونه په نوی مسجد کې هم اداکيږي. هغه قبرونه چې له زمکې سره برابر کړی شوي دي دهغوی په باره کې زمونږ دکلي قاضي صاحب وايي چې هغه قبرونه دی دوباره جوړ کړی شي ځکه چې داقبرونه د هغه دخاندان دڅو بڅو دي، ايا دهغه دا غوښتنه او خبره صحيح ده اوکه نه؟ او چيرته چې پوخ مسجد جوړ شوې وي هلته دقبرونو نښې نښانې جوړول ضروري دي اوکه نه؟ بينو توجروا.
(ځواب) د مسجد په احاطه کې دمسجد په وقف زمکه کې دمړو ښخول صحيح نه دي، د مسجد دپراخولو په وخت د قبرونو هوارول لـه څه کراهت نه پرته جائز دي په دی سره دقبرونو بی حرمتي نه کيږي بلکې دمړو روحونه خوشاليږي چې پکې لمونځ کيږي په کفايت المفتی کې دي : کومه زمکه چې د مسجد لپاره وقف وي پرهغه باندی د مسجد لـه مصالحو نه علاوه بل قسم تصرف کول جائز نه دی. پس د زمکې په هغه حصه کې چې مسجد لپاره وقف و دمړو ښخول ناجائز و ، اوپدې حکم کی دنيک او بد هيڅ فرق نشته (حضرت مولانا مفتی) کفايت الله کان الله له (کفايت المفتی ج ۳ ص ۱۰۸).
په دی اړه د حضرت مولانا مفتی عزيز الرحمن صاحب رحمه الله فتوه هم ولولئ.
(سوال) که چيرته د سخت ضرورت لـه کبله قبرونه د مسجد په صحن کې داخل کړی شي نودا صحيح دی اوکه نه؟

(خواب) که چیرته دضرورت په خاطر قبرونه هوار کړی شي اود مسجد په صحن کې شامل کړی شي نوپه دی کی څه حرج او بدي نشته. په لمونځ کې هم هیڅ قسم کراهت نه راځي. فتاوی دارالعلوم قدیم ج ۵-۶ ص (۳۰).
لهذا د قاضي صاحب دا غوښتنه صحیح نه ده اود قبرونو نښې پخپل حالت کی پرېښودل جائز نه دي فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجد په تعمیر کې د زکات پیسې په حیلې سره استعمالول:

(سوال ۱۰۴) زمونږ په کلي کې مسجد جوړیږي. د پیسو پیداکولو لپاره بل کلي ته لاړو. په حدده کې د زکات پیسې هم مونږ ته چا راکړي دي. د څه حیلې په جوړولو سره د زکات دغه پیسې په مسجد کې لګولی شوو او که نه؟ د ځینو خلکو رای داده چې داپیسې دې په مدرسه کې ورکړی شي مونږ څه وکړو؟ بینو توجروا.
(خواب) دمسجد په تعمیر یا دامام موذن او دمسجد خادمانو په تنخواګانو کې دزکات پیسې استعمالول جائز نه دي. د مسجد د جوړولو لپاره په سلګونه نیک خلک موجود دي نو پکار دی چې دمسجد په تعمیر کې د زکات پیسې بالکل استعمال نه کړی شي.[1]
نه په حیلې جوړولو سره اونه په بل کوم صورت سره په مسئوله صورت کی دی دغه دزکات پیسې بیرته خپلو خاوندانو ته ورکړی شي اویادی دهغوی په اجازی سره مدرسو ته ورکړی. که چیرته مسجد ته ددغو پیسو ډیر اشد ضرورت وي او دنورو پیسو د ترلاسه کیدو امید نه وي نو له کوم مستند عالِم نه صلاح مشوری نه وروسته دی اجرائت وکړي.
فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجدپه احاطه کې د امام اودهغه د ماشومانو اوسېدل:

(۱۰۵) ایا د مسجد امام د خپل کور لـه ماشومانو سره یوځای دمسجد په احاطه کې اوسیدلې شي اوکه نه؟ دمسجد بله کومه حجره نشته یواځې یوه حجره یی ده. ددغه مجبوریت په حالت کې پکې اوسیدی شي یانه؟ بینوا توجروا.
(خواب) که چیرته د مسجد په احاطه کی دامام موذن لپاره حجره جوړه شوې وي نوپه هغه کې امام او موذن اوسیدلې شي. لیکن له ماشومانو سره یوځای په اوسیدو سره یو قسم بې ستري پیداکیږي، د استنجا ځای جلا نه وي، اود ماشومانو د شور ماشور په وجه لمونځ ګذارانو ته تکلیف هم پیداکیږي نو ځکه د ماشومانو سره یوځای اوسیدل ښه کار

[1]- ویـــشـترط ان یکون الصرف تملیکاً.

نه دی او ممانعت پکار دی خوکه چیرته دغه خرابیانې نه وي نو جائز دی فقط و الله اعلم بالصواب.

د مسجد لپاره په وقف شوي زمکه کې مدرسه یاد امام او موذن لپاره دکوټو جوړول :

(۱۰۶- سوال) زمونږ په علاقه کې د مسجد په احاطه کې لـه شرعي مسجد نه جدا یو نیک سړي د مدرسې په نیت سره دوه لویې کوټې جوړې کړي دي هلته الحمدلله دیني تعلیم ښودل کیږي او ماشومان ښه په آرامه فضاء کې ښکې سبقونه وایي، راتلونکې وخت لپاره هم دمسجد د تنګیدو څه ویره نشته، اوس غواړو چې د همدغو دوه کوټو لپاره د امام او دمدرسې استاذانو لپاره دو منزله عمارت جوړ کړو ترڅو همیشه لپاره دامام او مدرسینو داوسیدو لپاره سهولت وي په شریعت کې ددې کار جواز شته او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) د مسجد په احاطه کې ټولې وقفي زمکې د مسجدد مصالحو لپاره وقف شوي دي په دغه ځای کې د مدرسې لپاره د کوټو جوړولو اجازه ورکول صحیح نه دي، البته داسې کیدی شي چې په بیکاره او ډاګه زمکه کې د مسجد په پیسو یا دچندې په پیسو سره د مدرسې لپاره تعمیر جوړکړی شي اوهغه ځای ددیني مدرسې لپاره په کرایه ورکړی شي اوبیا هغه کرایه د مسجد په کارونو کې خرچ کړي شي ، یا دامام اوموذن ته داوسیدو لپاره ورکړی شي نوداصورت جائز دی. چون په مسئله صورت کې دمسجد پرځای د مدرسې کوټې جوړی شوي دي نودمسجد منتظمینو ته پکاردي چې دهغو کوټو پیسې اداکړي اوهغه پخپل تصرف کې راولي، زمکه خو هسې هم د مسجد ملکیت دی نو په دی سره به هغه کوټې هم د مسجد ملکیت وګرځي اوبیا دی هغه کوټې مدرسې ته په کرایه ورکړي. فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد په پورتني چت باندی د مدرسو د سفیرانو اوسیدل :

(۱۰۷- سوال) هرکال دروژې په میاشت کې دمختلفو مدرسو سفراء د چندې په غرض بمبئ ته راځي اود مسجد په پورتني چت کې هستوګنه کوي، په دغه چت کی خلک د جمعې لمونځ هم اداکوي اود باران په ورځو کې نور لمونځونه هم پکې اداکوي. ایاپه داسې ځای کی هغوی ته د هستوګنې اجازه ورکول کیدی شي؟ په داسې حال کې چې داځای بالکل د مسافرخانې په شکل کې استعمالوي په دیوالونو کې خپلې جامې

خوړندوي، خبرې اترې پکې کوي، خینې خو سیګرټ هم څکي اخبارونه لولي اوخپلې بسترې هوارې پرېږدي. په دی باره کې شرعي حکم ولیکئ چی ایا هغوته د اوسیدو اجازه ورکړی شي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) شرعي مسجد اودهغه پورتنی چت هم دشرعي مسجد په حکم کی راځي. دمسافرخانې په توګه د هغه استعمالول جائز نه دي،په دی سره دمسجد حرمت له منځه ځي، که سفیرانو لپاره بل کوم ځای داوسیدو لپاره موجود نه وي نو هغه سفیران پکې اوسېدلې شي چی د مسجد بشپړ اداب او احترام ساتي او کوم خلک چې احتیاط نه کوي هغوی ته د اوسیدو اجازه باید ورنکړی شي[1] فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد یاد مسجد په صحن اویا دصحن په اطرافو کې ویده کېدل:

(۱۰۸- سوال) ایا مقتدیانو ته په مسجد یا د مسجد په صحن او اطرافو کې د ویده کیدو اجازه دی ورکړی شي اوکه نه ؟ زیات خلک د ورځې په وخت په مسجد کې دویده کیدو ضد کوي اوداخپل واجبي حق ګڼي وایي چې دېاد الله کور دې نه دمتولیانو، تاسی مونږ ته په دې باره کې شرعي ځواب راکړئ. بینوا توجروا.

(نوټ) په دی صحن کې خلک د جُمعې په ورځ اود روژې په میاشت کې تروایح لمونځونه کوي.

(ځواب) په مسجد کې لـه معتکفو او مسافرونه پرته بل چاته د ویده کیدو اجازه نشته، فقهاو ورته مکروه ویلي دي .

واکل ونوم الا لمعتکف وغریب (درمختار مع الشامی مطلب فی احکام الـــمسجد ج ۱ ص۶۱۹).

که بهرځای نه وي نو مسافر، امام، موذن او خادم لپاره په مسجد کې ویده کیدل جائزدي؟که چیرته نورو خلکوته په مسجد کې د ویده کیدو ضرورت راپیښ شي

[1]- وکــره تحریــماً الوطء فوقه والبول والتغوط، لأنه مسجد الــی عنان الــسمآء قال فی الشامیة تحت قوله لأنه، مسجد علهلکراهة ماذکر فوقه علی السطح لــمن فیه اذالم یتقدم علــی الامام ولایبطل اعتکافه بالصعوداليه ولایحل للجنب والحائض والنفسآء الوقوف علیه الخ در مختار مع الشامی مطلب فی‌احکام الــمسجد ج ۱ ص ۳۵۶

نو داعتکاف په نیت دې مسجد ته راشي لږ وخت لپاره دې نوافل لمونځونه او ذکروکړي او بیادې ویده شي

ویکره النوم والاکل فیه لغیر المعتکف فیدخل ویذکرالله بقدر مانوی ویصلی ثم یفعل مایشاء انتهی فتاوی سراجیه ص۷۲) (فتاوی عالمگیری کتاب الکراهیة الباب الخامس فی اداب المسجد والقبلة والمصحف. الخ واللفظ له) (شامی ج۱ ص ۶۱۹ حوالہ بالا).

لیکن په دوام داره توګه په مسجد کې یادمسجد په صحن او اطرافو کې د ویده کیدو عادت ګرځول اوله مسجد نه خواب ګا جوړول مکروه او ممنوع دي.

د هند لوی مفتي حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب فتوه هم وګورئ چې هغه څنګه فتوه ورکړې ده.

(خواب) په مسجد کې دلمونځ ګذارانو د لمونځ له وختونو نه علاوه ویده کیدل که اتفاقي ډول وي نو مباح دي. لیکن دمسجد مستقل خواب ګاه جوړول صحیح نه دي(کفایت المفتي ج ۳ ص۱۱۴).

(۲-خواب) که چیرته دمسجد برانډه له مسجد نه خارج وي نوپه هغه کې دکوم نیک او متقي انسان اتفاقاً ویده کیدل څه مضائقه اوبدي نه لري، که چیرته ویده کیدونکی د مسجد له خلکو څخه وي یعني امام، موذن، نګران اویا خادم وي نو په داسې برانډه کې هروخت ویده کیدلې شي خوکه د مسجد له متعلقینو څخه نه وي او زیاتره وخت په مسجد کې دویده کیدو عادت یې جوړ کړی وي نو دا هغه لپاره مکروه دی. (کفایت المفتي ج ۳ ص ۱۱۴). فقط والله اعلم بالصواب ۵ ذی قعده ۱۳۹۹هـ).

په کوم مسجد کې چې موذن نه وي ایا هغه مسجد دمحلې په حکم کې راتلی شي یانه؟

(۱۰۹-سوال) زمونږ په کلي کې له محلې نه بهر یو مسجد دې لیکن دهغه ټوله ذمه واري دمحلې په خلکو باندی ده هلته پنځه وخته لمونځ، تراویح او نور ټول لمونځونه کیږي، لیکن په دې مسجد کې موذن نه دی مقرر شوې دلمونځ په وخت کې چې هرڅوک وغواړي آذان کولې شي او د جمعې لمونځ پکې اداکیږي ایا د موذن له مقررولو نه پرته دا مسجد د محلې په مسجدکې حسابیږي اوکه دشارع عام په مسجد کې؟ که چیرته د

محلي مسجد دی نوبه دی کی ددویمې جمعې څه حکم دی؟ اوکه دشارع عام مسجد وي نوبه دی کی د دویمې جمعی څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب) که څه هم موذن مقرر نه دی مګر په ټاکلي وخت اذان کیږي اوپنځه وخت دجمعې نمونځ هم پکې اداکیږي نودا مسجد د مسجد په حکم کې راځي او په دی باندی دمحلې د مسجد احکام تطبیقیږي اوپدی کی دویمه جمع کول مکروه دي، له مسجد نه بهر با په کوم کور کې دویمه جمع کیدی شي. مګرله څه وجې نه پرته ددی عادت جوړول مکروه دي.[1] والله اعلم بالصواب.

د مسجد د احاطې کوټه په کرایه ورکول:

(۱۱۱-سوال) زمونږ په کلي کې دشاهي مسجد په احاطه کې له مسجد نه تقریباً پنځوس فټه لرې څو کوټې دي په دغو کوټو کې پخوا مکتب و اوس خالي پرتې دي، مسلمانان هغه کوټې په کرایه غواړي، هغوی لیکلې سند ورکوي چې د مسجد پوره پوره احترام به کوي. هغوی ته په دی شرط سره د کوټو په کرایه ورکول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) د مسجد په احاطه کې چی کومې حجرې یاکوټې وي هغه عموماً د مسجد امامانو یاخادمانو او موذنانو لپاره وي نولهذا پکار دي چې همغوی ته دی ورکړی شي په کرایه یې نشئ ورکولې. که زیاتې کوټې وي نو دسبق د ښودلو لپاره دی په کار راوستل شي څوکه چیرته واقف اوباني دا کوټې د کرایه او د مسجد د عوایدو لپاره جوړ کړي وي نو هغه په کرایه باندی ورکولې شئ، په دی شرط چی د مسجد ضرورت ورته نه وي اویا پدې سره د مسجد بې احترامي نه کیږي اویا لمونځ ګذارانو ته تشویش او پریشاني نه پیداکیږي، دکرایه دار لپاره دتګ اوراتګ لاره علیحده وي، که داسی نه وي نو بیا یې په کرایه نشئ ورکولې. فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد پر زمکه د لوبې میدان جوړول :

(۱۱۱- سوال) مسجدته نژدی یوځای دی هلته وړاندی مدرسه وه لدینه وروسته هغه په کرایه ورکړی شوه اوس هغه ځای خالي پروت دی. دکلي او محلې خلک هلته د

---

[1]- والمراد لمسجد المحلة ماله امام وجماعة معلومون كما في الدر وغيرها شامي باب الامامه مطلب في تكرار الجماعة ج ۱ ص ۵۵۳ فقط.

غیرې نیولو لپاره هغه ځای مفت غواړي ایادغه ځای مفت د غیرې نیولو لپاره ورکولې شوو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) د غیرې د میدان جوړولو لپاره ددی زمکې هسې مفت ورکول جائز نه دي خوپه کرایه ورکولې شئ داهم په هغه شرط چې مسجد ته ددی ضرورت نه وي اود مسجد بې احترامي نه کیږي اوکه بی احترامي یی کیږي اویا پخپله د مسجد ضرورت ورته وي نو بیا په کرایه ورکول یی جایز نه دي. فقط والله اعلم بالصواب.[1]

په مسجد کې دحرام او مشتبه ځیز خرڅول:

(۱۱۲-سوال)که چیرته د مسجد د تعمیر او مرمت لپاره کوم فلمي اداکار چنده ورکړي ایا دهغه دا چنده اخستل جائز دي اوکه نه؟ دهغه پیسې په یقیني توګه مشتبه وي.

(خواب) مسجد دالله تعالی مقدس اوپاک کور دې دهغه په تعمیر او مرمت کې دی پاک او حلالی پیسې استعمال کړی شي، حرامه ځکه په مسجد کې استعمالول منع اومکروه دي. په حدیث شریف کی دي چې : الله تعالی پاک مال قبلوي لهذا لـه حرام او مشتبه مال نه مسجد جوړول شرعا روانه دي.[2] فقط والله اعلم بالصواب.

پر مسجد باندی قبضه کول اوپرهغه کور جوړول:

(۱۱۳- سوال) یو مسجد دی چی خلک په دی ګواهي ورکوي چی په هغه کې پنځه وخته لمونځونه او دروژې په میاشتو کې تراویح لمونځونه یی اداکړي دي. خوپه دغه ځای باندی یوسړي دخپل ملکیت دعوه کړی او خپل کورورباندی جوړ کړی دی، د مسجد محراب د اودس لپاره ډنډ او نورې نښې یې ورانې کړي دي، اوس ددغې سړی په باره کې څه حکم دی؟ ځینې خلک دخودغرضي اودخپل مفاد په خاطر دهغه حمایت کوي تردی چی جنګ کولو ته هم چمتو دي په دی باره کې شرعي حکم څه دی؟ (بینوا توجروا).

---

[1]- یـفتی بالـضمان فـی غصب عقار الوقف وغصب منافعه أو اتلافها كـما لو سكن بالاذان او اسكنه الـمتولـی بلا اركان علـی الساكن أجر الـمثل، درمختار مع الشامی مطلب مسكن الـمشتری دارالوقف ج ٤ ص ٢٠٨

[2]- عـن ابی هريرة رضی‌الله عنه قال رسول الله صلی‌الله عليه وسلم من تصدق بعدل تمرة من كسب طيب ولا يقبل الله الا الطيب. الـخ مـشكواة باب فضل الصدقة ص ١٦٧.

خواب که چیرته په یو ځای باندی دمسجد څه ثبوت موجود وي نوکه هغه له دیرې مودې نه وران پروت وي نو بیاهم هغه ځای مسجد دی او ترقیامته پوری به د مسجد حکم ورباندی تطبیقیږي، دغه ځای له مسجد نه پرته دبل څه مقصد لپاره لکه دخوراک څښاک ویده کیدو او اوسیدو لپاره استعمالول جائز نه دي، کوم خلک چې دغاصب حمایت کوي هغوی هم ګنهکار دي په درمختار کی دي :

ولــو خرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجداً عند الامام والــثانى (اى عند ابى يوسف رحمه الله) ابداً الى قيام الساعة وبه يفتى (درمختار مع الشامى ج ۳ ص ۵۱۳ . كتاب الوقف مطلب فيما لو خرب الــمسجد اوغيره) والله اعلم بالصواب.

په مسجد کې د تبلیغ تعلیم کوم ځای کې وکړی شي ؟

سوال : زمونږ په مسجد کې د ماسختن لمونځ نه وروسته تبلیغي حضرات لس پنځلس دقیقې له کتاب نه تعلیم کوي حال داچې خلک سنت اووتر لمونځ کې مشغول وي نا وروسته راغلي خلک دفرض لمونځ په لوستلو بوخت وي. د تبلیغانو د تعلیم په وجه دهغوی په لمونځونو کې خلل پیداکیږي نوځکه خلک هغوی ته وایي چې له مسجد نه بهر په برانډه کې دی خپل تعلیم وکړي خوهغوی وایي چې هلته دخلکو دناستې ځای دی هغوی خبرې کوي اوپه تعلیم کې خلل پیداکیږي. اوس سوال دادی چې تبلیغي حضرات خپل تعلیم دمسجد په کومځای کې وکړي؟ بینواتوجروا.

جواب : داسې تعلیم کول چې دلمونځ ګذارانو په لمونځو کې خلل راشي منع دی. خود تعلیم داسلسله هم ډیره ضروري ده نودی لپاره چې دواړه کاره وکړی شي نوداسې صورت دی خپل کړی شي چې یا دمسجد په یوطرف کې خپل تعلیم جاري وساتي یاد مسجد په صحن او برانډه کې . کوم خلک چې هسې په دنیاوي خبرو کې مشغول وي هغوی ته پکار دي چې په تعلیم کې شرکت وکړي. لس پنځلس منټه وخت دومره زیات نه دی، مسجد دالله تعالی د ذکر لپاره دی نه ددنیاوي خبرو لپاره خصوصاً هله چې په دغو خبرو سره په تعلیم کې خلل راځي، دغه تعلیمي سلسله دی غنیمت وګڼل شي او شرکت دی پکې وکړی شي،په دی سره ایمان قوي کیږي په تعلیم کې باید یواځې په فضائلو باندی اکتفا ونه کړی شي بلکې طهارت، اودس، لمونځ روژه اود اسلام نور ضروري احکام دی هم بیان کړی شي.

حضرت امام غزالی فرمایي : اعلم ان کل قاعدفی بیته اینما کان فلیس خالیاً فی هذا الزمان عن منکر منحیث التقاعد عن ارشاد الناس..... الخ.

پوه شه چې په دی زمانه کې هرڅوک پخپل کورکی ناست دی هغه ددین دتبلیغ او خلکوته دنیکو عملونو په ښودلو کې پاتی اوقاصر دی اوپه دی وجه هغه ګنهګار دي چې په ښارونو کې زیاتره کسان د لمونځ له شرایطو او احکامونه ناخبره دي، که دښارونو حالت داسې وي نو د کلیو دخلکو به څه حالت وي،لهذا دښار په هر مسجد اومحله کې ددیني عالِم موجودیت ضروري دی (الخ احیاء العلوم جلد۲ ص ۱۲۳۶ لمنکرات العامه)لهذا دیني تعلیم غنیمت او نعمت وګڼئ اوداسې طریقه خپله کړئ چې لمونځ او تعلیم دواړه جاري پاتی شي اوهیچاته څه شکایت پاتی نشي.

د مسجد د ځای محفوظ ساتلو په غرض د وقف مال مصرفول

(۱۱۵-سوال) زمونږ د محلې د مسجد ترسټ لاندی دوه مسجدونه دي. دو مسجد دغیرمسلمو په علاقه کی دی دهغه دیوالونه وران ویجاړ دي. حکومت پرهغه قبضه کول غواړي مونږ څه وکړو؟ ایاد قانوني کاروایی له مخې دهغه د ترلاسه کولو او محفوظ کولو کوشش وکړو اوکه حکومت ته یې ورکړو؟ ددغه مسجد څه مستقل آمدني او عواید نشته ایا زمونږ د مسجد له پیسو نه وکیل نیول اوپه عدالت کې پیسې لګول جائز دي اوکه نه بینوا توجروا.

(ځواب) دمسجد پرځای باندی چې عمارت جوړشوی وي یا نه. که هلته څوک لمونځ کوي یا نه هاته خلک اوسیږي یانه، هغه ځای په هرحالت کی دمسجد په حکم کی دی په درمختارکی دي.

ولو خرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی (درمختارمع الشامی ج ۳ص ۵۱۳ کتاب الوقف مطلب فیمالو خرب المسجد او غیره).

هیځوک داځای مهمانخانه، یتیم خانه او مسافرخانې په توګه هم نشي استعمالولې، مسلمانانو ته پکاردي چې داځای آباد کړي، که پنځه وخته لمونځ پکې نشي اداکولې نولږ تر لږه د جُمعی لمونځ دی پکې ضرور اداکړي اوپه دی ترتیب مسجد دې اباد اومحفوظ وساتي. هلته دی یوسړی مقرر کړي چې‌پنځه وخته آذان پکې وکړي او لمونځونه دی پکې ولولي، که چیرته داهم ممکن نه وي نوبیادی دمسجدخلور طرفونو ته دیوالونه تاو کړي چې‌له ګندګي او بی ادبي نه محفوظ پاتی شي. که چیرته مجبوریت وي اوله عدالت نه بغیر ددې بقاناممکن وي نوستاسی دمسجد له ترسټ نه ددغه وران مسجد په حصه کې څومره پیسې ترلاسه شي هغه په قانوني کارونو کې خرچولي اومصرفولې شئ.

مسجد لاندی ډنډ جوړول:

(۱۱٦- سوال) زمونږ مسجد پراخولی شي کوم ځای چی په مسجد کې شامل کړی شي هغه تنګ دی نوځکه داسی پلان جوړولې شي چې په مسجد کې کوم نوی‌ځای‌شاملولی شي هغه لاندې یوډنډ جوړ کړی شي. د اودس کولو لپاره د ناستی ځای‌به له مسجد خانی نه بهر وي، ایاداسی حوض جوړولې شواوکه نه؟ اوپه

دی خای کی صفونه قائمولي شو اوکه نه؟ ایاپه دی سره د مسجد ثواب ترلاسه کیږي اوکه نه؟ ایا اعتکاف کوونکي هلته اعتکاف کولي شي اوکه نه؟ بینو توجروا.

(خواب) کوم نوی خای مو چې په مسجد کې دننه کړی دی که له اول نه مو دهغه په لاندنی حصه کې ډنډ جوړولو نیت کړی وي نو بیاپکې ډنډ جوړولي شئ خود زوړمسجد خای دی په ډنډ کې داخل نه کړی شي اود ډنډپورتنۍحصه چې په مسجد کې شامله دد په هغه کې صفونه جوړولي شئ دمسجد ثواب ورته رسیږي او هلته اعتکاف کول هم صحیح دي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

دلمونځ په وخت کې دمسجد دروازه له ضرورت نه پرته بندساتل:

(۱۱۷- سوال)زمونږ د مسجد دوه دروازې دي یودمحلې په طرف اوبل دعمومي لارې په طرف له دغو دروازوڅخه یوه دروازه دلمونځ په وخت کې بنده ساتل کیږي اوپه دی سره دهغه طرف اوسیدونکو لمونځ ګذارانو په راتګ کې تکلیف مخې ته راځي سوال دادی چې ددغې دروازې بندساتل څنګه دي، داپنځه لس ورځې کیږي چې د دروازې د بندولو داسلسله شروع شویده، مدلل ځواب راکړئ. بینوا توجروا.

(خواب) که چیرته داویره وي چې د مسجد مال به غلاشي یابه خاروي اوچوپایه په مسجد کې دننه شي نوپه دی خاطر د دروازې بندول صحیح کار دی. لیکن دلمونځ په وخت کې دهغې خلاص ساتل ضروري دي. که د دروازې دواړو طرفونو ته خلک اوسیږي نو بیا د دواړو دروازوخلاص ساتل ضروریدي، له هغوی نه دیوبندول اوخلک په تکلیف کې آچول ښه کار نه دی. خوکه چیرته د خارویواوځناورودداخلیدو ویرهوي نو بیادی په داسې طریقې سره بنده وساتی چې لمونځ ګذاران یې پخپله خلاصولي او بندولي شي اوخه شکایت یې پاتې نه شي. په درمختار کی دي:

و کما کره غلق باب المسجد الا لخوف على متاعه به يفتى (قوله غلق باب المسجد) قال في البحر وانما كره لانه يشبه المنع من الصلوة قال الله تعالى ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان يذكر فيها اسمه اه (قوله الا لخوف على متاعه) هذ اولى من التقيد في زماننا في جميع الا وقات ثبت كذلك الافى اوقات الصلوة او لافلااوفى

[1] - و دا جعل تحته ، سردابا لمصالحه اى المسجد جاز كمسجد القدس. درمختار مع الشامي كتاب الوقف مطلب في احكام المسجد ج ۳ ص ۵۱۲ .

بعضها ففی بعضها کذافی الفتح (درمختار والشامی ج ۱ ص ۶۱۳، ۶۱۴ تحت مطلب فی احکام المسجد) فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجدپخواني کاني خرخول :

(۱۱۸- سوال) دمسجد پخواني کانړې هسې بيکاره پراته دي ايامونږ هغه خرخولې شواوکه نه؟ يوبل تجويز دادی چی د مسجد دآمدنی لپاره يو کور جوړولې شي ايايه هغه کې د مسجد دغه کاني لګولي شو اوکه نه؟ بينوا توجروا.

(جواب) داچې د مسجدکانې هسې بيکاره پراته دي نودمحلې د خلکو په مشوره دی متولي دغه کاني خرخکړي اوهغه پيسې دی د مسجد په وقف کې شامل کړي همدغه راز کولې شي په دی پيسو د مسجد لپاره ضروري شيان واخلي، همدغه راز کوم کور چې دمسجد لپاره جوړيږي په هغه کې يی هم لګولې شئ خوشرط دادی چی له پليتي نه وسائل شي. يعنی بيت الخلاء د متيازو ځای او غسل خانه کې دی دا کاني نه لګوي په درمختار کی دي:

و لا ترمی براية المستعمل لاحترامه کحشيش المسجد وکناسة لا يلقی فی موضع يخل بالتعظيم.(درمختار مع الشامی ج۱ ص۱۶۵ کتاب الطهارة).فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد کې سياسي جلسه کول:

(۱۱۹-سوال) په مسجد کې سياسي جلسه او مجلس کول څنګه دي؟ بينوا توجروا.

(جواب) د مسجد د ادب او احترام په باره کې خلک ډير زيات غفلت کوي داکار بايد په مسجد کې ونکړی شي. بلکې له مسجد نه باهر دی وکړی شي.

حضرت عمر رضی‌الله عنه له مسجد نه بهرپه يو طرف کی يوه صفه جوړه کړی وه او اعلان يې کړی و چی کوم خلک اشعار لولي ياپه اوچت اواز سره خبرې کوي، ياکوم بل کار کوي نو هغو دی صفی ته لاړشي، په مشکوات کی دي :

عن مالك قال بنی عمر رحبة فی ناحية المسجد تسمی البطيحا و قال من کان يريد ان يلغط او ينشد شعراً ويرفع صوته فليخرج الی هذه الرحبة رواه فی الموطا (مشکوة شريف ص ۷۱ باب المساجد و مواضع الصلوة) په فتوی

عالمگیری کی دي: الجلوس فی المسجد للحدیث لایباح بالاتفاق لان المسجد بنی لا مور الدنیا (عالمگیری ج ٦ ص ٢٥١ کتاب الکراهیة الباب الخامس) فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد کې قران خواني او نکاح ترلو لپاره دمسجدبجلي استعمالول څنګه دي:

(۱۲۰-سوال)په مسجد کې دنکاح د ترلو په وخت یاکوم سرې دخپل کوم خپلوان لپاره دقرآن کریم ختم کوي. په دی وخت د مسجد برق استعمالوي او پکي وربانډی لګوي. هغوی چې څومره وخت په مسجد کې تیروي ایا دهغه عوض متولي اخستی شي اوکه نه؟ ایامتولي دعوض آخستلو قانون جوړولی شي اوکه نه؟یادی هغه خلک د مسجد عوض پخپله ورکړي؟ بینوا توجروا.

(جواب) اصلي‌مسئله خو همداده چې داسی کارونو لپاره دی د رڼا او پکو انتظام پخپله وکړی شي، د مسجد پکي‌او برق دی نه استعمالوي. پکار خو داده چې په مسجد کی د برقونو دلګولو کوم وخت مقرر دی له دغه وخت نه پرته دي‌په بل وخت کی دقرانکریم تلاوت یا د نورو دیني کتابونو دمطالعی لپاره هم د برقونو استعمالول ممنوع دي په عالمګیری کي دي:

هل یجوز ان یدرس الکتاب بسراج المسجد؟ والجواب فیها انها ان کانت موضوعة للصلوة فلابأس به وان وضع لاللصلوة بان فرغوا من الصلوة وذهبوا فان اخر الی‌ثلث اللیل لا بأس به وان اخر اکثر من ثلث اللیل لیس له ذلک کذافی المضمرات(فتاوی عالمگیری ج ٦ ص ٢١٥ کتاب الکراهیة الباب الخامس).

لیکن نن سبا د غلط رواج په وجه که د برق او د پکو دلګولو اجازه ورنه کړی شي نوجنګ او جګړه جوړیږي نولهذا څومره وخت چې برق بی‌مصرف کړی وي دهغه عوض دی ترینه واخلي اویادی پخپله ورکړي. په مسجد کی‌دنکاح محفل جوړول او نکاح ترل سنت دي اوله حدیثونه ثابت دي.

مروته د ثواب رسولو لپاره مجلسونه جوړول اوقرآن خواني کول ثابت نه دي دسفر السعادت په شرح کی دي: عادت نه بود که برای میت در غیر وقت نماز جنازه جمع

شوند وقران خوانند و ختمات خوانند نه برسر گور ونه غیر آن وایں مجموعه بدعت است و مکروه

یعنی د محمدصلی‌الله علیه وسلم اود اصحابو کرمو دا عادت نه و چی‌مړي لپاره د جنازی لـه لمونځ نه پرته په بل کوم ځای کی جمع شي او قرآن ولولي نه په قربانـدی اونه په بل ځای کی‌دغه ټول رواجونه بدعت او مکروه دي (شرح سفر السعادت ص ۲۷۳)

په فتاوی بزازیه کی دي:

واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقراءة سورة الانعام او الا خلاص فالحاصل... الی قوله... اتخاذ الطعام عند قراءة القرآن لاجل الا کل یکره (فتاوی بزازیة ج ۱ ص ۸۱ کتاب الجنائز قبیل الباب السادس والعشرون فی حکم المسجد).

لهذا په دی کی دبرقونو او پکولکول صحیح نه دي کله چی د قرآنکریم اودیني کتابونو دلوستلولپاره د بجلي د استعمالولو اجازه نشته (حال داچی دا خالص دیني کاردی) نو رسمي قرآن خواني لپاره ددې اجازه څنګه کیدی شي؟ که چیرته څوک خامخا خپلو مړونه دایصال ثواب لپاره دقرآن شریف ختم کول غواړي نو هغوی دی پخپلو کورونو کی داکار وکړي نه په مسجد کی څکه چی مسجد ددا سی کارونو لپاره مناسب نه دی.

فقط والله اعلم بالصواب.

د روژې د میاشتې د ۲۷ می‌شپې له شیرني نه د پاتی شویو پیسو په مسجد کی‌استعمالول:

(۱۲۱-سوال) په تراویح کی دقرآنکریم د ختم په وخت دشیرنی د تقسیمولو لپاره مو چنده را غونډه کړی وه لدینه څه پیسې پاتی شوي دي ایا داد مسجد په کارونو کی استعمالولی شو اوکه امام صاحب ته یی ورکړو؟ بینو توجروا

(خواب) داچنده چی دکوم مقصد لپاره غونډه شوی ده باید په هغه کی ولګولی شي، که چیرته څه پیسې پاتی شوي وي نوهغه دی دچنده ورکوونکو په مشوره په بل څه کی مصرف کړی شي داد امام حق نه دی چی پاتی پیسی‌دی خامخا هغه ته ورکړی شي

دقران کریم دختم په وخت د چندی د راغوندولو او دشیرني د تقسیمولو طریقه بالکل غلطه ده. څوک چه څوک درسم له پابندي نه علاوه په خپله خوښه تقسیم کړي نو بيا ممنوع نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجد لپاره د وقف شوي قران کریم له خپل قرآن کریم سره بدلول :

(۱۳۲-سوال) زمونږ په مسجد کی یو مترجم قرآن کریم دی،زما ورته ضرورت دی. زه دهغه پرځای یو بل قرآن شریف چی ترجمه یی نشته په مسجد کې ایښودل غواړم ایا بالشرط داسی کول جایز دي چی هغه قرآن شریف خپل کورته راوړم او پرځای یی بل قرآنشریف چی ترجمه یی نشته کیږدم؟ بینوا توجروا.

جواب: د مسجد لپاره دوقف شوي قرآنکریم بدلول جائز نه دي خوپه مسجد کی دننه له هغه نه استفاده کول جائز دي[1] فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد کوربینک ته په کرایه ورکول :

(۱۳۳-سوال) د مسجد کور بینک ته په کرایه ورکول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

جواب: بینک ته کور په کرایه ورکول له ګناه سره مرسته کول دي اوپه قرانکریم کی له ګناه سره دتعاون کولو نه منع راغلی ده. لهی ارشاددی: ولاتعاونو علی الاثم والعدوان. د ګناه اونیکي نه کارونو کې مدد او مرسته مه کوئ لهذا ددی اجازه نشته فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد د تعمیر دجوړولو په وخت په جمعی سره له لمونځ نه منع کول څنګه کار دی؟

(۱۳۴- سوال) په بمبی کی یو مسجد جوړیږي او کار وربانـدی روان دی.دمسجد دواړوطرفوته سړکونه دي اودا تجارتي مرکز دی. نوځکه د حکومت لـه طرفـه د نوي تعمیر اجازه په دی شرط سره راکول شویدی چی دتعمیر سامان پـه سـړک بانـدی کینودلی شي نو ځکه د مسجد سامان په مسجدکې ایښودل کیږي او ټول ځای بندوي. اوس نودا سوال مخی ته راځي چی دمسجد د جوړیدو په وخت له جمعی سره لمونځ

---

[1] – ای الذی حصل من کلامه انه، اذا وقف کتب وعین موضعها فان وقف علی اهل ذلك الموضع لم یجز نقلها منه لاغیرهم ولا لغیرهم وظاهره انه لا یحل لغیرهم الانتفاع بها و ان وقفها علی طلبة العلم فکل طالب الانتفاع بها فی محلها ح فتاوی شامی مطلب فی نقل کتب الوقف من محلها.

وکړی شي یانه؟ که چیرته لمونځ پکې جاري ساتو نو څو مشکلات راولاړیږی، یوداچې د جمعې لپاره ځای خالي کول ګران کار دی بل داچې دوند تولي اوبه د مسجد په کارونو کې مصرفیږي، مزدوران اکثر هندوان وي له هغوی سره ماشومان هم وي هغوی دصفایي خیال نه کوي، دریم داچې د ماسپښین او ماښکر لمونځونو له کبله هره ورځ نیم ساعت کار بند پاتې کیږي نوپه داسې حالت کې دی په جمعې سره لمونځ جاري وساتل شي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په مسئوله صورت کې دی د مسجد بیکاره ځیرونه خرڅ کړی شي. هر وخت دی پکې آذان وکړی شي اود جمعې لمونځ دی پکې هم اداکړی شي برابره حسره دده چې پخپله مسجد کې دننه وي یاله مسجد نه بهر په صحن کې هر چیرته چې ممکن وي اوځای خالي وي. له کاوند نه دی خلک په اوداسه سره راشي او سنت لمونځ دی په خپلو کورو کې وکړي . پدې ترتیب صرف پنځلس دقیقې شاځوا کاربندیږي د جمعې ورځې لمونځ که پکې وشي نوڅه حرج او مضائقه پکې نشته. د مسجد د احترام خیال دی پوره وساتلی شي. اوکه د ګندګي ویره وي نو ماشومان دی بند کړی شي فقط والله اعلم بالصواب

د مسجد صفونه په عیدګاه کې کله استعمالولې شو ؟

(۱۲۵- سوال) مسئله داده چې د مسجد صفونه په عیدګاه کې نشي استعمالیدی، که چیرته مونږ داسې یو فیصله وکړو چې صفونه دعیدګاه لپاره واخلو اود اخترونو په وخت په عیدګاه کې هوار کړو اوپاتې نوروورځو کې دی په مسجد کې استعمال کړو. په داسې صورت کې داصفونه په دواړو ځایو کې استعمالولی شو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته صفونه په دی نیت سره واخستلی شي چې داخترپه ورځو کې په عیدګاه کې استعمال کړی شي او نورو ورځو کې په مسجد کې نو په دی کې څه بدي اومضائقه نشته همدغه راز که څوک مسجد ته صفونه په دی خبرې سره مشروط ورکړي چې داختر په ورځو کې دی په عیدګاه کې استعمال کړی شي اوپه نورو ورځو کې دی په مسجد کې نو بیاهم څه بدي او حرج پکې نشته.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - ان بحصول، جاز هذا الشرط مبی على ماذكره شمس الأئمة من الضابط وهوانه اذا ذكر للواقف مصرفا لا بد ان يكون فهم تنصيص على الحاجة حقيقة كالفقراء اواستعمالا بين الناس كاليتامى والزمنى لان تعالب

دپکري پیسې د مسجد په تعمیر کې خرچول:

(۱۲۶)- سوال: د بمبی د مسجد په ملکیت کی یوځای دی په هغه باندی دپکری پیسې ترلاسه شوي دي. ایا دغه پیسې د مسجد په تعمیري کارونو کې خرچولې شواوکه نه؟ د پکري دغه پیسې هندي، رافضي اوسني مسلمانانو څخه مو اخستی دی. مسجدموشهیدکړی دی غواړوچی بیایی له سره اباد کړو ایا دغه پیسې پکې لګولې شو اوکه نه؟

جواب: د پکري پیسی په ظاهره په کوم شرعي عقدسره نه ترلاسه کیږي لهذا ددغو پیسو استعمال په مسجد کی جائز نه دی، که چیرته مسجد ته ضرورت وي نوله کوم غیر مسلم نه دی پیسی قرض واخلي اومتولي ته دی هبه کړي اود پکړي په پیسو دی هغه قرض اداکړي او متولي له خپل طرف نه هغه پیسې په مسجد کې استعمال کړي نو ددی ګنجائش وتلی شي. فقط والله اعلم بالصواب

په خپلو سره مسجد کی دننه کیدل:

(۱۲۷)-سوال: دبمبی په یو مسجد کې کار روان دی. د مسجدچت آچول شوی دی په دی وخت په جماعت خانه کې له جمعې سره لمونځ اداکیږي. لمونځ ګذار حضرات په ستعملو څپلو کې دننه راځي ولاړي چې په لاره کی شکې او باجرې دي سوال دادی چې آیا له څپلو سره د مسجد دننه راتلل جائز دي اوکه نه؟ ایا په دی سره دمسجد بې ادبي کیږي اوکه نه؟ بینوا توجروا

جواب: د مسجد د دیوالونو له غورځولو نه وروسته هم د مسجد احترام همغسې ضروري دی لکه څنګه چې مخکی و. که چیرته څپلې او څپلکي پاکې وي نو په دی کې څه کناه نشته لیکن د ادب په ځای کی دڅپلو ویستل د ادب غوښتنه دد محمدصلی الله علیه وسلم یو سړی ولید چې د قبرستان په منځ کې څپلې په پښوکړی وی نو هغه ته یې وفرمایل:

اذا كنت في مثل هذا المكان فاخلع نعليك تفسير قرطبى تحت قوله فاخلع نعليك انك بالواد المقدس طوى. سورة طه.

فيهم نظر فيصح للاغنياء والفقراء فان كانوا يحصون والافللفقراء هم فقط شامي كتاب الوقف مطلب في ذكر الموقف مصرفلابد ان يكون فيهم تنصيص على الحاجة ج ۳ص ۵۱۹

یعنی کله چی ته له داسی ځای ته تیرشی چی دهغه احترام مطلوب وي نو خپلي خپلی راوباسه لهذا له ضرورت نه پرته په پاکو خپلو کي مسجد ته راتلل نه کارنه دی دابايد عادت جوړ نکړی شي. اوهغه څپلی اوچپلکي چي زړې وي او ورسره بيت الخلا ته ورځي نوپه داسی چپلکو کی مسجد ته دننه کيدل ځنګه جائز کيدای‌شي مسولي صاحب ته پکار دي چی له ډيرنه نيولی تر مسجده پوری څه فرش هوارکري ترڅو مسجد له بی ادبي نه په امن کی پاتی شي. فقط والله اعلم بالصواب (١٠ رجب المرجب ١٤٠٠ هجری).

په مسجد کې برقي پکه لګول :

(١٢٨ - سوال) زمونږد محلي د مسجد رقبه ٢٦ فته اوږده او ١٦ فته پراخه ده. په هغه کې درې صفونه دي، په مسجد کې پنځه پکي لګيدلي دي، د تکبير اولی په وخت کی عموماً١٢-١٣ کسان وي وروسته بيا دونيم صفه خلک وي. څو تنه سپين ږيري په پابندي سره مسجد ته راځي او تکبير اولی سره يوځای لمونځ کی شريکيږي، هغوی ته په يو موسم کی هم دپکي هوا نه نه لګيږي، دهغو په زنګنو او نورو غړو کی درد پيداکيږي، مګرد مسجد متولي دهغوی ددغه تکليف هيڅ پروانه کوي نه پکي بندوي او نه هم د ورو کولو امر کوي، کله چی هغه ته ويل کيږي چی پکو سره دغو سپين ږيرو ته تکليف رسيږي نو هغه وايي چی داسی خلک ډير لږدي، مونږ د دوه دريو کسانو خيال وساتو اوکه دډيرو کسانو؟ تاسی مهرباني وکړئ په دی باره کې ځواب راکړئ چی په مسجد کې د پکو لګول ځنګه دي؟ او ددغو معذورينو لحاظ ساتل ضروري دي اوکه نه؟ بينوا توجروا.

(ځواب) وهوالموفق للصواب. په مسجد کی‌د پکي لګولو مسئله اختلافی ده د اتمی پيړی د علمای کرامو په وړاندی چی دغه مسئله پيش کړی شوه نو هغوی ددی مخالفت وکړ او ويی ويل چی داشرعي بدعت دی لکه چی علامه ابن الحاج متوفی ٧٣٧ هجري کال ليکي :

وقد منع علماء رحمهم الله المراويح ان اتخاذ ها فی المساجد بدعة.

يعنی زمونږ دزمانې علماء په مسجدونو کې دپکو لګولو ته يوقسم بدعت وايي او لدينه منع کوي. (کتاب المدخل ج ١ ص ٩٧ ص ١١٣).

حضرت علامه عبدالحی لکهنوي رحمه الله متوفی ١٣٠٤ هجري ليکي چی په مسجد کې پکی لګول فی‌نفسه مباح کاردی، هيڅ شرعي ممانعت پکې نشته اونه‌داسی کوم

معتبر فقهي روایت زماله نظره تیرشوی دی. البته دابدعت لغویه او بدعت مباحه دی.
نودصالحو سلفو د اتباع په خاطر دپکو نه لګول اولی دی خوکه ولګولي شي نوکوم
ضلالت اوکراهت پکې نشته. (مجموع فتاوی ج ۱ص ۱۱۳).
د نوموړي مولاناپه نزدشرعي بدعت خو نه دی خو خلاف اولی دی.
حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب فرمایي :
په مسجد کې برقي پکه لګول جایز دي لیکن ابن الحاج په مدخل کی داهم د بدعت
یوه درجه ګڼلې ده ځکه چې د صالحو سلفو په زمانه کې ددی رواج اودستور نه و
مولانا عبدالحی لکهنوي (رح) پخپل فتاوی کې ویلي دي چې که څه هم ددی په
شرعي بدعت کیدو باندی تامل دی مګر په دی کی هیڅ شک نشته چې نه لګول یې
ښه کاردی اوپه دی کی دسلفو پوره اتباع ده(منیة المساجد فی ادب المساجدص۲۰).
ددغو پورتنیو بزرګانو له عبارتونو څخه دامعلومه شوه چې په مسجد کې پکه لګول اوله
هغې نه استفاده کول جائز دي. مګر نه لګول یې ښه دي. داحکم هم په دی صورت
کې دی چې پکه داسې په کلاره ولګول شي چې کوم لمونځ ګذارته تکلیف ونه
رسیږي اوکه چیرته په کلاره لګول هم د تکلیف باعث وي او کمزوري خلک اخوا
دیخوا ګرځي راګرځي اوله صف نه جلا په ودریدو مجبورشي او دفضیلت له ځای یعنی
دامام له څنګ نه هم لری شي نو بیا دپکې لګول دهیڅا په نزد ښه کار نشي کیدلې
بلکې ممنوع ګرځي. شریعت همیشه لپاره دناروغانو، کمزورو او محتاجو خلکو ښې
لحاظ کړی دی اګرکه هغوی لږوي. لکه چې د حضرت ابو سعید خدری رضی‌الله عنه
څخه روایت دی چې یوشخص د محمدصلی‌الله علیه وسلم په خدمت کی عرض وکړ
چې فلان امام په لمونځ کی ډیر اوږد سورت وایي نو ځکه زه د جمعی له لمونځ نه
محروم پاتی کیږم راوي وایي چې محمد صلی‌الله علیه وسلم ډیر زیات خفه شو د
نصیحت په وخت کی ماکله هم هغه صلی‌الله علیه وسلم دومره غصه نه و لیدلې. هغه
صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل :
انّ منکُم منفرین فایکم ما صلی بالناس فلیتجوز فان فیهم الضعیف والکبیر وذاالحاجة.
یعنې په تاسو کې ځینې نفرت پیداکوونکي دي، هرڅوک چې دلمونځ امامت کوي هغه
دی مختصر لمونځ وکړي ځکه چې په لمونځ ګذارانو کی، کمزوري ، بوډاګان
اوحاجت مند خلک هم وي (اودهغوی لحاظ کول ضروري دي).(بخاری شریف ج ۱

ص۹۷ ب ۳ باب تخفیف الامام فی القیام واتمام الرکوع والسجود) (مشکوات شریف ص۱۰۱).
ښکاره خبره ده چی په مسجد کی دلمونځ په وخت ناروغان، کمزوري او حاجت مند خلک ډیر لږ وي لیکن ددی باوجود ددې خبرې حکم ورکول شوی دی چی دهغوی لحاظ او رعایت په نظرکی ونیول شي. لدینه معلوم شو چی دلږو یاډیرو سوال مطرحنه دی بلکی د کمزورو ناروغو اومعذورانو لحاظ ساتل ضروري او مقدم دي که څه هم په لږ تعداد کی وي
په یو حدیث کی دي چی حضرت معاذ رضی‌الله عنه خپل قوم ته دماسختن لمونځ ورکړ خو اوږد قرئت یې پکې وکړ یومقتدی لمونځ مات کړ ځانله یې ولوست او کورته ولاړ خلکو وویل داسړی منافق شوی خوبه نه وي؟ هغه راغی او محمدصلی‌الله علیه وسلم ته یی عرض وکړ چی یارسول الله صلی‌الله علیه وسلم مونږ مزدوري کوونکي خلک یو. دورځې کارونه کوو ، محمد صلی‌الله علیه وسلم د معاذ (رض) په طرف وکتل او ورته یی وفرمایل : یا معاذ افتان انت . ای معاذه! ایا ته فتنه پیداکوې؟ والشمس وضحها، والضحی، واللیل اذایغشی، سبح اسم ربک الاعلی سورتونه ووایه. متفق علیه (مشکوة شریف ص ۷۹ باب القرأة).
تاسی غور وکړئ په پورتنیو دواړو حدیثونو کې یوازی یوسړی شکایت کړی و او نور ټول لمونځ ګذاران مطمئن وو. لیکن محمد صلی‌الله علیه وسلم صرف د یوسړي دتکلیف خیال وکړ او عام حکم یی صادر کړ چی د ضعیفو، کمزورو او معذورو خلکو رعایت او لحاظ باید وکړی شي،لهذا دیکي هوا چی چاته ضرر رسوي که هغوی څومره هم لږوي دهغه دتکلیف خیال باید وساتل شي.
یوبل حدیث ولولئ، د حضرت انس رضی‌الله عنه بیان دی چی کله به محمدصلی‌الله علیه وسلم په لمونځ کی دکوم ماشوم د ژړا آواز واورید نولمونځ به یی لنډولو (په دی خیال سره) چی ددی مور به په لمانځه ولاړه وي او زړه به یی دهغی لپاره پریشانه وي.(مشکوات شریف ص ١٦ باب ماعلی الامام).
تاسی‌غور وکړئ چی صرف ددی احتمال په وجه چی‌دماشوم موربه زما پسې لمونځ کی ولاړه وي، مګر بیاهم محمد صلی‌الله علیه وسلم دهغی په خاطر لمونځ لنډ وي، ددی برعکس زمونږ د زمانې حالت دادی چی دخوانانو او دیکو دشوقیانوخیال خو کیږي مګر د بوډاګانو او ناروغانو دشکایت پروا نه کیږي . داله انصاف نه لری خبره ده. مسجد

خالص د عبادت خصوصا په جمعی سره دلمونځ کولو لپاره دی. نو کوم خیزونه چی دلمونځ په خشوع او خضوع کې خلل واقع کوي له هغه نه ځان ساتل ضروري دي کومو خلکو نه چی دپکي هوا نقصان رسوي هغوی لـه اطمنان ، سکون ، خشوع او خضوع نه محروم پاتی کیږي خیني خلکو پکې د فضیلت مدار گني. چیرته چی پکي لګیدلي وي هلته لمونځ کول خوښوي اګرچی له امام نه لری هم شي حال داچی په حدیث کی دي چی کوم لمونځ ګذار امام پسی برابر ولاړ وي هغه لپاره سل لمونځونه لیکل کیږي اوکوم لمونځ ګذار چی دامام ښي طرف ته ولاړوي هغه لپاره پنځه اویا لمونځونه لیکل کیږي او څوک چی دامام ګڅ اړخ ته ولاړوي دهغه لپاره پنځوس لمونځونه لیکل کیږي اونورو لمونځ ګذارانو لپاره پنځه ویشت لمونځونه لیکل کیږي.(مجالس الابرابر ص۳۱۹ مجلس نمبر ۷۴).

ددغه فضیلت له نرلاسه کولو نه معذورین محروم پاتی کیږي او که چیرته په دغه ځای کی پکي نه وي لګیدلي نودیکی شوقیان هلته نه ودریږي بلکی دپکي ځای خوښوي اوپکی لاندی، د ودریدو پرځای تکبیراولی پریږدي. افسوس.

حضرت شیخ لهند رحمه الله فرمایي:بدعت فوراً نه راځي بلکی په کلاره کلاره راځي. پوه خلک ـه وړاندی نه پوهیږي اوهغه منع کوي. خو نور خلک وروسته خبریږي.(الوردالشذی علی جامع الترمذی ص ۷۰).

دمحمدصلی‌الله علیه وسلم مبارک ارشاد دی:اتَّقوا فراسة المؤمن فانه ینظر بنورالله. یعنی دمومن له فراست نه وویریږئ بیشکه هغه دالله په نور سره ګوري.

حاصل داچی، په مسجد کی پکه لګول اوله هغه نه ګټه اوچتول فی نفسه جائزدی لیکن په دی کی څو خرابیانی یی پیداکړي دي.لومړی داچی ډیرتیز یی چلوي اودهغه آواز په ټول مسجد کی‌خوریږي آن تردی چی دامام قرائت اوخطبې په آواز باندی پوره اثر اچوي اوښه نه اوریدل کیږي.

دویم داچی دمعذورینو خیال نه ساتل کیږي هغوی اخوادیخوا پریشان ګرځي او ویل کیږي چی معذورین لرډي اودپکو خوښونکو تعداد زیات دی نو ځکه معذورین له صف نه جلا ودریدو مجبوریږي.

دریم داچی دپکو په وجه معذورین د فضیلت د ځای له حاصلولو نه محروم پاتی کیږي یادپکي شوقیان قصداً د فضیلت ځای پریږدي. ددغو شرعي وجوهاتو لـه کبله باید و

اثمهما اکبر من نفعهما څخه ډېره وکړی شي او یا هم د معذورینو شکایت ته پاملرنه وکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

دسړو په موجودګي کی ښځه د مسجد صفایي کولی شي اوکه نه ؟

(سوال ۱۲۹) د مسجد صفایي دی سړي وکړي اوکه ښځې؟ اياد سړي په موجودګي کې ښځه د مسجد، صفایي کولې شي اوکه نه؟ بینو توجروا.

(ځواب) که چیرته دبې پردګي او نورو ځیزونو قباحت نه وي نوښځه د مسجد دصفايي سعادت ترلاسه کولی شي. فقط والله اعلم بالصواب. ۲۵ شعبان المعظم ۱۳٦ ھ.

مسجدونو عیدګاه او نورو خیرښیګڼو کارو کې د استعمال په نیت صفونه ورکول :

(۱۳۰- سوال) یوسړی په دی نیت سره صفونه مسجد ته آخلي چی دادی په مسجد کی استعمالیږي اود ضرورت په وخت کی دی عیدګاه او نورو خیرښیګڼو په کارونو کې دی هم استعمالولی شي. په دی نیت سره مسجد ته صفونه ورکولی شي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) دصفونو دوقف کوونکي له نیت سره سم هغه صفونه مسجد، عیدګاه او تبلیغي اجتماعاتو په وختونو کې دلمونځ لوستلو لپاره استعمالولی شي. خو بالکل عام کول یې مناسب نه دي بلکې لمونځ لپاره دی محدود کړي. (حواله په همدی باب کی د مسجد صفونه په عیدګاه کی کله استعمالولی شو ترعنوان لاندی وګورئ مرتب) فقط والله اعلم بالصواب. ۲۰ ذی قعده ۱۴۰۱ ھ.

د مسجد په صحن اود مسجد په شمالي او جنوبي برخو کی دوکانونه جوړول :

(۱۳۱- سوال) زمونږ مسجد ډېر پخوانی دی غواړو هغه له نوي سره جوړ کړو په مسجد کی یو جماعت خانه او هغه ته نژدی مستقل یو صحن دی، پنځه وخته لمونځونو کې صرف په جماعت خانه کی لمونځ ګذار مقتديان وي، مګر د جُمعی د ورځې په لمونځ او تراویح کی خلک په صحن کی هم لمونځونه کوي، د مسجد په شمالي برخه کی ځاه او غسل خانې دي، اوپه جنوب کې د اوبو ډنډ او د متیازو ځایونه دي، اوس په نوي تعمیر کی غواړو چی د مسجد د آمدني لپاره څو دکانونه جوړ کړو.

د مسجد نقشه به څه دارنګه وي :
مسجد به پخپل اصلي حالت کې وي، صحن به ورو کې کوو اوپه هغه کې به دکانونه جوړوو. همدغه راز د مسجد شمال طرف ته به غسل خانې او ځاه هم ختموو او هلته به هم دکانونه جوړوو او جنوب طرف ته به د متیازو ځای ورانوو او هلته به هم درې دکانونه جوړوو. ډېره کافي وسیع دې هغه به ډکوو د هغه په څه حصه کې به غسل خانې او دمتیازو ځای اوپه څه حصه کې به اودس خانې جوړوو، خو اوس پوښتنې دادي چې :
(۱) په دې کې دکانونه جوړول څنګه دي؟ (۲) دځاه او غسل خانې په ځای کې چې له مسجد نه بهر دي دکانونه جوړول څنګه دي؟ (۳) د ډېرې پرځای باندې دغسلخانو او متیازو ځای جوړول څنګه دي؟ (۴) دا مسجد دغیر مسلمو په علاقه کې دی ایا د مسجد دغه دکانونه غیر مسلمو ته په کرایه ورکولی شوو اوکه نه؟ بینوا توجروا.
(خواب) په صحن کې دوه احتماله دي (۱) په مسجد کې داخل دی (۲) له مسجد نه خارج دی. ترڅوپورې چې په قطعي اویقیني ډول دامعلوم نه شي چې دا صحن له مسجد نه بهر دی نودا احتیاطاً په مسجد کې داخل ګڼل کېږي او دهغه احترام د مسجد په شان کېږي اوکه دا ثابت شي چې داصحن له مسجد نه بهر دی یعنې په شرعي مسجد کې داخل نه دي نودهغه حکم به د مسجد فناوي اود مسجد په فنا کې د دکانونو جوړول شرعاً ممنوع دي. په فتاوی عالمګیري کې دي:
قیم المسجد لایجوز له ان یبنی حوانیت فی حد المسجد اوفی فنائه لان المسجد اذا جعل حانوتاً و مسکناً تسقط حرمته وهذا لایجوز والفناء تبع المسجد فیکون حکمه حکم المسجد کذا فی محیط السرخسی (فتاوی عالمګیری ج ۳ ص ۲۴۱ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد الخ) اوپه بحر الرائق کې دي : وفی المجتبی لایجوز لقیم المسجد ان یبنی حوانیت فی حد المسجد اوفنائه(البحر الرائق ج ۵ ص ۲٤۹ کتاب الوقف فصل فی احکام المسجد تحت قوله ومن بنی مسجد الخ)
(۲) لمونځ ګذارانو ته تکلیف نه وي څکه چې ځاه او غسلخانې ضروري دي اود دکانونو په جوړېدو سره که دمسجد په احترام کې دخلل واقع کېدو ویره نه وي نو ددکانونو جوړول خیر دی اوکه ویره وه نو بیا ممنوع دي.

(۳) که چیرته داودسونو د خای جوړولو اهتمام نه طریقې سره وشي نوپه دغه خای کی د غسلخانو او اودس خانو د جوړولو گنجائش شته، په دی شرط چی د مسجد په احترام کی څه خلل واقع نشي.
(۴) که چیرته دکانونه غیر مسلمو ته ورکړی شي نو لمونځ گذارانو ته به دزیات صبر او زغم ضرورت مخی ته راځي اود مسجد احترام هم په خطر کی ولویږي په زوره به راډیو غږوي، سندرې او گانې به لګوي، چون په محله کې مسلمانان نه اوسیږي نوښه به داوي چی دامسجد په سادگي سره جوړ کړی شي ترڅو له بی ادبي نه محفوظ پاتی شي اود ضرورت په وخت کی دجمعی ورځې لمونځ پکې اداکړی شي. دپنځه وخته لمونځونو لپاره دی باقاعده آذان وکړی شي اولږ ترلږه د دریو لمونځ گذارانو انتظام دی وکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

مناره جوړول څنګه دي ؟:

(۱۳۲- سوال) مونږ لګیایو مسجد جوړوو، دمنارې جوړولو اراده هم لرو، مناره جوړول څنګه دي؟ ایا دمحمدصلی‌الله علیه وسلم په زمانه کې مناره وه؟ ایا دا بدعت خونه دی؟ بینوا توجروا.
(ځواب) د محمد صلی‌الله علیه وسلم په زمانه کی د مسجد مناری په داشکل نه وی چی نن سبا دي خو آذان له اوچت ځای نه ورکول کیده. په ابوداود کی دبنو نجار د یوی ښځې صحابیه رضی‌الله عنها یو بیان منقول دی چی : کان بیتی من اطول بیت کان حول المسجد فکان بلال یوذن علیه الفجر. یعنی زما کور نبوي مسجد ته نژدی و اودنورو کورونو په نسبت لوړ او اوږد و، بلال رضی‌الله عنه به هلته وخوت او آذان به یی کاه (ابوداود شریف ج ۱ ص ۸۴ باب الاذان فوق المناره). لدینه ثابت شو چی آذان لپاره اوچت ځای شرعاً پکار دی ،لهذا چیرته چی ضرورت وي اود مناری نه پرته دمحلې خلکو ته د آذان آواز نه رسیږي نو دمناری جوړول شرعاً جائز دي، بدعت نه دی. خودمناری په جوړولو کی دی دځان ښودنی او ریانیت ونه کړی شي اوله ضرورت نه زیات دی اوچت نه کړی شي. په فتاوی عالمګیری کي دي چی :
واما بناء منارة المسجد من غلات المسجد بان یکون اسمع للقوم فلا بأس به وان لم یکن مصلحته لایجوز بان یسمع کل اهل المسجد الا ذان بغیر منارة کذا فی التمرتاشی.

یعنی د مناری په جوړولو کی شرعي مصلحت وي اوله مناری نه پرته په محله کی د اذان اواز نه رسیږي نو مناره د مسجد په وقف پیسو سره جوړولی شی. اوکه مصلحت نه وي اوله مناری نه پرته دمحلی خلکوته آواز رسیږي نو بیا د مناری جوړول جائز نه دي. (فتاوی عالمگیري ج ٦ ص ۲۱۵ کتاب الکراهیه، الباب الخامس) فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد کی دننه د توب داني ایښودل څنګه دي؟

(سوال – ۱۳۳) زمونږ په مسجد کی توپ داني ایښودل کیږي اولمونځ ګذاران په هغه کی خپلی لاړی توکوي آیاداسی کول جائزدي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته دا تفداني هروخت صفا او ستره ساتل کیږي او بدبویي ترینه نه ځي نو بیا جائز ده او که خوک یی نه تشوي اوبوي ترینه ځي نو د تفداني ایښودل جائز نه دي، تفداني باید دمجبوریت په حالت کی استعمال کړی شي او که مجبوریت نه وي نو بیادی نه ایښودل کیږي او خلک دی خپلې لاړې له مسجد نه بهر توکړي. فقط والله اعلم بالصواب.

مسجد ته د وړو ماشومانو راوستل:

(۱۳۴- سوال) زمونږ په کلي کې څه خلک خپل ماشومان مسجد ته راوړي او هلته یی کینوي، هغوی کله ژاړي اوکله شرارتونه کوي، کله کله متیازی هم کوي هغوی ته چی داوویل شي چی ماشومان له ځان سره مسجد ته مه راوړئ ځکه چی په دی کار سره د مسجد بی حرمتي کیږي، نو هغوی نه مني، تاسی مهرباني وکړئ داسی ځواب ولیکئ چی هغوی ورباندی قانع شي.

(ځواب) مسجد ته د وړو ماشومانو د راوستلو اجازه نشته په دی سره د مسجد ادب او احترام نه پاتی کیږي او راوړونکی خلک هم په لمونځ کی مطمئن نه پاتی کیږي، په لمونځ خو ولاړ وي مګر زړه یی له خشوع او خضوع نه خالي وي او ټول خیال یی د ماشومانو په طرف وي. د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانینکم الخ.

خپل مسجدونه له ماشومانو او لیونیانو څخه بچ وساتئ.

نوځکه فقهاء حضرات ليکي که چيرته دماشومانو راوستلو سره دمسجد دپليد کيدو ويره وي نودماشومانو راوزل حرام دي اوکه دا ويره نه وي نوبيا مکروه دي. په الاشباه والنظائر کي دي
ومنه حرمة ادخال الصبيان والمجانين حيث غلبت تنجيسهم والا فيکره(الاشباه ص ۵۵۷ القول في احکام المسجد).
خوکه چيرته ماشومان هوښيار وي اولمونځ کوي د مسجد په احترام پوهيږي نو دهغوی په راوستلو کي هيڅ حرج او بدي نشته غالباً له همدی کبله د اووه کلو عمر قيد په حديث کي موجود دی. که ماشومان وي نو دهغوی ځانله صف دی جوړ کړی شي اوکه پوازی يو نو بيادی له ځان سره ودروي دهغه له ځان سره ودرول مکروه نه دي فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد کی دتبليغي جماعت کسانو ويده کيدل :

(۱۳۵- سوال) ممباسا او جنوبي افريقی ښارونو ته دنهو لسو کلو راهيسې تبليغان راځي اوهغوی په مسجدونو کی اوسيږي. د مسجد په صحن او حجره کی خوراک څښاک کوي دشپي له طرفه په مسجدونو کی ويده کيږي. په ښار کی يو مسجد خپل مرکز جوړوي هلته د محلی خلک يوه شپه هلته تيروي شرعاً ددي څه حکم دی؟ ايا دا يوه شپه مقررول بدعت نه دی؟ بينوا توجروا.
(ځواب) که چيرته د تبليغي جماعت دا کسان مسافر وي او دمسجد د صفايي خيال ساتي نو هغوی لپاره د ويده کيدو جواز شته، که له مسجد نه باهر ځای وي نو همغلته ويده کيدل او خوراک څښاک ورته ښه دی. په فتاوی عالمګيري کی دي:
ولا بأس للغريب ولصاحب الدار ان ينام في المسجد في الصحيح من المذهب والاحسن ان يتورع فلاينام و كذا في خزانة الفتاوى.
يعني د صحيح مذهب په بنا مسافر او مقيم لپاره په مسجد کی دويده کيدو ګنجايش او اجازه شته خو بهتره داده چی لدينه ډډه وکړي (فتاوی عالمګيري جلد ٦ ص ۲۱۵ کتاب الکراهيه الباب الخامس).
که چيرته مسافر نه وي ليکن په مسجد کی د عبادت او اعتکاف په نيت سره څه وخت تير کړي نو هغه لپاره هم په مسجد کی دخوراک څښاک او ويده کيدلو اجازه ده په فتاوی عالمګيري کی دي:

ویکره والنوم والا کل فیه لغیر المعتکف واذا اراد ان یفعل ذلك ینبغی ان ینوی الا عتکاف فیدخل فیه ویذکرالله تعالی بقدر مانوی او یصلی ثم یفعل ماشاء کذافی السراجیة.

یعنی په مسجد کی دغیر معتکف ویده کیدل او خوراک کول مکروه دي، کله چی په مسجد کی ددغوکارونو کول ضروري وي نو مناسب دادی چی دأعتکاف نیت دی وکړي اوپه مسجد کی دی داخل شي، اودنیت په مطابق دی دالله تعالی ذکر وکړي لمونځ ولولي او بیاچی دکوم کار اراده یې وي هغه دی ترسره کړي. (فتاوی عالمګیري ج ٦ ص ٢١٥ حواله بالا).

پاتی شوه دشپې تیرولو مسئله نو په دی کی دهغوی مقصد داوي چی ځان دکور له ماحول نه وباسي اوددین نبه ماحول ته راولي هغوی ته ددین تبلیغ وکړي او دیني کارونو لپاره نیار کړي، نو ځکه یاورته کومه شپه مقرروي اویا ورځ، لکه چی په مدرسه کی دتعلیم لپاره ورځ مقرر شوي وي، د شپې وخت تاکل د سهولت په غرض وي نه دفضیلت په خاطرلهذا دا منع نه دی. خونبه کار دادی چی د ورځې اوشپې په وختونو کی دی وخت په وخت بدلون راولي ترڅو په خلکو کی غلط فهمي پیدانشي.

دکلي په مسجد کی دپیسو ورکولو وعده کول اوبیا ترینه منکرېدل:

(١٣٦- سوال) یوسړي دخپل دکلي مسجد د مرمت او جوړولو لپاره دپیسو ورکولو وعده وکړه خو بیاله چاسره یې کورنی جګړه وشوه. له همدی کبله هغه په مسجد کی دپیسو ورکولو اراده وروسته کړه، هغه وایي چی خلک قدر دان نه دي، هغه غواړي چی خپلې دغه پیسې د بل کلي په مسجد کی ولګوي. دهغه داکار ښکه دی جائز اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا.

جواب: داچی دکلي د مسجد دیوالونه زاړه دي اودهغوی مرمت ضروري دی، هغه دخدای جل جلاله دکور د مرمت کولو لپاره د پیسو ورکولو وعده هم کړی ده نو ځکه دغه مسجد زیات حقدار دی، هغه ته پکاردي چی پخپل وعده وفا وکړي او همدغه مسجد ته چندد ورکړي، دکلي خلک دهغه قدر کوي اوکه نه کوي دا خبره نه ده ځکه چی الله تعالی خو قدردان دی هغه جل جلاله دلوی اجر ورکوونکی دی.

(۱) د مسجد زمكه چاته كرايه وركول نه دي. (۲) ايا د مسجد دآمدني څه حد مقرردى؟

(۱۳۷- سوال) د مسجد څه زمكه ده د جماعت خلك هغه د مياشتي په دوه سوه روپى باندى په كرايه غواړي خو نور خلك د مياشتي په درى سوه روپى په كرايه غواړي نو مونږ چاته وركړو؟

(۲) د مسجد آمدني تركومه حده پورى زياتولى شي؟ ايادى لپاره كوم حد مقرر دى خيني خلك وايي چى مسجد ته دزيات آمدني ضروروت نشته. مهرباني وكړئ خواب راكړئ. بينوا توجروا.

(۱ خواب) كله چى دمسجد زمكه په كرايه وركوئ نو لومړى دهغه نه تشهير وكړئ اوپه مسجد كى اعلان خوړند كړئ چى فلان زمكه چى دفلانكي زمكى ملكيت دى هغه په كرايه وركول كيږي، هرڅوك چى زياته كرايه وركوي (پدى شرط چى زمكه په خطره كى ونه غورځوي) همغه ته وركړي. مسلمانانو ته پكار دي چى د مسجد د زمكي كرايه دى زياته وركړي څكه چى ددى فايده مسجد ته رسيږي اودا كار دثواب او اجر موجب دى فقط.

(۲) د مسجد د مرمت كولو ضرورت مخى ته راځي اوكله خو بالكل له نوي سره د جوړيدو نوبت راځي نوپه دى خاطر د مسجد آمدني چى څومره زياته وي ښه دى. همدغه راز كه د مسجد آمدني ښه وي نو دمسجد امام، مؤذن او خادم ته معقوله تنخواه وركولى شي ترڅو ددى زمانې ګرانى مخه ونيولى شي. په هر حال په هريو كى د مسجد ګټه زياته وي دمحلې دخلكو په مشوره دى وربانـدى عمل وكړى شي فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجد په نوي تعمير كى متوليانو د مسجد په څه حصه كى دكان جوړ كړى دي ددى څه حكم دى:

(۱۳۸- سوال) يو زوړ مسجد چى شهيد كړى شوى و اوله نوى سره يى جوړ كړيدى د مسجد متوليانو د مسجد دآمدني لپاره د مسجد په يوه حصه كى دوكانونه جوړ كړيدي. دمسجد تعمير مكمل شوى دى، خو علماء ددى مخالفت كوي چى آمدن لپاره د مسجد په حصه باندى دكانونه جوړول صحيح نه دي. متولي حضرات اوس حيران دي چى څه وكړي اوس كه چيرته د دوكانونو ځاى بيرته په مسجد كى دننه كړي نو دسر ...وان

ورباندی راخي، دیوالونه به له نوی سره جوړیږي د مسجد محراب به بیرته جوړیږي شاید متولیان دیته غاړه کی نږدي تاسی ولیکئ چی دهغوی داکار دشریعت له مخی صحیح دی اوکه نه؟ که چیرته متولیانو غلطي کړی وي نو اوس دغه خای دبل کوم کار لپاره استعمالولی شوو اوکه نه؟ چی نور نقصان ونه رسیږي. (بینوا توجروا).

(خواب) له کوم وخت نه چی مسجد جوړ شوی له همغه وخت نه دغه خای ترقیامته پوری مسجد پاتی کیږي هغه خای تر تحت الثری اوبره تر آسمان پوری دمسجد په حکم کی دی لهذا د مسجد لاندینی حصه هم دمسجد په حکم کی رازي نولهذا د مسجد په لاندینی حصه کی هم دمسجد دآمدني لپاره دوکانونه جوړول جائز نه دي نو دمسجد په هغه خای کی چی کلونو کلونو راهیسی خلکو پکی لمونځونه کړي دي دوکانونه جوړول خنګه جایز کیدلی شي؟ داکار ګناه او حرمت دی.لهذا دیوال مات کړئ اوپه مسجد کی یی داخل کړئ، په دی باندی چی خومره مصرف راځي ددی ذمه وار متولیان دي چی هغوی له تحقیق نه پرته داکار کړی دی که چیرته دهغوی مالي حالت ښه نه وي نو چنده وکړئ اوداکار ورباندی خامخا وکړئ، ددی خای خالي ساتل هم له ادب او احترام نه مخالف دی او وروسته دبي احترامي قوي ویره او اندیښنه موجوده ده، دویم محراب جوړول ضروري نه دي، د مسجد په وسط او منځني خای کی دی دمحراب پشان یوه نقشه جوړه کړی شي او امام دی همغلته ودریږي ترڅو دهغه دواړو طرفونو ته لمونځ ګذاران برابر ولاړوي. فقط والله اعلم بالصواب.

مسجد ته نږدی د موټرو د ودرولو لپاره دمیدان په جوړولو کی دسود پیسو استعمالول:

(۱۳۹- سوال) زمونږ په سیمه کی خلکو اراده کړی ده چی یو مسجد آباد کړی ددی خای دقانون په مطابق د موټرو د ودرولو لپاره خای ډیر ضروري دی دقانون په مطابق ددغی خای دسړک په شان پخول او قیر کول لازمي دي لدینه بغیر د مسجد جوړولو اجازه نه ورکول کیږي . دمسجد پیسی چی په بانک کی اچول شوي وي ایادهغه دسود په پیسو دغه خای جوړولی شوو اوکه نه؟

همدغه راز دسود دغه پیسی په نورو ضروریاتو کی هم استعمالولی شو اوکه نه؟ مثلاً د قبرستان لپاره دزمکې په اخستلو کی بینوا توجروا (له کینډا څخه).

(خواب) په مسئوله صورت کی دی د موټر د ودریدو ځای مالدار حضرات پخپلو پیسو جوړ کړي اوکه چیرته واقعي ضرورت وي اودسود له پیسو نه بغیر جوړول یی ناممکن وي نو بیاد سود په پیسو د جوړولو جواز یی شته. په کوم قبرستان کی چی مسلمان خنبیري دهغه په اخستلو کی دسود پیسو استعمالول جایز نه دي. که مجبوریت وي نودقبرستان د دیوالونو په جوړولو کی استعمالولی شئ. فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجدونو، عبادتخانو او مدرسو بیمه ورکول:

(۱۴۰- سوال) زمونږ په وطن کی چی څومره مسجدونه ، مدرسې او عبادتخانې دي هغه دحکومت په کاغذونو کی د وقف په نوم نه دي، بلکی دهر ښار او قریی داوسیدونکو نمائنده جماعت یا ټرسټ په نوم رجسټر او لیکل کیږي. دلته د عیسویانو حکومت دی په ملک کی څو سیاسي احزاب دي، له هغوی نه یو حزب متشدد او تشدد پسند دی کوم خلک چی له بهر نه راغلي دي او دلته اوسیږي له هغوی سره ډیر بد سلوک کوي په کوم وخت کی چی هغوی ته موقع په لاس ورشي نو هغوی د مسلمانانو کورونو ، دکانونو، مذهبي عبادتخانو او مدارسو ته نقصان رسوي. کله کله اور ورته هم آچوي او سوځوي یي. ددغو مجبوریتونو له کبله که چیرته مونږ په دغه پردي وطن کی، دیني مدرسو، عبادتخانو اود مسجدونو بیمه ورکړو نوپه شرعي لحاظ سره داسی کول جائز دي اوکه نه؟ دپوښتني لیکنی په مطابق ددی ځای زیاتره عبادتخانی دشرعي مساجدو په حکم کی نه دي بلکی عبادتخانی دي.

(۲) له دغو عبادتخانو نه علاوه چی دلته څو شرعي مسجدونه دي ایا ددغو مسجدونو بیمه هم ورکولی شو او که نه بینوا توجروا.

(ځواب) ددغو پریشانیو او مجبوریتونو له کبله چی تاسی هغه لیکلي دي د بیمه ورکولو اجازه شته، او ددی افشاء کول هم مناسب دي ترڅو مخالفین ورته نقصان ونه رسوي. مګرکومی پیسې چی د بیمی په ضمن کی مو ورکړی دي هغه پیسی به د مسجد، مدرسه، اوعبادت خانو وي او زیاتی پیسی به په غریبانانو ویشل کیږي اوکه ضرورت وي دغه پیسی د مسجد، مدرسی او عبادتخانو په بیت الخلا او غسل خانو کی هم لګولی شئ، تنخواه او د نورو ښه کارو کی نشئ لګولی. فقط والله اعلم بالصواب یکم جمادی الثانی کال ۱۴۰۲ هـ.

په اجاره سره آخستل شوي زمکې باندې مسجد جوړول :

(۱۴۱- سوال) مونږ یوه ټوټه زمکه له حکومت نه په اجاره آخستی ده اوپرهغی مو مسجد جوړ کړی دی د مسجد متولیانو ته معلوم دی چې پرکومه زمکه مسجد جوړ شوی حکومت هغه ۹۹ کلونو له پوره کیدونه وروسته بیرته آخلي اوددې زمکې هیڅ قیمت نه ورکوي همدغه راز که حکومت وغواړي له وخت نه مخکې د مسجد دغه عمارت آخستلی شي ایاپه داسې زمکه باندې مسجد جوړول جائز دي؟ او که مسجد ورباندې جوړ شوي وي نو هغه شرعي مسجد گڼل کیږي که څه هم په دې کې پنځه وخته لمونځونه هم لوستل کیږي بینوا توجروا. (له برطانیې نه).

(ځــواب) داچې تاسې د اجارې یادکرایې پر زمکه یو مسجد جوړ کړی دی او حکومت نه داخای خرڅ کړې دی اونه یې مسلمانانو ته ورکړی دی چې مسلمانان هغه د مسجد لپاره وقف کړي او مسجد ورباندې جوړ کړي، حکومت ته هم ددې حق شته چې کله وغواړي واپس یې واخلي نو داشرعي مسجد نه دی بلکې عبادتخانه ده د جمعې لمونځونو ثواب ورته رسیږي خوپه مسجد کې دلمونځ لوستلو ثواب ورته نه رسیږي، لیکن داچې مجبوریت دی نوځکه د مسجد د ثواب امید دی وسائل شي په در مختار کې دي:

(ولایتم الوقف حتی یقبض ویفرز و یجعل آخره لجهة قربة لا تنقطع(درمختار مع الشامی ج ۳ ص ۵۰٤ کتب الوقف مطلب فی الکلام علی اشتراط التأبید) فقط والله اعلم بالصواب ۲۳ شوال المکرم ۱٤۰۳ ه.

سل کاله بعد حکومت مسجد ورانوي ددغه احتمال سره سره دمسجد نیت کول:

(۱۴۲- سوال) مونږ پخپل ښار کې لس کاله وړاندې یوگرجاگرپه پیسو آخستی دی اوهغه د عبادت خانې په توگه استعمالوو، یو میاشت وړاندې یو مستند عالم تشریف راوړی و، هغه پوښتنه وکړه چې ایا داشرعي مسجد دی؟ نو مونږ ورته وویل چې تر اوسه پورې دعبادتخانې په ډول استعمالوو. هغه خلکوته وویل چې تاسې په دې باندې دشرعي مسجد نیت وکړئ. خودخلکوپه ذهن کې داخبره ناسته ده چې کله کورونه دسلو کلو عمر پوره کړي نو حکومت هغه غورځوي اوددې ځای اوسیدونکي بل ښارته منتقلوي

نو هغه وخت کی به داځای ښوک آبادوي؟ لـه همدی کبله ددی ځای زیاتره خلـک د عبادتخانی نیت کوي اوس سوال دادی چی :
(۱) په موجوده حالاتو کی په داسی ځایونو کی دشرعي مسجد نیت کولی شو اوکه نه؟
(۲) که چیرته د مسجد نیت وکړو او حکومت دغـه ځـای ونـروي یاددی شاخوا پراتـه خلک لدی ځای نه لاړشي نو دمجلس شوری اراکین عنـدالله ګنهګـار یـږي یانـه؟ اود خلکو دافکر کول چی آینده به داځای ښوک آبادوي په شرعي لحاظ سـره صـحیح دی اوکه نه؟ امید دی چی ځواب به راکوئ.
(ځواب) دشرعي مسجد د تحقق لپاره داضروري ده چی داځای همیشه لپاره مسـجد تـه وقف شوی وي، که چیرته هغه ځای څه معلوم وخت لپاره په کرایـه یـا اجـاره اخسـتل شوی وي یاد مالک له اجازی نه پرته ورباندی مسجد جوړ شوی وي نو هغـه پـه شـرعي مسجد کی نه حسابیږي.
په در مختار کی دي :
(ولایتم) الوقف (حتـــی یقبض ویفرز ویجعل آخره لجهة قربـــة لا تنقطـــع (ج۳ ص ٥٠٤ ایضاً) همدغه راز په فتاوی عالمګیري کـی دي: : اما ان وقت الا مـــر بـــالیوم اوالـــشهر والسنة ففی هذا الوجه لا تصیر مسجدا لو مات یـــورث عنـــه کـــذا فی الذخیرة. انتهی (عالـــمګیری ج ۳ ص ۲۳۸ الباب الحـــادی عشر فی الـــمسجد وما یتعلق به).
ستاسی په ملک کی داقانون دی چی کله د کورونو او تعمیرونو عمر سلو کلو تـه رسـیږي نو حکومت هغه غورځوي اودهغه ځای اوسیدونکي بـل ځـای تـه ځـي الخ. نـو لدینـه دابنکاره کیږي چی د مسجد زمکه مونه په کرایه باندی آختی ده او نه مو هـم غصـب کړی ده بلکی په باقاعده ډول سره مو آختی ده، البته سل کاله بعد ددې احتمال شته چی حکومت به دا ورانوي اوپخپـل قبضـه کـی آخلـي. نـو تاسـی فـی الحـال ددغـه احتمال خیال مه کوئ اوکوم ځای مو چی دلمونځ کولو په نیت آختـی دی پـه هغـه کی د عبادتخانی پرځای د مسجد نیت وکړئ ځکه چی داضرورت دی اود ضرورت پـه وجه به انشاء الله د مسجد ثواب درکول کیږي.
په هدایه اولین کی دي :

وعن ابی یوسف رحمه الله انه جوز فی الوجهین حین قدم بغداد ورأی ضیق المنازل فکأنه اعتبر الضرورة وعن محمد رحمه الله انه حین دخل الری اجاز ذلك کله لما قلنا(هدایه اولین ص ٦٢٤ ، ص ٦٢٥، کتاب الوقف).

سل کاله بعد چی حکومت ددغه کلي خلک بل ځای ته منتقل کړي نو په هغه وخت کی چی کوم خلک وي نوهغوی دی ددغه مسجد د آبادولو کوشش وکړي اوکه آبادیی نه کړی شي نو حکومت ته دی عریضه وکړي چی له هغه احاطه تاوکړي.

ولوخرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام والثانی ابدا الی قیام الساعة(وبه یفتی) حاوی القدسی.

یعنی که د مسجد شاه خوا اطراف وران و یجاړشي اود مسجد هیڅ ضرورت پاتی نشي نو بیاهم د امام اعظم ابوحنیفه او امام ابویوسف په نزد هغه ځای همیشه لپاره مسجد کی حسابیږي اوپه همدی باندی فتوه ده. (درمختار ج ۳ ص ۵۱۳).

د زیات معلومات لپاره وګورئ فتاوی رحیمه جلدنهم صفحه ۸۴- ۸۷ وکفایت المفتی ج ۷ ص ۴۲ فقط.

(۲) دمسجد نیت کولو سره به ان شاء الله د مجلس شوری ارکان نه ګنهګاریږي بلکی دخیراو ښه نیت په وجه به اجر ترلاسه کوي، الله تعالی به آینده ددی ځای پخپله حفاظت کوي اودهغه د آبادولو شکلونه به پیداکوي ان شاء الله فقط والله اعلم بالصواب ۱۵ صفر ۱۴۰۴ ه.

د مسجد دیوال نری کول او پرځای یی دوکان جوړول :

(۱۴۲- سوال) زمونږ په علاقه کی دلمونځ ګذارانو زیاتوالی له کبله د مسجد په څه حصه کی دنوی تعمیر اراده ده، دمسجد دجنوبي دیوال پیړوالی شپاړلس اینچه دی، ددی دا پیړوالی پنځو اینچوته کمووو او بهر طرف ته پاتی ځای باندی دکان جوړوو د سمت د ستنو په جوړولو سره دغه دیوال مضبوطوو ایا زمونږ داکار صحیح اوجایز دی؟ همدغه راز د مسجد په صحن کی هم یو اطاق دی چی له قبلی نه منحرف دی، خلک پرهغه باندی کیني، په نوي تعمیر کی زمونږ اراده داده چی داطاق له صحن نه باهر کړو او ورباندی دکان جوړ کړو ایا داسی کول جائز دي؟ بینوا توجروا.

(خواب) ترڅو پوری چی دغه ځای ونه کتل شي حکم کول ډیرمشکل دی،لهذا تاسی مهرباني وکړئ دهغه ځای کوم مستند عالم او مفتي ته وښایئ چی هغه پخپلو سترګو

وګوري او فتوه صادره کړي. تاسی چی کومه نقشه رالیږلی ده دهغی په کتلو سره زه دی نتیجی ته رسیدلی یم چی د مسجد دیوال په نري کولو سره پرهغه ځای باندی هیڅ قسم دکان جوړول جائز نه دي. که چیرته صحن په مسجد کی داخل وي نو دا اطاق هم په مسجد کی داخل دی نوځکه په دی باندی هم دکان جوړول جائز نه دي اوکه صحن له مسجد نه خارج وي نود اطاق هم له مسجد نه خارج ګڼل کیږي خودغه ځای ته د مسجد فناویل کیږي اود مسجد په فنا کی هم دکان جوړول جائز نه دي. د زیات وضاحت لپاره وګوري فتاوی رحمیمیه اردو دویم جلد ص ۱۷۹-۱۸۰ ۲۸ رب المرجب ۱۴۰۴ هـ.

په مسجد کی دیوالي ساعت لګول :

(۱۴۴- سوال) یوسړي په مسجد کی دیوالي ساعت لګولی دی، په دی ساعت کی هرپنځلس دقیقی وروسته تردوه سیکنډه پورې ټن ټن اواز را اوځي، آیا داسی ساعت دوخت معلومولو لپاره په مسجد کی اینبودلی شو اوکه نه؟ بینوا توجروا. (سورت)

(ځواب) داچی په دی ساعت کی هرپنځلس دقیقی وروسته د ټن ټن آواز راځي په دی سره هغوخلکوته چی لرې وي یایی نظرونه کمزوري وي هغوی ته دوخت معلومات لپاره سهولت وي. نو ځکه علماء و دداسی ساعتونو د اینبودلو جواز ورکړی دی.

په امداد الفتاوی کی دي:

(۸۴۱- سوال) څه وایي ددین علماء اود متین شریعت مفتیان په دی مسئله کی چی دننه په مسجد کی داسی غټ دیوالي ساعت نصب کړی شي چی هرنیم ساعت وروسته په زوره آواز کوي. ایا د وریځو په ورځو کې دوخت معلومولو لپاره په مسجد کی دداسی ساعتونو اینبودل جائزدي اوکه نه؟ که چیرته داساعت له مسجد نه بیرون لګیدلی وي مګر آواز یی دننه راځي نو آیا په داسی صورت کی هم اینبودل یی جائزدي اوکه نه ؟

او آیا په دواړو صورتونو کی دساعت په آواز سره په لمونځ کی څه قسم کراهت راځي اوکه نه ؟

(ځواب) دی لپاره چی وخت معلوم شي دديوال ساعتونو اینبودل جائزدي ځرنګه چی د ځینو خلکو نظر کمزوری وي او ځینی خلک نمبرې نه پیژني او ځینی وخت رڼاکمه وي نو ځکه د آواز لروونکي ساعت ضرورت مخی ته راځي نوددغه مصلحت له کبله اواز لروونکي ساعت له ممنوعه جرس څخه مستثنی دی. لکه چی په عالمګیري

کی دا دول حینی فروع لیکل شوی دي. اوپه حدیث کی دلمونځ په وخت کی دتصفیق اجازه هم دلمونځ د مصلحت په خاطر ورکول شویده نوداپه دی خبره دلیل دی چی ددیوالي ساعت په آواز سره په لمونځ کې څه کراهت نه راځي. (امداد الفتاوی ج ۳ ص ۷۴۳ احکام المساجد مطبوعه اداره تالیفات اولیاء دیوبند والله اعلم بالصواب.) ۲ صفر المظفر ۱۴۰۵ هجری کال.

د اودس ماتي په وخت دقبلې په طرف شاه کول هم ممنوع دي :

(۱۴۵- سوال) یوسړی پخپل کورکی فلش لګولې دی چی د اودس ماتي په وخت کی قبلې ته شاکیږي، دکرایه دار اعتراض دی چی دا طریقه غلطه ده، ددی دناستې رُخ او جهت بدل کړئ،لهذا تاسو مُحترم ته امید کوو چی که چیرته شرعاً دا ناجائز وي او دی لپاره درخصت څه صورت وي مونږ ته ولیکئ (بینوا توجروا).

(ځواب) دکرایه دار سړي اصرار صحیح دی دبیت الخلا رخ بدلول ضروري دي د محمد صلی‌الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی :

اذا اتیتم الغائط فلا تستقبلوا القبلة ولا تستدبروها. یعني کله چی بیت الخلا ته لاړشئ نو دقبلې په طرف مه خپل مخونه آړوي اونه شاګانې.

د بخاري و مسلم (بخاری کتاب الطهارة باب لایستقبل القبلة بغائط ولابول الخ)

اوفقهاء حضرات لیکي :

ویکره تحریماً استقبال القبلة واستدبار ها ولو فی البنیان (نور الایضاح ص ۳۰ فصل فی الاستنجاء الدر المختار مع الشامی ص ۳۱۶ ج ۱ ایضاً)).

یعنی دمیتازو کولو اودغټ اودس ماتی په وخت کی دقبلې په طرف مخ کول تحریمي مکروه دی ، برابره خبره ده چی په کور کی دننه وي یاله کورنه باهر په آزاد ځای کی(نورالایضاح)لهذا ترخوپوری چی ددی رُخ بدل نه کړی شي نو ترخو پوری چی ممکن وي دقبلې په طرف دی نه کیني. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا دمسجد منتظم تنخوا آخستلی شي اوکه نه ؟

(۱۴۶- سوال) دیو مسجد څلور منتظمین دي، په هغو کی یو ناظم اعلی دی، د مسجد ډیر جایداد او کورونه دي چی پکې تقریباً له سلونه زیات کرایه دار اوسیږي، له هغوی څخه دکرایه غونډولو لپاره مویو ملازم مقرر کړی و. لیکن هغه دفرصت نه لرلو له کبله استعفی ورکړی ده اوس که له هغو څلورو منتظمینو څخه یو منتظم دملازمت په توګه

دکرایه تولو مسئولیت پخپله غاړه واخلي اوپه عوض کی تنخـواه واخلـي ایـا هغـه شـرعاً منتظم یا ملازمت کولی شي؟ ایا هغه ته تنخواه آخستل جائزدي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) کـه چیرته په وقف نامه کې دتنخـواه ورکولـو یادونـه شـوی وي نـو دهغـه پـه مطابق دی عمل وکړی شي اوکه یادونه پکی نه وي شوي اود کرایه تولولو لپـاره څـوک تیار نه وي نو په مناسب تنخواه ورکولو سره داکار کول صحیح دي په فتاوی عـالمګیري کی دي:

سئل الفقه ابوالقاسم عن قیم مسجد جعله الـقاضی فـیما علـی غلاتها و جعل لــه شینا معلوما یأخذ کل سنة حل لــه الا خذان کــان مقــدار اجــر مثلــه کــذافی الــمحیط(فتاوی عــالمگیری ج ۳ ص ۴۰ ۳) کتاب الوقف، الباب الــحادی عشر، الفصل الثانی) فقط والله اعلــم بالصواب.

د مسجد دقرآن کریم سپارې کورته وړل :

(۱۴۷- سوال) په مسجد کی دقرآن کریم پوره دیرش پاری ایښودل شـوي وې، پـه کـورو کې دقرآنکریم دختم لپاره د هغو وړل څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(خواب) که چیرته چا مسجد کی دقرآنکریم پاری په دی نیت ایښی وي چی خلک هغـه خپلو کوروته یوسي او کته ترینه اوچته کړي نوپه دی صورت کی کورته وړل جـائزدي او هیڅ مضائقه پکی نشته فقط والله اعلم بالصواب.

د مدرسې مهتمم ته پیسې په لاس راغلي دي هغـه دی پـه څـه کې مصرف کړي؟

(۱۴۸-سوال) یوسړي له بهر نه څه پیسې دمدرسې مهتمم ته استولي دي خـو هغـه دانـه دي لیکلي چې هغه داپیسې په څه کې مصرف کړي، لیکن د مدرسې مهتمم زید هغه تـه خط واستاوه لیکن ځواب یې رانغی، بیا زید وفات شو، له هغه نه وروسته د زید ورثاو هغه ته خط واستاو چی دهغه پیسې په څه کی مصرف کـړي؟ لـیکن هغـوی تـه هـم ځـواب رانغی ایا اوس دغه پیسې په دیني کارونو او دشاګردانو دمـدد لپـاره استعمالیدی‌شي؟ بینوا توجروا.

(خـواب) دغه سړي چی وړاندی دکوم غرض لپاره پیسی لیږلی په همغه کار کی مصـرف کړئ اوکه دالومړی خل یې وي نو بیاپه دیني کارونو اودشاګردانو دمفاد لپاره استـعمال

کړی شي، داسې پیسې عموماً د زکات وي لهذا د احتیاط غوښتنه همداده چې د تملیک خیال دی وساتل شي. فقط والله اعلم بالصواب.

مسجد ته مو سمینټ په قرض ورکړي و اوس هغه څنګه ترلاسه کړو؟:

(۱۴۹ –سوال) له نن نه څلور کاله وړاندې مود مدرسې سمینټ بل مسجد ته دقرض په توګه ورکړي و. د مسجد متولي اوس هغه قرض اداکوي په هغه وخت د سمینټ قیمت ۲۸ روپۍ وو اونن سبا ۶۵ روپۍ دی. اوس مونږ د ۲۸ روپو په حساب سره واخلو اوکه د ۶۵ روپو په حساب سره؟ بینوا توجروا.

(ځواب) مدرسې سمینټ قرض ورکړي دي نولهذا سمینټ دی ترینه واخستل شي نه روپۍ که مدرسې ته دسمینټ ضرورت نه وي نو په مناسب قیمت یې خرڅ کړئ.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد د پراخولو لپاره په صحن کې دموجود قبر ورانول:

(۱۵۰- سوال) په مسجد کې دننه دلمونځ ګذارانو د ډېروالي له کبله مسجد ورکوټې او تنګ شوی دی، نولهذا زمونږ اراده ده چې د مسجد صحن پراخ کړی شي. خوپه صحن کې شاطرف ته یو زوړ قبردی دهغه اود صحن په منځ کې چې کوم دیوال دی که هغه لرې کړی شي نو په صحن کې درې صفونه نورهم جوړیدای شي نو ایا داسې کول جائز دي؟ اوکه قبرهم ورسره اوار کړی شي نوداسې کول صحیح کار دی؟

(ځواب) حامداً ومصلیا و مسلماً. په مسئوله صورت کې که چیرته د مسجد د پراخولو لپاره دقبر ددیوال دغورځولو ضرورت وي نو بالکل یې غورځولی شئ اوکه دقبرد هوارولو هم څه ضرورت وي نو قبر هم له زمکې سره برابرولې اولمونځ پکې کولی شئ؟ په دې سره دقبر توهین او سپکاوی نه کیږي. بلکې داد قبرخاوند لپاره سعادت او نیک بختي ده اودهغه روح خوشالیږي په کعبة الله کې دطواف په ځای کې د انبیاء و علیهم السلام قبرونه دي. دزیات تفصیل لپاره وګورئ (فتاوی رحیمیه اردو۶/ ۹۲، ۹۳ ص ۸۴).
فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1]- والقرض شرعاً عقد مخصوص ای بلفظ القرض ونحو یرد علی دفع مال مثلی خرج القیمی لآخر لیرد مثله. درمختار مع الشامی فی القرض ج ۵ ص ۱۶۱.

دیـو مسـجد زیـاتي مـال او سـامان (لکـه سـاعتونه، پکـي، قرآنکریمونه، سپاری، صفونه او داسې نور شیان بـل مسـجد تـه ورکول :

(۱۵۱- سوال) زید دیو مسجد متولي دی څه وخت وړاندی دهغه مسجد غریب و، بیا دنیکانو خلکوپه مرسته کافي مالدار شوې او سامان هم په زیات مقدار کی راجمع شوی دی مثلاً څو څو دیوالي ساعتونه، پکـي، صفونه، سترنجی، صفونه، څادرونه او قران کریمونه په زیات تعداد کی راجمع شوي دي. اوس سوال دادی چې آیا زید دغه زیاتی سامان بل کوم غریب مسجد ته ورکولی شي اوکه نه؟ هغه مسجد له حد نه زیات غریب دی او اودس لپاره لوټکی هم نه لري، ایا دا زیاتی سامان غریبه مدرسه هم استعمالولې شي؟

(ځواب)په مسئوله صورت کی د مسجد زیاتی سامان چې دضائع کیدو اندیښنه ده کولی شي چې دغه زیاتي سامان ضرورت مندی مدرسې یا مسجدونو ته په مناسب قیمت سره واخلي یاداچی بل کوم نیک مالدار سړی دغه زیاتي سامان په پیسو واخلي او دغه ضرورت مند مسجد یا مدرسی ته ورکړي.[1]

په مسجد کی دتوپ داني ایښودل ، په دی مسئلې باندی دیـو بزرگ اشکال او ځواب یې :

(۱۵۲- سوال) فتاوی رحیمیه جلد شپږم صفحه ۱۲۰ کی می په مسجد کی دتوپ داني د ایښودلو په اړه ستاسی فتوه ولیده. تاسی په څو شرطونو دتوپ داني دایښودلو اجازه ورکړی ده، مګر له تجربی نه ثابته شوی چې څوک ددغو شرایطو خیال نه کوي، خینو ځایونو کی کافي بدبوي محسوس شوی ده، ځینو مفتیانو په مسجد کی توپ داني ایښودل مطلقاً منع کړي دي زما رجحان هم همدی طرف ته دی، تاسی هم په دی باندی غور وکړئ او بیاله خپلې رای نه مو خبر کړئ؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په مسجد کی دتوپ داني د ایښودلو مطلقاً ممانعت کول زما په خیال صحیح نه دی ځکه چې پدی سره تنګي لازمیږي او لمونځ ګذاران له سهولت نه محرومیږي،

---

[1]- لاکـن علمت ان الـمفتی به قول ابـی یوسف أنه، لا یجوز ونقل ماله الـی مسجد آخر کما مر عن الحادی شامي مطلب فی نقل انقاض المسجد و نوحوه ج ۳ ص ۵۱۳.

دضرورت په خاطر په دی شرط سره اجازه ورکولی شي چ په هغه کی شگه یا خاوره یې آچولی وي او سهار مابنام دهغه صفایي کوي که چیرته د صفایي خیال یې نه کیږي نو بیا ورته اجازه نشته، دتوخي، نزله او زکات په وخت کی انسان زیاتی لاړې توکوي نو که دمحوریت په خاطر استعمال کړی شي اود صفایي پوره خیال وکړی شي نو څه حرج بکې نشته.

په حدیث شریف کی دي :

عن ابی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اذا قام احدکم الی الصلوة فلا یبصق امامه فانما یناجی الله مادام فی مصلاه ولا عن یمینه فان عن یمینه ملکاً ولیبصق عن یساره او تحت قدمه فیدفنها، وفی روایة سعید تحت قدمه الیسری متفق علیه. (مشکوة شریف ص ٦٩ باب المساجد و مواضع الصلوة).

ترجمه : له حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : کله چی تاسونه څوک په لمونځ کی ولاړوي نو خپل مخی ته دی نه توکوي څکه چی هغه تر څو پوری په لمونځ کی دی له الله سره راز نیاز کوي، اونه دخپل ښي طرف ته توکړي څکه چی دهغه ښي طرف ته ملائکه وي. بلکی خپل گڅ اړخ یا دخپلو پښو لاندی تو کړي. دحضرت ابوسعید رضی‌الله عنه درروایت په مطابق د گڅی پښې لاندی دی توکړي او بیادی هغه خاورو لاندی کړي. (مشکواه شریف ص٦٩)

په ترمذی شریف کی حدیث دی :

حدثنا محمد بن بشار.... عن طارق عبدالله المحاربی قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اذا کنت فی الصلوة فلا تبزق عن یمینك ولکن خلفك اوتلقاء شمالك او تحت قدمك الیسری.

ترجمه: له حضرت طارق بن عبدالله محاربی څخه روایت دی چی محمد صلی‌الله علیه وسلم فرمایي کله چی تاسی لمونځ کوئ نو خپل ښي طرف ته لاړې مه توکوئ. اوکه ضرورت مخی ته راشي نو خپل شا یا گڅ اړخ ته یا دگڅی پښې لاندی توکړئ.(ترمذی شریف ص ٧۴ جلد اول باب فی کراهیه البزاق فی المسجد ابوابُ السفر.)

له دغو دواړو حدیثونونه ثابته شوه چی د ضرورت په وخت کی دلمونځ په حالت کی هم د لاړو توکول جائز دي. البته د توکولو آداب یې بیان کړل. دذغو آدابو په نظر کی نیولو سره دلاړو توکولو گنجائش او جواز معلومیږي، مطلقا ممانعت پکی نشته. اودا

دواړه حدیثونه دخپل عموم په اعتبار سره مسجد او غیر مسجد دواړو ته شامل دي، دویم حدیث په متعلق خو په الکوکب الدری کی دا صراحت دی چی (وهذالحدیث بعمومه شامل للمجسد وغیره فیطره مناسبه للباب) (الکوکب الدری ج ۱ ص ۲۱۸ مطبوع سهارنپور).

په مسجد کی، له توکولونه په توپ داني کی توکول اخف دی اوپه دی سره هم دسهار او ماښام دصفاکولو شرط لګولو سره د مجبوریت قیدهم لګول شوی دی فتاوی رحیمیه شپږم جلد په ځواب کی ماله ډیر احتیاط نه کار آخستی دی د فتاوی رحیمیه ځواب په غور سره وګورئ:

(ځواب) که چیرته توپ داني سهار او ماښام وخت په وخت صفاکولی‌شي او بدبوي یی نه پاتی کیږي نو په مسجد کی ایښودلی شئ، که نه نو د ایښودو اجازه نشته، یوازی د مجبوري په وخت کی دی استعمال کړی شي اوکه مجبوري نه وي نو باهر دی تو کړي او یادی په دستمال کی تو کړي. (فتاوی رحیمیه ص ۱۲۰ ج ٦).

شیخ التفسیر حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله علیه په ((التعلیق الصحیح علی مشکوه المصابیح)) کی دفتح الباري په حواله کوم تحقیق نقل کړی دی هغه هم ډیرښه او زړه پوری دی، دعلم خاوندانو د استفادی لپاره هغه عبارت رانقلولې شي:

قوله " البزاق فی المسجد خطیئة وکفارتها دفنها" قال القاضی عیاض رحمه الله انما یکون خطیئة اذا لم یدفنه اما من اراد دفنه، فلا. ورده النووی رحمه الله فقال هو خلاف صریح الحدیث .

قلت و حاصل النزاع ان ههنا عمومین تعارضا وهماقوله " البزاق فی المسجد خطئیة" وقوله " ولیبصق عن یساره او تحت قدمه " فالنووی یجعل الاول عاما ویخص الثانی بما اذا لم یکن فی المسجد والقاضی بخلافه یجعل الثانی عاماً ویخص الاول عن لم یرددفنها وقد وافق القاضی جماعة منهم ابن مکی ف التنقیب والقرطبی فی المفهم وغیر هما ویشهد لهم مارواه احمد باسناد حسن من حدیث سعد بن ابی وقاص رضی‌الله عنه مرفوعاً قال من تنخم فی المسجد فیغیب نخامته ان تصیب جلد مؤمن او ثوبه فتؤذیه و اوضح منه فی المقصود مارواه احمد ایضا والطبرانی باسناد حسن من حدیث

ابی امامة مرفوعا قال من تنخع فــی المسجد فلم یدفنه فسئیة وان دفنه فحسنة فلم یجعله سیئة الا بقید عدم الدفن ونحوه حدیث ابی ذر رضی‌الله عنه عند مسلم وجــدت فــی مساوی اعمال امتی النخاعة تکون فــی الــمسجد لاتدفن وروی ســعید بــن منصور عن ابی عبیده بن الجراح انه تنخم فــی الــمسجد لیلةً فنسی ان یدفنها حــتی رجع الــی منزله فاخذ شعلة من نارثم جاء فطلبها حتی دفنهاثم قال الــحمدلله الذی لا یکــتب علــی الخطئیة اللیلة وعند ابی داؤد من حدیث عبدالله بن الشخیر انه صــلی مع النبی صلی‌الله علیه وسلم فبصق تحت قدمه الیسری ثم دلکه بنعله اسناده صــحیح فتح الباری(التعلیق الــصبیح ج ۱ ص ۳۱۲ باب الــمساجد ومواضع الصلوة.).

ددی عبارت حــاصل دادی چی په مسجد کی د توکولو په اړه دوه اقواله دي:

(۱) قاضی عیاض رحمه الله فرمايي چی په مسجد کی توکول په هغه وخت کی گناه ده چی هغه په خاوره کی دفن نه کړي، اوکوم سړی چی دضرورت له کبلــه لــه توکولــو نــه وروسته دخښولو اراده کړی وي دهغه لپاره توکول گناه نه ده.

(۲) امام نووي رحمه الله ددی تردید کړی دی او فرمایلی یی دي چی داله حدیث نــه خلاف دی. دفــتح الباری مصنف لیکي چی دنــزاع حاصــل دادی چــی دلتــه دوه عام حدیثونه ظاهراً متعارض دي. په یو حدیث کی دا ارشاد دی چی په مــسجد کــی دلاړی توکول گناه ده اوپه بل حدیث کی یی‌دا وفرمایل چی په لمونځ کی دی خپل گــخ اړخ یاد گښي پښې لاندی تو کړي. امام نووي لوملړی حدیث په عمومیت باندی بــاقی ساتلی سره د دویم حدیث مصداق دابیانوي چی هغه لمونځ گذار چی په مسجد کی لمونځ نه کوي . او قاضی عیاض ددی برعکس وایي، هغه دویم حدیث عام گڼي اودلومړي حدیث په اړه فرمايي چی په مسجد کــی د لاړوتوکــول دهغــه چالپــاره گنــاه ده چــی دهغــه د دفنولو اراده نه وي کړي. ابن مکی او قرطبی او نور علمــاء و دقاضــی عیــاض موافقت کړی دی. اودهغه تائید له دی حدیث نه کیږي چی امام احمد په حســن ســند ســره لــه حضرت سعد بن ابی وقاص رضی‌الله عنه څخه مرفوعاً روایت کړی دی: چی کوم سړی په مسجد کی لاړی توکړي اوهغه په دی خاطر پټې کړي چی دکوم مــومن بــدن یــا یــو جامو ونه لگیږي اوهغه ته تکلیف ونه رسیږي.

اولدینه زیات واضح روایت دادی چی هغه احمد او طبرانـی پـه حسـن سـنده روایـت کړی دی چی محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: کـوم سـړی لاړی توکـړي نوبیـا هغـه خاوره لاندی پټ نه کړي نوداگناه ده اوکه پټ یی کړي نـودانیکي ده. هغـه صلی‌الله علیه وسلم توکول په هغه وخت کی گناه وګڼله چی پټ یی نه کړي.
ددې پشان دحضرت ابوذر رضی‌الله عنه حدیث دی چـی محمـد صلی‌الله علیـه وسـلم ارشاد وفرمایل : مادخپل امت په بدو عملونو کی داهم ولیدل چی په مسـجد کـی تـوه کړي او پټ یی نه کړي. سیدبن منصور له حضرت ابوعبیـده بـن جـراح رضـی‌الله عنـه څخه روایت کړی دی چی یوه شپه هغه په مسجد کی د ضرورت په وجه لاړی تـو کـړی او دهغه پتهول یی لـه یاده ووت، کله چی کور ته ورسید نو ورته په یادشو رنـایی پـه لاس کی ونیوه او مسجد ته لاړ هغه ځـای یی ولټولـو او لاړی یی خـاورو لانـدی پټـې کـړې. بیایی وفرمایل : دالله شکر دی چی نن شپه زما په عمل نامه کی دا گناه ونه لیکل شوه.
ابوداود له حضرت عبدالله بن شخیر رضی‌الله عنه څخه روایت کـړی دی چـی هغـه لـه نبی کریم صلی‌الله علیه وسلم سره لمونځ ولوست. هغه صلی‌الله علیه وسلم د ضرورت پـه وجه دخپل گڅی پښې لاندی لاړی توکړی او بیایی هغه پخپلو پښو سره پټې کـړی ددی حدیث سند صحیح دی . فقط والله اعلم بـالصواب.

د ډنډ له پاسه عمارت جوړول بیا خیاط او شفاخانی ته ورکول:

(۱۵۳- سوال) د مسجد په ډنډ باندی یی دوه چتي عمارت جوړ کړی دی لومـړنی چـت یی درزي (خیاط) ته ورکړی چی هلته ماشومانو ته خیاطي ور زده کـړي او دویم چـت یی د سترگو د علاج شفاخانی ته ورکړی دی نـو ددی څـه حکـم دی، لـه خوالـو سـره بوځای ځواب راکړئ. بینوا توجروا.
(ځواب) د مسجد ډنډ د مسجد لـه فناڅخه دی اوداځای د مسجد مصالحو لپـاره وي پـه دغه ځای باندی ددکانونو جوړول فقهای کرامو ممنوع لیکلـي دي ځکـه چـی پـه دی سره د مسجد بی عزتي اوبی حرمتي کیږي، دمسجد فنا د مسجد تابع دی د مسجد چـی کوم عزت او احترام دی هغه ددی هم دی،لهذا د ډنډ لـه پاسـه دکانونـه جـوړول بیـا خیاط او شفاخانی لپاره ورکول جائز نه دي.
په فتاوی عالمگیري کی دي :

قیم المسجد لایجوز له ان یبنی حوانیت فی حد المسجد او فی فنائه لان المسجد اذا جعل مسکناً تسقط حرمته وهذا لایجوز والفناء تبع المسجد فیکون حکمه حکم المسجد کذا فی محیط السرخسی.

د مسجد متولی ته په مسجد اود مسجد په فنا کې دکانونه جوړول جائز نه دي ځکه چې د دکانونو په وجه د مسجد حرمت نه پاتی کیږي، د مسجد فنا د مسجدتابع دی کوم حکم چې د مسجد د احترام دی همغه حکم او احترام دمسجد دفنا دی.(فتاوی عالمګیری ص ۴۶۲ جلد ۲ الفصل الثانی فی الوقف علی السجد).

البحر الرائق کی دي :

لایجوز لقیم المسجد ان یبنی حوانیت فی حد المسجد او فی فنائه(البحر الرائق۵/ ۲۴۹ فصل فی احکام المسجد تحت قوله ومن بنی مسجد الخ.) فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد په ډنډ باندی تخت جوړول :

(۱۵۴- سوال) الحمدلله زمونږ په مسجد کی دلمونځ ګذارانو شمیر زیات دی کله کله په مسجد کی نه ځایږي فی الحال زمونږ اراده ده چی د مسجد داوبو ډنډ باندی یو تخت جوړ کړو. ایاپه شریعت کی ددی د جوړولو جواز شته او که نه؟ ترڅو دضرورت په وخت کی خلک ورباندی لمونځ اداکړي، تاسی مونږ ددی فصاحت هم وکړئ چی دحوض پراخوالی ژوروالی او اوږدوالی څومره پکاردی ؟ بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته حوض مربع جوړ کړای شي نولږ ترلږه لس لاسه اوږد اولس لاسه پرخ والی ضروري دی. دنن سبا په حساب سره تقریباً ۱۲۲۵ سکویر فت کیږي، که چیرته ځای ډیر وي نو غوره داده چی ۱۲۷۵ سکویر فټ حوض دی جوړ کړی شي که لدینه هم زیات پراخ کړئ نو ښه به وي، د ډنډ په مسئله کی احتیاط پکار دی، د ډنډ ژوروالی دومره پکار دی چی کله په لپه کی اوبه واخستل شي نو لاندی زمکه ونه لیدل شي.

په ډنډ او حوض باندی تخت جوړول اونه جوړول دواړه جائز دي. البته که ډنډ باندی تخت جوړ کړی شي نوهغه باید داسی وي چی تخت د اوبو له سطحی نه اوچت وي او داوبو په روانیدو کی څه بندیز رانشي. که چیرته تخت داوبو له سطحی سره لګیدلی وي نو هغه شرعي ډنډ نه دی، اوکه چیرته د تخت ستنه په ډنډ کی جوړکړی شي نو

دستنی له ځای نه علاوه د ډنډ پراخوالی او اوږدوالی باید ۱۲۲۵ سکویر فټ وي. فقط والله اعلم بالصواب.

دناجائز کار کوونکو څخه چنده آخستل او همدا راز له شیعه نه چنده آخستل څنګه دي؟:

(۱۵۵- سوال)د کومو خلکو کاروبار چې ناجائز وي لکه شراب او جواري، د مسجد د تعمیر لپاره له داسې خلکو چنده آخستل څنګه دي؟ همدغه راز له چانه په داسې طریقې سره چنده آخستل چې تاته به وظیفه او کار درکړی شي، یاورته وویل شي چې تاته دادشرم او خجالت خبره ده چې په مسجد کې چنده ورنه کړی، داقسم چنده اخستل څنګه دي؟

همدغه راز ددی خبرې وضاحت هم وکړئ چې له شیعه نه چنده آخستلی شوو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) مسجد لپاره باید بالکل پاکه او حلاله چنده راجمع کړی شي، دکومو خلکو کاروبار چې دحرامو شیانو وي او د همغه له پیسو نه چنده ورکړي نو له هغه نه باید دا چنده وانخستل شي په حدیث شیف کې دي: لایقبل الله الا الطیب... الله تعالی پاک او صفا څیزونه قبلوي(مشکوات شریف ص ۱۶۷، باب فضل الصدقته) چنده باید د هغه سړي نه واخستل شي چې هغه پخپله خوښه دالله تعالی درضا او ثواب په نیت یې ورکوي. که دشرم طعنه په ورکولو یادځه څیز لالچ ورکولو سره چنده واخستل شي نو هغه دالله رضا لپاره نه وي، بلکې په دی کې درشوت شبه هم کیدلی شي. په حدیث کې دي:

(لایحل مال امرء الا لطیب نفس منه.) دیوسړي مال هله حلال وي چې هغه په خوشالي اؤ د زړه په مینه ورکړي.(مشکواه شریف ص ۲۵۵ کتاب الغصب). ښه صورت همدادی خصوصاً په دی زمانه کې چې چنده له مسلمان نه واخستلی شي دبل چا احسان دی وانخستلی شي.(امداد الفتوی ص ۶۸۹- ۶۹۰ ج ۲). پکار دادی چې په لږ خرج سره مسجد جوړ کړی شي اوبالکل پاک صفا او غیر مشتبه پیسې دی استعمال کړی شي. فقط والله اعلم بالصواب).

د مسجد پخواني کاني په لویه لاره کې آچول:

(۱۵٦- سوال) مونږ یو مسجد شهید کړی دی دهغه پخواني کاني مو په عمومي لاره کې آچولی دي داسې کول څنګه دي؟ اوکه دا کاني خرڅ کړو او پیسې یي په دی مسجد کې ولګوو نو داسې کول صحیح دي اوکه نه؟ بینوتوجرو.

(ځواب) د مسجد پخواني کاني د احترام وړدي په عمومي لاره کې دهغوی استعمالول له ادب او احترام نه منافي دی، ښه خبره داده چې دغه کاني بیرته د مسجد په مناسب ځای کې استعمال کړی شي. یاپه داسې سړي باندی خرڅ کړی شي چې هغه په پاک ځای کې استعمال کړي اودهغه پیسې دی په همدی مسجد کې مصرف کړی شي. په درمختار کې دي:

ولـاتـرمی برایة القلم الـمستعمل لاحترامه کحشیش الـمسجد اوکناسة یلقی فی موضع یخل بالتعظیم.

د مُستعمل قلم بُور د احترام وړ دی، هغه باید ونه غورځولی شي، لکه چې د مسجد بروزه چې لاندی اچولی کیږي او نور آخو دیخوا شیان چې په جارو سره وهل کیږي په داسې ځای کې نه آچول کیږي چې بی ادبي یی کیږي(درمختار مع رد مختار ۹۵/۱ کتاب الطهارت) فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد د صحن په یوطرف کې دګلونو ګلداني ایښودل:

(۱۵۷- سوال) زمونږ په مسجد کې صحن په شرعي مسجد کې شامل نه دی، په دی کې یوطرف ته داوبو چاتي ایښودل شوی ده، دچاتي پرڅایونو باندی مو داوبو دوتلو لپاره ځای جوړ کړی دی که چیرته مونږ په دغه ځای کې دګلونو ګلداني کیږدو نو ایا د دوی ایښودل جائزدي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته په دغه ځای باندی دګلونو ګلداني ایښودلو سره لـه ګرجا او نورو شیانو سره مشابهت پیداکیده نو مکروه دی او که مشابهت نه پیداکیده نوبیاجائزدی.

په شامي کې دي :اوکان فـی موضع تقع به الـمشا بهـةُ بـین البیعـة والمسـجد یکره(شامی ۱/ ٦۱۸ مطلب فی الغرس فـی الـمسجد). فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجد دپیسو سود د مسجد دکور په تیکس کی استعمالول :

(۱۵۸- سوال. مونږ دخپل مسجد پیسی په بانک کی ایښي دي کوم سود چی له هغه پیسو نه زمونږ په لاس کی راځي هغه چیرته اوځه کی استعمالولی شو؟ مونږ اوریدلي دي چی د مسجد په بیت الخلا کی دهغه استعمالول جائز دي، خو زمونږ د مسجد بیت الخلا جوړدی. ځینی متولیان دافکر لري چی داپیسی باید د مسجد د کور په تیکس کی ورکړو ایاداسی کول جائز دي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) : څرنګه چی د مسجد د پیسو اودهغوی د سود حساب ساتل ضروري دي، نوځکه ددی ځواب داورکول کیږي چی دغه دسود پیسی د مسجد په بیت الخلاء کی ولګولی شي ذاچی ستاسی د مسجد بیت الخلا جوړه ده نو تاسی داپیسی د مسجد د کور په تیکس کی استعمالولی شئ. فقط والله اعلم بالصواب.

له غیر مسلم نه چنده آخستل :

(۱۵۹- سوال) زمونږ په کلي کی یو غیر مسلم د مسجد لپاره چندی په توګه څه پیسی ورکړي دي ایادغه پیسی په مسجد کی استعمالولی شوو؟ بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته غیر مسلم پخپل عقیده داد ثواب کار ګڼي نوله هغه نه چنده اخستل جائزدي. خو زمونږ په زمانه کی باید له غیر مسلمو څخه د چندی له اخستلو نه ډډه وکړی شي. ځکه چی په دی سره دغیر مسلم په مسجد باندی احسان باریږي اوددی امکان پیداکیږي چی بیا په دیني کارونو کی لاس وهنی وکړي. نو ځکه پکاردي چی له غیر مسلم نه دچندی له آخستلو نه ډډه وکړی شي. په امداد الفتاوی کی دي: دریم صورت دادی چی کافرپه مسجد کی چنده ورکړي ددی تفصیل دادی چی که کافر داچنده ورکول ثواب ګڼي نوله هغه نه د چندی آخستل جائزدي اوکه ثواب نه ګڼي نو باید ترینه وانخستل شي. دهدایه په کتاب الوصیه کی داتفصیل دی، مګر بحث په دی کی دی چی آیا یوازی د ورکوونکي رای معتبره ده اوکه دهغه دمذهب حکم؟ مشهوره خبره لومړی ده خوزما په نزد دویمه خبره راجحه ده. داحکم خو د مطلق ورکولو دی. لیکن (نظراً الی بعض العوارض الخارجیة کالا متنان علی اهل الاسلام من اهل کفر. قبلول یی مناسب نه دی، فان الاسلام یعلو ولا یعلی والید العلیا المعطیة والسفلی السائلة هذا ما عندی والله تعالی عنده علم الصواب. (امداد الفتاوی ص ۶۰۷، ص

ج ۲. احکام المساجد مطبوعه کراچی). په یوبل ځای کی وایي: ثاني تقریر دادی چي په دین باندی دکفارو داحسان دباریدو د احتمال په وجه باید له دینه ځان وساتل شي. الخ (امداد الفتاوی ص ۶۰۴ ج ۲). فقط والله اعلم بالصواب.

د ډنډ په دیوال کی مود سود پیسی لګولي دي ددی څه حکم دی ؟:

(۱۶۰- سوال) زمونږ د مسجد د اوبو ډنډ ډیرلوی دی دهغه د ورکوټي کولو لپاره مو په منځ کی یو دیوال جوړ کړی دی خوپه دی کی مود سود پیسی لګولي دي، په دی اړه دشریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(خواب) که چیرته ربښتیا د ډنډ په کار کی مود سود پیسی لګولي وي نو ډیر غلط کار مو کړی دی. دا دیوال دی وران کړی شي، که خامخا د دیوال جوړول ضروري وي نو دشرعي حوض اندازه دی برقرار وساتل شي اوپه حلالو پیسو دی بل دیوال جوړ کړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

په سرکاري ځای باندی مدرسه جوړول :

(۱۶۱- سوال) ایا په سرکاري زمکه باندی مدرسی جوړول جائزدي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) مدرسه باید په یوداسی ځای باندی جوړه کړی شي چي د مسلمان ملکیت وي اوهغه خپل دغه ځای د مدرسی لپاره وقف کړی وي، یادمدرسی لپاره یی په پیسو اخستی وي که چیرته داسی ځای پیدانشي اوسرکاري زمکه وي نو لومړی دی دهغه د ترلاسه کولو لپاره پوره کوشش وکړی شي، که چیرته د سرکاري ځای اجازه ترلاسه شي نوبیادی په دی نیت مدرسه جوړه کړی شي چي څرنګه په سرکاري ځای کی عوامونه هم د ګټي د ترلاسه کولو حق وي او په مدرسی سره خلکوته ګټه رسیږي اوسرکار په داسی کارو کی چي په هغه کی د عوامو ګټه وي په ورکولو کی بخل نه کوي او منظوري ورکوي یاهم په پیسو یی خرخوي. لدینه وروسته چي سرکار دهغه ځای اجازه ورکړي یاپه قیمت یی خرڅ کړي نولدینه وروسته دغه ځای د مدرسی لپاره وقف کولی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجد په پورتنی حصه کی مدرسه جوړول:

(۱۶۲- سوال) د منزل په پورتني چت کـی مدرسه جـوړول څنګه دي؟ دا چـت اکثـر خالي وي، مهرباني وکړئ په دی باره کی وضاحت وکړئ. فقط بینوا توجروا.
(ځواب) د مسجد دویم چت هم د مسجد په حکم کـی دی دهغه حکـم هـم د مسـجد لاندینی چت په شان دی، هلته شور ماشور او دنیاوي خبر کول د مسـجد بـی احترامـی ده.
په در مختار کی دي: وکره تحریماً (الوطئ فوقه والبول والتغوط) لانه مسجد الـــی عنان الـــسماء وکذا الـــی تحت الثری(درمختار مـــع رد الـــمختار ص ٦١٤ ج١، احکام الـــمساجد).
لهذا د مسجد په پورتني چت کی مستقله مدرسه جوړول صحیح نه دی، البته که مدرسـه وړوه وي اود بلی مدرسی د جوړولو په کوښښ کی وي خو فی الحال دبلی مدرسـې د انتظام نشتوالی له کبله دشاګردانو تعلیم ته نقصان رسیږي نو د غتو هلکانو لپـاره تریـوی مودی پوری په دغه چت کی سبق ورکولی شي او کله چی په بل ځای کـی دمدرسـی انتظام وشي نو لدی ځاینه دی داهلکان ژر تر ژره منتقـل کـړي. داسـی واړه ماشـومان چی د مسجد په ادب نه پوهیږي د مسجد دصفایي خیال نشي کولی نو داسی ماشـومانو ته دی د مسجد په چت کی دسبق ویلو اجازه ورنکړی شي، پـه دی سره مسـجد کنـده کیږي او نور بی احترامی یی هم کیږي. په حدیث شریف کی دداسی ماشومانو د راوړلو نه منع شویده. د محمد صلی‌الله علیه وسلم ارشـاد دی: جنبـوا مسـاجدکم صبیانکم و مجانینکم. خپل مسجدونه لـه ماشومانو او لیونیانو څخه وساتئ. (ابن ماجه ص ۵۵ بـاب مایکره فی الـمساجد). نو څکه فقهای کرام لیکي چی مسجد تـه دداسـی وړو ماشـومانو راوړل چی د مسجد د ګنده کیدو امکان وي حرام دی که دګنده کیدو خطره نه وي نو مکروه دی. په الاشباه والنظائر کی دي:
ومنها حرمة ادخال الصبیان والمجانین حیث غلب تنجیهم والا فیکره(الاشباه والنظـائر ص ۵۵۷).
حـضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله فرمایي: مسئله: داچی له ماشـومانو نه پیسی اخستل کیږي اودهغه په عوض کی په مسجد کـی سـبق ورښـایي نوداجـائز نـه دی خوله اجرت نه پرته یواځی دثواب په خاطر په مسجد کی دسبق ښودلو اجازه ځینو

فقهاؤ ورکړی ده (كذافي الاشباه) ليکن څینی فقهاداهم جائز ګني ځکه چی دحدیث په حکم کی مسجد ته د ماشومانو راوستل ناجائز دي.
(كذا في حاشيه الاشباه عن تمرالتاشي) (اداب المساجد ص ۴) فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد د جوړولو په وخت کی دجَمعی اوجُمعی لمونځ بندول څنګه دي؟

(۱٦۳- سوال) زمونږ د مسجد چت زوړ شوی دی، نوځکه پرهغه نوی چت آچولی شي په دی وخت کی په مسجد کی د جمعی لمونځ کول ډیر مشکل دی، ایا د مسجد په صحن اویا د ډنډ په تخت باندی دجمعي لمونځ اداکولی شوو یانه ؟ که دجُمعی ورځې لمونځ پکې ولولو نو آيا صحيح دی؟ که د جُمعی لمونځ پکی لولو نو منبر لپاره څه څیز استعمالولی شو. بينوا توجروا.

(ځواب) د مسجد چت د جوړولو په وخت کی چیپه جمعی سره دلمونځ لوستل ناممکن وي نو تاسی د مسجد په احاطه کی دننه هر چیرته د جمعی او جُمعی لمونځ اداکولی شئ د ډنډ په تخت باندی هم د جمعي او د جُمعي لمونځ اداکولی شئ، که چیرته دلرګي منمبر يابل کوم اوچت څیز اینبودلی شئ نو کیږدئ اوکه خای کم وي یاپه وخت داسی څیز پیدانشي چی پر هغه خطبه وويل شي نو پرزمکه باندی خطبه ویل هم صحيح دی ځکه چی دخطبی دصحت لپاره منبر شرط نه دی. (فقط والله اعلم بالصواب).

په مسجد کی د طُغری د ځوړندولو څه حکم دی :

(۱٦۴- سوال) څه خلک زمونږ په مسجد کی دمنبر په سر د طُغری د ځوړندولو اصرار کوي خو ددوی برعکس خینې لمونځ ګزاران ددی ډیر سخت مخالفت کوي، طُغری څه دا ډول دی چی په منځ کی طيبه كلمه ليکل شوی ده هلته دبيت الله او مسجد نبوي تصوير دی ښي طرف ته په یو څنده کی الله جل جلاله، ګڅ څنډه ته محمدصلی‌الله علیه وسلم لاندی ښي څنډه کی علی رضی‌الله عنه او ګڅ څنډه کی فاطمه رضی‌الله عنها او حسين رضی‌الله عنه لیکل شوي دي کوم خلک چی ددغی طغری له ځوړندولو نه انکار کوي هغوی وايي چی دادشيعه ذهنيت عكاسي کوي. په دی کی د طیبه کلمی نه علاوه د پنځه کسانو نومونه دي، شيعه يوازی همدغه پنځه

کسان پاک او مقدس ګڼي، نور اصحاب دشیعه ګانو په نزد مقدس او قابل احترام نـه دي. دشیعه ګانو ددغو پنځه تنو تصور دشیعه ګانو او روافضو ایجا دی، هغـوی صـرف همدغـه پنځه کسان مقدس ګڼي. تاسی په دی باره کی زمونږ رهنمایي وکړئ ایا مونـږ د اطغـری دقبلی په طرف دیوال کی دمنبر په سر ځوړندولی شو اوکه نه بینوا توجروا.

(ځواب) اهل سنت والجماعت د اصحابو کرامو ترمنځ فرق نه مني، راشده خلفاء ، عشره مبشره، اهل بیت حضرت علی رضی‌الله عنه فاطمـه الزهـراء حضـرات حسـنین، امهـات المؤمنین، ازواج مطهرات، بنات طاهرات ټـول مهـاجرین او انصـار رضـوان الله علـیهم اجمعین ټول قابل احترام اوعزت مند ګڼي داهل سـنت والجماعـت عقیـده داده چـی ټول اصحاب د امت افضل ترین افراد دي. الله تعالی هغوی دمحمدصلی‌الله علیه وسلم دملګرتیا لپاره غوره او منتخب کړي وو، په قرآن او حدیث کی دټولو اصـحابو فضـائل او مناقب بیان شوي دي. وګورئ فتاوی رحیمیه جلد نمبر ۴ ص ۱٦- ۴۹ ددغـو دلائلـو پـه نظر کی نیولو سره داهل سنت والجماعت عقیده داده چـی لـه لـوی نـه لـوی غـوث، قطب او ولي د ادنی درجی اصحابي مرتبې ته نشي رسیدلې.

حضرت امام ربانی مجدد الف ثانی علیه الرحمه فرمایي :

هیچ ولي به مرتبه صحابه نه رسـداویس قرنـی رحمـه الله بـآن رفعـت شـان کـه بشـرف والتسلیمات نرسیده به مرتبه ادنی صحابي.

شخص از عبدالله ابن مبارک رضی‌الله عنه پرسید کـه ایهمـا افضـل معاویـه، ام عُمـر بـن عبدالعزیز- درجواب فرمود:

الغبارُ الذی دخل انف فرس معاویة مع رسول الله صلـــی‌الله علیه وسلم خیرمن عمربن عبدالعزیز کذا مرَّ.(مکـــتوبات امام ربانيِ مجدد الف ثانی) ص ۲۰۵ دفتراول مکتوب نمبرص ۲۰۷).

ژباړه: هیڅ یو ولي دکوم صحابي مرتبې ته نشي رسـیدلې، اویـس قرنـي دخپـل اوچـت شان باوجود چون محمدصلی‌الله علیه وسلم نه و لیدلې نو ځکه د ادنی اصحابي مرتبـی ته هم ونه رسید.

یوچا له عبدالله ابن مبارک نه پوښتنه وکړه چی حضرت معاویه رضی‌الله عنـه افضـل دی اوکه حضرت عمربن عبدالعزیز په ځواب کی ورته وفرمایل : دمحمد صلی‌الله علیه وسـلم په ملګرتیا کی دمعاویه رضی‌الله عنه داس پـوزی تـه چـی کومـه دوړه ننوتلې ده هغـه

دوره هم دعمربن عبدالعزیز څخه څو څو ځلې بهتره ده. داصحابو کرامو ترمنځ تفریق کول دشیعه ګانو کار دی شیعه حضرت علي رضی‌الله عنه ، حضرت فاطمه رضی‌الله عنها او حسن او حسین مني اوله دوی نه علاوه نور اصحاب کرام خصوصاً ابوبکرصدیق رضی‌الله عنه. عمر رضی‌الله عنه په شان کی سخت ګستاخي کوي، داهل سنت والجماعت په مسجدونو کی دداسی طغری اینبودل دامعنی لري چی مونږ دشیعه ګانو تائیدکوو، نوځکه پکار دي چی داسی طغری په مسجدونو کی ونه لګوو.بلکی مناسبه خبره داده چی د مسجد دقبلې طرف په دیوال کی هیڅ قسم طغری ځوړند نه کړو اونه هم په دیوال کی څه ولیکو بلکی دیوال بالکل ساده پریږدو، نقش نګار، طغره او نورو څیزونو په وجه دلمونځ ګذارانو په خشوع او خضوع کی خلل راځي.

دفقهی مشهور کتاب بحر الرائق کی دي چی :

والاولی ان تکون حیطان المسجد الا بیض غیر منقوشة ولامکتوب علیها ویکره ان تکون منقوشة بصورٍ او کتابة.

یعنی بهتر دادی چی د مسجد دیوالونه صفا، نقش او نګار نه بالکل پاک وي او هیڅ قسم لیکنه ورباندی نه وي شوي، په دیوال باندی نقش نګار او لیک کول مکروه دي. (البحر الرائق ص ۲۳۵ ج ۲ بحواله فتاوی رحیمیه ۲/ ۱۷۳.

په در مختار کی دي : (ولا باس بنقشه خلا محرابه) فانه یکره لانه یلهی المصلی ویکره التکلف بدقائق النقوش ونحوها خصوصاً فی جدار القبلة قاله الحلبی وفی حظر المجتبی وفیل یکره فی المحراب دون السقف والمؤخر انتهی وظاهره ان المراد بالمحراب جدار القبلة فلیحفظ. په شامی کی دي: ولذا قال فی التفاوی الهندیة وکره بعض مشائخنا النقش علی المحراب وحائط القبلة لانه یشغل قلب المصلی اه ومثله یقال فی الحائط المیمنة اوالمیسرة لانه یلهی القریب منه(درمختار و شامی ۱/ ۶۱۶، احکام المساجد).

فتاوی دارالعلوم دیوبند کی دي چی د مسجد دقبلی په دیوال کی قرآني ایتونه او نور څیزونه لیکل مکروه دي. ځکه چی په دی سره دلمونځ ګذار خیال خرابیږي او په خشوع او خصوع کی فرق راځي. همدغه راز په دی سره دبی ادبي ویره هم شته هسی نه د مسجد دیوال دغورځیږي او قرآني ایتونه پښو لاندی شي نوځکه کوم آیتونه چی

لیکل شوی دي غوره داده چی هغه لری کړی شي، د مسجد په دیوال د شعرونو لیکل هم صحیح نه دي. (فتاوی دارالعلوم دیوبند قدیم ص ۳۳٦، ج ۵ ، ٦ امداد المفتین).
د مفتی اعظم هند حضرت مفتی محمد کفایت الله صاحب رحمه الله فتوه.
(۱٦۵- سوال) په مسجد کی د اګربتی سوخول څنګه دي؟ له دی مقصد خوشبوی پیداکول وي بینو توجروا.
(خواب) د مسجدونو پاک ، صفا او خوشبوی ساتل شرعا ښه او غوره کار دی. کوم سړی چی له مسجدنه خزله جارو کوي نودهغه لپاره ډیر لوی ثواب دی. په حدیث کی دي:
عن ابی سعید الخدری رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من اخرج اذی من المسجد بنی الله له بیتا فی الجنة.
له حضرت ابوسیعد خذری رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل :
کوم سړی چی له مسجد نه ګندګي لری کړي الله تعالی هغه لپاره په مسجد کی کور جوړوي. (ابن ماجه ص ۵۵ باب تطهیر المساجد).
همدغه راز بل حدیث دی :
عن عائشة رضی‌الله عنها قالت امر رسول الله صلی‌الله علیه وسلم بناء المسجد فی الدور وان ینظف ویطیب).
له حضرت عائشه رضی‌الله عنها څخه روایت دی چی محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل چی په کوروبو کی مسجدونه جوړ کړئ او هغه پاک او معطر وساتئ. (مشکوات شریف ص ٦۹ باب المساجد ومواضع الصلواه).
په بل حدیث کی دي: اتخذوا علی ابوابها المطاهر و جمیروها فی الجمع.
د مسجدونو دروازو لپاسه طهارت خانی جوړې کړئ او د جُمعی په ورځ په مسجدونو کی دخوشبوي لوګي وکړئ. (ابن ماجه ص ۵۵ مایکره فی المساجد).
حضرت عمر رضی الله عنه حکم جاري کړ چی دمدینی په مسجد کی دی هره جمعه دغرمی په وخت د خوشبوی لوګی وکړی شي. په زاد المعاد کی دي:
عن نعیم بن عبدالله المجمران عمر ابن الخطاب رضی‌الله عنه امران یجمر مسجد المدینة کل جمعة حین ینتصف النهار . (زاد المعاد ص ۱۰٤ ج ۱).

له دغو دلائلو څخه ثابت شو چې د مسجدونو صفا ستره او خوشبو داره ساتل دشریعت غوښتنه ده لهذا دلوبان یادعود دلرګي لوګې کول بهتر دی. که چیرته اګربتي له پاک څیز نه جوړ شوی وي نو هغه حکم دلوبان او عود دلوګي په حکم کی راځي ،لهذا اګربتی دخوشبو په خاطر لګولی شئ خودهغه ایره دی په فرش باندی ونه غورځیږي، بیرون دی ولګول شي او بیادی دننه مسجد ته راوړی شي، ځکه چې په مسجد کی دننه داور قطعی دلګولو بوی پیداکیږي له دغه بدبوی نه باید مسجد وساتل شي فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجد د بنیاد دایښودلو په وخت د راغوښتل شویو میلمنو باندی د مسجد دپیسو استعمالول:

(۱٦٦- سوال) دمسجد جوړولو لپاره چنده جمع شوی ده، د بنیادونو د ایښودلو لپاره د مسجد متولیانو څه خلکوته دعوت ورکړیدی ایا دهغوی د تګ راتګ او ډوډۍ لپاره د مسجد پیسی لګول جائز دي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) د مسجد د تعمیر په نوم چې کومه چنده راټوله شوی ده هغه پیسی باید د مسجد په تعمیر کی مصرف کړی شي، په میلمنو باندی ددغو پیسو لګول جائز نه دي.[1]

که چیرته ذمه دار او مسئول خلک دا خرچه پخپله برداشت کولی شي نوله خپلو جیبونو نه دی خرج کړي، یادی د میلمنو په نوم جلا چنده وکړي او همغه دی ولګوي. فقط والله اعلم بالصواب).

د مسجد دپراخولو په خاطر د مسجد کور او دکرایه دوکانونوخالي کول:

(۱٦٧- سوال) مسجد ته نژدی د مسجد کور اودوه دکانونه دي هغه موپه کرایه ورکړي دي دشلو کلو راهیسې په هغه کی کرایه داران دي، اوس دلمونځ ګذارانو شمیر زیات شوی دی نو ځکه د مسجد دپراخولو ضرورت پیداشوی،ایاد مسجد متولي کولی شي چې کرایه دارانو ته ووایي چې کور او دوکانونه خوشي کړي؟ اوکه چیرته کرایه داران له وتلونه انکار وکړي نو پرهغوی زبردستي کولی شوو اوکه نه؟بینوا توجروا.

---

[1] - قوله ان یحتصون جاز هذا الشرط مبنی علی ماذکره شمس الائمة الضابط وهو أنه، اذا ذکر الوقف مصرفا لابدان یکون فیهم تنصیص علی الحاجة الـخ شامي، مطلب متی ذکر للوقف مصر فالخ.

(خـواب) هو د مسجد متولي کولی شي چې کور اودوکانونه له کرایـه دارانـو نـه خـالي کړي اوکه هغوی له خالي کولو نه انکار وکړي نوپرهغو زبردستي هم کـولی شـي کرایـه دارانو ته پکاردي چې پخپله په خوشالي سره خالي کړي ځکه چې داد مسجد ملکیت دی او اوس مسجد ورته ضرورت لري، په دی کی دی تنګدلي ونـه کـړي، خـو دومـره خبره ده چې نن سبا دکرایه کورونو اودکانونه په مشکل پیداکیږي نو ځکه ددغه مشکل په نظر کی نیولو سره دی هغوی ته مهلت ورکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد وقف زمکه او مملوکه زمکه په ګډه یوځای خرڅول څنګه دي ؟

(۲) دزمکی له موقوفه زمکی نه د ګټې اوچتولو حکم څه دی ؟

(۱۶۸- سوال) لـه یوسړي سره دکرلو لپاره د مسجد وقف زمکه ده، له هغی سـره بالکـل متصل دهغه خپله زمکه هم وه هغه په خپلی زمکی سـره یوځـای د مسـجد وقـف زمکـه خرڅ کړی ده دویم سړي هم دغه زمکه دوه کاله وروسته په بل چاباندی خرڅـه کـړی ده پنځه شپږ کاله راپدی خوا د مسجد زمکه له دغه دریم سړي سـره ده، د مسـجد نـوی کمیټی جوړه شوی ده هغوی ددغی زمکی په اړه له تحقیق نه وروسته لـه دریم شـخص نه غوښتنه کړی ده چې داد مسجد وقف زمکه ده تاته پکاردي چې دا زمکه واپس کړی خو هغه وایي چې مادا زمکه په پیسو آخستی ده، اوس سوال دادی چې شریعت په دی باره کی څه حکم کوي؟ ایا پـه دغـه دریم سـړي بانـدی د مسـجد زمکـه واپـس کـول ضروري دي اوکه نه؟ داچې د مسجد زمکه خرڅ شوی ده ایا د مسجد د زمکی خرڅول جائز دي؟ دریم سړی خو بالکل ناخبره و ایـا هغـه هـم پـه دی ګنـاه کـی شـامل دی؟ دلومړي او دویم سړي پـه متعلـق چـې هغـو تـه دا معلـوم و چـې داد مسـجد زمکـه ده دشریعت څه حکم دی؟

(۲) دویم او دریم شخص د مسجد له موقوفه زمکی نه ګټه اوچته کړیده دهغه څـه حکـم دی؟ بینوا توجروا.

(خـواب) په مسئوله صورت کی مملوکه او موقوفه زمکه دواړه یوځای خـرڅ شـوی ده د مملوکی زمکی خرڅول خو صحیح دي مګر د موقوفـه زمکـې بیـع باطـل ده، دقبضـی باوجود به دویم سړی ددی مالک کیدای شي او نه هم دریم سړی په درمختار کی دي:

(وبطل بيع قن ضم الى خروذكية الى ميتة ماتت حتف انفها وان سمى ثمن كل (بخلاف بيع قن ضم الى مدبر) فانه يصح (او قن غيره و ملك ضم الى وقف)... (ولو محكوما به) فى الاصح، په شامی کی دي: والحاصل ان ههنا مسئلتين الاولى ان بيع الوقف باطل ولو غير مسجد خلافاً لمن أفتى بفساده لكن المسجد العامر كالحر وغيره كالمدبر المسئلة الثانية اذا كان كالمدبر يكون بيع ماضم اليه صحيحاً ولو كان الوقف محكوماً بلزومه الخ (درمختار ورد المختار ص ١٤٥ او ص ١٤٦ ج ٤ تحت مطلب فى بطلان بيع الوقف وصحة بيع الملك المضموم اليه ، باب البيع فاسد).

په کنز الدقائق کی دي :

ومن جمع بين حر و عبد او بين شاة ذكية وميتة بطل البيع فيهما و ان جمع بين عبد ومدبرا و بين عبده وعبد غيره اوبين ملك ووقف صح فى القن وعبد والملك.

په بحرالرائق کی دي :

وفيما اذا جمع بين ملك ووقف روايتان وماذكر المؤلف هو الصحيح لان الوقف مال ولهذا ينتفع به انتفاع الاموال غير انه لايباع لاجل حق تعلق به وذلك لايوجب فساد العقد فيها ضم اليه كالمدبر.... الخ(البحر الرائق ص ٩٠ ج ٦، باب البيع الفاسد).

په مسئوله صورت کی هم چون په وقف زمکه کی بیع باطل ده او دریم سړی ددی زمکی شرعاً له سره مالک يی نه دی،لهذا په دريم سړي باندی لازم دي چی دزمکی وقف زمکه فوراً مسجد ته ورکړي او وقف اصلي حالت ته ورسپاري. که چیرته هغه واقعاً په ناپوهي کی دازمکه آخستی وه نو هغه گنهگار نه دی بلکی په واپس ورکولو کی به ورته انشاء الله اجر ورکول کيږي مگر لومړی شخص او دويم شخص د علم لرلو باوجود وقف زمکه خرخه کړه نو دواړه سخت گنهگار دي د وقفي زمکی خرخول له ایماني تقاضی نه بالکل خلاف ده. دواړوته دزړه له کومی توبه او استغفار کول پکاردي او راتلونکی لپاره دی ددا ډول حرکت نه کولو پوخ عزم وکړي همدغه راز داچی

مخکینی متولي خپل ځان غلی آچولی او دوقف دحفاظت کوشش یی نه دی کړی هغه هم ګنهګاردی.

ځرنګه چی په مذکوره صورت کی د موقوفه زمکی بیع باطله ده‌لهذا دریم شخص چی دویم شخص ته دموقوفه زمکی کوم قیمت ورکړی دی هغه دی ترینه بیرته واخلي او دویم سړې دی له لومړي خرڅوونکي نه پیسی بیرته واخلي.

(۲) که چیرته د زمکی په نیمایي ورکولو رواج وي نوپه عمومي ډول څومره حاصلات چی دموقوفه زمکی کیږي همغه دی ترینه واخلي. اوکه چیرته دزمکی اجرت مثل د اداکولو رواج وي نو اجرت مثل دی ترینه واخلي د دویم سړي قبضه که څه هم غصب نه دی خو هغه د موقوفه زمکی نفع اوګټه ضرور خوتلی ده نوځکه هغه لپاره هم پورتنی حکم لاګوکیږي. البته هغه په ګناه کی نه راځي.

په درمختار کی دي: واما فـــی الوقف فتجب الحصة والاجر بکل حال فصولین.

په شامي کـی دي : (قوله و اما فـی الوقف) عبارة الفصولین الا فـی الوقف فیجب فیه الحصة او الاجر بای جهة زرعها او سکنها اعدت للزراعة ولا وعـلی هذا استقر فتوی عامة المتأخرین اهـ .الـی قوله وذکر فـی الاسعات انه لا زرع ارض الوقف یلزم اجر مثلها عندالـمتأخرین ، اهـ اقول والظاهر حمله علـی ماذالم یکن عرف او کان الاجر انفع للوقف تأمل ویمکن تفسیر قول الفصولین فتجب الحصة ای ان کان عرف وقوله او الا جری ان لم یکن عرف او کان الاجر انفع تأمل... والحاصل... وان کانت وقفافان ثـمه عرف وکان انفع اعتبر، والا فاجر الـمثل لقولهم یفتـی بما هو انفع للوقف فاغتنم هذا التحریر الـمفرد الـمأ خـوذ مـن کلامهـم الـمبدد اهـ.(درمـختار و رد الـمختار ص ۱۷۰، ص ۱۷۱ ج۵ کتاب الغصب). فقـط والله اعـلم بالصـواب.

د مسجد ځای تر اوږدی مودی پوری په کرایه ورکول:

(۱۶۹ سوال) دیومسجد زمکه چی دقبلی په طرف پرته ده له ډیر وخت نه هسی بیکاره اوبی فایدی پرته ده، اودهغه محل وقوع هم څه داسی دی چی هلته مسلمانان نه اوسیږي بلکی غیر مسلم پکی اوسیږي، فی الحال د مسجد دشوری کسانو دافیصله کړی

ده چې په دغه ځای باندې یو عمارت جوړ کړي او هغه دې دمکتب لپاره په کرایه ورکړي، دامکتب به دحکومت ترلاس لاندې وي او ددې کرایه بـه حکومت ورکـوي. خود حکومت له طرف نه یوشرط دې چې دازمکه دې ۹۹ کلو لپاره پـه کرایـه ورکړي اوپه دې معاهده باندې دې خپل دستخطونه وکړي چې مونږ دازمکه ۹۹ کلـو لپاره په کرایه ورکوو. ایا مونږ د ۹۹ کلولپاره دمسجد زمکه په کرایه ورکـولی شـوو اوکـه نـه؟بینوا توجروا.

(جواب) داچې مذکوره زمکه بالکل مسجد ته نژدې واقع ده نود مسجد ترټولو غټه ګټه داده چې داځای په مسجد کې داخل کړی شي، که چیرته په دې وخت په مسجد کې دننه کولو ضرورت نه وي یاد یوځای کولو لپاره پیسې نه وي نولږ ترلـږه دې ترینـه یـوه احاطه ضرور ناوکړی شي اوکه مناسب دې نو باغ دې پکې جوړ کـړی شـي پـه داسـې کولو سره به دزمکې حفاظت هم وشي اوراتلونکې وخت کې به پـه مسـجد کـې ددننـه کولو اساني هم وي. بل داچې هلته یوه دیني مدرسه هم جوړولی شئ هغه داسې چې هلته د مدرسې لپاره تعمیر جوړ کړئ اوبیاهغه په کرایه ورکړئ، دکرایه پیسې د مسجد په کارونو کې ولګوئ، د مدرسې له چلوونکو نه لیکلې معاهـده واخلـئ چـې کلـه ددغـې مدرسې په مسجد کې دننویستلو ضرورت پیداکیږي نـو تاسـې بـه مدرسـه خـالي کـوئ. دمکتب لپاره دې حکومت ته تر دومره اوږدې مودې پورې بالکل مه ورکوئ ځکه چـې کله دهغه ضرورت پیداکیږي نو دهغه د ترلاسه کولو لپاره به هـیڅ لاره نـه وي اوپـه دې سره دوقف دضائع کیدو خطره هم موجوده ده.

قال ابوجـــعفر الفـــتوی علی ابطال الاجارة الطویلة ولوبعقود. په شامي کـــې دي: (قوله الفتوی علی ابطال الا جارة الطویلة ولو بعقود) ای لتحقق الـــمحذور المارفیها وهو ان طول الـــمدة یودی الی ابطال الوقف کما فی الذخیرة. الـــی ان قال. ثم رأیت ط نقل عن الهندیة ان بعض الصکالین ارادوا بهذه الا جارة ابقاء الوقـــف فـــــی یـــد الـــمستاجر اکثر من سنة فقال الفقیه ابوجعفر انابطلها صیانة للوقف وعلیه الفتـــوی کذافـــی الـــمضمرات(درمـــختار ورد الـــمحتار المعروف به شامی ص ۵۰۰ ج۳ فصل یراعی شرط الواقف فـــی اجارت . فقط والله اعـــلم بالصواب.

که په مسجد کی یاله مسجدنه باهر کوم ځیز ورک شـي اویاخـه ځیز ومومندل شي په مسجد کی دهغه اعلانول څنګه دي ؟:

(۱۷۰-سوال) که چیرته دچاځه ځیزلکه ساعت، چشمې او داسـی نـور شیان ورک شـي ایاپه مسجد کی دهغه اعلانول صحیح دي؟ اوکه چیرته یو ځیز په مسجد کـی دننـه ورک شوی وي نو هلته دهغه لټون کول یاله چانه پوښتنه کـول څنګـه دي؟ کـه چیرتـه چاپـه مسجد کی دننه د چاځه مال ومومند ایاپـه مسـجد کـی دهغـه اعلانـول جـائز دي اوکـه نه؟بینوا توجروا.

(ځواب) د ورک شوي ځیز په مسجد کی اعلانول دحدیث له مخی منع دي نوځکـه پـه مسجد کی دورک شوي ځیز اعلان کول ممنوع دي، اوکه چیرته په مسجد کـی دننـه یـو ځیز ورک شوی وي اودهغه د لټولو ضرورت وي نو دمسجد اداب او احترام په نظر کـی نیولو سره چې شور ماشور پکی ونه کړيَ، لمونځ ګذارانو او اعتکاف کوونکو پـه اعتکـاف کی خلل پیدانشي لټون او تپوس کول جائز ږي.

په مشکوات شریف کی دي:

عن ابی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من سمـع رجـلاً ینشدضالةً فـی الـمسجد فلیقل لا ردها الله علیك فان الـمساجد لم تبن هٰذه رواه مسلم.

له حضرت ابوهریره رضی‌اللهٔ عنـه څخـه روایـت دی چـی محمدصلی‌الله علیـه وسـلم وفرمایل : کوم سړی چې په مسجد کی د ورک شوي ځیز اعـلان کـوي نوهغـه تـه زجـراً ووایي چی الله تعالی دی ستا دامال واپسَ تاته درنه کړي ځکـه چـی مسجد دی کـار لپاره نه دی جوړ شوی.(مشکواه شریف ص ٦٨ باب الـمساجد ومواضع الصلواه).

سرقات شرح مشکوات کی دي:

(یـنشد ضالة فـی الـمسجد)یطلبها بـرفع الصوت.... ویدخل فـی هذا کـل امرلم یبن له الـمسجد من البیع والشراء ونحوذلك(قوله لـم تبن هـذا) ای لنشـد الضالة ونحوه بل لذکرالله تعـالـی وتلاوة القرآن والوعظ حتی کره مالك رحمه الله. البحث الـعلمی وجوزه ابوحنیفة رحمه الله وغیره لانه ممایحتاج قاله ابن حجر ویستثنی

من ذلك عقد النكاح فانه سنة للامر به رواه الترمذی.(مرقاة شرح مكشوة ص۱۱۹ ج ۲ ایضاً).

په التعلیق الصبیح کی دي: (نشد الضالة) اعلم ان نشد الضالة ای رفع الصوت بطلبها فلانه صخب ولغط وتشویش علی المصلین والمعتکفین یستحب ان ینکر علیه بالدعاء بخلاف ما یطلبه ارغاماً له وعلله النبی صلی‌الله علیه وسلم بان المساجد لم تبن لهذا (التعلیق الصبیح شرح مشکوة المصابیح ص ۳۱۲ ج ایضاً).

په مظاهر حق کی دي چی ظاهره ده: (لاردهاالله علیك) په ژبې سره ووایي دجر او منع په خاطر خوپه زړه کی دی دا بده دعا ونه کړي الخ. (مظاهر حق ۲۴۰ جلد اول ایضاً).

په درمختار کی دي: ویکره ... انشاد ضالة . په شامی کی دي: (قوله انشاد ضالة) هی الشئ الضائع وانشادها السؤال عنها وفی الحدیث اذ رأیتم من ینشد ضالة فی المسجد فقولوا لاردها الله علیك (درمختار وشامی ج۱ ص ۶۱۷ احکام المساجد).

((اسلام کا نظام مساجد)) نومی کتاب کی دي چی د ورك شوي څیز لټون کول په مسجد کی جائزنه دی ځکه چی داهم د مسجدله احترام نه خلاف دی. ځکه چی په دی کی شور او هنګامه کول پکی ضروري دي محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل :

من سمع رجلاً ینشد ضالَّةً فی المسجد فلیقل لاردَّ ها الله علیك فان المساجد لم تبن لهذا.

څوك چی دچادخولی نه واوري چی هغه په مسجد کی دورك شوي څیز اعلان کوي نو هغه ته پکاردي چی ورته ووایي الله تعالی دی درته پیدانه کړي ځکه چی مسجد دی کار لپاره نه دی جوړشوی. (مسلم باب النهی عن نشد الضالة ص ۲۱۰ جلد۱).

په دی حدیث کی یواځې د ورک شوي څیز دلټولو او اعلان کولو نه ممانعت نه دی شوی بلکی په دی باندی ذجر او توبیخ هم موجوده ده او ورسره ورسره ددی علت هم بیان کړی دی چی په دی زمانه کی باید په خصوصیت سره په دی باندی عمل وکړی شي او ددی حدیث مفهوم دی عامو مسلمانانو په ذهن کی کیښنول شي، خوهله پکی څه گناه نشته چی یو څیز په مسجد کی ورک شي اود مسجد د آدابو په نظر کی نیولو سره هغه پسی لټون وشي. خوکوم څیزونه چی له مسجد نه باهر ورک شوی وي نو دهغوی دپیداکولو لپاره په مسجد کی اعلان کول بالکل نامناسب کار دی. په یو حدیث کی دي چی محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل کله چی تاسی یو څوک وگورئ چی دورک شوي څیز اعلان په مسجد کی کوي نو ورته ووایئ:

لا وجدت انما بنیت المساجد لما بنیت. هغه مال دی ستاپه لاس درنه شي مسجد چی دکوم کار لپاره جوړ کړی شوی دی دهمغه لپاره دی. (مسلم شریف ص ۲۱۰ جلد ۱)، اسلام کا نظام مساجد ص ۱۹۸، ۱۹۹).

په مجمع الانهر کی دي: (ویعرفها) ای یجب تعریف اللقطة (فی مکان اخذها) فانه اقرب الی الوصول(وفی المجامع) ای مجامع الناس کابواب المساجد والا سواق فانه اقرب الی وصول الخبر.

یعنی په کوم ځای کی چی ورک شوی څیز پیداکړی وي همغلته دی اعلان وکړي همدغه راز دخلکو د راغونډیدو پرځایونو لکه د مسجد دروازه او بازار خپل مالک ته ددغه څیز درسولو صحیح طریقه همداده. (مجمع الانهرص۱۱۳ جلد۱ کتاب اللقطه)

فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد کی دمغفرت د دعالپاره اعلان کول:

(۱۷۱- سوال) که څوک په مسجد کی په اوچت آواز اعلان وکړي چی فلان سړی مړشوی دی دهغه لپاره دبخښنی دعاکولو غوښتنه ده، په مسجد کی داسی اعلان کول څنگه دی؟ بینوا توجروا.

(خواب) په مسجد کی د داډول اعلانونو التزام اوددی عادت له مسجد سره نه ښايي داد مسجد د ادب او احترام نه هم مخالف کار دی، مسجد دغو کارونو لپاره نه دی جوړ شوی. لکه چی په مرقاه شرح مشکوات کی دي:

(قوله لم تبن هذا) ای لنشد الضالة ونحوه بل لذكرالله تعالى وتلاوة القرآن والوعظ حتى كره مالك رحمه الله البحث العلمي وجوزه، ابوحنيفة رحمه الله لانه مما يحتاج قاله ابن حجر ويستثنى من ذلك عقد النكاح فانه سنة للامر به رواه الترمذی (مرقاة شرح مشكوة ص ۱۹۹ ج ۲، مطبوعه ملتان باب المساجد و مواضع الصلوة).

که له مسجد نه بهر په توره تخته دچا دمرګ خبر وليکي او هغه لپاره دمغفرت دعا کولو غوښتنه وکړی شي نو داصحيح ده.

په در مختار کی دي :

ولأباس علام بموته (قوله وبالاعلام بموته) ای اعلامُ بعضهم بعضاً ليقضوا حقه وكره بعضهم ان ينادى عليه فى الازقة والاسواق لانه اشبه نعى الجاهلية والاصح انه لا يكره اذالم يكن معه تنويه بذكر و تفخيم الخ (درمختار وشامی ص ۸٤۰ ج ۱ كتاب الجنائز مطلب فى دفن الميت). (غاية الاوطار ج ۱ ص ٤۲۲). فقط والله اعلم بالصواب.

(۱)د مسجد د پيسو سود دی چيرته خرچ کړی شي ؟ ايا غريبانو ته ورکولی شو اوکه نه؟(۲) ددغې مسئلې په اړه مفتي اعظم حضرت مولانا کفايت الله اوحضرت مولانا اشرف علی تهانوي تحقيق څه دی؟

(۱۷۲ سوال) د مسجد پيسی مو په بانک کی آچولي دي، دهغوی سود هم مونږ ته راکول کيږي مسجدته دسود هيڅ ضرورت نشته آيادغه د سود پيسی موذن او امام ته چی دواړه غريبان دي همدغه راز نورو غريبانو ته ورکولی شو اوکه نه؟ بينوا توجروا.

(ځواب) له مجبوريت نه پرته بايد په بانک کی پيسی وانچول شي، کۀ چيرته دقانوني مجبوريت له کبله مو دمسجد پيسی په بانک کی آچولی وي او پرهغی تاسی ته سود درکړی وي نوهغه دی دمسجد دبيت الخلا او غسل خانی په مرمت او صفايی کې استعمال کړی شي. که چيرته په دی کی هم ددغو پيسو ضرورت نه وي نوبيادی غريبانو

ته ورکړی شي. دخیر ښیګڼی او رفاه عامه په کارونو کی هم خرچولی شی. که چیرته دمسجد امام او مؤذن هم غریبان وي نو هغوی ته هم ورکولی شی. په مسجد کی دی داپیسی بالکل خرچ نه کړی شي ځکه چی داد مسجد له تقدس نه خلاف دی. دلته زه ددغی مسئلی په باره کی دمفتی اعظم حضرت مولانا کفایت الله صاحب او حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي تحقیق هم ستاسی په خدمت کی وړاندی کوم. په کفایت المفتی کی دي:

(سوال) په مسجد کی چی کومی پیسی مونږ جمع کړی دي ایاپرهغه سود آخستل شرعاً جایز دي اوکه نه؟ که مونږ ددغو پیسو سود وانخلو نو هغوی دغه پیسی دعیسویانو په مکتبونو او نورو کارونو کی مصرفوي، که چیرته اخستل یی جائز وي نو په دغو پیسو سره دښه او نیکو کارونو مثلاً له تبلیغی مدرسی سره مرسته کولی شوو؟ همدغه راز دغه پیسی په غریبانو، مسافرانو، دکوهیانو او دلارو جوړولو په کارونو کی همدغه راز د مسلمان شاګردانو لپاره دانګریزي کتابونو په اخستلو کی مصرفولی شو اوکه نه؟په دغو صورتونو کی چی په هریو کار کی ددغو پیسو لګول غوره اوبهتر وي مونږ ته یی را وښایئ. بینوا توجروا.

(ځواب) دمسجد کومی پیسی چی تاسی په بانک کی اچولي دي دهغی سود ضرور واخلئ ترڅو ددغو پیسو په ذریعه د مسیحي مذهب تبلیغ اود مسلمانانو د مرتد کولو لپاره مرسته ونشي د ترلاسه کولو نه وروسته دی دغه پیسی د خیرښیګڼو په کارونو کی یاهم دغریبانو دضرورت درفع کولو لکه یتیمانو او مسکینو شاګردانو لپاره کتابونه آخستل یا د مسافرخانی د جوړولو د کوهیانو د ویستلو ، د لارو جوړولو اوداسی نورو دخیرښیګڼی کارونو کی لګول جائز دي خوپه مسجد کی دی بالکل ونه لګولی شي ځکه چی داد مسجد له تقدس نه بالکل منافی دی. والله اعلم وعلمه اتم. محمد کفایت الله کان الله له، دهلی.

دمولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله ځواب: لومړی خو د مسجد پیسی په بانک کی آچول هله چی دپیسو د ساتلو ښه طریقه موجوده وي، ناروا دی، خوکه چیرته دضرورت له مخی اویاهم د غفلت اوناپوهي له کبله مو په بانک کی پیسی اچولی وي نو دسود د پیسو له ترلاسه کولو نه وروسته دی همغه کار وکړي چی په لومړی ځواب کی ویل شوي دي. په مسجد کی ددغو پیسو لګول او استعمالول خود مسجدله تقدس نه مخالف دی اوله مسجد نه بغیر په نورو کارونو کی مصرفول یی دمسجد ملکیت

به بل خیز کی مصرفول دي داهم نه کارنه دی، نوځکه له دغو دواړو څخه د بچ کیدو صورت دادی، چې همدومره پیسې دی له چانه قرض واخستل شي اوهغه دی په مسجد کی ولګولی شي اودهغه دسود پیسې دی په قرض کی ورکړي، اوداثابته ده چې د مسجد په نیت کوم قرض واخستل شي نودهغه ورکول د مسجد د آمدني له پیسو څخه ورکول جائز دي والله اعلم بالصواب. کتبه اشرف علی تهانوی عفی عنه ۱۱ ذی قعده کال ۱۳۵۴ هـ.

الجواب الثانی صحیح بنده محمد شفیع عفی الله عنه، مسعود احمد عفا الله عنه نائب مفتی دارالعلوم دیوبند ۱۴ ذی قعده ۱۳۵۴ هـ.

(الجواب) از حضرت مفتی اعظم رحمه الله الجواب والله الملهم للحق والصواب. له بانک نه دسود دپیسو د ترلاسه کولو حکم خو څکه دی چې هندوستان دارالحرب دی اوپه دارالحرب کی سودي عقود جائز دي نوپه دی صورت کی په بانک کی دپیسو جمع کول اودهغو سود آخستل هم جائز دي. په دی کی خپل شخصي پیسې او د وقف پیسو جمع کول صحیح دي، دپیسو مالک که هغه کوم سړی وي یامسجد د سود مالک هم ګرځي اوداویل صحیح دي چې دسودکومی پیسې د مسجد له پیسونه ترلاسه شوی دي هغه د مسجد پیسې دي. لیکن دخپل جماعت علماو په هندوستان کی تراوسه پوری دسود او ربویه عقود د جواز حکم نه دی ورکړی نو څکه په بانکونو کی دپیسو له جمع کولو نه ممانعت کوي. زه پخپله هم په بانک کی د امکان ترحده پوری دپیسو له جمع کولو ممانعت کوم څکه چې په دی سره یو مسلمان په سود کی اخته کیږي اودادبینک د ټولو سودي کاروبار سره مرسته کول دي. اوداديو مسلط کافر حکومت تعاون او هغه ته مالي تقویت رسول دي چې د اسلام نه بالکل منافی دی. په دی صورت کی له بینک نه د سود د اخستلو د جواز حکم محض دی لپاره دی چې که څه هم دبانک سود سود دی او ددی اخستل هم جائز نه دي، مګردا سود ترینه باید څکه واخستل شي چې دنه آخستو په صورت کی هغه مسیحي مبلغینو ته ورکوي او هغوی په همدغو پیسو سره د مسیحیت د تبلیغ او د مسلمانانو د مرتدولو کارونه مخ په وړاندی بیایي نوځکه لومړی خو باید په بانکونو کی له سره پیسې جمع نه کړی شي خو که چیرته د مجبوریت یاغفلت په وجه داخلي کړی نو دهغی سود دی هم له بانک نه واخلي، نه په دی وجه چې داد پیسو مالک اوحقدار یی دی، بلکی په دی وجه دی واخلي چې که چیرته زه یی وانخلم نو په دغو پیسو سره دمسیحي تبلیغ او د مسلمانانو

د مرتدولو لپاره کار آخستل کیږي اوزمالپاره د لوی ګناه باعث ګرځي. نوپه دی لحاظ سره دسود پیسی که هغه دکوم سړي له پیسو نه ترلاسه شوی وي یاد مسجد له پیسو نه، دادچا مملوک نشي کیدی بلکی دا داسی پیسی دي چی دکوم مسلمان لاس ته یاپه شخصي حیثیت سره اویاهم د متولي په حیثیت سره راغلی دي. ددغو پیسو له خپل خان نه دلری کولو صورت دادی چی داد رفاه عامه یادخیر نیکمنی په کارونو کی ولګول شي اویاهم په فقراو مسکینانو او محتاجو باندی ولګوي

که چیرته ددغو پیسو مالک او مستحق مسجد وګرځول شي نودا لازمیږي چی دټولو سودي پیسو ضامن د مسجد متولي وګرځول شي چی دغه پیسی لګونو او کرورونو ته رسیږي. خو د مسجد متولي ته به هیڅ صورت کی داجائز نه وي چی هغه د مسجد مملوکه پیسی قصدا له بانک نه وانخلي او همغلته یی پریږدي.

محمد کفایت الله (کفایت المفتی جلد هفتم ص ۱۰۴، ۱۰۵، ۱۰۶). فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد دچندې لپاره په سفر کی خرچ شوي پیسی د مسجد د چندی له پیسونه آخستل:

(۱۷۳ سوال ، زمونږ په مسجد کی دلمونځ ګذارانو شمیر زیات شویدی نو ځکه د مسجد پراخول ضروري شوی دي خوپه دی باندی کافي خرچه راځي دمحلی خلک دانشي پوره کولی. نورو لریو ځایوته د مسجد دچندی لپارد سفر کول پکاردي خو دغه سفر پاره هم له مسجد سره پیسی نشته، فی الحال له څه خلکونه دسفر د خرچ لپاره قرض پیسی اخلو ترڅوورباندی سفر وکړی شي اوس سوال دادی چی مسجد لپاره کومه چنده کیږي آیاله دغی چندی نه قرض اداکول جائزدي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) د محلی دخلکو دزیاتوالي له کبله په مسجد کی پراخي او وسعت راوستل ضروري وي نوتاسی بالکل یی پراخولی شئ که چیرته د مسجد پخوانی تعمیر محکم وي نو هغه مه ورانوئ، بلکی په کوم بلی طریقي سره مسجد پراخ کړئ. او کوښښ وکړئ چی لږی پیسې ولګیږي. کوم خلک چی چنده ورکوي هغوی ته باید وویل شي چی د مسجد خلکو له بل ځانه قرضونه اخستي او زمونږ دسفر خرچ انتظام یی کړی دی، ستاسی له دی چندی نه هغه قرض هم ورکول کیږي نوپه داسی صورت کی د چندې له پیسو نه قرض اداکیدی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

په مسجد کې دویم چت جوړول اودلاندیني چت پریښودل څنګه دي ؟:

(۱۷۴ سوال) زمونږ په مسجد کې د دویم منزل جوړولو پروګرام دی اولدیسه وروسته دخه خلکو خیال دی چې جمع په همدغه برنی منزل کې اداکړی شي. داسې کول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) داسې کول بالکل جائز نه دي. لاندینی منزل چې دکلونو کلونو راهیسی پکې لمونځونه شوي دي او هلته په لکونو سجدې شوي دي ددغه ځای پریښودل او بره په دویم منزل کې په جمعی سره دلمونځونو کولو اجازه هرګز نشي ورکول کیدی. لاندینی منزل په کنډر بدلیږي او حرمت یې نه پاتي کیږي، لهذا پکار دي چې د مسجد په لاندیني منزل کې دی لمونځونه اداکړي، امام دی په لاندی منزل کې په لمونځ دریږي که چیرته په لاندی منزل کې خلک تنګ وي اوصفونه ډک شي نو پاتي لمونځ ګذاری دی برمنزل ته وخیژي او همغلته دی صفونه جوړ کړي فقط والله اعلم بالصواب.
ددغی مسئلې نور تفصیل دی په (مکروهات صلوات) باب کې ولوستل شي.

د مسجد د چت د اوبو باهر ویستلو لپاره له مسجد نه لاندی حصه کې ویاله جوړول:

(۱۷۵ سوال) د مسجد دچت اوبه دناوی په ذریعه لاندی مسجد نه بشکته کول اوبیا دویالې په ذریعه چې مسجد کې دننه وي باهر ویستل څنګه کار دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب) مسجد له دنیا او مافیها څخه افضل ترین او مقدس ترین ځای دی. د مسجد ظاهر هم معطر او خوشبو ساتل ضروري دی، مسجد تحت الثری پورې د مسجد په حکم کې دی. نو کله چې د مسجد دچت اوبه د مسجد له دننه نه تیریږي نو قوي امکان دی چې په دی کې د مونږکانو، پیشوګانو او کارغیو نجاست ګډوي نو دداسې اوبو دمسجد لاندینه تیرول ښه کار نه دی او ددی اجازه نشي ورکول کیدی. فقط والله اعلم بالصواب.

(۱) د مستحکم او مضبوط مسجد ورانول او پرځای یې نوی تعمیر جوړول:

(۲) دماشومانو دديني تعليم ضرورت .

(۱۷٦ سوال) زمونږ دمحلي خلکو اراده ده چي دپخواني مسجد تعمير وران کړي اوپرځای لوی تعمير جوړ کړي ترڅو په مسجد کي دلمونځ گذارانو لپاره پراخ ځای پيداشي. خبره داده چي د مسجد مخکيني تعمير ډير کلک او مضبوط دی ترډير وخت پوري دوزانيدو هيڅ امکان نشته، مسجد ته متصل يولوی صحن هم موجود دی که چيرته په دی باندی چت واچول شي نو تقريبا پنځه سوه لمونځ گذارانو لپاره صفونه راتلی شي. په داسي حالت کي د مسجد شهيدول څنگه دي؟ که چيرته پوره مسجد له نوی سره جوړ کړی شي نو شپيته لکه روپۍ خرچه وربانديی راځي اودا خرچه د چندی په کولو سره پوره کيدای شي. تاسي په دی باره کي زمونږ رهنمايي وکړئ چي څه وکړو؟ بينوا توجروا.

(جواب) په مسئوله صورت کي زه تاسوته دا وايم چي کله د مسجد تعمير مضبوط او محکم دی او مسجد ته متصل صحن هم موجود دی اوپرهغه باندی دچت په اچولو سره په مسجد کي پراخوالي راوستلی شي نوله څه ضرورت نه بغير د مسجد عمارت ورانول اوبيا له خلکونه دچندې سوال کول د شريعت له نظره جائزنه دی، داهسي اسراف اوفضول خرچي ده. تاسي دخپل ضرورت په اندازه په صحن باندی چت جوړکړئ اوپه ساده طريقې سره يي اباد کړئ. نن سباچي خلک په ۴۰، ۵۰، ۸۰ لکو روپيو په مصرفولو سره مسجد جوړوي هغه هسي دفخر اوريا لپاره وي، په دی زمانه کي د ډير لوی او ښکلي مسجد پرځای د ماشومانو ديني تعليم ته ډير زيات ضرورت دی که چيرته ماشومان له دين څخه ناخبره پاتي شي نو ايمان يي په خطره کي غورځيږي. دهغوی پوره مسئوليت زمونږ په سردی په قرآنکريم او نبوي حديث کي دماشومانو ديني تعليم ته ډير زيات اهميت ورکول شوی دی اوتاکيد يي کړی دی چي خپل ماشومان له ديني تعليم نه آراسته او ښکلی کړئ. په قرآنکريم کي الهی ارشاد دی:

يا ايها الذين امنو قوا انفسكم واهليكم ناراً.

ای مؤمنانو! تاسي خپل ځانونه او خپله کورنۍ ته ددوزخ له اورنه نجات ورکړئ.

له دوزخ نه دبچ کولو طريقه يوازی همدا کيدای شي چي هغوی له ديني تعليم نه خبر کړو اوله ماشوم توب نه ورته ديني تعليم زده کړو او وربانديی دعمل کولو عادي وگرځوو.

په يو حديث کي دي :

مروا اولادکم بالصلوة وهم ابناء سبع سنين واضربوهم عليها وهم ابناء عشر سنين وفرقوا بينهم في المضاجع (ابوداود شريف کتاب الصلوة باب متی يومر الغلام بالصلوة).

خپل اولاد ته دلمونځ کولو حکم وکړئ هله چې هغوی داووه کلو وي، کله چې دلسو کلو شي نودلمونځ نه لوستلو په صورت کې هغوی ووهئ اوپه همدغه عمر کې ورته بسترې جداکړئ ماشوم دلسو کلو وي يا اوو کلو هغه مکلف نه وي اولمونځ وربانذې فرض شوی نه وي مګر دی لپاره چې له ماشوم توب نه په لمونځ واوړي دلمونځ کولو حکم ورته شوی دی په يو حديث کې دي: (طلب العلم فريضة على كل مسلم) (مشکواة کتاب العلم).

په هر مسلمان سړي اوښځې بانذی علم حاصلول فرض دي. (ابن ماجه).
نوځکه خپلو اولادو اود قوم ماشومانو ته د علم ورزده کول ضروري دي، ماشومان خپله عقيده ددينې علم په ويلو زده کولی شي اودخپلو اعمالو صحيح کولو عادي کيدلی شي، له علم نه پرته انسان په حقيقت کې يتيم دی.
يو عربي شاعر دعلم په باره کې ښومره ښه ويلي دي:

ليس اليتيم الذی قدمات والده
ان اليتيم يتيم العلم والادب

يتيم هغه نه دی چې دهغه پلار مړشوی وي. په حقيقت کې يتيم هغه دی چې دعلم ا ادب له دولت نه محروم وي.
لهذا دماشومانو پردينې تعليم بانذی دپوره پاملرنې او توجه کلک ضرورت دی. په يوحديث کې دمحمدصلی‌الله عليه وسلم مبارک ارشاد دی: لان يودب الرجل ولده خيرٌله من ان يتصدق بصاع. خپل اولادته ادب ښودل ديو صاع دغلې له خيرات کولو نه افضل دی. (يوصاع دري نيم کيلو غله ده) (ترمذی شريف).

په يوبل حديث کې دي چې محمدصلی‌الله عليه وسلم وفرمايل : (مانحل والد ولده من ادب حسن) هيڅ يو پلار خپل ماشوم ته له نيک ادب بله بهتره اوښه عطيه نه ده ورکړې (ترمذی شريف). (ابواب لبروالصلة باب ماجاء فی ادب الوالد).

لدينه معلومه شوه چې ماشوم ته دعلم او ادب له زده کولو نه پرته بل نبه څيزنشته. داد هر مسلمان فرض دی چې خپلو ماشومانو ته ديني تعليم او ادب ورزده کړي دقيامت په ورځ هم ددی پوښتنه کيږي چې ماذا علمته وماذا ادبته. تاخپل ماشوم ته څه تعليم ور زده کړی و او څه ادب دی ورته ښودلی و؟ په فتاوی رحيميه كتاب العلم كې دي چې کوم خلک خپل ماشوم له ديني تعليم نه ناخبره ساتي ددی ګناه دهغه په پلار او مور باندی ده‌لهذا دا ډير د ګناه او تاوان خبره ده چې ماشومان له ديني تعليم نه ناخبره وساتلی شي په يو حديث كې دي چې محمدصلی‌الله عليه وسلم وفرمايل:

منْ وُلد له ولدا فليحسن اسمه وادبه. د چاپه کور کې چې ماشوم پيداشي نوپرهغه لازم دي چې پرهغه ښه نوم کيږدي او ادب ورته وښايي.(مشکواه شريف ص ۲۷۱. باب الولي فی النکاح واستيذان المرءة)

همدغه راز په بل حديث كې دي :(مامن مولود الا يُوْلَدُ علی الفطرة فابواه يهودانه وينصرانه او يمجسانه) هرماشوم په فطرت باندی پيداکيږي مګر دهغه پلار او مور دغلط تعليم او ترتيب سره له هغه نه يهودي جوړوي، يانصراني اويا مجوسي.(مشکواه شريف ص ۲۱ باب الايمان بالقدر).

نن سبا مونږ دقوم په لحاظ سره خو مسلمانان يو مګر عملاً زمونږ صورت او سيرت بالكل بدل شوی دی اوپه هرڅيز كې مود الله درسول سنت پريښي ديهود، نصارا او هندوانو طريقې مو خپلې کړي دي، همدغه حال زمونږ د اولادهم دی. الا ماشاء الله انا لله۔ العياذ بالله والی الله المشتکی.

علامه اقبال مرحوم فرمايي :

شور هے هوگئے دنيا سے مسلمان نابود
هم يه کهتے هين که تهے بهی کهين مسلم موجود
وضع مين تم هو نصاری تو تمدن مين هنود
يه مسلمان هين جنهين ديکه کر شرمائين يهود

ترجمه: هر لوری داشور دی چې په دنيا کې مسلمانان نابود شوي دي. مونږ وايوچې ايا کله مسلمانان هم موجود وو. په وضع کې ته نصاری يې او تمدن کی هنود دا داسی مسلمان دې چې په ليدلو يې يهودي هم شرم کوي.

ددې خبرې ډیر سخت ضرورت دی چې دغفلت له خوب نه بیدار شوو، دنوی نسل دایمان حفاظت له دیني او اسلامي تعلیم او ترتیب پرته ډیر مشکل دی له دیني تعلیم او تربیت نه پرته د عصري تعلیمونو زده کول دایمان لپاره ډیر لوی خطر دی. په دی سره اسلامي اخلاق او عادات خرابیږي، دهغوی په زړونو کی ددین اوشریعت څه عزت او احترام نه پاتی کیږي په اسلامي احکامو کی شکوک او شبهات ورته پیداکیږي او نوبت تردی رسیږي چې د مسلمانانو اولادونه ملحد او زندیق کیږي.
زمونږ نیکونه اوپلاران ډیر اوچت خلک وو خو یوازی پرهغوی فخر کول کافی نه دی پخپله هم دشریعت متبع کیدل او رښتونی جوړیدل ضروري دی اوله خپل اولادنه هم دشریعت متبع او صحیح مسلمان جوړول ضروري دي.
علامه اقبال په دی باره کی څومره ښه ویلي دي:

تھے تو وہ آباء تمھارے ھی مگر تم کیا ھو
ھاتھ پر ھاتھ دھرے منتظر فردا کیا ھو
یون تو سید بھی ھو، مرزا بھی ھو افغان بھی ھو
تم سبھی کچھ ھو، بتاؤ تو مسلمان بھی ھو؟
وہ زمانے میں معزز تھے مسلمان ھوکر
اور تم خوار ھوئے تارک قرآن ھو کر

لنډه داچې دا ډیره ضروري ده چې ماشومان په دیني ګانه ښکلي کړی شي نوځکه په مسئوله صورت کی دمسجد خپل تعمیر په اصل حالت کی پریږدئ اوپه صحن باندی په چت اچولو سره کار روان کړئ.
دحکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فتوی:
(۷۴۴ _ سوال) زما ورور الهی بخش بلاسپوری نومي یوځای کی پنځه شپږ کاله وړاندی یو مسجد جوړ کړی و مګر اوس څه خلک غواړي چې هغه شهید کړي اوله نوی سره یې جوړ کړي، شکایت صرف دومره دی چې دباران په وخت کی له چت نه باران څڅیږي، خو زما ورور له شهیدکولو نه انکار کوي، مګرخلک ورسره نه مني اود بیاجوړولو اصرار کوي.
(جواب) که یوازی د چت شکایت وي نو دچت مرمت دی وکړی شي همدومره کافی دی. له ضرورت نه پرته د زوړ مسجد وړانول صحیح کارنه دی. الخ. (امداد الفتاوی مطبوعه کراچی ص ۶۰۸ ج ۲).

د مسجدونو احترام ډير ضروري دى فقهاى كرامو خوله ضرورت نه بغير د مسجد په چت باندى ختلوته هم مكروه ويلي دي (الصعور على كل سطح مسجد مكروه) دهر مسجد په چت باندى حتل مكروه دي (فتاوى عالمگيرى ص ۳۲۲ج ۵ كتاب الكراهيه باب۵)
اوس نو تاسي غور وكړئ چى دمسجد شهيد كولو لپاره په چت باندى خو خو كرته ورختل ضروري ده اوخومره ډير خلک به خيژي؟ او ختونكي خلک به ثنګه خلک وي ايا هغوى به دمسجد احترام كوي اوكه نه؟
زمونږ په زمانه كى چى كورونه څنګه ښكلى جوړولې شي كه چيرته مسجدهم د كورونو پشان ښكلي جوړكړى شي نو فى نفسه جائز اوښه كاردى. خوكه چيرته په دى كى دفخر اوشهرت مطلب وي نو بياهغه ته دقيامت نښه ويل شوى دي.
په حديث شريف كى دي:
عن انسٍ رضىالله عنه قال قال رسول الله صلىالله عليه وسلم ان من اشراط الساعة ان يتباهى الناس فى المساجد. (رواه ابوداؤد والنسائى والدارمى وابن ماجه).
له حضرت انس رضىالله عنه نه روايت دى چى محمدصلىالله عليه وسلم ارشاد فرمايلى دى چى دقيامت له نښو څخه يوه نښه داده چى خلک به دمسجدونو په جوړولو كې يوپر بل باندى فخر كوي. (مشكوات شريف ص ٦٩ باب المساجد و مواضع الصلواه). د مشكوات شرح مرقات كى دي چى (قوله ان يباهى الناس فى المساجد اى فى شأنها او بنائها يعنى يتفاخر كل احد بمسجده ويقول مسجدى ارفع او ازين او اوسع او احسن رياء وسمعة واجتلا باللمدحدحدة(مرقاة شرح مشكوة ص ۲۰٦ ج ۲ ايضاً مطبوعة مكتبه امداديه ملتان) فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد دپخوانى خښتو او نورو شيانوحكم:

(۱۷۷ سوال) زمونږ مسجد ډير زوړ شوى دى غواړو چى هغه شهيد كړو اوپرځاى يې نوى تعمير جوړ كړو، دمسجد مخكينى خښتې او نور شيان دي چيرته استعمال كړى شي؟ اوكه پرچاباندى خرڅ كړو نوپه شريعت كى ددى څه حكم دى؟ بينوا توجروا.
(خواب) د مسجد پخوانى خښتې ، خاوره او نور شيان يې داحترام وړ دي، پكاردى چى بيرته په مسجد كى استعمال كړى شي يابل كوم مسجد باندى چى ضرورت يې وي

خرڅ کړی شي په ناپاک او نامناسب ځای کې استعمال نه کړی شي. په درمختار کې دي چې

ولا ترمى براية القلم المستعمل لاحترامه كحشيش المسجد وكناسته لا يلقى في موضع يخل بالتعظيم.

دمستعمل قلم بُور د تعظیم وړدی هغه باید په خراب ځای کې ونه غورځول شي لکه چې د مسجد بروزه په داسې خراب ځای کې وانه چولی شي چې هلته دهغې بې ادبي کیږي. درمختار مع الشامي ج ۱ ص ۱۶۵ کتاب الطهاره).

اوکه چیرته د خرڅولو ضرورت وي نو پرکوم مسلمان باندی دی خرڅ کړی شي او هغه ته دی ووېل شي چې داد مسجد خښتې دي، په داسې حال کې دی استعمال کړی شي چې هلته ددی بی ادبي نه کیږي، په کافر باندی دی هرګز خرڅې نه کړی شي ځکه چې ددی دبی ادبي قوي خطره ده. فقط والله اعلم بالصواب.

مسجد، مدرسه او سکول لپاره په ګډه چنده راغونډیږي ایادهر یو حساب جلا جلا ساتل پکاردی اوکه څنګه ؟

(۱۷۸ سوال) زمونږ د مسلمانانو تر اداري لاندې سکول (مکتب) او مدرسه دواړه یوځای کارکوي په دی کې یو مسجد هم شامل دی. لدینه پرته په اطراف کې هم دهمدغی اداري لاندې نورې اداري هم کارکوي، دمسجد او مدرسې تعمیري کارونه هم دهمدغې اداري لاندې کارکوي. سوال دادی چې د مذکوره اداروله طرف نه په کال کې یوځل د مسجد، مدرسه او مکتب لپاره یوځای چنده کیږي دمدرسې مسجد او مکتب په نوم جلا جلا چنده نه کیږي اوداطریقه له پخوانه روانه ده اودی لپاره چې کومې چندی کیږي هغه ټول په مشترک ډول په درې واړو باندی لګول کیږي، آیا زمونږ دغه طریقه صحیح ده اوکه نه؟ په دی باره کې مونږ ته ځواب راکړئ. بینوا توجروا. (زامبیا).

(ځواب) داچې له وړاندی نه دادستور را روان دی چې دټولو کارونو لپاره یوځای مشترک چنده کوي، او چنده ورکوونکی هم په دی خبردی چې زمونږ داچنده په دغو

کارونو کې لګول کیږي اوهغوی په دی باندی رضادي نو په داسی صورت کی ګد استعمالول هم صحیح دي او جلا جلا دحساب ساتلو هم ضرورت نشته.[۱]
داخبره دی په نظر کی ونیول شي چی په دغو مذکوره کارونو کې یواځې دالله په نامه ورکول شوې پیسې مصرفولی شئ د زکات، خیرات او واجبه صدقاتو پیسې په دې کې نشئ مصرفولې اوکه استعمال یی کړئ نو زکات او وجبه صدقات نه اداکیږي فقط والله اعلم بالصواب.

دمسجد کافی آمدنی باوجود امام ته لږ تنخواه ورکول:

(۱۷۹_ سوال) زمونږ د مسجد امام ماشاالله متقی او صالح انسان دی. دکلونو کلونو راهیسې په ډیر صحیح طریقې سره امامتي کوي. دجمعې لمونځ او خطبه هم دهغه په سرده، عیال داره هم دې، دمسجد آمدن هم کافی ډیر دې، لیکن د مسجد متولی له پخوانه چی کوم معاش ورکوي اوس هم همغه معاش ورکوي او اضافه په کې نه کوي. مقتدیان متولي ته دتنخوا د زیاتولوخبره کوي خو هغه غوږورباندی نه ګروي، امام صاحب هم د تنخواه د زیاتولو په باره کې څه نه وایي مګر مونږ دهغه د غریبی له حالت نه خبریو، اقتصادي حالت یی ډیر خراب او کمزوری دی د متولیانو داکارڅنګه دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب) داچی د مسجد آمدني ښه ډیره ده او امام له ډیرې مودې نه دامامت فرائض اداکوي، دجمعې لمونځ هم ورپه غاړه دې، متقی او نیک انسان هم دی، په کور کی عیال داره هم دی نود مسجد په متولیانو باندی لازم دي چی دهغه تنخواه دګرانی اوقیمتی په حساب سره زیاته کړي، داچی مسجد کافی آمدني لري مګر متولیان بیاهم د امام تنخوا نه زیاتوي نوداد متولیانو ظلم دی . فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۳۰۳، ص ۳۰۴ فقط والله اعلم بالصواب.

مسجد ته متصل قبرستان کی دمسجد ضرورت لپاره بورنګ کول څنګه دي؟

---

[۱]– وقف مصحفا علی اهل مسجد للقرأة ان یحصون جاز و ان وقف علی المسجد جاز ویقرأ فیه ولایکون محصوراً علی هذا المسجد الخ. درمختار مع الشامی مطلب حتی ذکر للوقف مصرفا الخ ج ۳ ص۵۱۹.

(۱۸۰ سوال) په مسجد کې داوبوضروت دی مسجد ته نږدی یو ورکوټې قبرستان دی چې د مسجد په احاطه کې دننه دی ایادهغه په یوه څنډه کې بورتګ کول جائز دي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) مسجد ته متصل دزمکې کومه حصه چې ده ظاهره ده چې هغه به دمسجد وقفي زمکه وي اوهلته مخصوص قبرونه وي، کیدی شي دځینو دیني بزرګانو قبرونه وي،نوپه داسې ځا کې چې قبرونه وي بورنګ کول صحیح او جائز دی خوداخبره دې په ذهن کې وساتل شي چې دقبرونو بې احترامي ونشي، هلته شور ماشور ونه کړی شي احتیاطاً دی دقبرونو اودبورنګ ترمنځ په ځای کې ورکوټې غوندی دیوال ودرول شي ترڅو فرق پیداشي او قبرونه له بی ادبی نه محفوظ پاتې شي. (والله اعلم بالصواب).

د مسجد صحن ته متصل د مسجد کور دی دهغه په کرایه ورکول څنګه دي ؟

(۱۸۱ سوال) د مسجد صحن ته متصل کور کرایه دارخالي کړی دی اوس چې کوم خلک دا کور په کرایه غواړي په هغوی کې مسلمانان او کافران دواړه دي، خوکافران دزیاتې کرایې د ورکولو لپاره تیار دي، کوم یو کس ته کرایه ورکول غوره ده؟ بینوا توجروا.

(ځواب) الحمدلله نن سبا دعلماء کرامو او تبلیغي ورونو په کوشش سره دلمونځ ګذارانو تعداد مخ په زیاتیدو دی، همدغه راز دخلکو نفوس او آبادي هم مخ په زیاتیدو ده نو ځکه عموماً د مسجدونو دپراخولو ضرورت مخې ته راځي، که چیرته مسجد ته نژدی د مسجد خپل ځای وي نو دمسجد د پراخولو کار ډیر په آسانۍ سره کیږي، خرنګه چې خالي شوی کور مسجد ته بالکل نژدی او متصل دی نو داځای چاته په کرایه مه ورکوئ بلکې مسجد لپاره محفوظ وساتئ ترڅو د مسجد دپراخولو په وخت کې څه مشکلات پیدانشي، ځکه چې زیاتره وخت کرایه دار کورنه خوشې کوي اود مسجد د پراخولو کار له ځنډ او تعطل سره مخامخ کیږي،لهذا د مسجد منتظمینو ته پکاردي چې داکور پخپل قبضه کې وساتي او هیچاته په کرایه ورنه کړي. فقط والله اعلم بالصواب.

(۱)د مسجد د جوړولو په وخت کی دجمعی لمونځ او آذان بندول:

(۲) په کوم دکان کې چې شراب او حرامه غوښه خرخیږي دهغه په برني چت کې په جمعې سره لمونځ کول:

(۱۸۲ سوال) زمونږ مسجد ډیر تنګ دی دهغه د ورانولو او پراخولو ډیر زیات ضرورت دی مونږ ددی دپراخولو اراده کړیده. ددی په جوړولو کې به تقریباً دوکاله ولګیږي. په دی وخت کی به هلته لمونځ کول ډیر ګران وي نوپه بل ځای کی دجمعی لمونځ کول څنګه دي؟

(۲) زمونږ اراده داده چی په مسجد کی دکار په اوږدو کې لمونځ دیو کور په برني چت کی په جماعت سره اداکړو خو دی لاندی دشرابو اودحرامو غوښه دکانونه دي نو ایاپه دغه ځای کی لمونځ کولې شو اوکه نه؟ (ری یونین).

(خواب)د مسجد د جوړولو په وخت کی په مسجد کی آذان او لمونځ بندول بالکل مناسب نه دي، دلمونځ په ټولو وختونو کې باید آذان هم وکړی شي اوپه جمعی سره لمونځ دی هم وکړی شي اګرچی ډیر کم خلک پکی ځای شي. برابره خبره ده چی په مسجد کی دننه وي یا باهرپه صحن اواحاطه کې.

(۲) دکومو لمونځ ګذارانو لپاره چې په دغه مسجد کې ځای پیدانشي هغوی دی چیرته بل مسجد ته لاړشي، هلته به هم دجمعی اوهم د مسجد ثواب وګټي، خوکه چیرته په کلي کی بل مسجد نه وي یاډیر لری وي نوپه کوم هال یا کور کی دی د جمعی لمونځ اداکړي، ځانله دی نه اداکوي تاسی چی دکوم کور یادونه کړیده چی لاندی دشرابو او مردارو غوښو دکانونه دي دهغه په چت باندی لمونځ اداکولی شئ. فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته په شرعي مسجد کې ښځې ځانله لمونځ ولولي نو په دی سره د مسجد حق اداکیږي اوکه نه؟:

(۱۸۳ سوال) احمد په یوځای کی د ماشومانو لپاره مدرسه جوړه کړی ده اوددغې مدرسې په احاطه کی یوشرعي مسجد هم جوړ کړی دی چی پکی محراب منبر او منارې هم شته هلته د مدرسې شاګردانو او استاذانو په جماعت سره لمونځ اداکاو.

لدینه وروسته احمد مدرسه بل ځای ته منتقل کړه اوپه دغه ځای کی د جنوکیانو مدرسه یې شروع کړه اوس په دغه مسجد کې شاګردان اودهغوی استاذان لمونځونه کوي. اذان اقامت او جمعی لمونځ پکې کیږي ایا دا صحیح ده؟ ایاهلته پنځه وخته په جمعی سره لمونځ کول ضروري دي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په مسئوله صورت کی کله چی مسجد شرعي دی اودشرعي مسجد په نیت یې جوړ کړی دی نوپه هغه کې دسړو پنځه وخته لمونځ له آذان او اقامت سره ضروري دی. داچی ښځې هلته خانله لمونځ کوي نوپه دی سره دشرعي مسجد حق نه اداکیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

د مدرسې په نوم له چاندې غونډولو نه وروسته دکور اخستل اوپه هغه کې د مدرسې پرځای مکتب جوړول:

(۱۸۴ سوال) مونږ پخپله علاقه کی چنده وکړه او یو کور مو دمدرسې لپاره واخست ترڅو هلکان او جنوکیانې پکې قرآنکریم او نور دیني سبقونه ووایي، هلته ډیره ښه مدرسه مو روانه کړه، څه وخت وروسته انتظامیه بدله شوه، څه موده بعد انتظامیې هغه بالکل بنده کړه اوهلته د جنوکیانو مکتب یې روان کړ، دمدرسې دبندیدو په وجه ددې علاقې خلک ډیر خفه شول، نو هغوی یوځل بیا دمدرسې لپاره ځای واخست او هلته یې مدرسه جوړه کړه. دلته سوال دادی چی:

(۱) ایاد مدرسې بندول او هلته د مکتب جاري کول جائز دي؟ ځکه چی دامځکې د مدرسې په نوم آخستل شوی وه او خلکو دمدرسې په خاطر چنده ورکړې وه.

(۲) د مکتب انتظامیه مدرسه نه جاري کوي او مدرسې ته پیسې هم نه ورکوي هغوی لپاره دشریعت څه حکم دی ؟

(۳) د مځکینې کور چی کوم عمارت اوپاتی شوی پیسی دي ایا هغه موجوده مدرسې ته ورکړی شي اوکه نه؟ ځکه چی مځکنیو خلکو کومه مدرسه جوړه کړی وه په همغه نوم سره دویمه مدرسه هم جوړه کړیده، په دی کی څه کسان هم شامل شویدي بینوا توجروا.

(ځواب هوالموفق) (۱_۲ ۳) دکوم مقصد لپاره چی چنده شوی ده دهغه لحاظ ساتل اودهغه په مطابق عمل کول لازم او ضروري دي له هغه نه مخالفت کول جائزنه دي. په مسئوله صورت کی چی په لومړي ځل د مدرسې په نوم چنده شوی ده او چنده

ورکوونکو د مدرسې لپاره پیسې ورکړی وې نو هغه پیسې پایه هغو پیسو اخستل شوی کور باید د مدرسې لپاره استعمال شي نه دمکتب لپاره.[1]

شامی مطلبٌ متی ذکر للوقف مصرفا الخ. په دغه کور کی ددیني تعلیم بندول بالکل جائزنه دی. داد چنده ورکوونکو دمنشاء په خلاف عمل دی لهذا د مدرسې لپاره چې کوم کور دی هغه باید دیني تعلیم لپاره استعمال کړی شي په مذکوره صورت کې ددیني تعلیم لپاره بل خای اخستل شوی دی او هلته مدرسه جوړه شوی ده. که چیرته فی الحال مدرسې ته د مخکیني کور ضرورت نه وي. نوکه چیرته هغه کور باقاعده د مدرسې لپاره وقف کړی شوی وي اوپه وقف نامه کی دضرورت په وخت کې دبدلولو وضاحت نه وي شوی نوپه داسې صورت کی هغه کور دمکتب په خلکو باندی خرڅول اودهغه پیسې آخستل بالکل جائز نه دي، بلکې هغه کوربه د مدرسې لپاره وقف وي. مکتب والا خلک ددغه کور مالکان مطلقاً نشي جوړیدلې . هغوی باید کور خالي کړي او مدرسې ته وسپاري، اوکه چیرته فی الحال ددغه کور څه ضرورت ورته نه وي مگر دمکتب خلکوته ضرورت وي نو هغوی دکرایه په توګه داکور استعمالولی شي دمیاشتې په حساب سره دی کرایه ورکوي اوهغه پیسې دی د مدرسې په ګټه کې استعمال کړی شي کله چې دغه کورته د مدرسې ضرورت پیداشو نو دمکتب چلوونکي دي فوراً داکور خالي کړي او هغوی ته دی وسپاري، کله چې په کرایه ورکول ددی خبرې وضاحت به ښکې ضرور کوي چې کله د مدرسې انتظامیه ددغه کور خالي کول غواړي نو دمکتب منتظمین دی فوراً خالي کړي، خو خبره داده چې څه معلوم وخت پورې په کرایه ورکړي او چې کله وخت ختمیږي نو بیادی له نوی سره عقد وکړي.

اوکه چیرته هغه کور باقاعده د مدرسې لپاره نه وي وقف کړی اویا وقف کړی خو وي مګر په وقف نامه کی دضرورت په وخت کې دهغه دخرڅولو اویاد استبدال اجازه ورکول شوي وي نو مدرسې ته دهغه خرڅول اودهغه قیمت آخستل جایز دي. په دغو پیسو دی د مدرسې لپاره بل خای واخلي اودهغه آمدني دی په مدرسه کې استعمال کړي د مکتب منتظمینو ته پورتنی طریقه باندی عمل کول ضروري دي، همدغه شان د مدرسې منتظمین هم په پورتنی طریقه باندی دعمل کولو اوله مدرسې نه دپاتی شویو

---

[1] - قوله ان یخصون جاز هذالشرط مبنی علـی ماذکره شمس الائمة من الضابط وهو انه اذا ذکـر للوقـف مصرفا لابد فیهم تنصیص علـی الحاجة. الـخ.

پیسو غوښتنه کولی شي که چیرته د مکتب منتظمین په دی طریقه باندی عمل نه کوي نو په امانت کی دخیانت کولو گناه کوي ځکه چې چنده ورکوونکو په دی نیت چنده ورکړی وه چې دهغوی په پیسو سره دیني مدرسه جوړه کړی شي دهغو دمنشاء نه مخالفت کول هرگز جائز نه دي. فقط والله اعلم بالصواب.

(۱)د مسجد تقدس اوپه هغه کی حلال مال مصرفول (۲) دیوسړي گټه له شرابو نه ده هغه په دغو پیسو زمکه واخستله او مسجد لپاره یې وقف کړ هلته اوس مسجد جوړ شوی دی اوله ډیر وخت نه په کی لمونځ کیږي ددغه مسجد څه حکم دی؟

(۱۸۵ سوال) دیوسړي آمدني او گټه له شرابو نه ده هغه لومړی زمکه په قرض واخست او وروباندی قبضه یې وکړه بیا وروسته د هغه قیمت ورکړ، بیایی هغه زمکه د مسجد لپاره وقف کړ، هلته دخلکو په چندو سره مسجد جوړ شوی دی اوله ډیر وخت نه هلته باقاعده لمونځونه کیږي ، هغه سړی اوس مړشوی دی، ځینی خلک هلته له لمونځ کولونه انکار کوي په مذکوره صورت کی ددغه مسجد په متعلق څه حکم دی؟ ایا شرعي مسجد ورته ویل کیدی شي اوکه نه؟ هلته لمونځ کول څنگه دي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) حامداً مصلیا و مسلماً! مسجد دالله تعالی مقدس کور دی، د زمکی په سرله ټولونه غوره اودالله په نزد محبوب ځای دی، په دنیاکی د جنت باغ دی.

په حدیث شریف کی دي:

(۱) عن ابــی هریره رضی‌الله تعــالی عنه ان رسول الله صلی‌الله علیه وسلم قال احب البلاد الــی الله تعــالی مـــساجد ها وابغض البلاد الــی الله تعالی اسواقها (مـــسلم شریف ص ۲۳٦، فضل الـــمساجد).

له حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : دالله تعالی په نزد له ټولونه زیات محبوب ځای او آبادی مسجدونه دي او بدترین ځایونه دهغه بازارونه دي.

(۲) عـــن ابی امامة رضی‌الله عنه قال ان حبرا من الیـــهود سأل الـــنبی صلی‌الله علیـــه وسلم ای البقاع خیر فسکت عنه وقال اسکت حتی یجئی جبرائیل علیه السلام فسکت وجاء جبریل علیه السلام فقال ما الـــمسئول عنها باعلم من السائل ولکـــن اســأل

ربی تبارك وتعالی ثم قال جبرانیل یا محمد انی دنوت من الله دنوا ما دنوت منه قط قال وکیف کان یاجبریل لاقال کان بینی وبینه سبعون الف حجاب من نور فقال(الرب تعالی) شرالبقاع اسواقها و خیر البقاع. مساجدها رواه ابن حبان فی صحیحه عن ابن عمر رضی‌الله عنه (مشکواة شریف ص ۷۱ باب المساجد و مواضع الصلوة فصل نمبر ۲).

له حضرت ابوامامه رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی یو یهودی عالم له نبی کریم صلی‌الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چی په دنیاکی له ټولو نه زیات محبوب ترین ځای کوم یو دی؟ رسول الله صلی‌الله علیه وسلم غلی شو او وی فرمایل چی زما دا چوپتیا د جبریل امین تر راتلو پوری ده، هغه صلی‌الله علیه وسلم غلی و چی جبریل امین علیه السلام تشریف راوړ محمد صلی‌الله علیه وسلم له هغه نه داپوښتنه وکړه خو هغه وویل په دی باره کی له ماسره له تانه زیات علم نشته، زه به له الله تعالی نه له پوښتنې نه وروسته تاته خبر درکړم، لږ وخت بعد جبریل امین واپس راغی او ویی ویل :ای دالله رسوله ! زه دالله په حضور کی حاضرشوم او دومره ورته نژدی شوم چی لدینه مخکی ورته چیرته نه وم نژدی شوی. محمدصلی‌الله علیه وسلم ترینه پوښتنه وکړه هغه نژدی کیدل څنګه وو جبریل امین وویل : زما اود الله تعالی ترمنځ اویازره نوری پردی حائلې وې. بیا الله تعالی ارشاد وفرمایل : ددنیا بدترین ځای بازار او بهترین ځایونه مسجدونه دي.

(۳) عن ابی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اذا مر رتم بریاض الجنة فارتعوا قیل یارسول الله ومارياض الجنة قال المساجد قیل وما الرتع یارسول الله قال سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر رواه الترمذی (مشکوة شریف ص ۷۰).

له حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه څخه روایت ذی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل:

کله چی تاسی دجنت له باغونو نه تیریږئ نو هلته وخرئ،اصحابو کرامو عرض وکړ چی دجنت باغونه څه دي؟ ارشاد یی وفرمایل مسجدونه، بیایی پوښتنه وکړه یارسول الله

ځریدل پکې څه دي؟ ارشاد یې وفرمایل د سبحن الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر ورد کول.
نوځکه پکاردي چې په مسجدونو کې بالکل حلال اوپاک ځیزونه استعمال کړی شي، له حرام او مشتبه مال نه دی ډډه وکړی شي.په حدیث شریف کی دي:
ان الله طیب لایقبل الا الطیب باب فضل الصدقة ص ٦٧. الله تعالی پاک دی اوپاک مال قبلوي. په شامي کی دي: قال تاج الشریعة امالو انفق فی ذلك مالاً خبیثًا او مالا سببه الخبث والطیب فیکره لان الله تعالی لایقبل الا الطیب فیکره تلویث بیته بما لا یقبله اوشرنبلا لیه.
یعنی که په مسجد کی حرام یاداسی مال چې دهغه حصول سبب حرام او حلال دواړه وي خرج کړي نوپه مسجد کی دداسی مال خرچول مکروه دي ځکه چې الله تعالی حلال مال قبلوي، نوځکه داسی مال چې الله یې نه قبلوي، په هغه سره د الله تعالی کور ملوث کول مکروه دي. (شامي١/ ٦١٦ احکام المساجد).
لهذا پکاردي چې د مسجد په زمکه او عمارت دواړو باندی حلال مال ولګول شي. په مسئوله صورت کی چې یوسړي زمکه لومړی په قرض اخستی اوبیا وربانـدی له قبضه کولو نه وروسته د مسجد لپاره وقف کړه، اوس په دی کی داخبره ده.چې دهغه داملکیت صحیح وګڼل شي اوکه نه؟ په دی مسئله کی تفصیل هم دی او اختلاف هم.په عمومي ډول معامله په مطلق توګه ترسره کولی شي ، نه دحرام مال په متعین کولو سره(مشتری هم ژوندي نه دی چې له هغه نه تحقیق وکړی شي) اوپه دی صورت کی دامام کرخي رحمه الله دقول په مطابق (چې پرهغه فتوه هم ده) دمشتري ملکیت په مبیع باندی ثابتیږي (ګویا په دی باندی دحرام اصل مالك باندی ضمان لازمیږي) کله چې په مبیع باندی دمشتري ملکیت ثابتیږي نو په مسئوله صورت کی چې هغه شخص زمکه واخست او مسجد لپاره وقف کړ او هلته مسجد هم جوړشوی دی اوله ډیر وخت نه خلك په کی لمونځونه هم کوي نو اوس د مسجد معطلول مناسب نه دی. لدینه دغلطو نتایجو د پیداکیدو ویره ده.لهذا مذکوره صورت کی دامام کرخي رحمه الله دقول په مطابق په دغه زمکه باندی دمشتری ملکیت په ثابتولو سره دغه وقف ته صحیح ویل کیدی شي اودغه مسجد په شرعي مسجدکی شمارل کیږي اوپه دی کی لمونځ کول صحیح دي.

په در الـمختار کی دي:
(قـوله اکـتسب مالاً حراما) الـمسئلة مافـی التتارخانية حيث قال رجل اکتسب مالا من حرام ثم اشتری منه علـی خمسة او جه اما ان دفع تلك الدراهم الـی البائع اولا ثـم اشتری منه بها. او اشتری قبل الدفع بها ودفعها اواشتری قبل الدفع بها ودفع غيرها او اشتری مطلقاً ودفع تلك الدراهم، اواشتری بدراهم آخـر و دفـع تلـك الدراهم الـی قوله. وقال الکرخی فـی الوجه الاول والثانی لايطيب وفی الثلاث الا خيرة يطيب وقال ابوبکر لا يطيب لکن الفتوی الا ن علـی قـول الکرخـی دفعـا للحرج عن الناس.... الخ. لکن الفتوی اليوم علـی قول الـکرخی دفعـاً للحـرج لکثرة الحرام... اه (رد الـمختار علـی الـدر الـمختار ٤/ ٣٠٤ بـاب الـمتفرقات، مطلب اذا اکتسب مالاً حراماً ثم اشـتری فهذا عـلـی خمسة اوجه، بعد باب الـسلم).
په فتاوی محموديه کی دي:
(سوال) دشرابو په تجارت سره په گټل شويو پيسو سره دزمکـی آخـستل او بيـا مسـجد لپاره دهغه وقف صحيح دی اوکه نه؟
مونږپه شيږم ځواب خلور نمبرکی دابيان کړ چی که داول صـورت پـه مطـابق يی زمکـه خريداري کړی وي نوپرهغه دمشتري ملکيت نـه صـحيح کيـږي اوچـی ملکيـت يی نـه صحيح کيږي نو بياوقف يی څنګه صحيح کيدای شي؟ اوکه چيرته آخري دری صورتونو په مطابق خريداري کړی وي نودکرخي په نزد د مشتري ملک ثابتيـږي نـولهـذا د هغـه وقف هم صحيح دی. (فتاوی محموديه ص ۳۸۷، ۳۸۸ ج ۹). په فتاوی محموديـه کـی اوه سوالونه او ځوابونه دي هغه ټول ولـولئ اولـه نظـره يی تـير کـړئ. همدغـه راز پـه همدغه فتاوی کی ص ۲۱۳، ۲۱۴ جلد۵ ملاحظه کړئ فقط والله اعـلم بالصواب.

(۱) دلمـونځ وخت مقروول اوپه دی کی د رد اوبـدل کولـو حـق چاته دی؟

(۲) د وخت دبدلولو لپاره اعلان ضروري دی اوکه یوازې په تخته باندې لیکل یې کافي دی ؟

(۱۸٦ سوال) د لمونځ د وختونو ټاکل او مقررول د چا حق دی؟ ایا مقتدي او متولي پدې کې مداخله کولی شي؟ ځینې وایي چې داد متولي حق دی.

(۲) کله چې دلمونځ وخت بدل کړی شي نودهغه اعلان ضروري دی اوکه دمسجد په تخته باندې لیکل یې کافي دي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) د لمونځ د وخت دټاکلو اوپه دې کې درد اوبدل کولو اصل حق دامام دی البته د مسجد متولي او نور خلک د امام ادب او احترام په نظر کې ساتلو سره کولی شي امام ته مناسبه مشوره ورکړي خو زبردستي وربانـدې نشـي کـولې. خـو امـام دی د لمونځ وخت په مقررولو کې د مقتدیانو سهولت هم په نظـر کـې بایـد ونیسـي د آذان او لمونځ ترمنځ باید دومره فاصله او وخت کیږدي چې لمونځ ګذاران لـه خپـل طبعـي حاجت نه فارغ او د جمعي په لمونځ کې شریک شي، ددې خیال دې هم وساتي چـې په لمونځ کې زیات نه زیات خلک شریک شي، پخپلو منځونو کې اتفـاق او اتحـاد سـاتل ضروري دي، دامام صاحب احترام او ادب ضروري دی باید هغه خپل امیر وګڼـل شـي. دلمونځ وخت د مقررولـو لپـاره دلمـونځ د وخـت ابتـداء او انتهـا معلومـول پکـار دي، همدغه راز داهم ضروري دي چې صبح کاذب، صبح صادق، زوال، اصلي سایه، یو مثل دوه مثل، شفق احمر او شفق ابیض معلوم کړی شي، په دې باندې صرف علماء حضرات ښه پوهیدلی شي نو ځکه دې کار لپاره امام له ټولو نه زیات موزون دی. زمونږ په زمانـه کې تقویم او جنتري ګانې چاپ شوې دي اوهر چیرته ترلاسه کیږي، لـیکن کـوم شیان چې اصل دي هغه خو دي اصل له هغـوی نـه مستغنی کیـدای نـه شـو، لـه تقـویم نـه دلمونځ وخت د معلومولو لپاره تعاون خو ترلاسه کـولی شـو لـیکن د هغـه دار او مـدار ګرځول اوپه هغه کې لیکل شوی د هرې دقیقې او منټ پابنـدي کـول صـحیح نـه دي خصوصاً د باران په وخت کې.

(۲) اعلان دې هم وکړی شي اوپه توره تخته باندې دې هم ولیکـل شـي ترڅـو لمـونځ ګذارانو ته دلمونځ وخت معلوم شي اوجمع ترینه فوت نشي. فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد د جوړولو په غرض مو چنده وکړه بیاپه دغو پیسو دیوسړي په نوم مو زمکه واخستله او هلته مو مسجد جوړ کړ ایا هغه مسجد شرعي دی اوکه نه؟

(۱۸۷سوال) دیو مسلمان کلي اوسیدونکو پخپلو کی چنده وکړه اود مسجد جوړولو په نیت یی له یو غیر مسلم سړی نه په بیع واخست ، خرنګه چی د زیاتوخلکو په نوم ددغی زمکی بیع نامه ګران کار و نوځکه مودکلي دیوسړي په نوم دا زمکه واخسته دقوالی ترلاسه کیدونه وروسته د عامو مسلمانانو په چنده پردغه زمکه مسجد جوړ کړی شو، تقریبا اتو کلو راهیسی په دی مسجد کی په جماعت سره لمونځونه کیږي، اوس ځینې خلک وایي چې چون زمکه دیوسړي په نوم ده اوهغه تراوسه پوری دمسجد لپاره نه ده وقف کړی، نولهذا دا مسجد دیو واحد شخص ملکیت دی، ددغو تنازعاتو په رڼاکې دامسئله د وضاحت اړدی چی :

(۱) ایاپه دی مسجد کی په جمعی سره لمونځ کیدای شي اوکه نه؟

(۲) د وقف نه کولو په صورت کی ددغه مسجد په باره کی دشریعت څه حکم دی؟

(۳) دکوم سړي په نوم چی د مسجد زمکه ده هغه تراوسه پوری قصدا پخپل نوم ساتلی ده نوپه دی سلسله کی دشریعت څه حکم دی؟ مهرباني وکړئ دشریعت په رڼاکې ځواب مونږ ته ولیکئ. بینوا توجروا

(ځواب) په مسئوله صورت کی چی دکلي خلکو پخپلو چندو سره د مسجد د جوړولو په نیت کومه زمکه واخستله او مصلحتا هغه زمکه یی دیوسړي په امین ګرځولو سره دهغه په نوم قواله واخستله نوپه شرعي توګه یواځې هغه شخص دزمکې مالک نشي کیدلې اونه په عام ډول داسی شخص خپل ځان مالک ګڼي. په هغه ځای بانـدی د مسجد له جوړیدونه وروسته چی باقاعده په جمعی سره لمونځونه شروع شوي دي له همغه وخت نه هغه ځای شرعي مسجد ګرځیدلی دی او دهغه ځای وقف کیدل هم صحیح دي، په ژبی سره وقف کول هم صحیح دي. (امداد الفتاوی ص ۵۱۵ جلد ۲ مطبوعه کراچی).

لهذا تر اوسه چی څومره لمونځونه هلته په جمعی سره لوستلی شوي دي په هغه کی هیڅ قسم شک او شبه کول نه دي پکار، انشاء الله دجمعی ثواب هم ورته ورکول کیږي اود مسجد ثواب هم. خو آینده لپاره له قانون پوهانو سره د مشورې په نتیجه کی له

دغې ځمکې نه دیوکس نوم منسوخ کړئ اود مسجد په نامه د وقف اعلان وکړئ، ترڅو دضرورت په وخت کې په کار راشي. والله اعلم بالصواب.

په کومون پلوټ کې مسجد جوړول :

(۱۸۸ سوال ، زمونږ داوسیدو ځای ته چې ((کومون پلوټ)) هم ویلی شي او سماج وادی هم. مسلمانان او هندوان دواړه یوځای اوسیږي ایا په دغه ځای کې مونږ مسجد جوړولی شوو یا نه بینوا توجروا.

(ځواب) داچې په دغه ځای کې مسلمانان او هندوان دواړه په ګډه یوځای اوسیږي اوپه دغه ځای باندې د دواړو یوشانتې حق دی خوکه چیرته مسلمانان پخپله خوښه دغه ځای کې مسجد جوړ کړي نو ممکن دی چې که اوس نه وي نو څو کاله وروسته هندوان دحکومت او قانون له لارې مسجد ته د نقصان رسولو کوښښ وکړي،لهذا د مسجد له جوړولو نه وړاندې مسلمانانو ته پکار دي چې داسې یو قانوني لاره جوړه کړي چې ترقیامته پورې مسجدته نقصان ونه رسیږي،مسلمانان باید لومړی د مسجد دجوړولو لپاره اجازت نامه ترلاسه کړي او هندوان په څه ناڅه طریقې سره رضا کړي او ترینه سند اودستخطونه واخلي چې مونږ په دغه ځای کې مسجد جوړولو ته رضایو، دلته د مسجد په جوړولو باندې مونږ او زمونږ اولادونه هیڅ قسم اعتراض نه لري ، مونږ پخپله خوښه له دغه ځای نه له خپل حق نه لاس اخلو او آینده لپاره هیڅ قسم حق دعوه نه کوو په دې ترتیب دی مسلمانان داځای مسجد لپاره وقف کړي او ثبوت لپاره دی وقف نامه هم ولیکي ترڅو دضرورت په وخت کې په کار راشي او دغه ځای دی دیوسړي په نوم ونه لیکل شي که چیرته تاسې داقسم مسجد جوړولی شئ نودبر به که نه نوپه دغه ځای کې عبادت خانه جوړه کړئ، پدې سره د جمعې لمونځ ثواب درته رسیږي لیکن د مسجد ثواب درته نه رسیږي، په دې صورت کې پکار دي چې مسلمانان دشرعي مسجد جوړولو لپاره خپل کوشش جاري وساتي، د مسجد لپاره یوځای دی په پیسو واخلي او هغه دی دمسجد لپاره وقف کړي او ورباندې دی مسجد جوړ کړي ترڅو د مسجد له ثواب نه محروم پاتې نه شي. فقط والله اعلم بالصواب.

دهغه خلکو پیسی په مسجد کی استعمالول چی دتلویزیون او وی سی آر کاروبار کوي:

(۱۸۹ سوال) یوسړی دتلویزیون او وي سي آر د مرمت کارکوي او په همدی کار سره پیسې ګټي، لدینه پرته دګټې بله لاره او ذریعه نه لري، هغه له دغه ګټې څخه په مسجد کی هم چنده ورکول غواړي، په دی باره کی څه حکم دی؟ لدینه وړاندی دهغه په پیسو سره د مسجد زمکه اخستل شویده، په دغه ځای کی مسجد جوړول څنګه دي جائز اوکه ناجائز؟

(ځواب) مسجد دالله تعالی مقدس کور دی، په دی کی بالکل پاک او حلال مال لګول پکاردي اوله حرام یا مشتبه مال نه اجتناب کول پکاردي. په حدیث کی دي:
وَلاَ یقبل الله الا الطیب، الله تعالی صرف پاک مال قبلوي (مشکوات شریف ص ۱٦۷ باب فضل الصدقه فصل نمبر۱).
داخبره بالکل واضحه ده چی تلویزیون او وی سی آر دلهو او لعب آله ده. داد ګناه په کاروبار کی استعمالیږي، ددی مرمت او ریپرنګ کول دګناه په کارونو کی تعاون کول دي. په قرآنکریم کی دي:وَلاَتعَاونوا علـی الاثم والعدوان. د ګناه او زیاتی په کارونو کی تعاون مه کوئ. (قرآنکریم سوره مائده پاره نمبر ٦) دداسی کارونو آمدني او ګټه مشتبه ده داسی پیسی باید دمسجد لپاره قبول نه کړی شي، اوکه چیرته په داسی پیسو مو دمسجد لپاره زمکه اخستی وي نو همدومره پیسی دی هغه ته واپس ورکړی شي اوپه پاک او حلالو پیسو دی دمسجد لپاره زمکه واخستل شي او مسجد ته وقف کړی شي.فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد لپاره په مسجد کی دننه چنده کول:

(۱۹۰_ سوال) له مسنون سلام نه وروسته عرض دادی چی زمونږ په مسجد کی دتوسیع سخت ضرورت دی‌لهذا مونږ د شهیدولو او اودهغه دپراخولو پروګرام لرو. نو څکه دجُمعی د لمونځ له اداکولو نه وروسته د مسجد لپاره دخادرونو په ګرځولو سره چنده کوو ایا زمونږ داکار جائز دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.
(ځواب) بنه صورت دادی چی له مسجد نه بیرون چنده وکړی شي اویادی په مسجد کی دننه په تخته باندی دچندی ورکولو اپیل ولیکل شي، خوکه چیرته په دی طریقه

به چنده نه ټولاسه کيږي او په مسجد کی دننه زياته چنده ټولاسه کيږي، نوپه دی شرط په مسجد کی دننه د مسجد لپاره چنده کول جائزدي چې لمونځ ګذارانو ته تکليف نه وي، د لمونځ ګذارانو له مخی ، نه تيريږي، په مسجد کی شور ماشور نه کوي،د مسجد احترام په خلاف کارنه کوي، له چانه دشرم او عار په ورکولو سره چنده نه آخلي او په چا دچندی ورکولو لپاره زبردستي کوي. ددغو ټولو شرايطو رعايت ضروری دی که چيرته ددی خيال نه کيږي نو بيابه مسجد کی دننه چنده کول جائز نه ده. په شامي کی دي:

والمختار ان السائل ان کان لايمربين يدی المصلي ولا يتخطى الرقاب ولايسأل الحافا بل لا مر لا بد منه فلا بأس بالسوال والاعطاء و مثله فی البزازية ولايجوز الاعطاء اذالم يكونوا على تلك الصفة المذكورة. اهـ (شامی ج۱ ص۷۷۲ الجمعة).

همدغه راز په درمختار کی دي: ويكره الاعطاء مطلقا وقيل ان تخطى، په شامی کی دي: (قوله ان تخطى)... يكره اعطاء سائل المسجد الا اذالم يتخط رقاب الناس فی المختار لان علياً تصدق بخاتمه فی الصلوة فمدحه الله تعالى بقوله ويؤتون الزكاة وهم راكعون.(درمختار و رد المحتار ص ٦١٧ ج١، احكام المساجد). (فتاوی محموديه ص ٤٨٢ ج١). فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد پر زمکه د مدرسې د جوړولو حکم څه دی؟

(۱۹۱ سوال) څه خلکو د مسجد پر زمکه مدرسه جوړه کړيده يوځايي عالم وويل چې دمسجد پر زمکه مدرسه جوړول صحيح نه دی، اوس د مسجد منتظمين غواړي چې په مدرسه باندی خومره تاوان شويدی هغه دی ورته ورکړي او مدرسه دی د مسجد په تحويل کی راولي.

اوس پوښتنه داده چې اياددغه عالم خبره صحيح ده اوکه نه؟ بينوا توجروا.

(جواب) د هغه ځای عالم چې کومه خبره کړی ده هغه بالکل صحيح ده، دمسجد وقف زمکه دمسجد دمصالحو لپاره وقف ده،لهذا هغه زمکه بايد د مسجد دمفاد لپاره استعمال کړی شي، پردغه زمکه باندی مدرسه جوړول صحيح نه دي په مسئوله صورت کی چاچې د مسجد پرزمکه مدرسه جوړه کړی ده د مسجد منتظمين دی همغو مره

پیسی هغه ته ورکړي او مدرسه دی د مسجد په تحویل کی ورکړي، بیادی دغه مدرسه په کرایه ورکړي او څومره پیسی چی کرایه له لاری ترلاسه کیږي هغه دی د مسجد په کارونو کی لګوي. فقط والله اعلم بالصواب.

دمدرسو لپاره په مسجد کی چنده کول:

(۱۹۲ سوال) په مسجد کی دننه د مدرسو لپاره چنده کول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(څواب) په عامو حالاتو کی دی دمدرسو لپاره په مسجد کی چنده ونه کړی شي، په دی سره په مسجد کی شور ماشور جوړیږي، لمونځ ګذارانو ته تکلیف پیداکیږي اودمسجد بی احترامی راځي نو ځکه په مسجد کی باید چنده ونه کړی شي. خوکه چیرته کوم خاص حالت وي، په مسجد کی شور ماشور نه کیږي، لمونځ ګذارانو ته تکلیف او پریشاني نه رسیږي نو بیاپکی ګنجائش شته.

په درمختار کی دي: ویکره الاعطاء مطلقاً وقیل ان تخطی.

په شامی کی دي:

یکره اعطاء سائل المسجد الا اذالم یتخط رقاب الناس فی المختار لان علیا تصدق بخاتمة فی الصلوة فمدحه الله تعالی بقوله ویؤتون الزکوة وهم راکعون (درمختار وشامی ج ۱ ص ٦۱۷ احکام المساجد). په شامی کی دي: والمختار ان السائل ان کان لایمر بین یدی المصلی ولایتخطی الرقاب ولایسأل الحافاً بل الامر لابد منه فلا بأس بالسوأل والاعطاء و مثله فی البزازیة ولایجوز الاعطاء اذالم یکونوا علی تلك الصفة المذکورة (شامی ج ۱ ص ۷۷۳ باب الجمعة).

په امداد الفتاوی کی دي:

(سوال) ددین علماء په دی مسئله کی څه وايي چی په عیدګاه ، جامع مسجد یا نورو مسجدونو کی چنده غوښتل یادچندی ورکولو لپاره ترغیب ورکول او یاهم سوالګرو ته خیرات او صدقه ورکول څنګه دي؟

(څواب) که چیرته دصفونو څیرول دلمونځ ګذارانو له مخی نه تیریدل نه وي،لمونځ ګذارانو لپاره تشویش نه وي، نو دضروري حاجت په وجه چنده کولو صحیح دي. امداد الفتاوی ص ٦٤۱ ج ۲ مطبوعه کراچی فقط والله اعلم بالصواب.

د مدرسی په وخت کی دکوم بزرګ او پوښتنې او ملاقات لپاره تلل:

(۱۹۳سوال) که چیرته د مدرسې د سبقونو په وخت کی کوم مدرس دیو مشر او بزرګ د عیادت او ملاقات لپاره تلل وغواړي نو تللی شي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) ستادسوال په ځواب کی دحکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله علیه لاندینی لیکل شوی فتوه کافي ده.

(ځواب ۹۲۲). یو عالم چی په یوه مدرسه کی استاد اود حضرت شاه عبدالرحیم صاحب رای پوری دعیادت په باره کی له مولانا اشرف علی صاحب نه پوښتنه کړی وه چی ایا دهغه پوښتنی ته لاړشم اوکه نه؟ مولانا اشرف علی صاحب دهغه په ځواب کی ولیکل چی په دغو ځو کارونو کی غور وکړئ که چیرته په ټولو کی تاته اطمنان وشونو لاړشئ په تلو کی هیڅ بدي نشته. لومړی داچی مدرسی ته نقصان نه وي دویم داچی مهتمم خفه نه شي دریم داچی پخپله د مولانا رای پوری زړه خفه نشي، ځکه چی ځینی وخت مریض له چاسره لیدل نه غواړي مګر دلحاظ په خاطر ورسره ګوري. (از وصیت العرفان ص ۳٦ شماره نمبر ۱۱ جمادی الاولی ۱۴۱۵ هـ مطابق نومبر جلد نمبر۱۷). فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد دپخوانی او زوړ سامان د استعمال حکم:

(۱۹۴ سوال) زمونږ مسجد ډیر زوړ شوی و هغه مو شهید کړ اوله نوی سره مو پوخ جوړ کړ، د مسجد پخوانی سامان لکه لرګي، کړکۍ، کاني، خښتې اوداسې نور سامانونه هسې بی کاره پراته دي، ایاد! شیان په ذاتی کور کی استعمالولی شو اوکه نه؟ او که خرخ یی کړو او پیسی یی دمسجد په ضروریاتو کی استعمال کړو؟ ایاکوم وقف اداره داشیان قیمتا او بلاقیمت پخپل استعمال کی راوستلی شي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په مذکوره ټولو ځایونو کی استعمالولی شئ خو هسی چاته مه ورکوئ بلکی خرخ یی کړئ اوپیسی یی دمسجد په ضروریاتو کی استعمال کړئ.

وما انـهدم من بناء الوقف والته صرفه الحاكم فـى عمدة الوقف ان احتاج اليـه وان استغنى عنه امسكه حتى يحتاج الـى عمارته فيصرفه فيها (الـى قوله) وان تعذر اعادة عينه الـى موضعه بيع وصرف ثـمنه الـى الـمرمة صـرفا للبـدل الـى مصرف الـمبدل. (هدايه جلدنمبر ۲، ص ۶۲۲ كتاب الوقف).

که چیرته مسجد زیات مالدار وي چی نه فی الحال پیسو ته ضرورت لري اونه په آینده کی نوپه داسی حالت کی بل چاته مفت هم ورکولی شئ. فقط والله اعلم بالصواب.

یوغیر مسلم سړي د مسجد صحن پوخ کړی دی په دی باندی لمونځ کول څنګه دي؟:

(۱۹۵ سوال) زمونږ په ښار کی یو غیرمسلم سړي د مسجد صحن په سیمټو سره پوخ کړی دی ایا په هغه باندی لمونځ کولی شو او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په دی زمانه کی پکار دادي چی له غیرمسلم نه چنده وانخستل شي، وګورئ امداد الفتاوی ۲/ ۶۹۳۱ مطبوعه دیوبند).

مګر په مسئوله صورت کی غیر مسلم د مسجد صحن پلستر کړی دی، که چیرته هغه داکار دثواب په خاطر کړی وي نوپه دی صحن کی لمونځ کولی شئ، اوکه چیرته په تاسو کی زور او کوم مناسب صورت وي نو هغه سړی چی څومره پیسی لګولی دي هغه ورته واپس کړئ او بنه یی پوه کړئ چی داد مذهب او عبادت کاردی، نودا غوره اوبهتر ده چی هرڅوک خپل خپل مذهبی کارونه پخپله وکړي (معارف القرآن از مفتی محمد شفیع صاحب ۴/ ۳۳۱ هم وګورئ. فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد پیسې هضمول اوداسې سړي متولي جوړول:

(۱۹٦ سوال) دلاندیني مسئلې په اړه علماءی کرام اود متین شرع مفتیان څه وایي؟ مسئله داسې ده چې که چیرته کوم سړی دمسجد پیسې وخوري اوپرخلاف یې کاروایي ونه کړی شي، په دې باره کې دشریعت حکم څه دی؟ ایاهغه سړی ګنهګاریږي اوکه نه. د مسجد د پیسو هضمونکي په باره کې دنیاوي حکم څه دی؟ اوپه آخرت کې څنګه سزا ورکول کیږي؟ د مسجد د متولي لپاره کوم سړی اهل دی؟ خائن سړی ته د مسجد تولیت سپارل څنګه دي؟ که مفصل ځواب راکړئ نو مهرباني به مو وي.

(ځواب) بسم الله الرحمن الرحیم حامدا ومصلیا و مسلما.

د مسجد پیسې خوړل اوپه هغه کې خیانت کول سخته ګناه ده، که چیرته الله مکړه د مسجد متولي خیانت وکړي اوشرعي ثبوت یې هم وشي نو دداسې سړي د مسجد له تولیت نه معزول کول ضروري دي، داسې سړی د مسجد د تولیت اهل نه دی. خوداخبره دې په یاد وساتل شي چې داحکم هله دی چې ثبوت ترلاسه شي له څه شرعي ثبوت او دلیل نه پرته محض دشبه اوشک په بنیاد په چاباندې الزام لګول جائزنه دي.

په متولي باندې لازم دي چې هغه د مسجد حساب او کتاب هروخت صفا او ستره وساتي اودخلکو په وړاندې پیش کړي ترڅو هغوی ته څه بدګماني پیدانشي. په کار داده چې د مسجد او مدرسې متولي او مهتمم حضرات باعمله عالمان وي، که چیرته داسې څوک پیدانشي نو دلمونځ روژې پابند، امانت دار، له وقف نه خبر، خوش اخلاقه، رحم دل ، منصف مزاج، علم دوست، دعلماو عزت کوونکي کسان دې متولي او مهتمم مقرر کړی شي څکه چې داسې خلک دالله تعالی د کور دخدمت کولو اهلیت لري.

په در مختار کې دي: (وینزع) وجوبا بزازیة (لو) الواقف درر فغیره بالاولی(غیر مامون) او عاجز او ظهر به فسق کشرب خمر و نحوه فتح.

په شامی کې دي: (قوله غیر مامون الخ) قال فی الاسعاف ولایولی الا امین قادر بنفسه او بنائبه لان الولا یة مقیدة بشرط النظر و لیس من النظر تولیة الخائن لانه یخل بالمقصد. (درمختار و شامی ۳/ ۵۳۲ مطلب فیما یعزل به الناظر).

فتاوی دارالعلوم قدیم کې یوه فتوه ده:

(سوال) په یوښار کې دیو مسجد په لاندینې حصه کې دکانونه دي دهغه آمدني چې د مسجد له ضرورت نه زیاته شي نو متولي هغه پخپل ذاتي مصرف کې لګوي ایاهغه لپاره داسې کول جائز دي؟ بینوا توجروا.

(خواب) د مسجد متولي ته پکاردي چې دمسجد د دوکانونو ټولې پیسې په مسجد کې مصرف کړي اوکه څه پیسې پاتې شي نو هغه دمسجد لپاره وساتي ترڅو بل وخت کې ولګوي. متولي لپاره جائزنه دي چې هغه پخپل ذاتي کارونو کې مصرف کړي او که چیرته مصرف یې کړي نو خیانت کوي، دغه متولي باید معزول اولرې کړی شي. د محلې خلک کولې شي چې داسې سړی لرې کړي اوپرځای بل متولي مقرر کړي، برابره خبره ده چې دمسجد باني داسړی مولی کړی وي او یاد محلو خلکو په دواړوه صورتونو کې دهغه لرې کول ضروري دي. په درمختار کې دي چې که چیرته پخپله د مسجد باني هم خیانت وکړي نو هغه دی هم باید معزول کړی شي. مذکوره متولي خو بالکل دعزل کولو مستحق دی. فقط (فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۲۸۷ ج ۵، ٦).

د مسجد لپاره دهبه کور قیمت د مسجد په تعمیر کې استعمالول :

(۱۹۷ سوال) دیو قدیم مسجد دآمدني لپاره یو شخص یو کور هبه کړی و هغه کور په کرایه ورکول شوی و، کرایه دار کورنه خالي کاو نو څکه مونږ هغه خرڅ کړ دهغه قیمت (۲٦،۰۰۰۰) دولکه او شپیته زره روپۍ موږ بانک کې داخلې کړې، دهغه پنځوس زره سود ترلاسه شویدی، فی الحال د مسجد په تعمیر باندی کار روان دی اوس سوال دادی چې د خرڅ شوي کور اصل قیمت چې دولکه شپیته زره دی د مسجد په تعمیر کې استعمالولی شو اوکه نه او کومې پیسې چې دسود په توګه ترلاسه شوي دي دمسجد بیت الخلا او غسل خانو په جوړولو کې استعمالولی شوو اوکه نه؟ همدغه راز دهمدغو بیت الخلا او غسل خانو لپاسه امام او موذن او نورو ضروریاتو لپاره کوټې جوړولې شوو اوکه نه؟ مهرباني وکړئ خواب راکړئ.

(خواب) بسم الله الرحمن الرحیم حامدا و مصلیا ومسلما.

په مسئوله صورت کې تاسې داکار وکړئ چې له کوم غیر مسلم نه قرض پیسې واخلئ اوپرهغه د مسجد بیت الخلا او غسل خانې جوړې کړئ، بیاد غیر مسلم داقرض د بانک دسود له پیسو نه اداکړئ، اود کور داصلي قیمت پیسې د مسجد په تعمیر کې استعمال کړئ. والله اعلم بالصواب. ٦ شعبان المعظم ۱۴۱۵ ھ.

د دوه منزله مسجد په برني چت کې دوعظ او نصیحت د آوریدو او دعا لپاره دښځو راتلل اوله ځان سره دخپلو ماشومانو راوړل:

(۱۹۸) سوال) زمونږ په علاقه کې دوه منزله مسجد دی، له هغه سره بالکل نښتی یو کور چې مسجد لپاره وقف دی خالي پروت دی، په دغه کور کې دتبلیغي جماعت کسان او ددی خای امام چې عالِم دی په میاشت کې یو دوه ځل دوعظ او نصیحت لپاره د ورځې په وخت ښځې راغواړي امام صاحب په مسجد کې وعظ او نصیحت کوي او د لاوډسپیکر په ذریعه د مسجد په کور کې ناستی ښځې دهغه وعظ او نصیحت آوري، نو تقریباً د دوه کلو راهیسی د مسجد امام په لویو شپو کې دشب برات او شبقدر په شپو کې ښځې د مسجد د دویم منزل برنی چت ته راغواړي، همدغه راز کله چې له بهر نه کوم لوی عالم یا بزرگ راشي، یا دمدرسې کلنی جلسه کیږي نو ښځې له خپلو واړه واړه ماشومانو سره راځي د مسجد پورتنی چت کې شورماشور وي، د رمضان المبارک په ۲۸ مه شپه چې دقرآن شریف ختم کیږي نوپه دی شپه امام صاحب په پوره اهتمام سره دا اعلان هم کوي چې له ختم نه وروسته به دعاکیږي ښځې دی په دی کې ضرور گډون وکړي او د تراویح لمونځ دی یکی هم وکړي، ښځې د مسجد برني چت ته راځي او لمونځ هم اداکوي، مونږ فتاوی رحیمیه او فتاوی دار العلوم دیوبند چې په هغه کې د ښځو لپاره مسجد ته دتللو په اړه احکام موجود دي امام صاحب ته وویل، نو هغه وویل چې دا مسائل زمونږ دملکونو مسجدونو لپاره دي، څرنګه چې مسجد دوه منزله دی نوښځې کولی شي چې راشي او وعظ او نصیحت واوري په دی کې هیڅ قباحت اوبدي نشته، ایا دوه منزله مسجدته ښځې دلمونځ دلوستلو او وعظ او نصیحت اوریدلو لپاره راتلی شي اوکه نه؟ مفصل ځواب راکړئ. بینوا توجروا.

(ځواب) حامدا مصلیا و مسلماً. مسجد یوه منزله وي یا دوه منزله یادری منزله له لاندینه تر آسمان پوری اودزمکی آخری حصی پوری مسجد دی.[1] لهذا څرنګه چې د مسجد لاندینی منزل د احترام وړدی همدغسی دویم دریم او څلورم منزل هم داحترام وړدی. څرنګه چې د مسجد په لاندینی منزل کی دماشومانو راوړل شور ماشور کول

---

[1] وکره تحريما الوطء فوقه والبول والتعوط لأنه، مسجد الى عنان السمآء قل الشامية تحت قوله الى عنان السماء بفتح العين وكذا الى تحت الثرى كما فى البيرى عن الاسبيجابى. مطلب فى احكام المسجد ج۱ ص ٦٥٦

ناجائزدي همدغسې د مسجد دپورتنيو منزلونو بی حرمتي شور ماشور او د ورو ماشومانو راوستل جائزنه دي (درمختار).

په حديث شريف کی دي: جنبوا مساجدکم صبيانکم و مجانينکم الخ. محمدصلیﷲ علیه وسلم فرمايلی دي چی خپل مسجدونه له ماشومانو او ليونيانو څخه وساتئ. (ابن ماجه ص ۱۵۵ ابواب المساجد والجماعت باب مايکره فی المساجد).

په الاشباه والنظائر کی دي: ومنها حرمة ادخال الصبيان والمجانين حيث غلب تنجيهم والا فيکرهٔ.

که چيرته دوړو ماشومانو په مسجد کی د داخلولو په وجه د مسجد دنجس کيدو ويره وي نو دداسی ماشومانو مسجدته راوړل حرام دي اوکه دنجس کولو څه ويره نه وي نو مکروه دی. (الاشباه والنظائر ص ۵۵۷ القول فی احکام المسجد).

وړو ماشومانو ته دپلاستېک پيمپر آچولو سره که څه هم ظاهراً د مسجد دنجس کيدو ويره نشته مګر بياهم ځينی وخت متيازی ترينه لاندی بهيږي، که ترينه باهر ونه اوځي په دننه ټوټه کی خودغه متيازی موجودی وي، نو دداسی ماشومانو مسجد ته راوړل داسی دي لکه چی مسجد ته نجاست راوړي اومسجد ته نجاست راوړل ممنوع دي، بلکی دکوم سړي په بدن کی چی نجاست وي مسجد ته دهغه راتلل هم حرام دي.

په شامي کی دي: (قوله وادخال نجاسة فيه) عبارة الاشباه، وادخال نجاسة فيه يخاف منها التلويث اهـ و مفاده الجواز لوجافة لکن فی الفتاوی الهندية لايدخل المسجد من علی بدنه نجاسة. (شامی ج ۱/ ۶۱۴ مطلب فی احکام المسجد).

په دی زمانه کی چی له فتنی نه ډکه ده ښځوته مسجد ته دراتلو اجازت نشته، په دی لړ کی تاسی دتفصيلی ځواب لپاره فتاوی رحيميه پنځم جلد ښځو ته مسجد او عيدګاه ته راتلل ځنګه دي؟ ترعنوان لاندی کتلی شئ.

داعام حکم دی برابره خبره ده چی دمسجد لاندينی منزل وي يا دويم منزل، دممانعت حکم دواړو ته شامل دی، همدغه راز د ممانعت حکم دکوم ملک او علاقی لپاره هم خاص نه دی هرځای او هر ملک لپاره همداحکم دی. آيا زمونږ کوم مسجد له نبوی مسجد نه زيات کيدای شي؟ دنبوي مسجد په اړه چی محمد صلیﷲ علیه وسلم حضرت ام حميد ساعدی رضیﷲ عنها ته کوم لارښودنه کړی ده هغه فتاوی رحيميه پنځم جلد کی ضرور وګورئ لهذا په مسئوله صورت کی چی ستاسی امام څه وايي هغه

دمنلو وړ نه دی، پدی کی ډیر زیات مفاسد دي نوځکه دهغه په وینا عمل نه شي کیدلې. فقط والله اعلم بالصواب. (کتبه الاحقر سید عبدالرحیم لاجپوري رانديـر ۲۲ جمادی الاولی کال ۱۴۱۵ ھ.

په مسجد کی دننه د تړل شوی نکاح په سر د متولي پیسې آخستل:

(۱۹۹ـ سوال) دلته یو مشهور مسجد دی، ددی مسجد متولي په مسجد کی چی څومره نکاح تړل کیږي له هغوی نه دفیس آخستلو اعلان کړی دی، که چیرته د ورځې په وخت کی نکاح وتړل شي نو ۵۰۰ روپۍ اوکه دشپې په وخت کی وشي نو زر روپۍ ترینه آخلي، که څوک دافیس ورنه کړي نو دنکاح د تړلو اجازه نه ورکوي، ځینو خلکو متولي پوه کړ چی داد خدای کور دی، دخدای په کور کی څوک فیس نه آخلي خو متولي وایي چی خلک په واده کی ۲۵ـ ۳۰ زره روپۍ مصرفولی شي نو مسجد لپاره پنځه سوه او زر روپۍ نشي ورکولې؟ زه په دی ترتیب سره خلکوته په مسجد او مدرسه کی دپیسو ورکولو عادت ورښایم. ایا په مسجد کی دنکاح لپاره فیس مقررول شرعاً جائزدی؟

(جواب) حامدا و مصلیا و مسلما. هوالموفق، نکاح عبادت دی اوپه مسجد کی نکاح تړل سنت دي له څه شرعي عذر نه پرته څوک لدینه نشي منع کولې.

په حدیث کی دي:

عن عائشة رضی‌الله عنها قالت قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اعلنوا هذ النكاح واجعلوه فی المساجد (مشکوة شریف ص ۲۷۲ باب اعلان النكاح والخطبة والشرط).

له عائشه رضی‌الله عنها څخه روایت دی چی محمد صلی‌الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل: نکاح ښه په ښکاره وتړئ اوپه مسجدونو کی نکاح وکړئ. (مشکوات)لهذا له څه شرعي وجی نه پرته څوک په مسجد کی له نکاح تړلو نه منع کول صحیح نه دي، البته داچی دنکاح په وخت د مسجد برق مصرفیږي بلکی او بلپونه لګیږي نو د هغه معاوضه اخستلی شي دنکاح دتړلو په خاطر فیس مقررول او خلک فیس ورکولوته مجبورول غلط کاردی خوکه، څوک پخپله خوښه دزړه په خوشالي ورکړي نو هغه قبلولی شي فقط والله اعلم بالصواب. (کتبه سید عبدالرحیم لاجپوری، ۲۲ ربیع الثانی کال ۱۴۱۶ھ.

(۱) په عدالت کی د فیصلې په وجه په مسجد کی محراب نه جوړول:

(۲) د مسجد په پیسو کی د ترلاسه شوي سودی پیسو مصرف:

(۲۰۰ سوال) (۱) مونږ خلک پخپل کلی کی یو مسجد جوړوو، لیکن حقیقت دادی چی مونږ ته سرکاري اجازت صرف دمدرسی د جوړولو راکول شوی دی، د تعمیر لپاره له یوی اوړدی مودی نه مقدمه روانه وه لیکن د تعمیر په نقشه کی دمحراب نشتوالی له کبله مونږ مقدمه وګټله، دعدالت فیصله داده چی ټوله زمکه د مسجد د تعمیر لپاره نه ده بلکی دمدرسې دتعمیر لپاره ده. لیکن اوس مونږ هغه په دی نیت جوړوو چی لمونځ پکی هم ولوستل شي، که چیرته مونږ په دی تعمیر کی محراب جوړ نه کړو نو داپه مسجد کی راتلی شي اوکه نه؟ ځکه چی دمحراب جوړولو په صورت کی یوځل بیا دمشکلاتو دپیداکیدو اندیښنه ده، که چیرته لدینه علاوه بله کومه لاره وي نوله هغی نه هم مونږ خبر کړئ.

(۲) مونږ د مسجد د تعمیر لپاره څوکلو راهیسی چنده شروع کړی وه مګر دتعمیر جوړولو لپاره د اجازت نه دترلاسه کیدو په سبب مونږ هغه پیسی په بانک کی جمع کړی وی، اوس که دهغو پیسو سود هم مونږ ته راکړي نو هغه چیرته مصرف کړو؟ مهرباني وکړئ تفصیلی ځواب راکړئ.

(ځواب) حامدا مصلیا و مسلما وهوالموفق (۱) په مسئوله صورت کی هغه ځای مسجد لپاره وقف شوی وي یا آخستل شوی وي اود مسجد په نوم چنده آخستل شوی وي نوپه همغه نیت دی جوړ کړی شي، که چیرته دمجبوریت له کبله محراب جوړ نه کړی شي نو هم څه خبره نه ده امام صاحب دی د مسجد په منځ کی ودریږي او دواړو طرفونو ته دی یو برابر صفونه ودریږي د محراب پرځای دی یوه نښه جوړه کړی شي او همغه ته مخامخ دی امام ودریږي.

(۲) داچی د مسجد په پیسو بانک تاسوته کوم سود ورکړی دی نوکه ضرورت وي نو د مسجد په بیت الخلاء ، غسل خانه او ددی په صفایي کی استعمالولی شئ اوکه چیرته دی لپاره هم ضرورت نه وي نو مسجد ته راغلی مسافروته د امداد په توګه ورکولی شئ.

فقط والله اعلم بالصواب. کتبه سید عبدالرحیم لاجپوری. ۲۰، رمضان المبارک ۱۳۱٦ھ.

د مسجد په د یوال کې سوری کول اوپه هغه کې داشتهار بورډ لګول :

(۲۰۱ ــ سوال) زمونږ منجد په عمومي لاره باندی دی اوپه څلورو لارو کې واقع دی. ځینی خلک د مسجد په دیوال کی سوری کوي د اوسپنی میخونه لګوي او اشتهاری تختې پکی لګوي، په دی سره مسجد ته کافي ګټه او آمدنی کیږي، خو سوال دادی چې د مسجد په دیوال کی سوری کول او هلته د اشتهار تختې او بورډونه لګول څنګه دي؟ جائز او که ناجائز؟ بینوا توجروا.

(ځواب) د مسجد په دیوال کې سوری کول او بیاهلته د اوسپنی میخونه لګول او اشتهاري تخته ځوړندول شرعاً جائز نه دي. په درمختار کی دي:

اما لو تمت المسجد ثم اراد البناء منع ولوقال عنیت ذلك لم یصدق تتارخانیة فاذا کان هذا فی الوقف فکیف بغیره. فیجب هدمه ولو علی جدار المسجد ولا یجوز اخذ الا جرة منه ولا ان یجعل شیئا منه مستغلاً ولاسکنی بزازیة.

په شامی کی دي: قوله ولو علی جدار المسجد مع انه لم یأخذ من هواء المسجد شیئا اهـ ونقل فی البحر قبله ولا یوضع الجذع علی جدار المسجد وان کان من اوقافه اهـ قلت وبه علم حکم مایصنعه بعض جیران المسجد من وضع جذوع علی جداره فانه لایحل ولو دفع الا جرة (درمختار و رد المحتار ص ۵۱۲ ج۳، کتاب الوقف، مطلب فی احکام المسجد. فقط، والله اعلم بالصواب.

د مسجد له شهید کولو نه وروسته په نوي تعمیر کې مسجد لاندی تاخانه جوړول:

(۲۰۲ سوال) مونږ غواړو چې پخوانی مسجد شهید کړو او پرځای نوی مسجد جوړ کړو.مسجد لاندی زیر زمیني کوټې جوړول څنګه دي؟ که چیرته تاخانه جوړه کړی شي نو امام دی چیرته ودریږي لومړی‌صف به کوم یو شمارل کیږي ؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په کوم ځای کی چې مسجد جوړیږي نو هغه ځای له تحت الثری نه تر اسمانه پوری د مسجد په حکم کی حسابیږي نوځکه.د مسجد له تکمیل کیدونه وروسته مسجد

لاندی له لمونځ نه علاوه دبل کوم مقصد لپاره تهه خانه جوړول یا د مسجد له پاسه کمره جوړول قطعا جائزنه دي.

په درمختار کی دي:

وکره تحریما(الوطء، فوقه والبول والتغوط) لانه مسجدٌ الی عنان السَّماءِ. په رد المختارکی دي: (قوله الی عنان السَّماءِ) بفتح العین وکذا الی تحت الثری کما فی البیری الخ (درمختار ورد المختار المعروف به شامی ج ۱ ص ٦١٤ مطلب فی احکام المسجد).

په در مختار کی دي: (فوع) لوبنی فوقه بیتاً للامام لا یضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدیة ثما اراد البناء منع ولو قال عنیت ذلك لم یصدق تتارخانیة فاذا کان هذا فی الواقف فکیف بغیره فیجب هدمه ولو علی جدار المسجد الخ (درمختار مع رد المحتار ص ۵۱۲ ج ۷۳ کتاب الوقف مطلب وفی احکام المسجد).

لهذا په مسئوله صورت کی چون مسجد پخوانی دی نواوس هغه لاندی دلمونځ لوستلو نه علاوه بل کوم مقصد مثلاً دسامان اینبودلو لپاره تهه خانه جوړول قطعاً جائزنه ده، خوکه دلمونځ د لوستلو لپاره جوړه کړی شي نو گنجائش پکې شته مگر ددی خبری به پوره پوره خیال ساتلی شي چی دغه تهه خانه به صرف دلمونځ لپاره وي نه بل کوم کار لپاره. د سامان د اینبودلو لپاره دی بالکل استعمال نه کړی شي.

په کوم ځای کی چې مسجد دی دنوی تعمیر سرته رسیدونه وروسته دی هم امام صاحب په همغه ځای کی ودریږي اوله همغه ځای نه دی صفونه جوړ کړی شي، زیات مقتدیان به لاندی یا بره صفونه جوړ کړي، امام ته چی کوم صف نژدی وي هغه لومړی صف حسابیږي.

په مسئوله صورت کی دا مناسب دی چی فی الحال مسجد په کوم سطح باندی دی په همغه سطحه باندی دی جوړ کړی شي اود ضرورت په اندازه دی لپاسه یوه یادوه چتونه جوړ کړی شي، تهه خانه دی جوړه نه کړی شي، جماعت دی لاندی نه شروع شي او زیات خلک دی په لومړی چت کی ودریږي اوکه داهم ډک شي نو په دویم چت کی دی صفونه جوړ کړي، که چیرته تهه خانه پکی جوړه کړی شي نو په اینده

کی ددی ویره ده چی خلک به دګودام په شان یادګرمي په وخت کی دمسافرخانی په شان استعمال کړي اوپه دی سره به د مسجد بی حرمتي وشي.

په جدید تعمیر کی‌مسجد یی په دویم چت کی جوړ کړ پــه دی اړه خو سوالونه؟:

(۲۰۳- سوال) زمونږ په علاقه کی خلکو تقریباً ۲۵ کلن پخوانی مسجد یی شهید کړ او دو برجونو والا نوی مسجد یی جوړ کړ. په پخوانی مسجد کی لمونځ پـه لانـدی منزل کی اداکیده خو په اوسنی مسجد کی چی نوی جـوړ شـو. دلمـونځ لوسـتلو خـای بـره منزل کی جوړ کړ یعنی برنی منزل یی مسجد جوړ کړ اودا برنی منزل له لانـدیني منزل نه لوی دی. دجمعی په ورځ دخلکـو تعداد زیاتیـږي اوداخـای هـم ورکـوتی کیـږي، نوځکه د مسجد منتظمینو په دی کی د ترمیم کولو فیصله کړی ده. په دی لـړ کـی مونږ له تاسو نه مشوره آخستل غواړولهذا د لاندینیو پوښتنو خوابونه راکړئ؟.

(سوال ۱) که چیرته امام په دویم منزل کی وي نو دهغه له ډکیدونـه وروسـته کـه پـاتی مقتدیان لاندی منزل کی صفونه جوړ کړي نو ایا دهغوی دا اقتداء صحیح ده اوکه نه؟

(خواب حامدا مصلیا ومسلما (۱) د پخوانی مسجد دلمونځ خای لاندی وو همغـه اصـل مسجد دی هغه لاندی تر تحت الثری پوری د مسجد په حکـم کـی دی. ترهغـه لانـدی ډند یا امام او مؤذن ته داوسـیدو لپـاره حجـره یـا آمـدني لپـاره دکانونـه او ګوداموئـه جوړول نه دي جائز. همدارنګه تر آسمانه پوری هم دمسجد په حکم کی دی. ذامام یـا مؤذن لپاره وربالدی کوټی نه شي جوړیدلي. خوکه چیرتـه خـای تـنګ وي نورشـاوخوا خای نه وي چی مسجد پراخ کړی شي نو مجبوراً بره دلمونځ کولو لپاره خای جـوړول صحیح دي که لاندی مسجد کی خای خالي وي نو بره ختل منع او مکروه دي.

(سوال۲) ددی برعکس څنګه دی؟

(خواب۲) دابهتر شکل دی. فقط.

(سوال۳) دبرـی دواړو صورتونو کی څینی مقتدیان ددی باوجود چـی هلتـه خـای وي لاندی منزل نه خي او همغلته صفونه جوړوي او امام پسی اقتداء کـوي ایاداـــی کـول صحیح دي اوکه نه؟ یاداچی امام لاندی وي او مقتدیان بره چت کی امام پـسی اقتدا وکړي نو ایا دهغوی دا اقتداء صحیح کیږي اوکه نه؟

(خواب۳) داصورت مکروه دی.

(۴ سوال) ایا داضروري ده چی محراب دی د مسجد په وسط کی وي؟ اوکه پنځه لس فته فرق وي او ددی څه ګنجائش شته اوکه نه؟
(خواب۴) داضروري ده چی محراب دی بالکل په وسط کی وي، که پنځه یا لس فته آخوادیخوا وي نو خیردی.
(خواب۴) داضروري ده چی محراب د مسجد په منځ کی وي، که پنځه یالس فته آخوا دیخوا وي نو دلمونځ ګذارانو په منځ کی دامام ودریدل ضروري دی ترڅو دواړه طرفونو ته صفونه برابر راشي او لوی واړه پاتی نشي. فقط.
(سوال ۵) که لومړی صف ورکوتی وي نو وروسی دویم او دریم صفونه لوی وي نوداڅنګه؟
(خواب) که چیرته دځای د تنګوالي په وجه لومړی صف ورکوتی وي او نور صفونه لوی وی نوڅه حرج پکي نشته جائز دی.
(سوال٦) بره جمات ته دختلو لپاره یوه زینه ده چی دهغی څه حصه پخوانی جمات کی ده او څه حصه له مسجد نه باهر. په دغه زینه باندی دختلو لپاره دلاندیني منزل جمات نه تیریدل ضروري دی داسی کول څنګه دي؟
(خواب ٦) که چیرته په لاندی مسجداو صحن کی ځای نه وي نو بره دختلو ضرورت پیدا کیږي لهذا پکار دي چی زینه له باهر نه وي ترڅو په مسجد کی اود مسجد په صحن کی لمونځ کوونکو ته خلل پیدانشي اودهغوی له وړاندینه څوک تیرنشي فقط.
(سوال ۷) اعتکاف د مسجد په لاندیني منزل کی افضل دی اوکه بره منزل کی؟
(خواب۷) په لاندی مسجد کی اعتکاف کول پکار دی، که لاندی ځای نه وي نو دمجبوریت په حالت کی بره هم اعتکاف صحیح دی. فقط.
(سوال ۸) دقدیمي مسجد مناره د کمری او کوټی په شکل جوړول اوله هغه نه دستور کار آخستل اوتاله ورته لګول څنګه دي؟
(خواب۸) د مینار استعمال داسی کول چی دهغه اصل مقصد ختم شي جائزنه دی فقط.
(سوال ۹) دحوض (ډند) لپاسه چت جوړول اوپه مسجد کی له توسیع کولونه وروسته دهغه په لاندیني حصه کی دمسجد سامان ایښودل څنګه دي؟

(خواب ۹) د ډنډ ځای له شرعي مسجد نه باهر وي دهغه لپاسه د مسجد د توسیع لپاره ځای جوړول ښه کار دی اودهغه لاندی خالي ځای کی د مسجد صفونه او نور سامان ایښودل بالکل صحیح دی.

(سوال ۱۰) د دوه صفونو ترمنځ خومره فاصله وي چی د وروستي صفونو اقتداء صحیح شي؟

(خواب) د مسجد او صحن ترمنځ چی خومره فاصله وي د وروستیو صفونو اقتدا صحیح ده.

(سوال ۱۱) د مسجد لاندیني منزل پریښودل او بره منزل کی هروخت په جماعت سره لمونځ کول څنګه دي؟

(خواب۱۱) دا کار غلط دی فقط والله اعلم بالصواب.

په هندو باندی د مسجد نقشه جوړول څنګه دي؟

(۲۰۴ سوال) زمونږ دمحلی مسجد تر تعمیرلاندی دی، ددغه نوی تعمیر مسئولیت زماپه غاړه دی مونږ لومړی د مسجد دنقشی لپاره په بمبئ کی د تعمیراتو ماهر ته رجوع وکړه هغه له مونږ نه د ډیرو پیسو غوښتنه وکړه او مونږ د دومره ډیر پیسو زور نه درلود، لدینه پس مونږ یوځایي هندو انجنیر سره مشوره وکړه هغه د مسجد د پلان دتیارولو لپاره خپله رضا ښودله. کله چی له هغه نه مود فیس په باره کی معلومات وغوښت نو هغه دفیس له اخستلو نه انکار وکړ له ډیر اصرار نه وروسته لږ غوندی پیسو اخستو ته غاړه کیښوده، زمونږ دمحلي خینو خلکو دا اعتراض اوچت کړی دی چی د مسجد دنقشی له پاره له هندونه مشوره اخستل او نقشه ورباندی جوړول نامناسب دی ماورته وویل چی له هغه نه داخدمت به مفتوکی نه اخلو بلکی معاوضه ورته ورکوو. زمونږ په علاقه کی د مسجدونو دروازی او کړکی عموما هندو نجاران جوړوي لدینه علاوه د مسجد د تعمیر کارونه هم هندو مزدوران کوي

دعلامه قسطلاني کتاب ((المواهب اللدنیه)) کی دا روایت زماله نظره تیرشوی دی چی دنبی کریم صلی‌الله علیه وسلم په زمانه کی یو قبطی چی غالباً عیسوي و د نبوي مسجد منبر جوړ کړی و زه په دغه سلسله کی د نورو شواهدو او دلائلو ته رجوع کوم مهرباني وکړئ تاسی مونږ له خپلی رای نه خبر کړئ چی د مسجد د تعمیر په سلسله کی له هندو انجنیر نه د معاوضي په بدل خدمات ترلاسه کول څنګه دي؟ ایاپه دی کی څه شرعي قباحت خونشته. بینوا توجروا.

(خواب) حامدا و مصلياً و مسلما! د مسجدونو په اړه چې څومره کارونه دي دغه کارونه له مسلمان نه اخستل پکار دي، خصوصا په هغه وخت کې چې کله دا ويره وي چې که له غير مسلم نه د مسجد په کارونو کې څه مدد او مرسته ترلاسه کړم نو هغه به بيا پر مسلمانانو احسان باروي.

علماء حضرات د مسجد دچندې په باره کې ليکي چې که چيرته غير مسلم په مسجد کې چنده ورکول په عقيدوي توګه ثواب او قربت ګڼي نو له هغه نه چند اخستل جائزدي. خو که داويره وي چې دا به آينده وخت کې پر مسلمانانو خپل احسان باروي نو بهتره داده، چې له هغه نه چنده وانخستلى شي په امداد الفتاوى کې دي:

(سوال ۷۸۵) زمونږ په علاقه کې يو مسجد جوړيږي په دې کې هندوان هم چنده ورکول غواړي ايا د هندوانو پيسې په مسجد کې لګول جائز دي اوکه نه؟

(خواب) که چيرته دا احتمال نه وي چې سبابه پر مسلمانانو خپل احسان بار کړي اونه ددې احتمال وي چې مسلمانان له هغوى نه دمتاثر کيدو په وجه پخپلو ديني شعائرو کې سستي وکړي نو بيا د هغوى چنده آخستل اوپه مسجد کې مصرفول جائز دي.(امداد الفتاوى ص ٦٨٨ ج ۲ مطبوعه کراچى).

همدغه راز هغه ديوبل سوال په خواب کې ليکي : که چيرته کوم هندو په خپل عقيده کې په مسجد کې چنده ورکول ثواب ګڼي نو ددغه قاعده کليه په اقتضاء او غوښتنه له هغه نه چنده اخستل بايد جائز شي خودهغوى دا احسان د احتمال په وجه چې هر وخت کې به پر مسلمانانو خپل احسان او نيکي باروي نو بيا پکاردي چې چنده ترينه وانخستل شي. امداد الفتاوى ص ٦٨٩ ، ٦٩٠ جلد۲ سوال نمبر ۷۸٦ مطبوعه ديوبند.

ليکن په مسئوله صورت کې چون مسلمان انجنير له توان نه زيات مزدوري غواړي او غير مسلم په مناسب اجرت باندې کار کولو ته تياردى نو په دې خاطر چې هغه داجرت په مقابل کې دا کارکوي نو دهغه حيثيت ديو مزدور کار پشان دى نو په آينده کې ددې احتمال نشته چې وروسته پر مسلمانانو احسان واچوي نو ځکه د هندو انجنير نه ګټه اوچتول اوپرهغه کارکول جائزدي فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد په دننه طرف ديوالونو کې رنګين کاڼي يا مختلفې تختې لګول همدغه راز د محراب يا منبر له پاسه رنګين بلبونه ځوړندول :

(۲۰۵ سوال) په مسجد کې رنګين بلبونه ځوړندول . ياپه محراب، منبر او ديوالونو کې رنګين کاڼي لګول. اوالله او محمد صلى الله عليه وسلم نومونه په تختو کې ځوړنده

ول جائز دی اوکه نه؟ همدغه راز ځینې خلک په مسجد کې د مکې او مدینې منورې تصویرونه لګوي ددی لګول څنګه دي؟

(ځواب) دلمونځ روح خشوع او خضوع دی، له خشوع او خضوع نه پرته لمونځ کول بې روحه دي، د مسجد په محراب اود قبلې دیوال باندی نقش اونګار اوبوټي موټي جوړول دلمونځ ګذار توجه خرابوي نو ځکه منع دی بلکې فقهاء تردی حده لیکي چې د مسجد اخوا دیخوا دیوالونو باندی نقش نګار کول هم دلمونځ ګذارانو توجه او خوشوع خرابوي. محمد صلی‌الله علیه وسلم د حضرت عائشې رضی‌الله عنها د حجرې په دروازه کې چې ښکلې پرده ولیده نو ویې فرمایل : دغه ښکلې پرده لرې کړه، ځکه چې په دې کې کوم نقش و نګار شوی دی دلمونځ په وخت کې زماتوجه خرابوي.(بخاری شریف ص ۵۴ جلد ۱ جز نمبر۲ باب ان صلی فی ثوب مصلب او تصاویر هل تسد صلاته الخ).

داچې محمد صلی‌الله علیه وسلم دهغه رنګین او نقش نګار لرونکې پردې په باره کې وفرمایل چې دازما توجه خرابوي نو دعام لمونځ ګذار حالت به څنګه وي؟ .

امام نووي د مذکوره حدیث په شرح کې لیکي چې دمحراب او منبر نقش او نګار، همدغه راز په دیوالونو باندی نقش ونګار کول داسې شې دی چې دلمونځ ګذارانو توجه ځانته را آړوي نو ځکه د محراب او منبر ښایسته جوړول اوپه هغه کې نقش او نګار کول مکروه دي. (نووي شرح مسلم ج۱ ص ۲۰۸).[1] نوځکه پکاردي له ټولو هغو ځیزونو ځخه ډډه وکړی شي چې دلمونځ ګذار توجه، خشوع او خضوع خرابوي(جذب القلوب، باب نمبر ۷ ص ٦١٦).

په کې د رنګینو بلپونو ځوړندول له عبادت خانې نه دتماشې خای جوړول دي نو ځکه دا له کراهت نه خالي نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

د فاسق او فاجر سړي د مسجد متولي جوړول :

(۲۰٦) سوال . فاسق او فاجر سړی د مسجد متولي جوړولی شو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

---

[1] – فنبه اخف علی حضور نعنت فی الصلوة وتد بر ماذکرناه ومنع النظر من الامتداد الی مایشغل واراله ما یخاف اشغال القلب وکراهه تزویق محراب المسجد و حائطه و نفسه وغیره ذلك من الشاغلات الخ باب کراهیة الصلوة فی ثوب له اعلام).

(خواب) حامدا و مصلیا ومسلما، مسجد د اسلامي شعائرو له جملې څخه يو دی، کوم سرې چې د اسلامي شعائرو محافظ او دشریعت پابندوي، دهغه په زړه کې دالله تعالی ویره وي همهه د مسجد متولي جوړ کړئ، کوم سړی چې د اسلام محافظ نه وي، دشریعت پابندي نه کوي لمونځ په جمعې سره نه کوي، فاسق وي یعنی لوی ګناهونه کوي یا واړه ګناهونه کوي، شراب څکي، سود خوري نو هغه د الله تعالی دکور متولي نشي جوړیدلې، دفاسق او فاجر سړي دمسجد محافظ او متولي جوړول په حقیقت کی د مسجد، ددین شعائرو، دامام، موذن او لمونځ ګذارانو توهین او تحقیردی. لهی ارشاد دی:

انــمایــعمر مــــسجدالله من امن بالله والیوم الاخر واقام الصلوة واتی الزکاة ولم یخش الا الله .(سوره توبة).

بیشکه دالله تعالی کور هغه خلک آبادوي چې په الله اودآخرت په ورځ ایمان لري، لمونځ کوي او زکات ورکوي اوله الله نه پرته له بل چانه ویره نه کوي. ددغه آیت په تفسیر کی مولانا ابوالکلام آزاد لیکي:

قرآنکریم دا حقیقت واضح کړ چې دالله تعالی د عبادتخانو د تولیت حق دمتقی انسان دی او همغه دالله تعالی عبادتخانی آبادی ساتلی شي. اوداخبره هم ثابته شوه چې فاسق اوفاجر انسان د مسجد متولي نشي جوړیدلی ځکه چې فاسق او دالله په کور کی څه مناسبت نه پاتی کیږي بلکی دوه متضادی خبرې جمع کیږي، هغه داچې مسجد دخدای پرسنی ځای دی او فاسق و فاجر له خدای پرستی نه نفرت کوي (تفسیر القران ص ۸۰ ج ۲).

په فتاوی ابن تیمیه کی دي: ولایـــجوز تولیة الفاسق مع امکان تولیة البر.

دنیک متولي په موجودګی کی دبد کردار سړي متولي جوړول جائزنه دي (اسلام کا نظام مساجد) نومی کتاب کی دي چې دالله د کور خدمت دی هغه څوک وکړي چې دالله دوست وي اودهغه په زړه کی دالله تعالی ویره او مینه وي. (صفحه ۱۲۹).

په حدیث شریف کی دي چې څوک د مسجد مسئولیت او تولیت یوداسی چانه وسپاري چې له هغه نه بل څوک زیات له الله نه ویریدونکي او اسلامي شریعت د احکامو پابندي کوونکی وي نو دهغه منتخب کوونکی له الله تعالی، دهغه له رسول او مسلمانانو سره خیانت وکړ (ازاله الخفاء حصه دوم ص ٣٦) (فتاویٰ ابن تیمیه ج ۱ ص۱۰).

درمختار، شامي او نور کتابونو کی دي چی کله په متولي کی شرعی عذرونه او قباحتونه پیدا شي نو هغه دی له خپل کارنه لری کړی شي، مثلاً هغه امانت دار نه وي، فاسق او فاجر وي، شراب څښکي اوپانور ګناهونه کوي نو دهغه لری کول ضروري دي (صفحه ۴۲۱، ۴۲۲، ج ۳) (اسلام کا نظام مساجد صفحه ۲۲۲).

همدغه راز متولي دی هغه سړی مقرر نه کړی شي چی هغه د متولي کیدو پخپله غوښتنه کوي لنډه داچی د مسجد متولي جوړولو په وخت کی ددغو خبرو لحاظ ساتل ضروري دي: دیني علم ولري، دوقف له احکامو نه خبروي، امانتدار او متقی وي، یعنی دهغه ژوند د محمدصلی‌الله علیه وسلم داسوه حسنه په مطابق وي، خوډیر افسوس چی زمونږ په زمانه کی صرف د چا مال او دولت معیار ګڼل کیږي اګرچی هغه جاهل او فاسق وي دلسونځ پابند نه وي، حال داچی د مسجد متولي په حقیقت کی دالله تعالی نائب دی نو ددغه لوی منصب لپاره مناسب متولي پکار دی لیکن ډیر افسوس چی زمونږ په دی زمانه کی فاجر او فاسق خلک د مسجد متولی مقررولی شي.

په حدیث شریف کي دي چی : دقیامت له نښو نه یوه نښه داده چی لوی لوی عهدی نا اهلو ته سپارل کیږي او فاسق انسان دقوم مشر او سردار جوړیږي.(مشکواه ص ۴۷۰باب اشتراط الساعه). فقط والله اعلم بالصواب.

(۱) له دوه مسجدونو نه یو مسجد جوړول(۲) د مسجد په نوي تعمیر کی دقدیمي مسجد په ځای کی د اوبو ډنډ او کمرو جوړول او مسجد په برني چت کی جوړول جائز دي اوکه نه؟

(سوال ۲۰۷) په پخوا وخت کی دلته دیو خاندان په خلکو کی دنفرت او کرکي داسی اور بل شوچی دوه مسجدونه جوړ شول، د دواړو دیوالونه بالکل متصل او نښتی دي اوس څه خلک غواړي چی له دغو دواړو مسجدونو څخه یو مسجد جوړ کړي، د دواړو مسجدونو دری واړه اړخونو ته قبرستان دی، د دواړو مسجدونو دیوځای کولو په صورت کي لږ غوندی دقبرستان حصه هم په مسجد کی دننه کیږي، ایادغه حصه په مسجد کی دننه کولی شوو.

(ب) که چیرته دا دواړه مسجدونه سره یوځای نه کړو نو هغه مسجد چی په هغه کی دجمعی د ورځي لمونځ پکي اداکیږي ډیر تنګ دی اود قبرستان په وجه نور ځای هم نشته. نو د مسجد دوباره جوړولو په صورت کی که دقدیم جماعت خاني پرځای

دمسجد دسادان د ایښودلو لپاره کوټه جوړه کړی شي اوپه خواکی د اودس لپاره داوبو ډند هم جوړ کړی شي، په څنډه کی غسل خانه او بیت الخلا وي. ددی ټولو لپاسه نوی مسجد جوړ کړی شي ایاددغی نقشې په مطابق نوی مسجد جوړولي شوو اوکه نه؟
(نوټ) فـی الحال د مسجد دیوالونه ډیر کمزوري دي، دغه شان قبرستان هم د همدغه مسجد دلمونځ ګذارو خلکو دی.
(خواب) حامدا مصلیا و مسلماً. داچـی دواړه مـسجدونه بالکل متصل دي او دمحلې خلک دواړو مسجدونو یو کول غواړي نو داسی کولی شي هیڅ ممانعت پکې نشته.
حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب لیکي : مسئله: د محـل دخلکـو لپـاره جـائز ده چی له یو مسجد نـه دوه اوبالـه دوه مسجدونه یـو مسـجد جـوړ کـړي (الاشباه) (اداب المساجد ص ۱۸).
دالاشباه عبارت دادی : ولا هل الـمحلة جعل الـمسجد مسجدين والاولـــى ان يكون لكل طائفة مؤذن ولهم جعل الـمسجد ين واحداً).
کله چی په قبرستان کی اوس هم خلک مړی خښوي او وران ویجاړ نه وي چـی دضائع کیدو ویره یی وي نودهغه لړغوندی حصه هم په مسجد کی نشئ داخلولې واقـف چـی دکوم مقصد لپاره وقف کړی وي له هغه نه خلاف کول جائز نه دي، شرط الواقف کنص الشارع. (درمختار کتاب الوقف ۳/ ۵۷۵).
په شامی کـی دي : علـى انهم صرحوفا بان مراعاة غـرض الـواقفين واجبـة... وقدمرو جواب العـمل بشرط الواقف. (شامی ج ۳ ص ۵۸۵).
په کوم خای کی چی یوځل مسجد جوړ شوی وي هغه ځای تـر قیامتـه پـوری لـه عنـان السماء نه تر تحت الثرى پوری مسجد پاتی کیږي. (وكـره تحـريماً (الـوطء فوقــه والبول والتغوط) لانه مسجد الـى عنان السـمـاء(درمختار) (قوله الـى عنـان الـسماء) وكذا الـى تحت الثرى كمافـى البيرى (درمختار مع شامی ج۱ ص٦١٤ مطلب فـى احكام الـمساجد). نوځکه که چیرته یوځل په یوځـای کی مسجد جـوړ شوی وي نو دضرورت په وختو کی دهغه شهید کول اوله نوی‌سره جـوړول جـائز دی، نوکوم خای‌چی په مسجد کی داخل وي اوس دهغه لاندی یا بره، کوټه یـا داوبـو ډنـډ جوړول جائزنه دي، خوکه مسجد بالکل نوی جوړیږي او نوی تعمیر وربانـدی جـوړولی

شي یاله مسجد نه باهر بل خای په دی مسجد کی دننه کولی شي اوپه دغه نوی خای باندی دپلان په مطابق د مسجد د مصالحو په خاطر ډنډ یاکوټه یکې جوړول غواړي نوپه دی صورت کی یی جوړول جائز دي. په درمختار کی دي:

لو بنی فوقهٔ بیتاً للامام لایضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدیة ثم اراد المبناء منع در مختار ۳/ ۵۱۳ . کتاب الوقف). (فتاوی رحیمیه ٦/ ۸۱).

په همدی باب کی د مسجد نقشه ا ه مکمل کیدونه وروسته مسجد لاندی دوکانونو جوړول ترعنوان لاندی مسئلی ته وګوری. مفتی محمد شفیع صاحب په دی مسئله کی د اداب المساجد په ضمیمه کی تسلی بخش بحث کړی دی. فقط والله اعلم بالصواب وعلمه اتم واحکم بکم صفر ۱۴۰۸ هـ.

دمسجد په طرفونو کی له مسجد نه اوچت کور جوړول :

(۲۰۸ سوال) د مسجد نه وړاندې دقبلې په طرف دېوال ته متصل له مسجد نه اوچت اودنګ کور جوړولی شو اوکه نه؟ همدغه راز د مسجد له نورو دریو طرفونو نه هم له مسجد نه اوچت اولوړو کورونو جوړول جائز دي اوکه نه؟

(جواب) حامدا مصلیا و مسلما. د مسجد شاوخوا دلوړو کورونو جوړول جائز دي په دی سره د مسجد بی عزتي نه کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

(۱) د یو مسجد لپاره وقف شوی پایپ په بل مسجد کی ورکول (۲) که چیرته د مسجد آمدني د هغه له ضرورت نه زیاته وي نوپرهغه څه وکړی‌شي؟

(۲۰۹ سوال) زید یو نل یعنی پائپ دیو مخصوص مجسد دکوهي لپاره وقف کړ مګر ددغه مسجد خلکو دا پائپ وانخست اوله بلی لاری نه داوبو دویستلو طریقه راوویسته او س پائپ هسی پروت دی اود خرابیدو ویره ده، په همدی کلی کی یوبل مسجد هم دی چی د پایپ اشد ضرورت لري د زید اراده داده چی داپائپ دغه بل مسجد ته ورکړي ترڅوله ضائع کیدو نه بچ پاتی شي، ایا د بل مسجد خلک دا پائپ استعمالولی شي؟ شریعت په دی باره کی څه فرمایي چی جائز دی اوکه نه؟ که ناجائز وي نو دی لپاره بل کوم صورت خپل کړی شي؟ بینوا توجروا.

(۲) په ډیرو مسجدونو کی له ضرورت نه زيات آمدني کيږي او ډيرې پيسې جمع کيږي، د آمدني دغه ذريعه اوس هم جاري ده، که چيرته دغه زياتی پيسې په نورو مسجدونو کې ورکړی ذي نوبه دی کی به څه حرج وي؟ ياداچی د مسجد دغه ډيرې پيسې به نور خلک پخپلو جيبونو کی واچوي حال داچی نورو مسجدونو ته دپيسو اشد ضرورت دی

(۳) ياداچې ددغه مسجد زياتی پيسی په کومه مدرسه يا کوم غريب باندی ولګول شي نو ايا داجائزدی اوکه نه؟ مفصل جواب وليکئ؟

(جواب) حامدا مصليا و مسلما. داچی واقف پانې کوم مسجد ته وقف کړ له هغه وخت نه ددی اختيار ختم شوی دی، اوس چی په دی مسجد کی د پايپ ضرورت نشته اونه راتلونکی وخت لپاره ضرورت لري او پانې زنګ وهي او خرابيږي نو دادی خرڅ کړي او قيمت دی په مسجد کی ولګوي، دنورو مسجدونو خلک دابه پيسو احستلی شي که چيرته واقعي مسجد دوسره مالدار وي اوله خپل ضرورت نه زياتی پيسې پکی جمع شوی وي اودهغوی دضائع کيدو قوي احتمال وي لکه مو په سوال کی ليکلي دي نوبه دی صورت کې پانې هسی مفت بل مسجدته د مسجد دخلکو په مشوره ورکولی شئ همدغه راز پيسې هم بل مسجد ته ورکولی شئ

لا سيمافی زمانا فان المسجد او غيره من رباط او حوض اذالم ينقل ياخذ انقاضه اللصوص والمتغلبون کماهو مشاهدو کذلك اوقافه ياکل النظار او غيرهم ويلزمه من عدم النقل خراب المسجد الاخر المحتاج الی النقل اليه الخ

(شامی ج۳ ص ٥١٤ کتاب الوقف. مطلب فی نقل انقاض المسجد).

بهتره داده چی په دغو زياتو پيسو سره ددغه مسجد تر سرپرستي لاندی ديني مدرسه قائم کړی شي ترڅو په دی سره دمسجد آبادئ هم زياته شي اود پيسو ضائع کيدل هم بچ شي. فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد په ديوالونو باندی قرآني ايت ليکل منع دي:

(۲۱۰) سوال: د مسجد په بهرني او داخلي طرف ديوالونو کی د قرآن شريف آيتونه ليکل څنګه دي؟ که جائز وي نو کوم يو آيت ليکل پکار دی؟

(جواب) حامدا مصليا و مسلما د مسجد په ديوالونو باندی که هغه دننه طرف نه وي يا باهر طرف نه دقرآنی ايتونو ليکل ممنوع دي. دبی ادبي د احتمال په وجه فقها ددی

اجازه نه ورکوي. ولاینبغی الکتابة علی جدرانه (درمختار) قال فی البحر وکذا یکره کتابة الرقاع والصاقها بالابواب لما فیه من الاهانة وفیه من النهایة لیس بمستحسن کتابة القرآن علی المحارب والجدران لما یخاف من سقوط الکتابة وان توطأ (طحطاوی علی الدرالمختار ۱۰/ ٤٤۰). قوله ولا ینبغی الکتابة علی جدرانه) ای خوفا من ان تسقط وتوطأ، بحر عن النهایة(شامی ۱/ ٦۲۰ مطلب فی احکام المساجد) فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد وقفي زمکه هسې بیکاره پرته ده په هغې باندی مدرسه جوړول څنګه دي؟

(۲۱۱ سوال) زمونږ د محلی د مسجد په قبضه کی وقف زمکه ده چې دکلونو کلونو راهیسې هسې بیکاره پرته ده، زمونږ دمحلی د مدرسې منتظمینو خیال دی چې دغه زمکه دمدرسې په پیسو په کرایه واخستلی شي دزمکې میاشتنی کرایه چې څومره ټاکل شوی ده هغه دی د مسجد په مصرف کی ونیول شي، بیادی مدرسه د مسجد پر دغه زمکه پخپلو پیسو تعمیر او آبادي جوړه کړي، بیادی د مدرسې دغه تعمیر په کرایه ورکړي او کومه کرایه چې ترلاسه کیږي هغه مدرسه پخپله مصرف کړي، د مدرسې د منتظمینو خیال دی چې زمکه دی تریوی اوږدی ټاکلی مودی په کرایه ورکړل شي اوپه دی لیکلي سند ورکړي، نو اوس پوښتنه داده چې د مدرسې په پیسو داسې موقوفه زمکه په کرایه ورکول او دهغه سند ورکول جائزدي اوکه نه؟

(جواب) حامدا و مصلیا ! که څه هم فی الحال مسجد دغې زمکې ته ضرورت نه لري لاکن راتلوونکی وخت لپاره ضرورت یی پیداکیدای شي، په دی باندی د مدرسې جوړیدو نه وروسته دهغه ترلاسه کول مشکل دی. اوقانوني لحاظ سره هم ترلاسه کول یی ډیر ګران تمامیږي نوځکه د اوږدی مودې لپاره په کرایه ورکول جائز نه دی او اجازه ورته نه ورکول کیږي. همدغه راز کله چې په موقوفه زمکه باندی دمدرسې په

پیسو سره عمارت جوړ شي نودمسجد وقف دمدرسې له وقف سره ګډیږي اوداهم صحیح نه دی، نوځکه داکار دی ونه کړی شي[1]

که چیرته واقبي د مسجد زمکه دمسجد په تصرف کی نه وي اوهسی بیکاره پرته وي او نه هم آینده دهغه دضرورت توقع نه وي، دکرایه قابل هم نه وي چی په کرایه ورکړی شي. همدغه راز د مسجد متعلقه حکم هم ونه لري. نود محلی دخلکو په اتفاق سره هغه خرڅ کړی اودهغهٔ پرځای بل ځای واخلي، خوپه دی شرط چی دخرڅولو په صورت کی مسجد او لمونځ ګذارانو ته دتکلیف رسیدو ویره نه وي فقط والله اعلم بالصواب

دکوم سړي له پوزی نه چی بدبوی راځي ایاهغه مسجد ته راتللی شي اوکه نه؟

که چیرته نور لمونځ ګذاران دهغه په راتلو نه خفه کیږي نو بیاراتلی شي اوکه نه؟

(۲۱۲ سوال ، یوسړی پیدائشي توګه دپوزی ناروغی لري چی دهغه په وجه بدبوی ترینه خي ډیر علاج یی وکړ خو هیڅ ګټه یی ونه کړه داسی سړی په اعتکاف کی کیناستیدلی شي اوکه نه ؟

(۲) داسی سړی دپنځو وختو لمونځونو د اداکولو لپاره مسجد ته تللی شي او که نه؟ په داسی حال کی چی نور لمونځ ګذاران دهغه په راتلو خوشالیږي اوپه نه راتلو یی خفه کیږي، مګر بیاهم د مسجد د احترام په خاطر هغه مسجد ته لاړشي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) حامدا و مصلیا ومسلما. په حدیث شریف کی دي چی کوم سړی له دغی بد بوداره بوټي نه وخوري نو هغه دی زمونږ مسجد ته نه نژدی کیږي ځکه چی ملائکی له هغه څه نه اذیت محسوسوي لـه کوم څیز نه چی انسان اذیت محسوسوي (بخاری) وغیره[2] حدیث، شرف د انسان او ملائکی په ایذا سره معلل دي. نوځکه دچا د بدن د

---

[1] -قلت لکن قال ابو جعفر الفتوی علی ابطال الاجرة الطویلة ولو بعقود در مختار مع الشامي کتاب الوقف. مطلب فی الا جارة الطویلة بعقود.(ج ث ص ۵۵۰).

[2] قیل لانس ماسمعت النبی صلی الله علیه وسلم فی الثوم فقال من اکل فلایقربن مسجدنا کتاب الاطعمه ب ما یکره من الثوم والبقول الخ ج ۲ ص ۸۱۹ .

کومې حصې له بدبويي نه چې چاته تکليف رسيږي هغه بايد مسجد ته رانشي نه لمونځ لپاره اونه هم د اعتکاف لپاره، په وسيله احمديه شرح طريقه محمديه کې دي:
کل من وجدفيه رائحة کريهة يتاذی به الانسان يلزم اخراجه. يعنې فقهاء فرمايي چې د کوم سړي په بدن داسې خراب بدبوی محسوس کړی شي چې دهغه په وجه خلکوته تکليف وي نو هغه دی له مسجدنه وويستل شي. (اسلام کانظام مساجد صفحه ۲۱۹)

(۲) داچې بدبويي تکليف ده حالت ته رسيدلی وي مگر بياهم خلک هغه زغمې ياورسره عادي شوی وي نوبياهم هغه ته پکاردي مسجد ته له راتلونه ډډه وکړي ځکه چې مسجد ته ملائکې راځي، هغوی او نورو خلکوته تکليف رسيږي. البته که بدبوي ډير لږ وي او خلکو ته زيات تکليف نه رسيږي نودپنځه وخته لمونځونو لپاره عطر او نور خوشبوی دی ولگوي او مسجد ته دی راشي. والله اعلم بالصواب. ۱۸ رمضان المبارک ۱۳۷۹ هـ.

دغلا په لرگيو او حرامو پيسو سره دجوړشوي مسجد حکم :

(۲۱۳سوال) په يوځای کې مسجد جوړشوی دی، متوليانو له ځنگل نه لرگي غلاکړي او مسجد يې ورباندی جوړ کړی دی، دمسجد لپاره يې چې له کومو خلکونه چنده آخستې هغوی هم بنکاره غله او دوکوان دي له هغوی سره تپوله ناجائزه او حرامه پيسه ده، غرض داچې مسجد دغلامال او حرامو پيسو سره جوړه شوی ده ايا دامسجد دمسجد په حکم راځي؟ ايا په دی کې دنيکو خلکو لمونځ صحيح کيږي اوکه نه؟ ددی مفصل ځواب د کتابونو په حوالې سره وليکئ فقط.

(ځواب) کوم مسجد چې د غلا او حرام مال سره جوړشوی وي دهغه حکم دادی چې هلته لمونځ ونکړی شي.

وفی شرح المنية للحلبی بنی مسجدا فی ارض غصب لا باس بالصلوة فيه وفی الواقعات بنی مسجداً علی سورالمدينة لاينبغی ان يصلی لانه حق العامة فلم يخلص لله تعالی کالمبنی فی ارض مغصوبة. (شامی ج۱ ص ۳۵٤ مکروهات الصلوة. کبيری ص ۵۷۱).

خودادی له بې حرمتي نه وساتل شي، هلته دی حائضه ښځه او جنب سړی داخل نشي. هغه دی بايد محفوظ وساتل شي، خرخول يې هم صحيح نه دی. که چيرته د

مسجد زمکه نه چانه په زوره نه وي نیول شوی بلکی په جائزې طریقې سره ترلاسه کړی شوی وي نو دغه ناجائز عمارت دی لری کړی شي اوپرځای دی په حلال مال بل عمارت جوړ کړی شي لدینه وروسته په دی مسجد کی لمونځ کول بالکل صحیح او روادی. (منیه المساجد ص۲٦_۲۷ فقط والله تعالی، اعلم بالصواب، ٦ ربیع الاخر ۱۳۸۰ هـ کال.

په مدرسه کی د تفریح په وخت اخبار لوستل :

(۲۱۴ سوال) زمونږ په مدرسه کې دسهار له ۸ بجونه نه تر لسو بجوری اوبیاد ماسپښین له پاو باندی دوه بجونه تر پاو باندی څلور بجو پورې سبق ښودل کیږي، د درس په وخت کی ماشومانو ته ۱۵ دقیقی د حاجت او ضرورت رفع کولو او اوبو څکلو لپاره تفریح ورکوو، په دغه فارغ وخت کی استاذان اخبار لولي . د تفریح په وخت کی دمدرسې یو نګران راغی اوله موږ سره یې ډیره سخته بد کلامي اوجګړه وکړه تردی یی مونږ ته وویل چی تاسی حرام تنخواه آخلئ حال داچی مونږ دتفریح په وخت کی اخبار کتل او دری دقیقی لاپاتی هم وې. تاسی مهرباني وکړئ مونږ ته ولیکئ چی هغه خبری صحیح وی اوکه غلطې؟ ایا مونږ په مدرسه کی اخبار لوستلی شو او که نه؟ مهرباني وکړئ ددغو پوښتنو ځواب راکړئ.

(ځواب) حامدا ومصلیا ومسلماً: ستاسی د تعلیم وخت صرف دوه ساعته دی، په دی وخت کی ۱۵ دقیقی تفریح ورکول ضروري نه دی، ماشومان به ځي متیازی به کوي ځیني ماشومان به لاسونه وینځي او ځینې نور به نه وینځي په صنف کی به له اودس نه بغیر قرآن کریم لاسو کی نیسي او تلاوت به کوي، له اودس نه پرته دقرآن کریم په لاس کی اودهغه تلاوت کول دقرآنکریم بی ادبی ده، پکار داده چی له همدی وخت نه په اودس سره دقرآن کریم دتلاوت کولو عادت ورکړئ، نو ځکه دا تفریح غیر ضروري دی. په دغه دوه ساعتو کی که چیرته کوم ماشوم ته دقضای حاجت ضرورت پیداشي نو هغه به له تاسو نه اجازه اخلي او رفع حاجت ته به ځي. په دی ترتیب ستاسی درس به هم جاري وي. پاتی شوه د مدرسې دسرپرست سختې خبرې دازیاتې اود استاذ په توهین کی راخي، داچی تاسی دوقفی په وخت کی اخبار لوستلی دی دشاګردانو حق مونه دی پښولاندی کړی نوبیا ستاسی تنخوا ولې حرامه شوه؟ هغه ته داخبرې کول نه وو پکار . (والله اعلم بالصواب).

دمسجد په احاطه کې واقع قبرستان کې امام لپاره داوسیدو حجره جوړول :

(۲۱۵) سوال: دمسجد په احاطه کې قبرستان شامل دی چې ددیرشو کلو راهیسې دمړو دخښولو لپاره بند پروت دی. دقبرستان په هغه ځای کې امام لپاره یوه کوټه جوړه شوې ده چې، هلته غسل خانه او بیت الخلا ده. امام صاحب په دې کوټه کې دخپلو ماشومانو اوښځې سره اوسیږي ایادهغه اوسیدل هلته جائز دي؟

(جواب) حامدا و مصلیا ومسلما: د مسجد په احاطه کې د قبرستان دغه ځمکه وقف دی. د ځا داتي سکیت نه دی. هلته دامام لپاره کوټه. غسلخانه او بیت الخلا جوړول قطعا جائز نه دی. ددې جوړوونکی اوپه هغه کې اوسیدونکي دواړه سخت ګنهګار دي. فقط والله اعلم بالصواب

په پراخ مسجد کې امام ته یو دوه صفه وروسته ودریدل څنګه دي؟

(۲۱۶) سوال: مسجد کافي لوی او فراخ دی. لمونځ ګذاران یوه دوه صفه ایله وي. که چیرته امام صاحب له خپلی اصلي ځای یعنی دمحراب پرځای یو دوه صفه وروسته د مسجد په منځ کې ودریږي نوداکار څنګه دی؟ بینوا توجروا

(جواب) ټول مسجد د واحد مکان په حکم کې دی.لهذا امام صاحب که په مسئوله صورت کې دوه صفه وروسته ودریږي نو ودریدلی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

که په بیت الخلا کې دناستې ځای دقبلې په طرف وي اویاهم قبلې ته شاکیږي نو ایا دهغه دوباره جوړول ضروري دي اوکه نه ؟

(۲۱۷) سوال: زمونږ په مسافرخانه کې چې کوم بیت الخلاګانی جوړې کړی شوی دي له هغو نه خیني فلشونه داسې اینبودل شوي چې یایې مخ قبلې ته دی اویایې شا. اوس پوښتنه داده چې دهغوی بدلول اوله نوی سره جوړول ضروري وي اوکه نه؟

(جواب) حامدا و مصلیا و مسلما. دمتیازو په وخت کې دقبلې طرف ته مخ یا شا کول سخت منوع، او ګناه ده په حدیث کې دي

عن ابی ایوب الانصاری رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اذا اتیتم الغائط فلا تستقبلوا القبلة ولاتستدبروها (مشکوة ص ۴۲ باب آداب الخلاء).

ترجمه له حضرت ابو ایوب انصاری څخه روایت دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل کله چې تاسی استنجا لپاره لاړشئ نو دقبلې په طرف مه مخ اړوئ اونه شا.

په درمختار کی دي (کما کره) تحریما (استقبال قبلة واستدبارها) لاجل (بول اوغائط، فلو للاستنجاء لم یکره (ولو فی بنیان لاطلاق النهی) (درمختار مع رد المحتار ۱/ ۳۱۶ مکروهت الصلاة).

لهذا په مسافرخانه کی چې دکوسو فلشونو مخونه اوياشاګاني قبلې طرف ته کیږي نوپکاردی چې په لومړی فرصت کی دافلشونه بیرته صحیح ولګول شي څکه قبلې ته مخ اوياشاکول دواړه ممنوع او ګناه ده.

(فقط والله اعلم بالصواب ۱۶ ربیع الاول ۱۴۱۷ هـ).

کتاب الشرکة

له څو شریکانو څخه دیوتن دبل له اجازی نه پرته جدا کول:

(۲۱۸) سوال: موږ څلور کسان په یوه کمپنه کی شریک یو، له هغه نه یو تن جداکیدل غواړي هغه زموږ له دریو تنو څخه له یو تن سره خبری وکړې اوجداکیدو اراده یې ورته ښکاره کړه. هغه زموږ له دوه تنو سره دمشورې نه پرته څلور زره روپۍ یې ورکړې اوجدایې کړه. بیاهغه وروسته موږ له دی حقیقت نه خبر کړو چی ماهغه ته دڅلور زره روپو په ورکولو سره له شرکت نه علیحده کړی دی. اوس زموږپوښتنه داده چی دهغه دافیصله صحیح ده اوکه نه؟ اوکه داپکار ؤ چی موږ څلور واړو پخپلو کی فیصله کړې وای؟ بینوا توجروا.

(ځواب) کله چی څلور تنه په یوه کارکی شریک وي نو چی کومه فیصله کیږي نودڅلورو واړو صلاح او مشوره او رضا ضروری ده دیوتن فیصله چی نور ملګري ورسره متفق نه وي صحیح او معتبره نه ده[1] فقط والله اعلم بالصواب.

زوی زمکه واخستله دهغه څه حکم دی؟:

(۲۱۹) سوال: زید په مجرد توب کی یوه ټوټه زمکه دخپلې ګټې په پیسو اخستی وه اوس غواړي چی هغه زمکه خرڅه کړي، دهغه اولاد نشته، ښځه یې ژوندۍ ده، دزید پنځه خورګانې او مور پلار یې هم ژوندي دي، زید له خپلې ښځې سره جدا اوسیږي. ددغې زمکې چی کوم قیمت ترلاسه شي آیاپه هغه کی دنورو حصه شته اوکه نه؟ د زید اراده داده چی په دغو پیسو خپل مور اوپلار باندی حج وکړي. بینوا توجروا.

(ځواب) داچی زید په مجرد توب کی جدا اوسیده او هغه پخپلو ګټلو پیسو باندی زمکه اخستی وه نو دهغه مالک هغه پخپله دی، داچی زید مور اوپلار حج ته بوتلل غواړي نو دا دهغه ډیره مبارکه اراده ده.لیکن که چیرته زید له خپل مور اوپلار سره اوسیده خوراک څښاک یې هم له هغوی سره کاو او په همدی وخت کی پخپلو ګټلو پیسو زمکه

---

[1] – ولا یستطیع احدهما الخروج من الشرکة الا بمحضر من صاحبه او ملخصا زاد فی البحر عن الظهیریة ولیس لو احد منها ان یبیع حصة الآخر مما اشتری الاباذن صاحبه لأنهما اشترکا فی الشراء لافی البیع، شامی فصل فی الشرکة الفاسدة تحت قوله ما اشتریت الیوم ج ٤٠ ص ٣٢٩ .

اخستی وي نودا زمکه دپلار ملکیت حسابیږي اوپه دی کی دهغه دپلار ټول وارثان حقدار دي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

دشریکوان په غیر موجودګي کی د مشترک څیز خرڅول:

(۲۲۰ سوال) دری ورونو په شریکه یو ټریکټر واخست، پدی کی دڅالړه حصه ده اودڅا ډیره. ترپوی مودی پوری په شریکه وچلاوه اوګټه یی هم دهرڅا دحصی په مطابق پخپلو کی ویشله، بیا وروسته د خرڅولو فیصله یی وکړه، یوه ورځ چی دریم شریکوان پکي موجود نه و دوه نورو شریکوانو ټریکټر خرڅ کړ. وروسته چی دریم شریک وان ته معلوم شو نو هغه خفه شو، ایا دابیع معتبر دی او که نه ؟ (بینوا توجروا).

(ځواب) په مسئوله صورت کی چی دیو شریکوان له اجازی نه پرته ټریکټر خرڅ شوی دی هغه صحیح نه دی. په الجوهره النیره کی دي:

ولایجوز لاحدهما ان یتصرف فی نصیب الآخر الا باذنه وکل واحد منهما فی نصیب صاحبه کالاجنبی لان تصرف الانسان فی مال غیره لایجوز الا باذنه او ولایته (الجوهرة النیرة ج۱ ص ۲۸۷ اول کتاب الشركة).

که پلار او زوی په شریکه تجارت کوي نو دهغی د ګټي څه حکم دی ؟

(۲۲۱ سوال) په عرف کی دا مشهور دي چی که چیرته پلار او زوی یوځای اوسیږي او کاروبارهم یوځای کوي نو څومره ګټه چی کیږي دهغه مالک به پلاروي، اوچی کله پلار مړشي نو دهغه په مال کی چی څومره وارثان دي نودپلار مال دهغوی په منځ کی دشرعیت په مطابق تقسیمیږي ایا داصحیح ده په شریعت کی ددی څه حکم دی؟ مهرباني وکړئ معلومات راکړئ. بینوا توجروا.

(ځواب) کله چی پلار او زوی دواړو یوځای کار کوي، خوراک څښاک هم یوځای کوي نو دکار او بار ګټه دپلار ده، دپلار له مړکیدونه وروسته دامال پخپلو وارثانو کی للذکر

---

[1] لما فی القنیة الأب وابنه یکسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهما شئ فالکسب کله، للأب ان کان الابن فی عیاله، لکونه معیناله، الاتری لو غرس شجرة تکون للأب ثم ذکر خلافا فی المرأة مع زوجها اذا اجتمع بعملهما اموال کثیرة کان لها کسب علی عدة فهولها. شامی فصل فی الشرکة الفاسدة مطلب اجتمعا فی دار واحدة. ج ٤ ص ٣٢٥.

مثل حظ الانثيين په اصول سره به تقسيميږي په شامي کې دي : الاب وابنه يكتسبان في صنعة واحدة ولم يكن لهما شئ فالكسب كله للاب ان كان الا بن في عياله لكونه معينا له الاترى لو غرس شجرة تكون للاب(شامي ج ۳ ص۴۸۳ فصل في الشركة الفاسدة).

مګر کوم زوی چې له پلار نه جلا خانته کارکوي خوراک څښاک يې هم بالکل جداوي نو بيادهغه ګټه بخپله دهغه کيږي نه دپلار. فقط والله اعلم بالصواب.

که ښځه په خپلو پیسو څه کار او کسب وکړي، نو میړه اودهغه د مخکینی ښځې اولادونه په دی مال کی حق لري اوکه نه ؟

(۲۲۲) سوال :مایخپلو پیسو په کور کی دننه کاروبار شروع کړی دی، په دی کار کی نه زما دمیړه پیسی شاملی دي اونه هم خواري، اوس زما خاوند مړشوی دی، دهغه دمخکینی ښځي نه اولادونه دي ایا زماپه دی مال کی دهغوی حصه یاحق کیږي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته په سوال کی تولی لیکل شوی خبری صحیح وي نو په دی صورت کی ستا د مخکینې ښځې اولادونه ستاپه مال کی حق نه لري اودا کاروبار یوازی ستاملکیت دی په شامی کی دي: ثم ذکر خلافاً فی المرأة مع زوجها اذا اجتمع بعملهما اموال کثيرة فقيل هی للزوج وتكون المرأة معينة له الا اذا كان لها كسب علحدة فهو لها وقيل بينهما نصفان (شامي ص ۴۸۳ ج۳) فصل في الشركة الفاسدة). فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته په یو شریک کاروباره کی یوشریکوان دملازم وظیفه اداکړي او تاکلی تنخوا واخلي نو ددی څه حکم دی ؟

(۲۲۳) سوال : خالد په یو دکان کی شریک دی اوپه همدی دکان کی هغه دملازم په توګه کار هم کوي او تنخواه آخلي ایا هغه لپاره داتنخواه آخستل صحیح دي، که صحیح نه وي نو د جواز څه صورت ولیکئ بینوا توجروا.

(ځواب) په مسئوله صورت کی خالد لپاره دخپل کارپه عوض کی تنخواه آخستل جائزنه دي. ځکه چی شرکت اواجرت (ملازمت) په یو عقد کی نشي جمع کیدلي په دی سره

عقد فاسدیږي البته تول که شریکان پخپله خوښه زیات کارکوونکي ته په گټه کې څه زیاتي پیسې ورکړي نوداجائز صورت کیدی شي. په درمختار کې دي:
ومع التفاضل فی المال دون الربح وعکسه الخ.
په شامی کې دي (قوله ومع التفاضل فی المال دون الربح) ای بان یکون لاحدهما الف وللآخر الفان مثلا واشترطا التساوی فی الربح وقوله وعکسه ای بان یتساوی المالان ویتفاضلان فی الربح لکن هذا مقید بان یشترطا الاکثر للعامل منهما اولا کثرهما عملا امالو شرطاه للقاعد اولا قلها عملا فلا یجوز کما فی البحر عن الزیلعی والکمال ....الخ (شامی ص ۴۷۱ ج ۳، کتاب الشرکة).
په امداد الفتاوی کې دي:
(۵۰۳ سوال) زید، بکر او عمر دری واړو مساوي او برابری پیسې لګولې او تجارت کوي فیصله په دی شوی ده چې د تجارت سرپرستي به زید کوي اوکومه گټه چې وشي نو دهغه نیمیاي به زید ته ورکوي او پاتی نیمه گټه به بکر او عمر پخپل منځ کې ویشي، خو کوم نقصان چې وشي هغه دی دری واړه پخپل سرآخلي. ایا داصورت جائزدی اوکه نه؟
(خواب) دایوشریک کاروباردی. ددی باوجود چې په دی کې دټولو سرمایه یوه برابره ده بیاهم په گټه کې دتفاوت شرط هم جائز دی مګر ټول کاردیو شریکوان په غاړه کې د اچولو شرط ناجائزدی نو ځکه داشرط فاسدشو. گټه به ټولو ته برابره ورکول کیږي. امداد الفتاوی ص ۴۲ ج ۳ کتاب الشرکه (مطبوعه کراچی، پاکستان).
دویمه فتوه:
(۵۰۰ _ سوال) خلورو کسانو په گډه تجارت وکړ او پخپلو کې په دی خبره فیصله وشوه چې یوکال دی دو تنه دتجارت مال بهر ملک ته یوسي اودوه نور پاتی کسان دی پخپلو کورو کې کیني بیابل کال ته دغه دوه کسان چې په کورونو کې ناست وو د تجارت مال پردیس ته یوسي او هغه مخکیني دوه کسان دی پخپلو کورونو کې کیني. اوس سوال دادی چې کوم دوه کسان مال بهر وړي ایا دوی ته په گټه کې د زیات مال اخستلو جواز شته اوکه نه؟ که زیات نشي آخستلی نو ایا د تنخواه په شکل کې حق الزحمه اخستلی شي او که نه؟

(ځواب) فـی الدر الـمختار کتاب الشرکة : وشرطها کون الـمعقود علیه قـابلا للوکالة فلایصح فـی مباح کاحتطاب وعدم مایقطعها کشرط دراهم مسـماة مـن الربح لاحدهما لانه قد لایربح غیر الـمسمی وحکمهـا الشـرکة فـی الـربح فـی ردالمختار تحت قوله و حکمها الشرکة الخ. واشتراط الربح متفاوتاً وعندنا صحیح فیما سیذکر ج ۳، ص ۵۲۰).

لدینه معلومه شوه چې کوم خلک بهر ځي هغوی زیاته ګټه اخستلی شي خوښاکلی تنخوا نشي آخستی داچې منافع زیاته آخلي هغه باید په نسبی توګه وي مثلاً دوه ثلث بـه هغه آخلي اویوثلث به نورو هغو شریکانو ته ورکوي چې بهر نـه وي تللـي خوداجائزنـه دی چې د میاشتې په حساب شل شل روپۍ واخلي. (امداد الفتاوی ص ۴۴۰، ص ۴۴۱ ،ج۳).

یوه بله فتوه وګورئ :

(۵۰۴ سوال) زید، عمر او بکر یو برابر پیسی واچولی او پرهغه یی دتجـارت کولـو فیصلـه وکړه، هغوی داټولې پیسې زید ته ورکړې چې ته په دی پیسو باندی کار وکړه اوپـه ګټـه کې به څلورمه حصه درته حق الزحمه درکول کیږي پاتی دری حصی بـه پـه دری واړو باندی برابر ویشل کیږي اوکه نقصان وشي نو مونږ دری واړه په شریکه په سر اخلو ځکـه چې په ګټه کې څلورمه حصه ته مضارب یی اوپاتی دری حصو کی ته شـریکوان یی ایا داصورت جائز دی چې یو سړی شریکوان هم وي او مضارب هم.

(ځواب) په یوه معامله کی دبلی معـاملی شرط لګـول مفسـد عقـد دی. کـه یـو معاملـه جداوي اوبله معامله له هغه نه داسی جداوي چې هغـه پـه قبـول او عـدم قبـول کـی مختاروي او حساب یې جداوي نو داجـائز دی . (امـداد الفتـاوی ص۴۴۲ ص ۴۴۳ ج ۳ کتاب الشرکة). فقط والله اعـلم بالصواب.

داسی شرکت جائزدی اوکه نه چې دیوسړي دی دکان وي اودبل سړی دی زیروکس مشین وي ؟

(۲۲۴_ سوال) په بمبۍ کی زما ذاتي دوکان دی. یوسړی غواړي چې هلته دفوټوکـاپي مشین ولګوي اومایه دی کارکی شریک کړي، مونږ دواړه په ګـډه کـارکوو او کومـه ګټـه چې وشي هغه یوه برابره پخپلو کی ویشو، نو ایـا زمونـږ داشـریک کـار چـې دکـان دی

زماوي او مشین دی دهغه وي جائزدی اوکه نه؟ کله چی زمونږ داشرکت ختم شی نودا مشین به دچاکیږي؟ بینوا توجروا.
(خواب) ستاسی داشریکه کاروبار جائزدی لکه چی فتاوی عالمگیری کی دي:
ولان قصاراً له اداة القصارين وقصاراً له بيت اشتركا علی ان يعملا باداة هذا فی بيت هذا علی ان الكسب بينهما نصفان كان ذلك جائزاً كـذا فـی السراج الوهاج. (فتاوی عـالمگیری ص ۳۳٤ ج ۲، باب نمبر ٥ فـی الشرکة الفاسدة).
په شامی کی دي: ومنها مافی البحر عن البزازية لاحدهما آله القصارة وللاخربيت اشتركا علی ان يعملا فی بيت هذا والكسب بينهما جاز و كذا سائر الصناعات.(شامی ص ٤٨٠ ج ۳، کتاب الشرکة).
کله چي شریک کاروبار ختم شي نودکان ستادی او مشین دهغه. فقط والله اعلم بالصواب.

که واده کړی اولاد له خپل پلار سره اوسیږي نودهغه گټه دچاده دپلاراوکه د زوی؟

(۲۲۵ سوال) دیوسړي خلور زامن دي او ټولو ودونه کړي دي، داخلور واړه مختلف کارونه کوي، یو مشترک کارنشته البته هریوخپل خپل تنخواه پلارته ورکوي او هغه دپوره کور نظام چلوي، پلار دهغوی له پیسونه مختلف ځیزونه هم آخستی دي، څه زمکي او کورونه یی هم آخستی دي اوس سوال دادی چی هغه کوم ځیزونه زمکی او کور آخستی دی هغه به دچاکیږي؟ دپلار اوکه دټولو زامنو؟ مهربانی وکړئ خواب راکړئ بینوا توجروا.
(خواب) کله چی پلار اودهغه زامن یوځای اوسیږي اوهریو خپل خپل تنخواه پلارته ورکوي نوپه دی صورت کی د جمع شویو پیسو سره چی کوم کور زمکه او نور سامان اخستل شویدی هغه ټول دپلاردی.
په شامی کی دي :وفی الخانية زوج بنيه الخمسة فی داره وكلهم فی عياله واختلفوا المتاع فهو للاب، وللبنين الثياب التی عليهم لاغير.(شامی ص ٤٨۳ ج۳، فصل فی الشركة الفاسدة). فقط والله اعلم بالصواب.

تتمه فی الشرکة

دچا دمال دهغه له خوښې نه پرته آخستل اوله میراث نه دخپلو خورګانو محرومول:

په مسلمانانو کی یو دامرض هم عام شوی دی چی چیرته یی وسه ورسیږي دبل چا مال اخلي دخلکوپه نظر کـی یـوازی دنیا اهمیـت لـري او آخـرت یی لـه یـاده وتلـی دې دچامال دهغه له خوښې نه پرته آخستل جائزنه دي. مولانا محمد تقی عثمانی صاحب په دی اړه لیکي:

په یوحدیث شریف کی دمحمدصلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی چی د مسلمان مال دهغه له رضانه پرته آخستل حلال نه دی. (مجمع الزوائد ص ۱۷٦ ج ۴).

محمدصلی‌الله علیه وسلم چی په منی کی دحجة الوداع پـه وخـت کـی کومـه خطبـه ورکړه په هغې کی دایی هم وفرمایل چی هیچاليارہ دخپل ورور هیڅ یومـال حـلال نـه دی پرته دهغه مال نه چی هغه پخپله خوښه ورکړې وي.(مجمع الزوائد جلد۴).

حضرت ابو حمید ساعدی رضی‌الله عنه روایت کـوي چـی محمدصـلی‌الله علیـه وسـلم ارشاد وفرمایل: هیڅ یو مسلمان لپاره حلال نه دي چی هغه دخپل ورور مـال پـه ناحقـه واخلي. ځکه چی الله تعالی د مسلمانانو مال په بـل مسـلمان بانـدی حرام کـړی دی. اودایی هم حرام ګرځولی دي چی کوم سړی دخپل ورور امساهم دهغه لـه خـوښې نـه پرته واخلي ، ایضاً ص ۱۷۱ ج ۴).

له چانه د څه څیز اخستو اویادهغـه د استعمالولو لپاره دهغـه دمالـک خوښـه ضروري دد نوځکه کاه چی دامعلوم شي چی یوسړي دخپل څیز د استعمالولو اجازه دکوم فشار او دباو په وجه اویاهم دحیا له کبله ورکـړی ده اوهغـه لـه زړه نـه وربانـدی رضـانه دی نوداسی اجاره اجازه نشي ګڼل کیدی اودهغه استعمال هم جائزنه دی.(وصـیه العرفـان جمـادی الاولـــی کـــال ۱۴۱٦. مطـــاب اکتـــوبر ۱۹۹۵ هــــ. ص ۴۴، ۴۵شـــماره نمبر۱۰.جلدنمبر۱۸).

داخبره دی هم په ذهن کـی وسـاتلی شـي چـی لـه میراث نـه د انجونـو محرومـول اودهغوی حصه په هکلانو باندی ویشل هم همدغه حکم لانـدی داخـل دی او سـخت حرام دی. د جنوکیانو چی کوم میراث اوبا دپلار له مال نه کوم حق دی دهغـه ورکـول

ضروري اولازمي دی، ځکه چی دمیراث تقسیم الهی حکم دی، پرهغه عمل کول داجر اوثواب، باعث دی، له دی نه مخالفت کول سخته ګناه لري او د دوزخ وعید ورته آورول شوی دی په قرآنکریم کی دمیراث احکام له بیانولو نه وروسته الله تعالی ارشاد فرمایي:

تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ○ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ (النساء۱۳_۱٤).

داد الله تعالی حدود دي او څوک چی دالله اودهغه درسول پوره اطاعت کوي الله هغه په داسی جنتونو کی داخلوي چی هغه لاندی به ویالی بهیږي او همیشه همیشه لپاره به پکې اوسيږي اودا لویه کامیابی ده او څوک چی دالله اودهغه درسول احکام نه مني هغوی په اور کی دننه کوو په هغه کی به همیشه لپاره وي، او سپکوونکی عذاب به ورته ورکول کیږي.

لهذا پکاردي چی دخپلو خورګانو شرعي حق اداکړی شي.

مولانا مفتی محمد عاشق الهی بلند شهری دام مجده ډیره ښه خبره لیکلی ده. الله تعالی دجنوکیانو دحصی اهمیت بیان کړی او فرمایلی دي چی ((للذکر مثل حظ الانثیین)) دهلک حصه د دوه جنوکیانو د حصی په برابر ده. یعنی دهلکانو حصه علیحدہ اوجلاندی بیان کړی بلکی د جنوکیانو دحصی په بیانولو سره دهلکانو حصه بیان کړی دی. (وصیت اومیراث کے احکام ص ۴۳).

ځیني خلک خپل وارث عاقوي اوله خپل میراث نه محروموي داسی کول هم جائزنه دی که چیرته کوم هلک نافرمان وي هغه دخپل ددغه نافرماني پخپله ځواب ورکوونکی دی، له میراث نه دهغه محرومول صحیح نه دي. په حدیث شریف کی دي: له ابوهریره رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : بی له شکه سړی اوښځه دوه شپیته کلو پوری دالله تعالی اطاعت کوي. خود مړکیدو په وخت په وصیت کولو کې دخپل کوم وارث ته دضرر رسولو لاره خپلوي نو هغه لپاره دوزخ واجبیږي. بیا حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه دنساء دسوری آیت:

((من بعد وصیّة یُوْصی بها اودین غیرمضار... وذلك الفوز العظــیم)). ولوست (مشکواه شریف ص ۲٦۵ باب الوصایا).

بل حدیث له حضرت انس رضی‌الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: چاچی دخپل وارث میراث غوځ کړ الله تعالی دقیامت پـه ورځ پـه جنت کی د هغه حصه غوڅوي.

عن انس رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من قطع میراث وارثة قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. (مشکوة ص ۲٦٦ باب الوصایا). (فتـاوی رحیمیه ص ٤٧٥ ج ٦). د جدید ترتیب په مطابق په کتاب المیراث کی د وارثـانو د محروم کولو گناه ترعنوان لاندی وگورئ . (مرتب).

لنډه داچی به دنیاکی هرچاته پکاردي چی دهر حقدار حـق اداکـړي ځکـه چـی دآخرت معامله ډیره سخته ده هلته دحقوقو ادائیگي دنیکی په ورکولو سره کیږي که نیکی پاتی نشي نوبیا دحقدار گناه دهغه له پاسه اچول کیږي په حدیث کی دي.

(۲۱) عن ابــی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم مــن کانت له مظلمة لاخیه من عرضه اوشئ فلیتحلله منه الیوم قبل ان لایکون دینــار ولادرهم ان کان له عمل صالح اخذمنه بقدرمظلمته وان لم یکن له، حسان اخذ من سیات صاحبه فحمل علیه، رواه البخاری. (مشکوة شریف ص۴۳۵ باب اظلم).

له حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه څخه روایـت دی چـی رسـول الله صـلی‌الله علیـه وسلم وفرمایل: پرچاچی دهغه د ورور حق دهغه د آبرو ریزي یادمال پـه متعلـق وي نوهغه ته پکاردي چی له همدا نن نه له هغه معافي وغواړي. دقیامت په ورځ بـه لـه هغه سره نه دیناروي اونه درهم. که له هغه سره نیکیانی وي نودهغـه دانیکیـانی بـه اخستل کیږي، اوکه نیکیانی ورسره نه وي نودحقدار گناهونه دهغه پـه غـاړه آچـول کیږي.

(۲۱) عن سعید بن زید رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم مــن اخذ شبراً من الارض ظلماً فانه یطوقه، یوم القیامــة مــن سـبع ارضــین متفـق علیه. (مشکوه شریف ص ۲۵٤ باب الغصب والعاریه).

له حضرت سعیدبن زید رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی محمدصلی‌الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل :

چاچی په ظلم سره له چانه یوه لویشت زمکه واخستله نودقیامت په ورځ ددغه یوه لویشت په اندازه د اووه زمکو حصه دهغه په غاړه کی دطوق په شان اچول کیږي.
دچامال په غصب کولو اود میراث نه ورکولو له کبله زیاتره وخت په خاندان کی بی اتفاقی پیداکیږي اوداد قطع رحمي باعث گرځي، خوځکه دغه مضمون په دی کی شامل کړی شو. الله تعالی دی هر مسلمان ته دعمل کولو توفیق ورکړي آمین فقط والله اعلم بالصواب.

کتاب الصلح

د مسلمانانو ترمنځ د اختلافاتو په وخت کې روغه کول او دروغې جوړې طریقه:

(۲۳۶ سوال) کله کله د دوه مسلمانانو یا دوه ډلو ترمنځ اختلاف اوجګړې پیدا کیږي کله کله په خاندان کې هم دغسې صورت سر اوچتوي په دې وخت ځینې خلک صرف تماشه کوي اودهغوی ترمنځ دروغې جوړې کولو کوشش نه کوي که ځینې خلک دروغې جوړې کولو کوشش هم کوي نو دهغوی مقصد صرف دجګړې ختمول وي. د اختلاف او جنګ چې کوم اصلي وجه ده دهغه حل نه لټوي، یاحقدار ته دهغه دحق د ورکولو کوښښ نه کوي. په دې لړ کې د اسلام لارښوونه څه ده؟ د روغې جوړې کولو طریقه څه ده؟ امید دی چې تاسې په دې باره کې مونږ ته لارښوونه وکړئ. بینواتوجروا.

ځواب: له قرآن او حدیث نه داثابتیږي چې کله د دوه کسانو یا دوه ډلو ترمنځ جګړه وشي. نو دهغوی ترمنځ دسولې او د روغې کولو کوشش باید وکړی شي. هسې تماشه کول داسلام له لارښوونو مخالف دی. دسولې او روغې جوړې کولو صحیح طریقه داده چې سوله کوونکی د حالاتو صحیح معلومات ترلاسه کړي. دجګړې اصلي وجوهات ولټوي. که چیرته دکوم مالي حقوقو له کبله اختلافات او جګړه وي نو دهغه حق د اداکولو کوشش دې وکړي ترڅو د نزاع او جګړې اصلي وجه ختمه شي. ځوک چې د اختلاف اصلي وجه پریږدي او هسې روغه جوړه کوي نو دایو موقتي روغه ده که داختلاف جرړه پاتې وي نو هغه بیادجګړې د واقع کیدو باعث ګرځي. نولهذا داسې طریقه دې خپله کړي چې حقدار ته حق هم ورکړی شي او دجګړې بنیاد هم ختم شي په قرآنکریم کې دي:

وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فاصلحوا بينهما فان بغت احداهما على الأخرى فقاتلوا التي تبغي حتى تفيء إلى أمر الله فان فاءت فاصلحوا بينهما بالعدل واقسطوا ان الله يحب المقسطين (الحجرات ۹). (معارف القرآن خلاصه تفسير ص ۱۱۰ ج ۸).

که چیرته د مسلمانانو دوه ډلې پخپلو کې جګړه وکړي نودهغوی ترمنځ اصلاح او روغه وکړئ که چیرته (داصلاح له کوشش نه وروسته) له هغوی نه یوه ډله په بلې ډلې باندې زیاتي وکړي (اوجنګ بند نه کړي)، نو له هغه ډلې سره دې وجنګیږي چې تیرې کوي تردې پورې چې هغه دالله حکم ته رجوع وکړي (یعنې جنګ بند کړي) بیاکه تیری

کوونکی دِله جنګ بند کړي نو د دواړو ترسنځ په عدل سره روغه جوړه وکړی یعنی دشرعی حدودو په مطابق دهغوی لانجه ختمه کړئ. یوازی دجنګ په بندولو اکتفاء نه کوی ځکه چې که چیرته صحیح روغه جوړه ونشي نو دجنګ حکړی احتمال پاتی کیږي د انصاف پوره خیال وکړئ یعنی کوم نفسانی غرض په دی مه غالبوئ، بیشکه الله تعالی انصاف کوونکي خوښوي.

په خلاصة التفسیر کی چې حضرت تهانوي صاحب رحمه الله دصلح کولو لپاره د کومو خبرو په طرف اشاره کړیده هغه ډیره ضروري ده. څرنګه چې په چاناحقه تور لګول اودهغه بدنامول جرم دی همداسی دچاپه غلطی او جرم باندی سترګې پټول هم لوی جرم دی. دهغه صحیح همدردی او مدد دادی چې هغه له خپل غلطی نه خبر کړی شي اوله هغه نه دلاس په سرکیدو هدایت وکړی شي. په حدیث کی دي:

عن انس رضي‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم انصرا خاك ظالما او مظلوما فقال رجل یارسول الله انصره مظلوما فکیف ظالماً قال تمنعه من الظلم فذلك نصرك. ایاه متفق علیه(مشکوة شریف ص ۴۳۳ باب الشفقة اوالرحمة علی الخلق).

له حضرت انس رضي‌الله عنه څخه روایت دی هغه وایی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : ته له خپل ورور سره مرسته وکړه که هغه ظالم وي یا مظلوم. یوشخص عرض وکړ یارسول الله د مظلوم مدد خو کوم. له ظالم سره څنګه مرسته وکړم ؟ هغه صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : ته هغه له ظلم نه منع کړه له هغه سره ستا همدغه مرسته ده

لهذا هرڅوک چې ظالم وي اود چا حق یې غصب کړی وي هغه له خپل ظلم نه د بندولو کوشش وکړئ اوله ظلم او زیاتي نه یې بندکړئ. که چیرته هغه له ظلم نه لاس وانخلي نوله هغه سره ملګرتیا مه کوئ. ځکه چې الهی ارشاد دی چې : ولا تـرکنوا الـی الـذین ظلموا فتمسکم النار. (هود :۱۱۳).ای مسلمانانو ظالمانو ته میلان مه کوئ هسی نه چې تاسی هم جهنم ته لاړشئ.

همدغه راز الهی ارشاد دی:فلاتقعد بعدالذکری مع القوم الظلمین. له یادیدونه وروسته ته بیاله داسی ظالمانو سره مه کینه. (الانعام پاره نمبر۷ رکوع ۱۳).

دپورتنیو لیکل شویو هدایاتو او لارښوونو په نظر کې نیولو سره باید دروغــی جــوړی کولو کوشش وکړی شي ځکه چې دمسلمانانو په منځ کې روغه جوړه او ســوله کــول ډیر مبارک کاردی.

په قرآنکریم کې آیت شریف دی:

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللّٰهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنتُمْ مُؤْمِنِينَ○. (الأنفال ۱)

تاسی له الله نه وویریږئ اوخپل منځي حالات صحیح کړئ (چې پخپلو کــی حسـد اوبغض باتی نشي) اود الله تعالی اودهغه درسول اطاعت وکړئ که تاسی مؤمنان یئ.

تفسیر الدر الــمنثور کی دي:

اخــرج ابن ابی شیبة والــبخاری فــی الادب الــمفرد و ابن مردویه والــبیهقی فــی شعب الایمان عن ابن عباس فی قوله تعالی فاتقوا الله واصلحوا ذات بینکم قال هذا تحریج من الله علــی الــمؤمنین ان یتقوا الله وان یصلحوا ذات بینهم.(الدر الــمنثور ص ۱۶۱ ج۳).

ابن ابی شیبه او بخاری په ادب المفرد کې ، ابن مردویــه اوبیهقــی پــه شــعب الایمــان کــی دالله تعــالــی قول ((فاتقوا الله واصلحوا ذات بینکم)) په تفسیر کــی د حضــرت عبــدالله ابــن عباس رضی‌الله عنهما څخه روایت کړی دی چــی هغــه رضــی‌الله عنــه وایــي : مومنــان یی مکلف ګرځولي دي چې هغوی تقوی خپل کړي او خپل منځي اړیکی اصلاح کړي.

حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله ددی آیت په تفسیر کی لیکي:

دخلکو دخپل منځي اتفاق او اتحاد بنیاد تقوی او له الله جل جلاله نه ویره ده.

ددغه آیت په اخري جمله کی یی فرمایلی دي : ((فاتقوا الله واصلحوا ذات بیــنکم واطیعــوا الله ورسوله ان کنتم مومنین)) په دی آیت کی ټولو اصحابو کرامو ته لارښوونــه کړیــده چــی له الله نه وویریږئ اوخپل منځي اړیکی صحیح اوســالمې وســاتئ... اوس دهغــوی د زړونــو اصلاح او پخپلو منځو کی دښو اړیکو دساتلو تدبیرښودل شوی دی چــی مرکــزي نقطــه یی تقوی اوله الله نه ویره ده.

تجربه په دی خبره ګواهي ورکوي چی کله تقوی او له الله نه ویره غالبه شــي نولــوی لــوی جګړی په څو دقیقو او منټونو کی ختمیږي، خپل منځي نفرتونه له منځه ځــي، نــو ځکــه پــه دی آیت کی دتقوی تدبیر یی ښودلی او فرمایلی یی دي : ((واصلحوا ذات بــینکم)) یعنــی د تقوی په ذریعه خپل منځي تعلقات او اړیکی اصلاح کړئ ددی زیاتــه تشــریح یــی داســی

کړیده : ((واطیعوا الله ورسوله ، ان کنتم مؤمنین)) یعنی دالله او رسول مکمل اطاعت وکړئ که تاسی مومنان یاست یعنی اطاعت دایمان تقاضا ده او داطاعت نتیجه تقوی ده . اوکله چې داخیزونه په خلکوکی پیدا شي نو دهغوی خپل منځي جګړې پخپله له منځه ځي اوددښمنۍ پرځای په زړونو کې مینه پیداکیږي. (معارف القرآن ص ۱۷٦ ص ۱۷۷ جلد چهارم).

په یو حدیث کی دي : ((افضل الصدقة اصلاح ذات البين)) غوره صدقه پخپلو کی سوله او روغه جوړه کول دي (کتاب الشهادة في الحكم والامثال والاداب مع ترجمه جوامع الكلم لسيد الامم ص ١٤٥ حديث نمبر ٩٧٦).

لهذا دکومو دوه کسانو یا دوه ډلو ترمنځ جګړه یا اختلاف سر اوچت کړی وي نو پرهغوی هم لازمه ده چې هغه اورده نه کړي او ژر تر ژره د تقوی پر بنیاد په دغه آیت باندی په عمل کولو سره خپل منځي اړیکی او تعلقات اصلاح کړي. که چاته بد رد او بنکنځلی کړی وي نوله هغه نه دی بخښنه وغواړي، که د چامالی حق ورباندی پاتی وي هغه دی ورته ورکړي، په دنیاکی د حق ورکول ډیر آسان کار دی اوکه حق نشي اداکولې نو معافی او بخښنه دی ترینه وغواړي. په حدیث شریف کی دي: عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كانت له مظلمة لاخيه من عرضه اوشئ فليتحلله منه اليوم قبل ان لايكون دينار ولا درهم ان كان له عمل صالح اخذمنه بقدر مظلمته و ان لم يكن له حسنات اخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه . رواه البخاری.(مشکوة شریف ص ٤٣٧ باب الظلم).

د حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : پرچاباندی چې دهغه د ورور کوم حق، دهغه بی عزتي یادمال په متعلق څه وي نو هغه ته پکاردي چې همدا نن دی له هغه نه بخښنه وغواړي لدینه مخکی چې قیامت راشي بیاهلته له هغه سره نه دینار وي او نه درهم، که له هغه سره څه نیکی وي نوله‌هغه نه دهغه نیکی آخستل کیږي اوکه ورسره نیکی نه وي نو دحقدار ګناهونه پرهغه اچول کیږي‌لهذا پکاردي چې په همدی دنیاکی ټول معاملات صفا ستره کړی شي اوخپل منځي اړیکې اصلاح کړی شي اوکه چیرته دهغوی ترمنځ صلح ګرانه وي نو با اثرو خلکو ته پکاردي چې د هغوی ترمنځ دروغی جوړی پوره کوش وکړي او دروغی جوړی په وخت دی پورتنی لاربنوونې تر نظر لاندی ونیسي. (فقط والله اعلم بالصواب).

کتاب اللقطه

په سیند کې د روان ځیز آخستل او دهغه استعمالول څنګه دي ؟ :

(۲۲۷ سوال) که چیرته په سیند کې روان ځیز لکه کوپړه یانور خوراکي ځیزونه راوباسي او استعمال یې کړي نو ایا داسې کول جائز دي اوکه نه؟ همدغه راز کوم سمندري بیړۍ ماتیږي اویا د ماتیدو له ویرې له هغې نه څه مال یې په لاره غورځولی وي نودهغه استعمال جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) (۱) که چیرته کوپړه د نذر وي نو دا لغیرالله نذر دی اود ((ما احل به لغیرالله)) په حکم کې داخل دی، ددی خوراک حرام دی، اوکه د نذر او نیاز نه وي نودهغه څوډولونه دي لومړی بو بې قیمته ځیزچې مالک دهغه لټه او تلاش نه کوي، دویم هغه قیمتي ځیز چې دهغه خاوند هغه پسې لټه اوتلاش کوي.

که لومړی قسم ځیزپیداکړی نو داعلان ضرورت نشته هغه استعمالولی شي، خوکه مالک یې راشي او درنه وغواړي نو ورکول یې پکار دي، اوکه دویم قسم ځیزپیداکړی نو دهغه اعلان ضروري دی او تر دومره وخت پورې دی کیږدي چې دمالک د راتلو امید ختم شي که چیرته دهغه د ورانیدو ویره وي نو کوم غریب سړي ته دی خیرات ورکړئ، اوکه پخپله غریب وي نو پخپله هم ترینه ګټه اوچتولی شي خو که مالک راشي او خپل مال وغواړي نو غوښتی شي اوکه هغه ځیز موجود نه وي نو دهغه قیمت اخستلی شي له ویالونه امرود او ددی پشان نور خوراکي ځیزبالکل ویستلی او خوړلی شئ څکه چې که ونه باسئ نو خرابیږي او له منځه ځي.[۱]

دویم که چیرته له بیړۍ نه دمال خاوند څه مال لاندی وغورځوي اوپخپله لدی ځاینه لاړشي او مقصد یې داوي چې څوک راشي اوله ځان سره یوسي نو تاسې هغه وړی شئ

۱- حطب وجد فی الماء ان له قیمة فلقطة والا فحلال لا خذه کسائر المباحات الاصلیة در رقال فی الشامیة تحت قوله ان له قیمة فلقطة وقیل انه، کالتفاح یجده فی الماء وذکر فی شرح الوهبانیه ضبط وهو ان ما لا یسرع الیه الفساد ولا یعتاد رمیة خطب وخشب ان کانت له، قیمة ولو جمعه من اما کن متفرقة فی الصحیح کمالو وجد جوزة ثم اخری وهکذا حتی بلغ له قیمة بخلاف تفاح و کمثری فی نهر جار فانه یجوز اخذه و ان کثر لانه مما یفسد لو ترك الخ شامی کتاب اللقطه مطلب فیمن وجد حطبا فی نهر الخ. ج ٤ ص ۲۸٤

اوپخپل استعمال کی راوستلی شی، خوکه هغه داخستلو لپاره راشي نو بیرته به ورته ورکوی. درمختار عالمګیری وغیره[1] فقط والله اعلم بالصواب

په سیلاب کی دراغلو څیزونو حکم:

(۲۲۸ سوال) که چیرته دسیلاب په اوبو کی څه سامان لکه چوکی، لوښي میزونه اوداسی نور شیان راشي او څوک یی پیداکړي نودهغه څه حکم دی؟ بینوا توجروا

(خواب) په سیلاب کی چی کوم شیان راشي دهغوی دوه قسمونه دي لومړی معمولي څیزونه چی څه اهمیت نه لري او څوک ورپسی دلتې لپاره نه ګرځي دویم قیمتي څیزونه دي چی مالک دهغوی دترلاسه کولو لپاره لټون کوي او ورپسی ګرځي. که لومړنی قسم څیزونه ترلاسه کړی نو دهغوی تشهیر او اعلان ضروری نه دی هغه استعمالولی شي خوکه مالک راشي او درنه وغواړي نو ورکول یی ضروري دي که دویم قسم څیزونه پیداکړی نودهغوی تشهیر او اعلان ضروری دی، دمالک انتظار باید وکړی شي، که چیرته د مالک د راتلو توقع نه وي یادهغه د خرابیدو ویره وي نوهغه باید غریب ته ورکړی شي خوکه چیرته پخپله محتاج وي نوپخپله یی هم استعمالولی شي. خوکه مالک یی راشي اوخپل مال وغواړي نو ورکول یی ضروري دی او که غریب ته یی ورکړی وي نو ترینه وغواړي او خپل اصل مالک ته دی ورکړي اوکه هغه څیز موجود نه وي نو دهغه قیمت دی ورکړي.

(درمختار فتاویٰ عالمګیری حواله ګذشته وغیره). فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - القى شيئا وقال من اخذه فهو له فلمن سمعه اوبلغه ذلك القول ان يأخذه والا لم يملكه لأنه اخذه اعانة لمالكه ليرده. شامى كتاب اللقطة مطب القى شيئا وقال من اخذه فهوله . ج ٤ ج ٢٨٥.

مـایجوز بیعه ومالایجوز

هغه څیزونه چې خرڅول یې روا دي او هغه څیزونـه چـې خرڅـول یې ناروا دي :

(۲۲۹) سوال : په ((رهو ډیشیا)) کې تاجرانو ته د خرڅولو لپاره سره بوره ورکـول کیـږي ددې خاص اوسیدونکي دغه سره بوره په چاپوکې د استعمال لپاره هم آخلي او دشـراب په جوړولو کې هم پکاریږي. ایا مونږ دهغه په تجارت کولو کې ګنهګاریـږو؟ ایاپـه شـریعت کـې دداسې څیز تجارت جائز دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(جواب)سره بوره یا شکر پاک او حلال دی، داد ګټې لپاره جوړولې شي او په جـائزو کـارونو کې استعمالیږي، که څوک داد حرام څیز د جوړولو لپاره استعمال کړي نـو دهغـه مسئول او ذمه دار پخپله همغه دی نه ددې جوړوونکی او تجارت کـوونکی، نـو ځکـه ددې خرڅـول جائز او ګټه یې حلاله ده. په درمختار اوپه نورو معتبرو کتـابونو کـې دي چـې شیره انګـور پرهغه چا خرڅول جائزدي چې هغه ترینه شراب جوړوي، ځکه چې شیره انګـور فـي نفسـه حرام نه دي یعنې دانګور په شیره کې پخپله نشه نشته بلکې په هغه کـې لـه تغیرا و تبـدیلي راوړلو نه وروسته نشه پیداکیږي. دهغه مسئول او ذمه دار هغه څـوک دی چـې شـراب ترینـه جوړوي نه خرڅوونکې.لهذا دشیره انګوز خرڅول جائزدي لیکن څرنګه چـې داپـه ظـاهره له ګناه سره تعاون دی نوځکه دشیری نه شراب جـوړوونکي سـړي بانـدی دانګـورو شـیره خرڅول له تقوی نه خلاف او مکروه دی (شامي ص ۳۴۴ ج۵).[1]

---

[1] وجـاز بیع عصیر عنب ممن یعلم انه یتخذه خمر الأن الـمعصیة لاتقوم بعینه بل بعد تغیره وقیـل یکـره لا عانه علـی الـمعصیة ونقل الـمصنف عن الـسراج والـمشکلات ان قوله ممن ای من کافر، اما بیعه مـن مسلم فیکره ومثله فـی الـجوهرة و الباقانی وغیرهما زاد الـقهستانی معزیا للخانیة انه یکره بالاتفاق قال فـی الشامیة تحت قوله معزیا .. وعندی ان مافـی الخانیة محمول علـی کراهة الـتـنزیه وهوالذی تطمئن الیـه النفوس (خ کتاب الحظر والا باحة فصل فـی الـبیع).

د نقد او قرض سودا په قیمت کی فرق جائز دی او که نه؟:

(۲۳۰_سوال) په نقد خرخولو سره لږ قیمت اخستل اودهمدغه څیز په قرض خرخولو سره زیات قیمت اخستل شرعاً جائز دی اوکه نه؟ مدلل او مفصل خواب راته ولیکئ. بینوا توجروا.

(خواب) دکوم څیز دنقد خرڅولو په صورت کی لږ قیمت اخستل اودقرض خرخولو په صورت کی ډیر قیمت اخستل هله جائزدی چی دخرڅولو په وخت یوه خبره وي اوقیمت بالکل معلوم کړی شي. په آخري هدایه کی دي: الاتری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل (هدایه آخیرین ص ۵۸ باب المرابحة والتولیة).

داسی خبره ورته کول چی که لاس په لاس اونقد یی آخلی نو په سل روپی او که قرض یی اخلي نو یوسل اولس روپی درباندی خرخوم. یاداسی ورته ویل چی که په یو میاشت کی قیمت راکړی یوسل پنځه روپی اوکه په دوه میاشتو کی قیمت اداکړی نو په یوسل اولس روپی درباندی خرخوم نودا صورت جائزنه دی.

په فتاوی عالمگیری کی دي: (رجل باع علی انه بالنقد بکذا و بالنسیئة بکذا والی شهر بکذا والی شهرین بکذا لم یجز، کذافی الخلاصة.

یعنی که کوم سړی خپل مال داسی خرخ کړي چی نقد په دومره قیمت سره اوقرض په دومره قیمت سره، که دیوی میاشتي لپاره قرض آخلي په دومره اوکه دوه میاشتو لپاره په قرض آخلي نو په دومره روپی باندی خرخوم نوداقسم خرخول جائزنه دي. (کذافی الخلاصه (فتاوی عالمگیری ص ۸۰ ج ۴، کتاب البیوع باب اول).

خرخوونکی دی پخپله دنقد او قرض نرخ او قیمت ونه ټاکي او آخستونکی نه دی پوښتنه وکړي چی نقد یی آخستل غواړي اوکه په قرضو، خریدار چی په هریو باندی خپله اراده ښکاره کړي دهمغه په حساب سره دی قیمت معلوم کړي او معامله دی ورسره فیصله کړی شي که چیرته قرض یی آخلي نو دقیمت اندازه او یقین سره سره دی دپیسو د اداکولو وخت او موده، هم معلومه کړي.

په امداد الفتاوی کی دي:

(سوال) یوسړی خپل مال نقد او لاس په لاس په یو روپی خرخوي او قرض په یوه نیم روپی، ایادا جائز دی اوکه نه؟

(خواب) ددی دوه صورتونه دي يوداچې دخرخولو په وخت کې قيمت يې نـه وي معلـوم کړی بلکی مشتری ته يې په تردد سره وويل چې که چيرته ددی قيمت اوس لاس پـه لاس راکړی نو يو روپۍ درنه آخلم که نه نوبيا يونيم روپۍ درنه آخلم نوداد قيمت دنـامعلوم والي له کبله جائز نه دی. دويم شکل يې دادی چې لومړی لـه خريـدار سـره دافيصـله يې کـړی وي چې نقد بی آخلې اوکه په قرض؟ که هغه په نقد آخستلو خبره وکړه نوبيا خوپه يو روپـۍ ورکوی اوکه بی وويل چې قرض يې آخلم نو بيابه يونيم روپۍ ورکوي داطريقه جائزه ده.
په عالمګيری کې دي:
رجل باع علـى انه بالنقد هكذا وبالنسيئة بكذا والــى شهر بكذا والــى شهرين بكذالم يجز كذا فــى الخلاصة ، جلد ثالث ص ١٥٤، مطبوعه نو لكشور، فقط والله اعلم.(امداد الفتاوی. نمبر ۲ ج ۳، كتاب البيوع، مطبوعه پاکستان).
په کفايت الـمفتی کې دي:
(خواب) دقرض په صورت کې له نقد نه په زيات قيمت سره خرخول جائزدی پـه دی شـرط چې دعقد په مجلس کې دقرض خبره شـوی وي اودمـال دقيمـت د اداکولـو وخـت هـم معلوم شوی وي.(فـى الهدايه انه يزادُ فـى الثمن لاجل الاجل انتهی (کفايـت الــمفتی ص ۴۰ جلد ۸).
دويمه فتـوی :
(خواب) لاس په لاس اوقرض نرخ کې کمی اوزياتی جائز دی مثلاً که کـوم تـاجر يـو خيـز نقد په يو روپۍ خرخوي او همدغه خيز په قرض پاو بانـدی يـو روپـۍ خرخـوي نـودا ورتـه رواده او هيخ بدي پکې نشته، خو ددی دجواز لپاره داشرط دی چې دخرخولـو پـه وخـت کې دخيز قيمت اود اداکولو وخت معلوم کړي، مثلاً خرخوونکی دخپل مال د خرخولـو پـه وخت کې دا ووايي چې يو مياشت وروسته به دمال قيمـت پـاو بانـدی يـو روپـۍ راکـوي. خوکه داسې ووايي چې که په مياشت کې دننه دننه دی پيسې راکړي نو پـاوه بانـدی يـوه روپۍ به راکوي اوکه له يو مياشت نه وروسته ۴۵ ورخـو کـې راکـولی نـو يـو نـيم روپـۍ بـه راکوي نوداجائز نه دی، بائع او مشتري په دواړو لازم دي چې د مـال قيمـت اودقيمـت د اداکولو وخت معلوم کړي. مثلاً مشتری ووايي چې زه يو مياشت وروسـته اداکـولی شـم نـو ديوی مياشتې وخت دی وټاکي او بائع دی دخپل مال قيمت معلوم کړي مـثلاً دسـلو روپـو

مال په پوسل اووه روپی باندی خرڅ کړی نوداصورت جائز او صحیح دی (کفایت المفتي صفحه ۳۰ ۴۱ جلد ۸ بتغییر یسر) (فتاوی دارالعلوم (امداد المفتین)کی دي

(سوال) دیوسړي په کور کی سل منه غنم موجود و، هغه داد دریو میاشتو په مهلت دمن په حساب سره یو من په دری روپی خرڅ کړه، په داسی حال کی چی په دی وخت په بازار کی د غنمو قیمت دوه روپی و هغه دقرض ورکولو له کبله دمن په حساب سره یود روپی گران خرڅ کړه. ایا دابیع جائز ده اوکه نه؟

(خواب) په دی مسئله کی تفصیل دی، که چیرته د خرڅولو په وخت کی قیمت معلوم نه کړي بلکی داسی ووايي چی که په قرض اخلي نو دیومن قیمت دری روپی دی. اوکه نقدیی آخلي نو دیو من قیمت دوه روپی دی. یاداسی ووايي چی دیوی میاشتی دقرض لپاره یو من په دوه روپی او ددریو میاشتو قرض لپاره یو من په دری روپی درکوم، داصورت ناجائز دی.

قال فی العالمگیریه من الباب العاشر فی الشروط الّتی تفسد البیع شهرین بکذا لمْ یجز کذا فی الخلاصة عالمگیری. کشوري ج ۳ ص ١٥٤.

اوکه چیرته سودا داسی ونکړي بلکی لومړی دامعلوم کړي چی داسړی په قرض سودا اخلي نو له نقد نه لږ غوندی زیات ورته ووايي نوداجائز دی. کما فی الهدایة من باب المرابحة الابری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل ومثله من البحر، والدر المختار، والشامی، والفتح. او کوم صورت چی دقیمت په زیاتوالي کی بیان شوی دی هغه په دویم صورت کی داخل دی نو ځکه دابیع جائز او صحیح ده. (فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۱۳_ ۱۴ جلد ۸۷۷).

په فتاوی محمودیه کی دي:

(سوال) زید د گنډلو دمشین پارینیو او نورو خیزونو تجارت کول غواړي، په دی کی دا رواج دی چې دنقد اولاس په لاس د خرڅولو قیمت یو ډول مقرر دی اوقرض قیمت علیحده مقرر دی، اوکه په قسطونو کی ورکوي نوله نقد نه زیاتې پیسې آخلي، ایاداقسم تجارت کول جائزدي اوکه نه؟ که جائز وي نو ایا داد جواز صورت کیدلی شي چی زید خپل دوکان دوه حصې کړي، په یوکی د نقد قیمت سامان کیږدي او په بل کی دقرض سامان کیږدي.

(ځواب) حامداً و مصلیا و مسلماً که چیرته دمال د خرخولو په وخت کې دنقد اویاقرض معامله صفا شي چې په نقدو آخلې او که په قرض نو دا دول تجارت صحیح دی فقط والله سبحانه تعالی اعلم (فتاوی محمودیه ص ۱۷۵ جلد۴ کتاب البیوع) فقط والله اعلم بالصواب.

په هغه چاباندی میوه خرخول چې شراب ترینه جوړوي:

(۲۳۱ سوال) زمونږ په علاقه کې یو قسم میوه ده چې غریبان یې د غذا په توګه هم استعمالوي ددی میوی نوم مهوه ده، لیکن زیاتره خلک لدینه شراب جوړوي، ددی راجمع کول او بیاله خپل موسم نه وروسته دهغه خرخول کافی ګټه کوي، لیکن له موسم نه وروسته چې کوم خلک دا آخلي هغوی عموماً د شراب جوړولو لپاره آخلي. ایا ددی خرخول جائز دي اوکه نه؟ بینوا توجروا (کهندوه، مدهیه پردیش).

(ځواب) داچې له خپل موسم نه وروسته کوم خلک یې آخلي او شراب ترینه جوړوي نو پرهغوی ددی خرخول جائز نه دي ځکه چې داله ګناه سره تعاون دی، الهی فرمان دی: ((ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان)) یعنی د ګناه او ظلم په کارونو کې له چاسره تعاون مه کوئ. (سوره مائده پاره ٦). اوکوم خلک چې لدینه جائزه ګټه اوچتوي پرهغوی خرخول ممنوع نه دي فقط والله اعلم بالصواب جمادی الثانی ۱۴۰۱ هـ.

د توری ګوړی تجارت کول چې یوازی دشراب د جوړولو لپاره استعمالیږي څنګه دی؟:

(۲۳۲_ سوال) د ګړي یو خاص قسم دی چې توره ګوړه ورته ویل کیږي. هغه صرف دشرابو جوړولو لپاره استعمالیږي لدینه پرته دبل کار لپاره نه استعمالیږي دشریعت په رڼاکې ددی تجارت صحیح دی اوکه نه بینوا توجروا.

(ځواب) کله چې لدینه یواځې شراب جوړیږي اوبل کار لپاره نه استعمالیږي نو ((ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان)) د آیت په رڼاکې ددی دتجارت کولو اجازه نشته فقط والله اعلم بالصواب.

(۱) دقرض خرخولو په صورت کی زیات قیمت اخستل څنګه دی؟
(۲) که خریدار په ټاکلی وخت کی پیسی ورنکړي نـو زیـات قیمـت اخستل ترینه څنګه دي؟

(۲۳۳ـ سـوال) مونږ درختونو او ټوټو کاروبار کوو، زمونږ طریقـه داده چـې څـوک یی نقـد آخلي له هغه نه کم قیمت اخلو او څوک چی په قرض آخلي له هغه نـه زیـات قیمـت اخلـو ایاداقسم خرید وفروخت جائزدی اوکه نه؟ اوکه خریـدار پخپـل ټـاکلی وخـت کـی قیمـت ادانه کړي نو له هغه نه زیاتی پیسی آخستل څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(څواب) په نقد خرخولو کی لږ قیمت اوپه قرض خرخولو کی زیات قیمت آخستلی شي مګـر شرط یکی دادی چی د خرید او فروخت په وخت کی یوه خبره وي اوقیمت معلـوم شـوی وي. تاسی له خریدار نه پوښتنه وکړئ چی هغه په نقدو آخستل غواړي اوکه په قرض؟ دهغـه چی څنګه خوښه وي دهغه په مطابق د خپل مال قیمت ورته ووایه او د سودا فیصله ورسـره وکـره

دقرض اخستلو په صورت کی که چیرته خریدار پخپل ټاکلی موده کی پیسـی ورنکـړی شـي نودهغه په وجه زیاتی پیسـی آخستل جائزنه دي. په هدایه آخیرین کی دي:

لان الاجل لایقابله شیئ من الثمن (هدایه اخیرین ص ۵۸ باب المرابحة).

الجوهره النیره کـی دي: قوله ولوکان له الف مؤجلة جیاد فصالحه علـــی خمس مائة حالة لم یجز) لان المـعجل خیر من المؤجل وهو غیر مستحق وذلك اعتیاض عن الاجـــل وهـــو حرام (الجوهرة النیرة ص ٦ ج ۲، کتاب الصلح). فقط والله اعلم بالصواب.

د حق تعلـی خرخول :

(۲۳۴ـ سوال) حـاجی عمـر صـاحب وفـات شـو هغـه خلـور زامـن او دری لورګـانې شـاته پرینـودلې. په ترکه کی یوه دری منزله بلډنګ یی هم پریښې دی. د محمـد جمیـل پـه نـوم یوسړی دحاجی عمر مرحوم له زامنو نه وغوښت چی زه ستاسی دبلډنګ ددریم چت لپاسـه کور جوړول غواړم او ددی په عوض کی زه تاسـوته پنځـوس زره روپـی درکـوم. د مرحـوم زامن ورباندی رضاشول او د جوړولو اجازه یی ورته ورکړه په همدی بانـدی مجلـس خـتم شو سهار ته چی د مرحوم خلور واړو زامنو په دی باندی غور اوفکر وکړ نو ورته معلومه شـوه چی که مونږ پخپله ورباندی کور جوړ کړو نو ددی قیمت لکونو ته رسـیږي، هغـوی پښیمـان

سول او افسوس یې وکړ چې موږ ولې له غور اوفکر نه پرته هغه ته دکور جوړولو اجازه ورکړه. کله چې ددی خبردهغوی دخوړ ګانو خاوندانو ته ورسید نو هغوی هم اعتراض وکړ چې زموږ له اجازې نه پرته تاسی ولې داکار کړی دی موږ ته ستاسی دا سودا منظوره نه ده. موږ هیڅ‌اته پخپل حصه باندی دکور جوړولو اجازه نه ورکوو. ددی خبر چې کله محمد جمیل ته ورکړې شو اود معاملې دفسخ کولو غوښتنه مو وکړه نو هغه په دی باندی خوشاله نه دی. اوپه ضد دی چې په دریم چت باندی به خلورم منزل خامخا جوړوي. تاسی مهرباني وکړئ په دی لړ کی موږ ته لارښوونه وکړئ چې ایاپه دی صورت کی دمعاملې فسخ کول جائز دی اوکه نه بینوا توجروا.

(ځواب) په مسئوله صورت کی چې کوم بیع شویدی هغه صحیح نه دی، داد حق تعلی بیع دی اود حق تعلی بیع شرعاً جائز نه دی په هدایه اخیرین کی دي:

واذاکان السفل لرجل وعلوه لا خر فسقطا اوسقط العلو وحده فباع صاحب العلو علوه لم یجزلان حق التعلی لیس بمال لان المال مایمکن احرازه والمال هو المحل للبیع(هدایه اخیرین ص ٤٠، باب البیع الفاسد).

لهذا مذکوره بیع صحیح نه ده اود محمد جمیل اصرار شرعاً دمنلو وړ نه دی،همدغه راز په مذکوره صورت کی د خوړ ګانو حق هم دی، که دا معامله صحیح هم وای بیاهم د خویندو په حصه کی دهغوی له اجازې نه پرته ځای نه شو جوړولې. که هغوی اجازه ورکړې وای نو معامله صحیح کیده اوکه اجازه نه وای ورکړې نو کور یې نه شو جوړولی خُلاصه داچې په مسئوله صورت کی دا معامله هم صحیح نه ده او د خویندو رضاهم نشته نولهذا محمد جمیل ته پکاردي چې له خپل ضد نه لاس په سرشي ځکه چې شرعاً هغه ته د کور جوړولو حق نشته. (فقط والله اعلم بالصواب).

د اخبارونو د خرڅولو په باره کی:

(۲۳۵) سوال (دا خبارونو، رسالو میاشتنی مجلو او نورو وسایلو د اخستلو څه حکم دی په دی کی دشک او شبهې وجه داده چې دپرچو تعداد نامعلوم وي، د صفحاتو شمیر هم معلوم نه دی. همدغه راز د رسالو طول عرض اوسائز هم معلوم نه وي، اوداهم معلوم نه وي چې مضامین او اخبار به څومره صفحو کی وي او اشتهارات به په څومره صفحو کی راځي. خصوصي نمبری به څومره وي، د تعطیلاتو په وجه به څومره نمبری کمیږي ددی پشان نوري خبرې هم معلومې نه دي. بینوا توجروا.

(خواب) د د: ډول اخباراتو رسالو او میاشتنیو مجلو اخستل جائز دي د دا ډول جهالت په وجه معامله نه ناروا کیږي، ځکه چې داقسم جهالت مفضی المنازعه نه دی هغه جهالت بیع فاسدوي چې په هغه کې جګړه پیداکیږي(حجة البالغة ج ۲ ص ۳۲۵) حواله دی په راتلونکی کې ځواب کې وکتل شي مرتب).
(فیض الباری شرح بخاری جلد ۳ ص ۲۵۹). شامي او نورو کتابو کې په تفصیل سره بیان شوی دی همغلته یې وګورئ. فقط.

د اخبارونو او د رسالو د آخستلو څه حکم دی؟

(۲۳٦_ سوال) د اخبارونو، هفته نامو، میاشتنیو مجلو او نورو رسائلو د خریداري څه حکم دی؟ په دی کې د اشکال وجه داده چې دشمارو تعداد متعین او معلوم نه دی دصفحاتو شمیره هم معلومه نه ده، همدغه راز د اخبارونو طول، عرض او تقطیع هم نه دی معلوم، بل داچې مضامین او خبرونه به په څومره صفحو کې وي او مالک لپاره ګټور اشتهارات به څومره صفحو کې وي مخصوص نمبری به څومره وي، د رخصتیانو په وجه به څومره شماری بندی وي او ددی پشان نوری خبرې هم دی چې مجهولی وي.
(خواب) د دا ډول اخبارونو او رسالو او مجلو اخستل جائزدي، ځکه چې داقسم جهالت مفضی الی النزاع نه دی، هغه حالت بیع فاسده وي چې مفضی الی النزاع وي (فیض الباری علی صحیح البخاری ج ۳ ص ۲۵۹ شامی وغیره).
وماکل جهالة تفسد البیع فان کثیر امن الا مور یترك مهملاً فی البیع واشتراط الاستقصاء ضرر ولکن المفسد هو المفضی الی المنازعة(حجة الله البالغة ج ۲ ص ۳۲۵ البیوع المنهی عنها بعض البیوع والمکاسب) فقط والله اعلم بالصواب.

د میاشتنی مجلو او نورو رسالو تر عمره پوری ممبر جوړیدل:

(۲۳۷_ سوال، څه وایي ددین علماء او مفتیان په دی مسئله کې چې زیاتره موقر اخبارونه او رسالې او ځینې هغه ادارې چې له خپلو اراکینو څخه کلنۍ چندې آخلي په دغو ادارو کې دتول عمر ممبري او رکنیت عام دی، یعنی څومره چنده چې سالانه کیږي له هغه کافي زیاتی پیسې له رکن نه یومشت آخلي، ددی مطلب داوي چې ترڅو پوری دا اداره وي نو دابه د هغه مستقل رکن وي او ترڅو پوری چې رساله یا اخبار جاري وي نو هغه ته به دهغه د احسان په بدله کې دغه رساله یا اخبار په اعتزازي توګه ورکول کیږي اوله هغه نه به ددی سالانه چنده نه آخستل کیږي، همدارنګه ددی ادارې ممبران او اراکین داسوه

خصوصي عطیه کني. هسې اعلان خود چندی کیږي مګر داپه حقیقت کې یوه عطیه وي نو ځکه کله چې رساله یا اخبار بند شي نو دغه ممبران او اراکین له اداری نه دپیسو د واپس کولو غوښتنه نه کوي او عطیه اخستونکی هم ددی د دوباره ورکولو پابند نه دي. بلکې له اراکینو نه نوری چندی او عطیې هم راغونډوي اوس سوال دادی چې ایاداسې ممبر جوړیدل اوپه دی عنوان سره عطیه ترلاسه کول شرعاً جائز دي اوکه نه؟ خینې اخباروالا خو ددغو ممبرانو نومونه هم بدلوي. مثلاً محسن اعظم، مربي او معاون. بینوا توجروا نیته ۲۱ جولایی ۱۹۵۸ ع علي بهایي اسماعیل پان والا کاوی ضلع بهروچ.

ځواب: داد ټول عمر ممبري یو اعزازی خیزدی او ممبر چې ځومره څه ورکوي هغه د اداری لپاره عطیه بخشش، اعانت او مدد وي، نوځکه داجائز دی، ممبرانو ته چې کومې رسالې یا اخبارونه استول کیږي هغه هم دپیسو په مقابل کې نه وي بلکې اعزازی هدیه په توګه ورته ورکول کیږي، داخه بیع او شرا نه ده چې بیع او ثمن په څه درجه کې مجهول شي او بیع ناجائز شي. لنډه داچې داصورت جائز دی، په دی عنوان سره دعطیو په اخستلو کې څه حرج نشته والله اعلم. سیدمهدی حسن مفتي دارالعلوم دیوبند. ۱۵/۷۸/۱ هـ.

په مسئوله صورت کې چون د ممبرانو او اداری نیت استمداد او مرستې وي نه د منافع او ګټې، رساله یا اخبارهم ورته د احسان په عوض کې په اعزازی توګه ورکول کیږي نوداصورت بې له شک نه جائزدی، داد قمار بازي یاد فاسدی بیع صورت نه دی. په قمار بازي کې له خلکو نه دهغوی مال تښتول وي چې دهغه دار مدار جهل، حرص، باطل آرزو او فریب باندې وي، په تمدن او تعاون کې ددی هیڅ دخل نشته، که خساره او تاوان کوونکې سکوت کوي نو دغصې او نا امیدی په حالت کې کوي او ګټونکې سړی ته خوشالي او خوند حاصلیږي.

اعلم ان الميسر سحت باطل لانه اختطاف لاموال الناس عنهم معتمد على جهل وحرص ومنية باطلة وركوب غرر تبعثه هذه على الشرط وليس له دخل فى التمدن والتعاون الخ (حجة الله البالغه ج ۲ ص ۳۱۷ من ابواب ابتغآء الرزق المنهى عنها).

خودلته نه دنقصان څه ویره ده اونه دخسارې او تاوان، نه پکې دباطل ارزو دخل دی نه د فریب اودوکې، معمولي غوندی شک. دلته خو د امداد اوعطیې قبلول اوپه نیک کارکې د

ګډون کولو نیت او احساس دی ترڅو اداره پخپلو پښو ودریږي اودغه اداره دخیر ښیګڼی کارونه ترسره کړي. دلته څوک بایلونکي نشته، نو کله چی دا نه دقمار صورت دی اونه هم دقمار نیت بلکی دایو خالصه عطیه ده نو دیته قمار بازي څنګه ویل کیدی شي؟

په حدیث شریف کی ((بیع مزابنه)) ته دربط دلزوم په وجه ناجائز ویل شوی دي او ((عریه)) یی لدی نهی نه مستثنی ګرځولی. ددی وجه د حضرت شاه ولی الله په نزد دقمار د نیت نشتوالی دی. هغه فرمایي:

ورخص فی العرایا بخرصها من التمر فیما دون خمسة او سق لانه عرف انهم لا یقصدون فی ذالك القدر الیسیر و انما یقصدون اکلا رطباً.

یعنی عریه کی، چی کله میوه له پنځو وسقونه لره وي نبی کریم صلی‌الله علیه وسلم له چوارو سره اندازه کولو اوبیادهغوی د خرڅولو اجازه ورکړی ده، ځکه چی نبی کریم صلی‌الله علیه وسلم په دی پوهیده چی په دومره اندازه کی خلک دقمار کولو قصد نه کوي بلکی تازه کجوری خوړل غواړي. الخ (حجه الله البالغه ایضا جص ص ٣٢٢). اودا صورت مبادله المال بالمال بطریق الاکتساب له جملی څخه هم نه دی چی معامله بیع اوشراء وګرځي او بیع فاسده وګرځي.

دبیع په تعریف کی داویل شویدي چی:

هو مبادلة شیٔ بمثله علی وجه مخصوص ای بایجاب او تعاط مخر التبرع من الجانبین والهبة بشرط العوض (درمختار کتاب البیوع ج ٤ ص ٥٠٢). ویقال هوفی الشرع عبارة عن ایجاب وقبول فی مالین لیس فیهما معنی التبرع وهو قول العراقین کالشیخ واصحابه وقیل هو عبارة عن مبادلة مال بمال لاعلی وجه التبرع وهو قول الخراسیین کصاحب الهدایه واصحابه الخ (الجوهرة النیرة ج ١ ص ١٨٧ ایضاً) وینبغی ان یزاد قید بطریق الاکتساب کما وقع فی الکتب لاخراج مبادلة لوازم مالهما بطریق الهبة بشرط العوض فانه لیس ببیع ابتداءً و ان کان فی حکمه بقاءً انتهی(مجمع الانهر ایضاً ج ٢ ص ٤).

د ممبرانو فیس، درسالو لوازم (چنده) او قیمت نه دی بلکی‌عطیه او بخشش دی د دواړو ترمنځ ښکاره فرق دی، قیمت او لوازم د رسالی له بندیدونه وروسته واپس اخستل کیږي خود ممبری فیس دواپس کولو غوښتنه نه کیږي ځکه چی دا عطیه وي، اوکه چا غوښتنه

وکړه نو هغه :یر دستوری، غیراخلاقی او رجوع عن لهبه له جملې څخه به وي. لائف یعنی عمری ممبری یو عنوان دی لدینه مقصد امداد او استمداد دی، په معاملاتو کې اعتبار د معانیو وي نه دالفاظو او عناوینو. العبرة للمعاني لا للالفاظ (درالمنتقی) العبرة فی العقود للمعانی (هدایه).

لائف ممبري یو اعزازي خیزدی، لدینه مراد دائمي سرپرستی ده، قومي، مذهبی، اصلاحی ادارو، همدغه راز د انجمن اسلام او محفل اسلام هم لائف او عمری ممبران وي، له هغوی زیاتی پیسې د چندی په توګه ترلاسه کولی شي، هغوی لپاره د عامو ممبرانو پشان دکلنی ممبري، دفیس چنده ورکولو او دممبري د تجدید کولو ضرورت نه وي، دغه حضرات د ادارو دائمي ممبر، معاون او سرپرست ګڼل کیږي ، داد هغوی لپاره یو اعزاز دی.

۱/ ۷۸/ ۱۵ هـ

په مسئوله صورت کې چون د ممبرانو او اداری نیت استمداد او مرستې وي نه د منافع او ګټي ، رساله یا اخبارهم ورته د احسان په عوض کې په اعزازي توګه ورکول کیږي نودا صورت بی له شکه جائز دی، داد قمار بازي یادفاسدی بیع صورت نه دی. په قمار بازي، کې له خلکو نه دهغوی مال تښتول وي چې دهغه دار مدار جهل، حرص،باطل آرزو او فریب باندی وي، په تمدن او تعاون کې ددی هیڅ دخل نشته، که خساره او تاوان کوونکی سکوت کوي نو دغصی او نا امیدی په حالت کې کوي او ګټونکی سړي ته خوشالي او خوند حاصلیږي.

اعلم ان المیسر سحت باطل لانه اختطاف لاموال الناس عنهم معتمد علی جهل وحرص ومنیٰ باطلة ورکوب غرر تبعثه هذه علی الشرط ولیس له دخل فی التمدن والتعاون الخ (حجة الله البالغه ج ۲ ص ۳۱۷ من ابواب ابتغآء الرزق البیوع المنهی عنها).

خودلته د نقصان څه ویره ده اونه دخسارې او تاوان ، نه پکي دباطل ارزو دخل ده نه ده فریب او دوکې معمولي غوندی شک. دلته خو د امداد او دعطیی قبلول اوپه نیک کار کې د ګډون کولو نیت او احساس دی ترڅو اداره پخپلو پښو ودریږي او دغه اداره د خیر ښیګڼې کارونه ترسره کړي. دلته څوک بایلونکی نشته، نوکله چې دا نه دقمار صورت دی اونه هم د قمار نیت بلکې دایوه خالصه عطیه ده نو دیته قمار بازي څنګه ویل کیدی شي؟

په حدیث شریف کی ((بیع مزابنه)) تـه د ربط دلزوم په وجه ناجائز ویل شوی دي او ((عریه)) یی لدی نهی نه مستثنی گرځولی. ددی وجه دحضرت شاه ولي الله په نزد دقمار د نیت نشتوالی دی. هغه فرمایي

ورخص فی العرایا بخرصها من التمر فیما دون خمسة اوسق لانه عرف انهم لایقصدون فی ذلك القدر المیسر وانما یقصدون اکلا رطبًا.

یعنی عریه کی چی کله میوه له پنځو وسقونه لږ وي نبی صلی الله علیه وسلم له چوارو سره اندازه کولی او بیادهغوی د خرخولو اجازه ورکړی ده ځکه چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دی پوهیده چی په دومره اندازه کی خلک د قیمار کولو قصد نه کوي بلکی تازه کجوری خوړل غواړي (حجة البالغة ایضا ج ۲ ص ۳۲۲). اوداصوت مبادلة المال بطریق الاکتساب له جملی څخه هم نه دی چی معامله بیع اوشراء وگرځي او بیع فاسد وگرځي دبیع په تعریف کی داویل شوي دي چی :

هو مبادلة شئ بمثله علی وجه مخصوص ای بایجاب او تعاط مخرالتبرع من الجانبین والهبة بشرط العوض (درمختار کتاب البیوع ج ٤ ص ٥٠٢). ویقال هوفی الشرع عبارة عن ایجاب وقبول فی مالین لیس فیهما معنی التبرع وهو قول العراقیین کالشیخ واصحابه وقیل هو عبارة عن مبادلة مال بمال الاعلی وجه التبرع وهو قول الخراسیین کصاحب الهدایه و اصحابه الخ (الجوهرة النیرة ج ۱ ص ۱۸۷ ایضاً). وینبغی ان یزاد قید بطریق الاکتساب کما وقع فی الکتب الاخراج مبادلة لوازم مالهما بطریق الهبة بشرط العوض فانه لیس ببیع ابتداءً وان کان فی حکمه بقاء انتهی (مجمع الانهر ایضا ج ۲ ص ٤).

د ممبرانو فیس ، درسالو لوازم (چنده) اوقیمت نه دی بلکی عطیه او بخشش دی د دواړو ترمنځ ښکاره فرق دی، قیمت او لوازم درسالی له بندیدونه وروسته واپس اخستل کیږي خود ممبری فیس دواپس کولو غوښتنه نه کیږي ځکه چی داعطیه وي، اوکه چاغوښتنه وکړه نو هغه غیر دستوری، غیر اخلاقی او رجوع عن الهبه له جملی څخه به وي. لانف بعنی عمري ممبري یو عنوان دی لدینه مقصد امداد او استمداد دی. په معاملاتو کي اعتبار

د معانیو وي په دالفاظو او عناوینو. العبرة للمعاني لا للالفاظ(درالمنتقی).العبرة فی العقود للمعانی (هدایه).

لائف ممبري یو اعزازي څیز دی، لدینه مراد د اسمی سرپرستی ده، قومي، مذهبي، اصلاحي ادارو، همدغه راز انجمن اسلام او محفل اسلام هم لائف او عمري ممبران وي، له هغوی زیاتی پیسی د چندي په توګه ترلاسه کولی شي، هغوی لپاره دعامو ممبرانو پشان د کلنی ممبري د فیس چنده ورکولو اود ممبري د تجدید کولو ضرورت نه وي. دغه حضرات د ادارو دائمي منبر، معاون او سرپرست ګڼل کیږي، داد هغوی لپاره یو اعزازدی دهغوی حقوق هم نسبتاً څه زیات وي، په دغه طریقی سره د اداری لپاره مدد او چنده ترلاسه کولی شي، همدغه طریقه د ځینو دیني، علمي او اصلاحي میاشتنی مجلو هم غوره کړیده، همغه خلک عمري ممبران او معاون جوړیږي چی دچا له ادارو سره همدردي وي، یا داداری له خاوند سره یی خصوصی تعلقات وي ، دغه ممبران دخیر خاوندان ، دیندار او علم دوست اشخاص وي، دهغوی په خدمت کی دهغوی په ټول عمر کی یا د اداری تر آخري بقا پوری دهغوی د احسان په بدله کی دتحفی په ډول رسالی لیږلی کیږي اوداد اداری خلکو اخلاقي فرض هم دی چی په حدیث کی هم ددی لارښوونه شوی ده نبوي ارشاد دی :

چاته چی څه څیز ورکړی شي اوله هغه سره د ورکولو لپاره څه څیز موجود وي نو دهغه بدله دی ورکړي اوله چاسره چی د ورکولو لپاره څه څیز موجود نه وي نودهغه مدح او صفت دی وکړي.

من اعطی عطاءً فوجد فلیجز به ومن لم یجد فلیثن فان من اثنی فقد شکر و من کتم فقد کفر (مشکوة شریف ص ۲۶۱ باب العطایا).

داصورت دهبی او تبرع من الجانبین دی یعنی یوبل ته دعوض له شرط نه بغیر د احسان اود احسان دبدل په توګه دعطیه او امداد ورکولو یو ګټه ِ او مستحسن تمدني او تعاوني صورت دی. دهبی تعریف دادی :

تملیكُ عین مجاناً ای بلاعوضٍ لا ان عدم العوض شرط فیه. (درمختار مع الشامی کتاب الهبة ج ۵ ص ٦٨٧).

یعنی یو څوک د کوم څیز، مفت اودعوض له شرط نه پرته مالک ګرځول دي نه داچی عدم عوض په هبه کی شرط دی. (درمختار).

هرعوض اوبدله بيع ته مستلزم نه دى، نوځكه ديني او علمي ادارو، انجمنونو او محفلونو دايمي ممبرانو او سرپرستانو ته څه ناځه حقوق وي چې په ظاهره د ممبري فيس په ورځه ورته حاصل وي.

همدغه راز رسالوته مضمون ليكونكو! اوفتوى ليكونكو ته هم بالا لتزام رسالى وركول كيږي اوداظاهراً د مضمون او فتوو ليكلو په بركت كيږي.

د استقباليى د مجلس خصوصي اركان چې هغوى دچندى په ټوګه زياتى پيسى وركړى دي د خوراك، څښاك اود اوسيدو انتظام د استقباليى د مجلس له طرف نه كيږي، داهم په ظاهره د چندى وركولو له كبله كيږي، ليكن داصورتونه دبيع او شرى په عقد كى نشي داخلولى بلكى منجانبين تبرع ګڼل كيږي نوځكه دهغوى مطالبه او غوښتنه نشي كيدلى، همدغه حقيقت دعمرى ممبري اوركنيت هم دى.

دتبرع څو قسمونه دي يوه صدقه ده چې په دى سره دالله تعالى خوشالي مقصود وي اودويم هديه ده په دى سره دهغه چا خوشالول هم مقصود وي چې هغه ته داځيز وركوي، حاصل داچې د عمري ركنيت صورت سودا بازي او تجارتي نه دى لكه چې بيان يې وشو. دزيات اطمنان لپاره تاسوته عرض دى چې درسالو او اخبارونو كلنى لوازم او چنده معمولي دوه، څلور اوپنځه روپۍ كيږي خود عمري ممبري او ركنيت فيس او چنده، ۵۰، ۱۰۰، ۲۵۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ اولدينه هم زياته وي، كه چيرته تجارتي وي نويو تاجر په دى هم غور كوي چې دادومره پيسى به كله او څنګه ترلاسه كوم، هغه به دافكر كوي چې ددومره ډيرو پيسو تر دومره كاله پورى هسى ايساريدو كى څه ګټه ده؟ نن سباخو درسالو ژوند هم څه پته نه لګيږي . ددغو خبرو له فكرنه وروسته هغه ضروري نتيجى ته رسيږي چې په دى كى خو سراسر نقصان دى، هغه ته دګټې خبره خو داده چې درسالى فيس هر كال وركړي. كه هغه ددومره نقصان باوجود عمري ممبر جوړيږي نو څرګنده خبره ده چې دهغه معاوضه مقصود نه ده بلكى مرسته يې مقصد وي. څينو خود ممبري او ركنيت درجې مقررى كړى دي ترڅو دخپل حيثيت او وس مطابق يكى ګډون وكړي. پنځوس يالدينه زياتى روپۍ وركوونكى به معاون ګڼل كيږي سل ياله سلونه د زياتو پيسو وركوونكي مربي ګڼل كيږي مګر رساله يا مجله تولوته دمرتبو له فرق نه پرته يوه يوه وركول كيږي، حال داچې په تجارتي اصولو سره كه پنځوس روپۍ وركوونكى ته يوه مجله وركول كيږي نوسل روپۍ وركوونكي ته بايد دوه مجلې وركړى شي، همدغه راز يوسل پنځوس روپۍ

ورکوونکي ته درې او دوه سوه روپۍ ورکوونکي ته خلور رسالې علی هذ القیاس نور هم درواخله.
که چېرته دفیس ورکوونکی مقصد درسالې یا مجلې ترلاسه کول وای نو دپنځوسو روپیو په ادنی فیس سره هم ترلاسه کولای شو، بیانو د دومره زیات فیس ورکولو څه ضرورت دی چې هغه یې ورکوي؟ نو ځکه لدینه دهغه مقصد امداد دی نه تجارت.
همدغه راز د دومره ډیرو پیسو ورکوونکي او اخستونکي ترمنځ کوم عهد او پیمان هم نه لیکل کیږي حال داچې په رسمي پانه باندې دالیکل پکار و چې زما ددغو پیسو په بدل کې به ضرور دومره رسالې رالیږي، مګر دلته نه بیع ده او نه کوم معقود علیه چې څه ورباندې ولیکل شي ، البته که چېرته درسالې د خریدار پشان چې دیوکال فیس داخلوي اوپخپل نوم رساله یا اخبار جاري کوي عمري ممبران او رکن هم څه ټاکلې پیسې د مجلې یا اخبار قیمت، اداکړي اودټول عمر لپاره خپل خانته رساله جاري کړي اوپه دی کې دهغه اصلي مقصد رساله وي نو بیشکه داصورت دبیع او شرا عقد دی اود بیع د مجهول کیدو په وجه به بیع فاسدیږي، لکه چې په امداد الفتاوی کې دي، خوپه مسئوله صورت کې داخبره نشته.
همدغه راز داصورت هبه بشرط العوض هم نه ده چې دهبې په عقد کې دعوض شرط لګیدلی وي چې دهغه حکم ابتداءً هبه او انتها یې دبیع وي، که چېرته المعروف کالمشروط په قاعدې سره هبه به شرط عوض صورت هم ومنل شي نو بیاهم دامعامله جایزه او هبه صحیح ده. ځکه چې دعوض د جهالت په وجه دعوض شرط باطل ګرځي خو هبه صحیح کیږي.
وقید العوض بکونه معینا لانه لوکان مجهولاً بطل اشتراطه فیکونُ هبة ابتداءً وانتهاء.(درمختار مع الشامی ج ٤ ص ٧١٥ کتاب الهبة مسائل متفرقه).
په هرحال د معاون مربي او محسن په عنوان عمري رکن جوړیدل او جوړول عطیه او امداد ورکول اودهغه آخستل شرعاً جائز دي. خوکه د چا نیت د جوارۍ یا تجارت او تبادلې وي یا په کوم ځای کې عرف همداسې وي نو دهغه حکم به دهمغه په مطابق وي، مګردغه ټول عمري اراکین چې په هغو کې علماء هم شامل دي اودهغوی نیت د مرستې او عطیه وي، دهغوی په مرسته مسلمانانو او دین ته فایده رسیږي نو هغوی ته قیمار بازي ویل نشي صحیح کیدای. هذا ما ظهر الی الان والله اعلم بالصواب.

د هډوکو د تجارت حکم:

(۲۳۸_ سوال) ایادهډوکو تجارت جائز دی اوکه نه؟ اوکه جائز وي نو دکومو هډوکو جائز اودکوم یو ناجائز دی؟ تشریح یی کړئ.

(ځواب) حامدا و مصلیا و مسلما. د انسان او خنزیر نه علاوه د نورو ټولو حیواناتو د هډوکو تجارت صحیح دی اګرچی د مردارو حیواناتو هډوکي هم وي.

وَلَایجوز بیع شعر الخنزیر لانه نَجس العین.... الـی قوله... ولایجوز بیع شعور الانسان ولا الانتفاع به .... الـی قوله ... ولا بأس ببیع عظام المیتة الخ هدایه ج ۳ ص ۴۹ باب البیع الفاسد). فقط والله اعلم بالصواب ۲۵ شعبان ۱۳۸۲ هـ.

د اتشبازۍ دخیزونو تجارت کول څنګه دي؟

(۲۳۹_ سوال) د اتشبازۍ یعنی د پټاخو تجارت کول څنګه دي؟ او که څوک په دغه کاروبار کی ملازمت او ماموریت اداکړي نو هغه لپاره څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په اتشبازي کی هسی خپل مال ضائع کول دي چی په حقیقت کی فضول خرچي ده اوپه قرآنکریم کی فضول خرچي کوونکي تـه دشیطان ورور ویـل شـوي دي، الـهی ارشاد دی:

إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا (الإسراء۲۷)

بی ځایه پیسی تاوانوونکی دشیطانانو ورونه دي اوشیطن له خپل رب نه ډیر ناشکره دی.

لهذا اتشبازي د ګناه کاردی اوددې تجارت کول د ګناه په کارونو کـی مرسته کـول دي ، په قرآن کریم کی حکم شوی دی چی: (وَلَاتعاونو علـی الاثم والعـدوان) دګناه او تیرئ په کارونو کی یودبل مرسته مه کوئ.

نوځکه ددغه مبارک آیت په رڼاکی ددی د تجارت اجازه نشي ورکـول کیـدلی بـل داچی په دی کی دکافرانو له مذهبي رسم اودهغوی له شعار سره مرسـته کـول هـم شامل دي کوم سرې چـی د اتشبازي تجـارت کـوي دهغـه سـره بایـد ماموریـت او ملازمت ونکړی شي. داله ګناه سره تعاون هم دی اوله همـدی تجـارت نـه تنخـواه اخستل هم دي. (فقط والله اعلم بالصواب).

د نانزکو او ګوډیو اخستل او خرخول:

(۲۳۰- سوال) د ګوډیو خرخول اوپه کور کی د ماشومانو د لوبو لپاره د ګوډیو ساتل څنګه دي؟ (بینوا توجروا).

(ځواب) کومې ګوډۍ چې د جاندارو په شکل کې وي د هغوی خرخول اوپه کور کې ساتل روانه دي، دلعنت موجب دي، په حدیث شریف کې دي ذی روح شیانو دتصویر په ساتلو کې ډیرسخت وعید راغلی دی. ماشومانو لپاره هم باید داسې تصویر کورته رانه وړئ شي خوکه داسې دلوبې شیان کورته راوړلی شي چې هغه د ذی روح په شکل کې نه وي نو ماشومانو ته هم راوړلی شئ او تجارت یې هم کولی شئ.[1]

په فتاوی محمودیه کې دي:

(سوال) د مسلمانانو په کورونو کې چې د ماشومانو کوم دلوبو شیان وي په هغو کې زیاتره ګوډۍ اونانزکې زیاتې وي، له داسې نانزکو سره د ماشومانو لوبول څنګه دي؟ د مسلمانانو په کورونو کې دهغوی ایښودل څنګه دي؟ ایا مسلمانانو ته ددغو څیزونو تجارت کول روا دي اوکه نه؟

(ځواب) حامدا و مصلیا داسې نانزکې چې شکلونه یې د ذی روحو شیانو په شان نه وي نو څه باک نه لري، د ذی روحو شیانو صورت او شکل جوړول اوپه کوروکې دهغوی ایښودل منع دي، نه دماشومانو د لوبو په خاطر او نه هم د کور دښکلا په خاطر دداسې څیزونو اونانزکو خرخول او تجارت کول هم منع دي. فقط والله اعلم بالصواب. (فتاوی محمودیه جلد ۱۲ ص ۳۷۷). بهشتی زیور ص ۱۷ صفحه نمبره ۵ فقط والله اعلم بالصواب.

دنوکانو رنګ خرخول :

---

[1] - وظاهر كلام النووى فى شرح الاجماع على تحريم تصوير الحيوان، وقال. وسوآء صنعه لما يمتهن او لغيره فصنعته حرام بكل حال لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعالى وسواء كان فى ثوب اوبساط اودرهم واناء و حائط وغيرها ... قوله او لغيرذى روح لقول ابن عباس للسائل ، فان كنت لابد فا علا فا صنع الشكر و مالا نفس له رواه الشيخان ولا فرق فى الشجربين المثمر وغيره ،شامى مكروهات الصلوة ج ۱ ص ٦٤٧، ٦٤٩.

(۲۴۱ سوال) ښځې ناخن پالش یادنوکانو رنګ استعمالوي، دهغه خرڅول څنګه دي؟ بینوا توجروا.
(خواب) داسی ناخن پالش چی په نوکانو باندی کلکیږي اودهغه لاندی اوبه نه تیریږي نو داسی ناخن پالش استعمال جائزنه دی بلکی ګناه ده. په دی سره اودس او غسل نه کیږي، دداسی ناخن پالش خرڅول ګناه ده په قرآنکریم کی دي (ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان) دګناه او تیري په کارونو کی له یوبل سره مرسته مه کوئ.
(۲۴۲_ سوال) دپوکانیو خرڅول جائزدي اوکه نه؟ بینوا توجروا.
(خواب) دجائزکار لپاره داډیرکم استعمالیږي اوناجائز کارونو لپاره ډیر زیات په کار راوړل کیږي، لهذا ددی تجارت کول مناسب نه دی داله ګناه سره تعاون دی. له بدنامي نه هم خالی نه دی، دبی حیایي ذریعه هم ده. فقط والله اعلم بالصواب.

دچرګانو غُل اود میخو غواګانو خوشایي خرڅول :

(۲۴۳_سوال) مونږ دچرګانو فارم لرو، دچرګانو غل په زیات مقدار کی راجمع کیږي ایا ددی خرڅول جائزدي اوکه نه؟ همدغه راز د میخو او غواګانو خوشایي خرڅول څنګه دي؟ روا او که ناروا ؟ بینوا توجروا.
(خواب) ددنو پورتنیو ذکرشویو شیانو خرڅول جائز دي. (کره بیع العذرة) (رجیع الادمی (خالصة لا) یکره بل یصح بیع (السرقین) الزبل خلافاً للشافعی (قوله الزبل) وفی الشرنبلالیة هو رجیع ماسوی الانسان (درمختار مع رد المختار ۵/ ۳۳۹، فصل فی البیع، کتاب الحظر والاباحة) فقط والله اعلم بالصواب.

د هغو اخبارونو خرڅول چی پکی عکسونه او تصویرونه وي:

(۲۴۴_ سوال) په رسالو مجلو او اخبارونو کی دخلکو تصویرونه (عسکونه) چاپیږي لکه نن سبا د هندوستان دسیاسي مشرانو عکسونه ایادهغوی کتل او خرڅول جایزدي اوکه نه؟
(خواب) دچا مقصد یواځی مضامین وي او نظریی اتفاقا پرهغو عکسونو باندی ولګیږي چی په اخبار کی چاپ شوي وي نود بخښنی او معافي امید دی اودچا

مقصد چې یوازې دعکسونو کتل وي نوداګناه ده خصوصاً د ښځو عکسونه چې په هغو کې خیرې لوڅې او خینې نیم لوڅې وي. (فتاوی محمودیه ۵/ ۱۰۷ هم وګورئ. فقط والله اعلم بالصواب.

د راکي خرخول څنګه دي؟

(۲۴۵_ سوال) د هندوانو یو رواج او رسم داسې دی چې په هغه کې خور خپل ورورته راکي تړي ددغه رسم په وخت کې دراکي خرخول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(خواب) دراکي خرخول دکافرانو له مذهبي رسم سره تعاون کول دي لهذا لدینه خان ساتل پکاردي. فقط والله اعلم بالصواب.

بیع الصرف

د بریټس پوسټل په آډر کې د تبادلې کولو په باره کې:

(۲۴۶_ سوال) له افریقا او نورو هیوادونو څخه هندوستان ته پیسې راځي داپیسې بریټس پوسټل آرډر دکاغذ دنوټونو په ذریعه راځي، په نوټ باندې پاونډ همدغه راز دهغه قیمت لیکل شوی وي. په مذکوره نوټ باندې دپیسو اخستونکي نوم او کلی لیکل شوی وي، دبریټس پوسټل په تبادله کولو کې دحکومت له طرف نه دیو پاونډ قیمت ۱۳ روپۍ او ۲۵ پیسې ورکول کیږي که چیرته په هغه کې دسړي او کلی نوم نه وي لیکل شوی نو کوزني تجاران دهغه قیمت زیات ورکوي. دلته ځینې خلک وایي چې له خانګي او کورنۍ تجارنه زیاتې پیسې آخستل جائزنه دي ځکه چې دا سود دی، بل داچې داسرکاري جرم هم دی خو ځینې خلک وایي چې د پاونډ د مالک خوښه ده هرچیرته چې وغواړي دهغه تبادله دې وکړي. اوس له تاسو نه په دې اړه ځواب غواړو مهرباني وکړئ شافي ځواب راکړئ.

(ځواب) دځینو علماو په نزد له ټاکلي قیمت نه چې ۱۳ روپۍ او ۲۵ پیسې دي زیاتې پیسې آخستل جائزنه دي، خو ځینې دجواز فتوه ورکوي لهذا د زیات آخستلو ګنجائش پکې شته خوبه آخستل یې اولی اوبهتر دي دسرکاري جرم له کبله دسزا ورکول کیدو او ذلیل کیدو اندیښنه پکې موجوده ده لدینه خپل ځان ساتل ضروري دي. فقط والله اعلم بالصواب.

دشکیدلي لوټ له روغ لوټ سره کمي او زیاتي سره بدلول:

(۲۴۷_ سوال) که چیرته مونږ وغواړو چې شکیدلي لوټ له روغ سره بدل کړو نو آیا په کمي او زیاتي سره بدلولی شو اوکه نه؟ امید دی چې په دې اړه مونږ ته معلومات راکړئ.

(ځواب) دشکیدلو لوټونو له نوي لوټونو سره په کمي او زیاتي سره بدلول جائزنه دي، داهم ضروري ده چې په همدې مجلس کې لین دین وشي نه قرض اوپور. په هدایه اخیرین کې دي:

وانْ كان الغالب (الدراهم والدنانير) الغش فليسافي حكم الدراهم والدنانير. الى وان بيعت بجنسها متفاضلا جاز صرفاً للجنس الى خلاف الجنس فهي في حكم

شبان فضة وعفرلکنه صرف حتی یشترط القبض الی قال رضی الله عنه ومشائخنا لم یفتوا بجواز ذلك فی العدالی والغطارفة فانها اعز الاموال فی دیار نافلوا بیع التفاضل فیه ینتفع باب الربو. (خط کشیده عبارت قابل غوردی).(هدایه اخیرین ص ۹۳ کتاب الصرف).

داوسنی زمانې دعلماو تحقیق دادی چی اوس نوټ دحقیقی ثمن (قیمت) مشابه دي. په فتاوی محمدیه کی دي ((داد هغه وخت حکم دی چی کله دسپینو زرو روپی په عام ډول ترلاسه کیدل اوس داسکی په عام ډول په زیات مقدار کی نه ترلاسه کیږي، اوهر چیرته کاغذي لوټونه دي.لهذا اوس کاغذي لوټ دسکی پرځای دی اولدینه زکات هم ورکول کیږي فقط. (فتاوی محمودیه حاشیه نمبر ۱ ص ۵۹ ج ۳ کتاب الزکات).

په اهم فقهی فیصلی کتاب کی دي:

(۱) کاغذي لوټونه سند او حواله نه دي بلکی عین ثمن (قیمت) دی اود اسلامي شریعت په نظرکی د کاغذي لوټونو حیثیت داصطلاحي اوقانوني زردی.

(۲) په اوسنی زمانه کی کاغذي لوټونو د تبادلې ذریعه کیدوکی په بشپړډول دثمن خلقي (دسرو اوسپینو زرو) ځای نیولی دی او خپل منځي لین دي او خرید او فروخت دهمدغو کاغذي لوټونو په ذریعه کیږي نولهذا کاغذي لوټونه هم دحقیقي ثمن مشابه دی، نو ځکه دیو هیواد د کاغذي لوټونو دهمغه خلک له کاغذي لوټونو سره تبادله په کمي او زیادت سره کول نه نقداً جائزدی اونه دقرض په توګه. (اهم فقهي فیصلی ص ۱٦ دویم فقهي سمینار ناشر اسلامک فقه اکیډمی) فقط وا لله اعلـم بالصواب ۱۰ شعبان المعظم ۱۴۱۵ هـ.

د موسم په وخت کی دغلی د اداکولو په وعده له وړاندی نه دهغه قیمت اخستل څنګه دي؟

(۲۳۸ سوال) دهقانان له خلکو نه پیسی په دی شرط آخلي چی په موسم کی به فلانـي غله درکرم. تجار هم دخپلی خوښی په نرخ دغلی د ترلاسه کولو په خاطر له وړاندی نه پیسی ورکوي چی ورته بیع سلم ویل کیږي ایادابیع جائز ده؟.

خواب دامعامله په دی صورت کی ناروا ده چی دغلو دانو جنس، قیمت، د اداکولو وخت اوداسی نور شیان معلوم نه وي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] وشرطه ای شروط صحته التی تذکر فی العقد سبعة بیان جنس، کبر او تمر وبیان نوع کمسقی وبعلی وصفة کجید او ردی وقدر ککذا کیلا لاینقبض ولا ینحفظ و اجل واقله فی المسلم، شهربه یفتی. درمختار مع الشامی باب المسلم ج ۵ ص ۲۱٤.

باطل، فاسد او مکروه بیع

د ګنده شوی هګۍ له اخستلونه وروسته واپس ورکول:

(۲۴۹ سوال) دهګۍ له اخستلونه وروسته مې چې ماته کړه نو هغه ګنده وه، دهغه واپس ورکول اوخپلې پیسې ترینه بیرته اخستل څنګه دي؟

(ځواب) جائزدی څرنګه چې داهګۍ دکارنه وه نو ځکه بیع یې باطله ده،لهذا دهګۍ کوم قیمت چې تا ورکړی دی هغه واپس اخستلی شي. په هدایه اخیرین کې دي:

من اشترى بيضا او بطيخاً اوقثاء اوخياراً او جوزاً فكسره فوجده فاسداً فان لم ينتفع به رجع بالثمن لانه ليس بمال فكان البيع باطلا.اهـ. (باب البيع الفاسد ص ۲۷).هداية آخرين مجتبائى.

اياد مردارو ځناورو څرمن خرڅول جايزدي اوكه نه؟

(۲۵۰ سوال) د مردارو ځناورو څرمن ويستل اودهغه خرڅول جائزدي اوكه نه؟ بينوا توجروا.

(ځواب) دمردارو ځناورو څرمن له دباغت اورنګولو نه وروسته خرڅول جائزدي اودهغه قيمت پخپل استعمال كې راوستلی شئ له دباغت نه وړاندی د مردار ځناور څرمن ناپاک دی دهغه خرڅول صحيح نه دی. اوكه خرڅ كړی شي نو دهغه پيسی دی پخپل استعمال کې رانه ولي بلكې كوم غريب ته دی وركړي.

په هدايه كې دي : ولابيع جلود الميتة قبل ان تدبغ لانه غير منتفع به قال عليه السلام لاتنتفعوا من الميتة باهاب وهو اسم لغير المدبوغ على ما مر فى كتاب الصلوة ولا باس ببيعها والانتفاع بها بعد الدباغ لانها طهرت بالدباغ. (هدايه ج ۳ ص ۳۹ باب البيع الفاسد).

د مردار څيز خريد او فروخت جائزنه دى :

(۲۵۱_ سوال) په بمبۍ کې د مينو د ودريدو په ځای کې دمړو مينو او دهغو مړو بچو داوچتولو لپاره داسی بندوبست نيول شوی دی چې دغو مرداريو اوچتوونكي د مينو د ودريدو مالک ته څه نقدی پیسې وركوي اوپوره كال ټيكه اخلي. داكار غير مسلم خلک

خوکولی شي لیکن مسلمان لپاره چون دمردار خیز بیع حرام ده نودهغوی داپیسې نـه شي اخستلی نو ځکه مسلمان داکار له پیسو اخستلونه پرته غیرمسلموته پـه ټیکـه ورکـوي اوپخپل فرصت سره دغه مرداري ورباندی اوچتوي خودزیات وخت دتیریدوپه وجـه تعفـن او ګنده ګي زیاتیږي ،لهذا په دی باره کی حضرت والا مونږ ته دالارښوونـه کـړی ده چـی تاسـی دا پیسې واخلئ او غریبانو ته ورکړئ، اویا ورباندی داسی دخیرښیګڼې کارونه ورباندی وکړئ چی ګټه یی عامو خلکوته ورسیږي.

(خواب) بیشکه چی د مردار شویو څارویو څرخول یـاد خوړلـو لپـاره چاتـه ورکـول جائزنـه دي، دمردار خرڅول حرام او باطل دی.

واذاکان باحد العوضین او کلاهما محر ما فالبیع فاسد کالبیع بالـمیتة (وقوله بیـع المیتـة والدم والـخمر باطل لانها لیست اموالا(هدایه ج ۳ص ۱۳۳ ایضاً).

په مسئوله صورت کی که چیرته په مزدوري ورکولو سره دمردارو څارویو د اوچتولو جـلا جـلا بندوبست کیدای شي نوداسی کول لازم دي، خوکله چـی دا ممکـن نـه وي او مجبـورا د مینو داوسیدو په ځای کی شریکیدل ضروري وي نو هغه پیسی کـوم غریـب او محتـاج تـه ورکول لازمي دي. دخیرښیګڼې په کارونو کی یی استعمالولی شئ. دمردار څـاروي څـرمن له دباغت نه وروسته څرخولی اودهغه پیسې په کار راوړلی شئ خوله دباغت نه وړانـدی یی نشئ څرخولی.

ولایبـع جلود الـمیتة بل ان تدبغ لانه غیر منتفع به قال علیه السلام ولا تنتفعـوا مـن الـمیتة باهاب هو اسـم لغیر الـمدبوغ الخ (هدایه ج ۳ ص ۳۹ باب البـیع الفاسد.

فقط والله اعلم بالصواب.

دخنزیر له ویښتانونه د جوړ شوي برش خرڅول :

(۲۵۲ سوال) مونږ دبرش جوړولو کارخانه لرو، برشونه د خنزیر له ویښتانو نـه جوړیـږي دهغـه صورت څه داسی دی چی دخنزیر ویښتان خرڅوونکي د ژوندي خنزیر ویښته قینچي کـوي، هغه بیاپه دوا او اوبو سره پنځه کرته وینځي. مونږ چی هغه ویښته واخلـو نـو پـه ګرمـو اوبـو کی رنګوو اوبیا ترینه برشونه جوړوو، دغه برشونه د کورونو دیوالونـو، کړکـی دروازو او نـورو څیزونو درنګولو لپاره په کار راځي، دلته سوال دادی چی ایا دخنزیـر لـه ویښتـانو نـه بـرش جوړول اودهغه څرخول جائزدي اوکه نه او ددی دګټې څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(خواب۱، ۲) ظاهري رواياتو او صحيح قول په مطابق د خنزير له ويښتانو نه برش جوړول اودهغه خرڅول جائزنه دي، کومې پيسې چې پرهغې ګټې ورته حالې نه دي برابره خبره ده چې پخپل کارخانه کې جوړوي يادبلې کارخانې خرڅوي.

په هدايه اخيرين کې دي:

(ولا يجوز بيع شعر الخنزير لا نه نجس العين فلا يجوز بيعه اهانة له ويجوز الانتفاع به للخرازين للضرورة فان ذلك العمل لايتاتى بدونه ويو جد مباح الاصل فلا ضرورة الى البيع... الخ (هداية آخرين ص۳۹ باب البيع الفاسد).

په درمختار کې دي: (وشعر الخنزير) لنجاسة عينه فيبطل بيعه ابن كمال وان جاز الانتفاع به ضرورة الخرز حتى لولم يوجد بلاثمن جاز الشراء للضرورة وكره البيع فلا يطيب ثمنه لاخ.(درمختار مع شامى ص ۱۵٦ ، ص۱۵۷ ج ٤ كتاب البيوع باب البيع الفاسد).

په بدائع الصنائع کې دي: واماعظم الخنزير وعصبه فلا يجوز بيعه لانه نجس العين و اما شعره فقد روى انه ظاهر والصحيح انه نجس لايجوز بيعه لان جزء منه الا انه رخص فى استعماله للخرازين للضرورة . (بدائع الصنائع ص ۱٤۲ ج ٥، كتاب البيوع فصل واما الذى يرجع الى المعقود عليه فانواع).

نوځکه که کوم سړی دا کاروبار کوي نوهغه دی ددی تجارت پرېږدي که چیرته یکدم یې نشي پرېښودلې نوپه تدریج سره دی پرېږدي اودبل حلال کار او حلال رزق په لټه کې دی شي.

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوی فرمايي:

(۸۳۱) یوه ګناه خو هغه ده چې که هغه پرېښودل شي نو څه تکليف ونه رسیږي لکه دریری خریل یاد پښو د خینګرو پټول، که هغوی له دی ګناه نه لاس واخلي نو کوم تکليف ورته نه رسیږي هغوی ته خو پکاردي چې دا ګناه فورا پرېږدي. او ځینې داسې ګناهونه دي چې دهغه په پرېښودلو کې څه تکليف او تنګي محسوسوي مثلا رشوت آخستل، دیو سړي ماشومان ډیردي، په لږ تنخواه یې ګذاره نه کیږي نو زه دداسې ګناهونو په باره کې دا وایم چې په کلاره کلاره دی پرېښودی شي ، نیت دی داوساتل شي چې دابايد خامخا پرېښودی شي له کومو خلکونه چې یکدم د ګناه د پرېښودو امید نه وي، اوپرهغه د ګناه پرېښودو زور او دباو واچولی شي نو هغه ټول عمر داګناه نه پرېږدي.

دگناهونو د پریښودلو یوه طریقه داده چې په کور کی دننه حیل وربند کړه دویده کیدوپه وخت له الله تعالی نه دعا وغواړه چې ای الله ! زه ډیر کم بخت او نالائق یم زما همت دگناه د پریښودو لپاره کافي نه دی، تاسی له ماسره مرسته وکړئ، تاسي به وګورئ چې په دی سره به یوه هفته کی دننه گناهونه پریږدي خو افسوس دادی چې داسي څوک نه کوي. ددی مثال داسی دی لکه چې یو شاګرد پخپله سبق نه یادوي اوخپل پلار ته وايي چې ته ماته سبق یادوه. از وصیت العرفان کمالات اشرفیه ص ۳٦ شماره نمبر۸ صفحه کال ۱۴۱۵ هـ مطابق اگست ۱۹۹۴ ع جلد نمبر۱۷ فقط.

(۱) که دقرض په معامله کی د قیمت د اداکولو موده معلومه نه کړی شوه نو ددی څه حکم دی؟

(۲) د بیع فاسد د فسخ کولو اختیار چاته دی؟

(۲۵۳سوال) یوشخص خپل مملوکه زمکه په یوسړي خرڅه کړه اودافیصله یی وکړه چې خریدار دی نصف قیمت په دی وخت کی اداکړي او نیم قیمت دی هغه وخت ورکړي چې حکومت ددی زمکی په باره کی ناقابل کاشت ولیکي، اوس داچې حکومت به په څومره وخت کی دازمکه ناقابل کاشت وګرځوي نو ددی مودی اندازه کول مشکل دی معامله خو فیصله شوه او مشتري نیمی پیسي دوعدی په مطابق نه دي ورکړي او حکومت هم تراوسه پوری د زمکی په باره کی د ناقابل کاشت فیصله نده کړی که چیرته خرخوونکی خپله دا سودا فسخ کړي نو آیا هغه وربانددی ګنهګاریږي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(جواب) په قرض دیو څیز خرڅول خوجائزدي لیکن د پیسو د اداکولو موده معلومول ضروري دي، که چیرته موده مقرره نه کړی شي نو بیع فاسدیږي. په درمختار کی دي:

(وَصَحَّ بثمن حال) وهوالا صل(ومؤجل الی معلوم) لئلا یفضی الی النزاع درمختار رد المختار صفحه ۳۰، ۳۱ کتاب البیوع.

په هدایه اخیرین کی دي : ویجوز البیع بثمن حال ومؤجل اذا کان الاجل معلوماً.. ولابدان یکون الا جل معلوما لان الجهالة فیه مانعة عن التسلیم الواجب بالعقد فهذا یطالبه به فی قریب المدة وهذا یسلم فی بعید ها (هدایه اخیرین ص ٤ کتاب البیوع).

په عالمگیری کی دي : فمنها معلومیة الاجل فی البیع بثمن مؤجل فیفسد ان کان مجهولا (عالمگیری ص ۲ ج ٤ کتاب البیوع،باب۱).

په سئوله صورت کی دنیمانی پیسو د اداکولو لپاره چی کوم وخت مقرر شوی دی هغه ناکلی او متعین وخت نه دی بلکی مجهول دی‌لهذا د زمکی دغه سودا او بیع فاسده ده.

ولا یجوز البیع الی قدوم الحاج وکذلك الی الحصاد والدیاس والقطاف والجزاز لانها تتقدم وتتأخر (هدایه اخیرین ص ٤٥ باب البیع فاسد).(بهشتی زیور حصه پنجم ص ۷. ص ۸).

په سوال کی ددی خبرې وضاحت نشته چی زمکه فی الحال له چاسره ده؟ که چیرته زمکه له بائع یعنی له مخکینی مالک سره وي نو بائع او مشتري دواړه د بیع د فسخ کولو حق لري. ځرنګه چی بیع فاسد شرعاً واجب الفسخ وي‌لهذا په دی صورت کی که بائع فسخ کړي نو هغه ګنهګارنه دی. اوکه چیرته زمکه له مشتري سره وي او زمکه پخپل حالت کی موجود وي، نه یی ورباندی کور جوړ کړی وي اونه ونی پکی کرلی وي نوپه دی صورت کی هم د امام ابوحنیفه په نزدهر یوته د مبیع دفسخ کولو اختیار شته، ځکه چی بیع فاسد واجب الفسخ وي،لهذا هر یوته دبیع د فسخ کولو اختیار حاصل دی که بائع دا بیع فسخ کړي نو مشتري ته دی ددی خبر ورکړي.

د کنز شرح عینی کی دي:

(ولکل واحد منهما) ای من المتبایعین فی البیع الفاسد (فسخه) ای فسخ البیع قبل القبض بعلم صاحبه لان البیع الفاسد لایفید الملك قبل القبض فکان بمنزلة البیع الذی فیه اخیار فکان کل منهما بسبیل من فسخه من غیر رضا الاخر لکنه یتوقف علی علمه لان فیه الزام الفسخ له فلا یلزمه بدون علمه، واما بعد القبض فان کان الفاسد فی صلاة العقد بان کان راجعاً الی احد البدلین کالبیع بالخمر اوالخنزیر فکذلك ینفرد احدهما بالفسخ لقوة الفاسد، وان کان بشرط زائد بان باع الی اجل مجهول او غیره ممافیه منفعة لاحد هما یکون لمن له منفعة الشرط الفسخ دون الآخر عند محمد وعند هما لکل منهما فسخه فیفسخه بعلم صاحبه فی الکل وعند ابی یوسف رحمه الله لایشترط علمه قال الشارح رحمه الله معنی قوله ولکل منهما فسخه لان رفع الفاسد واجب علیهما الخ (عینی شرح کنز، ص ۲٦ ج ۲ فصل فی بیان احکام البیع الفاسد).(عنایه شرح هدایه ص ٤٦٥، ص ٤٦٦ مع فتح القدیر ج٦).

په درمختار کی دي: ویــجب (علــی کل واحد منهما فسخه قبــل القــبض) ویکــون امتناعا عنه ابن مالك (او بعده مادام) الــمبیع بحاله جوهرة (فــی یدالمشـــتری) اعـــداما للفساد لانه معصیة فیجب رفعها بحر ولذا (لا یشترط فیه قضاء قاض) لان الواجب شرعاً لا یحتاج للقضاء (درمـــختارمع رد الــمختار ص ۱۷۳ ج٤ باب الــبیع الفاسد).

الاختیار شرح الــمختار کی دي : (لکل واحد من الــمتعاقدین فسخه) ازالة للخبــث ورفعاً للفساد (ویشترط قیام الــمبیع حالةالفسخ). لان الفسخ بدونه محال الخ (الاختیار لتحلیل الــمختار ص ۲۲ ج ۲ قبیل مطلب رد الــمشتری فاسدا الـــی بائعــه فلــم یقبله). په کنــز الدقائق کی دي: ونکل منهما فسخه الان یبیع الــمشتری اویهــب او یحرر او ینبــی. په بحر کی دي: (قوله ولکل منهما فسخه) ای یجوز لکل مــن الـــبائع والــمشتری فــی الــبیع الفاسد فسخه رفعاً للفساد.... الخ (بحر الرائق ص ۹٤ فصــل فـــی بیان احکام البیع الفاسد ج ٦). فقط والله اعلم بالصواب.

دشدو په فارم کی د شدو د خرڅولو طریقه او حکم یی :

(۲۵۴ سـوال) زمونږ د علاقی سرکاري او غیر سرکاري فارمونو کــی دشـدو دخرڅولـو طریقـه داده چی کله یو څوک هلته دخرڅولو لپاره شدی یوسي نو فارم والا دهغه شیدی آخلـي او په یو بوتل کی اچوي بیاهغه بوتل ناپ کوي او مشین ته ورکوي ترڅو معلوم کړي چــی پــه شدو کی دکچو او غوړیو اندازه څومره ده اوس په دی کــی سـوال دادی چــی لــه شـدونه کوچ د مالك په غیاب کی ویستل کیږي ترڅـو پـوری چــی کــوچ یی نــه وي معلـوم کـړی دهیچا دشدو قیمت او نرخ معلوم نه وي کله چی دمشین په ذریعـه کـوچ ترینـه وباسـي نـو درجستر په کتاب کی دهرچا د شدو نرخ او قیمت لیکي، هیڅ یوسړی ته معلوم نه وي چــی زماشیدی به په څومره پیسو آخلي، په نرخ کی یقیناً جهالت دی خودا جهالت مفضــی الـــی النزاع نه دی شدی خرڅونکی دهغه له شدونه د کوچو له ویستلو نـه وروسـته چــی کـوم نرخ او قیمت مقرر کړی وي هغه ورته منظور وي، ایاداطریقه صحیح اوجائزه ده؟ که صـحیح نه وي نود جواز بله طریقه څه ده؟ مهرباني وکړئ مونږ ته ولیکئ، بینوا توجروا.

(خواب) حامدا و مصلیا و مسلما ! اصل حکم خـو دادی چــی دخرڅولـو پــه وخـت دشـدو قیمت معلوم کړی شي ، ځکه چی په بیع کی جهالت فقهاو دبیـع پــه مفسـداتو کــی حسـاب

كړېدى،لهذا په مسئوله صورت كې داسې طريقه خپله كړئ چې په هغه كې دقيمت جهالت پاتې نشي، كه دشدو فارمونه په دې باندې رضانه وي نوله خپل طرف نه شدو خرخولو انتظام وكړئ. همدغه اصل حكم دى اوله هر قسم شک وشبهې نه پاک دى، خوكه په داسې طريقې سره له برداشت او زغم نه وتلى تاوان كيږي او دشدو د خرابيدو خطره وي. لدينه علاوه بله چاره نه وي اودشدو خرڅوونكو په فارم باندې اعتماد وي چې هغوى د مال په مطابق صحيح نرخ او قيمت لګوي او خيانت پكې نه كوي، دنرخ او قيمت جهالت مفضى الى النزاع نه وي نوبيادغه صورت منل كيدى شي. خودى لپاره د صحيح اوجائزې طريقې لټه او كوشش بايد وشي . نن سبا داسې آلات شته چې دهغه په ذريعه ډير ژر دشدو صحيح نوعيت معلوميدلى شي. پكاردي چې فارم والاو ته ددې اطلا او خبر وركړى شي اوپه صحيح طريقې دشدو خرڅولو كوشش وكړى شي. ترڅو پورې صحيح طريقه نه وي پيداشوى نودمجبوريت له كبله په موجوده طريقې باندې دعمل كولو ګنجائش شته.[1]

د ملائى ټولولو نه وروسته دشدو خرڅول څنګه دي؟

(۲۵۵ـ سوال) كه چيرته څوک له شدونه ملايي راټوله كړي اوبياشدې خرڅې كړي نودهغه څه حكم دى؟

(ځواب) شودى دالله تعالى ډير لوى نعمت دى‌په خالص اوسوچه شدوكې چې كوم خوند دى دملايى له ويستلو نه وروسته هغه خوند نه پاتې كيږي،لهذا دملايى له ويستلو نه وروسته شدو خرڅول دالله تعالى مخلوق له خالص ځيزنه محرومول او له كفران نعمت سره برابردى. خوكه خلكو ته ووايي چې لدى شدونه ملايى ويستل شويده او قيمت يې هم كم كړي نوبياجائز دى. فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - قـوله والاثمان المطلقة لا يصح الا ان تكون معروفة القدر والصفة صورة الـمطلقة ان يقول اشتريت منك بفضة وبحنطة اوبذرة ولـم يعين قدر اولا صفة وفـى الينابيع صورته ان يقول بعت هذا منك بـثمن او بما يساوى فقول اشتريت فهذا لايجوز حتى يبين قدر الـثمن وصفته فالقدر مثل عشرة اوعشرين والصفة مثل بخارى الخ.

ددغه پورتنى حوالې په كتلو سره همدا ويل كيدى شي چې دابيع فاسده ده البته كه چيرته فارم والا اودشدو مالكان قيمت معلوم كړي اوپه دې شرط سره خرڅ كړي چې كه چيرته شيدى يې په هغه معيار برابرى وى چې مونږ يې غواړو نو دانرخ به نافذ كړو اوكه زمونږ دمعيار په مطابق نه وى نوبيا مونږ اختيار لرو چې واپس يې درته دركړو، داد جواز صورت دى، فارم والا ته هم دشدو چيک كولو فرصت هم پيداكيږي اوقيمت هم معلوميږي (مرتب).

د بیع متفرقات

آیاښځو ته جائز ده چې په دُکان کی سودا خرڅه کړي؟

(۲۵٦ـ سوال) مونږ کله کله له تبلیغی جماعت سره بهر سفر کوو اوکله کله همداسی هم بهرځو. نودسړي د نه موجودیت په وجه ښځې په دکان کی سوداخرخوي ، په دی کی دشریعت څه حکم دی؟ ایاښځې تجارت اودکانداري کولی شي؟ په دی کی داسلام حکم څه دی؟ دهغوی د تجارت په ګټه کی څه حرج خو نشته؟

(ځواب) ښځو لپاره داجائز نه ده چی له پردې نه پرته په دُکان کی له غیرمحرمو سره تجارت وکړي. که د چا خاوند حج ته لاړشي یاتبلیغ لپاره سفر وکړي اویاهم په څه وجه غائب وي نودهغه ښځې ته دبې پردګي په حالت کی تجات او دکانداري کول جائزنه دي.

دقرآنکریم آینونه، دمحمد صلی‌الله علیه وسلم لارښوونه، پخپله د محمدصلی‌الله علیه وسلم عمل، دصاحابوکرامو، تابعینو، تبع تابعینو غرض دټولو صالحو سلفو دروایتونو متفقه فیصله همداده چی پرښځو پرده فرض اوبې ستري حرامه ده، په دا ډول دکانداري کی چی ښځه بې ستره سودا خرخوي دواړه ګنهکاریږي.

دقرآنکریم آینونه :

لاتبرجن تبرج الجاهلیة الاولی. (سوره احزاب). بې پردی مخې ته مه راځئ لکه څنګه چې له اسلام نه وړاندی په جاهلیت کی ښځې بې پردې مخې ته راتلې. یعنی بې ستري یوازی دننی زمانې فیشن نه دی بلکی له اسلام نه وړاندی هم دافیشن رواج و. اوپه خلکو کی ډیر زیات مقبول و. هغه جاهلیت ته داولی په ویلو سره دی طرف ته پیشګویی کریده چی یوبل جاهلیت به راځي. یعنی دهغی طبقی دبې ستري فیشن به یوځل بیا رواج مومي. ننې زمانې بې ستري وروستی او جاهلیت اُخری دی.

په هرحال ښځې که په دکانو کی کینې یاتفریح ګاه ته لاړی شي دالله تعالی دغه فرمان دټولو لپاره یو برابردی. ((لاتبرجن)) یعنی دبې پردګی په حالت کی د خلکو مخې ته مه ورځئ

(۲) دویم حکم وقرن فی بیوتکن دی یعنی په کلاره کورونو کی واوسئ (احزاب: ۳۳).

(۳) کله چی ښځه څه څیز چاته ورکوي نو دهغه په هکله الله تعالی فرمایي:

اذا سألتموهن متاعا فاسئلوهُنّ من وراء حجاب.
که له هغوی نه څه غواړئ نودپردی له شانه یی وغواړئ (داصورت ستاسی اودهغوی د زړونو دپاک پاتی کیدو لپاره غوره ذریعه ده).
(۴) بیله شکه دضرورت په وخت ښځو ته د باهر وتلو اجازه ده، مګر په دی طریقې چې په پرده کی وي مخ یی هم پټ وي اونور ټول بدن یی هم په لوی څادر کی تاووي. لکه چې الهی ارشاد دی:
یدنین علیهن من جلابیبهنّ (سوره احزاب).
دهمدغه ضرورت په سلسله کی د احرام په حالت کی ښځوته دمخ دپردی یومشکل وي. داحرام په حالت کی ښځوته دمخ ښکاره کول ضروري وي خوکله چې پردی سړي مخې ته راشي نوپرمخ باندی ضرور پرده آچوي، دعائشه رضی‌الله عنها فرمان دی

کان الرکبان یمرون بناونحن محرمات مع رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فاذا حاذو بنا سدلت احد انا جلبا بها من رأسها علی وجهها فاذا جاوزوا فکشفناه)). (ابوداود شریف کتاب الحج باب فی المرأة تغطی وجهها ص ۲٦۱ ج ۱ مجتبائی).
قافلی به زموږ له وړاندینه تیریدلې او موږ به له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره احرام تړلی و کله به چې قافلی زموږ له څنګ نه تیریدلې نو هرې یوی ښځې به دځپل څادر یوه څنډه پرمخ باندی راکښوله، کله به چې قافله تیره شوه نو بیرته به ځپل مخونه ښکاره کول.

د آیت شریف خطاب:

ددغو آیتونو خطاب براه راست د محمدصلی‌الله علیه وسلم د بیبیانو په طرف دی لیکن ښکاره خبره ده څرنګه چې دمحمدصلی‌الله علیه وسلم بیبیانو ته دمومنانو مور ویل شوي دي اودهغوی احترام فرض او نکاح ورسره حرامه ده کله چې هغوته دپردې کولو حکم دی نو ټولو ښځو ته به داحکم ولی نه وي؟ هغوی څنګه لدینه مستثنی کیدی شي چې په دکانو کی کیني اوله خلکو سره بی پردی خبرې اترې وکړي؟

حقفت دادی چې پرده دحیاء تقاضاده اوحیا د انبیاو په فطرت کې داخله ده د محمدصلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی : الاخمس من سنن الانبیاء (المرسلین) الحیاء، والتعطر. الحدیث. همدغه راز د محمدصلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی :
((الحیاء شعبة من الایمان)) حیا د ایمان شاخ دی ، هغه خلک بی ستري کوي چې دنبوت له رنا نه محروم دي، اوکوم مؤمنان چې دنبوت له رڼانه برخه من دي هغوی خامخا پرده کوي. له آیتونو نه وروسته اوس احادیث ولولئ :

نبوي لارښووني :

(۱) المرأة عورة فاذا خرجت استشرفها الشیطان(ترمذی شریف ص ۱٤۰ جلد۱).
یعنی ښځه سراسر پرده ده (یعنی یوداسې څیز ده چې دهغې پټول ضروري دي) څکه چې کله هغه بیرون اوځي نو شیطان هغې پسې کیږي چې بې لارې کړي .
(۲) نوځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل: ((لعن الله الناظر، والمنظور الیه)) عن الحسن مرسلاً مشکوة ص ۲۷۰ باب النظر الی المخطوبة.
یعنی دالله تعالی لعنت دی ښځی ته په کتونکي اوپرهغه چاچې ورته کتل کیږي.
(۳) دا لعنت ورباندی څکه وبل شوی دی چې ښځو ته کتل یوقسم زناده. لکه چې په حدیث شریف کې دي: العینان زناهُما النظر. (مسلم شریف ص ۲۳٦ ج۲ باب قدر علی ابن ادم حفظه من الزناوغیره). (ابوداود ص ۲۹۹).دسترګو زنا پردیو ښځو ته کتل دي.
(۴) حضرت جابر رضی‌الله عنه فرمایی چې محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل :
((ان المرأة تقبل فی صورة شیطان وتدبر فی صورة شیطان)) ((مسلم شریف بحواله مشکوة شریف باب النظر الی المخطوبة)).
ښځه دشیطان په شکل کی مخی ته راځي اودشیطان په صورت کی واپس کیږي یعنی هر یوطرف ته شیطانی جذبات سر اوچتوي او ګنده خیالات پیداکیږي.
(۵) دهمدغو فتنو له کبله حکم دی : لیس لنساء نصیب فی الخروج الا مضطرة(طبرانی) یعنی صرف دمجبوری او اضطراري صورت ترینه مستثنی دی، کله چې مجبوري نه وي نوښځو ته دبیرون وتلو اجازه نشته. دادي د محمدصلی‌الله علیه وسلم

لاربووني. ترکوم ځای چی دعمل کولو تعلق دی، نویوه مشهوره واقعه ده چی له صحیحینو احادیثونه ثابته ده.

هغه داچی محمدصلی‌الله علیه وسلم ام المومنین حضرت سوده رضی‌الله عنها ته له خپل میرنی وررور (چی د وینځې له ګیډی څخه و) دپردی کولو حکم ورکړی و، حال داچی له میرنی وررونه پرده نه کیږي، داحکم یی صرف په دی خاطر ورکړی و چی دهغه په باره کی داشک پیداشوی و چی هغه دبل چاله نطفی نه دی. (بخاری شریف ص ۹۹۹ باب الولد للفراش الحرة کانت او امة باب من ادعی اخا او ابن اخت ص ۱۰۰۱)

وکان الحسن یقول اتدعون نسائکم لیزاحمن العلوج فی الاسواق قبح الله من الابغار. (احیاء العلوم ص ٤٨ ج ۲).

ترجمه: حضرت حسن بصری رحمه الله به ویل ایاتاسی ښځې دیته خوشی کوئ چی هغوی په بازارونو کی د ذمیانو په هجوم کی دننه شي د الله لعنت دی وي پرهغه چاچی غیرت نه لري.

په مجالس الابرار کی دي. ترڅو پوری چی ښځه له سړونه پټه وي نودهغی دین به محفوظ پاتی کیږي. کله چی محمدصلی‌الله علیه وسلم له خپل لور حضرت فاطمه رضی‌الله عنها څخه پوښتنه وکړه چی ښځو لپاره کومه خبره ښه ده؟ فاطمه رضی‌الله عنها وویل : داچي نه دی ښځه پردو سړو ته وګوري اونه پردي سړي ښځې ته وګوري.

فالمرأة کلما کانت مخفیة من الرجال کان دینها اسلم. لماروی انه علیه السلام قال لا بنته فاطمة رضی‌الله عنها ای شیٔ خیر للمرأة قالت رضی‌الله عنه ان لا تری رجلا ولا یرها رجل(مجلس : ص ۹۸: ۵٦۳).

لنډه داچی ښځې لپاره په هر حالت کي په دکان کی بی پردی سودا خرڅول اوله غیر محرم خلکوسره خبرې اتری کول شرعاً جواز نشته. ښځه په لمونځ کی په زوره قراءت نشي کولې، په حج کی په زوره لبیک نشي ویلی. نوپه دکان کی پردیو خلکو باندی په زادی سره دسودا خرڅولو اجازه څنګه ورکول کیدی شي؟ که څه هم دهغی دغه ګټل شوی پیسې حرامی نه دي لیکن دګټې دا طریقه ناجائزه اودګناه باعث ده. فقط والله

د آخستلو په وخت د خیزونو څکل څنګه دي ؟

(۲۵۷) سوال : له دکاندار نه دخوراکي خیزونو لکه آم، خربوزه، هندوانه او نورو میوو څکل څنګه دي؟

(جواب) ددی درې صورتونه دي : (۱) داچې دآخستلو اراده یې نه وي نو په داسې صورت کې منع او مکروه دی. دنقصان عوض دی ورته ورکړي.

(۲) د اخستلو اراده یې درلوده خوله څکلونه وروسته یې خوښ نه شول نوپه دی صورت کې یادی دهغه تاوان ورکړي اویادی له مالک نه معافي اوبخښنه وغواړي. (۳) له څکلونه وروسته یې خوښ نه شول نو په نه اخستلو کې هیڅ حرج نشته[1] فقط والله اعلم بالصواب.

که په خرڅ شوي دکان کې خریدار شراب خرڅ کړي نودهغه څه حکم دی ؟

(۲۵۸) سوال : یو مسلمان خپل دکان په هندو باندی خرڅ کړ. هغه په دکان کې دشرابو کاروبار شروع کړی دی. ایاپه دی حالت کې دی دکان خرڅوونکی مسلمان ګنهکاریږي؟

(۲) زمایو دوست دشریعت پابندهم دی د پاسپورت ایجنسي یې جوړه کړی ده له هریو مسافر نه لس پنځلس زره روپۍ آخلي په داسې حال کې چې دهغه پنځه سوه یا زر روپۍ خرچه کیږي. نوپه داسې صورت کې دومره ډیره ګټه کول جائزده اوکه نه؟

(۳) یوسړی دقاچاق په ذریعه له بهرني هیوادو څخه خیزونه ترلاسه کوي هغه خرڅوي اوورباندی ګټه کوي. که داسې سړی په مسجد او مدرسه کې پیسې ورکړي اویا مسجد لپاره څه خیز واخلي نو آیا دهغه داپیسې او خیز حلال دی؟ ایا هغه ته اجر او ثواب ورکول کیږي اوکه نه؟

(جواب) کله چې مسلمان هندو باندی دکان په دی نیت نه دی خرڅ کړی چې هندو دی هلته شراب خرڅ کړي اوشراب هندوپخپله خرڅوي اوداد هغه خپل کسب دی نوپه دی ګناه کې مسلمان بالکل شریک نه دی.

[1] وکـان المبیع طعاما فاکله او بعضه او اطعمه عبده او مدبره او ام ولده اولبس الثوب حتی تخرق فانه یرجع بالنقصان استحسان عندهما وعلیه الفتوی وعنهما یرد ما بقی ویرجع بنقصان ما اکل وعلیه الفتوی در مختار مع الشامی باب خیار العیب مطلب فیما لو اکل بعض الطعام.

(۲) کله چې داپیسې په دوکه اوفریب سره نه وي ګټل شوی دامال حرام نه دی البته زیات ګټه ګول له مروت نه خلاف دی. اویوقسم ظلم دی.
(۳) په جائزې طریقې سره ګټل شوی مال حلال دی په مدرسه او مسجد کې دهغه ورکول دثواب موجب دی. مګرله حکومتی قانون نه خلاف کول اوخپل ځان حکومت ته ملامتول هم شرعاً جائز نه دی‌لهذا داکسب باید پریښودلی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

د دوکان پګړی:-

(۲۵۹ـ سوال) مادپګړی په ورکولو سره دکان آخستی و ایا اوس زه دغه دکان دپګړي آخستلو په بدل کی بل چاته ورکولی شم او که نه؟ بینو توجروا.
(ځواب) که چیرته همغه سړی له تانه دکان آخستل غواړي چې تاترینه دپګړي په بدل کی آخستی وه نو ته له هغه نه دومره پیسی آخستلی شی څومره چې له تانه آخستی وي. له نورونه آخستل جائز نه دی.
کوم خلک چې هندوستان دارلحرب ګڼي اوله غیر مسلموڅخه سود او نورو په ذریعه پیسې آخستل مباح ګڼي نو هغه خلک له غیر مسلمو څخه د داقسم پیسوآخستلو ته اجازه ورکوي، لیکن د احتیاط غوښتنه داده چی لدینه دی هم خپل ځان وساتلی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

د تصنیف اود چاپ دحق په اړه څو سوالونه او ځوابونه یې :

حضرت مولانا عبدالغنی رحمه الله پخوانی مفتی مدرسه امینیه دهلی.
(استفتاء ۲٦۰) څه وایي ددین علماء په لاندینی مسئله کی : هغه داچې زید ډیر لوی عالم دی هغه یو ابتدایي مذهبی کتاب ولیکلو چې په هغه کی ماشومانو ته دسوال او ځواب په ډول د عقائدو او اعمالو ضروري مسائل لیکلي دي بیاهغه کتاب خلکودومره زیات خوښ کړ چې د ډیرو دیني مدرسو په نصاب کی داخل کړی شو. ډیرو علماو او تجارانو هغه چاپ او خرڅ یې کړ، مګر زید کله هم په هیڅا اعتراض ونه کړ. کله چې زید مړ شو نو څه موده وروسته عمر نومی یوسړي دهغه کتاب چاپ کړ، دهغه په دی کار د زید وارثان مطالبه او غوښتنه کوي چې ستاپدی کارسره زمونږ تجارت ته نقصان رسیدلی دی تا دا کتاب زمونږ له اجازې نه پرته چاپ کړی دی.لهذا زمونږ دنقصان په

بدل کی دوسره زره روپۍ مونږ ته راکړه، که نه نو مونږ په عدالت کـی دربانـدی عریضه کوو چی تا زمونږ کتاب زمونږ له اجازې نه پرته جاپ کړی دی. اوس سوال دادی:
(۱) ایازید لپاره داجائزو چی دخپل کتاب دچاپ حق محفوظ کړي وای ترڅوبل څـوک یی چاپ نه کړي.
(۲) ایا دزید وارثانو ته دا جائز دي چی دزید له مړکیدونه وروسته نورخلک ددغـه کتاب له چاپولو نه منع کړي.
(۳) آیا زید یاد زید وارثانو ته داخبره جائزه ده چی هغه دچـاپ حقـوق کـوم مطبعـه یـا تاجر باندی خرڅ کړي؟ ایاشرعاً داسی بیع صحیح ده؟ ایا ددغه بیع په نتیجه کـی چـې کومې پیسی ګټل کیږي هغه حلالی دي؟ دچاپ حق متقوم مـال دیٰ اوکـه غـیر متقـوم؟(والسلام فقیر محمد غلام مصطفی وارثی).
(ځواب) اقول بالله التوفیق: دا اجتهـادی اوقیاسـی مسـئله ده پـه قـرون اولـی کـی دچاپ مشینونه نه وو اونه له چاپ سره دمالي منفعـت د متعلـق کیـدو څـه تصـور ولهـذا ددی په باره کی صراحتاً کوم حکم نه دی موجود. لیکن که چیرته د چـاپ حـق غـیر متقوم او مباح الاصل و ګڼل شي بیاهم داسی کتاب چی ورسره د مصـنف مـالي ګټـه یـا تجارتي مفاد تړل شوی وي نوهرچاته ددې چاپول د مصنف له اجازی نـه پرتـه جائزنـه دي. ځکه چی ځینی کارونه داسی دي چی داصل په لحاظ سره مبـاح وي. لـیکن کـه دهغوی په کولو سره دبـل شـخص دحـق تلفـی اوضـرر امکـان وي نـو دهغـه اباحـت ساقطیږي اوهغه شرعی ممنوع ګرځي. مثلاً:
هر مسلمان سړي ته ددی حق حاصل دی چی یوی ښځې ته دنکاح پیغام ولیـږي لـیکن په پیغام باندی پیغام ورکول ممنوع دي. یعنی کـه یـو مسـلمان شـخص یـوی مسـلماني ښځې ته دنکاح کولو پیغام ولیږه نو ترڅو پوری چی ددغه لومړی سړي د نکاح پیغام نـه وي مسترد شوې بل مسلمان ته داجائزنه دي چی هغی ته دنکاح کولو پیغام ولیږي.
نهـی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ان یخطب الرجل علـی خطبة اخیه.(مشـکوة باب اعلان النکاح والخطبة والشرط ص ۲۷۲).
که یوسړی له چاسره دیو سودا د قیمت فیصله وکړي نودریم سړی ته دقیمت لګولو حـق نشته.

دخپل بام چت ته د ختلو حق هرچاته حاصل دی مګرکله چې دخلکو د کورونو بې پردګي اوبې ستري کيږي نو بياددی اباحت نه پاتی کيږي. (کفايت المفتی کتاب المضاربه الشرکه).
په مسجد کی هرچيرته کښيناستل هر لمونځ ګذار لپاره مباح دي، د مسجد يوځای هم ديوسړي لپاره مخصوص نه دی ليکن که چيرته کوم سړی په کوم يوځای باندی کښيني او خپل څادر يا پګړی هلته کيږدي او ضرورت لپاره لدی ځای نه پاڅيږي نودبل سړي لپاره دهغه پرځای‌باندی کښيناستل منع دي، يعنی کله چې يوسړی دغه ځای دخپل څادر په ايښودلو سره دخپل ځان لپاره مخصوص کړيدی نو نورو لپاره ددی اباحت پاتی نه شو. علامه شامي بابُ مايفسدُ کی مطلبٌ فيمنْ سبقت يده الـى مُباحٍ ترعنوان لاندی په مفصل ډول دا بيان کړی دی چې کله له کوم مباح سره دکوم شخص حق متعلق شي نو نورو لپاره مباح نه پاتی کيږي.
ديو مصنف شخص کتاب چې دهغه له ډير خواري او محنت نه وروسته بازار ته اوځي نو دهغه د چاپولو له ټولونه لومړی حق پخپله مصنف ته حاصل دی، او ددی مقصد د علم د تبليغ او خوريدو نه علاوه د مصنف لپاره دمالي ګټې ترلاسه کول هم دي. نو ترڅو پورې چې د مصنف حق له هغه سره تړل شوی دی د نورو حق له هغه سره نه متعلق کيږي. دکتابونو هغه تاجران چې د مصنف له طرف دزيات تعداد اشاعت او چاپ باوجود داکتاب له اجازی نه پرته چاپوي هغه ددغه کتاب له شهرت او مقبوليت نه دمالي ګټې دترلاسه کولو په خاطر داکار کوي. ځکه چې که دهغه په زړه کی دعلم قدر او عزت جذبه وای نو هغه به له مصنف نه ډير زيات کتابونه اخستی وای اودثواب په خاطر پرغريبانو به يې تقسيم کړی وای.
اوس پاتی شو داسوال چې دچاپ دحق معاوضه آخستل مصنف لپاره جائز ده اوکه نه؟ له مجرده حقوقو څخه هغه حقوق چې په هغه کی هيڅ مالي ګټه نه ترلاسه کيږي ،يادهغه مال دترلاسه کيدو ذريعه نشي جوړيدلې بلکی يواځی دضرر د رفع کولو د حق اثبات کيږي مثلاً دشفعه حق له بدن خپلوان شريک نه دمامون پاتی کيدو لپاره داحق ورکول شوی دی، بيشکه دداسی حقوقو معاوضه آخستل جائزنه دي. ليکن ځينی حقوق داسی هم وي چې له هغه سره دحق خاوند مالی ګټی په حال يا مستقبل کی متعلق وي. مثلاً د وظائفو حق يعنی شاهي منصبونه دهغوی معاوضه دمال په صورت کی اخستل يا دمال په معاوضه کی له حق نه دستبرداره کيدل جائزدي.

حضرت حسن رضی‌الله عنه دخپل خلافت نه دحضرت معاویه رضی‌الله عنه په حق کې هله دستبردار شوی و چې له هغه نه معاوضه قبوله کړی وه.

(الاشباه والنظائر للحموي.(شامی کتاب البیوع مطلب فی العرف والخاص والعام غایة الاوطار).

هرچانه داحق حاصل دی چې خپل کاروبار باندې څه نوم کیږدي چې نن سبا په اصطلاح که ورته ګډول شهورتیا ویل کیږي لیکن که چیرته یو شخص دخپل کارو بار باندې ((عطرستان یاګلشن ادب)) کیښود اوله هغه سره دهغه تجارتي مفاد وتړل شو نو بل چاته ددې نوم ایښودلو حق نه پاتې کیږي. اوچې کله له یو خاص نوم سره په مستقبل کې دمال د ترلاسه کولو او تجارت کولو مقصود وي نو دګډول (یعنی په دې نوم دامشهور شوی دی) معاوضه اخستل جائزدی . (حوادث الفتاوی حصه چهارم سوال نمبر ۳۳).

همدغه رنګ دکتاب دچاپ حق چې په دې سره د مصنف مالي ګټه حال یا مستقبل کې متعلق ده دا ثابت بالاصاله حق دی او مصنف دغه حق د معاوضې په آخستلو سره منتقل کولی هم شي اوپه اوسنی زمانه کې دحل او نقل ذرائع دنشر او اشاعت د زیاتو وسائلو د موجودیت اود مصنفینو لپاره دقدردانی او همت افزائی همدغه راز د کفاف د فقدان په وجه مصنف لپاره دچاپ حق محفوظ پاتې کیدل علمی بخل نه دی بلکې پدې کې دصالح لټریچر بقا او ترقی مضمر ده.

چون په مسئوله صورت کې د منفعت نقصان دی او هغه هم غیر متعین او مجهول دی نو خکه د ضمان موجب نه دی . شامی کتاب الغصب) والله تعالی اعلم وعلمه احکم.

(الجوال صحیح ، دحضرت مولانا عبدالغنی صاحب رحمه الله فتوی د تصنیف اودچاپ دحق په اره بالکل صحیح ده. دضرر ددفع کولو او نورو مصالحوپه خاطر هم دحقوقو محفوظ کول صحیح دي فقط والله اعلم بالصواب. کتبه الاحقر السید عبدالرحیم لاجپوري غفرله ولوالدیه)

د سینما په ذریعه د تجارت اشتهار ورکول:

(۲۶۱) سوال ایاپوسری دخپل تجارتي څیز د مشهورولو لپاره په سینما کې اشتهار ورکولی شي اوکه نه ؟ کوم سړی چې دا اشتهار ورکول غواړي هغه بنه لمونځ ګذار او دیندار دی. بینوا توجروا

(خواب) دخپل تجارتي ځیز د مشهورولو لپاره دشیطان کور سینما ذریعه ګرځول او په دی ترتیب له سینما سره سرسته کول صحیح کارنه دی، دیندار سړي لپاره خو بالکل دبدنامۍ ځیزدی . په حدیث شریف کی دي:

اتقوا مواضع التهمة. یعنی د تهمت له ځایونو څخه ځانونه وساتئ.

او دحضرت علی رضی‌الله عنه ارشاد دی: ایاك وما یسبق الی العقول افکاره وان کان عندك اعتذاره. یعنی له داسی ځیزنه ځان وساته چی له هغه نه دنورو په عقلونو کی انکار پیداشي، اګرچی له تاسره عذر هم موجود وي. فقط والله اعلم بالصواب ۲۶ جمادی الاول ۱۴۰۲ هجري.

دغلا له ټوټو او کپړونه د جوړشوو خولیو او جزدانونو آخستل :

(۲۶۲_ سوال) یوخیاط (درزی) توته پټوي بیاله هغه نه خولۍ اود قرآن کریم جزدانونه جوړوي،ایا دهغوی آخستل او استعمالول جائز دي اوکه نه؟ ایاپه دغه خولیو کی لمونځ کیږي اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

(خواب) دغلاله ټوټو نه د جوړ شویو خولیواو جزدانونو آخستل صحیح نه دی بلکی حرام دی او که په ناخبری کې یی واخستل نو ګناه ګار نه دی لمونځ یی پکی هم کیږي، خو کله چی ورته معلومه شي نودهغه لری کول ضروري دي.[1]

فقط والله اعلم بالصواب. ۱۰ محرم الحرام ۱۴۰۳ هـ.

د سرکاري قانون په مطابق د ترلاسه شوی زمکی په متعلق :

(۲۶۳ سوال) یو غیر مسلم یو مسلمان سړی ته خپله زمکه په کرایه ورکړه، بیا د حکومت دقانون په مطابق هغه زمکه مسلمان ته ورسید او حکومت دهغه ډیر کم قیمت ولګاو. لږ وخت وروسته مسلمان وفات شو اوس دهغه وارثان هغه زمکه پخپلو منځو کی تقسیمولی شي اوکه نه؟ دشک په وجه چی حکومت دزمکی ډیر لږ قیمت آخستی دی. بینوا توجروا.

۱- الحرام ینتقل فلو دخل بامان و اخذ مال حربی بلا رضاه و أخرجه الینا ملکه. وصح بیعه لکن لا یطیب له. ولا للمشتری منه قال فی الشامیة تحت قوله الحرام ینتقل ای تنتقل حرمته، و ان تداولته ، الا یدی وتبدلت الا ملاك باتی تمامه. قریبا قوله ولا للمشتری منه. فیکون بشر اله منه مسیا لأنه ملکه بکسب خبیث وفی شرائد تقریر الخبث باب البیع الفاسد قبیل مطلب البیع الفاسد لا یطیب ویطیب للمشتری ج ٥ ص ۹۸.

(ځواب) مرحوم چې په کوم قیمت سره زمکه آخستې ده هغه له اصل قیمت نه ډیره کمه ده. په هغه وخت پرهغه لازم وچې پاتې نور قیمت یې اداکړی وای او دزمکې مالک یې رضاکړی وای، مګر داسې نه دی شوی،لهذا همدومره قیمت دی د زمکې مالک ته اداکړی شي اوبیادی په وارثانو کې تقسیم کړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.
۷ جمالی الاولی ۱۳۹۹ هـ.

په غلا سره د مارکیټ د چلولو حکم:

(۲٦۴ــ سوال) له حکومت نه په پټه بهر هیوادوته د تجارت لپاره سامان استول څنګه دي، ایا دا تجارت جائز دی اوکه بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته هغه مال نجس،ممنوع الاستعمال او ممنوع البیع نه وي اوله مالک نه یې آخستې وي نودهغه تجارت فی نفسه حلال دی، لیکن څرنګه چې دحکومت له قانون نه خلاف دی اوپدی سره تجار ذلیل اوبې عزته کیږي، دخپل ځان ذلیلول ناجائز دي لهذا داسې تجارت نه دی کول پکار ځان دی تری وساتل شي. فقط والله اعلم بالصواب.

دسودا نه کیدو په وجه د بیعانه پیسې آخستل :

(۲٦۵ــ سوال) یو ګاهک یاخریدار دکان ته راغی اودیو مال د آخستلو بیعانه یې په دې شرط ورکړه چې که زه دریو میاشتو پورې دلته رانشم او مال یو نسم نو زما دغه بیعانه به ستاشي، ایا شرعاً داجائزدی ؟ بینوا توجروا.

(ځواب) مشتري (خریدار) که مال یونیسي نوپه هر حالت کې دبیعانه د پیسو واپس ورکول ضروري دي، دشرط هیڅ اعتبار نشته، هغه پیسې دمشتري امانت دی دهغه آخستل شرعاً جائز نه دي، که سودا وي نو هغه پیسې‌دی په سودا کې حساب کړي او که سودانه وي نو داپیسې دی واپس ورکړي، تاجر ته د هغه پیسو ایسارول جائز نه دي. که چیرته دخریدار او مشتري نوم اوپته معلومه وي نو ورته دی خبر ورکړي او پیسې دی ورته واپس ورکړي. که چیرته پته یې معلومه نه وي نو دهغه د غه بیعانه پیسې دی غریبانو او مسکینانو ته ورکړي. که هغه کوم وخت راغی او غریبانوته دهغه پیسو په ورکولو خوشالي ښکاره کړه، نو فبها اوکه خفه شو نو دهغه خپلې پیسې دی ورته ورکړی شي اوپدی صورت کې به ثواب تاجر ته رسیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا احتکار له تجار سره مخصوص دی ؟

(سوال ـ ۳٦٦) ایا داحتکار مسئله تجارانو پوری مختص وي اوکه ز میندارنو پوری هم مختص ده؟ یعنی فی الحال دغلی تجارت نشته. له سرکاري وصولیاتو نه وروسته نوره غله دانه زمیندارنو سره پاتی کیږي، له سرکار سره غله ختمیږي او خلک په پریشانی کی اخته کیږي پدی وخت کی چی له کوم زمیندار سره له ضرورت نه زیاته غله وي او هغه خرڅه نه کړي نو ایا دا احتکار دی؟ هغه دا غله خامخا خرڅوي که همدا نن ورته ښوک زیات قیمت ورکړي، که دا احتکاروي نو په کتاب کی دالیکل شوی دي چی زمیندارنو ته دخپلو غله دانو ساتل احتکار نه دی ددی مطلب څه دی؟ که دا احتکار نه دی نو دتنګي وجه خو په دواړو کی ده، نوبیا د دواړو ترمنځ تفاوت ولی دی؟

(خواب)تاجران غلی دانی له بنار نه یا له کلیو نه په پیسو آخلي اوپه ګودام کی ذخیره کوي ترڅو دګرانی په وخت کی بازار ته وباسي او په ګرانه یې خرڅ کړي، ددی باوجود چی خلکو ته دغلو دانو ډیر سخت حاجت وي خو ترڅو پوری چی ښه ګراني نه وي راغلي له دکان او ګودام نه یې نه وباسي. حال داچی په دغه غلو دانو کی دټولو حق وي، که چیرته تاجر له وړاندینه دانه وای اخستی نو ټولو خلکو به اخستی وه او خپل حاجت به یې پوره کړی و، دا تاجران دخلکوپه وړاندی دیوال جوړیږي اوخلکوته د تکلیف رسولو په وجه ظالم ګرځي، په شرعي اصطلاح کی داسی تجار ته محتکر ویل کیږي، هغوی لپاره سخت وعیدونه راغلي دي، پاتی شو زمیندار هغه خو دخپلی زمکی دغلی حقدار دی، په دی کی دعوام خلکو څه حق نشته، څرنګه چی کرونده ګردخپلی زمکی د کرلو اونه کرلو اختیارمن دی بالکل همداسی دخپلې زمکې دغلې د خرڅولو او نه خرڅولو اختیار هم لري، همدغه راز کرونده ګر دخلکو حق تلفی نه کوي نوځکه هغه ته محتکر نه ویل کیږي، مګرداخبره دی هم باید په یادکی وساتل شي چی بدنیتي او بی رحمي اودخلکو د تکلیف پروانه کول کرونده ګرته هم کیږي، دخلکو دضرورت په وجه که حکومت هغوی دزیاتی غلی په خرڅولو مجبور کړي نو حکومت ته ددی اجازه ورکول شویده.

په درمختار اوشامي کی دي :

ولایکون محتکرا بحبس غلاة ارضه (قوله ولایکون محتکرا الخ) لانه خالص حقه لم یتعلق به حق العامة الاتری ان له ان لایزرع فکذا له ان لایبیع هدایه قال ط والظاهر

ان المراد انه لایاثم اثم المحتکر و ان اثم بانتظار الغلاء او القحط لنیة السوء للمسلمین الخ وهل یجبر علی بیعه الظاهر نعم اذا اضطر الناس الیه تأمل (درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۳۵۲ کتاب الحضر و الاباحة فصل فی البیع) والله اعلم.

له بائع او خرخوونکي سره ساز باز کولو په ترخ کی زیات بل لیکل:

(۲۶۷_ سوال) زیدپه یوکمپنی کی ملازم دی، کمپنی هغه ته دا وظیفه سپارلی ده چی نورو کارخانوته لاړشي دکمپنی لپاره دضرورت څیزونه واخلي، زید څیزونه خو آخلي مګر دکارخانوله مالکانو سره داساز باز کوي چی تاسی په بل کی دخپل تاکلی قیمت نه دوسره روپی زیاتي ولیکئ اوله کمپنی نه دپیسو ترلاسه کولو نه وروسته دغه زیاتی پیسی مانه راکړئ . ایاد زید دغه طریقه صحیح ده؟ ایادا روپی دهغه لپاره حلالی دي؟ ایاداکارخانی مالکان چی هغه ته داسی بل جوړوي دتعاون علی الاثم والعدوان مصداق نه ګرځي. بینوا توجروا.

(جواب) حامدا و مصلیا و مسلما. دزید داطریقه بالکل غلطه او ناروا ده زید اود کارخانی مالکان دواړه ګنهکار دي. اود الله تعالی حکم: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان نه مخالفت کوي. فقط والله اعلم بالصواب.

فسخ البیع
دبیع فسخ کول

د بیع او سودا مکمل کیدونه وروسته بائع یعنی خرڅوونکی صرف پخپله خوښه بیع نه شي فسخ کولی؟:

(۲٦۸) سوال: زه د کورونو او زمکې د دلالي کار کوم. دیو کور څلور ورونه او څلور خویندې وارثانې دي هغوی ټولو ماته د کور دخرڅولو لپاره وویل مادهغوی د وینا په وجه خریدار پیداکړ اوله هغوی سره مې دکور دخرڅولو په اړه خبرې وکړې دزیات اطمنان د تر لاسه کولو په خاطر مې هغه د کور له ټولو وارثانو سره مخامخ کړ. په دې اړه دوه مجلسونه هم وشول. د خریدار په قیمت باندې هغوی مطلمئن نه وو له خبرو اترونه وروسته خریدار د هغوی دخوښې مطابق قیمت ومانه. وروسته ټولو ورونو او خویندو پخپلو کې مشوره وکړه او ټولو په اتفاق سره دغه سودا منظوره کړه. خریدار ته یې په پوره ونوق سره اطمنان ورکړ. خریدار د بیعانه په توګه پولس زره روپۍ په همدی مجلس کې ورکړې اود نورو پیسو د ورکولو لپاره یې یو ټاکلی وخت کېښود لدینه وروسته خریدار دسندونو د جوړولو هلې ځلې شروع کړې پرهغه یې کافي تاوان هم کړی دی. ددغو ټولو کارونو نه وروسته اوس دوه ورونه وایي چې مونږ ته داسودا منظوره نه ده. ماهغوی ته وویل چې سودا شویده او خریدار دسندونو اوقوالی جوړولو کوشش هم شروع کړیدی، او تاسې پخپله خوښه دکور سودا کړیده اوس ولې انکار کوئ؟ خوهغه دواړه ورونه دابیع ردوي خو خریدار دهغوی خبرې نه مني، ایا دا دواړه پخپله خوښه دا سودا ماتولی او ختمولی شي؟ بینوا توجروا.

(جواب) په مسئوله صورت کې کله چې د ټولو ورونو او خویندو په رضاسره دکور سودا شویده او هیڅاېکې اختلاف نه دی کړی، مشتری ته یې هم پوره ډاډ ورکړیدی او یو لس زره روپۍ بیعانه یې هم اخستې ده، نو اوس مذکوره سودا مکمل شویده، دمشتري له خوښې اورضا نه پرته دغه بیع نشي فسخ کولې په هدایه آخرین کې دي:

واذا حصل الایجاب القبول لزم البیع ولاخیار لواحد منهما الا من عیب او عدم روية. (هدایه اخیرین ص ٤ کتاب البیوع) (فتاوی محمودیه ص ۱۸۲- ۱۸۳ ج٤). فقط والله اعلم بالصواب.

که بیع فاسد شي نو دبیع دفسخ کولو حق چاته دی ؟

(۲٦۹ ـ سوال) که چیرته کوم بیع او سودا د کوم فاسد شرط په وجه فاسده شي نوددا سی فاسد بیع په شریعت کی څه حکم دی؟ ایادهغه فسخ کول ضروري دي؟ اوکه ضروري دي نود فسخ کولو حق چاته دی؟ اودفسخ کولو په صورت کی بایع څه شی واپس کړي؟ بینوا توجروا.

(جواب) که چیرته د کوم فاسد شرط په وجه بیع فاسد شي. خوکه چیرته مشتری خرخ شوی څیزپخپل تصرف کی آخستی وي اوپخپل اصلی حالت کی موجود وي نوددا سی فاسد بیع فسخ کول شرعا واجب دي ځکه چی داګناه ده اودګناه باقی پاتی کول صحیح نه دي دهغه ختمول ضروري دي. دامام ابوحنیفه او امام مالک دقول په مطابق بایع او مشتري (خرخوونکی او اخستونکی) له دواړو څخه هر یوته د بیع د فسخ کولو حق حاصل دی. خو هریو چی فسخ کول باید دخپل ملګري په موجودګی کی دی فسخ کړي او یادفسخ کولو خبر ورته ورکړي.

په درمختار کی دي:

(ویجب علی کل واحد منهما فسخه قبل القبض) ویکون امتناعاً عنه ابن ملك (اوبعده مادام) المبیع بحاله جوهرة (فی ید المشتری) اعداماً للفساد لانه معصية فیجب رفعها بحر (و) لذا(لا یشترط فیه تضاده قاض) لان الواجب شرعا لایحتاج للقضاء . درر. (درمختار مع رد المحتار ٤/ ۱۷۳ . باب البیع الفاسد).

په غایة الاوطار کی دي ویجب علی کل واحد منهما فسخه...په بائع او مشتری دواړو باندی دفساد بیع فسخ کول ضروري دي. پر مبیع باندی له قبضی کولو نه وړاندی وړاندی. اودافسخ کول به له مبیع نه لاس په سرکیدل وي یعنی خرخ شوی څیزبه پخپل تصرف کی نه راولي کذا ذکر ابن ملك او بعده مادام المبیع بحاله حوهره یابعد قبض.

(یعنی په مبیع باندی دمشتري له قبضه کولو نه وروسته) فسخ واجب دی ترڅو پوری چې مبیع پخپل اصلی حالت کی دمشتري په لاس کی وي، دفسخ کولو دا وجوب دفساد دختمېدلو لپاره دی ځکه چې فاسد بیع ګناه ده اوډګناه لری کول واجب دي. کذا فی البحر، اوکه په مبیع کی څه تصرف د بیع او اعتاق په څیروي نوفسخ به ممتنع وي. ځکه چې په دی باره کی معلومات ډیر ژر را روان دي. څرنګه چې دفساد لری کول په هریو عاقد باندی واجب دي لهذا دفسخ کولو په حکم کی قاضی شرط نه دی ځکه چې کوم څیز شرعاً واجب دی هغه حکم قاضی ته ضرورت نه لري کذافی الدر (غایه الاوطار ترجمه درمختار۳/ ۹۸).

دکنز شرح عینی کی دي: (ولکل واحد منهما) ای من المتبایعین فی البیع الفاسد فسخه ای فسخ البیع قبل القبض بعلم صاحبه لان البیع الفاسد لایفید الملك قبل القبض فکان بمنزلة البیع الذی فیه الخیار فکان کل منهما بسبیل من فسخ من غیر رضا الاخر لکنه یتوقف علی علمه لان فیه الزام الفسخ له فلا یلزمه بدون علمه، واما بعد القبض فان کان الفساد فی صلب العقد بان کان راجعا الی احد البدلین کالبیع بالخمر او الخنزیر فکذلك ینفرد احدهما بالفسخ لقوة الفساد. ان کان بشرط زائد بان باع الی اجل مجهول اوغیره ممافیه منفعة لا حدهما یکون لمن له منفعة الشرط الفسخ دون الاخر عند محمد رحمه الله وعندهما لکل منهما فسخه فیفسخه بعلم صاحبه فی الکل وعند ابی یوسف رحمه الله لایشترط علمه قال الشارح رحمه الله معنی قوله ولکل منهما ((علی کل منهما)) لان رفع الفاسد واجب علیهما الخ(عینی شرح کنز ۲/ ۲۶ (فصل) فی بیان احکام بیع الفاسد).

دفسخ مطلب ښکاره دی چې مشتري کوم څیز آخستی دی هغه څیز بیرته خرڅوونکی ته واپس کړي او څومره قیمت یې چې دهغه ورکړی وي هغه دی له خرڅوونکي نه بیرته واخلي. څومره قیمت یې چې ورکړی وي دهغو تولو حقدار دی لږ اوزیات اخستل جائز نه دي.

وبعدالفسخ (لایأخذه) بائعه (حتی یرد ثمنه) المنقود (درمختار

په شامی کی دي: (قوله حتی یرد ثمنه) ای ماقبضه البائع من ثمن اوقیمة کمافی الفتح (قوله المنقود) لان المبیع مقابل به فیصیر محبوسا به کالرهن فتح (شامی ۱۷۷/٤). که چیرته مشتري یا خریدار مبیع په بل چا خرخ کړي اویاهبه کړي اویا وقف کړي نوپه دغو صورتونو کی فسخ کول معذور ګرځي او فاسد بیع نافذیږي په درمختار کی دي:

(فان باعه ای باع المشتری فاسداً (بیعا صحیحاً باتاً) ...(لغیربائعه)... او وهبه وسلم او اعتقه)....(بعد قبضه).... (او وقفه) وقفاصحیحاً.... (او رهنه، او اوصی) اوتصدق (به نفذ) البیع الفاسد فی جمیع مامروا متنع الفسخ لتعلق حق العبدبه (درمختار مع رد المختار ص ۱۷٤ . ص ۱۷۵ ج ٤ باب بیع الفاسد مطلب یملك المامور مایملکه . الامر) فقط والله اعلم بالصواب.

باب القرض

باب القــرض

په کومو حالاتو کی دسود په صورت کی دقرض آخستلو جوازشته؟

۲۷۰: سوال: د بمبی په ښار کی په کرایه کورونه ډیر په مشکله پیداکیږي. په جونګړو کی نه خو ښه ژوند ترسره کیږي اونه هم د تعلیم کوم معقول انتظام موجود دی. بل داچی دغه دحکومت له خوا د جونګړو د ورانولو ویره او خطره هم هر وخت موجودوي. همدغه راز د مخلوط آبادی په وجه دمسلمانانو ماشومان له غیر اسلامی اثراتو نه محفوظ نشي پاتی کیدلی. نوحکه مسلمانانو لپاره ښه صورت دادی چی هغوی چیرته دله سره تولګه واوسي نوحکه دګجرات ۸۳۰ مسلماني کورنی غواړي په بمبی کي یو کالوني (ښاړګی) جوړه کړي. دښار قوانینو دسختي اوپه دفترونو کی درشوت له کبله دکلي جوړولو په وړاندی ډیر زیات مشکلات دي. له ټولو نه وړاندی په ۱۹۷۹ ع کال کی په ۵۵ لکه روپی زمکه واخستل شوه بیادهغه د اجازه د ترلاسه کولو لپاره تر مرکزه پوری منډه او تړه ووهل شوه اوپدی باندی موبه لکونو روپی ولګولې. او په کال ۱۹۸۳ ع کی موږ ته احازت نامه راکړی شوه.

اوس به د کورونو د جوړولو کار شروع کوو څکه چی له اجازت نامی نه وروسته په یوکال کی دننه دننه د کور جوړول، اوپه بنځو کلونو کی سرته رسول ضروري دي بل خوا دبلدیاتو له خوا دپلان د منظورولو لپاره ډیر وخت ولګید. اوس موږ ته صرف دری نیم کاله وخت پاتی دی. په موږ کی څه خلک خو هغه دي چی هغوی ددی توان لري چی کورونه پخی جوړ کړي او څه خلک داسی دي چی غریبانان دي د کور جوړولو لپاره پیسي نه لري ایا هغوی کولی شي چی له بانک نه په سود قرض پیسی واخلي اوخپل کورونه ورباندی جوړ کړي بینوا توجروا.

ځواب: حامدا مصلیا و مسلما. سودی معامله او سودي راکړه ورکړه په قطعی نص سره حرام ده. په قرآن او حادیثو کی ددی سخت وعید بیان شوی دی.

الهی ارشاد دی

أحلّ اللّٰه البیع وحرّم الرّبا ○. (البقره : ۲۷۵). الله تعالی بیعه حلال کړی اوسود حرام.

یمحقُ اللّٰهُ الرّبا ویُربي الصّدقات ○. (البقره : ۲۷٦). الله تعالی سود له منځه وړي او صدقات زیاتوي.

نو کوم څیز شی الله محوه کوي دهغه خپلول آیاله الله نه بغاوت او سرغړونه نه ده؟
الله تعالی خبرداری ورکړیدی چی
فان لم تفعلوا فأذنوا بحرب من الله ورسوله○. (البقره : ۲۷۹).
که چیری له سودي کاروبار نه لاس په سرنه شئ نو دالله جل جلاله اودهغه درسول له لوری دجنګ اعلان واورئ
دکوم څیز لپاره چی الله تعالی اودهغه رسول دجنګ اعلان وکري مګرهغه لاس په سرنشي نو ایا دهغه خاتمه صحیح کیدای شي
په احادیثو کی هم دسودي راکړی ورکړی په باره کی سخت وعیدونه راغلي دي په یو حدیث کی دي:
عـن جـابر رضی‌الله عنه لعن رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اکل الربـاء وموکلـه وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء. (مسلم شریف ج ۲ ص ۲۷). (مشـکوة ص ٢٤٤ باب الربوا).
حضرت جابر رضی‌الله عنه فرمایی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم سود آخـستونکی او سود ورکوونکی او دهغه پر ګواهانو باندی لعنت کری دی او فرمـایلی یی دي چـی داټول په ګناه کی برابر او ملعون دي.
دویم حدیث کی دي:
عن ابـی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اجتنبوا السـبع الـموبقات قالوا یارسول الله وماهن قال الشرك بالله والسحر وقتل النفس التی حـرم الله الا بالحق واکل الربوا واکل مال الیتیم والتولـی یوم الزحف وقذف الـمحصنت الـمومنات الغافلات متفق علیه.
حضرت ابـی هریره رضی‌الله عنه وایی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسـلم وفرمایـل لـه اووه هلاکوونکو څیزونو څخه ځان وساتئ، هغـوی وویـل یارسـول الله صـلی‌الله علیـه وسلم! هغه کوم څیزونه دي؟ محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : شرک کول، جادوکول، څوک په ناحقه وژل، سود خوړل، دیتیم مال په ناحقه سره خوړل، له جهادنه تبنته کـول په پاک لمنو ښخو باندی د زنا تهمت لګول.(مشکواه ص۱۷ باب الکبائر).
همداراز یوبل حدیث دی:

عن ابی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم الربوا سبعون جزء ایسرها ان ینکح الرجل امه (مشکوة شریف ص ۲٤٦ باب المنهی عنها منها البیوع).

حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه فرمایی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل کوم خلک چی دسود کاروبار کوي هغوی ته اویاقسمه گناهونه رسیږي. له هغو نه دکمی درجې گناه داده چی انسان له خپلی مور سره زناوکړي.

په بل حدیث کی دي:

قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم درهم ربوا یأکله الرجل وهو یعلم اشد من ستة وثلثین زنیة (مشکوة شریف ص ۲٤٦ باب الربوا).

داحدیث حضرت حنظله رضی‌الله عنه غسیل الملائکه روایت کړی دی.

محمد صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دي دسود یو درهم خوړل یعنی په استعمال کی راوړل په داسی حال کی چی پوه وي چی داد سود دی نودا دالله په نزد له شپږ دیرش کرته زناڅخه بدتردی.

همدغه راز رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په یوبل حدیث کی فرمایلی دي:

څلور کسان داسی دي چی دهغوی په باره کی الله تعالی پخپل ځان لازم کړی دي چی هغوی به په جنت کی نه داخلوي اود جنت نعمتونه به ورته نه ورکوي، هغه څلور تنه دادي : دشرابوعادي، سود خوړونکی، په ناحقه د یتیم مال خوړونکی اودخپل مور اوپلار نافرماني کوونکې. دا روایت په مستدرک حاکم کی دی.

(بحواله معارف القرآن حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب ٦٨٠، ٦٩١ سوره بقره).

همدغه راز په یوبل حدیث کی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دي:

کله چی په کوم قوم کی دسود لین دین (راکړه ورکړه) رواج پیداشي نو الله تعالی پر هغوی د ژوند انه دضروري څیزونو گراني اوقیمتي مسلط کوي. اوکله چی په کوم قوم کی رشوت زیات شي نوپرهغوی ددبنمنانو غلبه او رعب غالبیږي. دا روایت په مسند احمد کی دی. (بحواله معارف القرآن ج ۱ ص ٦٨١).

په یوبل حدیث شریف کی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي :

په کوم قریه کی چې زنا اوسودي راکړه ورکړه زیاته شي نو هغوی دالله عذاب ته بلنه ورکړی دی .(دا روایت په مستدرک حاکم کی دی) (بحواله معارف القرآن ج ۱ ص۶۸۱).

له پورتنی الهی لارښوونو او نبوي احادیثو څخه ښکاره ثابتیږي چې سود خوړل قطعاً حرام دي. د دی مرتکب سخت ګنهګار، فاسق، باغی اوسرکش دی اوددی خاتمه به خرابه وي.

ددغو نصوصو په نظر کی نیولو سره شرعاً دسودی راکړی ورکړی اجازه قطعاً نشته، په دارالحرب کی هم دامام ابویوسف او نورو دریو اماما نو مذهب د سود په عدم جواز باندی دي.

محققینو علماؤ او محطاط حضراتو هم همدغه خبره خوښه کړی ده.[1]

البته په اضطراري او د ډیر زیات مجبوری په حالت کی چې د مړکیدو ویره وي اودقرض دپیداکیدو امکان هم نه وي نو دضرورت په اندازه دسودي قرض آخستلو اجازه ده اوله ضرورت نه زیات آخستل جائز نه دي. په الاشباه والنظائر کی دي.

وفی القنیة والبغیة یجوز للمحتاج الاستقراض بالربح (الاشباه والنظائر ص ۱۱۵)(البحر الرائق ج ۶ ص ۱۲۶ باب الربوا).

دلته دی داخبره په بشپړتوګه په نظر کی وساتل شي چې په سود سره دقرض آخستلو اجازه دزیاتی مجبوری اوشدید احتیاج په صورت کی ده. خپل زیب او زینت اوخپل خواهش پوره کولو ته دضرورت او احتیاج عنوان ورکول سخت دوکه اوبی خایه تاویل دی. دلته ضروري بریښي چې دضرورت او حاجت شرعي تعریف ولیکل شي :

په جواهر الفقه کی دي:

دلته پنځه درجې دي : اول ضرورت، دویم حاجت، دریم منفعت څلورم زینت پنځم فضول.

---

[1]- دلته اختلاف چې په دارالحرب کی دسود له پیسو نه دګټې اوچتولو په مسئله کی دی، مګرهلته هم حربي ته سود ورکول بالاتفاق مباح نه دي. کفایت المفتی ج ۸ ص ۱۰۳ (فتاوی دارالعلوم قدیم ج ۷ ص ۳۶) سعید احمد پالنپوری.

(۱) ضرورت :

ددی تعریف دادې چې که چیرته ممنوع څیز استعمال نه کړي نـو داسـې یامړکیږي اویامرګ ته نژدې کیږي. همدغه اضطراري صورت دی. په همدی حالت کی دحـرام او ممنوع څیز استعمال په څو شرطونو سره جائز ګرځي.

(۲) حاجت :

ددې تعریف دا دی چی که چیرته ممنوع څیز اسـتعمال نـه کـړي نـو مړکیږي نـه خـو تکلیف او مشکلات وربانـدی ډیر راځي . دا اضطراري صورت نه دی. نوځکه هغه تـه پـه روژو. لمونځ. طهارت او دیرو احکامو کی رعایت او سهولت څو ورکول شوی دی مګرپـه داسی حالت کی حرام څیزونه دقرانی آیت له مخی حلال نه دي .

(۳) منفعت :

منفعت دادی چی دکوم څیز داستعمال په وجـه دهغـه بـدن تـه فائـده رسـیږي څوکـه استعمال یی نه کړي نوکوم سخت تکلیف ورته هم نه رسیږي، لکـه غـوره خوراکونـه او مقوي غذاګانی ، دغه حالت لپاره نه کوم حرام څیزونه ورته حلالیږي نـه د روژو مـاتول ورته جائزدي. که چیرته داڅیزونه دمباح او جائزو لارونه ترلاسـه شـي نـو اسـتعمال دې کړي اوکه ترلاسه نشي نو صبر دی ورباندی وکړي.

(۴) زینت :

په دی سره بدن ته کوم خاص قوت هم نه رسیږي بلکی هسی یو تفریحی خـواهش دی ښکاره خبره ده چی دغه کار لپاره دکوم ناجائز څیز دجائز کیدو هیڅ قسم سوال نه شي پیداکیدی.

(۵) فضول :

فضول هغه دی چی زینت دمباح له دائرې نه ووځي نو ددی حکم هم ښکاره دی چی دی لپاره په احکامو کی درعایت پرځای ددی مخالفت په صحیحو احـادیثو کـی بیـان شوی دی. (جواهر الفقه ص ۲۷، ۲۸ جلد دوم).

په لغات القرآن کی دي : المضطر اسم فاعل واحد مذکر دی، ددی معنـی ده بـی قـرار، بی کس او بی وسه(ج ۵ ص ۴۰۲ مؤلف مولانا محمد عبدالرشید نعماني).

له پورتني بیان څخه معلوم شـو چـی حـرام څیز دضـرورت او اضـطراري حالـت کـی دضرورت په اندازه استعمالیږي.لهذا سـود چـی پـه قطعـی نـص سـره حـرام دی‌صرف

دضرورت او مجبورۍ حالت کې دضرورت په اندازه استعمالولی شي. داهم شخصي او انفرادي حالت کې څکه چې په انفرادي صورت کې دضرورت مستحق کیدل اسان دي. کوم سړی چې په اضطراري حالت کې اخته وي هغه دی خپل شخصي حالت دکوم مفتي ماهر عالم په وړاندې پیش کړي اود اجازې ورکولو په صورت کې دی دضرورت په اندازه استعمال کړي. لیکن په اجتماعي صورت کې داضطرار او احتیاج تحقق مشکل دی.

کوم جماعت او ډلې چې د دومره لوی کار لپاره ملاتړلی ده ایاهغوی تول مسکینان اودزکات مستحق دي؟ ایاپله دی جماعت او ډله کې سرمایه ورکوونکي. زکات ورکوونکي او دقیمتي څارویو قرباني کوونکي خلک نشته؟ ضرور به وي. که چیرته هغوی خپل حانونه مضطر . ضرورت مند او محتاج کیي نو ایا که هغوی ته سرمایه ورکړی شي نو هغوی بې قبلوي؟ ښکاره خبره ده چې هغوی ددی اخستلو لپاره نه تیاریږي. کله چې حالت داسې دی نوهغوی لپاره سودي قرض آخستل څنګه جائز کیدای شي؟

دادی هم په نظر کې ونیول شي چې یو انفرادي عمل دی اوبل اجتماعي عمل، انفرادي عمل دومره مشهور نه وي څومره چې اجتماعي عمل شهرت ترلاسه کوي اوهغه متعدي ګرځي.

د انفرادي عمل پټول اسان دي او د اجتماعي عمل پټول ګران دی . نو کله چې دومره ډیر خلک په سودي قرض کې اخته شي، نودخلکو په زړونو کې دسود حرمت او نفرت باقي نه پاتې کیږي خصوصا ستاسې ډله او برادري چې په تعلیم ، تبلیغ، دینداری، اتحاد او اتفاق له یوبل سره همدردي او خیرخواهي کې‌ددی حدیث مصداق ګڼل کیږئ: ((المؤمن للمؤمن کالبنیان المشید یشد بعضه بعضاً)). (یو مؤمن دبل مؤمن لپاره دعمارت پشان دی ددی یوه حصه بلې حصې ته قوت ورکوي). که داسې یوجماعت ټول په اجتماعي توګه په دغه سودي معامله کې ملوث شي نو څومره دافسوس خبره به وي.

له سودي معاملې نه په محفوظ کیدلو کې د مسلمانانو ترقي ده، که څه هم په ظاهره تنزل په نظر راځي. کوم قوم چې بې هوده او ناسعقول وي، په تاویلونو سره حلال حرام او ناجائزد جائز په بڼه کې د پیش کولو کوشش کوي هغوی په هیڅ صورت کې ترقي نشي کولې. د مسلمانانو عزت او ترقي په دې کې نه دی چې په اوچتو اوچتو

کورونو او ښه ښکلو کی ووسیږي بلکی په تقوی او پرهیزګاری کی دی. دویم خلیفه حضرت عمر رضی‌الله عنه چی کله بیت المقدس ته په پیوندي لباس کی داخل شو نو عمالو دهغه په دی لباس باندی شرم محسوس کړ او یو قیمتي لباس یی هغه ته راوړ نو هغه رضی الله عنه وویل الله تعالی چی مونږ ته کوم عزت راکړی دی هغه د اسلام په وجه دی اوهمدا زمونږ لپاره کافی دی،لهذا زمونږ عزت او ترقي په اسلامي احکامو باندی په عمل کولو کی موقوف ده.

له اسلامي احکامو څخه یوداهم دی چی مونږ له سود نه اوپه څه کی چی دسود شک وي له هغه نه هم ځپل ځانونه وساتو. عمر فاروق رضی‌الله عنه فرمايي

دعوا الربوا والریبه. سود اوهغه څیز چی په هغه کی دسود شک وي هغه پریږدئ. (مشکواه ص ۲۴۶ باب الربوا) همدغه راز فرمایلی دي :

ترکنا تسعة اعشار الحلال خشية الربوا. یعنی د حلال له لسو حصوڅخه یوازی یو آخلو په هغو کی چی دسود یو زره هم شک وي هغه هم پریږدو.

دنیافاني ده ځکه چی هرڅه کول غواړو هغه بایدپه جائزې او حلالې طریقې سره وکړو، دځپل اخرت دښه کولو فکر وکړو. ددنیا فکر کول اوله آخرت نه غافل پاتې کیدل د مسلمانانو شیوه او طریقه نشي کیدلې.

له دغه معروضاتو نه وروسته عرض دادی چی په سوال کی دسودي قرض د آخستو لپاره کوم ضرورتونه او مجبوریتونه بیان شوي دي هغه شدید اضطرار او حاجت نه دی، په جائز او صحیح طریقې سره دهغه حل ویستل کیدای شي اوکه په هغه کی څه نقصان وي نودشریعت په نظر کی باید هغه وزغمو.

انشا الله په همدی کی زمونږ ګټه ده،لهذا تاسی چی دکوم څیز اجازه غواړئ زه پخپل ځان کی دهغه داجازی ورکولو جرئت نشم لیدلې، بیشکه چی ستاسي داخیال چی مونږ ټول یوځای واوسو ډیر مبارک او ښه خیال دی. خو ددې په وجه ټول قوم دسود په لعنت کی اخته کول بالکل مناسب نه دي،لهذا داکار دی دشریعت په دائره کی دننه وکړی شي. انشاء الله له تاسو سره به غیبي مرسته وشي. الله دی مونږ ټولو ته پر شریعت دعمل کولو توفیق راکړي او زمونږ په زړونو کې دی دشریعت عظمت پیداکړي، الله تعالی دی ستاسی مشکل حل کړي، له حرام نه مو وساتي اوپه حلالې طریقه باندی د

عمل کولو توفیق راته راکړي. آمین ثم امین بحرمة النـــبی الامی صلی‌الله علیه وســـلم واله وصحبه وسلم تسلیما کثیرا کثیرا فقط والله اعلم بالصواب.

احقر الانام سید عبـدالرحیم لاجپـوري ثـم رانـدیري غفرلـه، رانـدیر مورخـه. ۱۰ محـرم الـحرام ۱۴۰٦ هـ یوم عاشوراء.

الجواب صحیح والمجیب مصیب، ناچیز اسماعیل وادی والا غفرله خـادم افتـاء جامعـه حسینه راندیر یولسم محرم الحرام کال ۱۴۰٦ هـ.

قد اصاب من اجاب العبد اسمعیل کهچولوي غفرله خـادم دارالافتـاء جامعـه ډاب خیـل سملک.

الجواب صحیح محمد ابوالحسن علـــی غفرلـه درالعلـوم مـاتلی والا بهـروچ ۱۲ مـــحرم الحرام سنه ۱۴۰٦ هـ مطابق ۲۸ ستمبر ۱۹۸۵ ع.

اصاب الـــمجیب ولله دره عبدالـــغنی کادی کان بالله له خادم اشرفیه راندیر باسمـــه تعالـــی- قد اصاب من اجاب احقر عبدالله ولي کاوي عفی عنة دارالافتاء کنتهاریـــه ضلع بهروچ ۱۲. ٦. ۱٤ هـــ. باسمه الـــکریم.

دسود په حرمت باندی چی خومره ډیر دلائل موجود دي، دهغه په مقابل کـی پـه خـو جزوي حالاتو کی فقهای کرامو چی دسود کوم رخصت ورکړی وی له هغه نـه استفاده نه کول زمونږ دایمان تقاضاده. العبد محمـد ابـراهیم پټنـی عفـی عنـه دارلعلـوم مـاتلی والاشهر بهروچ ۱۲ محرم الـحرام ۱۴۰٦ هـ.

مرکز العلوم د دارالعلوم دیوبند ځواب

الـجواب وبالله التوفیق.

سود اخستل هم حرام دي او ورکول یې هم، بلکې دسود ورکول زیـات ګنـاه لـري، پـه دارلحرب کی مسلمانانو ته له سود نه ګټه اوچتول مباح دي، مګرهلته هم کفاروتـه سـود ورکول مباح نه دي. (کفایـت الـمفتی جلـد۸ ص ۱۰۳ فتـاوی دارلعلـوم قـدیم جلـد۷ ص۳۷).

البته دسختی مجبوری او اضطراري حالت کی چی نوبت دنفس هلاکت یـاعزت او بـرو ته ورسیږي نو د ضرورت په اندازه په سود باندی قرض آخستل جائزدي داهله چـی بلـه کومه لاره او چاره نه وي ممکن، مثلاً قرض حسنه درته څوک درنکړي زکات او صـدقات هم څوک نه درکوي. په الاشباه والنظائر کی دي:

بیحوز للمحتاج الاستقراض بالربح

حضرت مفتی کفایت الله رحمه الله د احتیاج تفسیر په اضطرار سره کړی دی (کفایت المفتی ج ۸ ص ۱۰۵، ۱۰۶)

اوپه نظام الفتاوی کی د احتیاج تعبیر شدیدی مجبوري او ضرورت سره کړیدی (نظام الفتاوی ج ۱ ص ۴۷۲)

لدی تمهید نه وروسته پدی خبره پوهېدل پکار دي چې د مسلمانانو لپاره لـه کفارو نـه علاوه دکلي جوړول ښه کاردی لیکن په سوال کی چې له حکومت نه دسودي قرض آخستلو کوم مجبوریتونه بیان شوي دي هغه داسی نه دي چې پـه دی سـره دمعاشرې ټولو افرادو لپاره داضطراري او شدید مجبوری حالت پیداشي. کوم جماعت اوډله چـی په ۵۵ لکه روپو باندی زمکه اخستلی شي هغوی لپاره دکورونو آبادول دومره ګـران کـار نه دی. خوکه ځوک ترینـه پـه انفرادي ډول واقعـي مجبـور وي لـیکن چـون دامسئله اجتماعی ده نو دجماعت او ډلې کسانو ته پکاردي چې له داسی خلکـو سـره تعـاون او مرستې جایزه طریقه وباسي ترڅو دسود له لعنت نه پاک شي.

الله تعالـی دی مونږ ټولو ته ښه پوهه راکړي اوپه اسلامي احکاماتو باندی دعمل کولـو بشپړ توفیق راکړي. آمین.

الجواب صحیح حبیب الرحمن خیر آبادي عفا الله عنهٔ مفتـی دارالعلوم دیوبنـد۳ محـرم سن ۱۳۰۶ کتبه العبد نظام الدین مفتی دارالعلوم دیوبند ۳/ ۱/۱۴۰۶ هـ.

الجواب صحیح کفیل الرحمن نشاط نائب مفتـی دارلعلوم دیوبند۳/ ۱۴۱۶ هـ.

ټول خوابونه صحیح دي. په قرآنکریم کی د سود آخستلو او ورکولو حرمت په صـراحت سره موجو دی، ځوک چې دالله له حکم نه مخالفت کوي له هغوی سره دالله لـه طـرف نه دجنګ کولو اعلان شوی دی. په صحیح احادیثو کی سود آخسـتونکی او ورکـوونکي باندی لعنت ویل شویدی بلکی په ګواهانو او لیکونکو باندی هم لعنت ویل شویدی.

لعن الله اکل الربوا وموکله وشاهدیه وکاتبه. (ترمذی).

په حدیث شریف کی داهم دي چې په سود کی ډیر قسمه ګناهونه دي، له هغونه ادنـی قسمه ګناد داسـی ده لکه چې څوک له خپل مور سره زنا وکـړي. (مشکواه شـریف بـاب الربوا).

نوځکه اصحابوکرامو، تابعینو او ائمه و، رحمهم الله عنهم پـه دې سلسـله کـې همیشـه د احتیاط لاره غوره کړیده. دحضرت فاروق اعظم رضی‌الله عنه ارشاد دی:
فدعوا الربوا والریبه. یعنی سود هم پریږدئ اود هغه شبه هم.
البته د مجبورۍ په حالت کې دځان بچ کولو لپاره د مـردار خوړلـو ګنجـائش او جـواز موجود دی اودسودي قرض آخستو اجازه هم شته، لیکن دا اجازه په هغـه صـورت کـې ده چې جائز صورت بالکل ممکن نه وي او معامله د انسان مړکیدو اود عـزت او آبـرو تـر خرابیدو راورسیږي. ظاهره ده چې مسئوله صورت کې دامجبوري نشـته فتـاوی رحیمیـه جلد دوم ص ۱۹۳ کې لاندیني سوال او ځواب دی:
(سو ال) لـه زید سره دخپل ملکیت زمکه ده پرهغه یو کور جوړول غواړي لـیکن د کـور جوړولو لپاره له هغه سره پیسې نشته نو آیا زیـد پـه داسـې حالـت کـې لـه حکومـت نـه سودي قرض آخستلی شي ترڅو کور ورباندی جوړ کړي؟
(ځواب) دسودي قرض په پیسو سره دکور جوړول ناروا دی والله اعلـم بالصـواب.حـرره العبد سعید احمد عفا الله عنه پالنپوري خادم دارلعلـوم دیوبنـد ۳ محـرم الـحرام ۱۴۰۶ هـ.
ځوابونه صحیح دي عبدالرحمن غفرله، مفتی مدرسه امنیه دهلي ۴ محرم ۱۴۰۶ هـ.
دحضـرت نظام الدین صاحب ځواب او مفتی سعید احمد سلمه تصویب بالکـل صـحیح دی. زمونږ له دار الافتاء نه هم دداسې سوالونو ځوابونه همداسې لیکـل کیـږي. العبـد یحی اغفرله مفتی مظاهر علوم سهارنپور.

دسب سیډي لرونکې دقرض اخستلو حکم:

(۲۷۱ سـوال) نن سـبا دحکومـت لـه لـورې د خلکـو دخیرښیګنـې لپـاره زیـات پلانونـه وړاندی کیږي له هغونه یوپلان دماهیانو فارمونه جوړول دي، حکومت دماهیـانو دفـارم جوړولو لپاره قرض پیسې ورکوي اوپدې پیسو کې کافي پیسې درتـه پریـږدي چـې ورتـه سب سیډي ویل کیږي مثلاً حکومت داقانون جوړ کړی دی چې له چاسره دونیم ایکـړه زمکه وي او هغه په دغه زمکه کې دماهیانو فارم جوړول غواړي نو حکومت هغه ته شـل زره روپۍ دقرض په توګه ورکوي لومړی عریضه دماهي پرورۍ په دفتر کې جمع کیـږي، دفتر چې هغه منظور کړي نو بیا بانک ته یې لیږي بانک هغه ته شل زره روپۍ ورکـوي، په دې کې د ۲۵% فیصد روپو رعایت ورکوي، اوپه دې کې پاتې پیسـې یعنـې پـنځلس زره روپۍ د لس فیصده سود سره واپس ورکول کیږي.

اوس سوال دادی چې دحکومت له دغه پلان نه مسلمان فائده اوچتولی شي اوکـه نـه؟ بینوا توجروا.

(جواب) ترکوم حده پورې چې ماته معلومه شوی ده پـه دا ډول پـلان سـره دحکومـت مقصد وزګارو خلکوته روزګار او کاروبار برابرول دي نوځکه حکومت په قـرض کـې څـه روپۍ هم ورته ورکوي ، په دا ډول پـلان سـره دحکومـت مقصـد سـود خـوري نـه ده، نوځکه که چیرته کوم سړی په حکمت سره د داډول سکیم اوپلان لاندی قرض واخلـي اودحکومت له طرف نه ورته په قرض کی څه رعایت ورکړي اوپاتی پیسی حکومـت لـه سود سره تریه واخلي که چیرته هغه سود په رعایـت کـی دترلاسـه شـویو پیسـو بانـدی اداکیدی شي اوله خپل طرف نه زیاتی پیسی نـه ورکـوي نوبـه دی تاویـل سـره چـی حکومت دتعاون په توګه کومی پیسې ورکړي وې هغه له همغو تعاوني پیسـو څخـه څـه پیسې واپس کړي نوبه دی صورت کی ماته د مذکوره پلان لاندی له حکومت نه دقرض آخستو ګنجائش معلومیږي، اوکه لـه رعـایتي پیسـونه زیـاتی پیسـی وربانـدی راځـي نـو بیاداکار په سودی معامله کی حسابیږي اوداناجائز دی.

په موجوده صورت کی دی داخبره هم په نظر کې ونیول شـي چـی پـه عمـومي توګـه دتالاب د ماهیانو بیع له شرعي اصولو نه خلاف وي اودبیع فاسد صورت ترینـه جوړیـږي (مثلاً په عمومي توګه له قبض نه وړاندی دماهیانو تخم ورکول کیږي، نه دی مبیع تعـین کیږي اونه هم بیع مقدور التسلیم کیـږي وغیرذلـک).لهـذا کـوم شـخص چـی داکاروبـار شروع کول وغواړي نـو هغـه تـه دی دبیـع مسـائل ونـسودلی شـي او پرهغـوی بانـدی داتحقیق وکړی شي چی هغوی دشرعي اصولو مطـابق کـارکولی شـي او کـه نـه ؟ کـه چیرته په دی باندی دعمل کولو یقین دهاني وکړي نو دداسی شخص لپاره پـه داقسـم قرض آخستلو سره دکاروبار کولو ګنجائش کیدی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

نوټ:

داجواب لیکل شوی و چی اتفاقاً ماهنامه الرشاد جنوري ۱۹۹۰ ع شماره ترلاسه شوه پـه هغه کی د((فقه اسلامي دسـمینار خـو فیصلې)) ترعنـوان لانـدی دسـود پـه اړه څـو تجویزونه لیکل شوي دي، په هغو کی یو تجویز داهم دی.

(۳) په هندوستان کی څینی سرکاري قرضی داسي دي چی دحکومت له طـرف نـه څـه رعایت ورکول کیږي اودسود په نوم څه زیاتی پیسې هم آخلي، که چیرته دسود په نـوم

آخستل شوی دغه اضافي پیسی‌د رعایت ورکول شویو پیسو په برابر وي یاله هغه نـه کـم وي نودا اضافي پیسې شرعا سود نه دی.
ماهنامه الرشاد جنوري ۱۹۹۰ ع سطابق ۱۴۱۰ جمادی الثانی جلد نمبر۱۸ شماره نمبر۲۱ (مولانا نجیب الله ندوي، جامعه الرشاد اعظم گړه).

له اضطراري حالت نه پرته سودي قرض آخستل جائزنه دي:

(۲۷۲ سوال ، له ماسره خپل ذاتی کارخانه ده پدی کـی درخـت اوبـدلو مشینونه دي. دکارخانې خای هم زماخپل دی اوپه دی کی چی څومره څیزونـه دي تـول زماخپـل ملکیت دی. په دی وخت دکارخانې دچالوکولو لپاره دپیسـو سـخت ضرورت دی اولـه ماسره دومره پیسې نشته چی کارخانه وربانـدی چالو کـړم ماتـه لـه بانـک سـودي قرض ترلاسـه کیدی شي ایا دشریعت په نظر کی زه له بانـک نـه قـرض آخسـتی شـم اوک نـه مفصل او مدلل خواب راکړئ.

(خواب) په سودي معامله اوسودي راکړه ورکړه باندی پـه قـرآن کـریم او احـادیثو کـی سخت وعید راغلی دی اودایه قطعی نص سره حرام دی الـهی ارشـاد دی: أَحَلَّ اللَّــهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ○. (البقره : ۲۷۵).الله بیع حلال کړی ده او سودیی حرام کړی دی.
همدغه راز آیت شریف دی: يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ ○. (الـبقره : ۲۷٦).
الله تعالـی سود محوه کوي اوصدقات زیاتوي.
همدغه شان الله تعالـی فرمایي :
فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ○.(البقره : ۲۷۹).
که چیرته له سودي معاملې نه لاس وانخلئ نو دالله اودهغه درسول له طرف نه دجـنګ اعلان واورئ.
په حدیث کی دي: عن جابر رضی‌الله عنه لعن رسول الله صلی‌الله علیه وسـلم اکـل الربوا ومؤکله وکاتبه و شاهدیه وقال هم سواء.
حضـرت جابر رضـی‌الله عنـه فرمـایي چـی رسـول الله صـلی‌الله علیـه وسـلم پـه سـود آخسـتونکي، ورکـوونکي ، لیکـونکي او ګـواهي ورکـوونکی بانـدی لعنـت کـړی‌دی. اوفرمایلی یی دي چی داټول په ګناه کی برابر او ملعون دي.(مسلم شـریف ج۲ ص ۲۷. مشکواة شریف ص ۲۴٦ باب الربوا).

په بل حدیث کی دي
عن ابـــی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم الربوا ســبعون جزء ایسر ها ان ینکح الرجل امه.
له حضرت ابوهریره رضی‌الله عنـه څخـه روایـت دی چـی محمدصلی‌الله علیـه وسلم فرمایلی دي
دسود کارکووںنکو لپاره اویا قسمه ګناهونه دي له هغونه د ادنی درجـی ګناه داده چـی انسان له خپلې مور سره زنا وکړي. (مشکواه شریف ۲۳٦، باب الـمنهی عنها من الـبیوع).
د ضرورت په مطابق چاته روزي پیداشي نو همدومره د انسان ژوند لپاره کافی دی بایـد چی حلال اوله شک نه دپاک روزي دترلاسه کولو کوشش وکړی شي په فتـاوی رحیمیـه کی دي: د انسان سعادت په دی کی دی چی هغه حـلال رزق ولتـوي. پـه حـلال رزق سره زړه روښانه کیږي، دصالحواعمالو قوت پکی پیداکیږي، له عبادت سـره زړه لګیـږي، اوکه سړی چی حرام او مشتبه رزق وخوري نوپه زړه کی تیاره پیداکیږي، عبادت تـه یی زړه نه کیږي د نیکو کارونو د کولو قوت په بدن کی نه پاتی کیږي. بل داچی په حـلال رزق کی برکت وي (فتاوی رحیمیه ص ۱۴۰ جلد٦).

د مجبوریت په حالت کی له بانک نه څومره سودی قرض اخستلی شي؟

(۲۷۳ _ سوال) یوسړی په مکتب کی استاد دی او هلتـه د امامـت دنـده هـم اداکـوي واده یی نه دی کړی. مالي حالت یی دومره ښه نه دی چی واده ورباندی وکـړی شـي له سود نه پرته دقرض د ترلاسه کیدو امکان هم نشته، په داسی حالت کی لـه بانـک نـه سودی قرض اخستلی شي اوکه نه؟ دکال په حساب په زرو کی پنځلس روپـی سـود دی، ایا دواده او نور ذاتي کاروبار لپاره داسی سودي قـرض اخسـتلی شـي اوکـه نـه؟ بینـوا توجروا
(خواب) داچی اضطراري اوشدید مجبوریت په خاطر دسودي قـرض آخسـتلو ګنجـائش موجود دی نو د واده لپاره چی دڅومره روپو ضرورت وي همغومره سـودی قـرض دی

واخلي. فضول خرچـی او دو لیمي دودی لپاره هم دسودي قرض اخستلو اجازه نشته[1] فقط.

دسودي قرض په اړه دشریعت څه حکم دی :

(۲۷۴ سوال) زمونږ په علاقه کی مسلمان تیلیان (جوازیان) اوسیږي دهغوی مالی حالت ډیر خراب دی حکومت دهغوی د کسب او کاروبار د جاري ساتلو په خاطر دهغوی دتیل ویستلو کاروبار له حکومت سره رجستر کوي. دی لپاره چی داکار له زوال نه بچ شي حکومت دتیل دغو کارکوونکو ته دځلور نیم فیصده سود په حساب سره ددریو کلونو په قسطونو سودي قرض ورکوي ایا دداسی قسم سودی قرض آخستلو اجازه په شریعت کی شته؟

(ځواب) دداسی سودي قرض آخستل ناروا دي، دررزق ګټلو لپاره جائزی لارې او ذرائع ډیرې دي، نو ځکه سودي قرض اخستل چی په قرآن او حدیث سره دهغه حرمت ثابت دی بالکل ناروادی.

په حدیث شریف کی دي:

عـــن عبدالله بن حنظلة غسیل الـــملائکة قال قال رسول الله صلی‌الله علیـــه وســـلم درهم ربوا یا کله الرجل هویعلم اشد من ستة وثلثین زینة. (رواه احمد).

دسود یوه درهم خوړل له اویا ګناهونو څخه زیاته ګناه لري. (مشکوات شریف ص ۲۴٦ باب الربوا).

په بل حدیث کی دي:

عـــن جابر قال قال لعن رسول الله صلی‌الله علیه وسلم أکل الـــربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (رواه مسلم).

محمدصلی‌الله علیه وسلم سود آخستونکی، ورکوونکې، لیکـونکی او ګـواهي ورکوونکـو باندی لعنت کړی دی. اوفرمایلی یی دي چی داټول په ګناه او لعنـت کـی برابـردي. (مشکواه شریف ص ۱۲۴۴ ایضاً).

---

[1] - دا اضطراري حالت نه دی چی دسودی قرض اخسْتلو اجازه ورکړی شي که نکاح ونکړی شي نو ځان نه تلفیږي بلکی، نکاح سنت دی نو دی لپاره سود اخستل جائز نه دي (مرتب).

په یوحدیث کې دي: عن ابـــی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیـــه وسلم. الربوا سبعون جزء ایسرها ان ینکح الرجل اُمهُ.
دسود خوړلو ۷۳ گناهونه دي له هغو نه د ادنا گناه مثال داسی لکه چې خـوک دخپـل مور سره نکاح وکړي. (مشکواه ص ۲۴٦ باب الربوا).
دچاپه نظر کې چې د محمدصلی‌الله علیه وسلم دغه ارشادات او لاربـښوونې موجـودوي هغه کله هم دسود آخستلو او ورکولو همت نشي کولې.
عن عمر بن الخـــطاب ان اخر ما انزلت اية الربوا و ان رسول الله صلی‌الله علیه وسلم قبض ولم یفسر ها لنا فد عوا الربوا والربیة.
د عمر رضی‌الله عنه فرمان دی چې په معاملاتو کې کوم اخـري ایـت نـازل شـوی هغـه دسود په باره کې دی. محمد صلی‌الله علیه وسلم دهغه لـه تفصیل او تشـریح کولـو نـه وړاندی رحلت وکړلهذا ربوا او ریبه یعنی سود او شبهٔ دواړه پرېـږدئ. (مشـکواه صـفحه ۲۴۷ باب الربوا).
اوس هغه وخت رارسیدلی دی چې محمد صلیٰ‌الله علیه وسلم د هغه پیش گـویی کـړی وه چې یو وخت به ضرور داسی راځي چې هیڅوک به دسود نه محفوظ پاتی نـه شـي. مشکواه.

سودی قرض اخستل کله روا دي :

(۲۷۵ _ سوال) کله چې یوسړی کاروبار شروع کـوي نـو لـه سـرکاري دفترنـه هغـه تـه دمرستې په پول څه پیسې چې ورته رعایت ویل کیږي ورکوي خـو ددی دوه صـورتونه دي:
(۱) یوسړی خپل پیسې لگوي او وربانـدی کاروبار شروع کـوي، لدینـه وروسـته سـرکاري دفتر خو حصې هغه ته د مدد په توگه ورکوي او ددی له بانک سره هـیڅ تعلـق نـه وي ایا ددی مرستې آخستل جائز دی اوکه نه ؟.
(۲) کله چې له یوسړي سره دخپل ضرورت په اندازه پیسې نه وي نو هغه دفترته ځي او هغه دفتر د بینک په معرفت د کاروبار لپاره پیسې ورکوي. په دی صـورت کـې بینـک تـه سود ورکول کیږي ایا دا صورت جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا.
خواب : (۱) که چیرته داصحیح وي چې دفتر د امداد په توگه پیسې ورکوي او څه قسم سود وربانـدی نه آخلي نودا سودي معامله نه ده نو ځکه ددغو پیسو آخستل جائزدي.

(۲) له بانک نه سودي پور آخستل صحيح او جائز نـه دي، کـه بـالفرض ډيـر ضـرورت او مجبوري وي نو په څومره پيسو سره ضرورت دفع کيدای شي په همغومره اندازه سودي قرض اخستل جائزدي خولدينه زيات اخستل جائزنه دي.
په الاشباه والنظائر کی دي:
وفـــى القنية والبغية يجوز للـــمحتاج الاستقراض بالربح انتهى. وفـــى الـــحموى قوله يجوز للـــمحتاج الاستقراض بالـــربح وذلك تنجوان يقترض عشرة دنانير مـــثلاً ويجعل لربها شيئاً معلوما فـــى كل يوم ربحاً معلوماً.(الاشباه والنظائر ص ۱۱۵ الفـــن الاول.القاعدة الخامسة الضرر يـــزال). الـــبحر الرائـــق ج ٦ ص ۱۲٦ بـــاب الربوا).فقط والله اعلم بالصواب.

باب الربوا

ایا د کور جوړولو لپاره په سود قرض آخستلی شو اوکه نه ؟

(۲۷٦) سوال : له ډیر سره خپله زمکه ده پرهغه کور جوړول غواړي، لیکن دکور جوړولو لپاره ورسره پیسي نشته نو ایا په داسی وخت کی له حکومت یا بانک نه په سود قرض آخستلی شي اوکه نه؟

(جواب) هغه لپاره جائز نه دي چی سودي قرض واخلي او وربانـدی کـور جـوړ کـړي والله اعلم بالصواب.

له سود نه دبچ کیدو په خاطر حیله کول څنګه دي ؟

(۲۷۷) سوال : یو تاجر له بل تاجر نه دمرستي په توګه پنځه سوه پونډه وغوښتل نو هغه ورته وویل چی دلـو فیصدو په حساب سره به سود راکوی،خو هغه له اخستلو نـه انکـار وکړ او ورته یی وویل نه سود آخلم او نه یی ورکوم. لیکن یو صـورت درتـه ښـایم هغـه داچی ته ماته دپنځه سوه پاونډو رخت (کپړه) دلس فیصدپه ګټې سره راکړه همغـه مـال ته بیرته له مانه له ګټې نه پرته لاس په لاس پخپل اصل قیمـت یعنيپـه پنځـه پونـډه زا واخله اوته ماته دپنځه سوه پنځوسو روپو بل راکړه او زما نـوم ولیکـه، یـو کـال بعـد بـه درته پیسې درکړم. ایاله سودنه دبچ کیدو لپاره داتدبیر جائزدی . بینوا توجروا.

(جواب) په دی حیلی اوصورت سره حرام څیز (سود) نه حلالیږي، پـه مـذکوره صـورت کی له پنځه سوه نه زیـاتی پیسـې سـود کی حسـابیږي، ورکـوونکې او آخسـتونکی دواړه ګنهګار دي[1] فقط والله اعلم بالصواب.

په سودي پیسو باندی ګټه اخستل څنګه دي؟

(۲۷۸) سوال) یو تجار نه د غلی خریداری لپاره له هندو نه پنځه سوه پاونـده واخسـتل اود آخستو په وخت کی ورته وویل چی زه به تاته دپنځه لس فیصده په حساب سره سود

---

[1]-قوله وشراء ماباع بالاقل قبل النقدی ای لم یجز شرء البائع ماباع باقل مما باع قبل نقد الثمن... وانما منعناد جوازز استدلالا بقول عائشه رضی‌الله تعالی عنها لتلك المراة وقد باعت ستمائة بعد ما اشترت بثما ثمانة بئسما شرت واشترت ابلغی زید بن ارقم الله تعالی قد ابطل حجه و جهاده مع رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ان لم یتب بحر الرائق باب البیعالفاسد ج ٦ ص ۸۲.

درکرم لیکن کله چې اصلي پیسې درته واپس درکوم نو دپنځلس فیصد ګټې په حساب سره درته ۷۵ پاونده درکوم. غله اخستونکي دګټې په باره کې شرط لګوي چې خانته څه ګټه ترلاسه کوي په هغه کې هیڅ ګټه نشته ځکه چې کوم سړی پیسې ورکوي هغه ته دامنظوره نه ده. هغه ورته وايي که ته هرڅومره ګټه کوی خو ماته به پنځلس فیصده ضرور راکوی. په دغو پیسو سره صرف غله آخستل کیږي نه بل څه صرف په الفاظو کې تغیر دی ایا داجائز دی؟

(جواب) داطریقه هم ناجائزه ده اوپه سود کې شامله ده، دقرض په پیسو باندی ګټه آخستل سود دی، دتجارت لپاره پیسې ورکول اوپه ګټه کی دواړه شریکیدلو ته مضاربت وبل کیږي چې په څو شرطونو سره جائز دی. یوشرط یکی دادی چې دګټې مقدار (مثلا پنځلس فیصده) نه وي ټاکل شوی، بلکی دګټې کومه حصه (مثلا دریمه، څلورمه یا نیمه) مقرر کړی شي[1]

پاتی شو داصورت چې ګټه وشي یا نه خود پیسو ورکوونکی ته کومی پیسې زیاتی ورکړی شي نوداسود کی حسابیږي او ناجائز دی

دبانک د سود په متعلق بحث :

(۲۷۹_ سوال) مونږ په سان فرانسسکو کی تقریباً سل تنه مسلمانان اوسیږو په دوی کی د لبنان، ترکي، شام، مصر، هندوستان اوپاکستان خلک شامل دي. دلته مسجد نشته لیکن مونږ ټول په یو کور کی یوځای کیږو د اخترونو او نور لمونځونه یکی کوو. داکار ((اسلامک سنټر اف سانفرانسسکو)) په نامه چلوو. مونږ په دی کوشش کی یو چې دلته یو مسجد جوړ کړو له مونږ سره فی الحال پنځه زره ډالره جمع شوي دي. دمسجد او مدرسې د تعمیر لپاره تقریباله یو لک نه دزیاتو ډالرو ضرورت دی. ځکه چې دلته هرڅیز ډیر ګران دی. دی لپاره چې پیسی ضائع نه شي په بانک کی مو آچولي دي، بانک دری روپی سود ورکوي چې له کبله یی لاندیني سوالونه مخی ته راځي:

لومړی سوال دادی چې ایا کومی پیسې چې مونږ په بانک کی اچولي دي دهغوی سود آخستل روادی اوکه نه؟

---

[1] - وکـون الـربح بینهما شائعا فلو عین قدر افسدت (درمختار مع الشـامی کتـاب الـمضاربة ج ٥ ص ٦٤٨).

(خواب) په بانک کی پیسې د امانت په توګه نه ایښودل کیږي بلکې هغوی یې په کار کی اچوي او تجارت وربانډی کوي لهذا په بانک کی پیسی اچول له معصیت او ګناه سره مرسته کول دي له ډیرسخت ضرورت نه پرته په بانک کـی دپیسـو خصوصاً دوقف پیسو ایښودل ناجائز دي
که چیرته دناپوهی له کبله مو په بانک کی پیسی ایښـی وي او یـاد ډیـری مجبـوری لـه لاسه سوداګار کړی وي نو دهغو پیسو سود او ګټه په بانک کی بالکـل مـه پریـږدئ ځکـه چی هغوی داپیسې د اسلام په خلاف استعمالوي لهذا تاسـی هغـه پیسـې را واخلـئ او غریبانو ته یې ورکړئ، همدغه راز دغه پیسې د مسجد په غسلخانو او بیت الخـلا بانـدی هم لګولی شئ.
دویم سوال دادی چی په شریعت کی سود آخستل او ورکول ناجـائز دي . لـیکن دلتـه بانکونه تاجرانو، کارخانه دارو او مالدارو خلکوتـه پـه سـود پیسـې ورکـوي ددی ځـای درسم او رواج په مطابق تجارت ډیر زیات سـودي ګـټل کیـږي. کـه چیرتـه بانـک سـود ورکړي نو ایا هغه پخپل جماعت او ټولنې باندی خرچول جائز دي اوکه نه؟
(ځواب) له بانک نه ترلاسه شوي د سود پیسـې دخپـل جماعـت او ډلـې د خیرښیګنـی اویاهم د مسجد او مدرسې ملازمینو ته دتنخواه په صورت کی ورکول جائزنـه دي دریم سوال دادی چی که چیرته د مسجد په ملازمینو ته دبانک سودي پیسې نشو ورکولی نـو ایا که چیرته غریبانو ته ورکړو اویا په داسی کار کی استعمال کړو چی دثواب نیت پکـی نه لرو نو ایا په داسی کارونو کی یی استعمالول جائز نه دي؟
(ځواب) ددی حکم له پورتنیو ځوابونو څخه معلومولئ شئ.
(څلور سوال) فرض یی کړئ چی د مسجد د جوړولـو لپـاره مـو پـه یولـک ډالـر زمکـه اخستی ده ددی ځای رواج دادی چی که چیرته له تاسره پوره پیسې نه وي نو دقیمـت څلورمه حصه به ورته ورکوی اوپاتی نوری پیسې به لږې لږې اداکوې، ترڅو پورې چـی پوره قیمت نه وي اداشوی نو بائع (خرڅونکی) شپږ فی‌صده سود اخلي. ایاپـه داسـی حالت کی د مسجد او مدرسې د تعمیر لپاره دداسی زمکې آخستل جائزدي؟
(ځواب) په کوم کاروبار او تجارت کی چی سود ورکولی شـي هغـه ناجـائز دی، برابـره خبره ده چی هغه د مسجد لپاره وي اویا مدرسې لپاره. که پیسې درسـره لـږې وي نـود خپل وس په مطابق مسجد جوړ کړئ، یا شامیانې واخلئ او هغه لانـدی لمـونځ ، تعلیم اوتعلم شروع کړئ. یا کوم کور په کرایه واخلئ او هلته باجماعت لمـونځ او درس پکـی

روان کړئ، دزیاتو پیسو د جمع کولو انتظار مه کوئ په جمعی سره د لمونځ کولو فـوری انتظام ضروري دی.
په حدیث شریف کی دي چی که چیرته په کوم کلي یـا ځنګـل کـی دری تنـه اوسیږي اوهغوی په جمع لمونځ ادانه کړي نو یقینا پرهغوی شیطان سوریږي.
مـــامن ثلاثة فـــی قریة ولا بدو لا تقام فیهم الصلوة الاقد استحوذ علیهم الشـــیطان فعلیهم بالـــجماعة. (نسائی شریف ص۷٤ ج۱ باب الـــجماعة وفضـــلها(مشـــکوة ص۹٦).
حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمایي :
فـــمراد الله من نصب هذه الامة ان تکون کلمة الله هـــی العلیا وان لایکون فـــی الارض دین اعلـــی من الاسلام ولا یتصور ذلك الابان یکـــون ســـنتهم ان یجتمـــع خاصتهم وعامتهم وحاضرهم وبادیهم وصغیر هم وکبیرهم لما هوا عظم شعائره واشهر طاعته فلهذه الـــمعانـــی انصرفت العنایة التشریعیة الـــی شرع الجمعة والجماعـــات والترغیب فیها وتغلیظ النهـــی عن ترکها.
یعنی ددغه است په قائمولو سره دالله تعالی مقصد دادی چـی دالله تعـالی ددیـن شـان اوچت شي او د زمکې په سر دالله تعالی له دین نه بل دین پاتی نشي. اوداخبـره هلـه متصور کیدی شي چی دهغوی دستور داوي چی دهغه عبادت لپاره چی ددین له ټولـو نه لوی شعار او مشهور عبادت وي، عام او خـاص، ښـاري اوکلیـوال، لـوی او واړه ټـول سره یوځای شـي. (حجة الله الـــبالغة ج ۲ ص ۸۸ الـــجماعة صـــاحبة الـــجماعة. اصـــح الـــمطابع آرام باغ کراچی).
د امریکی د اجتماعیاتو او نفسیاتو یو ماهر ډینی سن (Deni son)پخپل کتـاب ایموشـن ایز دی بیسز اف سویلیزیشن (جـذبات د تهـذیبونو بنیـاد) نـومی کتـاب کـی پـه صـفحه نمبر۲۷۵ کی لیکي :
ټول مؤرخین داوایي چی اسلام کومه حیرانوونکی غلبه حاصله کړه نو دهغه وجـه داوه چی هغه پخپل دائره کی زبردست اتفاق او اتحاد پیـداکړی و، لـیکن داچـی دا اتحـاد څنګه پیداشو نو په دی کی هیڅ شک نشته چی له ټولو نه زیات موثر خیز په جمعی سره لمونځ کول و.

محمدصلی‌الله علیه وسلم لومړنی شخص و چې متحد او متفق پاتې کېدو لپاره په جمعې سره دلمونځ د اداکولو دقوت احساس وکړ. اوپه دی کې‌هیڅ قسم شک نشي کېدلي چې د اسلام طاقت د پنځو لمونځونوپه جمعې سره د اداکولو ثمره ده. فقط والله اعلم بالصواب.

پنځم سوال دادی چې ایا یوسړی کولی شي چې په کفري هیوادو کې دسود په پیسو کور واخلي؟

(ځواب) په دار الحرب کې دسود ورکولو اجازه نشته‌لهذا کور آخستل ورته جائز نه دي. فقط والله اعلم بالصواب.

شپږم سوال دادی چې د یو سړی په بانک کې زر ډالره دي بانک دهغه دری فیصده سود ورکوي. دلته شل فیصده آمدني تیکس هم ورکول کیږي. داشرعاً نه دی بلکې د حکومت دقانون په وجه ورکول کیږي، نو ایا دبانک دغه سودی پیسې د آمدني په ټیکس کې ورکولي شو اوکه نه؟

(ځواب) دسود دغه پیسې خو دی واخستلی شي مګرپخپل ذاتی کارکې دی ونه لګولی شي بلکې غریبو او حاجت مندوته دی ورکړی شي، که چیرته د آمدنی ټیکس د ورکولو وس ونه لري نو کولی شي چې دغه سودي پیسې ورته ورکړی. فقط والله اعلم بالصواب.

خپل ژوند بیمه کول څنګه دي؟:

(۲۸۰ـ سوال) که دلاندنیو سوالونو ځوابونه په تفصیل سره راکړئ نو دابه ستاسی مهرباني وي.

(۱) کوم کسان چې لړه آمدني لري هغوی دخپل ژوند بیمه ځکه کوي چې یقینا څه ناڅه پیسی یې بچ پاتې شي. که چیرته څه بچ شوي پیسی پخپله له هغه سره پاتی شي نو د خرچ کیدو ویره ده، خود بیمی د فیس له اداکولو نه وروسته هغه پیسی د بیمی دپالیسی د تاریخ له پوره کیدو نه وړاندی ترلاسه کیدل مشکل وي، نوځکه له خپلځان سره داینودلو پرځای په بیمه کی ورکوي ترڅو داپیسی د ژوند په آخري ورځو کی په کار راشي.

(۲) ډیر خلک دخپل ژوند بیمه په دی خاطر کوي چې هغوی حکومت ته دکلني ګټې زیات تیکس ورکوي، که چیرته خپل ژوند بیمه کړي نو دبیمی فیس چې دپوره کال لپاره ورکړی دی‌هغه ترینه منفی کوي اوپاتی پیسې انکم تیکس ته ورکوي. دچا آمدني

چي په کال کي پنځه ويشت زره يالدينه زياته وي په دی کی هغه ته زياته کمه وي لدينه علاوه څه خلک خپل ژوند خکه بيمه کوي چي دخپل ناڅاپي مرګ په صورت کـی دهغه وارثانو ته مدد او مرسته په لاس ورشي. اوکه پخپله ژوندی پاتی شـي نوپخپل آخري ژوند کی له بيمی نه دپيسو دترلاسه کيدو په صورت کـی خپل ژوند په آسانه تيرکړي

(خواب) د ژوند بيمه کول چی په هر نيت او مصلحت سره وي ناجائز دی په دی کـی قيمار اوسود دواړه ګناهونه شامل دي داسی ګناهونه چی ډير لوی دي.

په حديث کی دي :

قــال لعـــن رسول الله صلی‌الله عليه وسلم اکل الربوا موکله وکاتبه وشاهديه وقال هم سواء رواه مسلم (عن جابـــر رضی‌الله عنه (مشکوة شــريف ص ٢٤٤ بـــاب الربوا).

په يوبل حديـ کـی دي : عن ابـــی هريرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صـــلی‌الله عليه وسلم الربوا سبعون جزء ايسرها ان ينکح الرجل امه (مشکوة شريف ص ٢٤٦ باب الربوا.)

يعنی محمدصلی‌الله عليه وسلم وفرمايل : کوم خلک چی دسود کاروبار کوي هغـوی تـه اوياقسمه ګناه ده چی د ادنی درجی ګناه يی له خپل مور سره دزنا کولو په برابردی.

همدارنګه له حضرت عبدالله غسيل الملائکه څخه روايت دی :

قال رسول الله صلی‌الله علية وسلم درهم ربوا يا کله الرجل وهويعلم اشد من سـتة وثلثين زنية الخ(مشکوة ص ٢٤٦ باب الربوا.).

محمدصلی‌الله عليه وسلم وفرمايل : دسود يو درهم پخپل ځان خرڅول دالله تعالی په نزد له اويا کرنه زنا څخه زيات سخت دی.

دکوم مسلمان په زړه کی چی دمحمد صلی‌الله عليه وسلم د لارښوونې عـزت او عظمـت وي هغه کله هم دسودي کاروبار جرئت نه شـي کـولې. نـو ځکـه حضـرت عمـر فـاروق فرمايي چی له لسو حلالو شيانو څخـه صـرف دوه خيزونـه واخلـه چـی دسـود لـه شـک اوشبهی نه بالکل پاک وي اوپاتی نور ټول پريږده. (فدعوا الربوا والريبة). مشـکوات ص ۲۳٦باب الربوا.

محمد صلى‌الله عليه وسلم پيش ګويي او وړاندوينه کړې ده چې :
ليأتينّ علــى النّاس زمانٌ لايبقى احدٌ الا اكل الربوا فان لم ياكله اصــابهُ مــن بخــاره ويروى من غباره عن ابى هريرة رضى‌الله عنه. (مشكوة ص ٢٤ باب الربوا).
يعنى په خلکو يوه زمانه راتلونکې ده چې هيڅوک به له سود نه بچ پاتې نشي که ظـاهراً سود نه اخلي خودهغه څه اثر به خامخا پرهغه لګيږي.
لهذا دخپل ژوند بيمه کول جائز نه دي ځکه چې داپه يو حرام کاروبار کې شـرکت دى اودحرام د ودې لپاره تعاون دى، حال داچې الهى ارشاد دى:
ولاتعاونوا علــى الاثم والعدوان. يعنى دګناه او ظلم په کارونو کې له يوبـل سـره مـدد مه کوئ ، اوله الله نه وويريږئ بيشـکه الله پـاک سـخت عـذاب ورکـوونکې دى. (سـوره مائده).

دسود په باره کې د اندين ويوز فتوه :

(۲۸۱_ سوال) له سلام او دعا نـه وروسـته ستاسـې پـه وړانـدې د انـډين ويـوز تراشـه (جلد۴۷ رساله ۴۸، ۴۹، ۵۰) پيش کوم. مهرباني وکړئ مولانا مفتى عبدالرحيم لاجپـوري دامت برکاتهم په خدمت کې وړاندې کړئ. له دغو تراشې نه به تاتـه معلـوم شـي چـې دسود او رويت هلال د مسئلو په اړه څومره ناپوهي او غلط فهمي په خلکـو کـې خـوره شويده اوپدې کې دسود په اړه يوه لويه فتنه پيداشوې ده هغه داچې کـه ظلـم نـه وي نو سود حرام نه دى. بلکې نن سبا سود يو حلال څيزدى لدينه پرته کارنشـي چليـدلې.
مهرباني وکړئ ددې ځواب له حضرت مفتى صاحب مدظله نه ترلاسه کړئ.
(ځواب) ډير دافسوس خبره ده چـې ديـارلس سـوه کالـه وړانـدې، يـو قرانـې او متفقـه فيصلې په خلاف د يو جاهل اوله شرعي علومونه محروم سړي په بيهـوده نظريـه او غلـط دليل باندې د افريقي مسلمانان مذبذب شوي دي، کله چې دجال راشي نـو بيابـه يې څه حالت وي؟ ددجال دجل او فريب خو ډير زيات خطرناک او حيرانـوونکې وي هغـه خو دمړي ژوندي کولو کرشمه اوتماشا ښکاره کوي، له هغه سره دوزخ او جنت هم وي. څوک چې دهغه مني نو هغوى پخپل جنت کې داخلوي او څوک چې له هغه نـه انکـار کوي هغه په دوزخ کې داخلوي. په سختې قحطې کې به چې له خلکو سـره غلـه دانـه نه وي غلې دانې ورکوي، باران کوي فصل به زرغونيږي، دزمکې پټې خزانې به دهغـه

دحکم تابع وي، په داسی حالت کی به دنن سبا کمزوری مسلمان به خپل ایمان څنګـه ساتي؟
دادفتنې زمانه ده چی محمد صلی‌الله علیه وسلم ددی په باره کی پیش ګویی کړیده چی:
یـکون فـی اخر الزمان دجالون، کذابون یاتونکم من الاحادیث بــمالم تسـمعوا انتم ولا آبائکم فایاکم وایاهم لا یضلونکم ولایفتنونکم رواه مسلم.عن ابـی هریره (مشکوة ص ۲۸ باب الاعتصام بالکتاب والسنة مجتبائی دهلی).
یعنی محمدصلی‌الله علیه وسلم پیشن ګویی کړی ده چی پـه آخري زمانـه کـی بـه ددرواغو دجالان ډیر وي چی تاسو ته بـه داسـی‌خبرې آوروي چـی نـه تاسـی چیرتـه آوریدلي وي اونه ستاسی پلرونو او نیکونو ، له داسی خلکونه ځانونه وساتئ کـه نـه نـو تاسی به ګمراه کړي او فتنه کی به مو واچوي. (مشکواه شریف).
لهذا دداسی ګمراه کوونکو مضامینو او له داسی مضمون نګارانو څخه لرې واوسئ.
دقرآنکریم لارښوونه ده: واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاماً.
یعنی کله چی څوک دجهالت خبرې کوي نو دالله نیک بندګان ترینه دسلامت پـه ویلـو سره جداکیږي.
دګنده خیالات لروونکو کتابونو او مضامینو په لوستلو سره په زړه کی د ډیر بد اثر دپـری وتو ویره ده،لهذا اسلام له داسی څیزونو څخه دلری اوسیدو لارښوونه کړیده.
په حدیث شریف کی دي :
عــن جابر عن الــنبی صلی‌الله علیه وسلم حین اتاه عمر فقال انا نسمع احادیث من یهود تعجبنا فتری ان نکتب بعضها؟ فقال امتهو کون انتم کمـا تهوکــت الیهــود والنصاری لقد جئتکم بها بیضاء نقیة. ولو کان موسی حیاً مـا وسـعه الا اتبـاعی. (مشکوة ص ۳۰ ایضاً).
له حضرت جابر رضی‌الله عنه څخه روایت دی کله حضرت عمر رضی‌الله عنـه د محمـد صلی‌الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شو او عرض یی وکړ چی مونږ دیهـودو خبـرې آورو چی عجیب او حیرانوونکې وي که ستاسی اجازه وي نو مونږ دهغوی ځینی خبرې ولیکو. محمدصلی‌الله علیه وسلم ورته په ځواب کی فرمایلی وو: ایاته پـه شـک کـی یی؟

لکه څنګه چې یهود او نصارا په شک کې وو. بیشکه زه تاسوته په روښان دین سره راغلی یم، که چیرته حضرت موسی علیه السلام ژوندی وای نو هغه لپاره هم زماله اتباع نه علاوه بله لاره نه وه. هغه به خامخا زما پیروي کاو.

د حضرت جابر رضی‌الله عنه بل روایت دی:

ان عمر بن الخطاب رضی‌الله عنه اتی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم بنسخة من التورة فقال یارسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) هذه نسخة من التورة فسکت فجعل یقرأ ووجه رسول الله علیه وسلم یتغیر فقال ابوبکر ثکلتك الثوا کل ماتری ما بوجه رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فنظر عمر الی وجه رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فقال اعوذ بالله من غضب الله وغضب رسوله رضینا بالله ربا وبالاسلام دیناً. وبمحمد نبیاً فقال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم الخ.(مشکوة ص ۳۲ مجتبائی دهلی بـاب الاعتصام بالکتاب والسنة).

ترجمه: حضرت عمر فاروق رضی‌الله عنه د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت دکتاب پیش کولو په وخت کې عرض وکړ چې یارسول الله ! دا تورات دی محمدصلی‌الله علیه وسلم څه ونه ویل: کله چې حضرت عمر دهغه په لوستلو شروع شو نو دمحمدصلی‌الله علیه وسلم دمخ مبارک رنګ متغیر شو. حضرت ابوبکر صدیق رضی‌الله عنه فوراً عمر رضی‌الله عنه ته غصه شو او ورته یې وویل: ای عمره! په تادی ژړاکوونکی وژاړي، ته دمحمدصلی‌الله علیه وسلم مخ ته نه ګوری چې په کوم کیفیت کې دی؟ حضرت عمر چې دمحمدصلی‌الله علیه وسلم مخ ته وکتل نو ګوري چې بدل شوی دی. عمر رضی‌الله عنه فوراً عرض وکړ. زه دالله تعالی له غضب نه پناه غواړم اودهغه درسول د غضب نه هم، مونږ رضا یو په دی باندی چې الله زمونږ رب دی، اسلام زمونږ دین دی او محمد صلی‌الله علیه وسلم زمونږ نبی دی.

دسود په اړه چې کوم آیت راغلی دی دهغه دتشریح کوونکی دمقاله نګار مثال دهغه کاتب په شیردی چې دجهل مرکب مریض و هغه دقرآنکریم کتابت شروع کړ نو هغه دلته هم داصلاح په خاطر ، ولقد نادانا نوحٌ ، او نوح علیه السلام مونږ ته آواز وکړ) پرځای یې دانا نوح یې ولیکه یعنی نوح علیه السلام نادان نه و (بلکې داناو) داد لومړی کاتب غلطی ود چې نادان یې ولیکه

کله چی « عصی آدم به »« ادم علیه السلام دخپل رب خبرې ونه منلې » په لیکلو شروع وکړ نو خیال یې وکړ چې عصا (امسا) خود ادم علیه السلام نه وه. بلکې موسی علیه السلام درلودله نو ځکه هغه (عصا موسی ولیکلو، فرعون، هامان ابلیس او قارون پرځای یې دهغه چانوم اوپلار نوم ولیکلو چې دا قرآن شریف یې دلیکلو لپاره ورکړی و. هغه داکار ځکه وکړ چې په قرآن کې ددغو ناپاکو خلکو نومونو ته څه ضرورت دی دلته باید دقرآن کریم دلیکونکو اودهغوی دپلرونو نومونه باید ولیکل شي. (معاذ الله)

داندېن ویوز د مضمون نګار د نظريې خلاصه :

داندېن نیوز دمضمون نګار دنظریې خلاصه تقریباً څه داسې ده:

دقرآنکریم په ایتونو کې چې دکوم سود یادونه شویده او ددې ورکول او اخستل یې حرام ګرځولي دي هغه داسې سود دی چې دزکات خیرات او صدقې حقدار وي، له داسې غریبواو محتاجو خلکو څخه سود آخستل ظلم او ناروادی.(جلد۴۷ شماره ۴۸).

(ځواب) دغه پورتنی عقیده او نظریه د اسلامي لاربنوونې څخه مخالفه ده په اسلام کې هیڅوک دانه مني چې له غریب نه سود آخستل حرام اوله سرمایه دار نه آخستل حرام نه بکلی حلال دي.

اصحابوکرامو، رضوان الله علیهم اجمعین، تابعین رحمهم الله، مجتهدین ائمه رحمهم الله، فقها کرام رحمهم الله، مشائخو رحمهم الله څخه دهیچا دا مذهب او عقیده نشته، داپه قرآنکریم باندې دروغ او بهتان دی اودقرآنکریم د آیتونو له ځانه تفسیر دی.

دامضمون نګار عالم نه دی، که چیرته څوک لوی عالم هم وي اوپه عربي ژبه ښه پوهیږي نو هغه ته هم دا روانه ده چې دقرآنکریم د کوم آیت معنی له خپل ځان نه جوړه کړي. دقرآن کریم د آیتونو هغه ترجمه او تفسیر د منلو وړ دی چې دهغه شواهد او قرائن دشریعت په احکامو کې موجود وي، که چیرته ددغو شواهدو او قرائنو نه پرته څوک له خپل عقل نه تفسیر وکړي که هغه صحیح هم وي بیاهم د تفسیر له آیین اوقانون نه مخالف او غلط دی. لکه چې د حضرت جندب رضی‌الله عنه نه روایت دی:

قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من قال فی القرآن برائه فاصاب فقد اخطاء (رواه الترمذی) مشکواة ص (۳۵ کتاب العلم).

یعنی چاچې دقرآن کریم تفسیرپخپل رای وکړه که هغه صحیح هم وي بیایی هم غلطي کړی ده.

داخود علماو په باره کی د محمد صلی‌الله علیه وسلم لاربووونه وه، داچی څوک عالم نه وي اوله خانه د شریعت په احکامو بحث کوي اوپادکوم ایات تفسیر وکړي او مسلمان دهغه خبره ومني نو محمد صلی‌الله علیه وسلم داد قیامت له نښو نه شمار کړی دی.

عن ابی هریرة رضی‌الله عنه قال بینما النبی صلی‌الله علیه وسلم فی مجلس یحدث القوم جاء اعرابی فقال متی الساعة فمضی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم یحدث فقال بعض القوم سمع ماقال فکره ماقال وقال بعضهم بل لم یسمع حتی اذا قضی حدیثه قال این اراه السائل عن الساعة. قال ها انا یارسول الله صلی‌الله علیه وسلم. قال فاذا ضیعت الامانة فانتظر الساعة فقال کیف اضاعتها قال اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة. (بخاری شریف ج ۱ ص ۱٤ پ ۱ کتاب العلم باب من سئل علما هو مشتغل فی حدیثه الخ).

محمدصلی‌الله علیه وسلم یو مجلس ته خطاب کاو، په دی وخت یوه بانده چی راغی او پوښتنه یی وکړه چی قیامت کله راځي؟ محمد صلی‌الله علیه وسلم خپله خطبه جاري وساتله (یعنی ځواب یی ورنکړ) له حاضرینو څخه چاته دافکر وشو چی هغه صلی‌الله علیه وسلم دبانده چی سوال آوریدلی دی خو ځواب ورکول یی نه دي خوښ کړی. اوچادافکر وکړ چی محمدصلی‌الله علیه وسلم دهغه سوال نه دی آوریدلی. همدغه حالت و چی محمد صلی‌الله علیه وسلم خپل خطاب ختم کړ او ویی فرمایل چی سوال کوونکی چیرته دی؟ راوي وایي چی ماته پوره الفاظ خو په یاد نه دي خوزما خیال دادی چی هغه صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: (این السائل عن الساعة) چیرته دی هغه څوک چی دقیامت په باره کی سوال کوي اعرابی بانده څي ځواب ورکړ ها انا یارسول الله زه حاضریم. محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: په هغه وخت کی چی کوم امانت انسانیت ته سپارل شوی دی هغه داضائع کړي، اعرابي پوښتنه وکړه چی دامقدس امانت به څنګه بربادیږي؟ محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: کله چی ددین معامله نا اهلو ته وسپارل شي نودقیامت انتظار وکړه.

بل حدیث دادی چی خلک به ناپوه خلک خپل مشران ټاکي اوله هغوی نه به ددین خبرې یادوي، هغه پخپله هم ګمراه وي او نور خلک هم ګمراه کوي. (ترمذی شریف ابواب العلم باب ماجآء فی ذهاب العلم).

دحضرت ابن مسعود رضی‌الله عنه ارشاد دی چی ترڅوپوری دخلکوپه وړاندی دصحیح اوربښتونو علماو علم موجود وي هغوی به په دین کی ترقي کوي او کله چی دناقصو اوناخبره خلکو علم شروع شي نو خلک به بربادشي (جامع بیان العلم ج ۱ ص ۱۵۹).

حضرت امام اوزاعي رضی‌الله عنه فرمایلی دي چی دینی خبرو پوښتنه به له جاهلانو نه کیږي، داهم دګمراهي نښی دي. (الاعتصام ج ۱ ص ۱۴۵).

صحیح خبره داده چی دشرعي احکامو حقیقت او خوبي هغه څوک پیژندلې شي چی دیني علوم یې له لویو اوربښتونو علماو څخه زده کړي وي.

د وکالت هردعوه دار بیرسټر نشي کیدلې تاسی خپلې مقدمې هغه چاته حواله کوئ چی هغه باقاعده د وکالت او یا بیرسټري امتحان ورکړی وي هرڅوک پوهیږي چی نیم ملا آفت ایمان اونیم حکیم افت جان. مګرافسوس چی دکتاب الله د تفسیر په باره کی خلک دغه مسلمه او متعارف اصول له یاده وباسي. داندین ویوز مضمون نګار کیدی شي نه اخبارنویس اومضمون نګار وي، مګرددین په باره کی دهغه ناپوهي او محرومي اندازه لدینه کیدای شي چی هغه دقرآنکریم له ایت نه هغه معنی آخلي چی بل هیچا دامعنی نه ده کړی. کوم سړی چی ددیارلس سوه کلونو مفسرینو، محدثینو، ائمه کرامو، مجتهدینو، فقهاو او رباني علماو ارشادات او لاربښوونو ته غلط ووایي نو هغه ته دحق طالب ویل کیږي یا باطل پرست؟

په حدیث شریف کی دي :

ویقال للــرجل ما اعقله وما اظرفه واما اجلده وما فـي قلبه مثاقل حبة من خــردل من الایمان. بخاری شریف.

یعنی داسی هم کیږي چی دیوسړي له نمائشی خبرو څخه خلک تردی متاثر کیږي چی په تعجب سره وایي داڅومره هوښیار اوپوه شخص دی ، څومره بهادر او تکړه دی. په داسی حالت کی چی دهغه په زړه کی د اوری ددانې په برابر هم ایمان نه وي.

لنډه داچی قرآنی ایتونه او دنبوي احادیثو دا معنی آخستل چی صرف هغه سود حرام دی چی له هغو غریبانو څخه واخستل شي چی د زکات او خیرات مستحق وي، مګر له مالدارو خلکو څخه سود آخستل حرام نه دي. داسراسر دکلام الله د ایتونو معنوي تحریف او ملعونو یهودانو تقلید دی. په یهودو چربي حرامه کړی شوی وه نو هغوی دا تاویل وکړ چی دایی ویلي کړ او بیایي خرڅه کړ اوپیسې یې استعمال کړي. محمد صلی‌الله علیه وسلم پرهغوی لعنت وویل.

فقال الله الیهود ان الله لما حرم علیهم شحو مها احملو هاثم باعوه فاکلوه بثمنه. (مسلم شریف ج۲ ص ۳ مطبع علمی دهلی).
الله تعالی دی یهود برباد کړي کله چی پرهغوی چربي حرامه کړی شوه نو هغوی داویلی کړه خرخه کړه اودهغه قیمت یی وخوړ.
مضمون نګار هم همداسی تاویل کړی دی او پخپل په همدی عمل سره د محمدصلی‌الله علیه وسلم ددغه پیش ګویي تصدیق کوي چی:
لتتبعن سنن من قبلکم شبراً شبراً اوذراعاً ذراعاً حتی لو دخلوا حجر فی ضب تبعتموهم قلنا یارسول الله الیهود والنصاری؟ فمن (بخاری شریف ص ۸۸۸ عن جابر بن عبدالله رضی‌الله عنهما).
تاسی به مخامخا د مخکینو خلکو دطریقو لویشت لویشت پیروی کوئ. تردی پوری چی که هغوی دسمخاری په سوړه کی ننوتي وي نو تاسی به هم په هغه کی ننوځئ. اصحابو کرامو عرض وکړ. یارسول الله له مخکینو خلکو څخه مراد یهود او نصارای دي؟ محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل نور څوک؟
داخبره دی هم په ذهن کی وساتل شي چی یهودان څکه دلعنت او غضب وړ وګرځیدل چی هغوی به سود خوړلو. لکه چی الهی ارشاد دی:
فبظلم من الذین هادوا واکلهم الربوا. (سوره نساء ۲۲).
دیهودانو د ظلم په وجه مونږ (هغه خو څیزونه) پرهغوی حرام کړل چی حلال وو. اوپه دی وجه هم چی هغوی خلک دالله له لاری نه ډیر لری کول. بل داچی هغوی به سود خوړلو حال داچی له دینه منع کړی شوي وو.

دقرآن کریم تصریحات:

له دغه تهمیدی مقدماتو نه وروسته د قر نکریم په طرف رجوع وکړئ. او غور وکړئ چی دقرآنکریم آیتونه څه څیز حرام کړی دی اودهغه د پریښودلو تردې پوری تاکید کړی دی چی که تاسی دا ترک نه کړئ نو دالله او رسول له طرف نه ستاسی په خلاف د جنګ اعلان دی، ایاپه دی کی ددی تفصیل ګنجائش شته چی له غریب نه سود آخستل حرام دي اوله مالدار نه حرام نه دي.
پوره آیت دادی:

الذین یأکلون الرّبا لا یقومون الا کما یقوم الذي یتخبّطهُ الشّیطانُ من المس ذلك بانهم قالوا انما البیعُ مثلُ الرّبا واحلّ اللهُ البیع وحرّم الرّبا فمن جاءهٔ موعظة من ربّه فانتهی فله ما سلف وامرُهُ الی الله ومن عاد فاولئك اصحابُ النــار هــم فیهــا خالــدون (البقرة۲۷۵).

ترجمه

په پورتنی ایت کی دابیان شوی دی چی الله تعالی سود ته حرام ویلي دي یعنی په کوم څیز باندی چی دسود اطلاق کیږي هغه حرام دی. که هغه له غریب نه واخستل شي اوکه له مالدار غنی نه.

ددی په اړه چی کوم اعتراض و قرآنکریم دهغه ځواب ورکړی دی. لدینه پرته دسود نقصانونه اوضررونه بیان شوي دي. تاسی ټول په غور سره وګوری چی پدی کی څرته دامیر او غریب فرق معلومیږي؟

اعتراض داو: ((انما الـــبیع مثل الــربوا)) یعنی د بیع حقیقت دسود پشان دی کله چی سود حرام دی نو بیع دی هم حرام شي.

الهی کلام ـ مونږ ته دا خبره زده کوي چی داډیر دضد خبره ده چی بیع ته سود یا د سود مثل وویل شي، ددغو دواړو ترمنځ نـه مماثلـت دی او نـه یکانګـت بلکـی د دواړو ترمنځ همغه فرق دی چی په نفی او اثبات کی وي.

هر سړی پوهیږي چی د بیع حقیقت تبادله دی یعنی له دوه مماثل څیزونو څخه یو څیز دبل څیز په عوض کـی ورکـول. دلتـه مماثلـت تبادلـه اوعـوض وي خـوددی بـرعکس ربوا(سود) هغه زیادت نه ویل کیږي چی دهغه په عوض کی څه نه وي. پس کله چی په بیع کی د عوض موجودیت ضروري دی اوپه بـل کـی نشتوالی، نـو دغـه دواړو یعنـی یقیني بیع او سود ته یوڅیز ویل یادهغه مثل ویل سراسر ضد او ناپوهی ده.

تابو قیمتی ملغلره په زر روپی واخست او پـه دوه زره دی خرڅـه کـړه څرنګـه چـی زر روپی د ملغلرې عوض و همدغه راز دوه زره هم د هغه عوض دی. داد بـائع او خریـدار خپل منځی اتفاق او معاهده ده چی هغه پخپله خوښه ملغلره په زر روپـی اخلـي او کـه په دوه زره.

د کوم بزرګ توپی چی دپنځو روپو وي هغه دپنځه سود روپی په عوض خرڅیـدلی شـي یعنی بائع او مشتري دواړه حق لري چی دپنځو روپو یو څیز د پنځه سوه روپیو نه عوض

کې خرڅ کړي ځکه چې الله تعالی داجائز کړی دی، خو که چیرته د دواړو ترمنځ رضا نه وي موجود، د جبر اکراه او یاپه تګي سره ترینه زیاتې پیسې واخستل شي نودا بیشکه چې ناجائز دی. لیکن یو سړی زر روپۍ قرض آخلي اوپه هغه کې دافیصله کیږي چې هغه به یوکال وروسته پنځه روپۍ زیاتې ورکوي سوال دادی چې دغه پنځه روپۍ دکوم څیز عوض دی. دلته خو تبادله او بیع نشته ، که ده نو هغه استعاره ده، د استعاری معنی داده چې له څه عوض او بدل نه پرته یو څیز عاریتاً ورکړی شي. نودغه پنځه روپۍ ترینه آخستل له هغه سره زیاتی دی ځکه چې بلا عوض ترینه آخستل کیږي. کیدای شي چې څوک دا ووایي چې دا استعاره نه بلکې اجاره یعنی کرایه ده او دغه پنځه روپۍ دکرایه دي، خو کرایه دهغه څیز وي چې پخپل ځای پاتی شي، کرایه دار کورنه خرچوي بلکې هغه پخپل ځای پاتی کیږي کرایه دار لدینه ګټه اوچتوي دهغې د معاوضې نوم کرایه ده. لیکن دقرضدار خو لمړی کار دادی چې هغه روپۍ خرچ کړي اوس نو کرایه دڅه څیز ورکړي؟ په هر حال فضلُ خالٍ عن العوض یعنی هغه زیاتوالی چې له عوض اوبدل نه خالي وي کوم مماثل څیز دهغه په مقابل کې نه وي ښودل شوی د هغه نوم ربوا دی، الله تعالیٰ هغه ته حرام ویلی دي.

ددغه پوره سوال او ځواب باندې یوځل بیا غور وکړئ چې ایاپه دی کې چیرته دغریب او امیر فرق شته؟

داد قرض صورت و چې پکې سود واخستل شو نو الله هغه حرام کړ، په دی کې علت دادی چې دایوداسې زیاتی دی چې په مقابل کې هیڅ عوض او بدل نشته.

بیشکه چې دبیع په سلسله کې بائع او مشتري دواړه حق لري چې پخپله خوښه دپنځه روپیو توپۍ عوض پنځه زره پونډه مقرر کړي خوداهله چې دوه جنسونه وي، خوکه چیرته یو جنس وي مثلا دسرو زرو په مقابله کې سره زر ورکړی شي لکه دلسو تولو د سروزرو هار دیوولسو تولو په عوض کې ورکړی شي که څه هم دلته داسوال کیدی شي چې دواړه پخپله خوښه دلسو تولو عوض یولس تولې مقرر کړی دی، خو ددی ځواب دادی چې دا رضامندي او خوښه له مشاهدې نه مخالفه ده. اود یوجنس په څیزونو کې لس دیولسو په برابر مثل له ښکاره حقیقت نه انکار دی. خامخا په دی کې دایوه توله داسې زیادت دی چې دهغې په مقابل کې هیڅ عوض نشته. محمد صلی‌الله علیه وسلم دیته هم سود ویلي دي.

د مساوات شرط داهم دی چې دواړه نقد او لاس په لاس وي.

که دسرو په شان خیزونو کی یو شرط دا دی چی دواړه نقد وي مثلا تاسی دسرو گانه اوس واخلئ او ددی عوض قرض حساب کړئ نوداهم له مساوات نه مخالف دی، دنقد گټه چی فورا ترلاسه کیږي داهم یو قسم زیادت دی چی په مقابل کی یی هیڅ عوض نشته نو ځکه محمد صلی الله علیه وسلم دهم جنس وزن په مقابل کی قرض ته سود ویلي دي.

تاسی دا سوال کولی شئ چی دسرو زرو نه دامیل یا دبل څیز جوړونه دبل سره زر د زیادت په مقابله کی عوض کیدی شي ، خو شریعت د سرو زرو وجود او جوهر په مقابله کی ددغی اضافی او معنوي امورو اعتبار نه دی کړی ځکه چی داقسم اضافي او اعتباري کارونه دسود دروازه خلاصولی شي.لهذا که چیرته دسروزرو د گانو په عوض کی سره زر ورکړی شي نو هغه به برابر او نقد ورکوي، که چیرته ته د کاریگر محنت یا دسرو زرو جودت او غوره والی له نظره نشې غورځولی نو دسروزرو په مقابله کی سره زرمه ورکوئ بلکی سپین زر یابل څه په عوض کی ورته ورکړئ ترڅو د محنت او غوره والي حق هم اداشي اوسود هم نشي. محمد صلی الله علیه وسلم شپږ څیزونه داسی ښودلي دي چی که دهغوی بیع له هم جنس سره وي نو په هغو کی زیادت او قرض سود کی راځي او حرام دي سره زر، سپین زر، غنم ، جوار خرما او مالگه.

یعنی کله چی دسروزرو بیع له سروزرو سره، دسپینو زرو بیع له سپینو زرو سره د غنمو بیعه له غنمو سره، د اوربشو له اوربشو سره د خرما بیع له خرما سره اود مالگې بیعه له مالگی سره کیږي نو په دی کی زیاتی او کمی حرام دی، همدغه راز په دی کی قرض هم حرام دی.

هغو خداپرستو علماو چی په دی خبره یی عقیده درلوده چی قرآنکریم دالله تعالی کلام دی او محمد صلی الله علیه وسلم دهغه رښتونی حامل دی. هغوی ټولو پردغو شپږو شیانو باندی همدغه مجتهدانه نظر اچولی دی چی کمی او زیاتی اود قرض ممانعت په همدغو شپږو شیانو سره مخصوص دی اوکه له هغو نه علاوه په نورو څیزونو کې هم داحکم جاري دی. اوس تردی حده پوری خوټولو مجتهدو امامانو اتفاق دی چی دا ممانعت صرف په دغو شپږو شیانو کی منحصر نه دی له دغو شپږو شیانو نه علاوه دخرید او فروخت په نورو څیزونو کی هم ممانعت جاري کیږي. مگرهغه نور شیان کوم کوم دي؟ نوددی په خواب کی د مجتهدینو ارا مختلفي دي امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله وویل: په، دغو شپږو شیانو کی مشترکه خبره داده چی دا ((وزني دي اویا کیلي))

یعنی دهغوی خرید او فروخت د وزن او تول په ذریعه کیږي یاپه کیل سره یعنـی پیمانـه او ناپولو په ذریعه کیږي، په هغو کی غنم خرما د مخصوص مقدار په ډبو کی دناپولو پـه ذریعه خرڅول کیده چی هغوته صاع،مد ، ملوک ، رطل او نور شیان ویل کیده لهذا غلـه دانه به کیلی کیل کیده خو زمونږ په نزد داوزنـي کیـل کیـږي، خرمـا اولـه اوربشـی نـه علاوه سرد زر او سپین زر په وزن او تول سره خرڅیده، نو ځکه امـام صـاحب دا اصـول کښېښود چی په کومو دوه څیزونو کی دقدرا و جنس اشتراک ترسـترګو شـي یعنـی جـنس متحد وي اوهغه دواړه کیلي وي یعنی دپیمانی په ذریعـه خرڅـولی شـي یـا وزنـي وي یعنی په تللو سره خرڅولی شي. که چیرته له هغونه دیو بیع له بل سره وکړی شـي نوپـه هغو کی هم داحکم نافذیږي یعنی مساوات به یکی لازمیږي اوداهم لازمیږي چـی بیـع نقد وي. قرض به پکی حرام وي، دهمدغه اصولو په وجه دسرو زرو او سپین زرو په خـیر په اوسپنه او مس کی هم همدغسې پکار دي که چیرته اوسپنه داوسـپني پـه مقابـل کـی خرڅه کړای شي نو ضروري ده چی په وزن کـی دواړه برابـرهم وي اونقـد هـم یعنـی لاس په لاس وي.

په هر حال دابحث ډیر اوږد دی، دامامـانو د نظرونـو اودلائلـو معلومولـو لپاره سـلګونه صفحې ناکافي دي. دلته د دلائلو بیانول مقصود نـه دي.بلکـی دلتـه خـو ددی خبـرې وړاندی کول مقصد دی چی دقرآنکریم لفظ (ربوا) چـی ترکـوم خـای پـوری وسـعت لري. ددغه مضمون نګار خود ساخته فرق چی له غریب نه ناجائز او له امیر نـه جـائزدی چیرته هم نه لیدل کیږي

دقرآنکریم په هغو آیتونو کی چی له ربوا سره تعلق لري ، دربـوا ددوه بـدیو او ضـررولو په طرف اشاره شوی ده.

(۱) دلونړی خرابي اوبدي په طرف دلته الله تعالی ارشاد دی:

الـذین یاکلون الربوا الایقومون الا کما یقوم الذین یتخبطه الشیطان من الـمس.

ترجمه یی وړاندی تیره شویده.

ددغه بد حواس او لیونتوب پوره خرګندیدل خوبه دقیامت په ورځ هله وي چی کلـه د اعمالو نتائج د حقیقت په توګه وړاندی شي او لکه چی په روایتونو کـی دي چـی سـود خواره به دمارانو او اژدهاو په داسی ګیره کی وي چی هغه یی سم معـذور کـړی وي کله چی غواړي پاځیږي نو پاځیدلی به نشي اوپر زمکه به غورځیږي.

(معاذ الله).

دمرکی د ناروغ په شان په دهغه انداسونه بې کاره شوي وي اودساغ بـه یې هـم کارنـه کوي. لیکن په اوسنی زمانه کی چی سرمایه داره طبقه په کوم بحران کی اختـه ده کـه هغه په الفاظو سره بیانول غواړی نو دقرآنکریم له الفاظو نه زیات غوره او مـوزون الفـاظ دی لپاره نشي پیداکیدلې. گویا داټوله طبقه شله ده اوپیریانو دا طبقه لیونـی کړیـده او عقل یې کارنه کوي.

نن سباچی سرمایه داران په کوم بحران کـی ککـړ دي هغـه دومـره خطرناکـه ده چـی دومره مال او دولت د رلودلـو بـاوجود بیـاهم د اطمنـان لـه دولـت نـه محـروم دي د بدحواسی او پریشانی په عالم کـی وخـت تـیروي. چیرتـه د وسـلو سـیالي ده او چیرتـه دسرمایه دارانو او مزدورانو ترمنځ جـنگ دی. دبدحواسـی او پریشـانی حالـت خـو یـې دادی چـی دفلسـفې او سـاینس ټـول قابلیـت او صـلاحیتونه چـی دانسـانیت د فـلاح اوخیرښیگڼی لپاره استعمال شوی وای هغه په داسی ایجاداتو باندی مصرفیږي چـی د انسانیت تباهي ورباندی ژر ترژره وشي. حسد اوبغـض دهغـوی پـه رگونـو رگونـو کـی سرایت کړی دی. او هر چیرتـه یی د جنگونـو او مرکونـو اورونـه یـی بـل کـړي دي. او ددی ټولو ذمه داري دسرمایه دارانو په سرده.

لیکن سوال دادی چی داسرمایه داري څه شی ده؟ ایا ددی په بنیادو او تعـدادب کـی سود نه دی آچول شوی ایا ددی ټول عمارت دسود په اوبو او خټو نه دی جوړ شوی؟ دتعجب خبره داده چی داحتکار، اکتنار او ذخیره اندوزي په خلاف خو دقلـم ټـول زور استعمالولی شي لیکن بل طرف ته دغه ظالمانه او ناروا گټه لـه نظـره غورځـول شـوی چی دسود نفرت انگیز صـورت دی. الله دی وکـړي چـی دانـدین ویـو مـدیر تـه ددی توفیق هم پیداشي چی هغه په دغو بنیادي حقیقتونو باندی غور وکړي.

موږ دقرآن شریف ددغه آیت په تشریح کی دغه خبره عرض کول غواړو چی دسـود پـه دغه لوی ضرر او نقصان په سلسله کی د امیر او غریب ترمنځ هیڅ فرق نشي کیـدای، ایـا ددنیا دغه بحراني کیفیت څکـه دی چـی سـودله غریبانونـه اخسـتل کیـږي اوسـودي کاروبار چی دډیرو لویو لو یو کمپنیانو او لویو لویو سرمایه دارانو ترمنځ روان دی هغـوی دومره معصوم او بی گناه دي چی ددنیا دشکل خرابولـو او بـین الاقـوامي بحـران پـه پیداکولو کې دهغوی هیڅ دخل اولاس نشته.

(۲) د سود دویمه بدي چی قرآنکریم ورته اشاره کړیده هغه ظلم دی:

اقتصاد پوهان د زیاتی ګټي له نقصان اوبدي نه بنه خبر دي هغوی دیته ظلم او نا انصافي وایي. ځکه چی له تناسب نه زیاتي ګټي سره د بازار نرخ خرابیږي او منډیانی له زوال سره مخامخ کیږي. داچی اقتصادی ماهرین دیته ظلم وایي نو سود خولدینه هم زیات ظلم دی. ځکه د ګټي کولو په صورت کی په ګټه کی ستا یو حق خو ضرور و خوداچی تاپخپل اصل حق کی بی ځایه زیاتوالی وکړ مثلاً تاپه سلو کی شل د ګټی کولو حق درلود خوداچی تاد خلکو له ضرورت نه ناجائزه ګټه اوچته کړه او په سلو کی سل دی وګټل نودایو ناروا ګټه اوله خلکو سره ظلم دی. خوپه سود کی خوستا هیڅ حق نه و او دسلو روپو پرځای ناحقه دو سوه روپی آخلی او دا ډیر لوی ظلم دی. یعنی وضع الشیئ فی غیره محله.

حقیقت دادی چی یوی بد ترین ناروغی چی دهغی نوم بخل دی په انساني زړونو کی دهغه رنګ دومره پوخ شوی دی چی هیڅ قسم پراخه حوصله نشي زغملي، نن سبا د اقتصاد پوره نظام بخل. خودغرضی، حرص او دطمعی په خښتوقائم دی لکه چی، سود، لاټري او جواري ټولو رواج موندلی او هرڅوک یی خوښوي اودهغوی د تهذیب یو جز ګڼل کیږي. ددی برعکس دقرآنکریم ایتونه هغه فضا پیدا کول غواړي چی دهغی بنیاد وركړه. بخشش او همدردي وي، په حرص او طمع باندی لعنت وویل شي، له خود غرضی نه نفرت وشي اود بخیلی په اړه داعقیده وي چی داناروغي ده نوتاسی پخپله فکر وکړئ چی له بخل نه زیات بل کوم یو مرض لا علاجه کیدلی شي؟

همدغه وجه ده چی دقرآنکریم دا رکوع چی په هغه کی دسود پورتنی حرمت بیان شوی دی دهغه شروع له دغو ایتونو څخه کیږي.

الَّذِين يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (البقرة۲۶۲).

هغه کسان چی خپل مالونه شیږي، ورځي په ښکاره اوپټي طریقي سره خرڅوي، نو هغوی لپاره اجر دی دهغوی درب په نزد، پرهغوی به نه ویره وي اونه به غمګین کیږي.

له قرآن شریف نه د مدیر صاحب د باطل نظر تردید:

قرآنکریم یوه معجزه ده دهغه د اعجاز یو شان دا هم دی چی دکلام په سلسله کی هغه خیزونه راولي چی دغلطو تصوراتو تردید کوي داندين ويوز اعتراض که هرڅومره قوي وي مگر قرآني آيتونه دکلام دغه سلسله او سباق دغه اعتراض ختموي. وگورئ دسود د حرمت په اړه اخری ايت شريف.

وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (البقرة ۲۸۰)

که چیرته قرضدار تنگ لاسی وي (يعني فقير او غريب وي اود زکات مستحق وي) نوداصلي پانگې په اداکولو کې هغه ته مهلت ورکړئ. خوکه ورته دغه اصلي پانگه وربانډی خیرات کړئ نوداستاسی لپاره غوره ده که تاسی پوهیږئ. دا آیت پخپله داخبره څرگندوي چی سود لاندی امیر هم راتلی شي او غريب هم لـه دواړو نـه سود اخستل حرام دي. داچی دسود دحرمت حکم نازل شوی دی نود آیت مفهوم دادی:

۱_ لومړی مقروض سړی که هغه مالدار وي یاغریب د دواړو په باره کی دسود آخستونکي فرض دادي چی کوم سود پرهغه پاتی دی هغه ورته پریږدي. ذروا مابقي من الربوا.

۲. راس المال يعني داصلي پانگې په متعلق مالک ددی حق لري چی هغه ترینه واخلي خو قرآنکريم دهغه دحق درلودلو باوجود له مالک نه غوښتنه کړی ده چی که دقرضدار سړي لاس تنگ وي نو داصل پیسو په اخستلو کی پرهغه سختی مه راولـه هغه ته مهلت ورکړه چی‌په کلاره او په سهولت سره درته درکړي، يعني قرآنکريم دا واضح کړی چی له چانه سود آخستل کیږي په هغوی کی غريب او مالدار دواړه کيدی شي.

۳_ غريب لپاره داسفارش هم شوی دی چی د مطالبی اصلي پیسي (راس المال) دغه غريب ته صدقه کړي يعني ورته معاف یی کړي او څه ترینه وانخلي او دا ورته غوره ده.

د مقاله نگاره صاحب جدت:

دلته دصدقې لفظ راغلی دی نو مقاله نگار له دغه لفظ نه دا اجتهاد کړی دی چی له مالدارو خلکونه سود آخستل حرام نه دي اويواځی له هغو خلکو نه سود آخستل حرام دي چي پخپله دصدقې مستحق وي مقاله نگار صاحب دقران کريم يولفظ ته اختراعي

او مصنوعي معنی ورکړی اوپه دی سره په هغو ټولو ایتونو باندی د تسیخ کرښه راکش کړی ده چی وړاندی تیرشوي دي. که چیرته د مقاله نګار صاحب همدغه اجتهاد کار وکړي نو موږ ته دا امید سائل پکاردي چی مقاله نګار صاحب به غریبانو ته لمونځ هم معاف کړي ځکه چی په قرآن کریم کی ځای پرځای (اقیموا الصــلوة واتواالزکـــاة) لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ الفاظ موجـود دي، مقالـه نګـار صـاحب بـه دلتـه هـم دافیصله کوي چی لمونځ پرهغه چافرض دی چی پرچا زکـات فـرض وي، اوپرچاچی زکات فرض نه وي پرهغه لمونځ هم فرض نه دی. شاید هغه قمار تـه هـم جـائز ووايـي. بلکی ممکن دی چی فرض ورته ووایي، ځکه چی په بخـاری شـریف کـی دي محمـد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل چی کوم سړی بل سړي ته ووایـي راشـه قیمـار وکـړو نـو پرهغه ضروري ده چی صدقه ورکړي.

مقاله نګار صاحب باید داهم ووایي چـی قمـار هغـه چالپـاره حـرام دی چـی صـدقه ورکولی شي او کوم غریب چی صدقه نشي ورکولې نو هغه لپاره قمار حرام نه دی (معاذ الله).

که چیرته تحقیق همدا وي نو بیا دلغت کوم کتاب ته کتـل پکـاردي چـی دقرآنکـریم د توهین اوپه آیتونو او احادیثو باندی د استهزاء مطلب به څه وي؟ (معاذ الله).

دجوارو په بدله کی د باجری اخستل څه حکم لري ؟:

(۲۸۲_ سوال) یو سړی جوار په قرض آخلي په دی شرط چی په موسم کی به د جـوارو په بدله کی باجره درکړم او د دواړو ترمنځ فرق دی، په دی معامله کی شرعی حکم څه دی؟.

(ځواب) په دی شرط سره قرض نشي ورکولې همغه وخت ترینه واپـس اخسـتل ضروري دی که نو داسود دی.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1]–هو عقد مخصوص ای بلفظ الـقرض ونحوه یردعلـی دفع مال مثلـی خرج الـقیمة لآخر لیرد مثله وصح القرض فـی مثلی هو کل مایضمن بالــمثل عند الا ستهلاك لافـی غیره درمختار مع الشامی فصـل فـــی القرض ج ۵ ص ۱۶۱.

دسود پیسی د زکات په توګه ورکول اوپه هغه کــی حیلـه کــول څنګه دي؟

(۲۸۳_ سوال) له یوسړي سره دسود پیسی دي هغه د زکات حقدار ته داپیسی دهدیه په توګه په دی شرط ورکوي چی لدینه لږ غوندی پیسی دبخشش پـه توګـه ماتـه راکـړه غریب هغه پیسی دثواب له نیت نه پرته قبولی کړی او اصلي مالک ته یی ترینه څه پیسې بیرته د بخشش په توګه ورکړې ایاداقسم حیلـه کـول صـحیح ده؟ ددغـو پیسـو د مالـک مقصد دادی چی دغه پیسې پخپل کاروبار کی خرچ کړي.

(ځواب) په سودي پیسو کی حیله کول صحیح نه دی‌لهذا په دا ډول حیلـه کولـو سـره سودي پیسې دغیر مستحق مالدار لپاره حلالی نه دي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

په سرکاري قانون سره د خرڅې شوی زمکی دپیسو د سود حکم:

(۲۸۴_ سوال) دبمبـی حکومـت د ٦/ ۲۳ دقـانون پـه مطـابق د هقـان دزمکـې مالـک ګرځیدلی دی. مالک زمکه نه خرڅوي مګر حکومت ددغه قانون په مطـابق د ادائیګـي په شرط په لسوکلونو کی (دقسطونو په صورت کی) په معمولي قیمـت سـره دازمکـه پـه دهقان باندی خرڅوي، حکومت بیادغه پیسې له سود سره یوځای له دهقان نـه آخلـي او دزمکې مالک ته ورکوي.

اوس سوال دادی چی دسرکار ددغی ټاکلی قیمت کوم سود چی ترلاسه کیږي ایا هغـه شرعاً په سود کی راځي او کنه ؟ او ایا مالک دغه د سود پیسې استعمالولی شي؟

(ځواب) کله چی مالک پخپله زمکه نه خرڅـوي اود حکومـت پـه ټـاکلی نـرخ بانـدی خوشاله نه دی چی داله اصل قیمتِ نه کـم دی.نـو پـه دی حالـت کـی حکومـت لـه دهقان نه د ټاکلی قیمت سره سودي رقم هم هغه ته ورکوي نو هغه سود کی نه راځي، نو څکه د زمکې مالک پخپل استعمال کی راوړلی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته دبانک له سودي پیسو نه تنخوا ورکـړی شـي نـو دهغـی آخستل څنګه دي؟

[1]- الـحرمة تتعد مع الـعلم بها الا فـی حق الوارث وقیده بان لایعلم ارباب الا موال قال فـی الشامیة تحت الحرمة تتعدد الخ ما لورأی الـمکاس مثلا یأخذ من أحد شیئاً من الـمکس ثم یعطیه آخر ثم یأخذ مـن ذلـك الآخر فهو حرام. در مختار مع الشامی، باب بیع الفاسد مطلب الحرمة تتعدد ج ٥ ص ۹۸.

(۲۸۵ سوال) زه په یوه مدرسه کی ملازم یم ماته چی کومه تنخوا راکـول کیږي هغه دبانک له سودي پیسونه وي دا تنخوا جهانګیر خیراتـی فنډ د اداری لـه خـوا ورکـول کیږي. دلته سوال دادی چی زه له دغو سودي پیسو نه خپله تنخوا واخلم او که نه؟

(ځواب) له سودي پیسونه باید تنخوا وانخستل شي ځکه چـی دا حرامـی دي. او تـا تـه دی په داسی طریقې سره تنخوا درکړي چی هغوی له چانه پیسی واخلي اوتاته دی لـه همغه نه تنخوا درکړي اوبیا قرض دی له همـدغو سـودي پیسـونه اداکـړي د ګنجـائش همدغه یو صورت دی او بس . والله اعلم بالصواب.

که چیرته د ټریکټر د آخستلو په صورت کی له سود سـره دهغـه قیمت ورکړی شي نو داځنګه دی؟

(۲۸٦_ سوال) زه یو بزګر یم غواړم چی ټریکټر واخلم ځکـه چـی دزمکـو د کرلـو لپـاره ددی زیات ضرورت دی. داپه بازار کی نه خرخیږي بلکی له عـالمی بانـک نـه آخسـتل کیږي. عالـمی بینک خریدار ته د اسانی لپاره پـه قسطونو خرخـوي او د هـر قسـط د اداکولو په وخت لږ غوندی سود ورکول هم ضـروري وي، اوس سـوال دادی چـی لـه عالمی بینک نه په داسی طریقې سره د ټریکټر آخستل ځنګه دي؟

(ځواب) داقسم آخستل چی په قسطونو کی ورسره سود هم ورکوي روانه دی لـه اصلـي قیمت نه زیاتی پیسې د مهلت په عوض کی آخستل کیږي‌لهذا له ټریکټر نه پرتـه ګـوزاره وکړه او لږ فصل باندی قناعت وکړه. او که بیاهم آخستل یی ضروري وي نوپه یـو مشـت یی واخله ترڅو د قسطونو په صورت کی سود ورنه کړې، له اضطراري حالت نه پرتـه لـه سود سره د قسطونو ورکول جائز نه دي په دارالحرب کی له کافر نه سود آخسـتل جـائز دي خو د ورکولو اجازه نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

دبـانک سـود :

زمونږ په عـلاقه کی د زمکو او جایدادونو قیمـت دومـره ډیـر شـوی دی چـی اوس لـه چاسره دوه درې زره پاونډه وي نو هغه هیڅ قسم جایداد او زمکه نشي آخسـتلی، اوکـه چاته څه زمکه په لاس ورشي نو دهغه هیڅ آمدني نشته، له نن نه لـس کالـه وړانـدی دا حالت نه و. له چاسره دوه دری زره پاونډه وي هغه په اداره کې ورکړ ي نو دلس فیصد په حساب سره کال کی ورته دوه درې سوه روپۍ سود ورکول کیږي چی دیوی کونډې

ګوزاره وربانډی کیږي دا اداره کفار چلوي سوال دادی چی ایا زمونږ په ملک کی ددی جواز او ګنجانش شته.
(۲) همدغه راز په بانک کی چی کومی پیسی ایښودل کیږي اوپرهغه سود ورکول کیږي نو آیا ددغو پیسو سود د حکومت په ټیکس یادموټر په بیمه کی ورکولې شي او که نه ؟
(خواب ۱) په یوه اداره کی په دی خاطر پیسې جمع کول چی سود وربانډی واخلي صحیح نه دی داد اضطراري او مجبوري صورت نه دی، که داپیسې د زمکې یا د نورو جایدادونو داخستلو لپاره کافي نه وي نو ورکوتې تجارت یا مضاربت لپاره خو کافی دی. په دارالحرب کی هم امام ابویوسف او دری مذاهبو مسلک دنه جواز دی محققو علماو او محتاط حضراتو هم همدغه غوره کړی ده، ځکه چی د سود وعیدډیر سخت دی له ۳٦ زناګانو څخه هم بدترین ګناه لري. (مشکواه باب الربوا ص ۲۴٦). معاذ الله له مور سره دزنا کولو څخه هم سخته ګناه ده، دا هلاکوونکی دی. قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اجتنبوا السبع الموبقات.(مشکوة الکبائر و علامات النفاق ص ۱۷). ددغو اووه و هلاکوونکو څخه یو سود هم دی. همدغه راز د عمر رضی‌الله عنه ارشاد دی: (دعوا الربوا والریبة مشکواة باب الربوا ص ۲٤٦) ربوا و شبه ربوا هم پریږدئ. او فرمایلی یی دي وترکنا تسعة اعشار الحلال خشیة الربوا. یعنی دحلال له لسو حصونه یوازی هغه یوه حصه اخلو چی په هغه کی د سود یوه ذره هومره هم شک نه وي که یوه زره هومره هم د سود شک او شبه وي هغه مونږ پریږدو. لهذا حرام او مشتبه طریقه د رزق ذریعه مه ګرځوئ.
قوله علیه السلام من التقی الشبهات استبراء لدینه وعرضه ومن وقع فی الشبهات وقع فی الحرام. مشکواة باب الکسب وطلب الحلال ص ۲٤۱ .
یعنی کوم خلک چی له مشتبه څیزونو څخه ځان ساتي هغه خپل دین او ابرو بچوي. او څوک چی په مشتبه څیزونو کی غورځیږي هغه بالاخر په حرامو کی غورځیږي.
(۲) له بانک څخه چی کومې پیسې دسود په توګه ستا لاس ته راغلي دي پخپلو ذاتي کارونو کی دهغوی استعمالول جائزنه دي، البته حکومت چی کوم ټکس لګوي یا په کور باندی کوم ټیکس لګوي یادموټر انشورنس د حکومت له طرف نه لازمی دی په هغو کی ددغو پیسو ورکول لازمي دي. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا بیمه کول جائز دی اوکه نه ؟

(۲۸۸) سوال : کاریکرانو ته چې په کارخانو کې د کارکولو څه نقصان یا تکلیف وي نو دهغه بیمه کوي، دکارخانې مالک له دې سره هیڅ تعلق نه لري چې کاریکر ته کوم نقصان یا تکلیف ورسیږي، بلکې ددې مسئول بیمه کمپنی وي. ایا داجائز دی اوکه نه؟ که چیرته د کارخانې مالک په دې کې څه مرسته وکړي نو دا ورته رواده اوکه نه؟

(جواب) کمپنی دخان اوسال هیڅ قسم حفاظت نشي کولې څه چې کیدونکې وي هغه ضرور کیږي کمپنی هیڅ قسم حفاظت نشي کولې، البته هغه په قانوني توګه دنقصان ذمه داري او مسئولیت قبلوي، یعنې کوم چې دکمپنی په نظر کې نقصان ثابت شي دهغه د اداکولو ذمه وار وي اودهمدغه ذمه واري په نوم هغه له تاسونه پیسې آخلي اوپه همدغو پیسو سره هغه خپل کاروبار کوي چې پکې دسود کاروبار هم شته. په هر حال که څه هم ستاسې تعلق همدوسره دی چې تاسوته دنقصان معاوضه درکړې شي دافرض کړئ چې که چیرته ستاسې نیت داوي چې تاسې له خپل نقصان نه زیات نه آخلئ یاڅه چې اخلو هغه په غریبانو باندې ویشو. نو ددې ټولو خبرو باوجود واقعه داده چې دا یوقسم سودي کاروبار دی چې د قمار یو ډول پکې هم موجود دی.

د اسلام مخصوص تعلیم دادی چې قمار اوسود دواړه حراموي،لهذا په دې کې شرکت کول جائز نه دي. البته که بیمه کوونکې کمپنی د هنګامو او طوفان په وخت کې راځئ او مدافعت کوي یاد مدافعت کولو ذمه واروي نو بیا دجواز ګنجائش پکې شته. هغه هم په دې شرط سره چې کوم فاضل او زیاتې پیسې دي هغه له خپل ځان سره کښیږدي. بلکې کوم حاجت مند ته دې ورکړي. فقط والله اعلم بالصواب.

دبانک دسود په متعلق پرفتوه باندې تنقید اودهغه ځواب اود لویو علماو تائید:

جناب مفتي صاحب مدظله !

له مسنون سلام نه وروسته عرضدادی چې فتاوی رحیمیه جلد ۲صفحه نمبر ۳۲۵ کې د بانک دسود په متعلق فتوه ده چې:

دامسئله مختلف فیه ده، غریب او مسکین ته ورکول غوره دي، دخیر ښیګڼې او رفاه عامه کارونو کې لګول جائز دي، خود مسجد په کارو کې نشي لګولې البته د مسجد دبیت الخلاء په مرمت کې لګولې شي. فقط والله اعلم با لصواب.

په دی فتوه باندی ماهنامه تبلیغ (گجراتی) که مفتی اسماعیل کچولوي صاحب ډیر سخت تنقید کړی دی او لیکلـی یی دي چـی دبانـک سـودي پیسـی درفـاه عامـه اوخیرښیګنی په کارونو د لګولو هیڅ ګنجائش او جواز نشته، داد لقطی په حکم کی دي دا واجب التصدق دي یعنی لازمی دي چی داصدقه کړی شي، پـه دی کـی دزکـات پشان تملیک شرط او رکن دی. کله چی دصدقی لفظ مطلقاً وویـل شـي نـو دفقهـاو پـه عرف کی هغه واجب التملیک وي او حواله یی د ((اشباع الکلام فـی مصـرف الصـدقه من المال الحرام)) ورکړی ده ستاسی له طرف نـه ددی خلاصـه شـائع کـول ضروري دي ځکه چی خلک منتظر دي. فقط والله اعلم بالصواب. (الحاج) احقر عمر منوبري دارالعلوم کنتهایه (بهروچ).

(په دی مسئله کی تفصیلی بحث (احکام مساجد و مدارس کی) شـوی دی همغلتـه یی وګورئ) (مرتب).

خلاصه : بحمدلله تعالـی و سبحانه : دفتاوی رحیمیـه مسـئله پخپـل ځـای صـحیح ده او دلیل لپاره دا عبارت کافی دی :

وقال وما اوجف الـمسلمون علیه من اموال اهل الحرب بغیر قتالٍ یصـرف فـی مصالح المسلمین کما یصرف فـی الخراج قالوا هو مثل الاراضی. (هدایه ص ۵٦۷، ج ۲ کتاب السیر).

ددې فتوی په موافقت او تائید کی دشریعت د مفتیانو او محققینو ګنې فتوی ستاسی پـه خدمت کی پیش کولی شي وی ګورئ :

د مفتی اعظم حضرت مولانا کفایت الله صاحب فتاوی :

استفتاء (۱) منجانب مولوی عبدالحی صاحب نـاظم جمعیـت علمـاء صوبه آګـره کـال ۱۹۲٦ ع.

په دی زمانه کی دیانت او اعتماد ختم شوی دی خـو خـوځلی تجربـه شـ ـ ده چـی خلک په امانت کی خیانت کوي. نوکه ددغی فتنې او فساد په زمانه کی د کوم سجد پا اوقاف آمدنی د حفاظت په غرض په بانک کی کیښودل شي او کومی پیسې چـی بانـک دسود په توګه ورکوي که هغه وانخستلی شي نو دعیسویت دخپرولو او اشاعت لپـارد یی استعمالوي او ډیر خلک د عیسویت په دین اړوي که چیرته دسود دغـه پیسـې واخـستلی

شي په کوم سه کار یا د اسلام په اشاعت کی خرچ کړی شي ایا داسی کول جائزدي اوکه نه بینوا توجروا.
(ځواب) په بانک کی باید دسود پیسې پری نښودلی شي ځکه چې هغه پیسې مسیحي مبلغینو ته ورکوي او دمسیحیت په تبلیغ کی لګوي نو دغه پیسې دهغه سبب ګرځي اوپه ګناه کی شریکیږي، نولهذا دغه پیسی دی له بانک نه واخلي اود اسلام د تبلیغ او اشاعت لپاره دی ولګوي. فقط والله اعلم بالصواب. محمد کفایت الله کان الله له رساله عمدة الوسیلة در جواز اخذ الربوا باحیلة ص۳.
(استفتاء)
(ځواب) په بانک کی دجمع شویو پیسو سود دی له بانک نه واخلي او دکوم رفاه عام په کارونو کی دی ورکړي. الخ. محمد کفایت الله کان الله له، مدرسه امینیه ډهلي (الجمعیته نمبر۹۱۷ ربیع الاول کال ۱۳۴٦ ه، مطابق ٦ ستمبر ۱۹۲۷ ص ۳_ ۴)
(استفتاء)
(ځواب) د بینکونو سود دی د رفاه عامه په کارونو کی خرچ کړی شي اوپخپل ذاتی کارو کی په استعمالولو دی احتیاط وکړي. الخ بنده احمد سعید عفی عنه مدرسه امینیه دهلی.
ځواب صحیح دی محمد کفایت الله مدرسه امینیه دهلي (الجمعیت ج ۷_ ۸ شعبان المعظم کال ۱۳۴٦ ه مطابق ۲۹ جنوري ۱۹۲۸ ع).
(استفتاء)
(ځواب) له سرکاري او غیر سرکاري بانکونو څخه سود آخستل ځکه جائز کړی دي چې دنه اخستلو په صورت کی دسود پیسې مسیحي مبلغینو ته ورکول کیږي اوهغوی د مسیحیت په تبلیغ کی لګوي، مسلمان دی دسود پیسې له بانک نه واخلي او رفاه عامه په کارونو کی دی ولګوي. محمد کفایت الله غفرله مدرسه امینیه دهلي.
(الجمعیه دهلی یوم یکشنبه ۷ جمادی الاولی ۱۳۵۰ هـ کالم نمبر۳ ص ۳).
(استفتاء).
(ځواب) له بانک نه دی واخلی اودغه پیسې دی د رفاه عامه په کارونو کی د وبال درفع کولو په نیت دی خرچ کړي. محمد کفایت الله کان الله له، مدرسه امینیه ډهلی (۲۹ نمبر۱۲۹ الجمعیه ۴ رجب سنه ۱۳۵۲ هـ مطابق ۲۴ اکتوبر ۱۹۳۲ ع).
(استفتاء)...

(جواب) کومې پیسې چې په بانکونو کی جمع کړی شي نودهغه سود دی له بانکونو نه ضرور واخستلی شي ترڅو په دی ذریعه دمسیحي مذهب تبلیغ او د مسلمانانو مرتد کولو گناه ونشي. د پیسو د ترلاسه کولو نه وروسته دی دخیر ښیگڼی په کارونو کې ولگوي مثلاً یتیمو او نادارو شاگردانو ته کتابونه آخستل یاپه مسافرو باندی خرچول. یاپه کوهیانو او سړکونو باندی رغاکول. داټول ضرورتونه جائز دي. البته په مسجد کی دی خرچ نه کړي ځکه چې داد مسجد د تقدس لپاره نامناسب دی. والله اعلم وعلمه اتم. محمد کفایت الله کان الله له دهلي.
(دافتوه جامعه حسینیه راندیر په کتب خانه کی موجوده او محفوظه ده.)

د حضرت مولانا مفتی سعید احمد صاحب مفتی اعظم مظاهر علوم فتوی :

(استفتاء) که چیرته له چاسره دبانک یا بیمه کمپنی دسود پیسې وې نوپرهغه دی څه وکړي؟ ایا د رفاه عامه په کارونو، سړکونو، کوهیانو او د مسجد د بیت الخلا گانو په جوړولو کی استعمالولی شي او که نه؟ اوکه په دی کی تملیک شرط دی؟ بینوا توجروا.
(جواب ۱۸۷) فقراو ته ورکول زیاته غوره ده، له مسجد نه علاوه بیت الخلاء او نورو کارونو کی هم د استعمالولو جواز او گنجائش شته دا مختلف فیه مسئله ده. فقط والله اعلم بالصواب.
سعید احمد عفرله ، مفتـی مظاهر علوم سهارنپور ۲۵/ ۱۲/ ۷۷ .

دشیخ الاسلام حضرت مولانا حسین احمد مدنی فتوی :

لومړی فتوی :

شیخ الاسلام حضرت مولانا حسین احمد مدنی لیکلي دي چې په هندوستان کې کوم بینکونه دي له هغونه ځینې د اروپایانو دي هغوی د اسلام دښمن او مخالف دي. دوی سودي پیسې د عیسویت د تبلیغ لپاره پادریانو ته ورکوي نو ځکه له بانک نه دسودي پیسو نه آخستل لویه فتنه پیداکوي. لهذا مفتیانو په دی خبره فیصله کړی ده چې له بانک نه سودي پیسې ضرور واخستل شي په بانک کی له پریښودلو نه په سمندر کی غورځول ښه دي. (مکتوبات شیخ الاسلام ص ۱۹ ج ۱).

دویمه فتوه:

په سرکاري او غیر سرکاري بانکونو کی چی مالک یی کافر وي دپیسو ایښودل جائز نه دي ځکه چی هغوی په دغو پیسو سره کار او بار کوي او ګټه ترینه آخلي او همدغه ګټه د اسلام او مسلمانانو په خلاف استعمالوي. خوکه چاخپلي پیسي پکي آچولی وي نو سودی ګټه دی هغوی ته نه پریږدي بلکی لـه هغوی نـه دی واخلي او دمسلمانانو د خیرښیګڼي په کارونو کی دی ولګوي. په عالمګیري کی دي:

ومن اوجف المسلمون علیه من اموال الحرب بغیر قتال یصرف في مصالح المسلمین الخ جلد ۲ کتاب السیر ص ۲۱- د زیات تفصیل لپاره رد المختار ج ۳ ص ۱۳۷ اوشرح سیر الکبیر ج ۳ ص ۲۱٤- ۲۱۷- ۲۲٦- ۲۲۸-۲۲۹ عالمګیری ص ۲۱۰ او نور ولولي. (مکتوبات شیخ الاسلام ص ٦۷ ج ۲).

د اشاعت او تبلیغ شعبه جامعه عربیه حیات العلوم مراد آباد له طرف نه د ژوند خو مسائلو په نوم یو پوسټر چاپ کړی دی له هغه نه مونږ یوه مسئله آخستی ده چی په لاندی ډول ده.

مسئله:

په بانکونو او نورو ادارو کی پیسې جمع کول اوپرهغه سود آخستل حرام دي، لیکن هلته دپریښودلو پرځای دی ترینه واخلي او دلارو. سړکونو، کوهیانو او نورو دخیر ښیګڼي په کارونو کی دی ولګوي، په دغو پیسو سره دیتیمانو، مسکینانو او قرضدارانو مدد او مرسته کول هم صحیح دي، له هغو مظلومانو سره هم مدد کول صحیح دي چی هغوی په ناحقه نیول شوي وي، خود ثواب په نیت دی نه ورکوي ځکه چی چاته دحرام مال په ورکولو سره ثواب نه ترلاسه کیږي.((چند مسائل زندګی مسئله نمبر۴).

دحضرت مفتی محمود حسن ګنګوهي مدظلهم فتوی :

(سوال) زیدپه بانک یا ډاکخانه کی پیسی جمع کړی اودقانون په مطابق هغه ته سود ورکړل شو ایاهغه داپیسی پخپل کار کی لګولی شي اوکه نه؟ (انوار الانصاري کانپوري).

(خواب) غوره خبره داده چی غریبانو ته دی صدقه کړي په دی نیت سره چی الله تعالی له دی ګناه نه ماوساتي. خود ځینو علماو په نزد پخپلو کارونو کی دلګولو ګنجائش هم شته. (ماهنامه نظام کانپور، بابت ماه شعبان المعظم ۱۳۸۳ هـ جنوري ۱۹٦۴ء

په رساله ((اشباع الکلام فـی مصرف الصدقة من المال الحـرام)) کی ددې تشریح هم شته چی دحرام او خبیث مال دصدقه کولو حکم پـه یوخاص اصل بانـدی مبنی دی، هغه داچی د کومو مالونو مالک معلوم نه وي یاهغه ته رسیدل نـاممکن وي هغه د تعطی په حکم کی راځي او د تعطی حکـم دادی چـی کلـه دمالـک دپیداکیدو امکان ختم شي نو دهغه مالک له طرف نه دی صدقه کړی شي الخ ، فتاوی دارالعلوم دیوبند_ امداد المفتین ص ۱۰۷ ج ۷_۸).
دبانک پیسې د لقطی په حکم کی نه دي دهغه مالک لاپته او نامعلوم حو نـه دي . هغـه ته رسیدل هم ناممکن نه دي. داپیسې واجب الرد هم نه دي بلکې واجب الاخـذ دي. له بانک نه یې اخستل ضروري دي. نولهذا له بانک نه دی واخسـتل شـي او غریبانو تـه دی ورکړی شي اوپادی د مسلمانانو دخیر ښیګڼې په کارونو کی ولګولی شـي یقینـا پـه بانک کی پیسې بعینه محفوظ نه پاتی کیږي بلکې په کاروبار کی لګول کیـږي لهـذا هغـه امانت نه دي بلکی قرض ګرځي او دګټې مالک همغه ګرځـي نـو ځکـه داد لقطـی پـه حکم کی نه راځي. په امداد الفتاوی کی دي.
په بانکونو کی چی کومې پیسې آچول کیږي دهغه پـه قواعـدو کـی داخبـره یقینـی ده چی هلته بعینه امانت نه ایښودل کیږي بلکی په هغـو بانـدی کـار اوبـار کیـږي اودینـه بقاعده الـمعروف کالمشروط د جمع کوونکو له طرف نه ددی اجـازه ورکـول کیـږي او دتصرف اجازه ورکول ورته قرض کی راځي. (ص ۵۰۲ ج ۲).
کله چی دصدقه او تصدق لفظ مطلق وویـل شـي نو ځمـه واجـب التصدق او واجـب التملیک کیږي. داکلیه نه ده، صدقه او تصدق عام دی واجبه او نافله دواړوته شـامله ده دلیل اوقرینه له موقع او محل نه معلومیږي لکه چی په کتابونو کی راځي
فیصدق بجلدها وتصدق بثمنه (جوهرة بـشرح وقایه درمختار وغیره).
یعنی دقرباني څرمن دی صدقه کړی شي او که هغه خرڅ کړی شو د نو دهغه قیمت دی صدقه کوي. دڅرمن صدقه کول مستحب دي پخپله یې هم ساتلی شـي. مالدارتـه هـم ورکول کیدای شي ، خوکه خرڅ کړی شي نـو دهغـه قیمـت صدقه کـول واجـب دي پخپله یی په جیب کی نشي ساتلی او مالدار ته هم نشي ورکولی
فیصدق_ تصدق مطلق دی ، لیکن په یوځای کی استحبابي حکم دی او بل ځای کـی وجوبي لهذا واجبه صدقه او واجب تصدق ترمنځ هم فرق دی او دواړو حکم یونـه دی . په الطرائف والظرائف کی دي

فقهي نكته :

فــرق بين الصدقة الواجبة والتصدق الواجب فلايعطى احد حكم الآخر فلا يلـــزم ان من. لايكون مصرف الاول لايكون مصرف الثانى كاللقط. جوز صرفها الـــــى بـــنى هاشم مع عدم كونهم مصرف الصدقة الواجبة. (ص۴۲ ج ۱).

كه چيرته دالقطه هـم ومثـل شـي نـو بيـاهم درفـاه عامـه او خيرښيگڼې پـه كـارو كـې دمصرفولو گنجائش موجود دى فقهاو كرامو دبيت المال څلور قسمونه بيان كړي دي.

(۱) الغنائم والكنوز والركاز. (۲) بيت المـال المتصـد . (۳) خـراج الارضـى وغـيره دبيـت المال ضوائع يعنى دلقطو مصرف دهغو شيانو پشان چى وارث ونه لـري يـايي وارث وي مگر هغه ته بيرته نشي وركول كيداى نو دهغه مصرف هغـه صـورتونه دي چـى گټـه يې تولو مسلمانانو ته رسيږي لاكن په هدايه او زيلعى كى دي چى كوم مصالح په مسـلمانانو باندى مصرفيږي هغه له دريم ډول څخه دي يعنى خراج الاراضى وغـيره لدينـه معلـوم شو چى دلقطو په مصرف كى اختلاف دى. درمختار او نورو كتابونو دلقطى مصرف رفـاه عام ښودلى دى‌او هدايه ليكلي دي چى كوم مصالح په مسلمانانو كـى مصـرفيږي هغـه خراج الارضى او نور څيزونه دي. (درمختار شامي جلد نمبر۴ غايته الاوطار جلد نمبر۴).

دسخت خطرې په حالت کی دکور، دکان او دفيکټرۍ بيمه کول :

(۲۸۹ سوال) له مسنون سلام نه وروسته مهرباني وكړئ زما ددغې مسئلې ځواب راكـړئ؟ دابنكاره خبره ده چى مفتيان صاحبان دبيمى په سلسله كى دعدم جـواز فتـوه وركـوي ليكن نن سبا دفتنـى اوفساد زمانـه ده، هـره ورځ فسـادونه كيـږي، كورونـو، دوكـانونو، كارخانو او فيكټريانو ته دنه زغملو تـاوان رسـوي، اودا تجربـه ده چـى د كومـو كورونـو دكانونو او كارخانو بيمه شوي وي هغوته نقصان نه رسوي، كـه چيرتـه پـه دغـو حـالاتو كى‌دغه پورتنى بيان شوي شيان بيمه كړى شي نوايا داشرعاً جـائز دي اوكـه نـه؟ بينـوا توجروا. (مرحوم منشي عيسى بهاى، كاوي ضلع بهروچ).

(ځواب) حـامد و مصليا ومسلماً، بيمه كمپنى به ذات خود كور دكان، كارخانه، فيكټري او دانسان د ځان حفاظت او نگراني نه كوي نوځكه دغه معامله داجاره په عقد كـى پـه داخلولو سره داشتراط ضمان علـى الاجير حكـم نشـي لكيـدلى. دا معاملـه لـه سـود او قمارنه مركب ده، نوپه دى وهم په دى كى دسود اوقمـار دواړه قسـمه گناهونـه كيـږي اودا داسى غټ گناهونه دي چى حلال گڼل يى سړى كفرته راكـاږي لـيكن پـه سـوال

کی چی کومو خطرونو ته اشاره شوی ده هغه هم واقعیت لري او دبیمه کولو په صورت کی دفسادیانو له بدنظر نه دکان او نور شیان په غالب گمان محفوظ پاتی کیږي. نوځکه دفقه قانون ((الضرر یزل)) په نظر کی نیولو سره دخطري ځیزونو دبیمه کولو گنجائش او جواز معلومیږي په دی شرط چی په بیمه کمپنی کی کومې پیسې جمع کړي دي له هغونه چی څومره زیاتی پیسی ترلاسه شي هغه په غریبانو او محتاجانو باندی دثواب له نیت نه پرته وویشل شي اوپخپل ذاتی مصرف کی دی بالکل ونه لګول شي. خوکه خداناخواسته پخپله محتاج وي نو له علمای کرامو نه دی پوښتنه وکړي اودخپل ضرورت مطابق دی خرچ کړي. فقهي قاعده ده چی الضرورة تبیح المحظورات، (ضرورت ناروا شیان مباح کوي) اودانیت دی بلکی وساتلی شي چی داقتصادي حالت له ښه کیدو سره به دغه پیسې غریبانو ته ورکړي. دسودي پیسو له ډیر مجبوریت او اضطراري حالت نه پرته پخپل استعمال کی راوستل حرام دي په دار الحرب کی هم له خپلو وطندارانو سره سودي معامله کول صحیح او جائز نه دی. په دارالحرب کی دمال د اباحت وجه د دار او ځای اختلاف دی او هغه صورت په هندوستان کی نشته.

په احادیثو کی دسود ډیر سخت عذاب بیان شوی دی. په یو حدیث کی دي:

عن جابر رضی‌الله عنه لعن رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (مسلم شریف ص ۲۷) (مشکوة شریف ص ۲٤٦ باب الربوا).

له حضرت جابر رضی‌الله عنه څخه روایت دی‌هغه وایي چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دسود ورکوونکي او آخستونکي، دسودي کاروبار لیکونکي اوپه دی باندی گواهي ورکوونکی باندی لعنت کړی دی اوفرمایلی یی دي چی په گناه کی ټول یو برابردي.

په یوبل حدیث کی دي:

اجتنبوا السبع الموبقات. له اووه هلاکوونکو ځیزونو څخه ځانونه وژغورئ. اصحابو عرض وکړ یارسول الله ! وَماهُنَّ یارسول الله ! هغه اووه هلاکوونکي شیان څه دي؟ محمد صلی‌الله علیه وسلم دا ووه شیانو یادونه وکړه له هغوی نه یو اکل الربوا (سود) خور دي. (بخاری، مسلم بحواله مشکواه ص ۱۷ باب الکبائر و علامات النفاق).

په یوبل حدیث کی دي:

عــن ابــی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم الربوا سبعون جزءا ایْسرُها ان ینکح الرجل امه. (مشکواة ص ۲٤٦ باب الربوا).

له ابوهریره رضی‌الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایـل: دسود کاروبار کوونکي خلکوته اویاقسمه ګناهونـه رسیږي، چـی پـه هغـو کـی د ادنـی درجې ګناه داده چی انسان له خپلې مور سره زنا وکړي.

دحضرت عبدالله بن حنظله غسیل الملائکه څخه روایت دی:

قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم درهم ربوایا کله الرجل وهو یعلم اشد من ســتة وثلثین زنیة (مشکوة شریف ص ۲٤٦ باب الربوا).

محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل د سود یو درهم خوړل ددی باوجود چی پوهیږي دا سود دی دالله په نزد له شپږ دیرش کرته زنا څخه هم ډیر زیات ګناه لري.

بل داچی دالله تعالی اودهغه درسول له طرف نه د سود خوړو په خلاف دجـنګ اعـلان دی په قرآنکریم کی دي:

فَاِنْ لَمْ تفعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللّٰهِ ورسُوله○. (البــقرة: ۲۸۰).

که چیرته له سود خوړلونه لاس نه اخلئ نو دالله اودهغه درسول لـه طـرف نـه دجـنګ اعلان واورئ. (سوره بقره).

لنډه داچی بیمه ددغو نصوصو په رڼا کـې قطعـاً جـائز دی، مګرپـه عـارضـی توګـه دځـه وخت لپاره ، ترڅو پوری چی دخطرې حالات وي ددکان یادکور اوفیکټري دفسـادیانو له شرارت څخه دمحفوظ ساتلو په غرض دپورتنیو بیان شویو شرائطو پـه نظـر کـی نیولـو سره چی (زیاتی پیسې به غریبانو ته ورکولی شي) اوکه دضرورت په وخت کی دی څـه پیسې پخپل ذاتي کار کی لګولی وی نو بیادخوشالي ژوند له راتلونه وروسته هغـه پیسـې هم خیرات کړې).

دبیمه کولو ګنجائش شته خو عمومي اجازه نشته.

هذا ماسنح لی الآن فقط والله اعلم بالصواب.

له سودی پیسو نه ټیکس ورکول :

(۲۹۰_ سوال) د حکومت له طرف نه چی کوم ټیکس لګول کیږي لکه دکورونـو ټـیکس د آمدنـی ټـیکس او داسـی نـور ، ایـاددغو ټیکسـونو د ورکولـو لپـاره سـودي پیسـې استعمالولی شوو او که نه ؟ بینوا توجروا.

(خواب) دبانک دسود اصلی مصرف خو غرباء او مساکین دي، درفاه عامه په کارونو کــی هم لګيدلی شي، پخپله دی ترينه ګټه نه اوچتوي، ليکن کــه چيرتــه د حکومــت لــه ډيــر ټيکــونو څخه ډير زيات په تنګ راغلی وي اودهغوی د ورکولــو لپــاره مجبــور وي نوبيــا ورته اجازه ده، خوله مجبوريت نه علاوه دی نه استعمالوي فقط والله اعلم بالصواب.

په مسئوله صورت کی دژوند د بيمه کولو څه حکم دی :

(۲۹۱_ سوال) حکومت دتاجرانو له آمدني نه دری حصی د ټيکس په توګه اخلــي مګــر دژوند د بيمه کولو په صورت کی دوه حصی معافوي نو آيا په داسی صورت کی د ژونــد بيمه کيدای شي؟ د بيمه کولو مقصــد دادی چــی حکومــت زمونــږ پــه جــائزې ګټــې او کمايی باندی قبضه ونه کړي. که چيرته د ژوند بيمه ونکړی شي نو حکومت له تجــارتی ګټی نه دری برخې اخلي بينوا توجروا.

(خواب) دخپل روا ګټی دبچ کولو په خاطر په دی ترکيب باندی عملی کيدی شــي پــه دی شرط چی په دی معامله کی کومی زياتې پيســې ترلاسه کــړی شــي هغــه پــه غربــا او مــکينانو باندی صرف کړی شي. او پخپلو ذاتی کارو کی هرګز مصرف نه کړی شي. خــو دژوند بيمه کول دتقوی او احتياط نه مخالف کاردی. فقط والله اعلم بالصواب.

دبانک دسود په پيسو دغريب سړي په کور کی بيت الخلا جوړول :

(۲۹۲_ سوال) که چيرته يوسړی د سود په پيسو دغريبو او خپلوانو د کورونو بيت الخــلا جوړه کړي نوداځنګه دی؟

دسودي پيسو د اخستلو په وجه چی کوم مسئوليت وي ايااله هغه نه اوړی يــې ســپکيږي اوکه نه؟ بينوا توجروا.

(خواب) هو جوړولی شي اوپه دی صــورت کــی ســړی دســودي پيســو لــه زمــه واري او مسئوليت څخه بری الذمه کيږي. فقط والله اعلم بالصواب.

دسود آخستلو په غرض د کفارو په کمپنۍ کې دپيسو جمع کول:

(۲۹۳_ سوال) يو مسلمان غواړي چی خپلې پيسې د استراليا په يو غير مسلم کمپنۍ کــې جمع کړي اوله هغه نــه ســود واخلــي. ايااداســی کــول هغــه لپــاره جــائزدي اوکــه نــه؟ بينواتوجروا.

(خواب) کله چی الله تعالی چاته حلال رزق په نصيب کړی وي نو هغه دی پــه جــائزې طريقې سره زيات کړي، په دی سره دی تجــارت وکــړي، کــه تجــارت نشــي کــولې نــو

مضاربت دی وکړي، یو کور دی واخلي او هغه دی په کرایه ورکړي. په دی کی چی کومه گټه کوي ددی په حلال والی کی هیڅ قسم تردد نشته. خو غیر مسلم کمپنی ته چی ورکوي هغه به وربانده ناجائز کارونه کوي. په سودی کاروبار کی لگوي چی دهغه له گناه څخه دغه مسلمان شخص بری الذمه نشي کیدلې، دسود اخستلو په نیت سره چاته پیسې ورکول په هیڅ حالت کی جائز نه دي اونه هم دسود پیسې خپله خوړل یا دخپلې کورنی په کسانو باندی دهغوی مصرفول جائز دي ځکه چی داخالص سود دی اودسود په حرمت باندی دټولو اتفاق دی. فقط والله اعلم بالصواب.

د سود پیسې په انجمن کی مصرفول :

(۲۹۴_ سوال) دانجمن پیسې متولی په بانک کی ایښي دي اودهغه سود هم ترلاسه کوي نو آیا د سود دغه پیسې د انجمن په کارونو کی استعمالولی شوو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) له انجمن سره چی کوم غسلخانې، بیت الخلا او لاری تعلق لري دهغوی په جوړولو او مرمت کولو کی مصرفولی شئ. اوکه ضرورت یی نه وي نو غریبانو ته ورکړئ اویاهم د رفاه عامه په کارونو کی ولگوئ. والله اعلم بالصواب.

چاته په قرض پیسې ورکول اوله هغه نه گټه اخستل :

(سوال ۲۹۵)مونږ یو کلب لرو. تقریباً څلور زره روپی زمونږ په کلب کی جمع شوي دي، مونږ هغه پیسې د قرض په توگه خپل یو دوست ته ورکړي دي هغه زمونږ دکلب ممبر او رکن نه دی، هغه به دغو پیسو سره تجارت کوي او مونږ ته دیرش روپی دمیاشتې په حساب سره گټه راکوي ایا داپه سود کی راځي او که نه ؟ بینوا توجروا.

(ځواب) هره میاشت دیرش روپی گټه آخستل سود دی، کومې پیسې چی دقرض په ډول ورکول شوې وي پرهغه گټه آخستل په قطعی نص سره حرام دي. د جواز صورت دادی چی داپیسې هغه ته ورکړئ اود مضاربت معاهده ورسره وکړئ. چی په دغو پیسو باندی څومره روپی وگټي نوپه هغه کی دومره حصه ستا او دومره زمونږ مثلاً نیمه حصه ستا او نیمه حصه زمونږ، یایوه حصه زمونږ او دوه حصی ستا مطلب داچی په گټه کی د دواړو گټی او حصې معلومی شي نوبیا جائز دي اوکه معلوم نه شي نو ناجائزدي. فقط والله اعلم بالصواب.

دسود په پیسو سره دقرضدار سید قرض اداکول :

(۲۹٦_سوال) زمونږ په خوا کی یو سید صاحب دی هغه قرضدار اوپریشان دی لږ غوندی تنخوانه پرته بل هیڅ آمدني نه لري، آیا دهغه داقرض دسود په پیسو سره اداکول جائز دي اوکه نه؟ بینو توجروا.

(ځواب) که چیرته ډیر اضطراري حالت وي نو دسود په پیسو سره دهغه قرض اداکول جائزدي فقط والله اعلم بالصواب.

جائزه نوکري پریښودل په بانک او یا په بیمه کمپنۍ کی نوکري آخستل:

(۲۹۷_ سوال) یو سړ ددوایانو په کمپنۍ کی نوکري کوي هغه ته په مرکزي بانک او بیمه کمپنۍ کې نوکري پیدا شوی ده، دلته معاش هم زیات ورکوي او وظیفه هم دافسري او ریاست ده. ایا دغه سړي ته اجازه ده چی خپل نوکري پریږدي او په بانک یا بیمه کمپنۍ کی ملازم شي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) کله چی په مرکزي بانک یا بیمه کمپنۍ کی د سود کاروبار کیږي نوبیاهغه ته جائز نه دي چی خپل جائزه نوکري پریږدي او هلته وظیفه واخلي په حدیث شریف کی دي:

عن جابر رضي‌الله عنه قال لعن رسول الله صلی‌الله علیه وسلم آکل الربوا و موکله و کاتبه و شاهدیه وقال هم سواء (مشکوٰة باب الربوا ص ٢٤٦).

رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په سود آخستونکو، ورکوونکو، لیکونو او گواهانو باندی لعنت کړی دی. اوفرمایلی یی دي چی داټول په گناه کی شریک دي.

له دی نه ثابت شو چی دگناه په کارونو کی مرسته کول اوپه هغه کی خه ډول گډون کول جائزنه دي. الله تعالی فرمایي:

وَلاَتَعَاوَنُوْا علی الاثم والعدوان. واتقوا الله ان الله شدید العقاب.

ترجمه : دگناه او ظلم په کارونو کی له یوبل سره مرسته مه کوئ او له الله نه وویریږئ. بیشکه الله تعالی سخت عذاب ورکوونکی دی. (سوره مائده).

دانسان نیک بختی داده چی هغه حلال رزق ولټوي څکه چی په حلال رزق سره زړه روښانه کیږي اوصالحو عملونو توفیق ترلاسه کیږي له عبادت سره زړه لګیږي او کله

چې حرام او مشتبه رزق خوري نو په زړه کې تياره پيداکيږي، له عبادت سره زړه نه لګيږي اود نيکو کارونو دکولو قوت نه پيداکوي. بل داچې په حلال رزق کې برکت وي نو ځکه خپل اوسنۍ نوکري پريښودل او په بانک کې ملازمت او وظيفه آخستل هرګز جائز نه دي لدينه بايد په کلکه ډډه وکړي. (فقط والله اعلم بالصواب).

حج ته دتلونکو اشخاصو لپاره په اختياري بيمه پاليسۍ باندی عمل کول څنګه دي؟

(۲۹۸_ سوال) په کال ۱۹۸۲ ع کې دبمبۍ حج کميټیحج ته دتلونکو کسانو ته دخپل ځان دبيمه کولو اختيار ورکړی دی. بيمه پاليسی څه داسی ده چې هريوحاجی نه ۸۸ روپۍ آخستل کيږي ، دهغوی دشرايطو په مطابق که کوم حاجی د حادثې ښکار شي نو دهغه وارثانو ته پنځو سو زرونه نيولی تر يو لک پوری روپۍ ورکوي اوکه روغ رمټ واپس راغی نو هغه ۸۸ روپۍ ورته نه ورکوي. اوس سوال دادی چې دشريعت په نظر کی دغه بيمه پاليسي جائزده اوکه نه؟ بينوا توجروا. (بمبۍ).

(ځواب) دبيمې حقيقت د قمار او سود نه مرکب دی او دا دواړه حرام دي لهذا حجاجو لپاره په دغه بيمه پاليسی باندی عمل کول قطعاً حرام او ناجائز دي فقط والله اعلم بالصواب.

له قرضدار سره دمرستې په نيت فکس ډيپوزټ کی پيسې جمع کول څنګه دي؟

(سوال _۲۹۹) يوسړی ډير زيات قرضدار دی. هغه دخپل قرض د اداکولو زور نه لري، دداسی مقروض سړي د مدد په نيت په بانک (فکس ډيپوزټ) کی دپيسو جمع کول څنګه دي؟

(ځواب) په مذکوره سوال کی د مقروض د مدد کولو په نيت په فکس ډيپوزټ کی دپيسو جمع کول جائزنه دي. که چا دناپوهې په وجه په فکس ډيپوزټ کی پيسې جمع کړی وي او دهغه سود ترلاسه شي نو دا ضرورت مند مقروض ته دثواب له نيت نه پرته ورکولی شي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] – والحاصل ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم والافان علم عين الحرام لايحل له، ويتصدق به بنية صاحبه شامی باب البيع الفسد. فيمن ورث مالا حراما. ج ۵ ص ۹۹.

په سوال کی لیکل شوی د تجارت طریقه په سود کی داخل ده اوکه نه؟

(۳۰۰ سوال) د تجارت یوه طریقه نن سبا ډیره زیاته مشهوره شوی ده، ددی صورت دادی چی کوم کمپنی یاپارټي دکوم تجارتي څیز سکیم چلوي مثلاً څوک دلونا موټرسائیکل سکیم چلوي، ددی قیمت پنځه زره روپی دی، ۳۰۰ کسان د سلو روپو په مقابل کی ددی سکیم ممبران جوړولی شي اوپه میاشت کی یوځل قرعه اندازي کیږي دکوم سړي نوم چی په قرعه کی ووت نو هغه ته صرف دسلو روپیو په عوض کی دپنځه زرو روپو موټر سایکل ورکول کیږي، داد ۴۵ میاشتو سکیم دی. په دی کی کمپنی یا پارټي ته دافایده کیږي چی هره میاشت دری زره روپی ورته جمع کیږي او صرف دپنځه زرو روپویو څیز ورینه ځي. په دی ډول دتجارت لپاره هغه ته ۲۵ زره روپی په لاس ورځي. بیاد ۴۵ میاشتو له پوره کیدونه وروسته ممبر ته لونا موټر سایکل یا پنځه زره روپی ورکول کیږي په دی کار کی دممبر ګټه داده چی په لومړی میاشت کی چاته په قره کی نوم ووځي هغه ته دسلو روپو په مقابل کی او دویم میاشت کی چی دچا نوم ووځي هغه ته د دوه سوه روپو په مقابل کی دریم میاشت په قره کی صرف د دري سوه روپو په مقابل کی دپنځه زره روپو څیز ترلاسه کیږي په قرعه کی دنوم له وتلو نه وروسته دغه ممبر نوري پیسې نه ورکوي. اوس پوښتنه داده چی پورتنی طریقه په قمار اوسود کی داخلی دي اوکه نه؟ په دی سکیم کی حصه اخستل یاسکیم چلول شرعاً جائز دي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) له څه شک اوشبهی نه پرته مذکوره سکیم او طریقه د سود او قمار طریقه ده، لهذا دا حرامه ده، په دی کی ګډون کول یاددی سکیم چلول جائز نه دي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

په فساد کی ددکان دنقصان دتلافي لپاره کوم یو صورت خپلول مناسب دي ؟:

[1] - وشرعا فضل ولو حکما فدخل با النسیة.... خال عن عوض قال فی الشامیة تحت قوله ولو حکما... فضل مالا بالا عوض فی معاوضة مال بمال درمختار مع الشامی باب الرباح ۵ ص۱۶۸.

(۳۰۱_ سوال) زید ډیر بنه تاجر دی، په فساداتو کی دهغه ټوله ذخیره وسوخیده زیاتره سودایی قرض اخستی وه، کمپنیانو ته دهغوی دقرض له اداکولو نه وروسته دنور مال ترلاسه کیدل ممکن دي دوکان یی نه و بیمه کړې. اوس معامله له دوه کارونو څخه خالي نه ده. لومړی داچی له بانک نه قرض واخلي اوداقرض اداکړي ترڅو تجارتي سامان بوځل بیا داصولو په مطابق ترلاسه کړي شي، دویم صورت یی دادې چې خپل جایداد خرڅ کړي او قرض اداکړي خوپه دی صورت کی ډیر لوی لوی مشکلات مخی ته راځي ایاپه داسی صورت کی له بانک نه قرض آخستل ورته روادي؟ بینوا توجروا. (ایم پی).

(ځواب) په مسئوله صورت کی که چیرته د قرض د اداکولو بندوبست ونشي، له چانه له سود نه پرته قرض ترلاسه نشي او نه هم کمپنی په قرض مال ورته ورکوي نو هغه دی له خپل ضرورت نه زیات کور او جایداد خرڅ کړي او پرهغه دی خپل قرض اداکړي، که چیرته په دی سره هم قرض یی نه اداکیږي اوله سودی قرض له اخستلو نه پرته بله چاره نه وي اوسخت مجبور شوی وي نود ضرورت په اندازه ورته سودي قرض اخستل جائزدي.

یجوز للمحتاج الاستقراض بالربح (الاشباه والنظائر ص ۱۱۵). (البحرالرائق ص ١٢٦ جلد٦). (فتاوی رحیمیه ٤٦١ جلد٩). فقط والله اعلم بالصواب. ۲ جمادی الاولی ۱۴۱۰ هـ.

دغرباو د امداد په نیت له یونټ ټرسټ نه حصه آخستل :

(۳۰۲_ سوال) عرض دادی چی دهند حکومت له خوا منظور شوی یوه اولسي او عوامي اداره ده چی نوم یی « یونټ ټرسټ اف انډیا دی » دا اداره له خلکو نه پیسي اخلي اوپه محتلفو کارو بارونو کی لګوي، بیاله هغه نه چی څه ګټه وشي له هغونه هرکال پانګه ورکوونکو ته څو فیصده ګټه ورکوي داخبره دی واضحه وي چی ددغی اداري منتظمین جمع شوی سرمایه عموماً په سودي کاروبار کی لګوي اوله هغه نه چی کوم سود آخلي هغه پانګه والو ته ورکوي که چیرته کوم سړی د غریبانو او محتاجو خلکوسره د مرستې په نیت له خلکو نه څه چنده ټوله کړي او بیادغه پیسي دغې اداري ته ورکړي او کومې پیسې چې ګټه وشي هغه په مسکینانو او غریبانو باندی وویشي.

اباداسي کول جائزدي اوکه نه؟ امید دی چی خواب یی راکړئ. (دارالعلوم کنهاریه، ضلع بهروچ)

(خواب) لومړی دی داخبره په ذهن کی وساتل شي چی کومې پیسې په بانک کی اینودل کیږي هغه پیسې بعینه د امانت په توګه نشي ساتل کیدې. بلکی دبانک چلوونکي په سودي کاروبار کی استعمالوي. لهذا په بانک کی دپیسو اینودل له ګناه سره مرسته ده. که چیرته قانوني مجبوري یاد غلا کیدو ویره وي نو دحفاظت په خاطر په بانک کی دپیسو اینودل جائز دي. دسود د ترلاسه کولو نیت دی یکی بالکل ونه کړی شي. دپیسو اینبودلو نه وروسته چی کوم سود ترلاسه شي هغه باید بانک ته پری نبودلی شي بلکی له هغه نه دی واخلي او دثواب دنیت نه پرته دی غریبو خلکو ته ورکړي، دخیرښیګڼې او رفاه عامه کی یی هم لګولی شئ، ددغی خبرې په نظر کې نیولو سره عرض دی چی کله داخبره واضحه ده چی د ((یونټ ټرسټ آف انډیا)) منتظمین دغه اینبودل شوی پیسې تر اوږدې مودې پورې په سودي کارونو کې ورکوي لکه چی تاپخپله په سوال کی ویلي دي نوپه دی کی پیسې جمع کول له ګناه سره تعاون دی نوځکه دپیسو اینبودل جائز نه دي. دغریبو او ناچارو خلکو سره دتعاون په خاطر هم په هغه کی دپیسو اینبودل جائزنه دي. که چیرته کوم سړی یا ډله له غریبانو سره دمدد لپاره غلا وکړي یاډاکه واچوي نو ایا شرعاً ددی اجازه شته؟ ښکاره خبره ده چی دامداد په نیت سره هم غلا کول او ډاکه اچول یا دبل کومې ناجائزې طریقې دخپلولو قطعاً اجازه نشې ورکول کیدې همدغه راز په سوال کی چی کوم صورت لیکل شوی دی دهغه هم اجازه نشته.

له غریبانو سره دمدد لپاره چنده کول یا دپیسو جمع کول اودهغه په ذریعه دغریبانو لپاره د آمدنی، کومه لاره جوړول داجر اوثواب کار دی لیکن دی لپاره جائزه لاره او طریقه په کار آچول ضروري دي نه غلطه طریقه ، فقط والله اعلم بالصواب.

جنوبي افریقا کی دکاروبار او کورونو بیمه کول :

(۳۰۳_ سوال) زمونږ ملک جنوبي افریقا کی په دی وخت کی قتل وغارت ګري او لوټ ماري یو معمول ګرځیدلی دی، بی ګناه خلک د ظلم اوستم ښکار دي. مالدار خلک په لږ وخت کی فقیر کیږي اودیوی شپې دوډی لپاره محتاجیږي، په داسی حالاتو کی دکاروبار او کور بیمه کول جائزدي اوکه نه؟ دلته بیمه کمپنی، د حکومت نه دي بینوا توجروا.

(ځواب) دخپلو شيانو دحفاظت ذمه داري پخپل ځان او حکومت باندى ده. که نقصان او تاوان رسيږي هغه دى په قسمت او تقدير باندى محمول کړى شي. کوم صورت چې په سوال کې ليکل شوى دى هغه دبيمه کولو لپاره شرعي عذر نشي کيدلې نوځکه تاته دبيمه کولو اجازه نشو درکولې. بيمه کمپنۍ پخپله د کورونو او دکانونو حفاظت نه کوي چې دغه معامله داجارى په عقد کې داخله کړى شي اوشتراط ضمان على الاجير حکم ورباندى ولګول شي دامعامله له سود او قمار نه مرکب ده نوځکه په دى کې دسود او قمار دواړه ګناهونه شامل دي.

په جنوبي افريقا کې دموټر بيمه کول:

(۳۰۴ سوال) نن سبا په جنوبي افريقا کې موټر دژوند له مهمو ضرورتونو څخه شمارل کيږي، په بسونو ياريل ګاډو کې سفر کول له خطرې نه خالي نه ګڼل کيږي، بل داچې هر وخت بس اوريل ګاډى نه پيداکيږي لهذا پيسه دارو خلکوته دموټر داخستلو لپاره په اساني سره انتظام کيږي. دلته هره ورځ د موټرو ټکرونه مخې ته راځي. له کوم موټر سره چې ټکر وشي دهغه د جوړولو مصارف په سلامت ډريور باندى اچول کيږي ، کله کله هغه مصارف لکونو ته رسيږي که کوم ډريور خپل ګاډى بيمه کړى نه وي نو په دى صورت کې دهغه کاروبار او دکور دخرڅولو نوبت مخې ته راتلى شي ايا په داسې حالت کې موټر لپاره بيمه کول جائزدي اوکه نه؟ بينوا توجروا.(مولانا عبدالحق عمر صاحب).

(ځواب) تاچې په سوال کې دموټر دبيمه کولو لپاره کوم عذر ليکلى دى داشرعي عذر نه دى لهذا يواځې په دى وجه چې دموټر د ټکر په وخت کې له خپل جيب نه پيسې ورکول کيږي او کله کله داپيسې دومره ډيرې وي چې ددکان اودکور دخرڅولو نوبت هم راځي دموټر دبيمه کولو لپاره شرعي عذر نشي جوړيدلې. فقط والله اعلم بالصواب.

د آمدنۍ په خاطر بانک ته دوقف شوي کور په کرايه ورکول :

(۳۰۵ ـ سوال) له موټر سره يو وقف شوى کور دى که هغه موټر کرايه دار ته ورکوو نو هغه په کور باندى قبضه کوي او عدالت هم دکرايه دار طرفداري کوي خوبانک ته دکرايه ورکولو په صورت کې داخطره نه وي، بانک کرايه هم ډيره ورکوي تاسې موټر ته لارښوونه وکړئ چې څه وکړو؟ بينوا توجروا.

(خواب) په قرآنکریم کې سودي کاروبار او سودي لین دین باندی سخت وعید راغلی دی الهی ارشاد دی:

احل الله البيع وحرم الربوا○.(البقرة: ۲۷۵).

الله تعالی بیع حلال کړی او سود یی حرام ګرځولی دی.

(۲) يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ○.(البقرة: ۲۷٦).

الله تعالـی سود محوه کوي او صدقه زیاتوي.

(۳) فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ○. (البقرة: ۲۷۹).

که چیرته له سودي معاملې نه لاس نه اخلئ نو دالله له طرف نه دجنګ اعلان واورئ.

په حدیث شریف کې دي:

عـــن جابر رضی‌الله عنه لعن رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (مسلم شریف ص ۲۷) (مشکوة شریف ص ۲٤٦ بـــاب الربوا).

حضرت جابر رضی‌الله عنه فرمایی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم سـود آخسـتونکو، ورکوونکو ،لیکونکو او ګواهي ورکوونکو باندی لعنت کړ دی او فرمـایلی یی دي چـی داټول په ګناه کې برابراو ملعون دي.

(۲) عن ابـــی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم الربوا سبعون جزء ایسرها ان ینکح الرجل امه (مشکوة شریف ص ۲٤٦ باب الربوا.).

حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه فرمایی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسـلم فرمـایلی دي سودي کاروبار کوونکو ته اویاقسمه ګناه کږي له هغونه د ادنی درجـی ګنـاه داده چـی یو انسان له خپلې مور سره زنا وکړي.

(۳) قـــال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم درهم ربوا یأکله الرجل وهویعلم اشد مـــن ستة وثلثین زینة.(مشکوة شریف ص ۲٤٦ باب الربوا).

رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دي دسود یو درهم خـوړل ددی بـاوجود چـی دهغه په حرمت پوهیږي، دالله په نزد له شپږ دیرش کرته زناڅخه هم بدتردی.

(۴) عن ابی هریرة رضی‌الله عنه قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم اجتنبوا السبع الموبقات قالوا یارسول الله وماهن قال الشرك بالله والسحر وقتل النفس التی حرم الله الابالحق واکل الربوا او اکل مال الیتیم والتولی یوم الزحف وقذف المحصنت المؤمنات الغافلات (مشکوة شریف ص ۱۷ باب الکبائر).

حضرت ابوهریره رضی‌الله عنه فرمایی چی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : د اوه هلاکوونکو خیزونو څخه ځانونه وساتئ عرض یی وکړ یارسول الله! هغه اووه هلاکوونکي شیان کوم دي؟ ویی فرمایل شرک کول، جادو کول،په ناحقه دچا وژل، سود خړل، دیتیم مال په ناحقه خوړل، له جهاد نه تښته کول اوپه پاک لمنو ښځو باندی تهمت لګول.

لدینه علاوه نور احادیث هم شته نوپه همدومره احادیثو باندی ځکه اکتفا کوو چی مضمون ډیرا وږدیږي.

داخبره دلمر په شان ښکاره ده چی په بانکونو کی عمومي ډول سودي کاروبار کیږي اودهغوی د آمدني ذریعه یواځی سود دی. بانک ته د کور کرایه ورکول په سودي کاروبار کی له هغوی سره مرسته او تعاون کول دي. اوپه قرآنکریم کی دي:

ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. د ګناه او ظلم په کارونو کی مرسته مه کوئ.

لهذا بانک ته باید کور په کرایه ور[illegible]ی شي او دوقف دحفاظت لپاره چی څومره قانوني اسباب کیدی شي دهغوی [illegible]نظر کی نیولو سره بل چاته په کرایه ورکړئ. فقط والله اعلم بالصواب.

په موروثی کور کی مقیم وارث ته دکور دمرمت لپاره سودي پیسی ورکول څنګه دي:

(۳۰٦ سوال) یو موروثی کور دی، فی الحال په دی کی صرف دوه کسه اوسیږي، نور وارثان ترینه جدا اوسیږي، دا کور ډیر زیات خراب شوی دی، دباران په وخت کی له هرځای نه اوبه خسیږي ، ددی د جوړولو ډیر سخت ضرورت دی، کوم وارثان چی پکی اوسیږي دهغوی مالی حالت ډیر زیات خراب دی، نور وارثان یی هیڅ پروانه کوي که چیرته کوم سړی دسود په پیسو ددغه کور مرمت وکړي نو ددی څه حکم دی؟ مهرباني وکړئ خواب راکړئ.

(خواب) په مسئوله صورت کی په موروثی کور کی چی کوم وارث اوسیږي که هغوی د زکات مستحق وي نو که کوم سړی دزکات یا سود پیسی هغوی ته ورکړي او مالک یی وګرځوي اوبیا هغوی په دغو پیسو د کور مرست وکړي نو کولې شي [1] فقط والله اعلم بالصواب.

د غریبانو د مدد په نیت په بانک کی پیسې ایښودل او پرهغوی سود آخستل:

(۳۰۷ سوال) یوه کمیټه چی د عامو مسلمانانو خدمت کوي په غیرسودي کاته کی داخل کړي دي، مګراوس د کمیټی غړي او ارکان غواړي چی دغه پیسې په سودي کاته کی کینږدلی شي ترڅو سود ترلاسه شي اوبیادغه پیسې په مصیبت زده مسلمانانو باندی خرچ کړی شي ، ایادکمیټی دغه اقدام دشریعت په رڼاکی جائزکیدای شي؟ایا پر مسلمانانو باندی دسود پیسې لګیدلی شي؟ بینوا توجروا.

(خواب) په بانک کی حفاظت یادقانوني مشکلاتو په وجه پیسې ایښودلی شئ خود سود دترلاسه کولو په نیت نشئ ایښودلی اګرچی په نیت کی مو داوي چی دسود داپیسې به په غریبانانو لګوو. له غیرسودي کاتی نه مه وباسئ او همغلته یی پریږدئ ځکه چی دحفاظت همدغه طریقه صحیح ده.

اوکه چیرته له چاسره دسود پیسی وي نو هغه دی په غرباو او مسکینانو باندی دثواب له نیت نه پرته دی خرچ کړي، همدغه شان درفاه عامه په کارو کی هم لګولی شي، مګر دسود د حاصلولو او بیا پر غریبانو باندی دهغوی د خرچولو په نیت په بانک کی دپیسو ایښودل جائزنه دي. فقط والله اعلم بالصواب.

دیونټ ټرسټ له حصی نه د ترلاسه شوی ګټې استعمالول څنګه دي؟

(۳۰۸_ سوال) ما د یونټ ټرسټ شیرز (حصه) اخستی دي اوپه دی باندی دګټې په نوم د کال په حساب سره څه پیسې دګټې په توګه راکوي. ددغو پیسو استعمالول څنګه دي؟ داخبره دی په ذهن کی وساتل شي چی دیونټ ټرسټ منتظمین جمع شوي سرمایه

---

[1] - والـحاصل ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم والا فان علم عین الحرام لایحل له ویتصدق بـه بنیـة صاحبه. شامي باب بیع الفاسد، مطلب فیس ورثا مالا حراماً.

زیاتره په سودي کاروبار کی لګوي اوکله کله نورو ته هم په سود باندی پیسې ورکوي. په هغه کی چی څومره سود ترلاسه کړي همغه دشیرز خریدارانو ته دمنافع او ګټې په نوم ورکوي.

(ځواب) سوبز ته له تحقیق نه وروسته معلومه شوی ده او تاسی هم په سوال کی ویلي دي چی اداره جمع شوی سرمایه زیاتره په سودي کاروبار کی لګوي اوله همدی نه ترلاسه شوی ګټه دپیسو ورکوونکو دمنافع په نوم ورکوي.لهذا تاسوته پکاردي چی تاسی دیونټ ترسټ شیرز وانخلئ ځکه چی له معصیت او ګناه سره ملګرتیا او مرسته ده اوکه چا اخستی وي هغه دی په لومړی فرصت کی واپس کړي، چی له هغه نه څه منافع ترلاسه کړی وي هغه دی دثواب له نیت نه پرته په غریبانانو ووشي. (والله اعلم بالصواب).

د پراویډنټ فنډ په اړه یو ضروري مسئله:

(۳۰۹ سوال) یوسړی دپیو په فارم کی کارکوي، دهغه معاش دولس سوه روپۍ دی هرمیاشت د پراویډنټ فنډ په نوم دهغه له معاش نه یوسل اوشل روپۍ راګرځوي. بیادشدو فارم والا له خپل طرف نه یوسل او شل روپۍ نور هم اضافه کوي او ۲۴۰ روپۍ په بانک کی جمع کوي، بانک هغوی ته په کال کی دوه کرته سود ورکوي اودهغه په حساب کی یی شاملوي، په فارم کی نوکري کوونکی دغه پیسې له بانک نه پخپله خوښه نشي ویستلې لدینه وروسته دفارم منتظمینو دغه پیسې له سود سره یوځای له بانک نه وویستلی او ډاکخانه کی کیښودلې. شپږ کاله وروسته ډاکخانه دغه جمع شوی پیسې دو چنده کوي. بیادغه پوره پیسې د ملازمت دپریښودلو اویاهم د مړکیدو په صورت کی ورته ورکول کیږي لدینه وړاندی ورته نه ورکول کیږي ددغه مسئلې په اړه موبز ته ځواب راکړئ.

(ځواب) داټول کار دشدو فارم والا پخپل زمه واري سره کوي په دی کی دملازم هیڅ قسم اختیار او رضا شامله نه وي نوبانک او ډاکخانی له طرف نه چی کومې پیسې زیاتې شوي دي دهغوی آخستل مباح دی په دی باندی دسود تعریف نه صادقیږي اوکه چیرته شدو فارم والا د ملازم په اجازه او رضا سره داکار وکړي نو دبانک او ډاکخانی له طرف نه چی کومی پیسې زیاتی ورکول کیږي هغه ته سودل ویل کیږي او دهغه استعمال ناجائزنه دی. د ثواب له نیت نه پرته دی غریبانو ته ورکړي. بلکی په دی صورت کی چون د ملازم په اجازی سره داکار شوی دی نوبانک یا ډاکخانه ددی

وکیل دی او د وکیل قبضه د موکل قبضه شمارل کیږي، نوددی نتیجه به داوي چې ملازم ددغو پیسو قابض شمارل کیږي لهذا له کوم وخت نه چې دغه پیسې په بانک یا ډاکخانه کی موجود وي له همغه وخت نه وربانـدی د زکات احکام جاري کیږي اودضابطې په مطابق هرکال به ترینه زکات ورکوي. اوکه زکات یې نه وي ورکړی نو چې دځومره کلونو زکات پاتی وي دهغو ټولو کلونو زکات اداکول وربانـدی لازم دي.

د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب زوی مولانا محمد رفیع صاحب لیکي:

مسئله جبری پراویډنټ فنډ کی چې د ملازم له تنخوا نه کومې پیسې میاشت په میاشت کټ کوي اوپه دی کی چې هره میاشت حکومت له خپل طرف نه ځومره زیادت کوي اوبیاپه مجموعه باندی چې ځومره پیسی دسود په نوم جمع کوي شرعاً ددغو دری واړو روپیو حکم یودی او هغه داچې داټولې پیسې په حقیقت کی دتنخوالـه جملې څخه دي، اګرچې د سود اوپاپه بل کوم نوم سره ورکوي،لهذا ملازمانو لپاره دهغوی آخستل او استعمالول جائزدي په هغه کی هیڅ قسم سود نشته، البته کـه چیرتـه پراویډنټ فنډ کی پخپل اختیار اوخوښی سره دپیسو دکټ کولو اجازه ورکړي نو پـه دی بانـدی چې محکمه کومې پیسې دسودپه نوم ورکوي نودهغوی له اخستلو نـه دی ډډه وکـړی شـي څکه چې په دی کی تشبسه بالربوا دی اود سود خوړلو ذریعه ګرځولـو خطـره هـم ده. لهذا لومړی خو باید داپیسی وانخلي او که واخست نو غریبانو ته دی ورکړي.

الـجواب صحیح (ځواب صحیح دی) مولانا محمد یوسف نبوري، ځواب صحیح دی مفتی رشید احمد عفی عنه.

ځواب صحیح دی بنده مفتی محمد شفیع، ځواب صحیح دی مفتی محمد تقی.

ځواب صحیح دی مولانا محمد عاشق لهی. ځواب صحیح دی مفتی ولی حسن ټونکی غفرله....

(جدید مسائل کے شرعی احکام پراویډنټ فنډ پر زکات او رسود کے مسائل ص ۸۸، ۸۹، ۹۶) فقط والله اعلم بالصواب.

د بیمه په اړه تفصیلی احکام (د دولسو سوالونو ځوابونه)

(۳۱۰ سوال) دبیمی چې کوم حقیقت بیان شوی دی، په هغه کی کمپنی دسود په توګه چې کومې پیسې ورکوي اوپخپل اصطلاح هغه ته منافع وایی، ایاداشریعت اصطلاحي ربوادی اوکه نه؟

خواب) حامداً ومصلیا و مسلما ... دبیمی حقیقت له ربوا اوقمار څخه مرکب دی. الربــوا هو فضل خالٍ عن عوض بــمعیار شــرعي شــرط لا حــد الـــمتعاقدین فـــی المعاوضة(درمختار باب الربوا ج ۲ ص ۱۶۸) هو فضل حال عن عوض شرط لاحــد الـــمتعاقدین فـــی معاوضة مال بمال (ملتقی الابحر ایضاً)فقط.

(۲سوال) که چیرته مذکوره سود په شرعي اصطلاح کی ربــواده نــو دبیمــی چــی کــوم مصالح او ګټې بیانولی شي، دهغوی په نظر کی نیولو سره دبیمی دجواز ګنجائش ترینه وتلي شي اوکه نه؟

(خواب) ربوا او قمار دواړه قطعي حرام او کبیره ګناه ده، پــه دی بانــدی دټولــو علمــاو اجماع ده چی سود حرام دی. اجــمع الـــمسلمون علـــی تحریم الربوا فعلـــی انــه من الکبائر. عمدة القاری شرح بخاری.

مـحمدصلی‌الله علیه وسلم ربوا (سود) له هلاکوونکو څیزونو څخه شمیرلی دی.

اجـــتنبوا الـــسبع الـــموبقات، وجعل منهن اکل الربوا .باب الکبـــائر وعلامـــات النفاق. که د.دی زرګتي هم بیان کړی شي بیاهم دالله تعالی قول:

قُل فیهما اثــم کبـــیر ومنافع للناس و اثمهما اکبر من نفعها.

(۳سوال) ایا د ژوند بیمه، د امــلاک بیمــه او ذمــه داري دبــیمې تــرمنځ شــرعاً څــه فــرق موجود دی اوکه دټولو یو حکم دی؟

(خواب) د درې واړو یو حکم دی هغه داچی ناروا دی ځکه چی دری واړه ډولونــه پــه سود مشتمل دي، په دی کی ذمه واري او مسئولیت هــی تش په نــوم ده بیمــه کمپنــی دمال او ځان حفاظت نه کوي، البته د ډاکخانی صورت بل دی نــو ځکــه ځینــو علمــاو ددی په جواز فتوه ورکړی ده.

په امداد الفتاوی کی دي : پاتی شوه بیمه چی سره زر او نــور شــیان پــه ډاکخانــه کــی بیمه کولی شي ددی حقیقت بل دی. ځکه چــی د ډاکخــانی ملازمــین هغــه رســوي او اجرت اخلي پس دامعامله داجاری عقد دی، اود ډاکخانی ملازمین اجیر دي اوبیمــه د احورت زیادت دی اودهغوی دا ذمه واري دتاوان اشــتراط ضــمانٍ علـــی الاجیر دی. چی ځینو فقهاو ورته جائز ویلي دي ، خو مذکوره بیمه کمپنې په مال او جان کی هــیڅ عمل نه کوي، په دی کی تاویل محتمل نه دی. (ج۳ ص ۱۲۰) فقط.

(۴ سوال) د معاملې داشرط چې بيمه شوی‌شخص يا څيز له مقرره وخت نه وړاندی تلف شو نو دومره پیسی ورکول کیږي اوکه لدینه وروسته تلف شو نو دومره پیسې ورکول کیږي. پس کله چې د تلف کیدو د وخت مقررول ممکن نه دی نو ایا دغه معامله د قمار په حدودو کی نه داخلوي؟

(ځواب) بلی دا دقمار صورت دی اوقطعی حرام دی. فقط.

(۵ سوال) که چیرته دادقمار بازي او عذر صورت دی نود بیمی دمصالحو او ګټو په نظر کی نیولو سره دجواز کوم ګنجائش وتلی شي اوکه نه؟

(ځواب) ددی حکم هم همغه دی چې په دویم نمبر کی تیرشو. فقط.

(٦ سوال) که چیرته بیمه کوونکی دبیمه د مندرجه اقسامو څخه دسود اخستلو نه ډډه کوي او یواځې خپل اصلی پیسې واپس غواړي نو ایا دا معامله صحیح کیدلی شي؟

(ځواب) دا صورت هم جائزنه دی، ځکه چې په دی کی له ګناه سره تعاون او مرسته ده البته دسود د آخستلو او قمار له صورت څخه اخف او سپک دی. فقط.

(۷ سوال) کمپنی چې کومې پیسې دسودپه توګه ورکوي ایا هغه دسود په ځای دهغه له طرف نه اعانت، امداد او احسان ویل کیدی شي یانه؟

(نوټ) دځینو کمپنیو ایجنټان ددی مقصد صرف مددبنکاره کوي.

(ځواب) نه هرګز نه ، دا یا دسود صورت دی اویاهم د قمار ، د ایجنټ په لیکلو یا دنوم په بدلولو سره حقیقت نشي بدلبدلې. دشریعت د احکامو دار او مدار حقیقت باندی دی نه په نومونو باندی ترڅوپورې چې حقیقت بدل نشي حکم نه بدلیږي.

وانه لایتغیر حکمه بتغییر هیئته وتبدیل اسمه (مرقاة المفاتیح). فقط.

(۸ سوال) که چیرته مسلمانان دکوم دارالحرب اوسیدونکي وي (مستامن نه وی) او کمپنی د حربیانو وي نوایا په دی صورت کی مسلمانانو لپاره دامعامله جائز او صحیح ده؟

(ځواب) په دارالحرب کی هم د جمهورو ائمه و او محققو علماو په نزد دسود اوقمار په اړه همغه احکام دي چې په دار الاسلام کی دي. البته له طرفینو څخه په دارالحرب کی د جواز قول هم منقول دی. لیکن ځینو محققو علماو دامام صاحب دقول مطلب داسی بیان کړی دی چې د جمهورو مخالفت نه کوي. لکه چې:

لاربوا بین المسلم والحربی فی دارالحرب. په دی کی دا احتمال دی چی دانفی اونهی لپاره وي لکه چی ((فلا رفث ولافسوق ولاجدال فی الحج)) کی نهی کړی دی.

فلزهاجر الینا ثم عاد الیهم فلاربوا اتفاقاً (درمختار) قوله (فلا ربوا اتفاقا) ای لایجوز الربوا معه فهو نفی بمعنی النهی کمافی قوله تعالی فلا رفث ولا فسوق فافهم. (شامی ج ٤ ص ٢٦٢ باب الربوا).

حکیم الامت حضرت تهانوی صاحب فرمایی : زه یو الهامی تحقیق په توګه یوه خبره لیکم هغه داچی په حدیث کی د (لا ربوابین المسلم والحربی فی دارالحرب) الفاظ راغلی دي لدینه دربوا په جواز باندی استدلال نشي کیدلې ځکه چی د داډول ترکیب دوه معنی کیدلی شي یوداچی لامضائقه فیه، دویم داچی ولایترتب جمیع احکامه. مثلاً که چیرته دلاربوا همدا معنی وي چی په دی کی د ربوا حقیقت نه مرتب کیږي نو دهغه اثر غایت مافی الباب دا کیږي چی په هغه ټول احکام نه مرتب کیږي مثلاً هغه واجب الرد نه وي. او لدینه دانه لازمیږي چی دربوا نور اثار هم مرتب نشي. مثلاً ګنهګار کیدل چی دهغه تحقیق دربوا حقیقت دعدم تحقق باوجود هم کیږي. ددی دلیل دادی چی پخپله فقهاو هم لاربوا بین العبد وسیده کی عدم تحقق حقیقت منلی دی لیکن دربوا د ارتکاب په صورت کی دواړه ګنهکاریږي، ددی مثال دادی چی لاصلواة الاّ بطهورٍ، په دی کی دنفی معنی همدادی چی له اودس نه پرته دلمونځ حقیقت نه متحقق کیږي. لیکن ددی باوجود د داډول دلمونځ هیئت ځکه هغه ګنهکاریږي. ((علی هذا لانکاح بین المحارم)) کی هم همدغه مراد دی، چی دهغه اثر دادی چی مهر او نفقه نه واجبوي، لیکن مطلقاً له دغه فعل سره ضرور ګنهکاریږي.

همدغه راز په ((لاصوم یوم عیدٍ)) کی هم همدادی او لا رضاعَ بعد الفطام کی هم همدغه معنی ده چی درضاع حقیقت نه متحقق کیږي نوځکه په دی سره دنکاح حرمت نه ثابیږي، لیکن درضاع د مودی دختمیدو نه وروسته شیدې ورکول ګناه ده. پس کله چی د لاربوا دحدیث دغه معنی ته محتمل دی اوپخپله حدیث شریف کی

ددی مویدات او نظائر دوسره موجود دي نوله دی حدیث نه حلت ربوا باندی استدلال کول کافی نه دي. (مقالات حکمت ص ۲۵۴).
البته په قوی وجه داثبات ده چی په دارالحرب کی د مسلمانانو لپاره دحربیانو مال په هر هغه طریقې سره چی په هغه کی عذر نه وي مباح دی، نوسود آخستل هم مباح دي لیکن دمال د اباحت وجه د دار اختلاف دی اودا علت دیو دار په اوسیدونکو کی نه لیدل کیږي . نوپه دی دلیل سره په هندوستان کی اوسیدونکو غیر مسلمو مال زمونږ لپاره مباح نه دی.
ولان مالهم فی دارهم فبای طریق اخذه المسلم اخذ مالا مباحا اذالم یکن فیه عذر بخلاف المستأمن منهم لان ماله صار محظوراً بعقد الا مان (هدایة ج ۳ ص ۷۰ باب الربوا).
قال ابو حنیفة رحمه الله لو ان مسلما دخل ارض الحرب بامان فباعهم الدرهم بالدرهمین لم یکن بذلك بأس لان احکام المسلمین لاتجری فبای وجه اخذ اموالهم برضائهم فهو جائز. (الرد علی سیرالاوزاعی ص ۹٦).
شیخ الاسلام حضرت مدنی وایي: په دی کی شک نشته چی هندوستان دارالحرب دی مگر حضرت مولانا نانوتوي قدس الله سره دا خیال و چی د اسلامي ملکونو اوسیدونکو خلکولپاره جائز دي چی هغوی په هندوستان کی دسود او قمار په ذریعه مال ترلاسه کولی شي، هله چی دواړه طرفه راضي وي او عهد شکنی نه وي. لاکن پخپله د هندوستان اوسیدونکو لپاره جائز نه دي، دهغه خیال و چی په هندوستان کی اوسیدونکي مسلمانان هم له انګریزانو او هندوانو څخه سود اخستلی شي لیکن دعوامو د مصلحت دلحاظ په وجه دغه فتوه یی نه شائع کوله. (مکتوبات شیخ الاسلام ج ۱ ص۱۸).
البته له هندوانو څخه دسود د اخستلو په مسئله کی تر اوسه پوری تذبذب دی (ج۱ص۱۹).
دهندوستان له بیمه کمپنیو سره معامله کولو کی داقباحت دی چی یو مسلمان به له بل مسلمان نه سود آخلي لکه چی مفتی کفایت الله صاحب لیکي:
په دارالحرب کی دقمار یاسود په ذریعه له کفارو نه دپیسو دحاصلولو اباحت خو شته، مګر په بیمه کمپنیانو کی خو زرګونه مسلمانان هم شامل وي اود هغوی پیسې هم.

اولدې نه ټولو شریکانو ته که هغوی مسلمانان وي یا کافر سود ورکول کیږي نوکویا له مسلمان نه هم سود آخلي نوځکه د دارلحرب له مسئلې نه هم دبیمې جواز مشتبه دي (محمد کفایت الله، کان الله از ولایت بمبی).

(۹سوال) په دی صورت کی چی دانشورنس (بیمه) کاروبار پخپله حکومت کوي اوپه دی صورت کی چی داکاروبار شخصي کمپنیانی کوي ایا د دواړو ترمنځ څه فرق شته اوکه نه؟

(خواب) د دواړو ترمنځ فرق نشته ځکه چي دسود آخستلو د جواز مدار صرف په اباحت باندی دی اوداباحت علت د دار اختلاف دی او هغه په دواړو صورتونو کی مفقود دی. فقط.

(۱۰ سوال) که چیرته داکاروبار د حکومت په لاس کی وي نو ایا په دی بنیاد باندی دحکومت په خزانه کی درعیت هر فرد حق لري. تربحث لاندی معامله کی که دسود پیسې دحکومت له طرف نه یوه عطیه وګڼل شي نو ایا دسود له حدودو نه خارج کیدلی شي یانه؟ او ایا په دی صورت کی دامعامله جائز کیدلی شي اوکه نه؟

(خواب) داد حکومت له لوری عطیه نشي ګڼل کیدلې او دا د اعانت علی المعصیت په وجه جانزه نه ده. فقط.

(۱۱سوال) فرض یی کړئ چی دبیمی کاروبار دحکومت په لاس کی دی یوسړی بیمه پالیسي اخلي. اودټاکلی مودې نه وروسته اصلي پیسې له سود سره یوځای آخلي لیکن...

(الف) دسود ټولی پیسې دټیکس په توګه حکومت ته ورکوي.

(ب) په داسی کارونو کی لګوي چی دهغوی ترسره کول پخپله د حکومت مسئولیت دی مګر هغه لاپرواهي یادکوم مشکل په وجه هغه نه ترسره کوي مثلاً په کوم ځای کی پل یا لاره جوړول. کومې تعلیمي ادارې ته امداد ورکول. کوهی کنستل، نلونه لګول اوداسی نور کارونه چی دغه کارونه قانوناً د حکومت مسئولیت دی.

(ج) په داسی کارونو کی یی لګوي چی قانوناً د حکومت ذمه داري نه وي، مګر په عمومي توګه رعیت دهغوی په باره کی د حکومت مرسته غواړي او حکومت هم د رعیت دغه خواهش بدنه ګڼي بلکې ځینی وخت ورسره مرسته هم کوي، مثلاً په کوم ځای کی د کتابخانی جوړول اوداسی نور.

نوایا په مذکوره پورتني صورتونو کی دهغه شخص لپاره دبیمه پالیسی آخستل جائزدي اوکه نه؟ ایا هغه ته دسود آخستلو گناه خو ورته نه کیږي؟

(خواب) په دغو صورتونو کی هم له سخت مجبوري نه پرته دسودي کاروبار کولو شرعاً اجازه نشته بالکل داسی لکه چی دخیرات کولو په نیت دغلا کولو اجازت نشته، په دی کی اعانت علی المعصیت هم دی. خوکه چاله وړاندینه دامعامله کړی وي نودسود پیې په ټیکس او جبري چنده حکومت ته ورکولی شي اودثواب له نیت نه پرته دخیرښیگنی په کارونو کی هم لگولی‌شي. فقط

(۱۲ سوال) که چیرته بیمه کوونکی سړې دسود پیسې د ثواب له نیت نه پرته بل چاته دمدد او مرستې په توگه ورکوي نو ایاپه دی صورت کی دانشورنس (بیمه) معامله جائزه ده؟ که چیرته دانشورنس د جواز څه گنجائش نشته نوایا د مصالحو او حاجاتو په نظر کی نیولو سره.

(الف) دهغه کوم بدل کیدای شي چی په هغه کی مذکوره مصالح موجود وي او پرهغه په عمل کولو سره سړی گنهکار نه شي که کیدای شي نو هغه څه دی؟ یا۔

(ب) دانشورنس په مروجه شکل کی داسی کوم ترمیم کیدلی شي چی هغه دگناه له دائرې نه وباسي او مذکوره مصالح او ښیگنی فوت نه کړي. که کیدی شي نو هغه څه دي؟

(خواب) ددې هم همغه حکم دی، دټولو مشکلاتو حل اود مصیبتونو واحد علاج دشریعت پابندي او د اسلامی شعائرو په حفاظت کی مضمر دی. الله تعالی فرمایي:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ○. (محمد۷)

(ای مؤمنانو! که چیرته تاسی دشریعت پیروي وکړئ) دالله مدد کوئ نو هغه ستاسې مدد کوي اوستاسی قدمونه ثابت او محکم کوي. (قرآن حکیم).

(۲) وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ○ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ (الطلاق : ۲– ۳).

یعنی کوم شخص چی له الله تعالی نه ویریږي الله تعالی دهغه لپاره (له ضررونو) څخه د وتلو لاره راوباسي اوهغه ته له داسی ځای نه رزق ورکوي له کوم ځای نه چی دهغه گمان هم نه وي. اوکوم شخص چی په الله توکل وکړي نو الله تعالی دهغه لپاره کافي دی. الله تعالی خپل کار سرته رسوي. (قرآن حکیم).

رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایي :

من حفظ سنتي اکرمه الله تعالی باربع خصال المحبة في قلوب البررة والهيبة في قلوب الفجرة والسعة في الرزق والثقة في الدين .(شرح شرعة الاسلام سيدعلي زاده ص ۹).

(۴) حضرت ابن عباس رضی‌الله عنه فرمایي چې یوه ورځ زه محمد صلی‌الله علیه وسلم پسې روان وم هغه صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : ای زویه ! دالله تعالی داحکامو حفاظت وکړه، الله هم ستا حفاظت کوي. دالله حقوق ترنظر لاندې ونیسه نو الله تعالی به په خپل ځنګ کې ومومې، له الله نه وغواړه او له الله نه مدد وغواړ، اوپه یادوساته چې که دټولې زمکې او آسمان خلک یوځای شي اوتاته ګټه رسول وغواړي نو له تقدیر نه زیات ګټه نشي رسولې او نه هم له تقدیر نه زیات نقصان رسیدلی شي . الخ (الحديث).

(۵) عن عمر بن الخطاب رضی‌الله عنه قال سمعت رسول الله صلی‌الله علیه وسلم يقول لو انكم تتوكلون على الله حق توكله لرزقكم كما يرزق الطير تغدو خماصا وتروح بطانا رواه الترمذي وابن ماجه . (مشكوة باب التوكل والصبر ص۴۵۲).

حضرت عمر بن الخطاب رضی‌الله عنه فرمایي چې ماله رسول الله صلی‌الله علیه وسلم نه آوریدلي دي چې بیشکه که تاسې پر الله توکل (اعتماد) وکړئ په حق توکل کولو سره نوبیشکه هغه لکه ځنګه چې مارغانو ته روزي ورکوي تاسو ته هم روزي ورکوي، چې هغه دسهار په وخت وږې ترې الوځي او ماښام ته خپل ځالې ته په مړه ګېډه راځي. (مشکواه.).

ای کریمی که از خزانهٔ غیب
گبر و ترسا وظیفه خورداری
دوستان راکجا کنی محروم
تو که بادشمنان نظر داری

پکاردي چې سلمانان دشریعت پابند وګرځي او غیرسودي بانکونه جوړ کړي ترڅو مسلمانان له سود نه بې نیازه شي. (فقط والله اعلم بالصواب).

دسودي پيسو د استعمال حکم

وارث نه د بيمې پيسي څنګه استعمالوي ؟

(۳۱۱_ سوال) يوسړي له خپل مرګنه څلور کاله وړاندې دځو کلو لپاره خپل ژوند بيمه کړی وه په څلورو کلونو کی دقسطونو په صورت کی څلور زره روپۍ اداکړی وې اوس کمپنۍ دهغه ورثاو ته شل زره روپۍ ورکوي ايا هغوی داپيسې آخستلی شي اوکه نه؟

(ځواب) د ژوند بيمه کول جائزنه دي ليکن داچی مرحوم خپل ژوند بيمه کړی و نو دبيمې کمپنۍ چی کومې پيسې ورکوي هغه دی واخستلی شي، له دغو پيسو نه څلور زره روپۍ چی مرحوم بيمه کمپنۍ ته ورکړې وې هغه دی دمرحوم په ترکه کی شاملی کړي او ورثاء دی پخپلو منځو کی وويشي، پاتی شوې نورې پيسې هغه واجب التصدق دي. هغه دی غريب او محتاجو خلکوته ورکړی شي اويادی درفاه عامه په کارونو کی ولګوي ځکه چی دغه زياتی پيسې چې کمپنۍ ورکړی دي هغه سود دی اود مرحوم په ترکه کی نه شي شامليدلې. هغه بايد دثواب له نيت نه علاوه دخير په کارونو کی خرچ کړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

دبانک نه ترلاسه شوی دسود پيسې چيرته استعمال کړو؟

(۳۱۲ سوال) زمونږ يو رفاهي اداره ده دهغی پيسې په بانک کی اينسودل کيږي دهغو پيسو هر کال سود راکول کيږي اوس سوال دادی چی مونږ دغه د سود پيسې چيرته ولګوو؟ .

(ځواب) په بانک کی چی کومې پيسې ابنودل کيږي هغه د امانت په توګه نه وي بلکی هغه استعمالولی شي. ځکه په بانک کی دپيسو اينبودل اعانت علی المعصيت دی يعنی دګناه نه کارونو کی مرسته کول دي، که چيرته مو په ناپوهي کی اينبی وي اوياهم دقانوني مجبوريت له کبله مو اينبی وي نو دهغه دسود پيسې غريبو او ناچارو خلکوته ورکړئ پخپلو داتي کارونو کې،مه لګوئ. له بانک نه د سود پيسو آخستل ځکه ضروري دي چی هغوی بيادغه دسود پيسې په غلطو کارونو کی لګوي. فقط والله اعلم بالصواب.

(۳۱۳ _ سوال) له يوسړي سره زما پنځه سوه روپۍ وې هغه ماته نه راکولې. مجبوراً می په کوټ (عدالت) کی عريضه وکړه کوټ (قضاء) زمادحق نه علاوه دپنځو سو زياتو روپيو ورکولو حکم کړی دی ايازه دغه زياتی پيسې آخستلی شم اوکه نه؟

(خواب) تاسی صرف خپل حق واخلئ اودسود پیسي ترینه نشئ اخستلې، دغه پنځوس روپۍ یاپخپله ورته بیرته ورکړئ اویادبل په لاس ورته واپس کړئ،ستاسی لپاره ددی احسل جائزنه دي

دسود پیسې دخیر ښیګڼې په کارونو کې لګولی شئ:

(۳۱۴ _ سوال) ایادسود او دبیمه پیسي سړک او نورو اولسي کارونو کی لګولې شو او که نه؟ ایا په دغو پیسو سره د مسجد او بیت الخلا مرمت کول جائز دي؟ ایاد زکات پشان په دی کی مالک ګرځول شرط دی؟

(خواب) دامسئله مختلف فیه ده، غریب او مسکین ته ورکول اولی او غوره ده په سړکونو او رفاه عامه کارونو کی دلګولو ګنجائش نشته، په مسجد کی داپیسې نشی لګولې البته د مسجد دبیت الخلا په مرمت کی لګولی شې. فقط والله اعلم بالصواب.(په دی مسئله باندی مکمل بحث دمساجدو او مدارسو په احکامو کی تیرشوی دی).

ایادسود پیسې دیتیم خانې په عمارت او نورو شیانو کی لګولې شوو؟

(۳۱۵_ سوال) ایاله بانک نه ترلاسه شوی دسود پیسې دیتیم خانې په تعمیر او رنګ و روغن . همدغه راز له اولسي قبرستان نه ددیوال د تاوولو په کاروکی لګولی شو یانه؟

(خواب) هو په دغو پیسو سره داټول کارونه کولی شئ. فقط والله اعلم بالصواب.

کافر ته دسود پیسې ورکول:

(۳۱٦_ سوال) ایاله بانک ترلاسه شوي دسود پیسې غیر مسلم ته ورکولې شوو او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) په مسلمانانو کی پخپله ډیر زیات غریبان او نادارہ خلک دي لهذا که داپیسې غریبو مسلمانانو ته دثواب له نیت نه پرته ورکړی شي نو ډیره ښه ده .فقط والله اعلم بالصواب

د دواخانې په تعمیر کی دسود یا دزکات دپیسو لګیدل:

(۳۱۷_ سوال) زمونږ په سیمه کی یوه دواخانه ده د مذهب له تفریق نه پرته ټولو خلکوته په مناسب قیمت دوایانې ورکول کیږي، ددغې دواخانې لپاره یو تعمیر پکار دی ددی تعمیر په جوړولو کې دزکات اوسودپیسې لګولی شوو او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) د دراخاني په تعمیر کی دزکات پیسې استعمالول جائز نه دي اوکه ولګول شي نو دخلکو زکات نه اداکیږي.[1]

همدغه راز په دی کی دسود پیسې هم نشئ لګولی. البته که څوک خیراتي پیسې نه ورکوي اوکار معطل پاتی وي نوپه دی تاویل سره چی داهم درفاه عامه اودخیرښیګنې کاردی. مسلمانان او هندوان ټول له دینه ګټه اوچتوي نود سود د پیسو د استعمالولو او لګولو ګنجائش شته. فقط والله اعلم بالصواب.

دبانک سود غیر مسلم ته ورکول:

(۳۱۸ _ سوال) له بانک نه چی کوم سود ترلاسه کیږي هغه چاته ورکړی شي؟ یو غیر مسلم سړي سخت محتاج دی ایا هغه ته ورکولی شم اوکه نه؟ بینوا توجروا؟.

(خواب) دا پیسې باید غریب، مسکین او محتاج ته ورکړې شي او هغوی داپیسې پخپلو کارونو کی لګولی شي، غریب مسلمان ته فائده رسول پکاردي ځکه چی هغه له غیر مسلم نه زیات حقدار دی. فقط والله اعلم بالصواب.

دسود په پیسو د مدرسې لپاره د رحیلونو آخستل :

(۳۱۹ _ سوال) د سود په پیسو د مدرسې لپاره د رحیلونو آخستل څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(خواب) د مدرسې لپاره درحیلونو آخستل چې وربانـدی قرآن کریمونه او نور دیني کتابونه ایښودل کیږي ناروا او ناجائز دي، دسود پیسې دغرباو او محتاجو خلکو حق دی همغوی ته باید ورکړی شي. البته که چیرته په مدرسه کی غریب ماشومان سبق وائي او دهغوی مور اوپلاران ناداره او محتاج وي او اضطراري حالت وي نو که په دغو پیسو ماشومانو لپاره لباس یابل کوم دضرورت شی واخلی او ورکړی نو داسی کولی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

دمکتب په ډونیشن (امداد) کی دسود پیسې ورکول:

---

[1] ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کما مرلایصرف الـی بنآء نحو مسجد قال فـی الشامیة تحـت قوله نحو مسجد کبناء القناطر و السقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار وکل مالا تملیک فیـه شـامی بـاب المصرف ج ۲ ص ۳٤٤.

(۳۲۰ سوال) زه غواړم خپل زوی په یو سکول کی داخل کړم. مګردسکول (سکتب منتظمین د امداد په نوم څه پیسې رانه غواړي، ایازه هغوی ته دسود پیسې ورکولی شم اوکه نه؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ.

(ځواب) دسکول منتظمینو ته د ډونیشن یا امداد په نوم پیسې غوښتل روانه دي ځکه چی دا مدد نه بلکی رشوت دی. تاسی هغوی ته ووایئ چی مونږ دخپل وس په مطابق مرسته کوو، تاسی مونږ معلوم او ټاکلو پیسو ورکولو ته مه مجبوروئ.

تاسی په هغه کی دسود پیسې نه شئ ورکولی ځکه چی دسود پیسی ورکول ګویا دخپل زوی په تعلیم کی دسود پیسې لګول دي، لـه اضطراري حالـت نـه پرتـه دسـود پیسو استعمالول جائزنه دي. لهذا تاسی چی مالدار یئ نو تاسی دسود دغه پیسي په دغه کار کی نشئ لګولې. فقط والله اعلم بالصواب.

په رفاه عامه کی دسود دپیسو دلګولو ګنجائش:

(۳۱۱ سوال) حضرت مفتي صاحب له مسنون سلام وروسته عرض دادی چنی فتاوی رحیمیه شپږم جلد صفحه ۱۸۳ کی یوه مسئله ده چی په هغی کی تاسی دسـود د پیسو په اړه لیکلي دي : ((یادی رفاه عام په کارونو کی ولګولی شي)) ماتـه خپل معلومات تردی حده پوری دی چی دا واجب التصدق دی، نوځکه ځینی مشران دسود پیسي دبیت الخلا په جوړولو کی هم جائزنه بولي امید دی چی تاسی پـه دی بانـدی غور اوفکر وکړئ؟ فقطز

(ځواب) محترم و مکرم، دامت برکاتهم، له مسنون نه سلام نه وروسته عـرض دی چی د اشکال ځواب په مفصل ډول فتاوی رحیمیـه جلـد دریم صـفحه ۲٦۰_ ۲٦۷ (دجدید ترتیب په مطابق په باب الربوا کی د بانک دسود په متعلق په فتوه بانـدی تنقیـد الخ تر عنوان لاندیوګورئ. مرتب) طبع شوی دی.

په دی ځواب کی په رفاه عامه کی دسودي پیسو د خرچولو په متعلـق د حضرت مفتي اعظم مولانا محمد کفایت الله صاحب رحمه الله ځوفتاوی هم موجودی دي له هغو نـه دری فتوې په لاندی ډول دي:

(ځواب) په بانک کی دایښودل شویو پیسو سود باید ضرور وویستلی شي او دخیرښیګنې او رفاه عامه کارونو کی دی ورکړی شي. محمد کفایت الله کان الله لـه، مدرسـه امینیـه دهلی (الجمعیت نمبر ۱۷، ۹ ربیع الاول ۱۳۴٦ ھ مطابق ٦ ستمبر ۱۹۲۷ ع کال).

(خواب) له پوست آفس (ډاکخانې) اوسرکاري، بانکونو څخه سود آخستل څکه ضروري ګرځولی دي چی دنه آخستلو په صورت کی دسود دغه پیسې مسیحي تبلیغانو ته ورکول کیږي او هغوی د مسیحیت دتبلیغ لپاره خرڅوي. مسلمانان دی دخپلو پیسو سود دی واخلي او درفاه عامه په کارونو کی دی ولګوي. محمد کفایت الله غفرله. مدرسه امینیه ډهلي (الجمعیه دهلی یوم یکشنبه ۷ جمادی الاولی ۱۳۵۰ هـ).

(خواب) له بانک نه یی واخله اودغه دسود پیسې د رفاه عامه په کارونو کې درفع وبال په نیت یی ولګوه. محمد کفایت الله کان الله له، مدرسه امینیه ډهلي (الجمعیت نمبر۲۹_ ۴ رجب ۱۳۵۲ هـ مطابق ۱۲۲۴ اکتوبر۱۹۳۴ ع).

دماهنامه ((الرشاد)) فقه اسلامی دسیمینار ((خو مهمې فیصلې)) ددغه عنوان لاندی ((دسود په متعلق مسائل)) لاندی داتجویز هم دی.

د سمینار ګډون والو په دی خبره اتفاق دی چی له بینک نه باید دسود پیسې وویستلی شي او هلته دی پرې نښودلی شي. له ویستلو نه وروسته دی دغه پیسې په لاندینیو کارونو کی مصرف کړی شي.

دبانک دسود پیسې دی دثواب له نیت نه پرته فقیرانو او مسکینانو خرچ کړی شي په دی باندی دټولو ارکانو اتفاق دی.

دسود پیسې سجد او د مسجد په متعلقاتو کی نشي مصرف کیدلې.

دسیمنیار د ګډون کوونکو څخه دزیاترو رایه داده چی دغه پیسې د واجبي صدقاتو له مصارفونه علاوه درفاه عامه په کارونو کی هم مصرف کیدلې شي، دځینو حضراتو په فکر ددی مصرف باید فقراء او مساکینو پوری محدود وساتل شي. (ماهنامه جامعه الرشاد جنوري ۱۹۹۰ ء مطابق جمادي الثانی ۱۴۱۰ هـ جلد نمبر۱۸، شماره نمبر۲۱). فقط والله اعلم بالصواب.

د مسجد په بیت الخلا کی دسود پیسو لګول کله جائز دي؟

(۳۲۲_ سوال) له ماسره د بانک سودي پیسې دي دمسجد په بیت الخلاء او دمتیازو دځای دجوړولو لپاره ددغو پیسو استعمالول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(خواب) که چیرته د مسجد پیسې په بانک کی ایښودل شوي وي اودهغه سود مو آخستی وي، نوځرنګه چی دمسجد دپیسو حساب حکومت ته ښودل غواړي، نوکه دحساب ورکولو داساني لپاره ترلاسه شوی سودي پیسې د مسجد په بیت الخلاء او دمتیازو په ځایونو کی استعمال کړی شي نو ددی ګنجائش شته. اوکه چیرته دسود

پیسې د مسجد له پیسو نه نه وي بلکې د نورو پیسو سـود وي نوپـه دی صـورت کـې لـه مجبوریت نه پرته دی استعمال نه کړی شي بلکې دثواب له نیت نه پرتـه دی غربـاو تـه ورکړی شي فقط والله اعلم بالصواب.
(فتاوی رحیمیه ص ۹۲ ج ۲).

(دجدید ترتیب په مطابق په همدغه باب کې ایاسودي پیسې درفاه عامه په کـارونو کـې لګولی شو؟ تر عنوان لاندی وګوری مرتب). له جـواب نـه داسـې ثابتیږي چـې مطلقاً سودي پیسې دمسجد په بیت الخلاء یا د متیازو په ځای باندی لګیدلی شي هغـه سـوال او ځواب په لاندی ډول دي:

(سوال) ایادبانک اود بیمې سودي پیسې د سړک او نورو اولسي کارونو کې لګـولی شـوو او که نه؟ ایاپه دی پیسو سره د مسجد او بیت الخلا مرمـت کـولې شـو و اوکـه نـه؟ ایـا دزکات پشان پدی کې هم مالک ګرځول شرط دی؟

(ځواب) مسئله مختلف فیه ، غریب او مسکین ته ورکول غوره ده، سړک او نـورو فلاحـي کارونو کې دلګولو ګنجائش پکې نشته، داپیسې په مسـجد کـې نـه شـي لګـولې البتـه د مسجد دبیت الخلاء په مرمت کې لګولی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

داځواب د کاتب یا ناقل د غلط فهمې په وجه عام شوی دی. که نه داځواب د مسـجد دپیسو له سود سره مقید دی،لهذا ددی دی خیال وساتل شي کله چـې فتـاوی رحیمیـه جلد دوم چاپ او ترلاسه شواوپه مذکوره ځواب باندی می سترګې ولګیدلې نو ما احقر دمظاهر العلوم سهارنپور مفتي اعظم مولانا مفتـي سعید احمد رحمه الله په خدمت کـې دا ځواب ولیږه اوپه دی باره کې می ترینه تحقیق وغوښت. مفتي احمـد سـعید صـاحب ولیکل چې په ځواب کې داصـلاح ضـرورت نشـته. د مفتـي صـاحب ځـواب پـه فتـاوی رحیمیه دریم جلد صفحه ۲٦۳ ص ۲٦۴ کې لیکل شوی دی دافادې په خاطر هغـه دلتـه هم رانقلوو.

(پوښتنه) څه فرمایی ددین عالمان او مفتیان په دی مسئله کـې چـې لـه چاسـره د بانـک یادبیمه کمپنې او نورو څخه دسود پیسې وي نو هغه سړی دی دسود په دغـو پیسـو څـه وکړي؟ ایادغه پیسې درفاه عامه په کارونو سړک، کوهې د مسجد بیت الخـلاء او د نـورو شیانو په جوړولو کې دلګولو اجازه شته اوکه په دی تملیک شرط دی؟

(خواب) فقراو ته ورکول زیات غوره دي، له مسجد نه پرته په بیــت الخــلاء او نــورو کــی دلکولو گنجانش هم شته، دامختلف فیه مسئله ده، سعید احمد غفرله، مفتیمظـاهر علـوم سهارنپور فتاوی رحیمیه ص ۲۵۸ ج ۹ ۱۲/۲۵/ ۷۷.
دمفتی صاحب له دغی فتوی نه وروسته فتاوی رحیمیه ص ۱۹۲ جلد ۲) په خــواب کــی د اصلاح ضرورت ونه گمل شو او هغه خواب پرخای پرینبودی شولهـذا ددغـه صـورت د اختیارولو او غوره کولو گنجائش هم وینم. فقط والله اعلم بالصواب.

په تنخواه گانو کی دسودي پیسو استعمال او له نــورو پیســو څخــه یی جلا حساب ساتل:

(۳۲۳_ سوال) د مسلمانانو یوه رفاهي اداره ده چی دمدرسو او مکتبونو نه علاوه نــورې رفاهي اداري هم چلوي. ددغې اداري په لکونو روپــی بــانکونو کــی دي ددغــو پیســو سود هرکال اداري ته بلا ناغه ورکـول کیـږي، اداره دغـه پیسـې څنګـه اوپـه څـه کـی ولګوي؟ ایا معلمانو او ملازمانو ته له دغه سودي پیسو نه تنخواه ورکولی شو اوکه نه؟
که ځواب په نفی کی وي نو کوم غیر مسـلم اسـتاد او مـلازم تـه لدینـه تنخـواه ورکـول څنګه دي؟
ایا اداره دغه سودي پیسې د خپلو نورو پیسو سره یوځای په ورځنــی لګښــت او مصارفو کی استعمالولی شي اوکه نه؟
دسود حساب او کتاب دی جلا وساتل شي اوکه له نورو پیسو سره دی یوځای کړي؟
(ځـواب) بسم الله الـرحمن الرحیم (اـ ٥) دســودي پیســو واقعــي حقــداران ډیـر زیـات مفلوک الحال غریبان اومسکینان دي، سودي پیسې باید همغوی ته دثـواب لـه نیـت نـه پرته ورکړی شي. مسلم او غیر مسلم استاذانو او نورو ملازمینو ته دسود له پیسوَ نه تنخـواه ورکول جائزنه دي. البته که دمدرسې او مکتب له شاگردانو اویاله اسـتاذانو څخـه کـوم یو ډیر محتاج او غریب دی نو هغوی ته دامداد په توگه له سودي پیسو نه ورکولی شي.
په مسلمانانو کی دغرباو او فقیرانو څه کمی نشته نو څکه صرف مسلمان غربـاو تـه دی دا پیسې ورکړی شي، دسودي پیسو حساب او کتاب دی جلا وساتل شي او لـه نــورو پیســو سره دی یوځای نه کړی شي. کوم خلک چی خوشاله دي او گوزاره یی کیـږي هغـوی اودهغوی نابالغ اولادونه دسودي پیسو حقدار نه دي. فقط والله اعلم بالـصواب.

کـــتاب الاجارة

کرایه دار کورنه پریږدي :

(۳۲۴ سوال ، یوسړی د مسجد په کور کی د ځلـور کلـو راهیسـي پـه ۱۳ روپـۍ کرایـه باندی اوسیږي، فی الحال ددی کور کرایه تر دیرشو روپو پوری خلک ورکـوي دغـه سړي ته د مسجد منتظمینو له یوکال وړاندی نه وېلي دي چی نور خلک څومره کرایه ورکوي تـه هـم همغـومره کرایـه ورکـړه. هغـه پـه ځـواب کـی وویـل چـی زمـانوی کورتیارېږي کله چی هغه جوړشي نو زه دغه کور پرېږدم. اوس دهغه کـور جـوړ شـوی دی خوبیایی هم د مسجد کورنه پرېږدي خپل کور یی په ۷۵ روپـۍ بانـدی پـه کرایـه ورکړی دی او وایی چی زه پخوانی کرایه داریم. دسـرکاري قـانون پـه حسـاب سـره تاسی مانه شئ ویستلی او نه را بانـدی کرایـه زیـاتولی شـئ. اوس پوښتنـه داده چـی سرکاري قانون که هرڅنګه وي ایا داسلام په شریعت کی داسی کول مناسب کـاردی؟ ایاخود غرضی لپاره دالله کورته نقصان رسول جائز دي؟ بینوا توجروا.

(ځواب)داچی کرایه دار خپل ذاتي کور لري نوپرهغه لازم دي چی دمسجد کور فـوراً پرېږدي اوخپل کورته لاړشي، که داسی نه کوي نو نور خلک چی ددغـه کـور څـومره کرایه ورکوي هغه دی هم همغومره کرایه اداکړي خپل کور د زیات کرایـه پـه طمـع بل چاته ورکول اود مسجد کورته نقصان رسول اوله خپل عهد او پیمان نه وروسـته نـه خالي کول بداخلاقی، بی انصافی او وعده خلافی ده هغه ته پکاردي چی لـه الله نـه وویرېږي.[۱]

دکور مالک، کرایه دار او پګړی مسایل :

(۳۲۵ سوال) ددین علماء په دی مسئله کی څه وایي چی دکور مالک دخپل کـور یـوه حصه څوکاله وړاندی په کرایه ورکړی وه او کرایه دار هلته اوسیده اوس کرایـه دارتـه په دغه حصه کی د اوسیدو ضرورت نشته خود کور مالک ته ضـرورت شـته چـی پخپلـه پکی واوسي

---

[۱]- ویزجـر بأجـر الـمثل فلایجوز بالاقل ولو هو الـمستحق قارئ الـهدایة الابنقصان یسر در مختار مـع الشامی کتاب الوقف ج ٤ ص ٤٠٢.

(۱) مګر کرایه دار دکور مالک ته دقبضې په ورکولو کی آنی بهانې کوي او غواړي چی له هغه نه څه پیسې ترلاسه کړي.
(۲) یاله بل چانه څه پیسې واخلي اودغه خای همغه ته ورکړي.
(۳) یاکوم خپلوان ته دغه کور حواله کړي اوخپل مالک ته ورنه کړي.
(۴) نن سبا کرایه دار دکور مالک ته دقبضی ورکولو نه وړاندی له مالک نه کافی پیسې اخلي او بیا ورته قبضه ورکوي، دکور مالک مجبوراً هغه ته پیسې ورکوي ایاداکار په شریعت کی جائز دی؟

ځواب) (۱) که چیرته دکرایه دار ضرورت دغه کور پوری موقوف نه وي اولدینه علاوه دهغه داوسیدلو ضرورت پوره کیږي نو پرهغه لازم دي چی کور خپل اصلي مالک ته حواله کړي. له عذر نه پرته تاخیر کول ظلم او ګناه ده په حدیث شریف کی دي:
مطل الـــغنی ظلمـــ یعنی دقدرت لرلو باوجود د حق په اداکولو کی تاخیر کول ظلم دی. (ابوداود ص ۱۱۹ ج ۲ کتاب البیوع باب فـی المطل وحسن القضآء والصرف).
په بل حدیث کی دي: خپله نقصان کول او نورو ته نقصان رسـول دواړه د اسلام لاره نه ده. (الاشباه والنظائر ص ۱۰۷ القاعدة الرابعة المشقة تجلب التیسیر).
دکور د خالي کولو په عوض کـی پیسـي غوښتـل جائزنـه دي بلکـی ظلـم او ګنـاه ده دمحمد صلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی چـی: ((مـــلعون من ضار مومنا اومکریـــه))
یعنی څوک چی کوم مسلمان ته نقصان ورسوي یا ورته دوکه ورکړي هغـه ملعـون دی، یعنی دالله تعالی له رحمت نه لری دی. (مشکواه شریف ص ۴۲۸ باب ماینهی منه من التهاجر والتقاطع واتباع الصورات).
(۲) دکور د مالک له اجازې نه پرته بل چاته دکور ورکولو حـق لـه سـره نـه لـري. کـه داسی کړي نو سخت ګنهګاریږي، دکورسپارلو په بدل کی پیسې آخسـتل بالکـل نـاروا دي، داپه رشوت کی حسابیږي چی ورته حلال نه دی.
(۳) که خپل خپلوان ته ورکوي نو داهم ورته جائز نه دی اولویه ګناه ده.
(۴) هغه ته هرګز روانه ده چی دکور د مالک نه دهغه دکور دخوشې کولو په بدل کـی پیسې واخلي. که واخلي نو دا ورتـه حرامـی دي او پخپلـه لـوی ګنهګـاردی. پرهغـه ضروري ده چی مالک ته خپل کور فوراً وسپاري او له ګناه نه خپل ځان خلاص کړي.

دکور مالک او کرایه دار لپاره شرعي لارښوونه

دغلې او نـورو خـوراکي څیزونـو ، همدغـه را ز درختونـو او نـورو څیزونـو د نـرخ د مقررولو اختیار مالک ته دی، که څه هم زیاته ګټه ممنوع ده. حکومت ته په دی کی د مداخلې حق نشته. که حکومت نرخ مقرر کړي نودابه یوقسم ظلم وي. لیکن که چیرته د تاجرانو د زیاتې ګټې حرص ډیر شي اوله حد نـه واوړي او اولـس پـه پریشانی کـې اخته کړي، نود اولسي وګړو د پریشانی د ختمولو او ضـرر عامـه لـری کولـو پـه خاطر حکومت ته دنرخ مقررول جائزدي. او دحکومت په ټاکلی نـرخ بـه خریـد و فروخـت صحیح وي لکه چی په مالا بدله کی دي: ((بادشاه و حاکم را نرخ مقرر کردن مکروه است مګر وقتیکه بقالان در ګرانی غله بسیار تعـدی نماینـد در آن صـورت بـه مشورت دانایان نرخ کند.(ص۱۲۳).

یعنی پاچالپاره دکوم څیز نرخ مقررول مکروه دي. لیکن کله چی د خـوراکي څیزونو قیمت له حد نه واوړي اوخلک پریشانی کی واچوي نو د تجربه کارو او نیکو خلکو په مشوره نرخ مقررولې شي. همدغه راز د کـور مالـک تـه اختیـار دی چـی دمـودې له ختمیدو نه وروسته کله هم وغواړي له کرایه دار نـه کـور خـالي کـړي. لـیکن پـه دې وخت کی دکورونو ډیرکمی او تنګي ده، کرایه له حدنـه آوړیـدلې ده، لدینـه عـلاوه پګړي په نوم هم ترینه پیسې آخلي، نوپه داسی حالت کـی دعامـه ضـرر پـه نظـر کـې نیولو سره حکومت قانون جوړ کړی دی ترڅو دکورمالک کرایـه دار پریشـان نـه کـړي. نوپه دی صورت کی که کرایه دار واقعي مجبـور وي او دکـور دخـا‌ي کولـو پـه وجـه دهغه کورنی او ماشومان په پریشانی کی اخته کیږي دهغه دوس په مطابق بل کور هم ورته پیدانشي نو ترهغه وخته پوری له قانون نه دګټې اوچتولو ګنجـائش موجـود دی. ((الضرورات تبیح المحظورات)) یعنی حاجت ناجائز څیز جائزوي، داسـی عـاجز سـړی دیته مجبورول چی کور خالي کړي اودهغه ماشومانو ته له زغم نه بـاهر مصیبت کـې اخته کول بالکل ناروا او ګناه ده، هغه تـه بایـد مهلـت ورکړیشـي او همـدردي دې ورسره وکړی شي. په حدیث شریف کی دي چی کوم سړی عـاجز او مفلـس انسـان تـه مهلت ورکړي اویابې معاف کړي نو الله تعالی هغه ته دقیامـت پـه ورځ لـه سـختی نـه خلاصون او نجات ورکوي.

په یوبل حدیث کی دي چی کوم سړی د مسلمانانو دنیاوي تکلیف لری کوي الله تعالی دهغه په بدله کی دقیامت د ورځې له تکلیف او پریشانی نه محفوظ ساتي. (ابوداود، ترمذی).

دمحتاجو مسلمانانو ډوډۍ، جامه اود اوسیدو لپاره دکور خالي کول دهر قدرت من او باحیثیت مسلمان په ذمه ضروري وي، که چیرته مالدار خلک دغریبانو د ضرورت احساس نه کوي نو حاجتمند اوپریشان حاله غریب سړي ته دخپل واقعی ضرورت دپوره کولو لپاره دزبردستي کولو شرعاً اجازه ورکول شویده.

درسول الله صلی‌الله علیه وسلم حدیث شریف دی چی که له تاسو نه کوم محتاج سړی د شدو د څارویو له څنګ نه تیرشي اودهغه مالک هلته موجود وي نودهغه په اجازه دی شدې وځښي. اوکه مالک موجود نه وي نو درې کرته دی آواز وکړي که خواب ورته ورکړ شو نو داجازې په آخستلو سره دی شیدې وځښي اوکه ځواب ورته ورنکړ شو هغه دخپل ضرورت په مطابق دی شیدې ولوشي او ودې ځکي. کورته دی نه وړي. (ابوداود).

علامه ابن جزم اندلسي فرمايي :

((مـــن القوت الّذی لابُدَّمنهُ وَهیَ اللباسُ للشتاء والصیف بـــمثل ذالك ومســـكن يكفيهم من الـــمطر و الصيف والشمس)).

یعنی مالدار مسئول دی چی هغه دخپل کلي دحاجت مندو او غریبو خلکو ضرورت پوره کړي یعنی خوراک اوله ګرمی او یخنۍ نه دبچ کیدو لپاره مناسب سامان اولباس، اوله باران او ګرمي نه دبچ کیدو لپاره د کورونو انتظام وکړي. (محلی شرح موطا ص ۱۵٦ جلد٦).

الله تعالی ټول مسلمانان (رُحماء بينهم) پخپلو کی رخم کوونکي او بنیان مرصوص (کلک دیوال) ګرځولي دي. او رسول الله صلی‌الله علیه وسلم مومنانو ته یوجسم ویلي دي: ((مثـــل الـــمؤمنين فـــى توادهم وتراحمهم وتعاطفهم مثل الجسد اذا اشتكى له عضواً تداعى له سائرالجسد بالسهر والحمى)) یعنی د مومنانو مثال پخپلو منځونو کی محبت، رحمت او شفقت کی داسی دی لکه دیوجسم که چیرته دهغوی په یو عضوه او اندام کی شکایت پیداکیږي، نو ټول جسم بی خوبي او تبه کی اخته کیږي. (الحديث).

همدغسې ديو مسلمان تكليف دټولو مسلمانانو تكليف دی، بايد ټول په ګډه دهغه د تكليف دلری كولو خپل مسئوليت اداكړي. انصارو د مهاجرينو خدمت وكړ، هغوی ته يې تسلي او كورونه يې وركړل پر مونږه هم فرض دي چې دخپل وس په مطابق په تكليف كې اخته مسلمانانو سره د تكليف دلرې كولو اودهغوی د ضرورت په پوره كولو كې بشپړ مدد وكړو. (فقط والله اعلم بالصواب).

له اصل وخت نه په وروستي وخت كې تنخواه وركول :

(۳۲٦ سوال) دكوم مصلحت په خاطر دمدرسې استاذانو ته له اصلي وخت نه لس ورځې وروسته تنخواه وركول څنګه دي؟ بينوا توجروا.

(ځواب) كه چيرته له مدرس او استاذ سره له مخكې نه ددې خبرې صفايي شوې وي چې دوخت دپوره كيدونه به لس ورځې وروسته تنخواه دركول كيږي نوپه دې كې څه اعتراض نشته اوكه له مخكې نه صفايي ورسره نه وي شوې نو دمياشتې په لومړۍ تاريخ بايد دهغوی تنخواه وركړی شي. له شرعي معذرت نه پرته وروسته كول مذموم او د شكايت وړ دي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

مدرس له ټاكلي وخت نه علاوه په بل وخت كې په راتلو مجبورول:

(۳۲۷ سوال) په يوه مدرسه كې يو استاد د سهار په وخت ديو نيم ساعت درس ښودلو لپاره مقرر كړی شو، له ماسپښين نه وروسته هغه په بل ځای كې كاركوي. په كوم سهار چې ماشومان دسهار په ټاكلي وخت كې رانشي نو دغه استاد پدې خبره مجبورول چې له ماسپښين نه وروسته راشه څنګه دی؟ په داسې حال كې چې دمقررۍ په وخت كې داخبره نه وه شوې چې كه دسهار په وخت كې ماشومان لږ راشي نو ته به له ماسپښين نه وروسته راځې، خو ددې باوجود د استاد مجبورول څنګه دي؟ بينوا توجروا.

(ځواب) كله چې دتقررۍ په وخت له تاسره دامعاهده نه ده شوې چې دمدرسې د وخت دتبديلۍ په وجه به بيا ماسپښين راځې نو بيا ستا مجبورول ناجائز او نا انصافي

---

[1] -قـال رسول الله صلى الله عليه وسلم اعطوا الاجير اجره قبل انيجف عرقه. مشكواة بـاب الربعـاة ص ۲۵۸.

ده.[۱] که چیرته دسهار پرخای دماسپښین په وخت راتلـو کـی څـه نقصـان نـه وي. نـو مدرسې ته پکاردي چی له مروت نه کار واخلي اود تعلیم د اهمیت په وجه له راتلو نه انکار ونه کړي، البته مدرس قانوناً ددی پابند نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

دکرایه کور په خالي کولو سره دکور مالک نه پیسې آخستل :

(۳۲۸_ سوال) مایو کور له اتو کلونو نه په کرایه اخستی دی اوزه په هغه کـی اوسېږم دکور مالک له مانه دکور خالي کولو غوښتنه کوي ترڅو پخپله وربانـدی قبضـه وکـړي هغه غواړي چی ددې په بدل کی ماته څه پیسې هم راکړي ایازه دغه پیسې له هغه نه اخستلی شم؟ ماد کور په مرمت کی هم څه پیسې لګولې دي بینوا توجروا.

(ځـواب) د کرایه مکان د خالي کولو په عوض کی دکور لـه مالـک نـه پیسـې آخـستل ناروا دي خوکه چیرته د کور مالک له تانه پګړی آخستې وي او کور یې درته په کرایـه درکړی وي نوپه پګړي کې چې څومره پیسې تاد کور مالک تـه ورکـړی وي همغـومره پیسې ترینه آخستلې شي، که نه نو آخستل یی جائز نه دي. تاپه کورکی دخپل راحـت او آرام لپاره څه څیزونه جوړ کړي دي که د کور مالک هغه تاته درکوي نو آخستل یی درته جائزدي فقط والله اعلم بالصواب. ۲۱ محرم الـحرام ۱۳۹۷هـ.

د مـسجد د کور زیات مستحق څوک دی؟ امام او که منتظم؟

(۳۲۹ سوال) د مسجد یو کور خالي دی، دمسجد متولي هغه په کرایـه ورکـول غـواړي ډیر خلک دمسجد د کور دنیولو هیله من دي، امام صاحب هم خواهش ښکـاره کـړی دی اود مسجد یو منتظم هم غواړي چی پکې واوسېږي لیکن د مسجد متولیانو هغو ته له کرایه ورکولو نه انکار کړیدی. خو امام ته ورکولو لپاره تیار دي، خو منتظم صـاحب په دی خبره د امام مخالفت کوي ، متولیان اودمحلې خلک هـم امـام صـاحب لپـاره خوشحاله دي چی داکور دی امام ته په کرایه ورکـړی شـي اوس پوښتنـه داده چـی ددغه کور په کرایه آخستلو کی کوم یو زیات حقدار دی؟ امام صاحب یا منتظم ؟بینـوا توجروا.

(ځواب) څرنګه چی د مسجد امام کورنه لري اوبل کور پیداکیـدل هـم نـن سـباګران دی نوځکه د منتظم په مقابله کی امـام زیـات محتـاج ، ضـرورت منـد او حقدار دی،

---

[۱]-و الـثانـی وهو الاجـیر الخاص ویسمی اجیر وحد و هو من یعمل لو أحد عمـلا مؤقتـا بالـــتخصیص ویستحق الأجر بتسلیم نفسه فـی المدة در مختار مع الشامی کتاب الاجارة مبحث الاجیر الخاص ج ٦ ص ٦٩.

هسې هم د مسجد متولیانو ، منتظمینو او مقتدیانو باندی دالازم دي چې امام صاحب اودهغه کورنۍ لپاره دکور انتظام وکړي. والله اعلم بالصواب.

له کرایه دار نه دکور د خالي کولو شرعي حکم:

(۳۳۰ سوال) د کور مالک غواړي چې خپلو زامنو ته واده وکړي نو ځکه د کور ضرورت ورته پیداشوی دی، لیکن کرایه دار د کور له خالي کولونه انکارکوي، حال داچې هغه مسلمان دی نوپه دی باره کې شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته دکرایه دار ضرورت دغه کور پوری موقوف نه وي اولدینه بغیر هم دهغه د اوسیدو لپاره مناسب کورونه پیداکیږي، نو پرهغه لازم دي چې کور خالي کړي، له مجبوریت نه پرته تاخیر او پس و پیش کول ظلم او ګناه ده دکور مالک ته هم لازم دي چې هغه کرایه دار پریشان نه کړي دکور دپیداکولو مهلت ورته ورکړي، له مجبور سړي سره د نرمي کولو لوی فضیلت بیان شوی دی. د زیات معلومات لپاره په همدی باب کې ((دکور مالک، کرایه دار اودپګړۍ مسائل)) تر عنوان لاندی وګورئ.(مرتب) فقط والله اعلم بالصواب.

دخپل کور خالي کولو لپاره مجبوراً پګړۍ ورکول:

(۳۳۱_ سوال) ماخپل کور یو شخص ته په کرایه ورکړیدی زه اوس غواړم چې خپل زوی ته واده وکړم نوځکه ماته دکور سخت ضرورت دی، مونږ چې په کوم کور کې اوسیږو هغه ورکوتی دی کرایه دار د کور د خالي کولو په عوض کې له مانه پنځلس سوره روپۍ غواړي. ایا دداسي مجبوریت په حالت کې دکور دخالي کولو لپاره دپګړۍ ورکول جائز دي؟ بینوا توجروا. •

(ځواب) کورستادی او تاته ددی ضرورت هم شته‌لهذا دخپل حق د ترلاسه کولو لپاره مجبوراً پګړۍ ورکولې شې څه ګناه درباندی نشته. فقط والله اعلم بالصواب. مګر د کرایه دار لپاره ددغو پیسو آخستل حرام دي وګوری سوال نمبر ۳۲۸.

باب مايجوز من الاجارة ومالا يجوز

په بانک کی نوکري کول ښنګه دي؟

(۳۳۲ سوال) زه بی کام (B.Com) یم او ماته په بانک کی نـوکري پیـداکیږي، تاسـوته معلومه ده چ دبانک ټوله معامله سـودي راکـړه ورکـړه ده، نودداسـې نـوکری قبلـول ښنګه دي؟

(الف) ځینی راته وایي چی ته خو له بانک نه دخپل کار په بدل کی تنخواه آخلې نـو له دی سره دسود څه تعلق؟

(ب) حقیقت دادی چی نن سبا هر لوری وګورې دسود کاروبار روان دی . کـه چیرتـه په بل کمپنی کی هم نوکري پیداشي نو هغه به هـم سـودي کاروبـار کـوي یعنـی پـه بانک کی به پیسې ږدي او سودبه آخلي نوځکـه دهغـه پـه آمدنـی کـی هـم سـود را ګډیږي اوله هغه نه بیا ملازمینو او نوکرانو ته تنخواګاني ورکـوي. آخـر زه څـه وکـړم؟ بینوا توجروا

(ځواب) کله چیپه بانک کی ټول کاروبار سودي راکړه ورکړه ده نو بیا شرعاً پـه هغـه کی د ملازمت کولو هیڅ جواز نشته. په حدیث کی دي:

عـــن جابـــر رضی‌الله عنه قال لعن رسول الله صلی‌الله علیه وســـلم اكـــل الربـــوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء. (مشکوة شریف ص ۲٤٦ مجتبـــايي بـــاب الربوا).

له جابـر رضی‌الله عنه نـه روایـت دی چـی رسـول الله صـلی‌الله علیـه وسـلم پرسـود اخستونکو، سود ورکوونکو، دسودي کاروبار لیکونکو او ددې پرګواهانو بانـدی لعنـت کړی دی او ویلي یی دي چی دا ټول خلک په اصل ګناه کی شریک دي.

لدینه ثابته شوه چی دګناهونو په کارونو کی مرسته کول اوپه هغه کی څه قسم ګډون کول او حصه آخستل جائزنه دي بلکی لویه ګناه ده.

الله تعالـی فرمایي : وَلاتعاونوا علـــی الاثم والعدوان.

دګناه او تیري په کارونو کې له یوبل سره کومک مه کوئ. (سوره مائده).

(الف) لهذا دچاچي دا خیال دی چی په بانک کی دخپل کار عوض آخستل دي او لـه دی سره دسود څه تعلق دی؟ دهغوی داخیال غلط دی اوپه دی زمانـه کـی دداسـې خیالاتو لرل څه دتعجب خبره نه ده، محمد صلی‌الله علیه وسلم پیشګویی کړیده چې: یـاتـی علـی الـناس زمان لایبالـی الـمرء ما اخذ منه امن الحـلال ام مـن الحرام. رواه الـبخاری عن ابـی هریرة رضی الله عنه (مشکوة شـریف ص ۲٤۱ باب الکسب وطلب الحلال). پرخلکو داسی زمانه راتلونکی ده چی سړی به دمال په ترلاسه کولو کی دحلال او حرام پروانه کوي. (بخاری‌شریف).

(ب) ترکوم حده پوری چی دبچ کیدو امکان وي د بچ کیدو کوشش دی وکـړي، کـه تنخواه یقیناً له سودي پیسونه ورکول کیږي نو داسی نوکري مه کوئ. اوکه یقین یی نه وي نو بیادشک اوشبهې کولو ضرورت نشته، مګردهغـه دایقین چـی پـه بانـک کـی داینبودل شویو پیسو څخه تنخواه ورکول کیږي نوپه بانک کی دپیسو په اینبودلو سـره پیسې نه حرامیږي بلکی هغه پیسې حرامی دي چی دسود په توګه آخستل کیږي، لهـذا ترڅو پوری چی پوره تحقیق نه وي شوی شـک اوشـبه کـول نـه دي پکـار، اوکـه پـه تنخواه کی دسود پیسې هم ورکوي نو همغوی ګنهګار دي.

(ج) داد شیطان دوکه ده چی په دی زمانه کی حلال رزق نه شي ترلاسه کیـدی دالله تعالی فرمان دی:

وَمَامِنْ دابةٍ فـی الارض الاّ علـی الله رزقها.

دزمکی په سر داسی کوم خوځنده نشته چی دهغه رزق دالله په ذمه نه وي.

الله تعالی چی پخپل دی فرمان کی د رزق رسولو کومه وعده کـړی ده هغـه د حـلال اوپاک رزق لپاره ده نه دحرام لپاره. دچانیت چـی دحـلال رزق لپـاره وي الله تعالی هغه ته همداسی روزي ورکوي له الله سره د هیڅ څیز کمی نشته. ته دبانک دنـوکری پرځای حلال او جائز نوکري ځانته ولټوه، تجارت وکړه ځکه چی داډیربنه کـاردی پـه حدیث شریف کی دي چی په لسو حصو کی نه (۹) حصـی رزق پـه تجـارت کـی دی.

فقط والله اعلم بالصواب.

دغنمو د اوړه کولو په مقابل کی پیسې ورکـول او دسـوځیدو پـه بدل کی څه اوړه آخستل:

(۳۳۳_ سوال) دلاندینی مسئلې په باره کی د دین علماء او مفتیان څه وایی؟

زید د اوړو ژرنده لري دهغه اصول دادي چې دیوه (کونټل) په سر پنځه روپۍ لـه اوړو کولو سره جګکن دوکیلو فـی کونټل فی حساب سره آخلي په دی صورت کـی پـه هغـه باندی دغلې اوره کول شرعاً ځنګه دي؟ که چیرته فتوه د عدم جواز وي نوشامی جلد پنځم صفحه ۳٦ ددی عبارت مطلب واضح کړئ.

(قـــوله والحیلة ان یفرز الا جراولا) ای ویسلمه ای الاجیر فلو خلطه بعد وطحـــن الکل ثم افرز ورد الباقی جاز ولایکون فـــی معنی قفیز الطحـــان اذلم یســـتاجره ان یطحن بجزء منه او بقفیز منه کمافـــی الـــمنح عن جواهر الفتاوی قال الرملی وبـــه علم بالاولـــی جواز ما یفعل فـــی دیارنا من اخذ الا جرة من الحنطة والدراهم معا ولا شك فـــی جوازه.(شامی باب الاجارةالفاسدة ج ٥ ص ٣٦).

اوکه چیرتـه فتـوه د جـواز وي نـو دقفیزالطحـان صـورت بـه څـه وي؟ همدغـه راز د قفیزالطحان صورت هم ولیکئ. فقط. (بینوا توجروا). اعظم ګړهـ.

(ځـواب) وهوالموفق للصواب. په سوال کـی مـذکوره صـورت پـه قفیـز الطحـان کـی داخل نه دی. په اجرت کی پیسې ورکولې شي نه اوره، ددی برعکس دقفیـز الطحـان صورت دادی:

صورة قفیز الـــطحان ان یستاجر الرجل من آخر ثورا لیطحن بها الحنطة حلـــی ان یکون لصا حبها قفیز من دقیقها اوثلثة او ماشـــبه ذلـــك فـــذلك فاســـد(فتـــاوی عـــالمگیری ج ٥ ص ۲۷۱ کتاب الاجارة الفصل الثالث فـــی قفیزالطحان ومـــاهو فـــی معناه)

زمونږ خلک په اجرت کی پیسې ورکوي چی دهغه په اداکولو کی دعقد په وخت کـی مستاجر عاجز نه وي چی دعدم جواز وجه ده. والـــمعنی فیه ان الـــمستأجر عـــاجز ان تسلیم الاجر (هدایه آخرین ص ۲۸۹ باب الاجارة الفاسدة).

د اجازې د صحت لپاره داشرط اینبودل شوی دی چی له عقد نه وړاندی مُستاجر پـه اجرت باندی قادر وي. ولـــقدرة علـــی التسلیم شرط وهو لایقدر بنفســـه. شامي جلد ٥ ص٤٨ کتاب الاجاره).

لهذا دا اجاره صحیح ده اوفاسده نه ده. پاتي شوه دسوځیدو په عوض کی د اوړو آخستل نو هغه له مزدوري نه جلاخیزدی داندازی په مطابق ترینه اوړه ګرځول کیږي چې پرهغه مستاجر او اجیر دواړه رضاوي.
دهریو مستاجر دغنم او اوړو وزن کول اود سوځیدو صحیح مقدار ویستل مشقت او تکلیف ما لایطاق دی لهذا داسی جهالت باید مرتفع شي. (والمشقة تجلب التیسیر. الضرورت تبیح المحضورات). بهتر صورت دادی چې په اجرت کی اضافه والی وکړی شي او اوړه دی پوره ورکړی شي. دقفیزالطحان دحدیث په متعلق " نصب الرایه لاحادیث الهدایه " کی دي: الحدیث السابع قال المصنف وقد نهی النبی صلی الله علیه وسلم عنه یعنی قفیز الطحان قلت: اخرج الدار قطنی ثم البیهقی ف سننهما فی کتاب البیوع عن عبیدالله بن موسی ثنا سفیان عن هشام ابی کلیب عن عبدالرحمن بن ابی نعم البجلی عن ابی سعید الخدری قال: نهی عن عسب الفحل وعن قفیز الطحان، انتهی واخرجه ابویعلی الموصلی فی " مسنده" عن ابن المبارك ثناسفیان به، وذکره عبدالحق فی " احکامة" من جهة الدار قطنی وقال فیه نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم الخ (نصب الرایه ج ٤ ص ١٤٠). کتاب الاجارة) فقط والله اعلم بالصواب.

د مدرسې کور بانک ته په کرایه ورکول:

(۳۳۴_ سوال) زمونږ په علاقه کی دتعلیم الاسلام په نوم یوه مدرسه ده، دغه مدرسه څو کورونه لري له هغونه یو کور خالي پروت دی ایا مونږ داکور بانک ته په کرایه ورکولی شوو اوکه نه؟ که دا کور بل چاته ورکړی شي نو هغوی کمه کرایه ورکوي او بینک والا معقوله کرایه ورکوي، دمدرسې مالي حالت هم کمزوری دی په داسی حالت کی دمدرسې کور بانک ته ورکولی شو اوکه نه؟ بینو توجروا.
(خواب) دمدرسې کوردی بانک ته په کرایه ورنکړی شي له ګناه سره د کومک په وجه ممنوع دی، دسود بدي او وعیدونو په نظر کی نیولو سره د مدرسې کور بانک ته په کرایه ورکولو جرئت باید ونه کړی شي اګرچې بانک والا کرایه ډیره ورکوي. لهی ارشاد دی:

قُل لایســـتوی الخبیث والطیب ولو اعجبك كثرة الخبیث فاتقوا الله یااولـــی الالباب لعلکم تفلحو ن.

(ای محمده) ورته ووایه چی ناپاک او پاک برابر نه دي که څه هم دناپاک کثرت تاپـه تعجب کی آچوي، پس له الله تعالی نــه وویریږئ ترڅــو تاســی کامیـاب شـئ. (ســوره مائده). فقط والله اعلم بالصواب.

دهندوانو مړي د مزدوري په عوض کی له یوځای نه بل ځای تــه وړل:

(۳۳۵سوال) دلته د هندوانو او نورو غیرمسلمو مړي مسـلمان ډریـوان لـه شـفاخاني نـه دهغوی ترکوره پوری رسوي او ددی په عوض کی ترینه پیسې آخلي ایاداکار جائزدې. بینوا توجروا.

(خواب) په دی کی هیڅ بدي او قباحت نشته، دمړي له اوچتولو اوپرهغه دلاسـونو لـه لګولو نه دی ډډه وکړی شي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

فلمي اداکارانو ته دهوټل کوټې په کرایه ورکول:

(۳۲٦ سوال) زما د دوست یوهوټل دی په هغه کی ګیسټ هاوس هم دی، دلته مسافر په کرایه اوسیږي په دغو مسافرو کی کله کله داسی مسافر هم وي چی په فلمونـو کـی کارکوي اویاهم قوالي وايي، له هغـوی سره پـردی ښځـې هـم وي او تـول یوځـای اوسیږي داسی خلکوته دهوټل کمره په کرایه ورکول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(خواب) داسی خلکوته د هوټل کوټې په کرایه ورکول لـه ګنـاه سـره تعـاون دی لهـذا هغوی ته د کوټو په کرایه ورکول جائزنه دي. فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] ــ ولـــواستأ جر الـــمشرکون مـــسلما لیحمل میتا منهم الـــی موضع یدفن فیه ان ستأجروه لینقلـــه الـــی مقبرة البلدة جاز عند الکل فتوی عالـــمګیری کتاب الاجارة الباب السادس عشر فـــی مسائل الشیو ع فـــی الاجارة الخ.

(۱) د امامــت تنخــواه او معيــاريي، (۲) د معقــول معــاش لپــاره دمساجدو د امامانو تنظيم جوړول اوله حکومت نه تعاون ترلاسـه کول (۳) په اسلام کی دمسجدونو اهميت (۴) اودهغه صحيح نظام ، له الله نــه ويريــدونکي امــام، صــالح مــوذن او اهليــت لرونکــی متوليانو باندی دی (۵) رازق الله تعــالـی دی.

(۳۲۷سوال) ايا د مسجد امام لپاره تنخواه آخستل جائز دي اوکه نه؟ اوکه جائز وي نـو څومره اندازه تنخواه پکارده. نن سبا د مسجد امامانو تـه ډيـره کمـه تنخـواه ورکـول کيږي؟ ايا د مسجدونو متولي او ذمه دارو ته په دی باندی توجه کول ضروري د او که نه؟ د مسجد د امامانو لپاره د معقولی معاش د مطالبې لپاره تنظيم جـوړول او تحريـک چلول اوپه دی سلسله کی له حکومت نه تعاون ترلاسه کول څنګه دي؟ اياپـه شـريعت کی ددی څه قباحت اوبدي شته اوکه نه؟ بينوا توجروا.

(ځواب) په اسلام کی د امامت منصب ډير لوی اهميت لري دايو له عـزت او وقـار نـه ډکه ديني شنبه ده، داد محمـد صـلی‌الله عليـه وسـلم مصـلی (ځـای نماز) دی امام درسول الله نائب وي، امـام دالله تعـالی او مقتـديانو تـرمنځ يـو قاصـد وي نـو څکـه هرڅوک چی له ټولو نه بهتر وي نو همغه دی امام جوړ کړی شي. په حديث کی دي: که چيرته تاسی داخوښوئ چی ستاسی لمونځ دمقبوليت درجې تـه ورسـيږي نـو لـه تاسونه چی کوم يو عالم ډير تقوی دار او نيک وي همغـه دی ستاسـی امامـت وکـړي څکه چی هغه ستاسی او ستاسی درب ترمنځ قاصد دی.

ان ســـرکم ان تقبل صلوتکم فليؤ مکم علـــماء کم فانهم وفد کم فيما بينکم وبين ربکم. رواه الطـــبرانی وفـــی رواية الحاکم فليؤ مکم خيارکم وسکت عنه.(شـــرح نقايه ۸٦/۱ والاولـــی بالامامة الخ).

په يو بل حديث کی دي چی له تاسونه کوم يو ډير غوره او بهتر وي همغه خپـل امـام وګرځوئ څکه چی هغه ستاسی او ستاسی درب ترمنځ قاصد دی. (پورتنی حواله).

دفقهې مشهور کتاب نور الايضاح کی دي:

فالاعلم احق بالامامة ثم الاقرأثم الاورع ثم الاسن ثم الاحسن خلقـــا ثم الا حســـن وجهاثم للاشراف نسباً ثم الا حسن صوتا ثم الا نظف ثوبا(۸۳، ۸٤باب الامامة).

دامام زیات حقدار هغه دی چی په دین باندی زیات پوهیږي (خصوصـاً د لمـونخ پـه متعلق مسائلو باندی ښه واقف وي) بیا هغـه شـخص چـی قرآنکریم پـه تجویـد سـره لوستلی شي. بیاهغه چی زیات متقی او پرهیزګار وي، بیاهغـه چـې عمـر یی ډیـر وي، بیاهغه چی اخلاق ې ډیرښه وي، بیاهغه چې ښکلې او وجاهت والا وي، بیاهغـه چـې نسباً زیات شریف وي، بیاهغه چـی آواز یی ښـه وي بیاهغـه چـی ډیـرې پـاکې جـامې اغوندي.

په اصل کی په امامت باندی اجرت او مشاهره (تنخواه) آخستل جـائز نـه دي، ځکـه چی داعبادت دی اوپه عبادت باندی اجرت آخستل جائزنه دي. مګر متاخرینو فقهاو د ضرورت په وجه اجرت او مشاهره (تنخواه) آخستل جائز ګرځـولی دي. پـه درمختـــار کی دي:

ولا لا جل الطاعات مثل الا ذان والـــحج والامامة وتعليم القرآن والفقه ويفتى اليوم بصحتها لـــتعليم القرآن والفقه والامامة والاذان. (درمختـــار مع رد الـــــمختار٥/ ٤٦باب الاجارة الفاسدة).

د مسجد خادمانو، امامانو او د مدرسې استاذانو تـه دهغـوی حاجـت، علمـی قابلیـت تقوی او مشکل په نظر کی نیولو سره باید تنخواه ورکړی شي، که د مسجد په متعلق د وقف په آمدني کی څه ګنجائش وي نوله هغه نه ورکړئ اوکه په هغه کی څه ګنجائش نه وي نو له مسلمانانو نه دچندو په راغونډولو سره دهغـوی دضـرورت پـه مطـابق دی ورته د تنخوا انتظام وکړی شي.

په درمختار کی دي:

ويـــعطى بقدر الحاجة والفقه والفضل فان قصر كان الله عليه حســيباً. زيلعـــــى، وفـــى الحاوى الـــمراد بالحافظ فـــى حديث لحافظ القرآن مائتا درهم هو الـــمفتى اليوم. رد المحتار کی دي: (قوله ويعطى بقدر الحاجة الذى فـــى الزيلعـــى هكـــذا ويجب علـــى الامام ان يتقـــى الله تعالى ويصرف الـــى كل مستحق قدر حاجته من غير زيادة فان قصرفى ذلك كان الله عليه حسيبا وفـــىا لـــبحر عن القنيـــة كـــان

ابوبکر رضی‌الله عنه یسوی فی العطاء من بیت الـــمال وکان عمر رضـــی‌الله عنـــه بعطیهم علـــی قدر بالحاجة والفقه والفضل والا خذبهذا فـــی زماننا احسن فتعتبر الا مور الثلاثة اهـــ ای فله ان یعطی الاحوج اکثر من غیر الا حـــوج وکـــذا الافقـــه والافضل اکثر من غیرهما وظاهره انه لا تراعی الحاجة فـــی‌الافقه والافضل والا فلا فائدة فـــی ذکرهما ویوئده ان عمر رضی الله تعالـــی عنه کان یعطی من کان لـــه زیادة فضیلة من علم او نسب او نحو ذلك اکثر من غیره وفـــی الـــبحر ایضا عـــن المحیط والرأی، الـــی الامام من تفضیل وتسویة من غیر ان یمیل ف ذلك الـــی هوی وفیه عن القنیة وللامام الخیار فـــی المنع والاعطاء فـــی الحکم اه.(درمختـــار و رد الـــمحتار ۳۸۹/۳، مطلـــب فـــی مصارف بـــیت الـــمال قبیل باب الـــمرتد).

زمونږپه زمانه کی دا ذمه واري او مسئولیت د مسجد په متولیانو اودکلي بـا اثـرو او مالدارو خلکو باندی دې، هغوی ته پکاردي چـی په دی مهمـه مسئله بانـدی پـوره پاملرنه او توجه وکړي، دمسجد له امامانو سره دعـزت او احتـرام سـلوک خپـل کـړي، هغوی خپل مذهبي پیشوا اوسردار وګنـي، هغوی د نورو ملازمینو پشان ګنـل د امامـت د منصب توهین اوسپکاوی دی، دا ډیر مهـم دینـی منصـب دی داد نـورو ملازمینـو پشان ملازمت نـه دی، ددغـه منصـب احتـرام وقـار، عـزت اود عظمـت حفاظـت ډیر ضروري دی

داسی متولي او مهتمم پکار دی چی هغه دیندار او متقي وي، که داسی سـړی پیدانـه شي نو دصوم او صلوات پابند، امانت دار، دوقف له مسایلو نه خبردار، خوش اخـلاق، رحم لروونکې، منصف مزاج، علم دوست او دعلماء عزت او احترام کـوونکې وي. په کوم یوسړي کی چی دا اوصاف زیات وي همغه دی متـولي او مهتمم وګرځولی‌شي. که په دغو اوصافو متصف کسان متولي وي نوبنـه اوقابـل امامـان منتخـب کـوي، اود مسجدونو نظام هم په ښه توګه کوي. نن سبا د نـا اهلـو متولیـانو پـه وجـه دنـا اهلـو امامانو ډلې په نظر راځي اوپه مسجدونو کی بدنظمي ښکاره شوی ده. کـه چیرتـه د مسجد امام ربنتیا ضرورت مند وي اوله معقول تنخواه نه بغیر دهغه ګـذاره مشـکله وي نو په مناسب انداز سره دی د مسجد متولیانو اود محلې با اثرو خلکوته خپل مطالبه او غوښتنه وړاندې کـولی شـي. اوپرهغـوی ضـروري ده چـی دهغـه غـوښتنې تـه توجـه

وکړي،په داسې صورت کې داسې طريقه خپلول چې په هغې سره دامامت منصب لـه توهين او سپکاوی سره مخامخ کيږي هرګز جائز نـه دی. امـام د امامـت د منصـب ، وقار، عظمت او قدر او قيمت محافظ او امين دی، دداســیطريقي دخپلولـو چـې پـه هغې سره د امامت د منصـب تـذليل او تنقـيص لازميـږي هرګـز اجـازه نشـي ورکـول کيدی. لهذا دمشاهرې (تنخواه) د غوښتلو لپاره خپلـه معاملـه عـدالت او حکومـت تـه حواله کول اودی مقصـد لپـاره د مسـاجدو تنظـيم (يـونين) جـوړول او دهغـه رکـن جوړيدل په هيڅ حالت کې دمدح او صفت وړ نه دی، بلکې د مـذمت قابـل دی. پـه دی سره د غلطو نتائجو د پيدا کيدو ويره ده او د ډيرو خرابيو دروازې به خلاصيږي د امامانو دمقررولو په سلسله کې به مونږ دحکومت د خبرو منلو ته مجبوريږو او د امامـانو د تقرر په سلسله کې چې کوم معيار اوشرايط دي هغه به نه ترسره کيږي او حکومت به دخپلي خوښې خلک امامان مقرروي.

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علـی تهانوی رحمه الله په مسجد کی دنـورو خلکـو نه.دچندې آخستلو په اړه چې څه ليکلي دي هغه دعمل وړ دی هغـه وايـي د احکـم خو دمطلق ورکولو او اعطاء دی ليکن: نـــظراً الـــی بعض العوارض الخارجية کـــالا ستنان علی اهل الاسلام من اهل الکفر،قبول کرنا نامناسب هين فان الاسلام يعلــو ولا يعلـــی واليد العليا المعطية والسفلی السائلة هذا ماعندی والله تعالـــی عنده علم الصواب. (امداد الفتاوی ۲/ ۶۹۳ مطبوعه ديوبند) .همدغه اصـول پـه دی وخـت کی هم ترنظرلاندی ساتل پکاردی.

همدغه راز دغه عبارت هم ستاسی په وړاندی دی:

(هـــوای الـــعاشر حرمسلم) هذا يعلم حرمة تولية الـــيهود علـــی الاعمال، په رد الـــمختار کی دي: (قوله هو حر مسلم) ولايصح ان يکون کافراًلانه لايلی علـــی الـــمسلم بالاية بحر والمراد بالاية قوله تعـــالی ولن يجعل الله للکافرين علـــی المؤمنين سبيلا. (درمختار ورد الـــمحتار ۲/ ۵۱ باب العاشر).

لهذاپخپل لاس هغوی ته دمعاملی په حواله کولو سره دمداخلې او لاسوهنې موقع دی بالکل ورنکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب احقر الانام سيدعبدالرحيم لاجپـوري ثـم رانديري غفرله ۱ شوال المکرم ۱۴۱۵ هـ

(۱) ماقاله الـــمجيب المحقق الـــمحترم فهوالحق والصواب وانا اتفق بهذا لفتيا كـــل الاتفاق احقر اسماعيل وادي والاغفرله خادم التدريس والافتاء جامعه حسينيه رانديرِ ۱٤ شوال الـــمكرم ۱٤۱٥ هـــ (مفتـــي جامعه حسينيه رانديرِ).

زه له دغه خواب سره مكمل اتفاق كوم، د امامانو د تنخواه په معيار كې د اضافه كولو كاردى د مسلمانانو تنظيمونو په ذريعه دى ترسره كړى شي همدغه مناسب دى. ددغه مقصد لپاره د حكومت د لمنى نيولو په صورت كې حكومت ته خالص ديني او مذهبي امورو كې دلاسوهنى فرصت او جرئت پيداكيږي چې نقصان يې دلمرپشان ښكاره دى.

العبد احمد عفى عنه كانپوري ۱۸ شوال ۱۴۰۵ هـ. مفـــتى جامعـه اسـلاميه ډابهيـل ضلع بلساز (گجرات) عارف حسن عثمانى ۲۱ شوال الـــمكرم ۱۴۱۵ هـــ هـــذا هوالحـــق والصواب.

(مفـــتى).

اضافه

ددغې فتوې مهم اړخ دادې چې د مسجد د امامانو د تنخواه ګانو د اضـافه كولـو پـه سلسله كې له حكومت نه تعاون ترلاسـه كيـداى شـي يانـه ؟ د دور انديشـي او غلطـو نتائجو په نظر كې نيولو سره پورتنى فتوه ليكل شوى ده او دا له دليل نه خالي نه ده.

په قرآنكريم كې دي:

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَـــمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ (التوبة۱۸).

دالله مسجدونه صرف هغه خلك آبادوي چې په الله اود آخرت پـه ورځ بانـدى ايمـان راوړي او لمونځ قائم كړي او زكات وركړي اوله الله نه پرته له بل چانه ويره ونه كړي، نو نژدې ده چې داخلك به هدايت ومومي.

دمذكوره آيت په تفسير كې امام الهند مولانا ابوالكلام آزاد ليكي:

((په دى كې يې داخبره هم واضحه كړه چې الله پـاك دعبـادت د ځـايونو د توليـت حق متقى مسلمان ته وركوي او همغوى مسجدونه آبادوونكي دي، لدى ځاينه داخبره معلومه شوه چې فاسق او فاجر سړى د مسجدونو متولي نشي جوړيـدلي ځكـه چـې د

دوارو ترمنځ څه مناسبت نه دی‌پاتی بلکی متضادی خبرې جمع کيږي (هغه داچــی) مسجد دخدای پرستی ځای دی او متولي له خدای پرستی نه نفرت کــوي (ترجمـان القرآن بحواله فتاوی رحیمیه ص۱٦۵ جلدسوم).

پس کله چی فاسق اوفاجر مسلمان دتولیت اهل نه دی نو د نورو تولیت اوپرمسجدونو د هغوی د بالا دستی عدم جواز ښکاره دی.

څنګه امام پکاردې؟ په دی باره کی چی څه ليکل شوي دي داهم ډيـر دپـاملرنې وړ خبره ده په دی سلسله کی ذاحقر وړوکی ورور مولوی سید عبدالاحـد مرحـوم پخپـل مشهور کتاب ((دمسلمان په ډايري)) کی دخپلو جذباتو څرګندونه داسی کړيده:

دمسجد امام باید عالم اوباعمل شخص وي که داسی‌شـخص پیدانشـي نـو چاتـه چـی قرآنکریم ډيريادوي اوښه يې لولي همغه دی امام مقرر کـړی شـي، نـن سـبا دداسـې امامانو پیداکیدل څه مشکل کارنه دی، لیکن اوس دداسې امامانو پسې ډيره لټه کيږي چی دمتولي په اشارو باندی روان شي او متولي داســی وي چـی د مسـجد د اهتمـام هيڅ اهليت نه لري.

آخر داڅنګه خبره ده چی مونږ د خپل معمولي کار لپاره داسی ملازم لټـوو چـی هغـه اهليت ولري اودهغه په اهليت باندی‌زمونږ زړه مطمئن شي لیکن کلـه چـی دمسـجد لپاره دامام ضرورت مخی ته راشي نو بیا مونږ د مسـجد لپـاره دلائـق او مناسـب امـام پسی نه ګرځو بلکی دخپل مطلب امام لټوو. مونږ دیته هم نـه ګـورو چـی امـام سـند یافته دی اوکه نه؟ لږ ترلږه د لمونځ له ضروري مسائلو نه خبـردی اوکـه نـه؟ قرانکـریم صحیح تلاوت کولی شي او که نه ؟ مطلب داچی کوم شخص د موذن جوړولو اهليـت هم نه لري هغه مونږ د مسجد امام جوړوو او چی ددنیا دیو کار هم نه وي له هغـه نـه موذن جوړوو.

پس کله چی متولي د مسجد ذمه واري او مسئوليت نشي سرته رسولې نوښکـاره خبـره ده چی هغه دخپلې خوښې نااهل امام لټوي. تاسی وګورئ چی هر چيرتـه دنـا اهـل متولي او نا اهل امام جرړې ډير په نظر راځي (مسلمان کی ډايري ص ۱۵۲).

په اسلام کی د مسجد ډيـر لـوی اهمیت او حیثیـت دې. مساجد د اسـلام مراکـز او داسلام شعائر دي. مساجد د زمکې په سرله ټولو نه زيات مقدس او بهترين ځايونه دي. الله تعالی ته له ټولو نه زيات محبوب ځايونه مسجدونه دي، په دنیا کې د جنت باغونه دي. د اسلام کلاګانې او د مسلمانانو د اجتماعي نظام مرکزونـه دي،لهـذا د مسـاجدو

نظام هرڅومره ښه وي نود مسلمانانو پر اجتماعي او انفرادي ژوند بانـدی ددی ډیـر ښه اثر مرتب کیږي د مسلمانانو ټولنه پاکه او ستره کیږي اود اسلام روح دهغـوی پـه ژوند کې ښکاره کیږي.

د مسجدونو نظام او آبادي یوازی دهغه ظاهري ښکلا او نقش او نګار کې نـه ده اونـه هم د اوچتو اوچتو برجونو کی ده بلکی د مسجدونو صحیح ابادی الهی عبادت، ذکـر او اذکارو سره ده، ددغو امورو او کارونو په نظر کـی نیولـو سـره د مسـجدونو صـحیح نظام، له الله نه ویروونکې امام، صالح مؤذن او نیکو متولیانو سره دی: امام په حقیقـت کی دټوره کلي او قوم پیشوا وي،لهذا دداسی امام مقررول پکار دي چی هغـه متقـي دین دار، عالـم، خوش اخلاق او نرم طبیعته وي، دلمونځ له احکـامو نـه خبـر دار پـه تجوید سره تلاوت کوونکې او خوش آوازه وي. دهغه په زړه کی ددین درد او د امـت غم وي، دخپل قوم د اصلاح فکر ولري، امربالـمعروف اونهی عن الـمنکر وکـړي اوپـه خوږه ژبه خلکوتـه داسـلام دیـن بیـان کـړي، پـه خلکـو کـې ددیـن شـوق او جذبـه پیداکړي. دخوشحالي او غم په حالت کی د قوم صحیح رهنمایی او رهبـري وکـړي، دبدعاتو او رسوماتو باندی رد وکړي، پخپله هم درسول الله صلی‌الله علیه وسـلم پـه سنتو باندی عمل وکړي او نورو ته هم د عمل کولو عادي وګرځوي. له مسلمانانو سـره داسی خوش اخلاقي وکړي چی دلویو او وړو ښځو او سړو ټولو زړونـه خپـل ځـان تـه مایل کړي تردی چی هغوی پخپلو ټولو کارونو کی له هغه نـه مشـوره واخلـي. خلـک دیته اماده کړي چی دیني علومو زده کړه وکړي او خپل ماشومان هم ددینـي علومـو په ګانه سنبال کړي. او خلک پخپله دیته تیارشي چی له ګناهونو نه پخپله ځانونـه بـچ کړي له خپلو کورونو څخه ټلویزیون ټیـپ او نـور دموسـیقی الات خـتم کـړي، غـرض داچی امام نه دخپلو ذمه واریو او مسئولیتونو احسـاس وي او د الله درضـا پـه خـاطر دغه ټول خدمتونه ترسره کړي.[1] که چیرته په هر مسجد کی داسی امام وي نو ان شاء الله مسلمانان به دهغی بهترین اثرات په معاشره کی پخپلوسترګو ووینی.

---

[1]– فقهای کرامو دضرورت پـه وجـه امامت او نوروشیانو بانـدی دتنخواه آخستلو د جواز فتـوه خـو ورکـړیـده، مګـر داخلاص غوښتنه داده چې تنخواه هرګزخپل اصل مقصد ونه ګرځوي بلکی صرف دالله رضا دی خپـل مقصد وګرځوي؛ درسول الله صلی‌الله علیـه وسلم پاک سیرت او دصالحو سلفو طریقه دی په نظر کی ونیسي، دولا تشترو بایاتی ثمنا قلیلا مصداق دی نـه جوړیـږي، رزق ورکـوونکی الله دی پرهمغـه ذات دی توکـل وکـړي او دهمغـه خزانوتـه دی وګـوري، الهی ارشادات او نبوي لارښوونې دې خپل عمل وګرځوي، په قرانکریم کی دي:

وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ (الطلاق:۲، ۳). څوک چې له الله نه وویریږي او د ګناه کارونه نه کوي نو الله تعالی د هغه لپاره (له مشکلاتونه) د نجات لاره وباسي او له داسې ځای نه ورته رزق ورکوي چې د هغه په ګمان کې هم نه راځي (طلاق :۲۸). همدغه راز په قرآن کریم کې دي: وَمَامِنْ دابة فی الارض الاّ علــی الله رزقها. د ځمکې په سرداسې کوم خوځنده نشته چې د هغه رزق ذمه په الله نه وي (هود: ۱۲). همدغه راز بل آیت شریف دی: وکاین من دابة لاتحمل رزقها. الله یرزقها وایاکم وهو الســمیع العلــیم. څومره ډیر داسې ژوندي سري دي چې خپل روزي نشي اوچتولی، الله هغوی ته هم روزي ورکوي همغه الله اوریدونکی او پوهیدونکی دی. (عنکبوت: ۱۹).

په فوائد عثماني کې دي چې په دې ایت کې الله تعالی د دې خبرې خاطرجمعي ورکړې چې زیاتره چرند او پرند سره د سبالپاره رزق نه وي، خو الله تعالی هغوی ته تازه تازه روزي ورکوي نو ایا الله به خپلو عاشقانو ته رزق نه ورکوي؟! ځان ته پوه کړئ چې حقیقي رزاق هغه دی چې د ټولو خبرې آوري او د زړونو په رازونو پوهیږي د هر ځا ظاهر اوباطن د الله په وړاندې دی، د هیڅا خواري بې ځایه نه ځي. کوم خلک چې له خپل وطن نه مهاجر شوي د هغوی د الوی اجرنه ضائع کوي. هغوی دې له ځان سره د معیشیت د سامان د وړلو غم او فکر نه کوي، څومره ډیر چرند او پرند دي چې هغوی رزق نشي ګټلي لیکن بیاهم رزاق الله هغوی ته هره ورځ نوی نوی روزي ورکوي(عنکبوت). همدغه راز د الله تعالی مبارک ارشاد دی: (ان الله هـــو الرزاق ذوالقـــوة الـــمتین.) بیشکه الله هرچاته رزق ورکوونکې او د زیات قوت خاوند دي.(الذاریات پار. ۲۷).

په حدیث کې له عمربن الخطاب نه روایت دی هغه وایي چې ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل چې فرمایل یې که تاسې پرالله باندې داسې توکل وکړئ څنګه چې یکار دی نو تاسې ته به داسې روزي درکوي څرنګه چې مرغانو ته ورکوي. چې سهار په خالي ګیډه پاځیږي او ماښام ته په ډکه ګیډه واپس کیږي. (مشکواه شریف ص ۴۵۲ باب التوکل والصبر). شیخ سعدی علیه الرحمه پخپل مناجات کې فرمایي:

ای کـریمی که از خزانه غیب کبر و ترسا را وظیفه خـور داری
دوسـتـان راکـجا کنی محروم توکـه بـادشمـنـان نـظر داري

ای الله ته داسې کریم ذات یې چې یهود، نصاری اتش پرست او نورو ته له خپل غیبي خزانې نه روزي ورکوې کله چې پخپلو دشمنانو باندې داسې د کرم نظر لرې نو خپل دوستان چې ستا عبادت کوي کله محروموې.(مقدمه ګلستان). نقل دی چې کله د کارغه بچی له هګۍ نه راوځي نو د هغه وینښته او وزرې سپینې وي ، د هغه مور اوپلار فکر کوي چې دا زمونږ بچی نه دی، که زمونږ بچی وای نو زمونږ پشان به تور و نو ځکه دانې ورته نه راوړي، کله چې د هغه وزرې په توریدو شي نوبیاخپل بچی ګڼي، بیا ورته دانې مانې راوړي. د غه عمر ته تر رسیدوپورې الله تعالی هغه ته داسې قسم روزي ورکوي چې د کارغه بچې بیابیا خپل منـوکه خلاصوي نو د هوا له لارې د ځمکې حشرات او نور جراثیم د هغه په خوله کې دننه کیږي او د هغه لپاره رزق جوړیږي.(ابن کثیر مظاهر حق ، کله چې الله تعالی د کارغه بچي ته داسې روزي رسوي نو ایا کریم او رحیم ذات خپلو وفادارو بنده ګانو ته رزق نه ورکوي؟په همدغه واحد لاشریک ذات باندې توکل وکړئ او د روزي په هکله ډیر زیات غم اوفکر مه کوئ لکه چې یوشاعر وایي :

غم روزي مخور برهم مزن اوراق دفتر را که پیش ازطفل ایزد پُرکند پستان مادر را

د رزق په فکر کې حیراني او پریشاني مه کوه الله تعالی داسې قدرت لروونکې اورحمت لروونکې ذات دی چې دنیاته د ماشوم له راتلونه وړاندې د هغه د مور سینې یې له شدونه ډکې کړې وي. په تقدیر کې چې کوم رزق لیکل شوی دی هغه به درته همداسې رسیږي لکه څنګه چې وړوکي ماشوم ته د مور له سینې نه شیدې رسیږي.

همدغه راز پکاردي چې مؤذن داسې څوک مقرر کړی شي چې هغه دیندار صالح اوپرهیزګار وي، کوم سړی چې د شریعت پابند نه وي، فاسق او فاجر وي هغه باید موذن جوړ نه کړی شي. موذن باید داسې څوک وي چې تعلیم یافته وي ددین په احکامو پوه وي خصوصاً د آذان او لمونځ له مسائلو نه خبروي دلمونځ وختونه وپیژني، صبح کاذب صبح صادق، زوال، سایه اصلي ، یومثل، دومثل، شفق احمراو شفق ابیض او نور ضروري شیان وپیژني ، آواز یې اوچت وي د آذان کلمې صحیح اداکولې شي اوښکلې غږولري. په حدیث شریف کې دي : ((لیؤذن لکم خیارکم)) یعنی په تاسو کې چې کوم یوصالح وي همغه دې آذان ووایې. (ابوداود ص ۹۴ ج ۱ باب من احق بالامامة).

په فتاوی عالمګیری کې دي:

وینبغي ان یکون المؤذن رجلاً عاقلاً صالحاً تقیًّا عالما بالسُّنَّة، یعنی مؤذن دې عاقل، پوه، متقي اودسنت له طریقې نه خبرداروي. (ص ۵۳ج ۱ الفصل الاولی فی صنعه و احوال الموذن).

په کبیری کې دي:

وافاد هذا ان الاولی ان یتولی العلماء الاذان لانَّهُ من باب الجماعة والدعاء الیها فلایفوض الی غیرهم علی مامرو فی الخلاصة عن واقعات الا وز جندي

څرنګه چې دمرګ راتلل یقیني دي نوکوم رزق چې په مقدر کې دی دهغه له پوره کیدو نه وړاندی انسان ته مرګ نه راځي. مومن باید په دې باندې ایمان وساتي په حدیث کې دي: وَ فی روایة وان روح الاقدس نفث فی روعي ان نفس لن تموت حتّی تستکمل رزقها. الا فاتقوا الله واجملوا فی الطلب ولا یحملنکم استبطاء الرزق ان تطلبوه بمعاصی الله فانه لایدرك ماعندالله الا بطاعته. حضرت جبریل علیه السلام زما په زړه کې داخبره واچوله چې یعنی دوحې په ذریعه راته وویل چې ترهغه وخته پورې چاته مرګ نشي راتلی ترڅوپورې چې هغه خپل رزق مکمل نه کړي نوځکه له الله نه وویریږئ اوپه صحیح او اعتدال سره درزق په لټه کې اوسئ، که دربانډې رزق وځنډیږي نو دادې تا دیته اماده نه کړي چې له الله نه په نافرماني کولو سره رزق ولټوې ځکه چې کوم شیان د الله تعالی په خزانو کې دي هغه صرف دالله په اطاعت سره ترلاسه کیدی شي. مشکواه شریف ص ۴۵۲ (باب التوکل والصبر). له ابی درداء رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله علیه وسلم وفرمایل : ان الرزق لیطلب العبد کما یطلبه اجله. بیشکه رزق بنده پسې داسې ګرځي لکه چې مرګ هغه پسې ګرځي. (مشکوات شریف ص ۴۵۴). لدینه علاوه نورهم ایتونه او احادیث شته چې پرهغوی له غور او فکر نه وروسته معلومیږي چې رزق له الله تعالی سره دی،لهذا یواځې په یو الله باندې توکل پکار دی، که انسان دغه آیتونه او احادیث په نظر کې ونیسینو ان شاء الله اخوا دیخوا حیران او سرګردان به نه ګرځي

الـــمؤذن اذا لم یکن عالما بالاوقاف لا یستحقُ ثواب الـــمؤذنین نتهی کـــبیری ص ۳٦۲ باب الاذان) نور الایضاح جلد٤٥ باب الاذان.
زمو نږ د دی زمانی په مؤذنانو کې دا اوصاف نشته،لږې تنخواه والا مؤذن لټول کیږي، اګرکه اذان صحیح نه شي ویلې، د آذان کلمې په صحیح طریقې نشي اداکولې چیرتـه یې اوږده وي اوچیرته یې لنډه وي اوپه دی ترتیـب د آذان خونـد او مـزه خرابـوي، مثلاب د اشهد پرځای اشدُ وایی حی علی الصلواة ته حی للصلواة وایی اویـاهم حیـا للصلواه ویي همدغه راز حی علی الفلاح ته حی للفلاح وایي دالله پرځای آلله وایـي داکبرپه ځای آکبراو اکبار وایي ، همدغه شان پـه حـی کـی هـي وایـي، ددی پشـان نوری غلطیانې هم کوي، امامان هم دهغوی اصلاح نه کوي، حال داچـی پرامامـانو ډیر لوی ذمه واري ده چی دهغوی دا غلطي صحیح کړي اذان صرف د اعلان نوم نه دی بلکی آذان عبادت هم دی اوډیر لوی اسلامي شعار هم دابايد په داسی بنه شـان سره اداکړی شي چې اسلامي شان معلوم شي اودسامعینو زړونه متـاثر شـي او د آذان برکتونه ښکاره شي.
ان الاذان شعار الاسلام (فتح الباري ج ۱ ص ٦۱ کتاب الاذان).
اوپه فتح القدیر کی دي: لانَّ الاذان عن اعلام الد ین (ج۲ ص ۹۳ باب الاذان).
اذان ددین له ښو څخه دی ، الله تعالی دی دمسجد متولیانو ته توفیـق ورکـړي چـی ددې په اهمیت پوه شي.
دمساجدو نظام د متولیانو په لاس کی دی نوځکه پکاردي چی هوښیار متـولي ونیـول شي اودی لپاره له ټولونه بهتر عالِم او متقی سړی پکاردی که داسـی متـولي پیدانشـي نوبیالږ ترلږه دیندار لمونځ ګـذار او دروژې پابنـد سـړی دی متـولي جـوړ کـړی شـي همدغه راز متولي باید دیانت دار امانتدار، خوش اخلاق، منصف مزاج، علـم دوسـت، دعلماوٌ احترام کوونکې اوله هغوی سره مشوره کوونکې وي زیات معلومات دهمـدغې فتوې دمساجدو او امدارسو په احکام کی وګورئ.
دغه پورتنی لیکل شوی مضمون زما د زړه آواز دی دا صرف دلوسـتلو لپـاره نـه بلکـی دعملي کولو لپاره دی، که په دی بانـدی عمـل وشـي نـو ان شـاء الله چـی زمونـږ د مسجدونو نظام به په ښه ډول کیږي. وماذلک علی الله لعزیز.
اللهم امین بحرمة النـبی صلی‌الله علیه وسلم تسلماً کثیراً.

د دلالي مزدوري:

(۳۳۸ سوال) زه د کورونو او د زمکې د خرخولو دلالي کوم، یعنې کوم سړی چې خپل کور یازمکه خرخوي زه هغه لپاره گاک او خریدار پیداکوم. یاچاته د کور یازمکې د اخستلو ضرورت وي نو زه هغوی ته کورونه او زمکې پیداکوم، اوپدی باندی زه خپل حق الزحمه آخلم، کله د آخستونکي نه اوکله له خرخوونکې نه اوکله هم له دواړو نه. اوس سوال دادی چې ایازه د دلالۍ پیسې او اجرت اخستی شم اوکه نه؟ ځینې خلک وایي چې دا ناروادی، ددلالي کسب څنگه دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب) ستادا کسب مباح دی، که چیرته دخپل محنت او کارپه موافق له مخکې نه مناسب اجرت مقرر کړی شي نو دغه مقرر شوی اجرت بالکل اخستی شی. دا اجرت له خریدار نه هم آخستی شی او خرخوونکې نه هم اوله دواړونه هم. خوپکار دادی چې اجرت له مخکې نه معلوم او مقرر کړی شي نه داچې مبهم پریښودل شي په شامي کی دي: (تتمه) قال فی التاتارخانیة وفی ادلال والسمسار یجب اجر المثل وماتوا ضعوا علیه ان فی کل عشرة دنانیرکذا فذاك حرام علیهم وفی الحاوی سئل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال ارجو انه لابأس و ان کان فی الاصل فاسدً لکثرة التعامل وکثیرٌ من هذا غیرجائز مجوز ولحاجة الناس الیه. الخ (شامی ص ۵۳ جلد۵ کتاب الاجاره قبل فصل فی ضمان الاجیر).

دقدیم دارالعلوم دیوبند په فتوه کی دي:

الجواب: د لال ته اجرت دخپل محنت او کار په موافق آخستل او ورکول جائز دي په دی شرط چې له مخکې نه خپل مزدوري ښکاره مقرر کړي اوپه رضاترینه واخلي، کوم مزدوري چې په پټه توگه آخستل کیږي هغه جائز نه دی. (فی الشامی کتاب الاجاره ج ۵ ص ۴۳، قال فی التاتارخانیه فذاک حرام علیهم.

لدینه داهم معلومه شوه چې کومې پیسې په پټه آخلي هغه حرامې دي. فقط بنده محمد شفیع غفرله (فتاوی دارالعلوم دیوبندقدیم ص ۱۱۹ ج ۷، ۸).

په کفایت المفتي کی دي:

سوال: له دلال سره دوړی خوړل څنگه دي؟ ایادشریعت په رڼاکې داجائز کسب دی اوکه نه؟

د دلال د دعوت دوډۍ خوړل مباح دي، همدغه راز د دلالي کسب هم مباح دی.
(کفایت المفتی ۳۷۷ ج ۷).
په فتاوی محمودیه کی دي: دلالي دیته ویل کیږي چې دبائع او مشتري ترمنځ د خرید او فروخت معامله ترسره کړی شي، په دی کی بایع او مشتري دواړو ته قیمت معلوم وي، او دلال ته له دغو پیسو نه علاوه پیسې ورکول کیږي، برابره خبره ده چې دا اجرت پنځه یالس روپۍ ورته مقرر شوی وي اویاپه سلو کی لس روپۍ مقرر کړی شي، داسی اجرت اخستل جائزدي هرځومره چې وي. فقط والله سبحانه اعلم.
(فتاوی محمودیه ص ۱۷۰ ج ۴). فقط والله اعلم بالصواب.

دموقع په اعتبار سره په کرایه کی اضافه کول صحیح نه دي:

(۳۳۹ سوال) ډیومسجد ځودکانونه له ډیرې مودې نه په کرایه ورکړي دي، کرایه دار معمولي غوندی کرایه ورکوي، مونږ چې ورته دزیاتې کرایه د ورکولو غوښتنه کوو نو هغه انکار کوي او حکومتي قانون مونږ ته وړاندی کوي، حال داچې دکانونه ډیرښه ځای کی دي، ایاپه شرعي توګه د مسجد د متولیانو کمیټې ته هغه ته د دوکان دخالي کولو ایاپه کرایه کی د اضافه کولو اختیار شته او که نه؟ بینوا توجروا.
(ځواب) که چیرته دکرایه ورکولو په وخت د مودی اومیاشتې کرایه اندازه مقرر کړی شوې وي مثلاً دامعاهده شوی وي چې دوکان دیوکال لپاره ماهانه په سل روپۍ په کرایه ورکول کیږي نوپه دغه ټاکلي او مقرره وخت کی په کرایه کی اضافه کول حرام دي همدغه راز د غه ټاکلی وخت له پوره کیدونه مخکې له دوکان نه دهغه ویستل هم جائز نه دي اوکه داسی کومه معاهده او تړون نه وي شوی نوپه دی صورت کی چون هر میاشت نوی اجاره کیږي نو ځکه دمیاشتې له شروع کیدونه وړاندی په کرایه کی داضافه کولو او د دوکان خالي کولو اختیار شته. په اخري هدایه کی دلاندینو عبارتو څخه دا واضح کیږي:
ومن استاجر داراً کل شهر درهم فالعقد صحيحٌ فی شهرٍ واحدٍ، فاسد فـــی بقيّـــة الشهور الا ان يسمی جملة الشهور، فان سكن ساعة من الشهر الثانی صح العقد فيه وليس للمواجر ان يخرجه الى ان ينقضی وكذلك كل شهر سكن فی اولـــه. (هدايـــه آخرين ص ۳۸۲ باب الاجارة الفاسدة).

په مسئوله صورت کی که چیرته د کومي تاکلې مودې له معاهدې نه پرته دکـان په کرایه ورکول شوی وي نوپه شرعي توګه د مسجد د کمیټې خلکو ته دمیاشتې له شروع کیدونه وړاندی په کرایه کی داضافه کولو اختیار شته، په دکان کی چی کـوم قـدیمي کرایه دار دی هغه ته پکار دي چی ماحول ، موقع اومحل په اعتبار سره پخپلـه کرایـه زیاته ورکړي، په دی سره له مسجد سره هم تعاون کیږي، کلـه چـی پـه هریـوخیز کـی قیمتي زغملی شي نو دمسجد په خاطر دیپـه کرایـه کـی هـم زیـاتی وزغمـي، دیـو مسلمان له شان سره دانه ښایي چی هغه دسرکاري قانون ترسیوری لانـدې مسـجد تـه نقصان ورسوي. په داسی کولو سره برکت ختمیږي چی خومره کیدای شي لـه مسـجد سره دی تعاون وکړی شي ، د مسجد له دکان نه ګټه اوچتول، کمه کرایـه ورکـول، او سرکاري قانون باندی عمل کول له ایماني غیرت نه بالکـل مخـالف دی. فقـط والله اعلم بالصواب.

د رخصتي د ورځو تنخواه :

(۳۴۰ سوال ، زه په یوه اداره کې دیني خدمت ادا کوم، دمدرسې قـانون دادی چـی درخصت اخستلو لپاره دی له مخکی نه درخصتي رقعه او درخواست ورکړی شي مـاد مطلوبه رخصت نه یوه ورځ وړانـدی درخواسـت ورکـړ چـې زه دنـیمې ورځـې لپـاره رخصتي غواړم، د وجې او سبب له معلومولو نه وروسته مهتمم صاحب راته وویـل چـی که امکان وي نو دمانبام له خلورو بجونه په سفر روان شئ، حـال داچـی انتظامیـه او مهتمم صاحب ته معلوم دی چی هلته دتللو لپاره له درې نیمو بجونه وروسته دشپې تر اتو بجو پوری هیڅ قسم سواری نه پیدا کیږي. ماد مهتمم دخبرو په مطابق خلور بجی سفر وکړ، اوس زه دنیمې ورځې داجرت مستحق یم اوکه نه؟ بینوا توجروا.

ځواب: ددغه سوال ځـواب تعلق دچنـدې ورکوونکـو سـره دی لکـه چـی د امـداد الفتاوی له ځواب نه معلومیږي په مذکوره صـورت کـی چـی ستاسـی دمدرسـې کـوم قانون مروج اومشهور وي دهمغه په مطابق عمل کیږي په ځینو مدرسـو کـې د اتفـاقي رخصت خپل قانون وي، د مدرسې له خوا دکال په حساب د رخصتي ورځـې معلـومې وي، په دغو رخصتیانو کی پیسې نه ګرځول کیږي، که چیرته ستاسې په مدرسه کی هم داسی قانون وي اوستا رخصتي ددغه قانون په موافق وي نوپه دی صورت کی ستاله تنخوا نه پیسی نشي ګرځولی خوکه ستا رخصتي ددغـه قـانون پـه مطـابق نـه وي اود مدرسې داقانون وي چی دسخت ضرورت پـه وجـه کـوم مـدرس یـوه ورځ مخکـې د

رخصتۍ درخواست ورکړی او مدرسه دهغه دا درخواست منظور کړی نو دهغه له تنخوانه به پیسې نه ګرځوي، نو په داسې صورت کې چون تا د مدرسې د قانون په مطابق یوه ورځ وړاندې درخواست ورکړی دی او هغوی تاته د سفر کولو اجازه درکړی ده نو ستاله تنخوا نه پیسې نشي ګرځولې، که هغوی ته ستا درخواست منظور نه و نو صفابه یې ویلي وو چې اجازه نه درکوو، اوکه د مدرسې قانون داوي چې د معلومو ورځوله رخصتۍ نه علاوه دنورو ضروري رخصتیو پیسې ګرځول کیږي نودقانون په مطابق له تنخواه نه پیسې ګرځول جائزدي په امداد الفتاوی کې دي:

(۲۸۰ سوال) ددین علماء په دې مسئله کې څه وایې چې دمدرسې کوم استاذان ناروغ شي،نو ایا هغوی ته جائزدي چې د ناروغۍ د ورځو تنخواه واخلي؟

(ځواب) ظاهراً دا سوال چنده ورکوونکو پورې اړه اوتعلق لري، په دې کې اصل خبره داده چې په داسې اموالو کې دڅه قسم د تصرف جواز او عدم جواز دچنده ورکوونکو اذن او رضاپورې موقوف دی او دمدرسې مهتمم ددغو چنده ورکوونکو وکیل وي، نو وکیل ته چې دڅه قسم تصرف کولو اذن ورکړی دی نو همغه تصرف وکیل ته جائز دی که چیرته چنده ورکوونکو مهتمم ته ددې اجازه ورکړې وي چې کله استاذ ناروغ شي او مدرسې ته راشي نو دهغه دناروغۍ د ورځې تنخواه ورکولې شي نو هغه نه ددغو ورځو تنخوا آخستل جائزدي، خوکه چیرته چنده ورکوونکو مهتمم ته څه نه وي ویلي لیکن دمدرسې قاعده او قانون معلوم دی نو د همدغه قاعدې مطابق به عمل کیږي اوکه چیرته داسې هم نه وي نو بیاچې په نورو مدارسو کې کوم قانون معروف دی دهغه اتباع به کولی شي، اوکه چیرته دا آمدني د مدرسې له کوم جایداد نه وي نو بیا حکم یې بیل دی. فقط.

دویمه فتوی :

(۲۸۱) د مدرسې استاذ ناروغ شو ایا د ناروغۍ د ورځو د تنخواه حقدار دی اوکه نه؟ که حقدار وي او هغه نه وي آخستی ایا اخستی شي اوکه نه؟

(ځواب) که چیرته چنده ورکوونکو اجازه ورکړې‌وي نوبیا د ناروغۍ د ورځو تنخوا اخستلی شي خوکه چیرته اجازه نه وي ورکړی نو بیایې نشي آخستلی، خوکه له مدرسې ورسره له مخکې نه منلې وي چې د ناروغۍ د ورځو تنخوا به ورکول کیږي مګر چانده ورکوونکي اجازه نه وي ورکړی نو هرچاچې مدرس نیولی دی هغه دې له خپل جیب نه ورکړي. (امداد الفتاوی ۲۸۹ ج۳ کتاب الاجاره مطبوعه کراچی).

عطر هدایه کی دي :

که چیرته د رخصتی ورځې مشروط او معروف وي نوداد خدمت د ورځو تابع دي، که نه وي مشروط نو داتبرع او انعام دی، کله چې دخدمت ورځې پوره شي نـو رخصتی به ورته پوره ورکول کیږي که نه نو له حساب نه به کمیږي الخ (عطرهدایه ص ۱۳٦).

په فتاوی محمودیه کی دي:

سوال : دوقف ملازم د دوه ورځو لپاره په رخصتی لاړ خو شپږ ورځې بعـد راغـی اوس پوښتنه داده چی ملازم ته ددغو څلور ورځو تنخـوا آخـستل څنګـه دي؟ متـولي ورتـه ورکړي اوکه نه؟ فقط والسلام.

ځواب: حامدا ومصـلیا. کـه چیرتـه د ملازمـت پـه شـرایطو کـی داخبـره وي چـی د رخصتی له ورځو نه د زیاتو ورځو د رخصتي پیسې ګرځول کیږي نو په مسئوله صـورت کی تنخواه نرینه ګرځول کیږي اوکه چیرته په شرایطو کی درخصتی له ورځو نه علاوه د نورو رخصتي کولو اجازه ورکول شوی وي نوبیا ددغو ورځـو تنخوا نرینـه ګرځـول صحیح نه دي، غرض داچی دشـرایطو پـه مطـابق دی عمـل وکـړی شـي هلـه چـی دشریعت په موافق وي. فقط والله اعلم بالصواب. (فتاوی محمودیه ص۳۱۱ ج٦،بـاب الاجاره).

مدرس د رخصتی د ورځو دتنخواه مستحق کله ګرځي ؟

(۳۴۱ سوال : له یودینې مدرسې نه د شعبان المعظم په میاشت کی څلور استاذان یې لرې کړل،په شوال الـمکرم کی دوبـاره لـه استاذی لپـاره یې نـه غـواړي، ایادکلنی تعطیلاتو یعنی دشعبان او رمضان دمیاشتو دتنخواه مستحق کیدای شي اوکه نه؟

(ځواب) دسالانه تعطیلاتو ورځې داستاذي د ورځـو تـابع دي چـی لـه استراحت نـه وروسته دشوال لپاره مستعد او آماده شي،لهذا کـه چیرتـه لـه رخصـتی نـه وروسـته پـه همدی مدرسه کی استازي وکړي نو درخصتی د ورځو دتنخوا مستحق کیـدای شـي، اوکه چیرته کوم مدرس دمدرسـې دقـانون پـه مطـابق یې لـری کـړی وي نـو هغـه د تعطیلاتو د ورځو د تنخواه مستحق نشي کیدلې.

په امداد الفتاوی کی دي:

(سوال ۲۸۲) په عربي مدارسو کی درمضان شریف په میاشت کی رخصتي وي، نو څکه ددې میاشتې تنخوا ښکاره ده چی له عوض نه پرته ده، باقـی وخـت هـم مدرس پـه

مدرسه کې نه محبوسوي چې دهغه په وجه واخلي، ایا ددې میاشتې تنخـواه آخستل صحیح دی؟ که چیرته د مدرسې مهتمم کوم مدرس دشعبان په ۲۹ تاریخ د مدرسې لـه استاذي نه وباسي نو ایادا مدرس دروژې دمیاشتې د تنخواه حقدار دی اوکه نـه؟ کـه مدرس په مدرسه کې برحال پاتې وي نو هغه دروژې د میاشتې دتنخـواه کلـه حقـدار ګرځي؟ دشعبان د میاشتې له ختمیدو نه وروسته اوکه دروژې د میاشتې له خلاصیدونه وروسته؟

(خواب) تنخواه خود کار د ورځو وي مګر د رخصتی او تعطیـل زمانـه د کـار د ورځـو تابع وي ترڅو استراحت وکړي او راتلونکی وخت لپاره تیاری ونیسي، لدینـه دټولـو اجزاو ځواب ووت، د لومړی سوال ځـواب داچـې حکمـا داد بلامعاوضـی کارنـه دی دویم داچې دشعبان په ختمیدو سره دمعزول کیدو په وجـه تنخـواه ورتـه نـه ورکـول کیږي اودعدم عزل په صورت کې درمضـان دمیاشـتې لـه ختمیدونـه وروسـته دتنخـوا مستحق ګرځي. په دی شرط چې په شوال کې هـم کـار وکـړي. (امـداد الفتـاوی ص ۲۸۹_۲۹۰ ج۳ کتاب الاجاره فقط والله اعلم بـالصواب.

په کمیشن باندی چنده کول:

(۳۴۲ سوال): خه فرمایي ددین مفتیان او علماء ددغه لاندیني سوال په باره کې؟ زمونږ په علاقه کې په کمیشن باندی دچندې کولو عـام رواج پیداشـوی دی مـثلا کـه یوسړی زر روپۍ چنده راغونډه کړه نو دِ۶۰% په شـکل کـې شـپږ سـوه روپۍ پخپلـه اخلي اوپاتی څلور سوه روپۍ مهتمم ته ورکوي.

لنډه داچې چنده کوونکې پنځوس یاشپیته فیصده خامخا اخلي. ایا چنده کـوونکی او دمدرسې مهتمم لپاره داسی کول جائزدي؟ دشرعي دلائلو په رڼاکې ځواب ولیکئ.

(ځواب) په کمیشن باندی چنده کول جائز نه دي او دافاسـده اجـاره ده چـې دهغـه یوه وجه داده چې په اجاره کې داجرت مقررول ضروري دي اوپـه مـذکوره صـورت کې اجرت مجهول دی، بله وجه داده چې که چیرته اجرت داجـیر عمـل نـه ترلاسـه کیږي نوداپخپل ځای ناجائز دی اوداصورت په قفیز طحان کـې داخـل دی چـې پـه حدیث کې ددی منع راغلی ده، همدغه راز په مذکوره صورت کې چـې کومـو خلکـو په چنده کې د زکات پیسې ورکړی دي دهغوی دزکات اداکیدل هـم مشتبه کیږي، چنده ټولوونکی سفیر چې د زکات څـومره پیسـې ترلاسـه کـوي همغـومره زکـات نـه اداکیږي چې، دزکات د ادائیګۍلپاره له څه عوض نه پرته دزکات مستحق لره دزکـات

مالک گرځول ضروري دي، اوپه مذکوره صورت کی سفیر ته دهغه د محنت په عوض کی د زکات پیسی ورکول کیږي.

په اخري هدایه کی دي:

ولا يصحّ حتّی تكون المنافع معلومة والاجرة معلومة لما روينا ولان الجهالة فی المعقود عليه وفی بدله تفضی الی المنازعة كجهالة الشمس الثمن فی البيع. (هدايه اخرين ص ۲۷۷ كتاب الاجاره).

همدغه راز په آخري هدایه کی دي:

ومن دفع الی حائك غزلا لينسجه بالنصف فله اجر مثله ، وكذا اذا استاجر حماراً يحمل عليه طعاماً بقفيزٍ منه فالاجرة فاسدة لانه جعل الاجر بعض مايخرج من عمله فيصير في معنى قفيز الطحان وقد نهى النبي عليه السلام عنه وهو ان يّستأجر ثوراً ليطحن له حنطة بقفيز من دقيقه وهذا اصل كبيرٌ يعرف به فساداً كثير من الاجارات لاسيما فی ديارنا الخ. (هدايه آخرين ص ۲۸۹، ص ۲۹۰ باب الاجارة الفاسدة).

په درمختار کی دي:

(وَلودفع غزلاً لا خر لينسجه له بنصفه) ای بنصف الغزل (آو استاجر بغلا ليحمل طعامه ببعضه او ثوراً ليطحن بره ببعض دقيقه) فسدت فی الكل لانه استاجره وبجزء من عمله والاصل فی ذلك نهيه صلی‌الله عليه وسلم عن قفيز الطحان الخ. (درمختار مع رد المختارص ۴۸ ج ۵) فقط والله اعلم بالصواب.

په کمیشن باندی د چندي لپاره سفراء مقررول (۲) د چندي لپاره بهرنیو هیوادو ته دتلونکو مهتممانو په چنده کې کافی پیسې جوره اخستل:

(سوال ۳۴۴) نن سباچي په دیني مدرسو کی کوم کسان دچندې لپاره مقررولی شي نوله هغوی نه زیاتره چنده کوونکو ته د مدرسې مهتممین کمیشن مقرروي، مثلاً داچي دټولې چندې نیمه حصه ستا ، اوپه دی کی ته خپل خرچه هم کوه، یعنی سفر خرچ او نور ټول شیان ستاپه غاړه دي یا دریمه حصه ورته مقرروي، په همدې کې د مدرسې فایده ده. چنده کوونکی په پوره محنت او توجه سره چنده ټولوي، اوپدی

کی مدرسې ته زیانه ګته ده، حال داچې مونږ اوریدلي هم دي او لیدلي هم چې په کمیشن باندی چنده کول جائز نه دي، اوس پوښتنه داده چې ایا دچندې دا طریقه جائزه ده اوکه نه؟ که داسی نه کوو نو مدرسو ته نقصان دی.
(۲) د مدرسې دچندې لپاره یوسړی (مهتمم) بهرنیوملکونو ته ځي اوله ځو کلو راهیسې دالله درضا لپاره دا خدمت کوي، پخپله د مدرسې شاخوا سیمو کی هم چنده کوي، د مدرسې ډیر زیات خیال کوي مګر په مدرسه کی سبق نه ښايي بلکی د مدرسې نګراني کوي، دهغه هیڅ تنخواه نشته ترننه پوری یی له مدرسې نه یوه روپی هم نده آخستی ، اوس که دی بهرملک ته لاړشي نو له هغه سره څه قسم تعاون وشي؟ که د دوه میاشتو لپاره تنخوا ورته ورکوو نو دا ډیر لږه تنخواه ده ځکه چې دمیاشتې په حساب له دری زرونه زیات نشو ورکولې، که هغه له چندی نه دخپل ضرورت په مطابق برخه پیسی واخلي نودابه څنګه وي؟ جائز او که ناجائز.
(۳) دریم شکل دادی چې یو مهتمم داسی دی چې دهغه تنخـواه مقرره ده او هغه دټولو کارونو ذمه وار دی، هغه چنده هم پخپله کوي، دهغه تنخواه یو نیم زر روپی ده که هغه بهر ملک ته لاړشي اوله مقرره تنخواه نه زیاتی پیسې اخستل وغواړي نو هغه ته دی څومره پیسې ورکړی شي؟ هغه وايي چې بهرملک کی چنده کول ډیر ګران کار دی، هغه وايي ماته ډیرې پیسې راکړئ مثلاً که دوه دری لکه چنده جمع کړم نوپه هغه کی ماته پنځوس زره روپی راکړئ، هغه داشرط هم ږدي چې زماداکارله خلکو اونورو خیراتي ادارو څخه پټ وساتئ، تاسیپه دی باره کی مونږ ته صحیح لارښوونه وکړئ. (بینوا توجروا).

(ځواب (حامدا ومصلیا (۱_۲) په کمیشن باندی چانده کول جائز نه دي. لیږل شوی سوال او ځواب ولولئ، که چیرته د مدرسې دچندې لپاره مهتمم صاحب بهرملک ته سفر کوي نودشوری دغړو په مشوره دی ورته تنخواه مقرر کړی شي او همغه تنخواه دی ورته ورکړی شي یاد شوری ورته مناسب انعام ورکړي د کمیشن له صورت نه دبچ کیدو په خاطر دی دشوری دغړو په مشوره دی عمل وکړی شي، د معاملې پټ ساتل بالکل مناسب نه دي، په دی کی دشوری کسانو او نور خلکو ته داعتراض کولو موقع ترلاسه کیږي، پدی کی د مهتمم بدناميً هم کیږي د دومره ډیرو پیسو غوښتل هم مهتمم لپاره دتعجب خبره ده، دشوری غړو ته هم پکاردي چې دمدرسې مفاد په نظر کی نیولو سره فیصله وکړي، هغوی ته هم دا اختیار شته چې دمهتمم دومره لویه

مطالبه وښي فقط والله اعلم بالصواب. سید عبدالرحیم لاجپوري رانـدیر۱۳ شـوال المکرم ۱۳۱٦ هـ.

دسرو زرو اوسپینو زرو د وینځلو اوپالش کولـو د اجـرت په توګـه لدینه څه سره زر ویستل:

(۳۳۵ سوال) زید دسرو زرو او سپینو زرو د ګاڼو دوینځلو اوپالش کولـو کـارکوي،یعنی کله چی زرګر ګاڼه جوړه کړي نو زید ته یی حواله کوي، زید هغـه ګرمـوي اوپـه هغـه کی جلا او چمک پیدا کوي، مګرپه مزدوری کې پیسې نه آخلي بلکـی لـه دغـې ګـاڼې څخه سره زرباسپین وباسي زرګر هغه ته وایی چی له دی ګاڼې نه دومره دومـره سـره یاسپین زر وباسه. مثلاًزرګر سل ګرامه سره زر زید ته راوړ او هغه تـه یی وویـل چـی دا ووینځه اوپالش یی کړه ، زید ورته وویل چی ددی دوینځلو مزدوري به یوګرام سره زر آخلم. لیکن کله کله داسی کیږي چی دګرمولو په وخـت زیـد تـه یـوګرام سـره زر نـه ترلاسه کیږي. بلکی څه ترینه ضائع کیږي او څه ترلاسه کوي یعنی که زید سره بخـت یاري وکړ نو دګرمولو او صفا کولو په وخت یوګرام سره زر ورته په لاس ورځي، کـه نـه نونیم ګرام یالدینه هم کم په لاس ورځي، ایاداقسم وینځل او اجرت اخستل جـائز دی اوکه نه؟ که جائز وي خو صحیح ده که نـه نـو دجـواز صـحیح صـورت وښـایئ کـه د کتابونو حوالې ورکړې نودابه ډیربنه وي بینوا توجروا.

(خواب) حامدا و مصلیا د اجاری صحیح کیدو لپاره داشـرط دی چـی اجـرت معلـوم وي نه مجهول. او ورسره ورسره داهم ضروري ده چـی عقـد پـه وخـت کـی مسـتاجر داجرت په ورکولو قادر وي په آخري هدایه کی دي:

والــمعنی فیه ان الــمستأجر عاجز عن الــتسلیم الاجر. (هدایه اخرین ص۲۸۹ باب الاجارة الفاسدة).

په شامي کی دي: والقدرةُ علـــی الــتسلیم شرط وهولا یقدر بنفســـه. شـــامي ج ۵ص ۴۸.

له همدی کبله په حدیث کی له قفیز طحان څخه منع شـوی دی، قفیـز طحـان دادی چی چاته غنم اوړه کولو لپاره ورکړی شي او اجرت دا طی کړی شي چی ددغه غنمـو له اوړو څخه یو قفیز مثلا یو کیلو اوړه تاته درکول کیږي. دقفیز طحان پـه حـدیث کـی

فيصر في قفيز الطحان وقد نهى النبي صلى الله عليه وسلم عنه و هو ان يستاجر ثورا ليطحن له حنطة بقفيز من دقيقه. (هدايه آخيرين ص ۲۸۹).

لهذا په مسئوله صورت كې اجاره صحيح نه ده، دصحيح كيدو صورت دادى چې په اجرت كې پيسې معلومې كړي اوكه سره زر مقرروي نو مطلق سره زردى مقرر كړي. اوڅومره يې چې مقرر كړى وي هغه دى پوره اداكړى شي. په قاضى خان كې دي:

فلو استأجر طحاناً ليطحن له هذه الحنطة بقفيز من الدقيق ولم يقل بقفيز من ذلك الدقيق جاز له لانه لم يجعل الاجر من دقيق هذه الحنطة والقفيز معلومٌ.

يعنى ژرنده "كړي ته غنم د اوړه كولو لپاره وركړ. او داجرت فيصله يې دا وكړه چې تاته به يوقفيز اوړه دركوم او دايې ونه ويل چې له همدغه اوړونه چې ته يې اوړه كوې دركوم نوداصورت جائزدى ځكه چې مستاجر دهمدغه غنم اوړه (چې دژرنده ګړي دعمل په نتيجه كې مينځ ته راځي) په اجرت كې نه دى متعين كړي بلكې مطلقاً يوقفيز اوړه يې مقرر كړي دي اود قفيز وزن معلوم دى. (لهذا اجرت مجهول نه شو) نوځكه داصحيح دى. (فتاوى قاضى خان ص ۲۲ ج ۳ باب الاجاره الفاسده). فقط والله اعلم بالصواب كال ۱۴۰۶ هـ.

كاتب دنيم كتاب كتابت وكړ خو هغه يې هم ډير وروسته نو مالك كار واپس واخست اودكتاب نيم اجرت يې چې وركړى و هغه يې هم واپس وغوښت، ددى څه حكم دى؟

(۳۳۶سوال) زيد تقريباً د دريو كلو راهيسى عمر ته يوكتاب دليكلو لپاره وركړى و ددى كارا جرت يوه صفحه په لس روپۍ و عمر ددى كتاب له نيم نه زيات كار وكړ او زيد ته يې وسپارل او ددى كتاب دسلو صفحو اجورت هم واخست، عمر دكتاب په ليكلو كې زيات تاخير وكړ او هرځل له خپلې وعدې نه مخالفت وكړ، په همدى وخت كې عمر له زيد سره كتلو نه پرته لدى ځاى نه بل ځاى ته لاړ، زيد له عمر نه دكار دپوره كولو غوښتنه وكړه. خو كار يې ونه شو نو زيد دكتاب پاتى كارله عمر نه واخست، عمر چې زيد ته دنيم كتاب كوم كار وركړى و اودهغه پيسې يې آخستې وى عمر دهغو پيسو واپس كولو غوښتنه هم كوي او زبردستي ترينه اخلي، خو عمر د پيسو وركولو نه انكار

کوي، ایاپه داسی صورت حال کی عمرله زید څخه دمخکینـي کـارا جـرت دواپـس آخستلو حق لري اوکه نه بینوا توجروا.

(ځواب) حامداً ومصليا و مسلماً ! کاتب چي څومره صفحي کتابت کړي دي دهغه داجرت حقدار دی، اود کومو صـفحو کتابـت یې چـې نـه دی کـړی دهغـه داجـرت مستحق نه دی.

(نوټ) داچې عمر پخپل وخت کار نه دی کړی او وعده خلافي یې کړی ده هغه قابل مذمت او د غندنې وړدې، دمؤمن نښه داده چې هغه وعده خلافي نـه کـوي نوځکـه عمر د وعده خلافی په وجه ګنهګار دی، عمر ته پکاردي چې له زیدنه معافي وغـواړي اوهغه رضاکړي والله اعلم.

د خارویو د تیرولولپاره اجرت ورکول او آخستل حرام دي:

(۳۴۷ سوال) مونږ وزې ساتو کله چـې دهغـوی دتیریـدو وخـت راشـي نـو د نـر تکـه لروونکي مالک د وزو دتیرولو په عوض کـی دیـوې وزې پـه سـر لـس روپـۍ مـزدوري غواړي، ایا معاوضه ورکول، او که تکه زمونږ وي پرهغه معاوضه اخستل جـائزدي اوکـه نه؟

(ځواب) حامداً ومصلیاً ومسلماً! داچې تکه په وزو سوریږي او ورباندی خیژي ددی پـه عوض کی پیسی آخستل جائز نه دي، څوکه مجبوریت دلاسه ورکـړې نـو ګنـاه پکـې نشته. په آخري هدایه کی دي:

وَلَایـــجوز اخذ اجرةعسب التیس وهو ان یواجر فحلاً لیـــنـــزو علی اُناثٍ لقوله علیه السلام ان من السحت عسب التیس والـــمراد اخذ الاجرة علیه.

یعنی د نرتکه په وزو باندی د سوریدو په بدل کی پیسی او معاوضه آخستل جائزنه دي محمدصلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دي چې په ماده باندی دنر مال دسـوریدوپه بـدل کی پیسې آخستل خبیث دي یعنی حرام دي. هدایه آخیرین باب الاجـاره الفاسـد ص ۲۸۷ فقط والله اعلم بالصواب. ۱۳ صفر ۱۴۰۵ هـ.

(۱) مونږ په دی شرط کور په کرایه ورکړی و چې کله مونـږ دکـور دخـالي کولو غوښتنه وکړو نو خالي یې کړئ هغوی له مونږ سره په دی خبره وعده وکړه خو اوس دهغه اولاد کورنه خالي کـوي. (۲) پـه کرایـه کـی داضـافه کولو مسئله.

(۳۴۸) سوال ، مونږ یو کور دخپلو زامنو د استعمال په خاطر بند ساتلی و، په دی وخت کی یوسړی زمونږ پلارته راغی اوخپل عذر یی پیش کړ، هغه زماپلار ته وویل چی څه وخت لپاره دغه کور ماته په کرایه راکړه، زماپلار ورته وویل چی ماداکور دخپلو زامنو لپاره ساتلی دی، مګرهغه خپل مجبوریتونه وړاندی کړل او زماپلار ته یی عذر او زاری وکړې. زما پلار هغوی ته په دی شرط کور په کرایه ورکړه چی کله زه له تاسی نه دکور خالي کولو ووایم نو تاسی به راته خالي کوئ،هغوی زما دپلار دغه شرط ومنلو او کور یی په کرایه واخست. هغه سړی اوس مړشوی دی دهغه اولادونه دي اوهغوی ته هم معلوم دی چی زمونږ پلار داکور څه محدود وخت لپاره په کرایه اخستی و لیکن هغوی دکور خالي کولو لپاره داعذر پیش کوي چی مونږ سره پیسې نشته چیرته لاړشوو. حال داچی مونږ د کور ډیر سخت ضرورت لرو، څو څو ځلی مو ورته وویل خو هغوی هر وخت انکار کوي، په داسی حالت کی مونږ ته څه کول پکاردي؟ په دی باره کی دشریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(۲) زمونږ نور کرایه دارهم دي چی پخوانی کرایه په حساب سره اوسیږي، په دی وخت ګراني اسمان ته رسیدلی ده، ایا مونږ له هغوی نه د زیاتی کرایی غوښتلو حق لرو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) حامدا و مصلیا و مسلما! په مسئوله صورت کی ستاسی پلار چی کوم سړي ته دضرورت په وجه کوڼ په کرایه ورکړی دی او هغه دکرایه کور د اخستلو په وخت داوعده کړی وه چی تاس کله هم دکور دخالي کولو ووایئ زه یی خالي کوم، نو ددغې معاهدې له مخې اوس چی ستاسې پلار ته دکور ضرورت پیش شوی دی، هغه یادهغه وارث ددغه ضرورت په وجه دکور خالي کول غواړي نو دهغه سړي زامنو ته پکاردي چی کور خالي کړي اوبل چیرته دکور بندوبست وکړي، خصوصاً په داسی حالت کی چی دهغوی پلار مړشوی دی، که د کور مالک یالـه کرایه دار نـه کوم یو مړشي، او کرایه دار کور دخپل ځان لپاره په کرایه نیولی وي نوشرعاً د اجارې عقد فسخ کیږي، نو ځکه پر وارثانو لازم دي چی کور دهغه مالک ته حواله کړي او ځانته په بل ځای کی انتظام وکړي، که چیرته فوراً انتظام کول مشکل وي نو هغوی ته دی څه وخت لپاره مهلت ورکړی شي په اخری هدایه کی دي:

ومــن استاجر داراً کل شهر بدرهم فالعقد صحیح فــی شهر واحد فاسد فــی بقیة الشهور الا ان یسمی جملة الشهور فان سکن ساعة من الشهر الثانی صح العقد فیــه

ولیس للــمواجران یخرجه الـــى ان ینقضي وكذلك كل شهر سكن فـــــى اولــه.

(هدایه اخیرین ص ۲۸٦ ج ۳ باب الاجارة الفاسدة).

همدغه راز په هدایه کـی دي: و اذا مات احد الــمتعاقدین وقد عقد الاجارة لنفسه انفسخت الاجارة. (هدایه اخیرین ص ۲۹۹ ج ۳ باب فسخ الاجارة).

دکور مالک او کرایه دار لپاره شرعي هـدایات خـه دي؟ نـودی لپـاره وگـورئ فتـاوی رحیمیه اردو جلد نمبر ۳ صفحه نمبر۲۵۷، دجدید ترتیب په مطـابق دهمـدی کتـاب د کور مالک، کرایه دار اودپگړی مسایلو تر عنوان لاندی.

(۲) که چیرته د خه خاص وخت او مودی لپاره دی په کرایـه ورکـړی وي مـثلاً درې کاله یا خلور کاله نو دومره وخت لپاره چی خومره کرایه موټاکلی ده همغومره آخستل درته جائزدي اوله هغه نه زیات آخستل جائز نه دي، خوکه کوم وخت او موده دی نه ده ټاکلې بلکی صرف دمیاشتنی کرایه مقرره ده نـو پـه دی صـورت کـی چـون هـره میاشت نوی اجاره کیږي، نولهذا که دګرانی پر وجه دمیاشتې په شروع کی پـه کرایـه کی مناسب اضافه کول غواړی نو کولی شی.

په هدایه آخیرین ص ۲۸٦ کی چی کوم عبارت دی لـه هغـه نـه دامسئله مستنبط ده والله اعلم بالصواب.

کتاب الـمزارعة

په دهقان باندی د زمکې ورکولو جواز اوددې شرائط:

(۳۴۹ـ سوال) زید عمر ته خپله زمکه په دی شرط ورکړه چې زمکه به دزید وي او عمر به تخم، سره، اوبه او نور خواري محنت کوي، کله چې فصل تیارشي نو له تقسیم نه وړاندی عمر چې څومره خرچه کړی ده هغه به آخلي او لدینه وروسته چې څومره فصل پاتی کیږي هغه به پخپلو کی یو برابر تقسیموي، ایا داصورت جائزدی اوکه نه؟ که لدینه علاوه بل کوم صورت دجواز وي هغه په تفصیل سره ولیکئ، بینوا توجروا.

(ځواب) له زمکې نه چې څومره حاصلات ترلاسه شي هغه دزید او عمر ترمنځ یو برابر شریک دي د عمر لپاره داشرط لګول چې دفصل له تیاریدو نه وروسته به هغه خپل مصارف اخلي اوبیا پاتی فصل به په منځ کی ویشي نو داصورت جائزنه دی، کیدای شي دومره فصل ترلاسه شي څومره چې عمر په زمکه مصارف کړی دي، په آخیرین هدایه کی دي:

وکذا (ای لاتصح المزارعة) اذا شرط ان یرفع صاحب البذر بذرهٔ ویکون الباقی بینهما بنصفین لانّهٔ یودی الی قطع الشرکة فی بعض معین اوفی جمیعه بان لم یخرج الاّ قدر الذر. (هدایه آخیرین ص ۴۱۰ کتاب المزارعة).

په مزارعت (دهقانی) باندی دزمکې ورکولو دصحت لپاره اته شرطونه دي: لومړی شرط یی دادی چې زمکی دکرکیلی لپاره اماده وي، که چیرته بنجره زمکه یوچاته ورکړی او ورته ووایی چې دادفصل لپاره برابره کړه اوبیاپه دی کی فصل وکړه،لدینه چې کوم حاصلات ترلاسه شي هغه به بیاپخپلو کی نیموو نودا صحیح نه دی.

ثم المزارعة لصحتها علی قول من یجیزها شروط، احدها کون الارض صالحة للزراعة لانه لایحصل دونه (هدایه اخیرین ص ۴۰۹ ج ۴) (ویشترط فیها) ای فی المزارعة عند من یجوزها (صلاحیة الارض للزرع) لان المقصود وهوالربح لایحصل بدون کونها صالحة للزراعة (مجمعالانهر ص ۴۹۹ ج ۲ کتاب المزارعة).

دویم شرط یی دادی چې دواړه د عقد کولو اهل وي یعنی عاقل وي:

والثانی ان یکون ربُّ الارض وللمزارع من اهل العقد وهو لا یختصٌّ به لان عقد اما لا یصح الا من الاهل. (هدایه اخیرین من ٤٠٩ ایضا) مجمع الانهر ص ٤٩٩ ج ٢ کتاب المزارعة).

دریم شرط دزمکې د ورکولو مدمت معلومول چی دومره میاشتې یادومره کلونو لپاره به ورکول کیږي:

والثالث بیان المدةلانه علی منافع الارض او منافع العامل والمدة هی المعیار لها لتعلم (المنافع) بها (ای بالمدة) (هدایه اخیرین ص ٤٠٩) ویشترط تعیین المدة) لتصیر المنافع معلومة کسنة او اکثر فان ذکر وقت لایتمکن فیه من الزراعة فهی فاسدة (مجمع الانهر ص ٤٩٩ ج ٢ ایضاً).

څلورم شرط دادی چی دامعلوم شي چی قلبه او تخم به دچاوي اوددی مختلف صورتونه دي، ځیني جائز دي او ځینی ناجائز، مثلاً (١) زمکه او تخم دیوسړی وي، قلبه او نور محنت خواري دبل سړي نوداصورت جائزدی. وهی عندهما علی اربعة اوجه، ان کانت الارض والبذر لو احد والبقروالعمل لو احد جازت المزارعة (هدایه آخیرین کتاب المزارعة).

(٢) زمکه دیوسړي وي او نور ټول څیزونه لکه یوه ، قلبه ، تخم خواري او محنت دبل سړي وي نوداصورت هم جائزدی.

وان کانت الارضُ لواحدٍ والعمل والبقر والبذر لواحدٍ جازت، (هدایه آخیرین).

(٣) زمکه، قلبه، یوه تخم او سره ټول دیوسړي وي مګر محنت او خواري دبل کس وي نوداصورت هم جائزدی. اوداد هغه پشان دی چی یو څوک له خپل ځان سره دمزدور په توګه نیولی وي.

و ان کانت الارض والبذر و البقر لواحدٍ والعمل من الاخر جازت لانه استاجره للعمل بآلة المستاجر فصارکما استاجر خیاطاً لیخیط ثوبه بابرته اوطیاناً لیطین بمرة(هدایه آخیرین).

په مجمع الانهر کی دي:

(واذاكان البذر والارض لاحدهما والعمل والبقر للاخر، اوالارض لاحدهما والبقيـــة للاخر، او العـــمل لاحدهما والبقيّة للاخر صحت). فـــى هذه الصورة الثلاثة.(مجمع الانهر ص ۵۰۱ ج ۲ کتاب الـــمزارعه).

(۴) زمکه او قلبه دیو کس وي خوتخم او خواري دبل کس، دظاهر روایـت پـه مطـابق داصورت ناجائز دی.

وَانْ كَانَتْ الارض والبقر لواحد والبذر والعمل لاخر فهي باطلة هذالّذى ذكره ظاهر الرواية (هدايه آخيرين) وان كانت الارض والبقر لاحدهما والبذر والعمـــل للاخــر بطلت،(مجمع الانهر ص ۵۰۱ ج ۲).

(۵) تخم دیو کس وي خوقلبه، زمکه او نورتـول خـواري دبـل کـس نوداصـورت هـم ناجائز دی.

(٦) تخم او قلبه دیو کس وي خو زمکه او خواري دبل کس نوداصـورت هـم باطـل اوْ ناجائز دی.

وَههنا وجهان اخران لـــم يذكرهما، احدهما ان يكون البذر لاحد هما والارض والبقر والعمل لآخر و انه لا يجوز لانه يتم شركة بين البذر والعمل ولم يردبه الشرع، والثانى ان يجمع بين البذر والبقر (بان يكون البذر و البقر لاحد هما والباقـــى للاخر) وانه، لايجوز ايضاً (هدايه اخيرين ص٤١٠ ايضاً) (وكذا) تبطل (لوكان البذر والبقــر لاحدهما والارض والعمل للاخر او البذر) اوالبقر(لاحدهما والباقى للاخر) (مجمــع الانهر ص ۵۰۱ ج۲ ايضاً).

د مزارعت پنځم شرط : دچاچی تخم نه وي دهغه حصه دی معلومه کړی شي.

والخامس بيان نصيبُ من لابذر من قبله لانه يستحقه عوضا بالشرط فلابدّ ان يكون معلوما وما لايعلم لايستحقُّ شرطاً. (هدايه اخيرين ص ٤٠٩ ايضاً).

شپږم شرط: زمکه دی دهقان ته حواله کړی شي، داشرط دی ورباندی ونه لګولی شي چی له ماسره واوسه.

والسادس ان يخلى رب الارض بينهما (الارض) وبينالعامل حتـــى لوشرط عمل رب الارض يفسد العقد لفوات التخلية (هدايه اخيرين ص ٤٠٩) (و) يشترط (التخليـــة

بين الارض والعامل) لانه بذلك يتمكن من العمل فصار نظير المضاربة لاتصح حتى يسلم المال اليه حتى اذاشرط في العقد مايفوت به التخلية وهو عمل رب الارض مع العامل لايصح (مجمع الانهر ٤٩٩ ايضاً ج ٢).

اووم شرط: دزمکې دحاصلاتو تقسیم د حصې په اعتبار سره فیصله شوی وي، نه دوزن په اعتبار سرد. همدغه راز دکوم خاص ځای حاصلات د یو تن لپاره نه وي ټاکل شوی یعنی له دواړو نه هیڅ یو دامعلوم نه کړي چې دومره منه حاصلات به زماوي او نور پاتې به ستاوي، بلکې دا رنګ دی وکړی شي چې دواړو ته به نیم نیم ورکول کیږي یایوته دریمه حصه اوبل ته دویمه حصه.

والسابع الشركة في الخارج بعد حصوله لانه ينعقد شركة وفي الانتها فما يقطع هذه الشركة كان مفسداً للعقد (هدايه آخيرين ص ٤٠٩ كتاب المزارعة).

همدغه راز په دی کی داعبارت هم دی:

وان يكون الخارج شائعاً بينما تحقيقاً لمعنى الشركة فان شرطا لاحدهما قفزانا مسماة فهي باطلة لان به تنقطع الشركة لان الارض عساها لاتخرج الآهذا القدر، وصار كاشتراط دراهم معدودة لاحدهما في المضاربة (هدايه اخيرين ص٤١٠ايضاً) (والشركة في الخارج) عندحصوله (فتفسد ان شرط لاحد هما قفزان معينة او ماتخرج من موضع معين . لانه وقت لايخرج الا ذلك (مجمع الانهر ص ٤٩٨ ، ص ٥٠٠ ج ٢ايضاً).

اتم شرط دادی چې څه شی کري هغه معلوم کړي، ځکه چې کیدای شي دزمکې مالک دکوم خیر کرل پخپله زمکه کی نه خوښوي اوبیا وروسته اختلاف پیداشي البته که دزمکې مالک مطلقاً اجازه ورکړي چې څه شی پکی کرل غواړي وکره نو بیاهغه ته اختیار وي چې هرڅه غواړي وکري. والثامن بيان جنس البذر ليصيرلاجر معلوماً (هدايه اخيرين ص ٤٠٩) (عين الهدايه ص ١٠٩ ج ٤). دغه پورتني شرايط په نظر کی نیولو سره دی د مزارعت او دهقان معامله وکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

کتاب الهبة

په ژوند کی دمال تقسیم عطیه ده نه میراث :

(۳۵۰ سوال) زمایو زوی او څو لورګانی دي، غواړم چی پخپل ژوند کی وربانډی مـال تقسیم کړم شرعاً څومره ورته ورکړم، که چیرته له مرګنه وروسته تقسیم کـړی شـي نـو هریوته دی څومره څومره ورکړی شي.

(ځواب) که چیرته دوفات په وخت کی دغه مذکوره ورثاء ژونـدي وي نـو دا مـال بـه درې حصې کیږي دوه حصې به هلکانو ته ورکول کیږي، او هر یوجلی ته به یوه حصه رسیږي، که چیرته په ژوند کې د مال د تقسیمولو اراده لـرې نومـال دی پنځـه حصـې کړی شي، هلک او جنوکیانو ته یوه یوه برابره حصه ورکړه او هریو ددغه مال مالک او مختار وګرځوه. (حواله وراندی را روانه ده مرتب) فقط والله اعلم بالصواب.

ایا پلار کولی شي چی پخپل ژوند کی په زامنو اولورګـانو بانـدی جایداد هبه کړي، خوقبضه یی پخپل لاس کی وساتي؟

(۳۵۱ سوال) ددین علماء څه وایی په دی مسئله کی چی یوسړی خپل جائیـداد، کـور او نور شیان پخپلو وارثانو لکه یو زوی اولور ته چی دواړه بالغـان دي، دباقاعـده سـند سره هبه کړي دي لیکن ترمرګه پـورې قبضـه او تصـرف پخپـل لاس کـی نیـولی دی، دهغه له مرګـنه وروسته دواړه زوی او لور دجائیداد آمدني او حاصلات ترلاسـه کـوي، مګرنور ورثاء چی په افریقه کی دي وایی چی داصحیح نه دی، په دی کی زمونږ حق هم دی،لهذا پوښتنه داده چی داهبه صحیح ده او که نه؟

(ځواب) دهبی دصحت لپاره کامله قبضه شرط دی، په درمختار کی دي:

وشرائط صحتها فـــی الموهوب ان یکون مقبوضاً غیرمشاعٍ ممیزاً غیرمشغول (الـــی) وتتم الهبة. (ص ۷۰۰- ۷۰۲ ج ٤ کتاب الهبة).

لهذا کله چی مرحوم ترمرګه پورې په جائیداد باندی پخپله قابض او متصرف و اودهغـه په ژوند کی دهلک اوجلی مالکانه قبضه او تصرف ثابت نه دی نوداهبه معتبره نـه ده، په دی کی دهغه ټول ورثا وارث دي هغوی خپلې خپلې حصې آخستلی شي.

اذامات الواهب قبل قبض الموهوب له الهبة بطلت، وتكون ميراثاً من الواهب كمافي متروكاته (ص ۵۷۳ ج ٤).

له تاسی سره به دبهشتي زیور کتاب موجود وي دهغه په کتاب الهبه کی دا عبارت ولولئ ددی څو شرطونه دي یو شرط دادی چی هبه هغه ته حواله کړی شي او وربانذی قبضه وکړي، که چیرته تاویل چی ماداخیزونه تاته درکړي دي او هغه وویل ما واخستل ، لیکن تر اوسه لاتا ورته نه وي ورکړي نودا ورکول صحیح نه شو، ځکه چی داخیزونه تراوسه پورې ستاپه قبضه کی دي، البته که پرهغه څیزباندی قبضه وکړه نو له قبضې کولونه وروسته دهغه ملکیت وګرځید، همدغه راز که چاپو کور چاته ورکړ نوله هغه نه دی خپل ټول مال او حال راوباسي اوله دی کورنه دی لاړشي. (ص ۵۱_۵۲ ج ۵). فقط والله اعلم بالصواب.

پخپل ژوند کی دمال تقسیم عطیه ده نه میراث:

(۳۵۳سوال) څه فرمايي ددين علماء په دی مسئله کی چی یوه ښځه پخپل ژوند کی دصحت او تندرستی په حالت کی خپل جائیداد او نور سامان پخپلو وارثانو باندی په شرعي توګه تقسیموي او هغوی ددې مالک جوړول غواړي، هغه پخپل ژوند کی له دی کار نه خپلې اوږې سپکول غواړي، دهغې په وارثانو کی دهغې میړه، څلور زامن او څلور لورګانې دي، په مسئوله صورت کی دجائیداد تقسیم به څنګه کیږي ؟ هر یو وارث ته به څومره حصه رسیږي. بینوا توجروا.

(ځواب) د میراث د تقسیم مسئله له مرګ نه وروسته شروع کیږي په ژوند کې دمال تقسیم ته دمیراث تقسیم نه ویل کیږي، بلکی داهبه ده، دهبې او بخشش قاعده داده چی هلک وي یا جلۍ ټولو ته دحدیث له مخی یوه برابره حصه ورکړی شي.

قوله عليه الصلوٰة والسلام فاتقوالله واعدلوا بين اولادكم، (مشكوٰة شريف ص ٢٦١ باب العطايا).

اوپه خلاصه الفتاوه کی دي: رجل له ابن وبنت اراد ان يهب لهما شيئاً فلافضل ان يجعل للذكر مثل حظ الانثيين عند محمد وعند ابي يوسف رحمه الله بينهما سواء هو المختار لو رود الآثار (خلاصة الفتاوى ج ٤ ص ٤٠٠). په درمختار کی دي:

وفي الخانية لابأس بتفضيل بعض لا اولاد في المحبة لانها عمل القلب وكذا

فی العطایا ان لم یقصد به الا ضرار و ان قصده یسوی بینهم یعطی البنت کالا بن عند الثانی وعلیه الفتوی(قوله وعلیه الفتوی) ای علی قول ابی یوسف من التنصیف بین الذکر والانثی افضل من التثلیث الذی هو قول محمد (درمختار مع رد المحتار ج ٤ ص ٧٠٧ کتاب الهبة).

لهذا په مسئوله صورت کی دی دهغه میره ته خلورمه حصه ورکړی اوپاتی نور مال دی په اتو حصوکی وویشي او هریوته دی یوه یوه حصه ورکړي. فقط والله اعلم بالصواب.[1]

ترمرګه پوری دهبی کولو حکم:

(۳۵۳_ سوال) که چیرته یو خوک خپلې ښځې ته د واده په وخت کور یا زمکه داسې هبه کړي چې ترخو زه ژوندی یم نودا کور به ستاوي، اتفاقاً خاوند یې مړشو او دهغه ښځې تر مرګه پوری له کور نه ګته اوچته کړه که چیرته دهغه ښځه هم مړه شي نو ددی کور یاپښي وارث به خوک کیږي، دهغی دخاوند وارثان اوکه د ښځې وارثان. بینوا توجروا

(ځواب) د کور زمکې او ددې پشان د نورو شیانو ښځې ته دټول عمر لپاره یاچاته هبه کول عمري هبه ده اوداجائزه ده د واپسی شرط پکی باطلدی،لهذا ښځه به ټول عمر لدینه ګټه اوچتوي او دهغې له مرګنه وروسته به وارثان ددغه مال مستحق وي، دخاوند ورثایی واپس نشي آخستلې.

په درمختار کی دي:

(جاز العمری) للمعمرله ولورثته بعده لبطلان الشرط (درمختار مع الشامی ج٤ ص ٧١٤ کتاب الهبة فصل فی مسائل متفرقة).

په غایه الاوطار کی دي: (جاز العمری) للمعمرله ولورثته بعده بطلان الشرط.

[1]-د مفتی صاحب مدظله فتوه صحیح او مدلل ده، لیکن زما دناقص خیال په مطابق د صاحبینو په اقوالو کی دتطبیق یو صورت دی، هغه داچی که کوم سړی په خپل ژوند کی دمرګ له تصور نه مخکی خپلو اولادوته څه هبه کړي نوپه دی کی دامام یوسف رحمه الله قول راجح دی، خکه چی د حدیث منشی همداده، که چیرته له مرګ نه مخکی د اولادونو ترمنځ د جګړې له ویرې نه خپل جایداد هبه کړي نوپه دی صورت کی دامام احمد رحمه الله قول راجح دی، نو خکه مفتی صاحب هم دخاوند په معامله کی دترکی د اصولو لحاظ کړی دی. والله اعلم سعید احمد پالن پوری.

دتول عمر لپاره هبه کول جائز دي، او موهوب یعنی هبه شوی څیز دهغو مملوک دی (الی قوله) عمری د ع په پیش سره دیته ویلی شي چې یوسړی مثلاً څپل کور چاته داسی ورکړي چې هغه دی تول عمر په دی کی واوسیږي، بیاکله چې دغه سړی مړشي نو هبه کوونکي یادهغه وارث هغه بیرته واخلي. ګویاداقسم ورکولو سره موهوب له اودهغه ورثاء ددی مالک ګرځي، اودموهوب له مرګنه وروسته دبیا اخستلو شرط باطل دی. غایة الاوطار ترجمه درمختار ج ۳ ص ۵۰۸ کتاب الهبه باب الرجوع فی الهبة).

په ملتقی الابحر کی دي: (والعمری جائزةٌ) تکون (للمعمر حال حیاته ولورثته بعده) ای بعد مماته(وهی) العمری (ان یجعل داری) مثلاً (له) ای للعمر(مدة عمره فاذا مات ردت الیه) ای الی الواهب هکذا فعلوا فی الجاهلیة فابطل الشرع شرط الرد لما قررنا فتبقی لورثة الموهوب له .

اوپه مجمع الانهر کی دي: (والعمری جائزة للمعمر) بفتح المیم الثانیة وهو الموهوب (حال حیاته و اورثته بعده) ای بعد وفاته لقوله علیه الصلوة والسلام من اعمر عمری فهو للمعمرله، ولو رثته لان المفهوم منه بطلان الشرط لانه قال علیه الصلوة والسلام ولورثته کما بیناه فی اول الکتاب (مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر ج۲ ص ۳۶۶ کتاب الهبة). فقط والله اعلم بالصواب.

یوزوی ته یی ډیر اوبل ته یی لږ ورکړ ددې حکم:

(۳۵۴_ سوال) یوسړي واده وکړه، له هغی نه یو زوی وشو، بیاهغه ښځه مړه شوه لدینه وروسته دهغی له خور سره واده وکړه، له دینه اووه زامن او درې لورګانې دي، دویمه ښځه یی هم مړه شوی ده د مخکینی ښځې نه چې کوم زوی دی هغه واده کړیدی، اوله دویمې ښځې نه اووه هلکان دي، له هغونه دوه کسانو ودونه کړي دي، له دریو جنوکیانو څخه دوه جنوکیانې هم واده شوي دي، تول ورونه په ګډه تجارت کوي، پلار یی د تولو زامنو لپاره کورونه جوړ کړي دي، له هغوی نه څینې کورونه ګران دي او څینی ارزان، په دی باره کی دشریعت څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(خواب) کومو هلکانو چې ودونه نه دي کړي نو هغوی ته دی د واده خرچه ورکړی شي او دکومو هلکانو کورونه چې دکم قیمت دي، هغوی ته دی ددی بدله او عوض

ورکړی شي، د مخکینی ښځې او دویمې ښځې اولادوته دی ټول یو برابر برخه ورکړی شي،په ژوندانه کی خپل مال تقسیمول بخشش دی اوپـه بخشـش کـی ټـول اولاد یـو برابر حقدار دی. فقط والله اعلم بالصواب.

ایاپلار په ژوند کی اولاد خپل حق غوښتلې شي اوکه نه؟

(۳۵۵ سوال) زما اووه زامن او خلور لوړګاني دي، له هغوی نه د درې هلکـانو او درې جنوکیانو ودونه شوي دي، دهغوی د ودونو خرچه ماکړی ده، دڅلورو هلکانو او دوه جنوکیانو ودونه پاتي دي، له واده شوبو هلکانو څخه یو هلک وایی چی مونږ ته خپـل حق راکړه، هغوی جداکیدل غواړي، ایازه هغوی ته خپل حق ورکـړم؟ اوکـه ورکـول یی ضروري وي نو څنګه یی ورکړم؟ بینوا توجروا.

(خواب) دکومو څلورو هلکانو او دوه جنوکیانو ودونه چی پاتی دي، دمخکینو هلکـانو او جنوکیانو په ودونو باندی چی څومره خرچ او مصرف شوی همدومره پیسې دوی ته هم دبخشش په توګه ورکړه ترڅو هغوی په خپلـو ودونـو کـې اسـتعمال کـړي، لدینـه علاوه چی له تاسره څومره مال پاتی شو تاسی دهغه مالک یئ کوم هلکان چـی جـدا کیدل غواړي جیداکیدی شي، هغوی له تانه په زوره دغوښتلو حق نه لري، اوکه ورتـه ورکول غواړی نو ټولو ته یو برابر ورکړه. فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته پلار خپل مال ټول یوزوی ته ورکړي نو ددې څه حکـم دی ؟

(سوال ۳۵٦) یو هسپتال دی چـی پـه هغـه کـی پـلار او زوی دواړه شـریک دي، پـه هسپتال کی چی څومره خرچه او تـاوان شـوی دی هغـه زوی ورکـړی دی، زوی یی ډاکټر دی او همغه هسپتال چلوي له دولسو کلو راهیسی دغه ډاکټر پـه خپـل پـلار او مور او دوه خویندو باندی خرچه کوي. پلار خپله حصه پخپلـه خوښـه خپـل زوی تـه هبه کول غواړي، دهغه دوه لوڼی اوپنځه زامن نور هم شته.

پوښتنه داده چی ایاپلار ددې حق لري چی خپله برخه یـوازی یـو زوی تـه ورکـړي؟ ایا داسـی کول ورته جائز دي؟ بینوا توجروا.

(خواب) که پلار خپله حصه صرف یو زوی (ډاکټر) ته ورکوي نوخپلو نورو پنځـه زامنـو، دوه لوڼګانو اوخپلې ښځې ته نقصان رسوي، دهغوی حق تلف کیـږي، نـو څکـه هغـه ګنهګاریږي، خپل ټول اولاد ته دی باید په یو نظر وګوري اوله ټولو سره دی یـو برابـر

سلوک وکړي، دخپلې ښځې حق دی هم په نظر کی ونیسي. دیو حدیث شریف مضمون دی چی ځینې خلک تول عمر دالله په اطاعت کی لګیاوي لیکن دمرګ په وخت په میراث کی وارثانو ته ضرر رسوي، یعنی دځه شرعي وجې نه پرته له څه حصې نه محروم ساتي یاورته کمه حصه ورکوي، الله تعالی داسی خلک سیده دوزخ ته وړي.

عن ابی هریرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان الرجل لیعمل والمرأة بطاعة الله ستین سنة ثم یحضر هما الموت فیضاران فی الوصیة فتجب لهما النار (مفید الوارثین ص ۱۲). مشکوة شریف ص ۲۶۵ باب الوصایا).

په یوبل حدیث کی ارشاد دی چی کوم سړی خپل وارث له میراث نه محرومو ي الله تعالی هغه له جنت نه محروموي.

عن انس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. (مفید الوارثین ص ۸۲)(مشکواة ص ۲۶۶). فقط والله اعلم بالصواب.

په اولادو کی یوه جلۍ په غریبه کورنۍ کی واده شوی ده یواځې دهغې مدد کول څنګه دي؟:

(۳۵۷سوال) په ژوند کی چی څه څیز اولادته ورکړی شي هغه هبه ده اوپه هبه کی برابري کول پکاردي، یوسړي له خپلو لورګانو څخه یولور په غریبه کورنۍ کی ورکړی ده، که دهغه په نوم یو ورکوټې څیز ولیکي یا د مدد په توګه ورته څه پیسې ورکړي نوایا داکار په اولاد کی د انا انصافي په قطار کی خونه راځي؟ نور هلکان او لورګامې مې ماشاء الله ښه خوشاله دي مال حال ورسره ډیر دی. بینوا توجروا.

(جواب) الاعمال بالنیات، کله چی دهغه نیت دبل چا حق خوړل او کم ورکولو نه وي بلکی له غریبې لور سره دمدد کولو اراده لري نو ان شاء الله چی نه ګنهکاریږي، او نور ورثا به په دی کی نه مانع کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

مور اوپلار دخپلو اولادونو مال هیچاته نشي ورکولې :

(۳۵۸ سوال) زمونږ په وطن یعنی انګلستان کی دحکومت له طرف نه وړو ماشومانو ته وظیفه ورکول کیږي، دحکومت مقصد هم ماشومانو ته ورکول وي نه مور اوپلارته،

دماشوم پلار په هغه قبضه کوي او وخت په وخت پرهغه مصرفوي، د ماشوم مور دخپل ماشوم له جمع شوي پیسونه خپل کوم عزیز او رشته دار ته د امداد په توګه ورکول غواړي، خود ماشوم پلار ورباندی رضانه دی. ایاهغه د ماشوم له دغو پیسو نه خپل عزیز او رشته دارته ورکولی شي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) کله چې دحکومت مقصد یوازی ماشومانو ته پیسې ورکول وي، نوهغه پیسې دماشومانو دي اودادهغوی مور اوپلار سره امانت دی، هغه پیسې بایـد دماشومانو په کارو کی استعمال کړی شي، بل چاته ورکول جائزنه دي، دماشومانو په مال کی تصرف کول چې ماشومانو ته نقصان وي جائز نه دی، ظاهره ده چې دماشوم له مال نه بل چاته ورکول ماشوم ته نقصان دی،لهذا مورته شرعاً داحق نشته. ولایجوز ان یهب شیئًا من مال طفله ولو بعوضٍ (درمختار مع ردالمختار ج٤ ص ۷۰۷ کتاب الهبة ، قبیل باب الرجوع فی الهبة).

د بهشتی زیور کتاب به له تاسی سره وي په هغه کی دامسئله داسی راغلی ده.

مسئله۳ . کوم څیز چې دنابالغ ملکیت وي نو دهغه حکم دادی چې هغه یوازی دهمغه ماشوم په کارونو کې ولګول شي. بل چاته دخپل کار لپاره استعمالول جائزنه دي، پخپله مور اوپلار دی هم پخپلو کارونو کې ونه لګوي. (بهشتی زیور ص ۵۴ ج ۵).

مسئله ۷ : څرنګه چې ماشوم خپل مال بل چاته نشي ورکولې همدغسې پلارته هم داحق نشته چې دخپل ماشوم اولاد مال بل چاته ورکړي، کـه چیرتـه مور اوپلار ته ددی سخت ضرورت پیداشي اوبل ځای کی دا مال نه پیداکیږي نـود مجبوری لـه کبله دخپل اولاد څیز استعمالول صحیح دي. (بهشتی زیور)

مسئله: مور، پلار او نورو ته داحق نشته چې دخپل ماشوم اولاد مال بل چاته په قرض ورکړي بلکی پخپله هم قرض نشي آخستلې، بنه په یاد وساتئ. (بهشتی زیور ص ۵۵ پنځمه حصه ماشومانو ته دورکولو بیان) فقط والله اعلم بالصواب.

که د مصلحت په خاطر د زوی په نوم کور واخستل شي ایاهغه دکور مالک ګرځي اوکه نه؟:

(۳۵۹_ سوال) عبدالقادر په خپلو پیسو یو کور واخست ،دسرکاري قانون نه دبچ کیدو په خاطر یی ددغه کور رسمي سند(قواله) دخپل یو زوی عبدلرزاق په نوم جوړه کړه، نه هغه ته بخشش کول مقصد و اونه هم لـه آخستلو نـه وروستـه تـول عمـر هغـه کـور

عبدالرزاق ته ورکړ، بلکې ټول عمر د عبدالقادر په قبضه کې و او ټول انتظام یې پخپل لاس کې نیولې و، همدغه راز دکور آمدني هم پخپله استعمالاو. اوس عبدالقادر مړشوی دی اوپه هغه کور باندې دهغه زوی عبدالرزاق قبضه کړې ده او وایي چې ددې کور مالک زه یم، نورو وارثانو ته لدینه دبرخې ورکولو نه انکار کوي، او وایي چې داکور زما دی، ایادعبدالرزاق داخبره صحیح ده؟ ایاکوم صورت چې مابیان کړ په دې صورت کې هغه دکور رښتیا مالک جوړیدای شي؟ اوکه په دې کې نور وارثان هم حق لري، بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته پلار د کوم مصلحت په خاطر د زوی په نوم کور واخلي نو زوی یوازې دهغه په نوم د آخستلو په وجه دکور مالک نشي جوړیدلي.

په امداد الفتاوی کې دي:

(سوال) څه وایي دیني علماء په دې مسئله کې چې مثلاً زید دخپل زوی عمر په نوم دکوم مصلحت په وجه دخپل مال په عوض کې څه څیز دخپل اولاد په نوم واخست لکه چې زمونږ په زمانه کې فرضي نوم ورته ویل کیږي، نو ایا هغه څیز دزید ملکیت دی اوکه دعمر؟ او زید ته پدې کې دتصرف او نقل اختیار شته او که نه؟ یعنې پرچا خرڅولی او هبه کولی شي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) دبیع رکن ایجاب او قبول دی دچاپه منځ کې چې ایجاب قبول شوی وي مال دهمغه ملکیت دې نو زید که څه هم د مصلحت په خاطر دخپل زوی په نوم څه مال او څیز آخستی دی، خوداپه اصل کې د زید ملکیت دی نه دهغه د زوی، ددغې بیع مثال او نظیر تلجیه بیع ده، چې دوه کسه په څه وجه بیع ښکاره کړي خو مقصد یې رښتیا بیع نه وي نو هغه مفید ملک دی، نوله چاسره چې ایجاب او قبول نه وي شوی او نه هم پرهغه د خرڅولو مقصد وي او نه مشتري دهغه لپاره د آخستلو اراده کړې وي نوبیادهغه ملکیت څنګه کیدای شي.

فی الدرالمختار وبیع التجلیة وهو ان یظهر اعقداً وهمالا. یرید انه لخوف عدو وهو لیس بیع فی الحقیقة بل کالهول....

لهذا دا مال دهغه چادی چاچې آخستی دی او همغه د تصرف کولو حق لري، ترڅوپورې چې داسې کوم صحیح موجب چې دملکیت انتقال لپاره ضروري دی او عمر دهغه مالک وګرځوي پیدانشي.(الخ امداد الفتاوی ج ۳ ص ۱۷ کتاب البیوع مطبوعه پاکستان).

لهذا په مسئوله صورت کی که چیرته عبدالرزاق دملک د انتقال لپاره کوم صحیح شرعي سبب ثبوت سره پیش نه کړی شي نو عبدالرزاق یواځې ددغه کور مالک نشي جوړیدای. داکور دمرحوم عبدالقادر دی، دهغه په ترکه کی شامل دی اودهغه په وارثانو باندی دشریعت مطابق تقسیمیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

مور خپل مشر زوی ته زمکه ورکړه ددې څه حکم دی؟

(۳۶۰ سوال) یوه ښځه له خپلو څلور زامنو سره په یوه کور کې اوسیدله، دهغه هلکان چی څنګه غټیدل نوپه کور کی هم تنګي پیداکیده، مور دتنګی په وجه خپل مشر زوی ته دخپل ذاتی ملکیت څخه زمکه ورکړه، هغه په دی باندی د اوسیدو کور جوړ کړ او همغلته واوسید، دهغه مور اوس اوس مړه شوی ده، مور چی خپل مشر زوی ته کومه زمکه ورکړی وه ایا په هغی کی د نورو وارثانو حق هم شته اوکه نه؟ همدغه راز دمور چی کوم خپل ذاتی کور دی په هغه کی دمشر زوی ته هم میراث رسیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) مور خپل مشر زوی ته زمکه دهبی په توګه ورکړی وه یارعایتاً صرف استعمال له پاره ورکړی وه. په سوال کی ددی وضاحت نشته، که چیرته په شرعی طریقه داثابته شي چې مور خپل مشرزوی ته زمکه دهبی په توګه ورکړی وه اوپه دی زمکه باندی دهغه مشر زوی قبضه هم کړی وي نودا بشپړ او تام هبه ده؟ او ددغی زمکې مالک به همغه مشر زوی وي، په دی صورت کې د نورو وارثانوورباندی هیڅ برخه نشته، که یې زمکه دهبه په توګه ورکړی وي نو مورته یې پکار و چی خپلو ټولو اولادو کی دبرابری خیال ساتلی وای او نورو ته هم زمکه هبه کړی وای. (فتاوی رحیمیه ص ۱۴۵ ج ٦).

دجدید ترتیب په مطابق په همدی باب کی په خپل ژوند کی دمال تقسیم عطیه ده نه میراث ترعنوان لاندی وګورئ(مرتب) مګرداچې اوس مور یې مړه شوی ده نوځکه نورو زامنو ته پکاردي چی موریې څه کړی دي پرهغه راضي واوسي، اوکه داثابت شي چی مور یې دازمکه هسی عاریتاً ورکړی ده نوپه دی صورت کی لوی او مشر زوی دی نورو وارثانو ته هم باید حق ورکړي دمور چی کوم مځکینی کور دی په هغه کی دټولو وارثانو حق دی، اودمشر زوی حق پکې هم شته که زمکه ورته دهبې په توګه هم ورکړی وي بیاهم دموریه کور کی حقدار دی، ددغی هبې په وجه مشر زوی د وراثت له حق نه نشي محروم کیدی فقط والله اعلم بالصواب.

دقابل تقسیم کور نه له تقسیمولو نه وړاندی خپله حصه هبه کول:

(۳۶۱ سوال) واضحه دی وي چی دوه کورونه دي په دغو کورونو کې دوه ورونړه اودوه خویندې وراثتاً حقدار دي، دواړو خویندو د دواړو کورونو خپلی خپلی حصې خپلو دواړو ورونو ته هبه کړی دي، څه موده وروسته دواړو ورونو یو کور پخپل منځ کی نیم نیم تقسیم کړ هر یو پخپلو پخپلو برخو باندی قبضه وکړه او هریو دخپل ضرورت په مطابق په هغه کی تعمیري کارونه کړي دي، بل کور لدینه لوی دی مګرپه دی کی باقاعده برخی نه دي ویشل شوي او تراوسه پوری هغه کور تقسیم شوی نه دی، دهبې کولو موده لس دولس کاله کیږي، اوس زمونږ دواړه خویندو چی خپله خپله حصه مونږ دواړو ورونو ته هبه کړی وه زما په ناخبري کی صرف دیو ورور په نوم لیکلی ده، په دی سره ماته ډیر سخت تکلیف او خفګان رسیدلی دی، پوښتنه داده چی په مسئوله صورت کی دهبه شوي څیز واپس آخستل څنګه دي؟ هبه باقاعده رجسټر اولیکل شوی ده، امید دی چی مدلل ځواب راکړئ. بینوا توجروا.

(ځواب) کوم څیز چی مشترک وي او هغه د تقسیم وړ وي، یعنې له تقسیم نه وروسته قابل انتفاع وي، نولدینه هریو حصه دار چی خپله حصه هبه کول وغواړي نو داهبه هلته صحیح اوبشپړیږي چی کله هغه مشترک څیزتقسیم کړي اوخپله حصه جدا کړي او بیاخپل دغه حصه د موهوب له په قبضه کی ورکړي که چیرته چا دمشترک څیز له تقسیمولو نه وړاندی خپله حصه هبه کړه او دواهب تر انتقال پوری هغه مشترک پاتی وي نو هغه بشپړ او تام هبه نه ده او موهوب له ددې مالک نه شي کیدی اګرچی خپل شریکوان ته هبه کړی وي، هغه څیز دواهب په ملکیت کی دی همدغه ظاهر روایت دی. په آخری هدایه کی دي:

وَلَایَجُوْزُ فیما یقسم الا محوذة مقسومة وهبة المشاع فیما لا یقسم جائز. الی قوله. ولنا ان القبض منصوص علیه فی الهبة فیشترط کماله والمشاع لایقبله. الی. ولهذا امتنع جوازه قبل القبض کیلا یلزمه التسلیم... ولو وهب من شریکه لا یجوز لان الحکم یدار علی نفس الشیوع قال ومن وهب شقصاً مشاعاً فالهبة فاسدة لما ذکر نافان قسمه وسلمه جاز لان تمامه بالقبض وعند القبض لاشیوع.

(هدایه اخیرین ص ۲۶۹ کتاب الهبة).

په بهشتي زيور کی دي: مسئله : که چيرته چاته نيمه، دويمه او يادريمه حصه ورکړي اوپوره ورنکړی نو دهغه حکم دادی چی لومړی هغه ته وګوره چی هغه څه قسم څيزدی نيم په نيم تقسيمولو نه وروسته هم دکار وړ پاتی کيږي اوکه نه؟ که چيرته له تقسيمولو نه وروسته دکار وړ پاتی نشي لکه د ژرندې کاڼي يالاندې ډولچه که هغه تقسيم شي نو دکارنه پاتی کړي يعنی اوړه وربانـدی نشي کيداى، ياچوکی، کټ، کوزه،کاسه ، پياله ، صندوق او خاروي نو دداسې څيزونو له تقسيم کولو نه وړاندی هم که نيمه، دويمه او دريمه حصه هبه کړی شي نوجائز دی، که هغه پخپل قبضه کی واخلي نو تاچی خومره حصه هغه ته ورکړی ده دهغه مالک ګرځي، اوکه داسی يوڅيز وي چی له تقسيمولو نه وروسته هم دکار وړ پاتی کيږي لکه زمکه کور، د رخت تان. دسوځولو لرګي ، غلې دانې، شيدې، مستې او داسې نور نو ددغو شيانو له تقسيمولو نه وړاندی هبه کول صحيح اوجائزنه دي، که چيرته تاچاته وويل چې ددغې ټيم نيم غوړي ما تاته درکړ او هغه ووايي چی ماواخست نوداورکول صحيح نه دي که هغه دغوړو دغه ټيم پخپل تصرف کی هم واخلي بياهم دهغه مالک نشي کيدلې بلکې ټول غوړي ستادي، خوکه چيرته تا له هغه نه نيم غوړي جدا کړ او ورته دی هبه کړې نو اوس دهغه مالک ګرځي. بهشتی زيور ۵۲. ۵۳ پنځمه حصه د هبې بيان).

په مسئوله صورت کی چی د دواړو خويندو په دواړو کورونو کومه برخه ده دکورونو له تقسيم اود حصوله معلومولونه پرته خپلې خپلې حصې خپلو دواړو وررونو ته هبه کړي دي، اوبيا دواړو وررونو يو کور پخپلو کی ويشلی هم دی اوپخپلو حصو او برخو باندی قبضه هم کړی ده، نوکه چيرته داتقسيم اوپرهغه د دواړو وررونو قبضه د خويندو په اجازې سره شوی ده نوپه دی کور کی دهغوی هبه تام او بشپړه ده او دواړه وررونه دخپلو حصو مالکان دي، دخويندو رجوع په دی کی صحيح نه ده.

په درمختار کی دي:

(لا) تتم بالقبض (فيما يقسم ولو) وهبه (لشريکه) اولا جنبی لعدم تصور القبض الکامل کما فی عامة الکتب فکان هو المذهب.... (فان قسمه، وسلمه، صح) لزوال المانع. په شامي کی دي: (قوله فان قسمه،) ای الواهب بنفسه اونائبه او امر الموهوب له بان يقسم مع شريکه کل ذلك تتم به الهبة کما هو ظاهر لمن عنده ادنی فقه (درمختار وشامی ص ۷۰۳ ج ٤ کتاب الهبة). شامی په يوځای کی ليکلي

دي: كما وقع الاختلاف فی هبة المشاع المحتمل للقسمة هل هی فاسده او غير تامة والا صح كمافی البناية انها غير تامة (شامی ص ۷۰۲ ج ٤ ايضاً، تحت قوله منع تمامها).

په فتوه عالمګیری کی دي:

هبة المشاع فيما يحتمل القسمة من رجلين او من جماعة صحيحة عند هما وفاسدة عند الامام وليست بباطلة حتى تفيد الملك بالقبض كذافی جواهر الاخلاطی. ذكر الصدر الشهيد اذا وهب من رجلين مايحتمل القسمة حتى فسدت الهبةعنده ثم قبضها يثبت الملك ملكاً فاسداً قال وبه يفتی كذا فی الفتاوی العتابية، لايثبت الملك للموهوب له الا بالقبض هو المختار هكذآ فی الفصول العمادية. (فتاوی عالمگيرية ص ۲۳۰ ج ٥، كتاب الهبة).

په دارالمنقی کی دي:

(وتتم بالقبض...الكامل)....فان قبض فی المجلس بالاذن صح وبعده لابد من الاذن) والحاصل انه اذا اذن بالقبض صريحاً صح قبضه فی المجلس وبعده ولونهاه لم يصح قبضه لافی المجلس ولابعده، لان الصريح اقویی من الدلالة، ولو لم يأذن ولم ينه صح قبضه فی المجلس لابعده (درمختار المنتقی، شرح الملتقی علی ماهش مجمع الانهر ص ۳۵۳،ص ۳۵٤ ايضاً جلد دوم) (امداد الفتاوی ص ۳۹۸ج ۳) (كفايت المفتی ص ۱۷۲ ج۸).

دويم کورچې تراوسه مشترک دی اوبرخه شوی نه دی اوله تقسيم نه وړاندی خويندو له هبی نه رجوع کړی وي اوخپله حصه يې يواځې يو ورور ته هبه کړی ده نو څرنګه چې دغه کور دنه تقسيم په سبب هبه نه کيږي نوځکه هغه حصه دهغه ورور په ملکيت کی بالکل نه راځي،لهذا که خويندې له هبې نه رجوع وکړي اوخپله حصه يوازی يو ورور ته هبه کړي نو هغوی دداسې کولو حق لري، هغوی رجوع کولی شي، البته که هغوی پخپل وعده باندی ولاړ پاتی شوی وای اودتام هبی په مطابق عمل کړی وای نودابه هغوی لپاره غوره وه صله رحمي به هم شوې و، ليکن داخبره دی په ذهن کی وساتل شي چی يوازې و ورور ته د دواړو خپيندو دخپلو خپلو حصو هبه کول په هغه

وخت کی صحیح اوبشپړیږي چی دټولو وارثانو حصې تقسیم او معلومی شي اوبیالدینه وروسته دواړه خوینديې چی هریو وروړته ورکول غواړي ورکـولې شـي اودهغـه مالـک ګرځولی شي .

په فتاوی خیریـه کـی دي: لاتصح هبة الـمشاع الذی یـحتمل الـقسمة كالـدار والارض....وکـمالا تصح هبته من الاجنبی لاتصح من الشريك كمافـی اغلـب الكتب ولا عبرة بمن شذ بمخالفتهم ولا تفيد الملك فـی ظاهر الرواية قال الزيلعـی ولوسلمه شائعاً لايملكه حتى لا ينفذ تصرفه فيه فيكون مضموناً عليـه وينفـذ فيـه تصرف الواهب ذكره الطحاوی وقاضی خان وروی ابن رستم مثله ، وذكر عصـام انها تفيد الـملك وبه اخذ بعض الـمشائخ انتهی ومع افادتها للملك عنـد هـذا البعض اجمع الكل علـی ان للواهب استرداد ها ومن الـموهوب له ولوكان ذارحم محرم من الواهب... الخ (فتاوی خیریه ص ۱۱۲ ج ۲ کتاب الهبـة). (شـامی ص ۷۰۳، ص ۷۰٤ ج ٤ تحت قوله ولو سلمه شائعاً) فقط والله اعلم بالصواب.

تره خپل وراره ته دنه تقسیم شوی کورنـه خپلـه حصـه هبـه کـړه ددې څه حکم دی؟

(سوال ۳٦۲) زمونږ د مرحوم تره واده نه وشوی ، زمونږ دمرحوم نیکـه یولـوی کـور و دهغه دوه زامن اودوه لورګانې وې، هغه کور پخپلو وارثانو نه و تقسیم شـوې پـه دغـه مشترک کور کی چی زمونږدتره کومه حصه کیده هغه یی ماته هبه کړی وه اوس زمونـږ تره مړشوی دی کور هم لا تراوسه نه دی تقسیم شوی اوس پوښتنه داده چی زمـا تـره خپله کومه حصه چی ماته هبه کړی وه، هغـه صـحیح ده اوکـه نـه؟ زه یـواځې دهغـه دحصې حقداریم اوکه په هغه کی دټولو وارثانو حق دی؟ دهغه پـه وارثـانو کـی درې وریرونه او څلور وریرې دي او همدغه شان خوریونه او خورزې هم دي. بینوا توجروا.

(جـواب) ستاتره چیپه غیر منقسم کورکی خپله حصه تاته هبه کړی ده، هغـه صـحیح نه ده، نوځکه یوازی تاسی دهغه مالک نشئ ګرځیدلې.

کوم ځیز چې مشترک اوقابل تقسیم وي له هغه نه کوم یو حصه دار او شریکوان خپله حصه چاته هبه کړي نوداهبه هله تام او صحیح کیږي چې هغه ځای تقسیم کړی اوخپله حصه جلا کړي اوبیا دقبضی په شکل کی چاته هبه کړي.

په آخري هدایه کی دي:

ولایجوز فیمایقسم الا محوذة مقسومة. الـی قوله . ومن وهب شقصاً مشاعاً فالهبـة فاسدة لما ذکر نا فان قسمه، وسلمه، جاز لان تمامه بالقبض وعند القبض لاشـیوع (هدایه اخیرین ص ۲٦۹ کتاب الهبة (درمختـار ورد الـمحتار ص ۷۰۳ ج ٤، کتاب الهبة). (بهشتی زیور ص ۵۲ ص ۵۳ حصه پنجم).

په فتاوی خیریه کی دي : لاتصح هبة الـمشاع الذی یحتمل القسمة کالدار والارض الـی قوله. ولاتفید الـملك فـی ظاهر الروایة قال الزیلعی ولو سلمه، شـائعاً لا یملکه حتی لاینفذ تصریفه فیه فیکون مضموماً علیه وینفذ فیه تصرف الواهب، ذکره الطحاوی وقاضی خان (فتاوی خیریه ص ۱۱۲ ج ۲ کتب الهبة).

په مسئوله صورت کی ستا تره وفات شوی دی اوس دهغه د صحیح کیدو هیڅ صـورت نشته لهذا هغه په ټولو شرعي وارثانو باندی ویشل کیږي، په وارثـانو کـی درې وریرونـه خلور وریرې، خوریان او خورزې دي، دهغه حصه درې برخې کیږي او هر یو وراره ته دري درې حصې ورکول کیږي، وریرې ، خوریي، خورزې ترینـه محـروم دي، هغـوی ته هیڅ په لاس نه ورځي. فقط والله اعلم بالصواب.

پلار یو زوی ته مشین اوبل زوی ته رکشا ورکړیده، ددغـو دواړو د آمدنی مالک څوک کیږي؟

(۳٦۳ سوال) زماپلار ماته د جامو ګنډلو مشـین راکـړ او راتـه یې وویـل چـی تـه ددی مالک یې اوس ته پوهېږې اوستاکار، زمادلاسه چی څه کیـدل درسـره مـی وکـړ، اوس ستاخوښه خپل مستقبل جوړوي اوکه خرابوې، همدغه راز هغه زمـا بـل ورور تـه رکشا ورکړه هغه ته هم همداسې وویل، مونږ دواړو دخپلو خپلو شیانو په ذریعه خپل کارونـه کول او میاشتی خرچه هم مونږ دواړو ورونو په کور کې ورکوله، پاتې پیسې به مونـږ لـه خپلځان سره ساتلې. الله تعالی زماپه کار کی ډیر برکـت واچـاو، ددې لـه آمـدني نـه مادخپل واده خرچه هم برابره کړه، په همدغو پیسو سعودی ته هم لاړم، شکردی چی

الله ماته ډیر څه راکړي دي. په دی وخت زما پلار وفات شو، ماچی څه ګټلي دي اياپه هغه کې زما دپلار د وارثانو يعنی زما د مور او زما د ورونو خويندو څه حق شته اوکه نه؟ اوکه دا آمدني صرف زما کيږي؟ بينوا توجروا.

(ځواب) په مسئوله صورت کی ستاپلار تاته مشين تمليکاً درکړ او ستاوورته رکشا تمليکاً ورکړه، تاسو دواړو ورونو خپل خپل آمدني او ګټه هم خپل خان سره ساتله او يـواځې دکور خرچه مو ورکوله، نوپه دی صورت کی چی تا اوستا ورور کومه ګټه کړی دهغه مالک ته اوستا ورور دې، په دی کی د نورو څه حق نشته، البته ستاسې دمور اوپلار خدمت اودهغوی نفقه که ناداروي پرتاسو دواړو لازمه ده دهغوی پوره پوره خيال وساتئ.

فتاوی دارالعلوم ديوبند کی دي:

(سوال) يوشخص پخپلو ذاتي پيسو خپلو زامنو ته دتجارت سلسله شروع کړه، څوکاله بعد د واده د مصارفو په خاطر هغه پيسې ترينه واپس واخستلې اوپاتې دګټې پيسې بې ورته دتجارت لپاره پريښودلې، دهغوی زامن ترننه پورې ددغې ګټې لـه پيسـو څخـه معقول کاروبار کوي، اوپه دی وخت تجارت پـه ښـه حالـت کـی روان دی، ايـا هغـه شخص دتجارت په دغو پيسو کی څه حق لري اوکـه نـه؟ اياهغـه سـړی دالله تعـالی د رضاپه خاطر په دغه تجارت کی شريک ګڼل کيږي اوکه نه؟ اوکه هغه له تجارت نه څـه وغواړي نو دهغه مطالبه شرعاً جايزه ده اوکه نه؟

(ځواب) پلار چی خپلو زامنو ته کوم مال ورکړی و که چيرته صراحتاً دهغه پـه ملکيـت کی ورکړی و او هغوی يی ددی مالکان ګرځولي وو اودهغه قرائن هم موجود وو چې داپيسې يې تاسې ته د تمليک په توګه درکړيدي نو بيا دا مال دهغـه د اولادو ملکيـت دی او دهغه ټولو ګټه هم دهغوی ملکيت دی، اصل راس المال چـی واپـس آخسـتل شوی نوداهم دهغه تبرع وه، پلار دشرکت په حيثيت سره له هغوی نه څه قسم مطالبـه نشي کولې البته دهغه د اولاد کيدو له کبله ورباندیلازم دي چـی کـه چيرتـه هغـوی کمزوري او نادار وي نو دهغه دخرچې کفالت دی وکړي، او پـدی حيثيـت سـره مـور اوپلار ته هم د حاجت په وخت کی دجبر کولو حق نشته... الـی قوله والـدليل ماقلنـا اولا مافـی الشامی من کتاب لهبه ص ۷۰۸ ج ۴.

ولو دفع الی ابنه مالا فتصرف فيه الابن يکون للابن اذ ادلت دلالة علـی الـتمليك الخ کتبه (مولانا مفتی) محمد شفيع عفی الله عنه الجواب صحيح بنده (مولانا محدث)

اصغر حسن عفا الله عنه. (فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۲۲۹، ص ۲۳۰ ج ۵، ٦ فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته ټول وارثان په اتفاق سره یو موروثی کـور یـو وارث تـه هبه کړي نو هبه صحیح ده اوکه نه؟

(۳٦۳_ سوال) زمونږ دمرحـوم نیکـه یـو کـور دی، دهغـه پـه وارثـانو کـی صـرف دوه لورګانې دي دواړه اولادونه لري او ماشاء الله مالدارې دي، دمرحـوم دواړه لورګـانې هم مړی شوې اوس دهغوی اولادونه زمونږ دنیکه د کور وارثان دي، دهغوی وارثـانو ټولو په اتفاق سره د اکور ماته هبه کړې دې په دغه کور بانـدی زه قـابض شـوې هـم یم، البته هغوی په هبه کی داشرط لګولی دی چی ته داکور نه پرچـا خرخـولی شـې اونه پرچا ګرو کولی شی، ددغو شرطونو له کبله دهغوی دغه هبه صحیح کیـږي اوکـه نه؟:

(ځواب) په مسئوله صورت کی هبه صحیح ده، تاسی په کور باندیقبضه هم کـړی ده، لهذا تاسی شرعاً ددغه کور مالک یئ.

په آخری هدایه کـی دي: و اذ اوهب اثنان من واحد داراً جازلانهما سلما ها جملـة وهوقد قبضها جملة فلاشیوع (هدایه اخیرین ص ۲۷۲ کتاب الهبة).

ستاد نیکه وارثانو چی په هبه کی داشرط لګولی دی دهغه په وجه هبـه نـه فاسـدیږي هبه په فاسد شرط سره نه فاسدیږي.

په آخري هدایه کـی دي : والـــهبة لاتبطل بالشروط الفاسدة وهذا هو الـــحکم فـــی النکاح و الخلع والصلح عن دم العـــمدة لانها تبطل بالـــشروط الفاســـدة بخلاف الــبیع والاجارة والرهن لانها تبطل بـــها (هدایه اخیرین ص ۲۷۵ کتـــاب الهبة).

همدغه راز په هدایه کـی دي:الـــهبة والصدقة والنکاح والخلع والصـــلح عـــن دم العمد لاتبطل باستثناء الـــحمل بل یبطل الاستثناء لان هذه العقود لاتبطل بالشروط الفاسدة. (هدایه اخیرین ص ٤٤ باب الـــبیع الفاسد). فقط والله اعلم بالصواب.

ایاله شریک تجارت نه لس فیصد حصه زوی ته په هبه کولو سره هبه صحیح کیږي اوکه نه ؟

(۳٦٥ سوال) یوشریک کاروبار دی په دی کی د محمد اقبال ۲۵٪ حصه ده لسم جولايي ۱۹۸۳ ع کال محمد اقبال مړشو، دمرحوم چی پخپل ژوند کی دکاروبار۲۵فیصده حصه وه له هغه نه لس فیصده حصه خپل زوی محمد عثمان په نوم کړی وه، دمرحوم له مړکیدونه وروسته دهغه پنځلس فیصده حصه مصلحتاً دهغه دښځي په نوم وکړی شوه، دمرحوم له وارثانو نه دهغه ښځه زوی محمد عثمان اوشپږ لورګانې دي اوس سوال دادی چی:

(۱) مرحوم چی له خپل ۲۵ فیصده حصو څخه لس فیصد دخپل زوی محمد عثمان په نوم هبه کړی وه، په هغه کې دمرحوم د نورو وارثانو حق هم شته اوکه نه؟ اوکه یواځې محمد عثمان ددغه لس فیصد حقدار دی؟

(۲) د مرحوم ۱۵ فیصده حصه دهغه له انتقال نه وروسته دهغه دښځې په نوم لیکل شوی ده ایاپه دی کی د مرحوم زوی محمد عثمان اولورګانو حق شته اوکه نه؟ دمرحوم ترکه به دهغوی ترمنځ څنګه تقسیمیږي. بینوا توجروا.

(ځواب) که چیرته پلار پخپل ژوند کی خپل کوم اولاد ته څه څیز هبه کړي او نورو اولادوته ورنه کړي نودا نا مناسب کار دی، په حدیث کی له داسی کولو نه ممانعت راغلی دی، د اولاد په اعتبار سره ټول برابردي،لهذا که څه هبه کوي نو خپل اولادو ته که هلکان وي یاجنوکیانې ټولو ته دی یو برابر ورکړی شي، له څه شرعي وجې نه پرته دی کمی او زیاتې ونه کړی شي.

عن النعمان بن بشير ان اباه اتی به الـی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فقال انی نحلت ابنی هذا غلاماً فقال اکل ولدك نحلت مثله قال لا فارجعه.... وفـی روایة.... قال اعطیت سائر ولدك مثل هذا قال لا قال فاتقوا الله واعدلوا بین اولادکم قـال فرجع فرد عطیته الخ (مشکوة شریف ص ۲٦۰، ۲٦۱ تحت باب العطایا).

له حضرت نعمان بن بشیر څخه روایت دی چې دهغه پلار هغه دمحمدصلی‌الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر کړ او عرض یې وکړ چی ماخپل دغه زوی ته یو غلام ورکړی دی، محمد صلی‌الله علیه وسلم ترینه پوښتنه وکړه چی ایاتا هر یو اولادته همداسی یو غلام ورکړی دی؟ هغه وویل نه، محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل لدینه

رجوع وکړه، اوپه یو روایت کی دي چی محمد صلی‌الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل چی تا خپلو ټولو اولادو ته همداسی غلامان ورکړي دي؟ هغه وویل نه. نو هغه صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : له الله څخه وویریږه اودخپل اولاد ترمنځ یو برابري کوه. د راوي بیان دی چی حضرت بشیر رضی‌الله عنه واپس راغې اوخه چې ماته هبه راکړی وه هغه یې واپس واخست، لدی حدیث نه ثابته شوه چی ځینو اولادو ته ورکول او ځینو ته نه ورکول ښه کار نه دی.

په التعلیق الصحیح شرح مشکواه المصابیح کی دي:

قال النووی فیه استحباب التسویة بین الا ولادفی الهبة فلا یفضل بعضهم دون بعض، فمذهب الشافعی ومالك وابی حنیفة رحمهم الله تعالی انه مکروه ولیس بحرام والهبة صحیحة. الی قوله. وفی شرح السنة فی الحدیث استحباب السویة بین الا ولاد فی النحل وفی غیر ها من انواع البر حتی فی القبلة ولوفعل خلاف ذلك نفذ وقد فضل ابوبکر عائشة رضی‌الله عنهما باحد و عشرین وسقانحلها ایاها دون سائر اولاده وفضل عمر بن الخطاب رضی‌الله تعالی عنه عاصماً عطائه وفضل عبدالرحمن بن عوف ولدام کلثوم قال القاضی رحمه الله تعالی وقرر ذلك ولم ینکر علیهم فیکون اجماعاً. (التعلیق الصبیح ص ۳۸۰ ج۳).

په مسئوله صورت کی مرحوم محمد اقبال خپل زوی محمد عثمان ته له خپل پنځه ویشت فیصد څخه لس فیصده حصه هبه کړیده ددی څه وجه ده؟ حقیقتا هبه کول ویاصرف هسی ظاهراً، که چیرته له انکم ټیکس نه دبچ کیدلو اویابل کوم مصلحت لپاره هبه کړی وي او حقیقتاً دهبه کولو اراده یې نه درلود او ټول ورثه پدی باندی متفق وي نوپه داسی صورت کی هبه کول صحیح نه دي اوکه چیرته رښتیا د هبې او بخشش په اراده ورکړی وي نودا (هبة مشاع فیما یقسم) دی یعنی داد داسی څیز هبه ده چی مشترک او قابل تقسیم دی، هبه هغه وخت صحیح او مکمل کیږي چی کله هغه تقسیم شي اوهریو خپل حصه ترلاسه کړي، لدینه پس چاته هبه کړي اودهغه په ملکیت کی ورکړی شي. که چیرته له تقسیم نه بغیرهبه کړه اویاله تقسیم نه وروسته دهبې مالك ونه ګرځاو نو هغه هبه تمام او صحیح نه ده او موهوب له ددی څیز مالك نه ګرځي بلکی هبه کوونکې ددی مالك دې.

په آخري هدایه کی دي: ولایجوز فیما یقسم الا محوذة مقسومة... قال ومن وهب شقصا مشاعا فالهبة فاسدة لما ذکر نافان قسمه وسلمه جاز لان تمامه بالقبض وعند القبض لاشیوع (هدایه اخیرین ص ۲٦۹ کتاب الهبة).فتاوی خیریه کی دي: لاتصح هبة المشاع الذی یحتمل القسمة کالدار والارض... ولاتفید الملك فی ظاهر الروایة، قال الزیلعی ولوسلمه شائعاً لایملکه حتی لاینفذ تصرفه فیه فیکون مضمونا علیه وینفذ تصرف الواهب ذکره الطحاوی وقاضی خان (فتاوی خیریه ج ۲ ص ۱۱۲ کتاب الهبة).(بهشتی زیور ص ۵۲، ۵۳، پنځمه حصه دهبې بیان) (امداد الفتاوی ج ۳ ص ۳۹۸ مطبوعه کراچی) (کفایت المفتی ج ۸ ص ۱۷۳، نیزج ۸ ص ۱۷٤) (فتاوی محمودیه ج ۵ ص۳۳، ج ۵ ص ٤۳).

له دی کبله په مسئوله صورت کی که چیرته مرحوم دهبې په اراده له ۲۵ فیصده حصي څخه لس فیصده حصه خپل زوی محمد عثمان ته هبه کړی وي، که چیرته دپورتنی طریقي په مطابق حصه علیحده کړی وي د محمد عثمان په قبضه کی ورکړی وي نو بیادهغه داهبه صحیح ده اوکه لس فیصده حصه یی دخپل زوی محمد عثمان په نوم هبه کړی وي لیکن د محمد عثمان په قبضه کی نه وي ورکړې، صرف کاغذ یا ستمپ باندی یی لیکلی وي چی ماله خپل ۲۵ فیصده حصې څه لس فیصده خپل زوی ته هبه کوم او وروسته یی دهغه په قبضه کی نه وي ورکړی‌نو داهبه صحیح نه ده او ددغې حصې مالک پخپله مرحوم محمد اقبال دی اود مرحوم ټول وارثان په دی کی حقدار دي، البته که چیرته دمرحوم ټول وارثان بالغ او موجود وي اوهغو پخپل خوښه لس فیصده حصه محمد عثمان ته په ورکولو قانع وي نو بیا ورکولی شي.

د مرحوم محمد اقبال له مرګنه وروسته چی دهغه پنځلس فیصده دهغه دښځې په نوم لیکل شویده یوازی دهغه ښځه ددې مالکه نه ده، بلکی د مرحوم محمد اقبال ټول زامن او لونې هم په دی کی حقدار دي.

دمحمد اقبال دترکې مال نه به لومړی هغه قرضونه ویستل کیږي چی له چانه آخستی دي او نور پاتی مال به په ٦۳ برخو ویشل کیږي له هغونه به دهغه ښځې ته ۸ برخې

دهغه زوی محمد عثمان ته ۱۴ برخې اوله شپږو لورګانو څخه هریوی ته بـه اوه اوه(۷) حصې ورکول کیږي. (فقط والله اعلم بالصواب).

که په هدیه کی ورکول شوی څیز، بیرته هدیه ورکوونکي لاس ته راشي نو څه وکړي؟:

(۳۶۶ سوال) یوسړی بل سړي ته په تحفه کی څه پیسي ورکړې، څـه وخـت وروسـته هغه سړی دناروغی په وجه مړشو اوس دهغه په وارثانو کی هم څـوک نشته نـو څکـه دتحفې هغه پیسې بیرته دتحفه ورکـوونکي لاس تـه راغلـې ، آیـا داسړې دغـه پیسې دځپل حج بدل لپاره تلوونکي سړي تـه دخـرچ لپاره ورکـولې شـي اوکـه نـه؟ فقـط والسلام.

(ځواب) کله چی د تحفې په پیسو کی دمرحوم قبضه شوی وه اودهغه په ملکیت کـی داخلې شوې وې، نو اوس که دهغه له مرګـنه وروسته دهغه کفن دفن قرض او وصیت نه زیاتې پاتې شي نو هغه پیسې دې دهغه وارث ته ورکړی شـي او کـه وارثـان یې نـه وي نو بیادی هغه ته ایصال ثواب لپاره غریبانو ته ورکړی شي، که چیرته په تحفه کـی ورکول شوی څیـز پـه جـائزه طریقـه واپـس ترلاسـه شـي نـو هغـه دځپـل کـار لپـاره استعمالولی نسي. فقط والله اعلم بالصواب. ۲۰ محرم الـحرام ۱۳۷۹ هـ.

په ورکوټي موروثي کور کې ځپله حصه ورثاو ته هبه کول:

(۳۶۷ ـسوال) خالد او حامد دوه ورونه دي دواړه اولادونه لري چی بـالغ او متاهـل دي، دغو دواړو ورونو ته له ځپل پلار نه یو ورکوټې کور په میراث کـی پـاتی شـوی و، دواړه په "ګډ" په دی کور کی اوسیدل، وروسته حامد جـدا شـو اوعلیحـده کـور کـی اوسیدو، فـی الحال دواړه ورونه وفات شوې دي په دغه موروثي کور کی ددغـو دواړو ورونو داولادو حق دی، دحامد ټول اولادونه پځپله خوښه اوخوشالي ددی کور حصـه ځپلو تره زامنو ته هبه کول غواړي، ایادهغوی داهبه صحیح کیږي اوکه نـه؟ مهربـاني وکړئ ځواب راکړئ. جزاکم الله.

(ځواب) په مسئوله صورت کی دحامد ټول وارثان عاقل اوبالغ دي او هغوی ټـول پـه خوشالي سره دکور ځپله حصه دځپل تره زامنو ته ورکول غـواړي نـود هغـوی داهبـه صحیح ده په درمختار کی دي:

(وهب اثنان دارا لواحد صحّ) العدم الشیوع (وبقلبه) لکبیرین (لا) عنده للشیوع فیما یحتمل القسمة. اما مالا یحتمل القسمة کالبیت فیصح اتفاقا. (درمختار). په شامي کې دي: (قوله دارا) المراد بها مایقسم (قوله وبقلبه) وهوهبة واحد من اثنین درمختار و رد المحتار ج ٤ ص ٧٠٧ کتاب الهبة). فقط والله اعلم بالصواب.

دبی اولاده سړي پخپل ژوند کې مال تقسیمول :

(سوال ٣٦٨) زه بې اولاده یم، زما درې ورونه خلور خوندې، یوه ښځه او مور مې ده، زه غواړم پخپل ژوند کې خپل جایداد په دوی باندی تقسیم کړم. تاسی مهرباني وکړئ د تقسیمولو طریقه راته وښایئ. بینوا توجروا.

(ځواب) تاسی چی خپل ځان لپاره څومره مال ساتل غواړئ هغه وساتئ. بلکی ساتل یی بهتر دي، لدینه وروسته چی څومره تقسیمول غواړئ، دهغه خلورمه حصه ښځې ته اوشپږمه حصه خپل مور ته اولدینه وروسته چی څومره مال پاتی شي هغه اوه حصې کړه درې ورونو او خلورو خویندو څخه هریو ته برابر برابر ورکړه، چاته چې څه ورکوې هغه ددې مال کامل مالک وګرځوه، پدی سره به ستا هبه صحیح او کامله شي کوم خیزونه چې دتقسیم قابل دي هغه تقسیم کړه اوپه هریوه حصه باندی هغوی قابض او مالک وګرځوه.

په حدیث کې دي : عن النعمان بن بشیر.... قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم: فاتقوا الله وعدلوا اولادکم.... الخ.

رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دي چی له الله نه وویریږئ اودخپل اولادو ترمنځ عدل (برابری) وکړئ. (مشکواه ص ٢٦١ باب العطایا).

څرنګه چی د اولاد ترمنځ دمساوات حکم دی، نود اولاد په نشتوالي کی د ورونو او خویندو ترمنځ هم مساوات کول ضروري دي. (للذکر مثل حظ الانثیین) حکم دترکی لپاره دی نه هبې لپاره، لهذا له څه شرعي وجې نه پرته خورګانو ته دهبې کولو په صورت کی کمی اوزیاتې ونه کړی شي، که نو اعتراض ورباندی هم کیدی شي او دزړه خفګان هم. فقط والله اعلم بالصواب.

له خپلې ښځې نه دبخښل شوي څیز واپس آخستل:

(۳٦۹ سوال) خاوند خپلې ښځې ته ځینی څیزونـه د تحفې پـه ډول ورکـړي دي، هغې په دغو څیزونو قبضه هم کړیده اوس که خاوند خپل دغه بخښل شوي څیزونـه بیرته واپس اخستل وغواړي نو ایا دواپس آخستلو حق لري اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) حامدا ومصلیا و مسلماً، ښځې ته چې کوم څیزونه هبه کړی دي هغـه بیرتـه نشـي آخسـتلې.وکذلك ماهب احد الزوجین للاخر لان الــمقصود فیهــا الصــلّة کمافـــی القرابة (هدایه ج نمبر۳ ص ۲۷٤ باب مایصح رجوعة ومالایصح) فقــط والله اعلم بالصواب.

مرحوم پخپل ژوند کی یوه ټوټه زمکه خپلو لورګانو ته ورکړی وه

(۳۷۰ سوال) محمد پخپل ژوند کې پـاوه بانـدی څلـور جریبـه زمکـه خپلـو څلـورو لورګانو ته ورکړی وه ایا دازمکه په ترکه کی حسابیږي؟

(ځواب) زمکه قابل تقسیم شی دی، کوم څیز چې دتقسیم قابل وي نو دهغه دهبـی د صحت لپاره داشرط دی چې هبه کوونکې موهوب څیز تقسیم کـړي اوچاتـه چـې څومره ورکول غواړي همغومره حصه جلا کړي اودهغه په قبضه کی ورکړي. یاله هبه کولو نه وروسته پخپله واهب یادهغه په اجازه له موهوب‌لهم څخه هریو خپلـه حصـه جلا کړي او ورباندی قابض شي، نوداسی هبه هم صحیح ده، خوکه دهرچا حصه نه وي جلا کړي او دهبه کوونکي ترمرګه پورې نه وي ویشل شوې نـو هبـه صـحیح نـه ده. اګرچی قبضه ورته هم ورکړې وي نو ددی قبضې هم څه اعتبار نشته. دغه شی د واهب ملکیت او جایداد ګڼل کیږي او ترکه کی شاملیږي.

په درمختار کی دي: (لا) تتتم بالــقبض (فــیما یقسم) (ولوهبه لشــریکه) اولا جنبی لعدم تصور القبض الکامل کمافـــی عامة الکتب فکان هوالمذهب (فان قسمه وسلمه صحّ) لزوال المانع.

په شامي کې دي: (قوله فان قسمه، وسلمه، صح) اما الواهب بنفسه اونائبه او امرالموهوب له بان يقسم مع شريكه كل ذالك تتم بالهبة كماهوظاهر لمن عنده ادنى فقه. (درمختار وشامي ص ۷۰۳ ج ٤، كتاب الهبة).

فتاوی عالمګیری کې دي:

هبة المشاع فيما يحتمل القسمة من رجلين او من جماعة صحيحة عندهما وفاسدة عند الامام وليست بباطلة حتى تفيد الملك بالقبض كذا في جواهر الاخلاطي. ذكر الصدر الشهيد اذا وهب من رجلين مايحتمل القسمة حتى فسدت الهبة عنده ثم قبضها يثبت الملك ملكا فاسداً. قال وبه يفتى كذافي الفتاوى العتابية لايثبت الملك للموهوب له الا بالقبض هو المختار كذافي الفصول الخمادية.

(فتاوی عالمګیری ٥/ ۲۳۰، کتاب الهبة) (هدایه اخیرین ص ۲٦۹)فتاوی خیریه ۳۹۷/۳ کراچی) (فتاوی محمودیه ٥/ ۳۷٤) (کفایت المفتی ۸/. ۱۷٤) فقط والله اعلم بالصواب.

دبنځې او ماشومانو درلودلو باوجود خپل ټول مال وراره ته هبه کول:

(۳۷۱ سوال) یو مسلمان سړی چې عمر یې تقریباً ۸۵ کاله دی غواړي خپل ټول جائیداد وراره ته هبه کړي،په داسې حال کې چې دهغه د ښځې درې زامن اولوګاني ژوندی دي، له هغونه یوه لور یې بی واده ده، په دی باره کی څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(جواب) حامدا ومصلیا ومسلماً، د ورثه و محروم کول سخته ګناه ده، په دی سلسله کی په احادیثو کی ډیر شدید وعید راغلی دی، په یو حدیث کی دي چې ځینې خلک ټول عمر دالله په اطاعت کې تیروي لیکن دمرګ په وخت خپل وارثان محروموي الله تعالی داسې خلک په دوزخ کی اچوي:

عن ابی هریرة رضی‌الله عنه عن رسول الله صلی‌الله علیه وسلم قال ان الرجل لیعمل والمرأة بطاعة الله ستین سنة ثم یحضر هما الموت فیضاران فی الوصیة فتجب لهما النار (معید الوارثین ص ۱۲). مشکوة شریف ص ۲۶۵ باب الوصایا).
په بل حدیث کی دي:
چی هرڅوک خپل وارث له میراث نه محروم کړي الله تعالی هغه له جنت نه محروموي.
عن انس قال قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة(ایضاً ص ۲۶۶ ایضاً). لهذا خپل وارثان محرومول او ټول جائیداد خپل وراره ته ورکول دګناه موجب دی داسی باید قطعاً ونکړی شي، که چیرته دتعلق او خپلولی په وجه خپل وراره ته څه ورکول غواړي اوشرعي ضرورت موجود وي نو زیات نه زیات دمال دریمه حصه ورکولی شي لدینه زیات نشي ورکولې. فقط والله اعلم بالصواب. ۲۹ جمادی الاولی سنه ۱۴۱۵ هـ ۹۴/۱۱/۴ ع.